## په دې څوارلس ټوکيزو کلياتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهير (۱- ۹۶۹) مخونه.
**دويم ټوک (راټولوني):** هيلې، نيمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سيندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.
**درېيم ټوک (راټولوني):** د نازو انا ياد، د استاد الفت نثري کليات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.
**څلورم ټوک (يونليکنې):** د اماراتو سفر، که يون دی يون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.
**پنځم ټوک (يونليکونه):** د ډيلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.
**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستورى، د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساينسي پرمختياوې، هيله د خپلو سريزو په لمن کې، د کتابونو په وږمو کې (۵۳۲۰- ۶۱۳۳)مخونه.
**اووم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زيانونه، مرکه او مرکې، کلتوري يون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (۶۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.
**اتم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** بېړنۍ لويه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سياسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.
**نهم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** که نړيوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زمانې په کړلېچ کې، ملي هويت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰۶) مخونه.
**لسم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ويلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)



# نيمه پېړۍ يون

## اتم ټوک

(سياسي او ټولنيز اثار)

محمد اسمعيل يون

۱۳۹۶ل



نيمه پېړۍ يون

اتم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار)

(څوارلس ټوکه)

۸

www.melitahrik.com
د تحريک د خپرونو لړ: (۱۴۵)

## يون څوک دی او څه يې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعيل يون زموږ د زمانې يو زړور ملي، ټولنيز، سياسي او فرهنګي شخصيت دی، د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه يې د ژوند نيمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله يې پخه ليکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته يې په ټولنيز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زيات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سياسي برخه کې يې د ملي تحريک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زياتې سوله ييزې مظاهرې يې وکړې. په فرهنګي ډګر کې يې تر (۵۰) عنوانو زيات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زياتې ليکنې، مرکې او وېناوې يې وکړې، د درېو مجلو مديريت يې وکړ، د نورو ليکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زيات اثار يې ايډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زياتو ته يې د چاپ زمينه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زياتې فرهنګي غونډې، سيمينارونه او ورکشاپونه يې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه يې يو رسنيز مرکز پرانيست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسيس کې يې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانيت او اسلاميت) د ملاتړ لپاره يې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنيو او بهرنيو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نږدې (۱۴) زره مخه کليات ګورئ، دا د يوه ډېر سترې خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه يو ريکارډ ووايو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې يوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه يون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله ياد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بيا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکري او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د يون پر شخصيت زياتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د يون د پېژندنې تر ټولو ښه وسيله ده.
يون يو څو اړخيز شخصيت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو يو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصيت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو يې چې ګورم، نو د وزير محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مينه مې پرې ماتېږي. نيمه پېړۍ يون خو يې ډېر وياړمن و، خدای دې وکړي چې دا بريمن ژوند يې پوره سليزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکتر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

HALF CENTURY
JOURNEY
BY: PROF. MOHAMMAD ISMAEL YOON

www.melitahrik.com
د تحريک د خپرونو لړ: (۱۴۵)

**يوولسم ټوک (تحصيلي اثار؛ لسانس- ماسټري):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه کتنه، خوشال په خپل ايډيال ، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.
**دولسم ټوک (تحصيلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ ليد (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵۶) مخونه.
**ديارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنيار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، انديال خوشال، پښتو ليکنۍ سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.
**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاريخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



**منته او کورودانی**

د افغانستان ملي تحريک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصيت
**ښاغلي خير الله خان**
څخه د زړه له کومي مننه کوي چې ددې اثر د اتم ټوک د چاپ لګښت يې پر غاړه واخيست.
يو ځل بيا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وايو
درنښت يې په برخه شه

**د پښتۍ ډيزاين:** سپين سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېړی یون

## اتم ټوک

## (سیاسي او ټولنیز اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحیم

# نیمه پېړۍ یون

## اتم ټوک

(سیاسي او ټولنیز اثار)


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۵)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**


۷۱۲۰

ډالۍ:

د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

رښتینو لاروپانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۷۱۲۷ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۷۱٤۳ |
| | **بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي** | |
| ۱ | ددې اثر دویم چاپ | ۷۱۵۳ |
| ۲ | دخپرندوی یادښت | ۷۱۵٦ |
| ۳ | د واقعیتونو د بیان یوه هنداره | ۷۱۵۸ |
| ٤ | ســــریــــزه | ۷۱٦٦ |
| ۵ | د طالبانو د اسلامي تحریك د افراط پایلې | ۷۱٦۹ |
| ٦ | د بي (۵۲) الوتکو تر وزرونو لاندې | ۷۱۸۳ |
| ۷ | د بن کنفرانس ته یوه کتنه | ۷۱۸۹ |
| ۸ | د بن د توافقاتو متن | ۷۱۹۲ |
| ۹ | د بېړنۍ لویې جرګې خپلواک کمیسیون ته یوه کتنه | ۷۲۱۹ |
| ۱۰ | په ختیزو ولایتونو کې انتخاباتي بهیر | ۷۲۲۵ |
| ۱۱ | د هېواد په نورو سیمو کې انتخاباتي بهیر | ۷۳٦٤ |
| ۱۲ | بېړنۍ لویه جرګه | ۷۳٦۹ |
| ۱۳ | د ملي سرود جنجال | ۷۳۹٤ |
| ۱٤ | د لویې جرګې د رییسه هیئت ټاکنه | ۷٤۱۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ | د ولسمشر ټاکنه | ۷٤۲۱ |
| ۱٦ | د تنظیمي مشرانو پر وړاندې د ښځمنو وکیلانو غبرګون | ۷٤۲٦ |
| ۱۷ | پارلمان ولې جوړ نه شو؟ | ۷٤۳۲ |
| ۱۸ | لویې جرګې ولې پرېکړه لیک نه درلود | ۷٤۳۷ |
| ۱۹ | بېړنۍ لویه جرګه، ملګري ملتونه او د امریکا... | ۷٤٤۲ |
| ۲۰ | په بېړنۍ لویه جرګه کې ویناوال | ۷٤٤۹ |
| ۲۱ | د بېړنۍ لویې جرګې یوه عمومي ارزونه | ۷٤۷۵ |
| ۲۲ | د بېړنۍ لویې جرګې غړي او ګډونوال | ۷٤۸۳ |


## افغانستان په سیاسي کړلېچ کې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ((افغانستان په سیاسي کړلېچ کې)) او یو څو نورې خبرې | ۷٥٤٤ |
| ۲ | سیاسي لیکنې او د لیکوال شخصیت | ۷٥٥۱ |
| ۳ | د هېواد رنځور سیاست | ۷٥٥۹ |
| ٤ | پښتو او د پښتنو مضر احتیاط | ۷٥٦٥ |
| ٥ | مدرسه او ښوونځی | ۷٥۷٤ |
| ٦ | په ړیره کې ګیر ولس | ۷٥۸۱ |
| ۷ | طالبان، بتان او بتپالان | ۷٥۹۳ |
| ۸ | که طالبان سقوط شي؟ | ۷٦۰٤ |
| ۹ | چې طالبان سقوط شول | ۷٦۱٤ |
| ۱۰ | ایا ټول پښتانه طالبان دي؟ | ۷٦۲٤ |
| ۱۱ | القاعده که الفایده؟ | ۷٦۳۱ |
| ۱۲ | غوړه مالي په سیاست کې | ۷٦۳۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | په افغانستان کې د نوې سرشمېرنې په باب څو اندېښنې | ۷٦٤۹ |
| ۱٤ | ایله جاري جنرالان او مارشالان | ۷٦٥۷ |
| ۱٥ | څوک د اساسي پوستونو لپاره وړ دي؟ | ۷٦٦۱ |
| ۱٦ | سر یې په اوبو کې وچ شو | ۷٦٦٦ |
| ۱۷ | یو څو انتقادونه او څو وړاندیزونه | ۷٦۷۱ |
| ۱۸ | حاجي عبدالقدیر او بېړنۍ لویه جرگه | ۷٦۷۹ |
| ۱۹ | افغانستان ملت دی که افغان؟ | ۷٦۹۳ |
| ۲۰ | ایا له نظار شورا څخه د ښاغلي کرزي د خلاصون ... | ۷۷۰۱ |
| ۲۱ | څوک جنکسالار، پاټکسالار او ټوپکسالار دی؟ | ۷۷۰۸ |
| ۲۲ | د افغانستان د راتلونکي ولسمشر د انتخاب څرنگوالی | ۷۷۱۳ |
| ۲۳ | راتلونکې لویه جرگه، انتخابات، تشویشونه، اټکلونه ... | ۷۷۲۳ |
| ۲٤ | په راتلونکي اساسي قانون کې درې مهم ټکي | ۷۷۳۸ |
| ۲٥ | راتلونکې عمومي ټاکنې، څو خطرونه او څو وړاندیزونه | ۷۷٥٤ |
| ۲٦ | د خدمت معیار | ۷۷٦۳ |
| ۲۷ | فکري خلا | ۷۷٦۸ |
| ۲۸ | مجاهد او جنگسالار | ۷۷۷۱ |
| ۲۹ | سرشمېرنه که سر غوڅونه؟ | ۷۷۷٦ |
| ۳۰ | راروانې ټاکنې غره توب، تدبیر او څو اټکلونه | ۷۷۹۱ |
| ۳۱ | محمد گل خان مومند | ۷۸۰۱ |
| ۳۲ | د استاد رشاد سیاسي شخصیت | ۷۸۰٥ |
| ۳۳ | د ښځو حقوق شعار دی که ضرورت؟ | ۷۸۱۲ |
| ۳٤ | تهران په کابل کې | ۷۸۱٥ |

## د سمون په لټه


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د تحریک یادښت | ۷۸۲٤ |
| ۲ | د مظلوم اکثریت چغه | ۷۸۲۵ |
| ۳ | ولې د سمون په لټه؟ | ۷۸۲۸ |
| ٤ | په ولسي جرگه کې د یوه درېیم قوت د جوړولو اړتیا | ۷۸۳۲ |
| ۵ | د افغانستان اوسني حالات څېړنه او ارزونه | ۷۸۳۷ |
| ٦ | د کاندیدانو مارکیټ | ۷۸٤۵ |
| ۷ | مقابله که مفاهمه؟ | ۷۸٦۵ |
| ۸ | اوسنۍ پارلماني ټاکنې= نوی سیاسي سرطان | ۷۸۸٤ |
| ۹ | په ننگرهار کې د ولسي جرگې د ټاکنو د نتیجو یو ... | ۷۸۹۲ |
| ۱۰ | پښتانه او د هالبروک تعبیر | ۷۹۰۱ |
| ۱۱ | افغانستان او عربي متحده امارات گډې وجې ... | ۷۹۱۱ |
| ۱۲ | د طالبانو له مشرتابه څخه څو هیلې | ۷۹۱۷ |
| ۱۳ | یو تریخ او خوږ لیک | ۷۹۲۰ |
| ۱٤ | بېنوا او ټول افغان | ۷۹۲٦ |
| ۱۵ | د انتخاباتو کمیسیون او درغلي | ۷۹۲۸ |
| ۱٦ | راځئ چې حقیقتونه بیان کړو! | ۷۹۳٤ |
| ۱۷ | خپلو هېوادوالو ته یو ډاډ | ۷۹۵۲ |
| ۱۸ | د افغانستان او پاکستان پارلمانونه او گډه غونډه | ۷۹٦۱ |
| ۱۹ | امریکایان او پښتانه تقابل او تفاهم | ۷۹٦٤ |
| ۲۰ | افغانستان او د ایران لاسوهنه | ۷۹۷٦ |
| ۲۱ | په تراژیدۍ کې ژوندی قوم | ۷۹۸٤ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | ډیورنډ مړ دی، کرښه یې مړه ده | ۷۹۸۸ |
| ۲۳ | شل دلایل | ۸۰۰۰ |
| ۲٤ | ژوندون ټلویزیون او لویه څارنوالي | ۸۰۰۷ |
| ۲۵ | یوه ناقانونه پرېکړه او زموږ مدني غبرگون | ۸۰۱۳ |
| ۲٦ | د ملت حماسه | ۸۰۲٤ |
| ۲۷ | بیا هم افغانیت او ملي هویت | ۸۰۳۸ |
| ۲۸ | ملي هویت او ولسمشر | ۸۰٤٤ |
| ۲۹ | د اختر نوي کالي دې مبارک! | ۸۰۸۲ |
| ۳۰ | غوځ سږی او پخ کارونه | ۸۰۹۵ |
| ۳۱ | هوډ، تکل او خپلواکي | ۸۱۰۹ |
| ۳۲ | په تراژیدۍ کې لمانځنه او یادونه | ۸۱۱۹ |
| ۳۳ | اسلامیت، افغانیت او ملي اجماع | ۸۱۳۰ |
| ۳٤ | بیا هم اسلامیت،افغانیت او د هویت تذکره | ۸۱۳٦ |
| ۳۵ | په برېښنایي تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت ... | ۸۱٤۵ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنګسالارانو او فسادګرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانګړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنګي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانګړې توګه ځوانان یې تر څنګ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توګه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولګي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینگار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولگی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. یون پر

(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندی) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لیسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمني کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

محمــد اســمعیل یــون د طالبــانو د نظــام تــر ړنګېــدو وروســته پــر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـویې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

**یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریـک) پـه نامه د یـو ازاد، فرهنګـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.**

## ۴- کورنی ژوند:

**استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرګه کـې د ننګرهار د خلکو منتخبه استازې ده.**

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې: یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلګونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلګونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته یـې ځـان رسولی، د نورو ملګرو او ملي تحریک د ملګرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننګرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې**

یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته واړولی او له دې لارې یې خلکو ته په مستقیم او نامستقیم ډول د میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کړې ده. د مصیبت ځپلو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کار ددې سبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځان ورسوي. د جګړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې ځو پروګرامونه جوړ کړي او همدارنګه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یې ونډه اخیستې، د صحي اوبو لپاره یې د ژورو څاګانو په کیندنه او د چاپېریال د پاک ساتلو لپاره یې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجموعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چې یون په تېرو (۳۰) کلونو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې له کوم سیاسي ګوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ ایښی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سیاسي فعالیتونه ترسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو  شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان  له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم  غلط رنګ  او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه  یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلین لري، دغه راز  د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ځرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | (لومړۍ شعري ټولگه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولگه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړې ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) دریم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په ورېمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، ترړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو ښځي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونـد مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې موږ یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې موږ د استاد یون له خوا ټول لیکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا که دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې له لیکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل لیکل شوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کمیت کې شامل نه دي. ددې ترځنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد یون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یې ماته تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سوړ هم نه شو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطر کې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سترو ارزښتونو د لیکلو

مخنیوی کېده، خو استاد یـون او ملګـرو یـې د اسلامیت او افغانیـت غـږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هـم د دې رسـا غـږ او داعیـې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانسـتان پردیـو ایـډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینـو نـورو شخصـیتونو برکـت و چـې د مـلي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولـولې تـر هـرې بلـې ایـډیالوژۍ زیـاتې ځلیږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبـارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولـو اثـارو کـې انځـوریږي. خـو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چـې زمـوږ راتلـونکی نسـل د اسـتاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلویزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وايي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې خوږېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

همکاري پيل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پيل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مينه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هيلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو ليکوالو يوه تذکره يا غورچاڼ برابر کړ او پر (١٣٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نيمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (١٣٦٦ل) کال څخه بيا تر (١٣٩٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دايرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووايم چې يوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه يم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهير کې ځينې سياسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحميل شوي او ځينې ټولنيز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټينګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (١٣٨٥ل) کال زه د جمهوري رياست د ملي امنيت شورا دفتر د فرهنګي چارو رييس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسيزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سياسي او ټولنيزو کارونو پر وړاندې چې ما يې د سرته رسولو هيله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضياءالرحمن ضياء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري يې هم کم دي، تنګنظره سياسي

اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچې په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شېبې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانيو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بيولی وم، مېلې ته یې بيولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جيب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدايه لويه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مينه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د يوازيني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکليف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پيڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رڼې وې، لکه چې د خپل يوازيني زوی ليدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونيوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې يوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په ليدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مينځلی و.

له خپلو خوږو خويندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روژنه او پالنه کې یې ډېر زيات زيار ګاللی، له مشرانو او کشرانو خويندو ټولو څخه

ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


Yoon Cultural Foundation
ببړنۍ لویه جرګه
ولسواکي او زورواکي
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# بېړنۍ لويه جرګه

# ولسواکي او زورواکي

## ليکوال

## محمد اسمعيل يون

(د بېړنۍ لويې جرګې لومړی منشي)

۲۰۱۵

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي |
| لیکوال: | پوهنمل محمداسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۸٤ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۲۰) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۲۰) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# ددې اثر دويم چاپ

(( بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي )) دا اثر ما د بېړنۍ لويې جرګې تر جوړېدو لږ وروسته مهال ليکلی و او تر ليک نږدې څلور کاله وروسته (۱۳۸۴ل )کال د رڼا علمي مرکز




له خوا چاپ شو. (بېړنۍ لويه جرګه )) که د هر چا په نظر هر ډول ارزول کېږي او تعبيرېږي، دا د هغوی خپل کار دی، خو د افغانستان په اوسني سياسي تاريخ کې يوه مهمه پېښه وه، د وخت په تېرېدو سره به يې تاريخي ارزښت زيات شي، خو که

په راتلونکو لسیزو کې څوک ددې جرګې پر څرنګوالي بحث او معلوماتو ته اړتیا پیدا کوي، نو ما ورته دومره څه برابر کړي چې دوی له ډېرې سرګردانۍ څخه وژغوري. دا چې زه په خپله له پیله تر پایه د جرګې په چارو کې دخیل وم، نو ځکه مې ددې عملي امکانات درلودل، چې لومړی لاس مواد راټول او خلکو ته وړاندې کړم. د اساسي قانون لویې جرګې په باب هم ما همداسې اول لاس مواد راټول کړي وو ، د اساسي قانون لویې جرګې له پیله بیا تر وروستي ماښام زه د جرګې د بهیر د رسمي کارکوونکی وم، نو ځکه مې د ټول بهیر کره معلومات په یوه لویه کڅوړه کې په ترتیب سره ایښي وو او غوښتل مې د همدې اثر په شان یو اثر ورڅخه جوړ کړم. خو په ډېره خواشینۍ سره باید ووایم چې د جرګې پر وروستي ماښام ددې موادو کڅوړه چې د اکثرو مهمو موادو یوه یوه کاپي په کې وه، له ما څخه ورکه شوه، که هر څومره هڅه مې وکړه، خو په پیداکېدو یې بریالی نه شوم، ډېر زیات ورپسې خفه شوم او تر ننه هم ورپسې لاسونه مروړم، ډېر ارمان راځي. خو خیر په هر ترتیب د اساسي قانون لویې جرګې په باب دیو ځانګړي اثر د لیکلو هیله مې تر دې دمه بري ته ونه رسېده.دا اثر یو ځل بیا ځکه چاپوم او د انټرنیټ څپو ته یې سپارم، چې د مرګ له خطر څخه یې وژغورم. له نورو قدرمنو او ځیرمنو لیکوالو څخه مې هیله داده، چې د مهمو تاریخي مسایلو په باب

اسنادو ته ډېر پام وکړي، اسناد ژر خوندي او د ورکېدو له خطره يې وژغوري. هر څه یادښتونه او اسناد چې لري، پر همغه خپل وخت دې پرې تحلیل او تبصره ولیکي، ځکه څو مره وخت چې تېرېږي، د انسان پر ذهن د نورو حوادثو بادونه راځي او تېرې پېښې هغه شان نه شي تحلیلولای لکه چې دی په کې واقع و. که ددې اثر زیاتې برخې ما پر خپل همغه وخت نه وای لیکلې، نو وروسته مې بیا هغه شان نه شوې لیکلای، نو د پېښو ثبت، تحلیل، ارزونه او څېړنه پر خپل وخت ډېره ګټوره پرېوزي. نور نو د لوستونکو وخت نه ضایع کوم او ددې اثر د لوستو بلنه ورکوم.

په مینه او درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

د ۱۳۸۷ل کال د کب ۲۱مه نېټه

# دخپرندوی یادښت

رڼا علمي مرکز دټول هېواد په کچه یو علمي او فرهنګي مرکز دی، چې دخپل جوړښت په ډېره لنډه موده کې یې ګڼ شمېر، علمي، فرهنګي او رغونیز کارونه تر سره کړي دي، ددې مرکز په هڅو تراوسه پورې دبیا رغونې تر لسو زیاتې لویې پروژې تکمیل شوي، دکرنې په برخه کې څو نمونه یې فارمونه او باغونه جوړشوي، په لغمان او ننګرهار کې د اوبو څو سربندونه رغول شوي او د بدني روزنې په برخه کې سپورتي کلپونه جوړ شوي او مسابقې تر سره شوي دي، دې مرکز کلتوري چارو ته هم زیاته توجه کړې، رڼا انستیتیوت په نامه یې دننګرهار ښوونې او روزنې پوهنځي کې یو روزنیز انستیتیوت جوړ کړی، چې ژر به پر فعالیت پیل وکړي، دا انستیتیوت په یوه کال کې دیونیم زر زده کوونکو دروزنې ظرفیت لري، په دې انستیتیوت کې به زده کوونکي دکمپیوټر، انګلیسي ژبې او منجمنټ زده کړې کوي، دا زده کړې به زده کوونکو ته وړیا وي.

رڼا مرکز څو علمي غونډې، مشاعرې او سیمینارونه هم جوړ کړي او ځینو علمي او روزنیزو مرکزونو سره یې مرسته هم کړې ده. دغه راز (د دستار سړی) دشهید حاجي عبدالقدیر دشخصیت په باب یو اثر، (علامه عبدالشکور رشاد په ننګرهار کې) د استاد

رشاد په اړه دمقالو یوه ټولګه، (پرېوتې څېرې) دحفیظ الله تراب دتلویزیوني ډرامو یو اثر یې هم په مستقل ډول خپاره کړي دي. دغه راز د دانش خپرندوې ټولنې په ګډو هڅو یې انګلیسي ـ پښتو قاموس په (۱۳۱۸) مخونو کې خپور کړی، چې دا د چاپ شویو پښتو کتابونو په تاریخ کې یوه ښه او غوره بېلګه ده.

رڼا مرکز ویاړي، چې دخپلو خپرنیو هڅو په لړ کې دهېواد دنامتو لیکوال ښاغلي پوهنمل محمد اسمعیل یون دا اثر (بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي) هم خپروي او د مینه والو لاسو ته یې رسوي، دا خورا مهم اثر دی چې د هېواد د یوې لویې پېښې (بېړنۍ لویې جرګې) په اړه لیکل شوی او په دې اړه پوره او کره معلومات وړاندې کوي. رڼا مرکز ښاغلي یون ته ددې کتاب دچاپ له امله مبارکي وايي او دنورو بریو هیله یې کوي، دغه راز له ټولو افغان لیکوالو سره ژمنه کوي، چې رڼا مرکز به تر خپله وسه هڅه او کوښښ وکړي، چې دنورو لیکوالو علمي، څېړنیز او هنري اثار هم خپاره کړي، هیله من یو یو بل سره فرهنګي همکاري وکړو او ټول د هېواد فرهنګ ته دخدمت جوګه شو.

په فرهنګي او هېوادنۍ مینه

حاجي عبدالظاهر قدیر

د رڼا مرکز عمومي مشر

# "بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زور واکي"

## د واقعيتونو د بيان يوه هنداره

دبن تر توافقاتو وروسته بېړنۍ لويه جرګه په افغانستان کې يوه مهمه سياسي پېښه ګڼل کېږي، چې د افغانستان دعنعناتو پر بنسټ رامنځته شوه، بېړنۍ لويه جرګې يو ځل بيا په افغانستان کې د لويو جرګو ضرورت، ارزښت او ماهيت تائيد کړ او دايې ثرګنده کړه چې د سترو او مهمو سياسي مسايلو دحل اساسي لاره همدا دلويو جرګو جوړېدل دي، نړيوالو هم لويه جرګه (د افغانستان دا ستره او مهمه عنعنه) تائيد کړه او دايې په افغانستان کې دشخړو دحل ښه لاره وګڼله، په دې ډول نو دهغو حلقو او اشخاصو هيلې او نيتونه له خاورو سره برابر شول، چې لويه جرګه يې يوه زړه او فرسوده(؟) عنعنه بلله او دايې يوه خاص قام او قبيلې پورې تړله، ان تر دې پورې چې داسې اشخاص هم په بېړنۍ لويه جرګه کې د انتصابي او انتخابي غړو په توګه ناست وو، چې حتی د لويې جرګې لفظ ورته د منلو نه و، تر دې

دمخـه بـه یـې د ډېـر حساسـیت لـه مخـې ورتـه د (مجلـس کبیـر) اصطلاح کاروله. بېړنۍ لویه جرګه په افغانستان کې پـه همداسـې شـرایطو کـې دایـره شـوه، چـې اکثـره افغـان ضـد او هېـواد ضـد عناصر دبهرنیانو په زور دقدرت پر ګدۍ ناست وو.

خو یو شمېر شعوري، ملتپال او ډېر ځیرك افغانـان، چـې هم پر کورني سیاست پوهېدل او هم د سیاست پر نړیوالو رموزونو او هم دخپل هېواد پر سیاسي ګټو، ملي او هېوادنیو ارزښتونو، دوی پر دې بریـالي شـول، چـې بېړنـۍ لویـه جرګـه لـه انحرافـي حالتـه وژغوري او که ټولـه یـې مثبتـه نـه کړي، نـو لـږ تر لـږه خـو دهېـواد دښمنه عناصرو مخه ونیسي. ددغو هېـواد پـالو افغانـانو پـه جملـه کـې یـو هـم دهېـواد تکـړه لیکـوال شـاعر، دکابـل پوهنتـون اسـتاد ښـاغلی پوهنمـل محمـد اسـمعیل یـون دی، چـې تـر دې دمخـه پـه ختیزو ولایتونو کې دهمدې بېړنۍ لویې جرګې لپـاره دانتخابـاتي چارو مسئول او بیا د همدې بېړنۍ لویې جرګې لومړی انتخـابي منشي شو.

ښاغلي یون لـه پیلـه تـر پایـه پـورې ددې لـویې جرګې پـه کـار کـې دخیل و، نـو ځکـه خـو تـر هـر چـا زیـات تـر جرګې دننـه او بهـر ټـول مسـایل ده تـه ډېـر ښـه معلـوم دي. کـه مـوږ غـواړو د افغانسـتان دسیاسي تاریخ ددې پېښې په اړه معلومات تر لاسه کړو، نـو یـون خپله یو ژونـدی ماخـذ دی، یـون صیب تـه دې خدای خیـر وبرکـت

ورکړي او قلم دې ورته خدای نور هم پیاوړی او غښتلی لري، چې دجرګې ټول مسایل یې په زېر او زور سره بیان کړي دي.

زمونږ د ډېرو سیاستوالو یوه سهوه دا وي، چې که په ډېرو سیاسي پېښو کې یې بریاوې هم ترلاسه کړي وي او یایې دمنفي سیاسي پېښو مخه نیولې وي او مثبتې کړي یې وي خو دهغو دجریان په هکله یې څه سند نه دی پرېښی او نه یې داسې مفصل معلومات چې اینده کې نورو ته دیو معتبر سند په توګه پاتې شي، وړاندې کړي دي. خو یون دپاخه لیکوال، ژورنالیست او شعوري سیاستوال په توګه دپروسې له پیله بیا تر پایه هر سیاسي عمل او ګام دقلم په قید کې راوړی او دا دی داسې اوس یو مهم اثر ترې جوړ شوی دی.

کله چې دا اثر موږ ګورو نو موږ ته په کې یو ستړی او لا لهانده یون تر سترګو کېږي، فکر دی، لیك دی او منډه ده، انتظام دی، مبارزه ده او مناظره ده، دکورني ژوند ، ساراني ژوند او اجتماعي ژوند ټولو ناخوالو ته اوږه ورکول دي، منډه ده او تړه. دکتاب سریزه که لولو نو معلومېږي، چې یون له پیله حالاتو ته په دقت سره متوجه و، نو ځکه دپېښو د لیکلو او دقیق ثبت په لټه کې و.

کله چې په پېښور کې خپل هوسا ژوند پرېږدي او خپلې فرهنګي هڅې ټکنۍ کوي په همدې نیت دا قرباني ورکوي، چې تر (نظره) (عمل) ډېر مهم دی، په افغانستان کې داسې کسان

ډېر کم پیداکېږي، چې خپلې ځاني ګټې تر ملي ګټو قربان کړي، خصوصاً داسې حالت چې ده ته دخپل ژوند په قیمت تمام شي، یون په دې کتاب یو ټکي ته اشاره نه ده کړې، چې دبېړنۍ لویې جرګې تر ختم وروسته دده ځاني ژوند ته څومره خطرونه پیدا شول، خو زه د یو افغان او مسلمان په توګه ددې حالاتو یو عیني شاهد یم کله چې یون له کابله جلال اباد ته راستون شو، نو سملاسي ورپسې دده او دده دمېرمنې ارین یون دترور پلان جوړ شو، د دواړو د وژنې لپاره په ننګرهار او لغمان کې فعالو حرفه یي تروریستانو ته چې په کابل کې یې له واکمنو ملي خاینانو سره ارتباط درلود، پنځوس لکه پاکستانۍ کلدارې منل شوې وې.

زما یوه ملګري ماته یوه ورځ په رمازه کې وویل: اخوا دېخوا ګونګوسي دي، چې د یون صیب ژوند ته خطر دی، دی به خپل امنیت ته متوجه وي که نه؟ ما هغه ته وویل څه دې اورېدلي او که نه؟ هغه وویل: هو والله یو څه خو شته، هغه ته ما وویل چې ته نور تحقیق هم وکړه او مسئله روښانه کړه، هغه وویل درسته ده، ما یوه ورځ یون صیب ته دده په خپل دفتر کې وویل، چې شخصي امنیت ته دې پام دی که نه؟ ما سره تشویش دی، چې څه مشکلات شته، بیا مې چې ورته دخپل هغه ملګري یادونه وکړه چې هغه سره یو څه معلومات شته، خو کېدی شي نور معلومات هم پیداکړي، یون صیب وویل: " زه په دې خبرو خبر یم، خو چا ته

یې ځکه نه وایم چې زما د کورنۍ او ملګرو روحیه خرابېږي او زموږ پر نورو سیاسي او فرهنګي هڅو منفي تاثیر کوي...)) ما ویل روحیه څه کوې اوس ژوند مهم دی، ژوند باید وژغورل شي، ده وویل: ((ژوند په خدای سپاره، چاره څه ده؟ که ښځي غلی هم کېني او هېڅ هم ونه کړې چې لاس یې درباندې بر شو پرېږدي دې نه، هغه نه دا ښه ده چې څو ژوندی یې کار کوه کار. که مقابل طرف زموږ په بې دفاع حالت خبر شي، نو نور به هم زړور شي، هغوی اوس داسې فکر کوي چې دی (یون) ډېر امکانات او وسایل لري، نو ځکه داسې بړ بړ غړېږي او که په دې پوه شي چې منځ کې هېڅ شی نه شته، نو بیا خو به هرڅه وکړي، باید مقابل طرف له خپل دې حالته خبر نه کړو او همداسې وهم کې یې وساتو..." ما ویل له کوره دراوتلو وخت چاته مه ښیه یو او بل مخکې تر دې چې خپل موټر ته پورته شې موټر باید یو ځل چك شي، یون صیب وویل هو داکار به وکړو، خو هغه ملګري چې دې هر کله پوره او کره معلومات پیدا کړل، دلته یې راوله.

یوه ورځ بیا زه، زما ملګری او یون درې واړه ځانته د ده د دفتر په یوه اتاق کې کېناستو او پر ټولو جزئیاتو مو خبرې وکړې او معلومات مو سره تبادله کړل، هغه حالات چې اوس هم سړی رایادوي نو وېښتان یې جګېږي، کله چې یو څوك د داسې سختو حالاتو شاهد وي، نو بیا سړي ته پته لګي، چې په افغانستان کې

سیاسي او ملي شخصیتونه د ازمون له څومره سختو او اورنیو بټیو تېرېږي.

خو یون دې حالاتو ته اوږه ورکړه، نه یې قلم تم کړ، نه یې خپله ژبه له رښتیني بیانه بنده کړه او نه یې هم په خپلو سیاسي هڅو کې ځان ټکنی کړ. داکتاب چې تاسو ولولئ پر هېڅ یې په اصطلاح بریك نه دی نیولی، (دطالبانو دافراط پایلې) کې یې د طالبانو له عملونو ښه په زغرده پرده پورته کړې، (د بې **۵۲** الوتکو تر وزرو لاندې) یې دشمال ټلوالې د رزالتونو ور ببرته کړی او کله چې بیا دجرګې بهیر ته ورداخل شوی، نوهلته یې بیا د اعلیحضرت پر وړاندې توطیې بربنډې کړي، دغه راز یې په جرګه کې، دښاغلي زلمي خلیلزاد تر حده زیات رول او اغېز څخه یې هم پرده پورته کړې، ان تر دې چې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد دسفیر (فکرت احمدجانوویج تابیوف) سره تشبه شوی دی. تابیوف هم په افغانستان کې (د افغانستان دچارو هرکاره) و او ښاغلي خلیلزاد هم ځان هرکاره ګڼه، ددې دواړو هېوادونو دسفیرانو تشابه او دهغو دعملونو تکرار او ورته والی په مجموعي ډول پر افغانستان باندې ددغو دوو هېوادونو دیرغل تشابه او ورتوالی دسړي په ذهن کې تداعي کوي، یون یوازې دې ورته والي ته اشاره کړې او نور قضاوت یې ولس ته پرېښی دی، دقوي لیکوالو یوه ځانګړنه همدا ده، چې داسې

عمیقو مسایلو ته متوجه وي او دوه داسې سیاسي پېښې، چې عیني محتوا ولري داسې سره پرتله کړي او داسې کوچ ترې راوباسي، چې ولس بیا پرې په اسانه سره قضاوت کولای شي.

یون دبن پر توافقاتو هم ښه کره کتنه کړې او د هغو نیمګړتیاوې یې په ګوته کړي او حل لارې یې هم ښودلي دي، یون په دې کتاب کې دبېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتي بهیر پر څرنګوالي، دمرکزي کمیسیون پر نیمګړتیاوو او ترکیب، دجرګې پر داخلي جریان، دښځمنو وکیلانو پر هڅو، دملګرو ملتونو پر فعالیتونو، دمشرتابه پر ټاکنې او یو لړ نورو مسایلو هر اړخیزه رڼا اچولې ده. دکتاب په پای کې د بېړنۍ لویې جرګې یوه عمومي رازونه او بیا د کتاب په وروستۍ برخه کې دجرګې د برخوالو یو ماسټر لیست وړاندې شوی دی.

لنډه دا چې کتاب له کمي او کیفي پلوه پوره غني دی، ددې کتاب یوه ځانګړنه او ښېګڼه همدا ده، چې خپله لیکوال دپېښو عیني شاهد او لوبغاړی دی.

هر څه چې ده لیدلي په دقت یې ثبت کړي او دېته اړتیا نه ده پیدا شوې، چې دویم یا درېیم لاس ماخذ ته مراجعه وشي، نو هر هغه اثر چې د اول لاس منابعو په واسطه رامنځته شي نسبت هغو نورو ته باوري او قوي وي، نو په دې ډول داکتاب د واقعیتونو دبیان یوه ښه هنداره ګڼلای شو، که څوک غواړي دبېړنۍ لویې

جرګې په اړه څه معلومات ترلاسه کړي او یا پرې تحقیق وکړي، نو داکتاب ورته پوره پوره ګټه ور رسولای شي.

دا چې کتاب درې کاله مخکې لیکل شوی او درې کاله وروسته چاپ شو، هم یو علت لري، ځکه چې په دې کتاب کې داسې مسایل شته، چې درې کاله مخکې چاپ یې کېدی شول ځینو ته دزغملو وړ نه وو. افغانستان کې لا ولسواکي او دبیان ازادي دومره پخه شوې نه ده، چې زورور ټول واقعیتونه پر خپل وخت ومني.

زه ښاغلي استاد پوهنمل محمداسمعیل یون ته ددې کتاب دلیکلو او بیا چاپ له امله دزړه له تله مبارکي وایم او دلوی خدای(ج) له درباره ورته دنورو دا ډول هڅو او بریاوو هیله لرم او قدرمنو لوستونکو ته دکتاب دلوستلو بلنه ورکوم.

په درناوي

شیرعلم امله وال

# ســـــــریـــزه

افغانسـتان پـه تېـرو دوه نیمـو لسـیزو کـې بېلابېلـو سیاسـي، پـوځي او ګروهیـزو پېښـو ډېـر زیـات ځپلـی او کـړولی دی. همـدا مخـتلفي پېښـې ددې سـبب شـوي، چـې د هېـواد د پـرمختګ او ودې لاره ډب شي او ان په زیاتو برخو کې د پرمختګ پر ځای شا تګ وکړي، دا پېښې او د هغو ځینې اړخونـه، د بېلابېلـو کورنیـو او بهرنیـو لیکوالـو لـه خـوا ثبـت شـوي او شـنل شـوي دي. خـو دا پېښې دومره ژورې او څو اړخیزې دي، چـې د ټولـو خـواو څېـړل او شنل یې څه اسان کار نه دی. د لیکوال ذهني لېوالتیا ، لـه کورنیـو او بهرنیو سیاسي، پوځي او مالي سرچینو سره د هغـوی یـو نـه یـو ډول اړیکي، بل هغه انحرافي عامل دی، چې د حوادثو پـه بـل ډول ښودلـو کـې اغېـز لـري او د هغـو پـر ربښتینـي اړخ پـرده خـوروي. د خپلواکـو او ازادو لیکوالـو د امکانـاتو نشـتوالی، د اقتصـادي او فنـي شـتو کمـی، بـل عامـل دی، چـې د حوادثـو تـل تـه د لیکوالـو رسېدل ناشـونی کـوي. د سیاسـي او پـوځي فشـارونو لـه املـه اختناقي حالت بل لامل دی، چې د ازاد لیکوال ذهن بغاوت تـه نـه پرېـږدي. پـه پایلـه کـې دغـه ټـول عوامـل ددې سـبب شـوي، چـې د پېښو ډېر اړخونه له خلکو پټ پاتې شي.

ددې خبرې یادول هم ضروري دي، چې ځینو کورنیو لیکوالو او یو شمېر ناپېیلو بهرنیو سرچینو وخت پر وخت د حالاتو رښتیني انځورونه کښلي او خپل وجداني مسئولیت او رسالت یې تر سره کړی دی. د حوادثو زیاتوالی، ژوروالی او څو اړخیزوالی ددې غوښتنه کوي، چې د افغانستان پر پېښو زیات څه ولیکل شي، که چېرې یوه پېښه په خپله د هغې دلیدونکي له خوا ثبت شي نو تر اورېدونکو او نورو درېیم ګړو به یې ښه ثبت کړي او هم به یې اړخونه ښه روښانه کړي، که چېرې د پېښې پخوانی شالید او راتلونکی اغېز پوره تثبیت نه کړي، نو لږ تر لږه خو به د پېښې د پېښېدلو حالت په ښه ډول انځور کړي، په تېره بیا که د پېښې لیدونکی په خپله لیکوال، اندیال او د یوه ژورلید خاوند وي.

د افغانستان په وروستیو سیاسي او ټولنیزو پېښو کې (بېړنۍ لویه جرګه) ډېره لویه او مهمه پېښه وه، چې د هغې تر جوړېدو دمخه هم د هغې پر شکل او محتوا ډېرې خبرې او تبصرې وشوې، تر پای ته رسېدو وروسته یې هم د ډېرو پام ځانته راواړوه او نورې خبرې او تبصرې هم پرې کېدلای شي.

له هغې ورځې، چې دلویې جرګې د انتخاباتو لپاره تبلیغاتي او عملي کمپاین پیل شو، نو زه د لویې جرګې په کار کې دخیل شوم او بیا د لویې جرګې تر پایه تر خپلې وسې پورې د هغې په کارونو کې شامل وم. لومړی دیو ستر ملي ارزښت په توګه دلویې جرګې یو مینه وال وم، بیا دعملي کارکوونکي په توګه په ختیزه

انتخاباتي هسته کې د دغه سیمه ییز دفتر د ټیم لیډر او په پای کې د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه وټاکل شوم. نو په دې ډول دلویې جرګې لپاره د ټاکنو څرنګوالی او بیا خپله د لویې جرګې د بهیر څرنګوالی تر زیاته بریده ماته راڅرګند شو. نو ځکه غواړم دیوه افغان لیکوال او د خپلو ملي ارزښتونو د یوه رښتیني مینوال په توګه د خپلو سترګو لیدلی حالت او د پردې تر شا ځینې نور حرکتونه چې ما احساس کړي، خپلو هېوادوالو ته څرګند کړم. ددې واقعیتونو بیان کېدی شي پر ځینو ښه، پر ځینو بد، پر ځینو خوږ او پر ځینو تریخ ولګي، خو زه غواړم د یوه افغان لیکوال او یا لږ تر لږه د لیکوالۍ دیوه مینوال او لېوال په توګه خپل مسئولیت او رسالت ترسره کړم. هیله ده درنو لوستونکو ته په دې لیکنه کې داسې څه وړاندې کړای شم، چې د واقعیتونو په څرګندولو او بیان کې مرسته وکړي.

په مینه او درناوي

پوهنمل محمداسمعیل یون

۱۳۸۱ لمریز کال دزمري میاشت

جلال اباد - ننګرهار

# د طالبانو د اسلامي تحریك د افراط پایلې

د طالبانو اسلامي خوځون په داسې حالاتو کې رامنځته شو، چې د بېلابېلو جهادي او الحادي ډلو د وسلوالو ځواکونو د پرله پسې جګړو له امله په افغانستان کې د ظلم، وحشت او بربریت لمبې بلېدلې، ټول ولس ددوی د عملونو له امله تر پوزې راغلی و او په دې هیله و، چې خدای(ج) یوه ژغورندویه ځواك پیدا او دوی له دې اختناقه خلاص کړي. د هېواد په اکثرو سیمو کې دقدرت پر سر جګړه روانه وه، په هر ځای او هره سیمه کې بېله واکمني او بېله پاچاهي وه. د اسلامي وحدت ګوند د مشر عبدالعلي مزاري په وینا: " په دې وخت کې د ټول هېواد په کچه تر یو زر(۱۰۰۰) زیاتې دقدرت بېلابېلې سرچینې موجودې وې". ټول هېواد د واك د همدغو مختلفو سرچینو په منګولو کې راګیر و. هر چا د هرې سیمې د ځپلو او زبېښلو لپاره بېلابېلې طریقې کارولې. کابل ښار ددې مختلفو ډلو ترمنځ د جګړې اصلي ډګر و. پر کابل ښار باندې د مختلفو تنظیمونو له خوا تقریباً درې نیم کاله متواتره جګړه وشوه. د جګړې اساسي لوبغاړي دغه ډلې او تنظیمونه وو:

۱. دحکمتیار اسلامي حزب
۲. اسلامي جمعیت او نظار شورا
۳. اسلامي اتحاد ګوند

۴. اسلامي وحدت ګوند

۵. ملي اسلامي جنبش

او ځینې نورې ډلې.

ددې تنظیمونو دجګړې تګلوري په دې ډول وو:

لومړی پړاو:

اسلامي جمعیت او نظار شورا　　　　دحکمتیار اسلامي

حزب

اسلامي اتحاد

اسلامي وحدت

ملي او اسلامي جنبش

څو میاشتې وروسته حالات بدل شول او جنګ دا بڼه خپله کړه:

اسلامي اتحاد　　　　اسلامي وحدت

پر دې وخت د دوستم ملي جنبش او د احمدشاه مسعود نظار شورا تر زیاته حده د اسلامي وحدت ګوند ملاتړ کاوه، چې اسلامي اتحاد کمزوری کړي. د ۱۳۷۲ل کال د جدي پر یوولسمه نېټه د حکمتیار اسلامي حزب له وحدت ګوند او ملي جنبش سره ائتلاف وکړ او د نظار شورا او اسلامي جمعیت په مقابل کې یې تر ټولو سخته جګړه پیل او جګړې دا بڼه خپله کړه:





دې ائتلافونو، سازشونو، جګړو او نښتو نړدې درې نيم کالـه دوام وکړ، هر وخت به نوي ائتلافونه جوړېدل، پرونـي دښمنان بـه نـن دوسـتان شول او نني دوسـتان بـه سبا پـر دښمنـانو بدلېـدل. دهمـدغو ائتلافونـو او جګـړو پـه بهيـر کـې نـږدې (۶۵) زره کابـل ښاريـان ووژل شـول، تـر (۸۵) زرو زيـات کورونـه ړنـګ شـول، تـر (۲۰۰۰) زيـاتې لـويې، ورې فـابريکې ړنګـې شـوې، (۱۵) لـويې

چاپخونې له منځه لاړې، د ملي موزیم تر یولك زیات اثار لوټ شول، د اردو موزیم په لسګونو زره اثار له منځه لاړل، په منځنۍ کچه هره ورځ له کابل ښار څخه په سلګونو وګړي مهاجرت ته اړ کېدل او په لسګونو تنه وژل کېدل. د هېواد اقتصاد تباه شو، د زیاتو پیسو د چاپ له امله د انفلاسیون کچه ډېر لوړ حد ته



ورسېدله، په ځینو برخو کې د شیانو بیه یو زر ځله لوړه شوه، د مرکز او ولایتونو ترمنځ رسمي اړیکي غوڅ شول او په لسګونو ډوله نورې ناروغۍ او ستونزې پر هېواد خورې شوې.

د اختناق او ظلم دې حالت هر هغه حرکت ته لاره اواروله، چې ددې حالت د ختمولو شعار یې ورکاوه. طالبانو ظاهراً دکندهار

له سپین بولدك نه ددې حالت دختمولو، په هېواد کې د سولې او ثبات د ټینګولو او اسلامي شریعت د نافذولو شعار پورته کړ. ولس چې ددې شعارونو عملي حالت ته تږی ناست و، په زغرده یې د طالبانو ملاتړ وکړ، طالبانو دخپلې بهرنۍ اجنډا ترڅنګ د ولس له دې مجبوریت او لېوالتیا نه اعظمي ګټه پورته کړه او ډېر ژر یې کندهار او بیا په لنډه موده کې د هغه شاوخوا نور لس ولایتونه را خپل کړل.

د طالبانو یو ناڅاپي پیداکېدل نه یوازې د ولس له هرکلي سره مخامخ شول او په ببره یې دهغو ملاتړ وکړ، بلکې پاخه سیاسي، نظامي او تنظیمي مشران یې هم په تثبیت او پېژندنه کې ناکام شول او له عاجلې څخه یې کار واخیست. لومړنی شخص چې د طالبانو په تشخیص کې یې شعوري او ناشعوري تېروتنه وکړه هغه " د افغانستان د اسلامي دولت" مشر او د اسلامي جمعیت رهبر ښاغلی استاد برهان الدین رباني و، ده په خپله یوه مرکه کې وویل:" طالبان یك جنبش خودجوش است".

دجمعیت مشرانو هغه وخت له طالبانو سره د پیسو مرسته هم کوله او دوی داسې فکر کاوه، چې ددوی داساسي مخالف تنظیم (اسلامي حزب) د نفوذ په ساحه کې دیو بل مخالف حرکت را پیدا کېدل، په خپله ددوی ددوست او مرستندوی په مانا دی، ځکه دوی پوهېدل چې په لومړي ګام کې به طالبان له اسلامي حزب سره مخامخېږي، په هغو (۱۰) ولایتونو کې، چې دا مهال طالبانو نیولي وو، حالات همداسې دجمعیت تنظیم له هیلو سره

سم روان وو. جمعیت تنظیم ان دې حد ته هم ورسېد چې په ډېرو ځایونو کې د طالبانو پر ضد له جګړې تېر شي او خپله وسله هم هغو ته ورتسلیم کړي، له همدې امله خو کله چې طالبان میدان ښار ته راورسېدل، د نظار شورا مشر انجنیر احمدشاه مسعود یې مخې ته ورغی، خپله تومانچه یې د ګډې همکارۍ لپاره د حسن نیت" په توګه پر مېز کېښوده او ورته یې وویل چې " زه ستاسو هرې خبرې او امر ته تیاریم زه یو عسکر یم، خو تاسو باید اول د حکمتیار غم وخورئ".

طالبانو چې کله د اسلامي حزب ځواکونه له چهاراسیاب څخه په شا کړل، نو د کابل ښار پر لوري یې مخه وکړه او فکر یې کاوه، چې د احمدشاه مسعود له خوا ورکړی تعهد به سم وي او د جمعیت وسلوال ځواکونه به پر دوی برید نه کوي، خو د جمعیت وسلوالو ځواکونو پر دوی برید وکړ او طالبان یې له ښاره په شا کړل، دې جګړې ددې زمینه برابره کړه، چې دوحدت حزب مشر عبدالعلي مزاري په کې د طالبانو له خوا ووژل شي.

طالبانو څه موده وروسته بیا ځانونه منظم کړل، بلاخره هرات او تر خونړیو جګړو وروسته یې کابل هم تر ګوتو کړ او تر کابل وروسته یې بلخ،بامیان او د هېواد نور مهم ولایتونه هم لاندې کړل او خپل مخالفین یې یوازې د هېواد په پنځه فیصده خاوره کې رامحاصره کړل، خو کله چې طالبانو کابل ونیو، نو پر لومړۍ ورځ یې پر ستر سیاسي قتل ( د ډاکټر نجیب الله پر وژنې) لاس پورې کړ، او د خپل اند مطابق اسلامي شرعي نظام یې نافذ کړ،

په لومړي سر کې خلکو فکر کاوه، چې افغانستان کې هر سیاسي نظام په پیل کې ډېر افراطي وي، خو وروسته وروسته بیا نرمېږي او له حالاتو سره ځان جوړوي، طالبان به هم وروسته ښه شي او نرم به شي، خو چې ورځ تېرېدله طالبان به ګرمېدل او لا به افراطي کېدل، طالبانو ګام پر ګام، ورځ پر ورځ د افراط پوړۍ داسې پسې تعقیب کړې، چې د افراط هغې وروستۍ پوړۍ ته یې هم ځان ور رساوه.

دښځو پر هر ډول فعالیت یې چورلټ بندیز ولګاوه او له هر ډول تعلیز، سیاسي، علمي کار او هڅو نه یې منع کړې. د طالبانو د واکمنۍ په پیل کې د ټول افغانستان په کچه نږدې (۴۰) زرو تنو ښځو په دولت کې رسمي دنده ترسره کوله، طالبانو د دولت دا کارکوونکې لومړۍ د معاش په امتیاز پر کور کېنولې او څو میاشتې وروسته یې معاش هم پرې بند کړ.

په مجموعي ډول د طالبانو په واکمنۍ کې (۳۷۰۰۰) تنو ښځینه دولتي کارکوونکو په جبري ډول خپله دنده له لاسه ورکړه، چې له دې جملې څخه (۲۰۰۰۰) تنه ښوونکې وې. دغه راز په ملیونونو نجونې د زده کړې له نعمت څخه محرومې شوې، په ټول هېواد کې د نجونو د ښوونې او روزنې په برخه کې یوه پنځه کلنه خلا یا فاصله رامنځته شوه.

پر ښځو نور ډول ډول فشارونه، چې تر دې دمه یې نه په اسلامي نړۍ او نه هم په نا اسلامي نړۍ کې ساری لیدل شوی و، راوړل شول، افغان ښځو ته خپلې ټولنې دیوه قفس او تنور

حیثیت غوره کړ. نه یوازې پر ښځو او نجونو بلکې پر نارینه وو او په تېره بیا د هېواد پر ځوان نسل هم ډول ډول فشارونه  وو.

که ښځه د چادرۍ او ډول ډول حجابونو په پردو کې را ایساره وه، نو نارینه هم په جبري ږیره کې راګیر وو، له هغه تاریخه چې بشر دې دنیا ته سترګې غړولي یانې له بابا ادمه تر دې دمه به هېڅکله هم انسان له خپلو حقوقو څخه دومره نه وي بې برخې شوی، لکه د طالبانو د واکمنۍ په بهیر کې چې و، ان د خپلې ځاني سلیقې د انتخاب او جوړولو حق هم ورڅخه اخیستل شوی و. ږیره دپوهې، مسلك، تقوا او په دولت کې ددندې د اجرا ستر معیار و، هر کار په ږیرې سره کېدی شو، خو هېڅ کار بې له ږیرې نه شو ترسره کېدی. ږیره ان دومره ضروري وګڼل شوه، چې د هغې د څارنې او پالنې لپاره ځانګړې وزارت (امربالمعروف او نهی عن المنکر) هم جوړ شو، دې وزارت سره له دې چې د عقایدو د تفتیش او څارنې نورې چارې هم ترسره کولې خو د کار مرکزي ټکی یې همدا ږیره وه.

د طالبانو په واکمنۍ کې تردې وزارته بل ځواکمن وزارت نه و، ددې وزارت دمامورینو معاشونه او صلاحیتونه تر بل هر وزارت لوړ وو او نورلګښتونه یې هم ډېر زیات وو. دوی په هر ولایت کې ځانګړې ریاست او په ولسوالیو کې څانګې درلودې، دږیرو دکنټرول لپاره یې پوره ګاډي اود هغو لپاره د اړتیا وړ تېل درلودل. په دې ډول د ږیرې دمیاشتني کنټرول لګښت په مجموعي او اټکلیز ډول د هغه وخت د افغانیو په پام کې نیولو

سره (۳۵) ملیارده افغانیو ته رسېده، یانې دې مظلوم ملت هره میاشت د ږیرې د کنټرول لپاره (۳۵) میلیارده افغانۍ لگولې، دا نو بیا په کال او بیا په پنځو کلونو کې حساب کړه، ددنیا په دې اوږده تاریخ کې به هېڅ ملت او هېڅ دولت پر ږیره دومره لگښت نه وي کړی، هر چا چې به ږیرې ته لاس ور وړ د "تارك سنت" په نامه به له سختې سزا سره مخ کېده. که چېرې دولتي مامور به وو، نو فوراً به له دندې گوښه کېده او زندان ته به لېږل کېده او که عام هېوادوال به و، نو په زندان کې به د ږیرې د نامعلوم بند تر تېرولو وروسته خوشې کېده. ښه به وي، چې په دې پېر کې د ږیرې د ارزښتمندۍ په باب یوه رښتینې کیسه د بېلگې په توگه هم وړاندې شي.

"په کابل ښار کې دیوې مخورې کورنۍ دیو ځوان واده تیار و، ځوان به طبعاً چې سبا یې واده دی، نن پر خپل ځان او مخ گوتې وهلې وي، سلماني به یې وېښتان جوړ کړي وي او کېدی شي پر مخ یې هم ورته لاس را تېر کړی وي، دا شخص پر همدې ورځ د طالبانو د امربالمعروف او نهی عن المنکر د کسانو په گوتو ورغی، ځوان یې په زندان کې واچوه، د هلك پلار چې خبر شو، ژر د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسئولینو ته ورغی او د واده ټوله کیسه یې ورته وکړه، کارتونه یې هم ورته وښودل او ورته یې وویل چې سبا واده دی او موږ ډېر خلك خبر کړي، خپل او خپلوان، دوست او دښمن لرو، دا زموږ د ټولې کورنۍ او قوم د خوشالۍ ورځ ده، هیله ده دا زوی مې راخوشې کړئ. طالبانو

د هو ځواب ورنه کړ، د هلك پلار دا هم ورته وویل چې خیر دی دده پر ځای به زه کېنم خو دده واده دی او دی خوشې کړئ، خو هغوی خوشې نه کړ، واده والاو د شپې ځو غوریه وریجې هم د نهې عن المنکر دفتر ته یوړې چې هغوی به د واده پر واقعیت پوه شي، هغوی د شپې وریجې هم وخوړې، خو بیا یې هم هلك خوشې نه کړ، سبا غرمه شوه، موټر ګل پوښ دی، خلك یو ځل بیا امربالمعروف اداري ته د عذر لپاره ورغلل چې تر غرمې وروسته ناوې پسې ځو، که هلك را پرېږدئ ډېره مهرباني به مو وي، خو هغو بیا هم هلك پرې نښود، د هلك پلار او یو شمېر نورو خلکو یو ځل بیا ورته وویل چې خیر دی د هغه پر ځای موږ بندیان کړئ، موږ تضمین کې واخلئ او کله چې دی ناوې پسې لاړ شي، فقط د واده دا اوله شپه تېره کړي، بېرته به یې درته راولو، ډېر زیات شرمېږو، د خدای خاطر وکړئ، خو هغوی د هېڅ هېڅ ډول عذر ونه مانه او هلك یې خوشې نه کړ، بلاخره واده والا له شاه پرته ناوې پسې لاړل. د ناوې اوله شپه همداسې په هجران کې تېره شوه...)) دا یوه بېلګه د طالبانو د افراط د زرګونو بېلګو یو مثال دی، چې د موضوع د اوږدوالي له امله یې له ډېرو نورو بېلګو څخه تېرېږو.

د طالبانو دهمدې پرله پسې اختناق او افراط له امله نه یوازې د دولت ښځینه مامورینو خپله دنده له لاسه ورکړه، بلکې په لسګونو زره مسلکي، اداري او حرفه یي کادرونو هم خپله دنده له لاسه ورکړه او "نامطلوب" وګڼل شول. هرڅوك چې به د طالبانو

په اصطلاح له شرعي اصولو سره برابر نه وو، هغه ته به يې نامطلوب وايه او له کاره به يې ګوښه کاوه.

په کورنۍ کچه د ولس ځورونې او په نړيواله کچه دنړيوالو اصولو مخالفت ورو ورو د طالبانو د سقوط عوامل برابر کړل، د وخت په تېرېدو او له ولس او نړۍ سره د اړيکو په غوځېدو طالبان نور هم د پاکستان د ISI او القاعدې د نړيوال تروريستي سازمان دايرې ته ننوتل او يو وخت بيا داسې هم راغی، چې طالبان له القاعدې سره منطبق شول او هغو په ډېر دقت سره خپل فعاليتونه او پلانونه ددوی په ليکو او واسطه ترسره کول.

د ښېرې د کنټرول ترڅنګ د لمانځه د کنټرول په برخه کې هم خبره داسې يوه افراطي حالت ته ورسېده، يو زيات شمېر خلک د خپلې حيا او عزت د ساتلو لپاره د لمانځه د اصولو، فرضونو او شرطونو خلاف پر لمانځه ودرېدل. ديو رقم له مخې يوازې په کابل ښار کې په سلو کې پنځه ويشت لمونځ کوونکو به له اوداسه پرته لمونځ کاوه په ځانګړې ډول د ماسپښين لمونځ.

د طالبانو د افراط او تشدد بله غټه بېلګه هماغه دباميانو د تاريخي اثارو (مجسمو) له منځه وړل وو، چې عمر يې (۱۸۰۰) کالو ته رسېده. دې عمل سره طالبانو وښودله، چې نه د ملي کلتور او تاريخي وياړونو پروا لري او نه هم د نړيوال فرهنګ او تمدن په کيسه کې دي. د باميانو د تاريخي مجسمو تر ماتولو

وروسته عـام ولـس او پـه تېـره بیـا د ولـس روښنفکـره برخـه، ټولـو
ددې هیلـه لرلـه چـې څـومره ژر کېـږي، د طالبـانو رژیـم بایـد خـتم
شي.

څرنګه چې افغاني ټولنه یوه مذهبي ټولنـه ده او طالبـانو خلـك
د مذهب پـه نامـه یرغمـل کـړي وو، نـو پـه ټـول هېـواد کـې یـې تـر
(۱۱۰۰) زیاتې رسمي، دولتي او تر (۵۰۰) زیاتې نادولتي دینـي
مدرسـې جـوړې کـړې، د ښوونځیـو دروازې یـې وتـړلې او پـه
تعلیمي نصاب کې یې په خپلـه خوښـه ډېـر زیـات بـدلون راوسـت،
دا ټـول کارونـه ددې سبب ګرځېـدل چـې د طالبـانو بشـري قـوه د
تلفاتو په اندول څوځله زیاتـه شـي او کـه چېـرې دې لـړۍ همداسـې
دوام مونـدلای وای، نـو پـه راتلونکـو پنځـو کلونـو کـې بـه پـه
افغانسـتان کـې د طالبانو یـا ملایـانو شمېر تـر عـادي وګـړو زیـات
وای. لـه عـام ولـس سـره وسـله هـم نـه وه او بهرنیـو هېوادونـو هـم
خاصو ډلو سره مرسته کوله، ولس که هرڅومره د طالبانو لـه سـتم
څخه په تنګ و، خو د هغوی له مخالفو جهادي ډلو څخه یـې هـم
ښه زړه نه درلود او ان تر هغوی یې طالبانو ته ترجیح ورکوله.

دطالبانو دسقوط ترمهاله دمخه د امریکا غږ له خوا په پټه یوه
ټولپوښتنـه ترسـره شـوې وه، ددې ټولپـوښتنې نتیجـو ښـودلې وه،
چې په سلو کې ۹۵ وګړو ویلي وو: ((د طالبانو ترسقوط وروسته

دهر ډول رژیم منلو ته تیار دي، خو یوازې هغه خلك باید بېرته رانه شي چې تر طالبانو دمخه واکمن وو)). تر طالبانو دمخه واکمنۍ څخه د اکثرو خلکو مقصد بېلابېلې جهادي او الحادي ډلې او په تېره بیا د جمعیت او نظار شورا ډلې وې، چې په کابل



کې یې دخپل واك وځواك د ساتلولپاره له هرې ډلې سره یو ځل نه څو څو ځله خونړۍ جګړې وکړې او کابل د واك د همدغه انحصار غوښتنې په نتیجه کې پر کنډوالو بدل شو، نو د طالبانو افراط یو ځل بیا په نړیواله کچه ددې زمینه برابره کړه، هغه ډلې او اشخاص چې ولس رټلي او شړلي وو، د نړۍ د سترو زبرځواکونو تر سیوري لاندې بیا خپل مړاوی نیم ژواندی ژوند

وغوړوي، د هغوی له بې شمېره مالي، تبلیغاتي، پوځي او نورو ډول ډول مرستو برخمن شي او د هغوی په مرسته یو ځل بیا د بایللي تخت وتاج خاوندان شي. دطالبانو د افراط نتیجه بلاخره دا شوه، چې دوی د کومو اشخاصو او ډلو د ټکولو او له منځه وړلو لپاره راپورته شوي وو، په پای کې دهمدوی د افراط په نتیجه کې هغه ډلې او ګروپونه یو ځل بیا دداسې واك وځواك څښتنان شول، چې تر پخواني هغه څو ځله زیات دي.

# د بي (۵۲) الوتکو تر وزرونو لاندې

د (۲۰۰۱م) کال د سپتمبر دیوولسمې نېټې نړۍ لړزوونکې پېښې تر پېښېدو وروسته چې په نیویارك او واشنگټن کې یې تر (۳۰۰۰) تنو زیات کاري وگړي ووژل، سم له لاسه د ټولې نړۍ پام افغانستان ته راواوښت، امریکا تر ټولو دمخه دا پېښه د اسامه بن لادن په القاعده شبکې پورې وتړله چې دا وخت یې په افغانستان کې ځاله کړې وه او د طالبانو تر ټولو نږدې بهرني




ملاتړي وو. تر دې دمخه هم د اسامه بن لادن پر سر د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د ناندرینو څلورکلن تریخ تاریخ تېر شوی و، خو طالبان هېڅکله هم دېته حاضر نه شول چې د اسامه بن لادن پر

سر لـه امریکا سره کومه سیاسي، تجارتي او یا پوځي معامله وکړي، خو د سپتمبر د (۱۱) مې نېټې تر پېښې وروسته سملاسي د امریکا جمهور رئیس جورج ډبلیو بش وویل چې تر دې وروسته نو موږ ته اسامه بن لادن، القاعده او طالبان بېل بېل مفاهیم نه دي، موږ ټولو ته دیوه دښمن په سترگه گورو.

دسپتمبر پېښې د طالبانو دمخالفینو په نیمژواندي وجود کې یو ځل بیا نوې ساه پوه کړه او یو ځل بیا یې مړژواندي غړي په خوځون راغلل، د طالبانو مخالفینو دا وخت د ټول افغانستان په کچه یوازې دهېواد له سلو څخه پر (۵)مه برخه خاوره نیمواکه واك درلود، او ټول دې ته منتظر وو چې د طالبانو په یوه غوځ گوزار به له سیاسي او پوځي ډگره ووځي، دا خبره هغه وخت واقعیت ته لا پسې نږدې شوه، چې د سپتمبر پر (۹) نېټه د طالبانو دیوې لویې مخالفې ډلې ـ جمعیت، نظار شورا پوځي قومندان احمدشاه مسعود په ډېر دقیق سنجول شوې پلان کې ووژل شو.

که څه هم ددې خبرې واقعیت لا سل په سلو کې تثبیت شوی نه و، خو د طالبانود مخالفینو روحیات ډېر کمزوري شوي وو، ددې لپاره چې د شمال ټلوالې د وسلوالې جبهې ټولې لیکې سم له لاسه د طالبانو له خوا له منځه لاړې نه شي، د شمال ټلوالې ځینو مشرانو لکه استاد برهان الدین رباني، یونس قانوني، استادسیاف او نورو د احمدشاه مسعود پر مړینې پرده وغوړوله او استاد رباني خو لا دا هم وویل چې دی یې پوښتنې ته ورغلی

او خبرې یې هم ورسره کړي، صحت یې په ښه کېدو دی، دا په داسې حال کې وه چې د احمدشاه مسعود وژنه دوی ته پوره یقیني وه، خو د خپلو وسلوالو کسانو د مورال د له منځه تلو له امله یې د هغه د مرګ خبر پټ کړ.

داحمدشاه مسعود تر وژنې ایله (۳۵) ساعته وروسته په نیویارك او واشنګټن کې پر نړیوال تجارتي مرکز او پنټاګون بریدونه وشول او دې پېښې د ټولې نړۍ پام د احمدشاه مسعود له وژنې څخه هغې خوا ته واړوه. د شمال ټلواله چې دا وخت دمرګ پر پوله ولاړه وه یو ځل بیا یې د ژوند مجال ومونده، په حقیقت کې دنیویارك او واشنګټن پېښې شمال ټلوالې ته د نوش دارو او اب حیات حیثیت غوره کړ او یو ځل بیا یې په مړ ژواندي کالبوت کې ورته نوې ساه پو کړه.

کله چې امریکایانو القاعده او طالبان دخپلو اصلي غلیمانو په توګه په ګوته کړل او ټول پام یې دې خواته را واوښت، نو د طالبانو د رژیم دسقوط او د شمال ټلوالې د بیا واکمنۍ اټکلونه ډېر زیات شول. امریکایانو ته دا وخت د شمال ټلوالې له متفرقه غړو پرته په داخلي کچه نور مناسب اشخاص په نظر ورنغلل، نو ځکه یې دوی سره پټې او ښکاره معاملې پیل کړې او په همدې موده کې یې نږدې (۷۴) ملیونه ډالره مرسته ورته برابره کړه. دجګړې تر پیل دمخه د ډېرو افغانانوهیله دا وه چې د طالبانو د رژیم تر سقوط د مخه باید نړیواله ټولنه دیوه ښه بدیل په باب فکر وکړي، دغوڅ اکثریت غوښتنه دا وه چې پخوانۍ جنګي

ډلې په هېڅ وجه د طالبانو بدیل نه دي، که هغوی واك ته رسول کېږي، دا له افغان ولس سره ستره جفا ده او دتېرو ترخو تجربو بیا تکرار دی. امریکایانو هم هغه وخت ظاهراً ځان له شمال ټلوالې لرې ساته او کېدی شي فکر یې کاوه چې دا عام ولس ته د منلو وړ نه دي، خو پر همدې وخت د شمال ټلوالې دګڼو مشرانو په تېره بیا دجمعیت تنظیم مشرانو پر امریکائیانو غږ وکړ چې موږ سره تماس ونیسئ، موږ هر ډول همکارۍ ته تیار یو او موږ



د واک لپاره د اسلامي جمعیت او اسلامي حزب د خپلمنځي جګړو یو تصویر

د طالبانو او القاعدې پرضد د جګړې ښه تجربه لرو، موږ ته د هغوی ټول ځایونه معلوم دي.

دشمال ټلوالې تلوسې او دامریکائیانو پوځي ضرورتونو ددې زمینه برابره کړه چې دا ډلې یو ځل بیا واك ته ورسېږي، دا ځل نو (بي ۵۲) الوتکو دهغوی پر ځمکني دښمن داسې ګوزارونه کول چې هرڅه یې له بېخ وبنه تباه کول، داسې وسله یې

استعمالوله چې تر اتومي بمونو وروسته یې لا نړۍ قوت او غریب ساری نه و لیدلی، ان داسې بمونه چې د طالبانو دمخالفینو په تصور کې هم نه راتلل. کله چې د جگړې پر وروستیو ورځو په بگرام کې دجگړې پر لومړۍ لیکه د طالبانو پر مورچلو د امریکایي الوتکو له خوا داسې درانه بمونه واچول شول چې ان په کابل ښار کې یې ځمکه ښوروله، نو د شمال ټلوالې ویاند ښاغلي ډاکټر عبدالله وویل چې دا بمباري نو صحیح بمباري وه. په دې ډول د طالبانو مخالف ځواکونه ددې الوتکو تر وزرونو لاندې په داسې ارامه ساه کابل ته راننوتل چې کابل کې اصلاً د طالبانو سیوری هم نه و.

دکابل نوي فاتحین (!) یو ځل بیا دغرور پر نیلي سواره شول، یو ځل بیا یې ځانونو ته اتلان وویل ، یو ځل بیا یې یو بل ته د فتحې مبارکۍ وویلې، یو ځل بیا یې د خپل زور ننداره ولس ته وړاندې کړه، یو ځل بیا د تېرو اشتباهاتو پر پله روان شول، خو ددوی او ولس معامله او قضاوت هماغه شان وو لکه پخوا چې وو، نه دوی له خپله چکه اوښتي وو او نه هم ولس له خپل منطقه. په کابل کې دطالبانو د سقوط دریمه ورځ وه چې په پل باغ عمومي کې دخلکو په گڼه گوڼه کې یوښکلی ځوان چې تازه یې ږیره خریلې وه، وېښتان یې وینځلي او د وېښتانو ځلا یې وهلې وه، له ورایه د نورو خلکو په منځ کې معلومېده، پر همدې وخت ددرېو وسلوالو کسانو چې برگې پلنگي درېشۍ یې اغوستې وې او په یوه کرولا موټر کې ناست وو، پر دې ځوان

سترګې ولګېدې، سم لـه لاسـه لـه مـوټره راکېوتـل او دې ځـوان تـه ودرېدل او پر خبرو یې پیل وکړ:"بېشك بادار! زور ماست کـه ایتـو لوکس مېردی، خدا خبر که چند روز پیش به چه حال میبودی..".

ځوان هم لکه پخوا نه چې ددوی خبرو ته یې تیاری نیـولی وي، په ځواب کې وویـل:" **او هو بادار! زور بي (۵۲) است کـه درشـهر کابـل میگردی، اگر بی (۵۲) نمیبود خدا خبر که روی کابله میدیدی...".**

د دوی دا خبرې ټولو خلکو واورېـدې، هـم خلکـو، هـم وسـلوالو او هـم دې ځـوان ټولـو وخنـدل، وسلوال پرتـه لـه دې چې هلـك سـره خبره تاوه کړي په خپل موټر کې بېرته سـواره شـول، ځـوان او خلـك هـم پـه خپلـه مخـه لاړل، خـو ماتـه دې دوو جملـو او مکـالمو پـه افغانسـتان کـې دیـوه افراطي نظام پر ځـای د بـل نـاخوښي نظـام راوستلو ټول بهیر تداعي او په ذهن کې انځور کړ.

# د بن کنفرانس ته يوه کتنه



دبن کنفرانس پر داسې وخت جوړ شو چې په افغانستان کې د وسلې په زور له يوې وسلوالې ډلې واك واخيستل شو او بلې وسلوالې ډلې ته ورکړ شو. د افغانستان سياسي تاريخ ددې خبرې شاهد دی هره ډله چې د زور له لارې واك ته رسېدلې يا رسول شوې، هغه ببرته د زور له لارې لرې شوې ده، هېڅ ډلې په خپله خوښه واك بلې ته نه دی پرېښی، دا خو ببخي ډېره گرانه ده هغه ډله چې يو ځل د بې شمېره سرونو په بدل کې واك ته رسېدلې وي، بيا د بې شمېره ککريو په بدل کې له واکه غورځول شوې وي او بيا هم د بې شمېره سرونو په بيه د واك د نيونې هڅه

کوي او هغوی ته یوځل بیا د واك یو طلایي چانس برابر شي، هغه دې په خپله خوښه او بې له کوم سخت نظامي فشاره واك څخه منصرف شي او یا دې په منصفانه ډول چا سره واك شریك کړي.

دبن کنفرانس د واك د لېږد تر یو انجام شوي عمل وروسته جوړ شو او دهمغو ډلو استازي ورته دعوت شول چې اوس یې په کابل کې عملي واك درلود. د روم بهیر او ځینو نورو ډلو استازي هم ورته راوبلل شول، دې ډلو که هرڅومره په ولس کې اخلاقي محبوبیت او منښت درلود خو څرنګه چې کوم پوځي ځواك ورسره نه و، نو په هېواد کې یې د واك د عملي انډول په برابرولو کې غوڅ رول نه شو لوبولای.

د امریکا د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې زیات ټینګار هم پر دې خبره و چې په طالب ضد جګړه کې خپلو ملګرو او د القاعدې مخالفینو ته زیات امتیاز ورکړي، د طالبانو مخالفینو هم له دې موقع نه ډېره زیاته ګټه پورته کړه او د امریکا او نورې نړۍ له هغه ذهنیت نه یې د ځان په ګټه زیات کار واخیست چې دا وخت یې ټول سره متحد کړي وو. خو نړۍ او د امریکا متحده ایالات ټول پر دې پوهېدل چې یوازې په جنګي ډلو او

جنګسالارانو هم خبره نه شل کېږي، نو يو څه بايد داسې خلك هم په پروسه کې شريك شي چې ملت ته مخ ولري.

بلاخره داسې يو پلاتفورم يې جوړ کړ چې پوره عادلانه نه و، خو ديو نظام د جوړښت لپاره يوه طرحه او يوه اډانه وه؛ تر هېڅ نه ډېره ښه خو تر ښو راټيټه وه، دلته به د بن د پرېکړې متن کټ مټ هغه شان راواخلو چې هلته يې څنګه پښتو متن و او څرنګه ژباړل شوی دی او بيا به پرې لنډه تبصره وکړو.

# د بن د توافقاتو متن

## بسم الله الرحمن الرحیم

## ددولت ددایمي موسساتو تر جوړښت پورې د افغانستان په اړوند د موقتي اقداماتو او احکامو موافقت لیك

د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونوتر څارنې لاندې د خبرو برخوال:

د افغانستان په اړوند دملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي په حضور کې،ژمنه کوي چې په افغانستان کې غمجن کړکېچ پای ته ورسوي، ملي پخلاینه، تلپاتې سوله، ثبات ټینګ او په هېواد کې د بشري حقونو درناوی وشي.

بیا ټینګار کوي چې د افغانستان خپلواکي، ملي واکمنتوب او د خاورې بشپړتیا خوندي وساتل شي، د افغانستان د خلکو د غه مسلم حق مني چې په ازاده توګه خپل سیاسي راتلونکی برخلیك د اسلام، دیموکراسۍ، پلورالیزم او ټولنیز عدالت د پرنسیپونو سره سم وټاکي.

ددې قدرداني کېږي چې د افغانستان مجاهدینو دکلونو په اوږدو کې دخپلواکۍ، ملي واکمنتوب، د خاورې د بشپړتیا او ملي یووالي څخه دفاع کړې ده او د تروریزم، ظلم او زورزیاتي پر وړاندې یې په زړه پورې رول لوبولای او ددوی قربانیو اوس

هغـوی د جهـاد، سـولې او د خپـل ګـران هېـواد افغانسـتان د بیاودانولو او ارامتیا اتلان ګرځولي دي.

پوهېږئ چې په هېواد کې بې ثباته حالت دې ته اړتیا لري چې موقـت اضـطراري تدبیرونـه ونیـول او عملـي شـي، دجلالتمـاب پروفیسور برهان الدین رباني ددغه چمتووالي قدرداني کوي چې قدرت هغې موقتې ادارې تـه سپاري چې ددغـې موافقتنـامې پـه نتیجه کې منځته راځي.

په دغه ضرورت ټینګار کوي چې په دغـو موقتـو تـدبیرونو کـې د افغانسـتان د ولـس د ټولـو پرګنـو او د هغـو ډلـو چـې دملګـرو ملتونـو پـه اوسنیو خبرو کـې یـې نماینـده ګـي نـه ده شـوې بشـپړ استازیتوب باوري شي. په پام کې ساتي چې دغه موقت تدبیرونـه دیـو داسـې پـراخ بنسـټه او نماینـده حکومـت پـر لـور چـې جنسـي توپیر په کې نه وي، په هغه کې د ټولو قومونو او د هغو ډلو بشـپړ استازیتوب شوی وي او د ټاکلې مودې څخه زیات دوام ونه کړي لومړی ګام بولي.

دامنـي چـې وخـت پـه کـار دی ترڅـو نـوی افغـان امنیتـي ځـواك جوړ او وکړای شي خپلې دندې په پوره توګه ترسره کړي، پـه دغـه موده کې بایـد هغـه امنیتـي تدبیرونـه چـې ددغـې موافقتنـامې پـه لومړۍ ضمیمه کې پـه ګوتـه شوي پلي شي، دا منـي چـې ملګـري ملتونه یوه پېژندل شوې نړیوالـه بـې طرفـه موسسـه ده او تـر هغـه چې پـه افغانسـتان کـې تلپـاتې موسسـات منځتـه راځـي خـاص او

مهم نقش ولوبوي، چې تفصیلات یې ددې موافقتنامې په دویمه ضمیمه کې په ګوته شوي دي.

## په لاندې ډول موافقې ته رسېدلي دي:

## موقته واکمني

اول ـ عمومي احکام:

۱. موقته واکمني دقدرت د رسمي انتقال سره سمه رامنځته کېږي، دقدرت د انتقال نېټه د ۲۰۰۱م میلادي کال د دسمبر ۲۲ مه نېټه ټاکل شوې ده.

۲. موقته واکمني به دیوې موقتې ادارې نه چې په سر کې یې یو رئیس دی، داضطراري لویې جرګې د رابللو لپاره دیوه ځانګړي خپلواك کمیسیون، د افغانستان د سترې محکمې او نورو هغو محکمو چې دموقتې ادارې له خوا منځته راځي جوړوي. د موقتې ادارې او ځانګړي خپلواك کمیسیون جوړښت، دندې، او اجرائیوي کاردودونه په دې موافقتنامه کې ځای پرځای شوي دي.

۳. موقته واکمني دقدرت درسمي انتقال سره سم د افغانستان دملي واکمنتوب تمثیل کوي، په دې اساس دموقتې مودې په اوږدو کې به موقته واکمني په بهرنیو اړیکو کې د افغانستان استازیتوب کوي، دملګرو ملتونو په موسسه او ددغې موسسې په خاصو نماینده ګیو کې د افغانستان څوکۍ اشغالوي، همدغه شان په نورو نړیوالو موسساتو او کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب کوي.

۴. دموقتي واکمنۍ د جوړښت نه د شپږو میاشتو په موده کې به اضطراري لویه جرگه رابلل کېږي، چې د افغانستان دپخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه له خوا به پرانیستل شي. دا اضطراري لویه جرگه به د انتقالي واکمنۍ او د پراخ بنسټه ادارې په هکله پرېکړه کوي، نوموړې اداره به تر هغه پورې د افغانستان مشرتوب کوي ترڅو یو بشپړ نماینده حکومت چې د ازادو او عادلانه انتخاباتو له مخې منځته راځي کوي، دغه انتخابات د اضطراري لویې جرگې دغونډېدو د نېټې څخه باید د دوو کالو په موده کې وشي.

۵. اضطراري لویه جرگه د انتقالي واکمنۍ دتاسیس سره سم موقته واکمني د منځه وړي.

۶. د انتقالي واکمنۍ د جوړښت نه د ۱۸ میاشتو په اوږدو کې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرگه رابلل کېږي، دغه اساسي قانون به د افغانستان د راتلونکي حکومت چې د ملگرو ملتونو ترڅارنې لاندې عمومي انتخاباتو په نتیجه کې منځته راځي زمینه برابره کړي، ددې لپاره چې دپیشنهادشوي اساسي قانون د تصویب لپاره د لویې جرگې سره مرسته شوې وي انتقالي اداره د خپل تاسیس نه باید د دوو میاشتو په اوږدو کې د ملگرو ملتونو په مرسته د اساسي قانون کمیسیون جوړ کړي.

## دویم ـ قانوني چوکاټ او قضایي نظام

۱. لاندې قانوني چوکاټ په موقتي توگه تر هغه چې پورته ذکر شوی نوی اساسي قانون نافذ شي تطبیقېږي:

الف_ د ۱۳۴۳المریز (۱۹۶۴ میلادي) کال اساسي قانون تر هغه ځایه چې احکام یې ددې موافقتنامې دمواد و سره په تضاد کې نه وي او د هغو برخو پرته چې د شاهي رژیم او د هغه وخت د اجرائیه او مقننه قواو سره ارتباط پیدا کوي نور احکام یې دتطبیق وړ دي.

ب_ موجوده قوانین او مقررات تر هغه ځایه چې ددغې موافقتنامې او نړیوالو قانوني واجباتو دکومو چې افغانستان یې یو طرف وي او یا د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون د تطبیق وړ احکامو سره په تضاد کې نه وي د تطبیق وړ دي. موقته واکمني دا قدرت لري چې دغه قوانین او لایحې فسخ او تعدیل کړي.

۲. د افغانستان قضایي قوه به مستقله وي، قضایي قوه د سترې محکمې او هغو نورو محکمو څخه چې د موقتې ادارې له خوا جوړېږي تشکیله شوې ده، موقته اداره د ملګرو ملتونو په مرسته یو قضایي کمیسیون جوړوي چې په افغانستان کې د اسلامي ارزښتونو، دنړیوالو حقوقي معیارونو او دداخلي حقوقي عنعناتو په نظر کې نیولو سره قضایي سیستم بیا فعال کړي.

## دریم_ موقته اداره:

### الف_ ترکیب

۱. موقته اداره دیوه رئیس، پنځه مرستیالانو او درویشت غړو څخه جوړه ده، درئیس نه پرته هر غړی کولای شي چې د موقتې ادارې دیوې څانګې مشر شي.

۲. د افغانستان په باره کې دملگرو ملتونو د خبرو برخوالو د افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه نه بلنه کړې چې د موقتې ادارې مشري پر غاړه واخلي. اعلیحضرت یادونه کړې چې غوره گڼي چې یو بل مناسب شخصیت چې د برخوالو له خوا د منلو وړ وي په دغه دنده وگومارل شي.

۳. د موقتې ادارې رئیس، مرستیالان او نور غړي به یې د هغو نومونو د لېستونو څخه چې دملگرو ملتونو په مذاکراتو کې د برخوالو له خوا ورکړل شوي دي، د حیثیت، لیاقت، کفایت او هم د افغانستان دقامي، جغرافیایي او مذهبي تناسب او د ښځو د مقام د اهمیت په پام کې نیولو سره دملگرو ملتونو دخبرو دبرخوالو له خوا ټاکل کېږي. دبرخوالو له خوا چې ددې موافقت لیك په څلورمه ضمیمه کې د لېست په بڼه راغلي دي ټاکل شوې دي.

۴. د موقتې ادارې هېڅ غړی نه شي کولای چې په عین وخت کې د اضطراري لویې جرگې دجوړېدو لپاره دځانگړي خپلواك کمیسیون غړی هم شي.

ب ـ کاردود (طرزالعمل)

۱. دموقتې ادارې رئیس او د هغه یا د هغې په غیاب کې دمرستیالانو څخه یې یو د موقتې ادارې د غونډو مشرتوب په غاړه اخلي او د خبرو او موادو اجندا جلسو ته وړاندې کوي.

۲. موقته اداره هڅه کوي چې خپلې پرېکړې د جمعي اتفاق په توگه وکړي، که چېرې دپرېکړې لپاره یې رایې اخیستنې ته

اړه شي، نو ضرور ده چې د حاضرو غړو درایو په اکثریت پرېکړه وشي، مګر دا چې په دې موافقتنامه کې په بله توګه په ګوته شوي وي، په دې شرط چې د پرېکړو لپاره رایې اخیستلو په صورت کې په غونډه کې یوویشت غړي حاضر وي. په داسې حال کې چې د رایو شمېر مساوي شي، د رئیس رایه پرېکنده رول لري.

ج_ دندې

۱. موقته اداره د دولت ورځیني چارې پرمخ بیایي، د سولې، امنیت او نظم د ټینګښت او د بهترې ادارې دتامینولو لپاره حق لري چې فرمانونه صادر کړي.

۲. دموقتې ادارې مشر یا مشره او یا د هغو په غیاب کې یو له مرستیالانو څخه باید د موقتې ادارې وړ او ښه تمثیل او استازیتوب وکړي.

۳. د موقتې ادارې هغه غړي چې د مختلفو ځانګو دنده یې په غاړه وي، مسئولیت لري چې د موقتې ادارې پالیسي د خپل کار په ساحه کې پلې کړي.

۴. دقدرت د انتقال سره سم موقته اداره پوره قانوني صلاحیت لري چې دپیسو په چاپ او چلند اقدام وکړي او په ځانګړي توګه حق لري چې د نړیوالو مالي سازمانونو څخه پیسې ترلاسه کړي، موقته اداره به دملګرو ملتونو په مرسته د افغانستان مرکزي بانک بیا فعالوي. دا بانک به د بامسئولیته،

محاسبوي او څرګند کاردود له مخې د پیسو په تهیه کولو کې دقانون له مخې اقدام کوي.

**۵**. موقته اداره به دملګرو ملتونو په مرسته د ملکي مامورینو خپلواك کمیسیون جوړوي، نوموړی کمیسیون موقتې واکمنۍ او راتلونکې انتقالي واکمنۍ ته د هغو باکفایته او بااهلیته کاندیدانو لنډ لېستونه چې د اداري د څانګو په مهمو دندو او همدغه شان د والیانو او ولسوالانو په دندو ګومارل کېږي ور سپاري.

۶. موقته اداره به دملګرو ملتونو په مرسته د بشري حقوقو یو خپلواك کمیسیون جوړ کړي، ددغه کمیسیون په دندو کې د بشري حقوقو د رعایت څارنه، د بشري حقونو د نه مراعات په صورت کې تحقیق او د بشري حقوقو د کورنیو موسساتو ته وده ورکول شامل دي. همدغه شان موقته اداره د ملګرو ملتونو په مرسته دهغو ستونزو په هکله چې په دې موافقتنامه کې نه دي ځای په ځای شوي، نور کمیسیونونه هم جوړولی شي.

۷. دموقتې اداري غړي به په خپلو کړو وړو کې دیو لړ سلوکي ضوابطو رعایت وکړي چې د نړیوالو معیارونو سره برابر وي.

۸. که چېرې دموقتې اداري کوم غړی په خپلو کړو وړو کې دپورته ذکر شویو نړیوالو معیارونو اطاعت ونه کړي باید د خپلې دندې نه ګوښه کړی شي، دیوه غړي ګوښه کول او یا د اداري

څخه د هغه ایستل باید د رئیس او یا د هغه د کوم مرستیال په وړاندیز او د رایو د دوه ثلثو په اکثریت عملي شي.

۹. دلزوم په صورت کې دموقتې اداري د غړو دندې او صلاحیتونه دملګروملتونو په مرسته تکمیل او تصریح کېږي.

## څلورم ـ د اضطراري لویې جرګې د رابللو لپاره ځانګړی خپلواك کمیسیون

۱. د اضطراري لویې جرګې درابللو لپاره یو ځانګړی خپلواك کمیسیون دموقتې واکمنۍ دجوړولو څخه دیوې میاشتې په دننه جوړېږي، په دې ځانګړی خپلواك کمیسیون کې ۲۱ تنه غړیتوب لري. ددې کمیسیون یو شمېر غړي باید په اساسي قانون یا عنعنوي قوانینو کې تخصص ولري. ددې کمیسیون غړی به د هغه کاندیدانو د لېستونو څخه چې د افغانستان په اړوند دملګروملتونو په خبرو کې د برخوالو له خوا وړاندې شوي او همدغه شان د افغان متخصصینو دمدني ټولنو، دډلو له خوا مخکې ترتیب شوي غوره کېږي، ملګري ملتونه به ددې کمیسیون په جوړولو، فعالولو او د کمیسیون د مناسبې دارالانشاء په جوړولو کې مرسته وکړي.

۲. دغه ځانګړی خپلواك کمیسیون به د اضطراري لویې جرګې دکاردود او داضطراري لویې جرګې دغړو دشمېر په ټاکلو کې وروستنۍ تصمیم نیونکې مرجع وي. دغه ځانګړی خپلواك کمیسیون به د مقرراتو او کاردود مسوده جوړوي چې لاندې ټکي به په کې په ګوته شوي وي:

الف_ په لویه جرګه کې په هېواد کې دننه د اوسېدونکو مسکون او کوچیانو دبرخې د ټاکلو لپاره د معیارونو په ګوته کول.

ب_ په پاکستان، ایران او نړۍ په نورو هېوادونو کې د افغاني کډوالو لپاره د برخې د ټاکلو د معیارونو په ګوته کول.

ج_ په هېواد کې دننه او د هېواد نه د باندې د اسلامي عالمانو په ګډون د مدني ټولنو، سازمانونو، بانفوذه شخصیتونو، روښانفکرانو او سوداګرو د برخې د ټاکلو لپاره د معیارونو په ګوته کول، دغه ځانګړی خپلواك کمیسیون به په اضطراري لویه جرګه کې دښځو او د افغان ولس د نورو پرګنو د استازو مناسب شمېر باوري کوي.

۳. ځانګړی خپلواك کمیسیون باید د اضطراري لویې جرګې د رابللو نه لږ تر لږه لس اونۍ مخکې داضطراري لویې جرګې کاردود، مقررات، دجرګې دپرانیستلو نېټه، په نظر کې نیول شوی ځای او موده چاپ او خپاره کړي.

۴. د اضطراري لویې جرګې لپاره به ځانګړی خپلواك کمیسیون دکاندیدولو دپروسې او د هغې د څارنې او تطبیق کاردود وضع کوي. دغه کمیسیون باید د اضطراري لویې جرګې لپاره دغیرمستقیمو انتخاباتو یا غوره کولو پروسه په څرګنده او منصفانه توګه یقیني کوي. دغه ځانګړی خپلواك کمیسیون به داسې میکانیزم او مقررات رامنځته کوي چې د هغه له مخې شکایتونه ثبت او د شخړو په صورت حکمیت وشي.

۵. اضطراري لویه جرګه به دانتقالي اداري لپاره ددولت مشر انتخابوي او هغه وړاندیزونه چې د انتقالي اداري د جوړښت او د لوړرتبه مامورینو په هکله شوی وي تصویبوي.

## پنځم- نهایي احکام

۱. دقدرت درسمي انتقال سره سم به په هېواد کې ټول مجاهدین، افغان وسلوال ځواکونه او وسلوالې ډلې دموقتې واکمنۍ دکنټرول او قوماندې لاندې راځي او د افغانستان د نویو امنیتي او پوځي غوښتنو سره سم به د هېواد په وسلوالو امنیتي ځواکونو کې تنظیم شي.

۲. موقته واکمني او اضطراري لویه جرګه باید د نړیوالو هغو اساسي پرنسیپونو او احکامو مطابق عمل وکړي چې د بشر دحقوقو او انساني قوانینو کې خوندي شوي او افغانستان هغه منلي دي.

۳. موقته واکمني باید د تروریزم، مخدره موادو او تنظیم شویو جنایتونو په ضد په مبارزه کې دنړیوالې ټولنې سره همکاري وکړي، دغه واکمني باید نړیوالو قوانینو ته په درنه سترګه وګوري او د خپلو ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره سوله ییز او دوستانه اړیکې ټینګې وساتي.

۴. موقته واکمني او دلویې جرګې درابللو ځانګړی خپلواک کمیسیون باید دا باوري کړي چې په اضطراري لویه جرګه او موقته اداره کې ښځې، ټول قامي او دیني ټولنې عادلانه استازیتوب ولري.

۵. موقته واکمني به هغو اشخاصو ته چې د نړیوالو بشري قوانینو نه یې سرغړونه کړې وي او یا یې د انسانیت په ضد جنایت کړی وي د عدلي تعقیب څخه نه شي معاف کولی.
۶. د موقتې واکمني ټول اقدامات به دملګرو ملتونو د امنیت د شورا ۱۳۷۸نمبر پرېکړه لیك (۱۴د نوامبر ۲۰۰۱میلادي کال) د افغانستان په هکله د امنیت دشورا نورو اړوندو پرېکړو سره مطابقت ولري.
۷. د موقتې واکمنۍ لاندې د ټولو ارګانونو لپاره مقررات او کاردود به په غوره توګه دملګروملتونو په مرسته رامنځته کېږي.

ضمیمې ددې موافقتنامې داخلي برخې جوړوي، چې انګلیسي متن یې د ۲۰۰۱میلادي کال ددسمبر دمیاشتې په پنځمه نېټه په یوه نسخه کې ترتیب شوی اصلي متن دی او باید دملګروملتونو په ارشیف کې خوندي وساتل شي، رسمي متنونه به په پښتو، دري او نورو هغو ژبو کې چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي له خوا به مشخصې شي، هم ترتیب شي. د ملګرو ملتونود سرمنشي خاص استازی به تصدیق شوې نسخې په انګلیسي، پښتو او دري هریو ګډون کوونکي ته استوي.

د افغانستان په اړوند دملګرو ملتونو ترڅارنې لاندې دخبرو برخوالو لپاره:

مېرمن امنه افضلي

ښاغلی سیدحسین انوري

ښاغلي هدایت امین ارسلا
ښاغلی سیدحامد گیلاني
ښاغلی رحمت الله موسی غازي
انجنیرعبدالحکیم
ښاغلی همایون جریر
ښاغلی عباس کریمي
ښاغلی مصطفی کاظمي
ډاکټرعزیزالله لودین
ښاغلی احمدولي مسعود
ښاغلی حفیظ اصف محسني
پروفیسرمحمداسحق نادري
ښاغلی محمدناطقي
ښاغلی عارف نورزی
ښاغلی یونس قانوني
ډاکټر زلمی رسول
ښاغلی میرویس صادق
ډاکټر محمدجلیل شمس
پروفیسورعبدالستارسیرت
ښاغلی همایون تندر
مېرمن سیما ولي
جنرال عبدالرحیم وردك
ښاغلی عزیزالله واصفي

ښاغلی پاچاخان ځدراڼ

## دملګروملتونو لپاره د شاهد په توګه.

الاخضرابراهیمي

د افغانستان لپاره دملګرو ملتونو دسرمنشي ځانګړی استازی.

## لومړۍ ضمیمه

## نړیوال امنیتي ځواك

۱ـ د افغانستان په اړوند دملګروملتونو په خبرو کې برخوال دا مني چې په ټول هېواد کې د امنیت ټینګښت، نظم او دقانون پلي کول په خپله د افغانانو مسئولیت دی، دغه هدف ته د رسېدو لپاره دا ژمنه کوي چې افغانان به دخپلو ټولو وسایلو، توان او نفوذ سره سم امنیت د ټولو لپاره په شمول دملګروملتونو او نورو نړیوالو حکومتي او غیرحکومتي موسساتو او مامورینو چې په افغانستان کې ځای په ځای کېږي یقیني کړي.

۲ـ ددې هدف په نظر کې نیولو سره دخبرو برخوال غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه به د افغانستان دنوې واکمنۍ سره د افغانستان دنویو وسلوالو او امنیتي ځواکونو په روزنه او جوړېدو کې مرسته کوي.

۳ـ ددې مطلب په پوهېدو سره چې د افغانستان نویو وسلوال او امنیتي ځواکونو د بشپړ جوړېدو او په کار لویدو لپاره یو څه وخت ته ضرورت لري، نو له دې کبله د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخوال د امنیت د شورا نه غوښتنه کوي چې خپل موظف

پوځونه هرڅومره ژر چې کولی شي په افغانستان کې ځای پر ځای کولو ته توجه وکړي. دا ځواك به د کابل او د هغه د چاپېريال د امنیت دساتلو په لاره کې همکاري وکړي. دغه ځواك کولی شي چې د لزوم په صورت کې دهېواد په نورو ښاري مرکزونو او ساحو کې پراختیا ومومي.

۴ـ دملګرو ملتونو په خبرو کې برخوال ژمنه کوي چې له کابل او نورو ښاري مرکزونو او ساحو څخه په کومو کې چې د ملګرو ملتونو موظف ځواك ځای په ځای کېږي، ټول پوځي واحدونه وباسي. دا به هم ښه وي چې دغه ځواکونه د افغانستان د زیربنا (انفراسترکچر) دبیارغونې په لار کې همکاري وکړي.

## دویمه ضمیمه

## په موقته دوره کې دملګرو ملتونو د سازمان نقش

۱ـ دملګرو ملتونو دسرمنشي ځانګړی استازی به په افغانستان کې ملګروملتونو دهر اړخیز کار په ټولو برخو کې مسئولیت لري.

۲ـ دملګروملتونو دسرمنشي ځانګړی استازی باید ددې موافقتنامې ټول مندرجات وڅاري او د تطبیق په لار کې یې مرسته وکړي.

۳ـ ملګري ملتونه به موقتې واکمنۍ ته دیوه سیاسي بې طرفه چاپېریال په رامنځته کېدو کې لارښوونه وکړي ترڅو اضطراري لویه جرګه په ازادو او منصفانه شرایطو کې راغونډه شي، ملګري ملتونه به د هغو موسساتو او اداري څانګو چال

چلند ته چې اضطراري لويې جرگې دايروي او د هغې نتيجې په مستقيمه توگه دنفوذ لاندې راوړي خاصه توجه وکړي.

۴ـ دملگرو ملتونو دسرمنشي ځانگړی استازی او يا د هغه او هغې له خوا ټاکل شوي هيئت ته به بلنه ورکړی شي چې د موقتې ادارې او د اضطراري لويې جرگې درابللو دځانگړي او خپلواك كميسيون په غونډو کې برخه واخلي.

۵ـ که د هر دليل په وجه موقته اداره يا ځانگړی خپلواك کميسيون دخپلو غونډو څخه منع شي او يا ددې جوگه نه وي چې د اضطراري لويې جرگې د راغونډېدو دموضوعاتو په هکله پرېکړه وکړي، په دې هکله به دملگروملتونو دسرمنشي ځانگړی استازی، د موقتې ادارې يا دځانگړي خپلواك کميسيون له خوا د نظرياتو په نظرکې نيولو سره د خپل خير اوښيگڼې ماموريت څخه کار اخلي ترڅو په دې باره کې دحل لپاره اسانتياوې برابرې او يا پرېکړه وکړي.

۶ـ ملگري ملتونه بايد حق ولري چې د بشري حقوقو د پښنو لاندې کېدو په صورت کې تحقيق، او که ضرورت شي، نو د اصلاحي عمل سپارښتنه وکړي. همدارنگه ملگري ملتونه د بشري حقوقو د پراختيا ، دښووني او روزنې د پروگرام دتطبيق او د بشر حقوقو ته د درناوي او پاملرنې په لار کې مسئوليت لري.

## دریمه ضمیمه

# دملګروملتونو د سازمان نه د افغانستان په اړوند د ملګروملتونو دخبرو دبرخوالو غوښتنه

دملګروملتونو په خبرو کې برخوال په دې وسیله:

۱ـ دملګروملتونو او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان ملي واکمنتوب، دخاورې تمامیت او ملي یووالي د ضمانت لپاره ضروري اقدامات وکړي. همدارنګه د افغانستان په کورنیو چارو کې دبهرنیو هېوادونو د لاسوهنې دبندولو په هکله لازم اقدامات وکړي.

۲ـ دملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول دمرسته ورکوونکو هېوادونو او څو اړخیزو موسساتو څخه غوښتنه کوي چې د خپلو وعدو دپوره کولو لپاره د موقتې واکمنۍ سره په ګډه د افغانستان د بیارغونې، په پښو درېدو او بیا ودانولو په لار کې خپل واجبات او همکاري یو ځل بیا تائید ،غښتلی او تطبیق کړي.

۳ـ دملګروملتونو دسازمان څخه غوښتنه کوي چې هرڅه ژر د رایې ورکوونکو نومونو د ثبتولو کار دعمومي انتخاباتو چې د اساسي قانون د تصویب څخه وروسته دایرېږي مخکې له مخکې سرته ورسوي او همدارنګه په افغانستان کې نفوس شمېرنه هم بشپړه کړي.

۴ـ دملګروملتونو د سازمان او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان دخپلواکۍ او خلکو د عزت په خوندي ساتلو کې د مجاهدینو د قهرمانانه نقش په پېژندلو سره لازم اقدامات او د موقتې واکمنۍ سره مرسته وکړي ترڅو د افغانستان په وسلوال او امنیتي ځواکونو کې مجاهدین بیا مدغم شي.

۵ـ ملګروملتونو او نړیوالې ټولنې ته بلنه ورکوي چې د شهیدانو کورنیو او نورو وارثینو، د جنګ ځپلو او د جنګ معیوبینو سره د مرستې صندوق جوړ کړي.

۶ـ دملګروملتونو او نړیوالې ټولنې او د سیمه ییزو مرستندویه موسساتو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې دموقتې واکمنۍ سره د نړیوال تروریزم، دمخدره موادو د کرنې او لېږدولو په ضد د مبارزې په لار کې دموقتې واکمنۍ سره همکاري وشي او افغاني کروندګرو لپاره د مالي، مادي او تخنیکي مرستو په برابرولو سره زمینه مساعده کړي، چې د افغانستان کروندګر نور خوراکي پیداوار تولید کړي.

## څلورمه ضمیمه

## دموقتې اداري ترکیب

رئیس....... ښاغلی حامدکرزی

غړیتوب ( او هغه پنځه تنه مرستیالان به وي)

ددفاعي چارو څانګه

دمالي چارو څانګه

دبهرنیو چارو څانګه
دکورنیو چارو څانګه
دپلان کولو چارو څانګه
دسوداګرۍ چارو څانګه
دکانونو او صنعت د چارو څانګه
د وړو صنایعو څانګه
د اطلاعاتو او کلتور دچارو څانګه
د مخابراتو دچارو څانګه
د کار او ټولنیزو چارو څانګه
د حج او اوقافو څانګه
دشهیدانو او معیوبینو چارو څانګه
دښوونې او روزنې د چارو څانګه
دلوړوتحصیلاتو د چارو څانګه
دعامه روغتیایي چارو څانګه
دعامه ګټو د چارو څانګه
دکلیوالي پراختیا دچارو څانګه
د ښاري پراختیا د چارو څانګه
دبیاودانولو د چارو څانګه
د ترانسپورتي چارو څانګه
د اوبو او برېښنا د چارو څانګه
دمهاجرو د بېرته راګرځېدو څانګه
د کرنې د چارو څانګه

د اوبو لګولو د چارو څانګه
دعدلیي چارو څانګه
دهوایي ترانسپورت او توریزم د چارو څانګه
د سرحدي چارو څانګه
د ښځو چارو څانګه.
دا وو د بن توافقات

ددې توافقاتو پر ډېرو برخو تبصره او نیوکه کېدی شي، خو دلته د ځینو یادونه کوو، دا هغه برخې دي چې یا د عملي کېدو وړ نه دي او یا عملي نه شوې:

## د موقتې ادارې دندې (۵) ماده

موقته اداره به دملګروملتونو په مرسته د ملکي مامورینو خپلواك کمیسیون جوړوي، نوموړی کمیسیون موقتې واکمنۍ او راتلونکې انتقالي واکمنۍ ته دهغو باکفایته او با اهلیته کاندیدانو لنډ لېستونه چې د ادارې دڅانګو په مهمو دندو او همدغه شان د والیانو او ولسوالانو په دندو ګومارل کېږي، ور سپاري.

د بېړنۍ لویې جرګې تر جوړېدو وروسته ددې کمیسیون د جوړېدو اوازې شوې او څه موده یې تبلیغاتي کمپاین هم وکړ، خو دې کمیسیون خپلواکه بڼه خپله نه کړه، د دولت لوړ رتبه کارکوونکي یې په راس کې وو او دومره عملي کار یې ونه کړ چې خلك ترې راضي شي.

## ۶_ ماده "موقته اداره به دملګروملتونو په مرسته د بشري حقوقو یو خپلواك کمیسیون جوړ کړي..."

دا کمیسیون جوړ شو، خو ناپېیلتوب یې تر پوښتنې لاندې دی، له قومي او ژبني پلوه هغه ځوك پردې کمیسیون واکمن شول او ددې کمیسیون رهبري یې په لاس کې ده چې په خپله اداره کې یې د افغانستان کې دمېشتو قومونو توازن اوتناسب مراعات نه کړای شو، خلکو ته دا پوښتنه راولاړېږي چې د بشر حقوقو په خپلواك کمیسیون کې دهېواد بېلابېلو سیمو، قومونو او ژبو حقوق نه مراعاتېږي نو په نورو ځایونو کې به څنګه مراعات شي؟ هغه مرجع کومه ده چې د بشر دحقوقو خپلواك کمیسیون تر ټولو دمخه خپلو اصلاحاتو ته مجبور کړي؟ د پورتنۍ خبرې د سپیناوي لپاره کېدی شي د بشر دحقوقو دخپلواك کمیسیون تشکیلاتي جوړښت او د هغو نشراتي کلکسیون ته مراجعه وشي.

## د اضطراري لويې جرګې خپلواك کمیسیون:

۱_ " د اضطراري لويې جرګې درابللو لپاره یو ځانګړی خپلواك کمیسیون د موقتې واکمنۍ دجوړېدو څخه دیوې میاشتې په دننه کې جوړېږي. په دې ځانګړي خپلواك کمیسیون کې به (۲۱) غړیتوب ولري. ددې کمیسیون یو شمېر غړي باید په اساسي قانون یا عنعنوي قوانینو کې تخصص ولري. ددې کمیسیون غړي به د هغه کاندیدانو دلېستونو څخه چې د افغانستان په اړوند دملګروملتونو په خبرو کې د برخوالو له خوا

وړاندې شوي او همدغه شان د افغان متخصصینو، د مدني ټولنو د ډلو له خوا مخکې ترتیب شوي غوره کېږي.

ملګري ملتونه به ددې کمیسیون په جوړولو، فعالولو او د کمیسیون د مناسبې دارالانشاء په جوړولو کې مرسته وکړي."

دلویې جرګې خپلواك کمیسیون جوړ شو، خو دا چې دا کمیسیون پوره خپلواك و او ناپېیلي اشخاص په کې وو له دې خبرې سره توافق نه شي کېدلای. په کمیسیون کې زیاتره ونډه هغو اشخاصو ته ورکړل شوې وه، چې د شمال ټلوالې یا متحدې جبهې مختلفو تنظیمونو سره یې اړیکي، لېوالتیا، خواخوږي او مناسبات درلودل. دا داسې یو مهال و چې د امریکا متحده ایالاتو او ان نورو نړیوالې ټولنې دطالبانو د سقوط په بدل کې شمال ائتلاف ته زیات امتیازونه ورکول. بله داسې یوه سرچینه نه وه چې په رښتیا هم ددې کمیسیون د خپلواکۍ تضمین وکړي.

**۵** ماده: " اضطراري لویه جرګه د انتقالي ادارې لپاره ددولت مشر انتخابوي او هغه وړاندیزونه چې د انتقالي ادارې د جوړښت او د لوړ رتبه مامورینو په هکله شوي وي تصویبوي."

دبن په توافقاتو کې یو ډېر مهم ناوړه پوهاوی چې د عامه ذهنیت او ددې توافقاتو اصلي متن ترمنځ موجود و، هغه همدا ماده وه، عام ولس سره داسې ذهنیت و چې د لنډ مهالې ادارې په جوړښت کې چې کوم وزیران کار کوي، دا د بلې دورې لپاره ځان نه شي کاندیدولای، اضطراري لویه جرګه به دکابینې، خصوصاً څلور اساسي وزیران (مالیې، دفاع، کورنیو او بهرنیو

چارو وزارتونو وزیران ټاکي)، دلته دلویې جرګې یو مسئولیت دا ښودل شوی چې د انتقالي ادارې مشر به ټاکي، بل هغه وړاندیزونه چې د انتقالي ادارې د جوړښت او دلوړرتبه مامورینو په هکله شوي وي تصویبوي. دلته دا نه ښکاري چې دا وړاندیزونه به د چا له خوا لویې جرګې ته وړاندې کېږي.

د انتقالي ادارې د مشر له خوا، که په خپله دلویې جرګې دغړو له خوا؟ خو کله چې لویه جرګه عملاً جوړه شوه، د انتقالي ادارې له مشر پرته چې دلویې جرګې له خوا انتخاب شو د نورې ادارې د جوړښت په هکله نه چا جرګې سره مشوره وکړه او نه یې هم وزیران جرګې ته دمنلو یا نه منلو لپاره وړاندې کړل او نه هم نور وړاندیزونه وشول. د وزیرانو نومونه جرګې ته یوازې د تعارف لپاره وړاندې شول.

زیات خلك فکر کوي چې د بن د توافقاتو یو غټ عیب په همدغه ماده کې و، ځکه چې په بن کې کومه کابینه رامنځته شوې وه، دا د عاجلو پېښو او غوښتنو د ضرورت پر بنسټ رامنځته شوې وه، د مطرح تنظیمونو غوښتنې په کې مطرح شوې وې نه د ملت د اکثریت هیلې. باید دلته دا خبره قید شوې وای هغه وزیران چې په دې کابینه کې ګډون کوي، په انتقالي اداره کې د ګډون حق نه لري، او هغه وزیران چې په انتقالي اداره کې ګډون کوې باید په انتخابي مرحله کې ګډون ونه لري. که چېرې دلنډمهالي ادارې کوم وزیر غواړي په انتقالي اداره کې ګډون ولري نو باید له لنډمهالي ادارې تېر شي او که د منځمهالې

اداري کوم وزير غواړي تر انتخاباتو وروسته حکومت کې ګډون ولري نو بايد په انتقالي اداره کې برخه ونه لري.

ددې مادې ابهام او يا شعوري ناڅرګندتيا ددې سبب شوه، هغه وزيران چې د تنظيمي ملحوظاتو له امله په لنډمهاله اداره کې انتصاب شوي وو، خپلې پښې نورې هم پسې مضبوطې کړي، په انتقالي اداره کې هم ځان ځای کړي او تر هغې وروسته حکومت کې هم د خپل ځان د ګډون لپاره هلې ځلې وکړي. که چېرې دا ماده څرګنده وای نو تنظيمي وزيرانو له لنډمهالې اداري څخه منځمهالي ته لاره نه شوه پيدا کولای او منتخب حکومت ته خو خبره بېخي ناممکنه وه.

پنځم نهايي احکام:

۱ـ " دقدرت له رسمي انتقال سره سم به په هېواد کې ټول مجاهدين، افغان وسلوال ځواکونه او وسلوالې ډلې دموقتې واکمنۍ دکنټرول او قوماندې لاندې راځي، او د افغانستان دنويو امنيتي او پوځي غوښتنو سره سم به د هېواد په وسلوالو او امنيتي ځواکونو کې تنظيم شي.

دې ماده کې متضادې برخې پرتې دي، ددې ټولو قوتونو چې پورته يې يادونه شوې يو ځای کول، تر يوې قوماندې لاندې راوستل ناممکن کار دی، که له دې جملې څخه يوازې د "مجاهدينو" مختلفې ډلې په پام کې ونيسو، ددې يو ځای کول هم عملاً ممکن نه دي، خپله د مجاهدينو بېلابېلې ډلې يوه بله نه شي زغملای، مثلاً که په عام ډول مجاهدين مطرح وي نو بيا

خو عام ولس ته د ښاغلي حکمتیار د اسلامي حزب او د ښاغلي رباني د اسلامي جمعیت دواړه تنظیمونه یو مفهوم لري، نو ایا عملاً ممکنه ده چې دا دواړه ډلې دې په یوه واحد پوځ کې سره ګډې شي او یو بل دې وزغمي.

اساسي کار دا و چې په افغانستان کې باید داسې یو پلاتفورم پیشنهاد شوی وای چې د هغې تر مخه ټولې وسلوالې ډلې، څه تنظیمي او څه ناتنظیمي، څه پخوانۍ او څه اوسنۍ ټولې بې وسلې شوې وای. پوځ د مسلك پر بنسټ د ناپېیلتوب د اصل له مخې جوړ شوی وای اود عسکرۍ مکلفیت دوره پر ټولو هیوادوالو تطبیق شوې وای، که مجاهدینو ته حتمي د امتیاز خبره مطرح وای، د نورو مادي او معنوي امتیازونو له لارې دې دا خلا جبران شوې وای.

له کابل ښاره د ټولو وسلوالو ځواکونو د ایستلو یادونه شوې، خو دا کار عملي نه شو، بلکې د طالبانو تر سقوط وروسته هغه تنظیمي ملېشې چې کابل ته داخل شوې وې لا پسې مضبوطې شوې او ان قانوني بڼه یې خپله کړه.

په درېیمه ضمیمه (۴) ماده کې بیا هم دې ټکي ته اشاره شوې چې ملګري ملتونه باید د افغانستان په وسلوالو او امنیتي ځواکونو کې مجاهدین بیا مدغم کړي. د "مجاهدینو" له کلمې څخه دځینو تنظیمونو هدف یوازې خپل ځان دی، نه ټول مجاهدین، که په وسلوال پوځ کې د ټولو مجاهدینو د ادغام خبره عملي وای، نو تر طالبانو دمخه باید دا کار شوی وای، بل دې

کې به معیار څه شی وي کوم تنظیم د څومره ونډې او کوم معیار له مخې؟ ایا دا مختلف تنظیمونه به د خپل جوړښت دڅومره والي او څرنګوالي او د جهاد په ګرمو کلونو کې د خپل زور او قوت په تناسب په اردو کې په خپله ونډه قانع شي؟ خپلمنځي مفاهمه او زغم به رامنځته کړي؟ هېڅ ممکنه نه ده، یو بل ستر علت دادی چې د جهاد په کلونو کې ډېر مطرح جهادي تنظیمونه چې د جهاد ډېر زیات مورچلونه یې لرل اوس عملاً په مخالف لوري کې دي ایا د هغوی د جذب تضمین شته؟ دا ټولې هغه خبرې دي چې پوښتنې ترې جوړېدی شي.

دلنډمهالې اداري ترکیب بله هغه غټه نیمګړتیا ده چې له ورایه ښکاري، په دې ترکیب کې نه د افغانستان قومي جوړښت په پام کې نیول شوی، نه سیاسي، نه ژبنی او نه هم سیمه ییز. زیات امتیاز، یو اقلیت ته، یوه سیاسي ګروپ ته، او دیوې سیمې خلکو ته ورکړل شوی، کېدی شي لست ته یو ځل بیا مراجعه وشي.

دا او دې ته ورته یو شمېر نورې نیمګړتیاوې دبن په پرېکړه لیك کې موجودې دي، خو تر ټولو سخته نیمګړتیا داده چې په دې پرېکړه لیك کې ددې توافقاتو د تضمین مرجع مشخصه نه ده. د مثال په توګه که کابل نه ټول وسلوال ګروپونه ددې توافقاتو له مخې ونه وځي، نو مسئولیت یې د چا پر غاړه دی؟ څوك به ددې مادې تطبیق تضمینوي؟ دلته د ملګرو ملتونو رول ته اشاره شوې، خو د منځګړي او مرستندویه ارګان په توګه چې له

لنډمهالي او منځمهالي اداري سره مرسته کوي، خو له دې توافقاتو د سرغړاوي په حالت کې ورته غوڅ اجرائیوي رول نه دی په گوته شوی.

خو له دې ټولو نیمگړتیاو سره سره د بن توافقات په افغانستان کې دیوه سیاسي نظام د جوړښت او دیوه دیموکرات نظام د جوړېدو لپاره یوه داسې موثره اډانه ده، چې تر دې دمخه داسې یوه طرحه چې دومره نړیوال ملاتړ دې ولري او د هغې اکثره او په تېره بیا ځینې مهمې برخې عملي بڼه خپله کړي، په تېرو (۲۲) کلونو کې نه وه رامنځته شوې، له ځینو نیمگړتیاو سره سره که د بن ټولې پرېکړې تطبیق شوې وای، نو افغانستان به تر دې هم زیاتې لاسته راوړنې درلودې، په مجموعي ډول د بن پرېکړه لیك په افغانستان کې دسیاسي نظام د جوړښت لپاره یوه نثبتاًمثبته اډانه گڼل کېدی شي.

# د بېړنۍ لويې جرگې خپلواک کميسيون ته يوه کتنه

لکه څنگه چې د بن پرېکړې دعاجلو اړتياوو له مخې ترسره شوې وې نو طبعاً دنيمگړتياوو درلودل په کې له احتماله لرې خبره نه وه، د لويې جرگې دجوړېدو خپلواک کميسيون چې د بن دپرېکړو له مخې رامنځته شوی طبعي خبره ده چې نيمگړتياوې يې درلودلې. د بن په



پرېکړه ليک کې راغلي چې "دلويې جرگې دجوړېدو د خپلواک کميسيون ۲۱ غړي به دهغو کانديدانو له لېستونو څخه چې د افغانستان او همدغه شان د افغان متخصصينو، د مدني ټولنو د ډلو له خوا مخکې ترتيب شوې وي، غوره کېږي. ملگري ملتونه به ددې

کمیسیون په جوړولو، فعالولو او د کمیسیون د مناسبې دارالانشا په جوړولو کې مرسته وکړي."

دبن په کنفرانس کې یوه نیمګړتیا همدا وه چې ځینو تنظیمونوته په کې خاصه پاملرنه شوې وه او زیاته ونډه ورکړل شوې وه، دکمیسیون دغړو د لست دیوې برخې د ترتیب امتیاز بیاهم د بن د غونډې برخوالو ته سپارل شوی و، طبیعي خبره ده کوم لیست چې ددې کسانو له خوا ترتیببېده، طبعاً هغوی دخپلې خوښې کسان په لست کې شاملول او بیا چې له دې لستونو څخه غورچاڼ کېږي مجموعي چاڼ یې دهمغو ډلو په ګټه تمامېږي، چې لېستونه یې ترتیب کړي دي.

له همدې امله خو دبېړنۍ لویې جرګې په خپلواک کمیسیون کې چې څوك دغړو په توګه راغلل هغوی اکثره په مختلفو تنظیمونو په تېره بیا دداسې تنظیمونو په یوه ائتلاف پورې تړلي وو، چې کله کله یې په خپل منځ کې د نورو پر وړاندې ائتلاف کړی او کله کله په خپل منځ کې هم سره جنګېدلي دي.

ښه به وي چې ددې کمیسیون دغړو لېست ته مراجعه وکړو:

| | |
|---|---|
| ۱ـ محمداسمعیل قاسمیار | رئیس |
| ۲ـ پوهاند عبدالعزیز | مرستیال |
| ۳ـپوهنواله محبوبه حقوقمل | مرستیاله |
| ۴ـاستاد موسی توانا | غړی |
| ۵ـسرمحقق سیدامین مجاهد | // |
| ۶ـ اسدالله ولوالجي | // |
| ۷ـ نجیب الله صادق مدبر | // |
| ۸ـ پوهاند محمدکاظم اهنګ | // |

| | |
|---|---|
| ۹_ پوهاند محمدطاهربورگی | // |
| ۱۰_ عبدالسلام رحیمي | // |
| ۱۱ _صبغت الله سنجر | غړی |
| ۱۲_محمدظاهرجبارخېل | // |
| ۱۳_فریدحمیدي | // |
| ۱۴_ ثریاپرلیکا | غړې |
| ۱۵_ راشد سلجوقي | غړی |
| ۱۶_ حمیرا نعمتي | غړې |
| ۱۷_ عنایت الله کمال | غړی |
| ۱۸_میرمحمدمحفوظ ندایي | // |
| ۱۹_ نورمحمدقرقین | // |
| ۲۰_ سیدمسعود | // |
| ۲۱_ امیرمحمدعیسی خان | // |

له قومي پلوه په دې ترکیب کې دپښتنو ونډه په سلو کې نږدې (۳۰) وه، پر دې ترکیب اکثره پښتانه خوښ نه وو، له سیمه ییز پلوه هم دهېواد د بېلابېلو برخو استازولي په کې نه وه، همدا علت و چې د کمیسیون غړي د ځینو ولایتونو د ولسوالیو په تثبیت کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ وو. مجموعاً د ټول افغانستان په کچه ۳۷ داسې ولسوالۍ وې چې کمیسیون ورته په اصطلاح متنازعه ولسوالۍ ویلې، د ځوکیو په وېش کې دځینو ولایتونو روغې ولسوالۍ له یاده وتلې وې، دساري په توگه په ننگرهار کې دوه، په کندهار کې یوه او په نورو ولایتونو کې هم همدا شمېر ولسوالۍ له برخې پاتې وې، چې وروسته بیا ورته ونډه ورکړل شوه. دغه راز دځینو ولایتونو ولسوالۍ

په بل ولایت پورې تړلې شوې وې لکه د کونړ درې ولسوالۍ، ناړۍ، چپه دره او ننګلام په نورستان پورې تړل شوې وې.

دې کار دیوه ولایت د څوکیو مجموعي شمېر کموه، خو د بل یې زیاتوه. کله چې سیمه ییزو دفترونو د اصلاح هڅه کوله د هغه ولایت خلکو او مقاماتو چې د خپل ولایت د څوکیو مجموعي شمېریې د بل ولایت د ولسوالیو د ناسم ګڼون او شمېر له امله زیات شوی و، مخالفت کاوه او د څوکیو کمول یې له خپل ولایت سره زیاتی ګاڼه، که څه هم د هرې ولسوالۍ څوکۍ په ځانګړي توګه معلومې وې، خو بیا هم یو څه زړه بداوی او خفګان رامنځته کېده. د کمیسیون په غړو کې له (۱۳) پښتون مېشتو ولایتونو څخه یو تن استازی هم شامل نه و، همدې عامل په دې ولایتونو کې د ولسوالیو او د هغو د څوکیو ددقیق شمېر ستونزه رامنځته کړه.

د بېړنۍ لویې جرګې خپلواک کمیسیون دلویې جرګې د انتخاباتو لپاره یوه کړنلاره جوړه کړه، سره له دې چې ددې کړنلارې له مخې د ډېرو په نظر دڅوکیو وېش عادلانه نه و، خو داشخاصو د ټاکنې لپاره یې وړاندیزونه او اصول ښه وو. خو په دې شرط چې عملي شوې وای، د وکیل یا هغه شخص لپاره چې غواړي لویې جرګې ته د وکیل په توګه غوره شي، دغه لاندې صفات په پام کې نیولي شوي وو:

- د هېوادوالو په وینو یې لاسونه ککړ نه وي.
- دمخدره موادوکښت، قاچاق او تولید کې لاس ونه لري.
- له ترورېستانو سره همکاري ونه لري.
- د بشر حقوق یې پایمال کړي نه وي.

❃ په جنګي جرمونو ککړ نه وي.

❃ د هېواد ملي شتمنۍ یې لوټ کړې نه وي.

❃ لیك لوست وکړای شي.

خو کله چې عملاً انتخابات پیل شول، دا پورتنۍ ځانګړنې تطبیق نه شوې، سره له دې چې ددې ټولو مسایلو تطبیق په داسې یوه ټولنه کې چې تازه له جنګه راوتلې وي او د جنګ یوه لوري د بل لوري ځای نیولی وي څه اسانه خبره نه ده، خو څرنګه چې دا یو خپلواك کمیسیون و او دملګرو ملتونو له خوا یې ملاتړ کېده، نو دوی ته په کار وه چې تر زیاته حده یې خپله لایحه تطبیق کړې وای. که چېرې یوکمیسیون ربښتیا هم خپلواك وي، نو له خپلې خوا د وضعه کړې لایحې دتطبیق وس باید ولري او که داسې نه وي نو خپلواکي یې هم ترپوښتنې لاندې راځي.

په لایحه کې راغلي وو چې والیان او دامنیې قوماندانان په انتخاباتو او لویه جرګه کې ګډون نه شي کولای، خو وروسته بیا ټولو والیانو دهمدې کمیسیون له خوا له انتصابي امتیازڅخه ګټه پورته کړه. کمیسیون نه یوازې د والیانو په انتصاب، بلکې دنورو غړو په انتصاب کې هم جدي سهوې وکړې، په پیل کې دکمیسیون له خوا اعلان شوی و چې په ببړنۍ لویه جرګه کې به د ټولو انتصابي او انتخابي غړو شمېر (۱۵۵۱) تنو ته ورسېږي خو وروسته دا شمېره (۱۶۵۶) تنو ته لوړه شوه او په لویه جرګه کې دکمیسیون هېڅ غړي په دې باب رسمي وضاحت ورنه کړای شو.

خـو لـه دې ټولـو نیمګړتیـاوو سـره سـره دلـویې جرګـې خپلـواك کمیسیون په ډېرو سختو او اغزنو شرایطو کې د ټول هېـواد پـه کچـه د لویې جرګې د استازو انتخابات ترسره کړل، دا تـر (۲۷) کـالو وروسـته په افغانستان کې لومړني نسبتاً ازاد انتخابات وو، چې خلکو په خـورا زوږ او شـوق پـه کـې ګـډون وکـړ کـه یـو شـمېر جنګسـالارانو او نـورو زورورو د زور او زرو له لارې خپل ځان وکالت ته ورساوه، نو ګڼ شـمېر اسـتازي د ولـس پـه خوښـه هـم وټاکـل شـول، دلـویې جـرګې د خپلـواك کمیسیون ستر بری دا و، چې پر ټاکلي وخت یـې لویـه جرګـه راوبللـه او په دې ډول د بن دپرېکړه لیك یوه اساسي برخه تطبیق شوه.

# په ختيزو ولايتونو کې انتخاباتي بهير

د (۱۳۸۱ل) کال د وري د مياشتې لومړۍ شپې ورځې وې، ما په پېښور کې له IOM يا د مهاجرو د نړيوال سازمان په مټ له يوې جوړې راډيويي خپرونې سره کارکاوه، دا راډيويي خپرونه د(عاجلو مرستو راډيويي خپرونه) نومېده، خپرونې به يې له امريکا غږ او بي بي سي راډيو څخه خپرېدې. ددې راډيويي خپرونې افغان مشر دهېواد تکړه ليکوال او ژورنالېست، ښاغلی ډاکټرمحمد اکبر و، چې يو وخت يې له بي بي سي راډيو سره کارکاوه، دا وخت ما په پېښور کې دهيلې مجلې



دخپراوي او ايډيټ چارې هم ترسره کولې او په پېښور کې د افغانستان دکلتوري ودې ټولنې چې جرمني کې يې مقر و او ځينو نورو کلتوري ټولنو استازی هم وم، په خورا خوند او درز مو ګڼ فرهنګي او خپرنيز فعاليتونه پيل کړي وو، هره مياشت مو په بېلابېلو ډګرونو کې ځلورينځه عنوانه پښتو کتابونه خپرول، فرهنګي کار په شور او زوږ کې روان و، چې ديو شمېر کسانو کينه اوحسادت يې هم راپارول، دا

وخت زما کور هم په پېښور ارباب روډ کې و، دعاجلو مرستو راډیو ماته دا وخت دومره معاش راکاوه، چې زما تر میاشتنۍ اړتیا اوښته، نوځکه دا مهال ما له هیلي مجلې او نورو خپرندویو ټولنو څخه حق الزحمه نه اخیستله. دکارونو په همداسې جم او جوش کې و، چې ښاغلي کاوون کاکړ پېښور کې زموږ دفتر ته سر را دننه کړ.

کاوون کاکړ دهېواد د نومیالي لیکوال او تاریخپوه ښاغلي پوهاند محمدحسن کاکړ زوی دی، په امریکا کې یې د حقوقو او سیاسي علومو په څانگه کې ماسټري ترلاسه کړې، عمر یې کم خو تجربه او زغم یې ډېر زیات دي، دعمر په اندول یې دسیاسي پوهې او کفایت پانگه ډېره زیاته ده، ده یو کال دمخه په اسلام اباد کې دملگرو ملتونو په یوه بل دفتر (UNOCHA) کې کارکاوه بیا بېرته امریکا ته لاړ او همدا څو ورځې دمخه د ملگرو ملتونو په یوه نوې جوړه څانگه (UNAMA) کې پر دنده گومارل شوی و.

ماسپښین مهال به و، چې ښاغلي کاوون کاکړ او ورسره یو افغان ملگری (ښاغلي جاوید احمدي) چې اصلاً دننگرها ولایت د کامې اوسېدونکی دی او فعلاً یې له کاوون کاکړ سره یو ځای په همدې دفتر کې کارکاوه، ددفتر دروازه ټک ټک کړه او دفتر ته رادننه شول، دا وخت زه کار ډېرسترې کړی وم، د دفتر په کوچ کې دکوچ د فرش یوه ټوټه مې سرته ایښې وه او ډډه مې لگولې وه، همداسې پرېشانۍ وړی وم. همدې وخت کې دوی رانتوتل، زه په ټك ټك پوه شوم، نو پورته شوم او دوی سره مې سترې مشي وکړل او په لیدو یې خوښ شوم، دوی هم زما په لیدو خوښ شول، کاوون صیب وویل: ما یقین نه کاوه چې دومره ژر به دې پیدا کړم. کاوون صیب خپل همکار جاوید احمدي ماته راوپېژنده او زه یې هغه ته ورمعرفي کړم، خو خپله کاوون صیب ما له

پخوا پېژنده او ډېر ښه مې پېژنده. کاوون صیب تر لږ دمې وروسته خبرې پیل کړې او راته یې وویل چې په خبرونو کې به دې اورېدلې وي چې د بن د توافقاتو له مخې څه موده دمخه په کابل کې دلویې جرګې خپلواك کمیسیون جوړ شو او دا کمیسیون دلویې جرګې د جوړېدو لپاره کارکوي، ددې ترڅنګ په کابل کې دملګرو ملتونو دمرستیال هیئت UNAMA دفتر جوړ شو چې هغه به دې کمیسیون او نورو ځانګو سره مرسته کوي، د مرستیال هیئت دفتر یوه څانګه به په جلال اباد کې جوړېږي او دجلال اباد د څانګې دفتر مسئولیت یې ماته راکړی، نو زه اوس خاص ستا لپاره راغلی یم، ته به ما سره ځې او ماسره به دې دفتر کې دمشاور او همکار په توګه کارکوې، ځکه چې په ختیزو ولایتونو کې ستا پېژندنه ډېره ده، زموږ وظیفه اوس داده چې دلویې جرګې پروسه سپوتړ کړو تر هغه وروسته به بیا نورکارونه کوو.

ما چې د کاوون صیب له خولې دلویې جرګې دخپلواك کمیسیون د ملاتړ خبره واورېده، نو ډېر ژر مې غبرګون وښود او ورته مې وویل:" کاوون صیب ته ما داسې شي ته بیایې او ملاتړ یې رابانـدې کوې چې زه اصلاً هغه نه منم، زما په نظر دلویې جرګې دا تش په نامه خپلواك کمیسیون اصلاً خپلواك نه دی، دا د بېلابېلو او مختلفو تنظیمونو د استازیو نچوړ دی، چې اکثریت یې دهېواد له اکثریت سره کینه او دښمني لري. دکاوون تر راتګ څو ورځې دمخه ما په مستعار نامه د همدې کمیسیون په اړه یوه مقاله لیکلې وه او هغه مې د ګڼو دلایلو له مخې یو نیمګړی کمیسیون ګڼلی و، دا مقاله د هغه وخت په یوه مجله کې خپره شوې وه. زما ملګري او همکار عزت الله شمسزي سم له لاسه دا مجله کاوون صیب ته پر میز کېښوده، کاوون او جاوید احمدي دا مقاله ولوستله، خو اوسېله او زغم یې له لاسه ورنه کړل، په ارامو

اعصابو يې وویل: موږ همداسې نظریاتو پسې ګرځو، دملګروملتونو دنده دیوه بې طرفه سازمان په توګه داده چې په رښتیني ډول واقعیتونه معلوم کړي.

ما او کاوون صیب ډېرې خبرې وکړې، خو د خبرو غټ ټکی په پای کې دا و چې دداسې لیکنو پر ځای او دداسې زړه خوړینې پر ځای ښه لاره داده چې سړی خپله دعمل ډګر ته ودانګي، هغه کار چې له نورو یې توقع کوي، باید په خپله یې ترسره کړي، هغه شکایت چې له نورو یې کوي، په خپله دشکایت حلوونکی شي، ما چې هم د کاوون صیب پر خبرو  فکر وکړ او په کې ژور شوم، نو په ذهن کې مې بدلون راغی او ځان سره مې وویل چې موږ ټول عمر له نورو نه ګیله کوو، چې دا پلانکی ولې داسې کوي او داسې  نه کوي ولې موږ ته کار نه کوي، ولې دانه او ولې دا نه کوي؟ ښه داده چې خپله ځان دپلانکي په رول کې واچوو، خپله هغه کارترسره کړو چې له نورو نه یې هیله کوو، له لسګونو روحي کشمکشونو او ستونزو به خلاص شو، که ډېر کم کار مو هم ترسره کړ، یو کار به مو کړی وي، یوازې په وچو لیکنو، شکایتونو، ګیلو او مانو باندې هم څه شی نه کېږي، په دې مې فکر وکړ چې سیاسي لیکوالي ښه ده او که عملاً سیاسي کار؟ او بیا دا وخت د استاد الفت دا بیت هم را په یاد شو چې:

د عمل د خاوندانو په حضور کې
د وینا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

خو تر ډېر بحث اوخبرو وروسته کاوون صیب سره په دې موافق شوم، چې یوازې د لویې جرګې تر جوړېدو پورې درسره ځم او یوازې د ملګروملتونو په دفتر کې ستاسو د مشاور په توګه کار کوم او بس، درې میاشتې وروسته بېرته پېښور ته خپل فرهنګي کار ته راځم.

دهمدې لپاره مې له پېښوره جلال اباد ته د تګ تکل وکړ، خو مخکې تر هغه چې جلال اباد ته لاړشم له ښاغلي محمداکبراکبر سره مې چې د عاجلو مرستو دراډیویي پروګرام مشر و دا خبره مطرح کړه، هغه سره له دې چې زما له تګ سره موافق نه و ځکه چې دا وخت د هغه ترمشرۍ لاندې دا راډیویي پروګرام په ښه ډول پرمخ روان و هغه نه غوښتل چې د خپل دفتر یو غړی له لاسه ورکړي، خو څرنګه چې ډاکټر اکبر دیوه اوچت ملي شعور څښتن دی، نو زما له تګ سره یې موافقه وکړه، کاوون کاکړ تر هغه دمخه مانه دمعاش پوښتنه وکړه ما ورته وویل چې ماته IOM تقریباً څلورسوه ډالر معاش راکوي، دا مهال په پېښور کې په خارجي موسسو کې دا ډېر اوچت معاش و، کاوون صیب ماته وویل چې موږ دومره معاش نه شو درکولای، کېدی شي ټول معاش به دې نږدې درې سوه ډالره شي، ما ورته وویل چې د معاش او پیسو خبره دومره مهمه نه ده، خو څرنګه چې دا یوه ملي مسئله ده، نو که هېڅ معاش هم نه وي درسره ځم. دا مهال سره له دې چې ما خپل کورنی ژوند په پېښور کې ډېر ښه عیار کړی و او ډېرهوسا وم، ماشومان مې ارام و، په ارباب روډ کې مې په درې زره کلدارې یو ډېرښه مصئون کورپه کرایه نیولی و چې د کور ټول ضرورتونه په کې پوره وو، دا کور دیوه سوپرمارکیټ پر سر و چې لاندې دوکانونو کې یې دکورلومړني مواد ټول پیدا کېدل، ما غوندې دیوه مصروف سړي لپاره دا کور یو غټ نعمت و او ما مخکې تر مخکې اډوانس پیسې هم ورکړې وې، کور کې مې وویل ځان تیار کړئ چې جلال اباد ته ځو، مېرمن مې راته وویل، موږ دلته ډېر ارام یو ماشومان هم ارام دي، اوس بیا کډه کول دسړي زړه چوي، بس دی په همدې یوه کال کې څلور ځله کوچ کشي. څلور ځله کوچ کشي داسې وه چې کله امریکایانو پر

طالبانو پوځي برید کاوه، نو تر هغه درې ورځې دمخه زه له پېښوره لاهور ته د کتابونو د چاپ لپاره روان وم. زما یو جرمني مېشتي ملگري ښاغلي اقبال پښتونیار چې بهرني خبرونه یې له نږدې تعقیبول، دشپې یوولس بجې په داسې حال کې له جرمني څخه راته ټیلیفون وکړ، چې زه له پېښوره د لاهور پر لوري نیمه شپه په سفر کې وم، پښتونیار پوښتنه وکړه چې چېرته یې؟ ما وویل چې لاهور ته د کتابونو په چاپ پسې روان یم، هغه ډېر په غوصه شو او ویې ویل چې بلا دې په کتابونو پسې شي، کتابونه خو بیا چاپېږي، ماشومان دې وژغوره، پښتونیار خبر و چې زما ماشومان دا مهال په کابل کې دي، پښتونیار وویل امریکائیان ډېر په قهر دي، همدا نن او سبا حمله کوي، ژرتر ژره باید ماشومان خوندي ځای ته انتقال کړې، سهار اته بجې لاهور ته ورسېدم ټوله ورځ مې کار وکړ، څو عنوانه کتابونه مې چاپ ته تیارکړل، دشپې اته بجې مې له لاهوره حرکت وکړ، سهار وخته مې په دفتر کې خپل ملگري عزت الله شمسزي ته حال او احوال پرېښود او مخ پر کابل روان شوم. ماسپښین مهال کابل کې د کابل پوهنتون داستادانو په فامیلیو یا استوگنځي کې خپل کور ته ورسېدم. کله چې کور ته ورسېدم نو هیله او سمسور راغاړې وتل، او ویې ویل چې ټول خلك لاړل یوازې موږ پاتې یو، زما مېرمن او مورمې د کور ټول کالي تړلي وو یوازې ما ته منتظر وو. ما مازیگر یوه موټرسره خبرې وکړې، سهار وخته موټرراغی دکور یو څه مهم کالي مو شش درك کې خپلوانو کره یوړل، نور ټول کور مې پرخپل ځای پاتې شو او د لغمان پر لوري مو حرکت وکړ، میاشت مو لا په لغمان کې نه وه تېره شوې چې کورنۍ ناروغي راپیدا شوه، دا په داسې حال کې ده، چې پر ټول افغانستان د امریکایانو بمباري روانه وه، پېښور ته د تگ لارې

هم سختې بندې وې، پر جلال اباد هم سخته بمباري وه، داسې ښار چې هلته دې روغتون او ډاکټران وي، نه و. مجبور شوو له ماشومانو سره په هغو سختو بمباریو کې بېرته کابل ته لاړو او بېرته مو په پوهنتون کې په خپل کور کې شپې او ورځې شوې، یوه میاشت مو په پخو بمباریو کې تېره کړه چې د طالبانو نظام د ړنګېدو شپې او ورځې شوې، مزارشریف دامریکایي ځواکونو د سختو بمباریو په زور د طالبانو د مخالفینو لاس ته ورغی، یوه ورځ وروسته په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت دیوه طالب چارواکي په حواله خبر شوم، چې طالبان په مخفي ډول خپل قوتونه له کابله باسي او ډېر ژر به کابل هم د مخالفینو لاسته ورشي. ما دهمدې ورځې په بهیر کې د خپل کور مهم شیان د کابل پوهنتون له ساحې نه شش درك ته راوړل او په شش درك کې مې لومړۍ شپه وه چې د طالبانو نظام ړنګ، امریکایي ځواکونه او دطالبانو مخالف قوتونه کابل ته راننوتل. څو شپې نورې هم په کابل کې پاتې شوم، په پای کې له خپلو ماشومانو سره یو ځای د څڅوبي کنډو پر سختو لارو پېښور ته راغلم، نو ځکه مور دیوه کال نه په کمه موده کې څو ځله لېږد ته اړ شولو، زما ماشومانو دا ځل زړه نه ښه کاوه چې بیا کډه په شا شو، خو ما وویل چې ضرور ځو، خپل وطن مو دی، هرڅه چې کېږي کېږي به.

زه جلال اباد ته راغلم او د کور د لټولو په لټه کې شوم، لومړی مې په یونما کې د خپل کار او تقرر په اړه کارونه خلاص کړل، مېز، دفتر او د کار لوری را په ګوته شول، بیا د کور په لټه کې شوم، په ډېر تکلیف کې مې له خپل یوه ملګري سره په ګډه یو حویلی کرایه کړ چې دوه بېلابېلې لارې او څلور خونې یې لرلې، دوه دده په برخه شوې او دوه زما.

کله چې دکور ترتثبیت وروسته زه بېرته پېښور ته دکور د راوړلو لپاره لاړم او دوه شپې مې هلته تېرې شوې، نو دلته دلویې جرګې لپاره د انتخاباتو پر مهم پوست ملګرو ملتونو، دلویې جرګې کمیسیون او نورو مربوطو ارګانونو بحث کړی و، داپوست په ختیزو ولایتونو کې د انتخاباتو د ټیم لیډرۍ یا مشرۍ پوست و، چې ټول انتخابات به دده تر لارښوونو لاندې ترسره کېږي او پوره اشخاص او امکانات به په لاس ورکول کېږي. کاوون کاکړ او نورو زما په غیاب کې فیصله کړې وه، چې زه ( یون) به ددې پوست مسئولیت اخلم، دوی په همدې دوه ورځو کې دا کار خلاص او مرکز ته یې هم خبر ورکړی و.

کله چې ما له پېښوره کډه راوړه او سهار یونما دفتر ته ددندې لپاره لاړم، نو دیونما کارکوونکي ښاغلي جاوید احمدي راته وویل چې مبارك دې شه نوې وظیفه، ما ویل د څه شي نوې وظیفه، هغه وویل تاسو د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو ټیم لیډر شوئ، ما ویل د څه شي ټیم لیډر؟ ده وویل د انتخاباتو، دلویې جرګې لپاره د ټولو کېدونکو انتخاباتو مسئولیت ستا پر غاړه دی، موږ ستا په غیاب کې ځکه دا فیصله وکړه چې ته یې دمخالفت لپاره وخت ونه لرې، دا ډېر مهم پوست دی او ډېر باوري او کاري سړی ورته په کار دی، ما ویل وروره زه خو تاسو راغوښتی وم چې په یونما کې به فقط ستاسو د مشاور په توګه کارکوم، زه د جرګو مرکو سړی نه یم، او نه مې دا درونډ کار له واکه پوره دی. ددې کار لپاره سم داسې د اوسپلې سړی په کار دی چې په جرګو او مرکو پوه وي او دپاخه عمر سړی وي، زه درته رښتیا وایم چې دا درونډ کار دی دا زما له وسه پوره نه دی او که نه وي زه بېرته پېښور ته ځم، احمدي په خندا شو او راته یې وویل: یون صیب ته خبر یې چې دا څومره مهم پوست دی، دې باندې خلك سرونه

ماتوي، دا ګوره ډېر غټ اعتبار دی چې پر تاسو شوی دی، ما احمدي ته وویل، تاسو راځئ چې کاوون صیب وګورو، هغه ته چې لاړو تر روغ بړ وروسته مې ورته وویل دا څنګه معامله ده، تاسې زه دجرګې دفتر ته معرفي کړی یم، هغه په خندا شو ویې ویل هو، ته مې ځکه هلته معرفي کړې چې زموږ د کار د ثقل مرکز همغه ځای دی او ټول کار هملته ترسره کېږي، ما ویل تا خو ما سره هلته ددې بل کار ژمنه کړې وه، نه د جرګې د انتخاباتو، کاوون وویل دا درسته ده، خو دا ډېر مهم ځای دی، داسې یو اعتباري او کاري شخص ته اړتیا ده، بل دا چې دلته د پیسو د راکړې ورکړې احتمال زیات دی، موږ غواړو داسې یو څوك دلته راشي چې دپیسو پر وړاندې د مبارزې تاب ولري، ما وویل کاوون صیب ستاسو له مهربانۍ نه مننه خو زه دا کار ځکه نه شم کولای چې زه نه په انتخاباتو کې تجربه لرم، نه د جرګې مرکې سړی یم او نه مې دې لکونو خلکو سره د جروبحث اوسپله شته، دا زما لپاره ډېر سخت کار دی، دې کار کې ستاسو د خبرو په تائید دپیسو دراکړې ورکړې او دخلکو دخفګان خبره هم مطرح ده، په داسې دفترونو کې که هرڅومره ځان پاك وساتې بیا هم دځینو خلکو له خوا حق وناحق خلکو ته ګوته نیول کېږي، بله خبره دا ده چې دې انتخاباتي پروسه کې کېدی شي یو شمېر زورور ماته وخوري او یو شمېر زورور کامیاب شي، افغانستان کې د سیاسي مبارزې ماتې او بریاوې پر شخصي کینو بدلېږي. زه نه غواړم چې په اینده کې په شخصي دښمنیو واوړم او ټول فرهنګي کارونه رانه پاتې شي، کاوون صیب وویل چې موږ ټول ستاسو تر شا ولاړ یو، دملګرو ملتونو دفتر به ټول ستاسو ملاتړ کوي، تا هېڅکله یوازې نه پرېږدو، ته هېڅ تشویش مه کوه، په هر ترتیب چې وي تاسو باید دا وظیفه ومنئ دا ډېر مهم او خاص پوست دی، کله چې

انتخابات خلاص شول، بیا به بېرته یونما ته راشئ، خو اوس باید ضرور دا وظیفه ومنئ، ما ویل تر ما غوره بل شخص شاه محمود میاخېل دی، چې تر ما یې عمر هم زیات دی او زیاته کاري تجربه هم لري، هغه دې لاړ شي، کاوون وویل، شاه محمود میاخېل غواړي ځان په کونړ ولایت کې لویې جرګې ته کاندید کړي، نو ځکه هغه ددې پوست په راس کې نه شي راتلای.

دا وخت ما هېڅ تصور نه کاوه او فکر کې مې هم دا خبره نه ګرځېده چې زه به لویې جرګې ته ځم یا به وکیل کېږم، خو چې ټولې لارې بندې شوې له ناچاره مې دا پوست ومانه، بیا مې دا شرط وړاندې کړ چې د اشخاصو په تعین کې به زما لاس ازاد وي، دوی دا خبره راسره ومنله. سم له لاسه مې دختیزو ولایتونو د پرسونل شمېر معلوم کړ، مجموعاً ۱۴ کسه د انتخاباتي کارونو لپاره له هغې جملې نه دوه کسه د هستې غړي دا مې په دې ډول تقسیم کړل: د ننګرهار لپاره څلور، د کونړ لپاره ۲ دلغمان لپاره ۲ د نورستان لپاره ۲ تنه.

سربېره پر دې مې یو تن د میډیا مسئول، یو تن د لوژستیک مسئول، یو تن اداري مسئول، یو تن راپورټر، یو تن راډیو اپریټر او په هره ولسوالۍ یا هر اداري واحد کې یو تن د ارتباطي غړي په توګه، په ننګرهار کې دوه، په نورو ولایتونو کې یو یو تن امنیتي مسئول او همدارنګه ځینې نور د همکارانو په توګه په ختیزو ولایتونو کې د لویې جرګې دکارونو دپرمخبیولو لپاره وګومارل:

# دلویې جرگې د چارو لپاره د ختیزې هستې د کارکوونکو لېست

| گڼه | نوم | دنده |
|---|---|---|
| ۱ | اول رحمان رودوال | پـــر انتخابـــاتو دنظـــارت کمیسیون غړی |
| ۲ | احمدخان | // |
| ۳ | محمدحنیف گردیوال | // |
| ۴ | انجنیرروف | // |
| ۵ | انجنیرمحمدشعیب | // |
| ۶ | سمیع الله پاځون | // |
| ۷ | عزیزالدین همت | // |
| ۸ | حاجي حبیب الله | // |
| ۹ | داکټردلاور سهري | // |
| ۱۰ | اسمعیل نورستانی | // |
| ۱۱ | محمدقاسم | مرکزي هسته |
| ۱۲ | گل اقا | // |
| ۱۳ | عبدالوکیل اتل | ژورنالېست |
| ۱۴ | عطامحمدقسمت | // |
| ۱۵ | محمدشاکر | امنیتي مسول |
| ۱۶ | اوربنت | امنیتي مسول |
| ۱۷ | مظهرالله | امنیتي مسول |
| ۱۸ | اقاجان | امنیتي مسول |
| ۱۹ | زلمی | امنیتي مسول |
| ۲۰ | حمیدالدین | امنیتي مسول |
| ۲۱ | رفیع الله صیاد | اداري |
| ۲۲ | ډاکټررضوان | اداري |
| ۲۳ | عبدالغفار جبارخېل | ژباړن |
| ۲۴ | احمدشاکر مجددي | سکرتر، ژباړن، کمپیوټراپریټر |
| ۲۵ | عبدالله | لوژستیك |
| ۲۶ | روئین | لوژستیك |
| ۲۷ | محمدشفیق | راډیو اپریټر |
| ۲۸ | محمداسمعیل یون | ټیم لیډر |

په هره ولسوالۍ کې مو یو تن د رابط غړي په توګه وټاکل په دې ډول:

ننګرهار

| ګڼه | اداري واحد | رابط غړی |
|---|---|---|
| ۱ | سره رود | جان اغا کاکړ |
| ۲ | خوګیاڼی | خان وزیر |
| ۳ | شېرزاد | محمدکبیر |
| ۴ | حصارك | ناصرخان |
| ۵ | پچیراګام | محبت خان |
| ۶ | رودات | عبدالکافي |
| ۷ | هسکه مېنه | رحمان ملاتړ |
| ۸ | کوټ | وفي الله |
| ۹ | بټي کوټ | ذبیح الله |
| ۱۰ | اچین | مجیدالله |
| ۱۱ | سپین غر | سیدواهب شاه |
| ۱۲ | نازیان | مکتب ګل |
| ۱۳ | شینواري | عابدالله |
| ۱۴ | دوربابا | محمدنبي |
| ۱۵ | مومندره | ډاکټربریالی |
| ۱۶ | لالپوره | محمدیګل |
| ۱۷ | ګوشته | سباوون مومند |
| ۱۸ | کامه | ببرك میاخېل |
| ۱۹ | ښښوه | شاه زمان |
| ۲۰ | دره نور | شېرعالم امله وال |
| ۲۱ | بهسود | محمدګل |
| ۲۲ | لومړۍ ناحیه | داکټرنوید |
| ۲۳ | دویمه ناحیه | نوریاسین |
| ۲۴ | دریمه ناحیه | سهراب دیدار |
| ۲۵ | څلورمه ناحیه | فرید |

## لغمان

| گڼه | اداري واحد | رابط غړی |
|---|---|---|
| ۱ | مهترلام | احمدشاه سهاك |
| ۲ | قرغه يي | ډاکټر مالك |
| ۳ | الينګار | شفيق الله |
| ۴ | اليشنګ | سيدمختار |
| ۵ | دولت شاه | ګل بادشاه |

## کونړ

| گڼه | اداري واحد | رابط غړی |
|---|---|---|
| ۱ | وټه پور | شفيق الله |
| ۲ | سرکاڼي | عبدالکريم |
| ۳ | اسعداباد | حاجي ګل محمد |
| ۴ | اسمار | نجيب الله |
| ۵ | چپه دره | معلم مصطفی |
| ۶ | څوکۍ | محمدهاشم |
| ۷ | دانګام | جان محمد |
| ۸ | خاص کونړ | تورګل |
| ۹ | مروره | عبدالرحمن |
| ۱۰ | ناړۍ | عبدالستارخان |
| ۱۱ | نرنګ | محمدنواز |
| ۱۲ | شيګل | حاجي سيدصاحب |
| ۱۳ | پشد | جنت ګل |

## نورستان

| گڼه | اداري واحد | رابط غړی |
|---|---|---|
| ۱ | منډول | محمداسحق |
| ۲ | برګمټال | سليمان شاه |
| ۳ | دواب | نورمحمد |

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | ننګراج | محمد اصف |
| ۵ | غازي اباد | محمدنواز |
| ۶ | کامدیش | امیرمحمد |
| ۷ | وایګل | حضرت محمد |
| ۸ | واما | محمدملك |

کله چې موږ خپل پرسونل پوره کړ، نو پر همدې وخت دلویې جرګې د انتخاباتوطرزالعمل چاپ شو، چې په هغه کې یې هرولایت او هرې ولسوالۍ ته د وکیلانو ونډه په ګوته کړې وه، څو شیان په دې کړنلارې کې نیمګړي وو:

۱ــ د څوکیو وېش عادلانه نه و.

۲ــ یوشمېر ولسوالۍ بېخي له یاده وتې وې او د ځینو ولایتونو ځینې ولسوالۍ په نورو ولایتونو پورې تړل شوې وې.

۳ــ طرزالعمل او دلویې جرګې د دارالانشاء ټول اسناد لکه په خپله طرزالعمل، تعهدنامه، شناسنامه او نور ټول په یوه ژبه (دري) وو.

کله چې مو دا نیمګړتیاوې وکتلې، نو د هغو د حل په لټه کې شوو، اول خو د هغو په لټه کې شوو چې اسانه وې. په پښتو ژبه د اسنادو ترلاسه کول، ځکه په ختیزو ولایتونو کې مهم وو، چې دلته مطلق اکثریت پښتانه دي. دا موږ ته ډېره ګرانه وه چې له خپلې مورنۍ ژبې پرته دوی ته په بله ژبه اسناد وړاندې کړو او دوی پرې پوه شي.

سملاسي مې ښاغلي محمداسمعیل قاسمیار ته ټلیفون وکړ ځان مې ورمعرفي کړ او ومې ویل چې د طرزالعمل پښتو نسخو ته اړتیا ده ځکه موږ باید ژرترژره تبلیغاتي کمپاین پیل کړو. هغه په ټلیفون کې وویل "انقریب به خیر چاپ میشه". ما ورته وویل تاسو خو ((جرګه

جریده)) کې د دري متن په اخري برخه کې لیکلي: "متن پښتو، دري و انگلیسي این طرزالعمل به چاپ رسیده است". دې نه معلومېږي چې دا خبره صحیح نه ده، هغه په ځواب کې وویل:" کمکی صبرکنید انشاء الله به زودی به دست تان میرسد ". موږ هم څو ورځې انتظار وویست، هیڅ شی معلوم نه شو، بلاخره کابل ته ورپسې لاړم، دلویې جرگې د دارالانشاء په دفتر کې مې پوښتنه وکړه چې د طرزالعمل یوه پښتو کاپي مې په کار ده، که دلته دتکثیر امکان نه وي، پروا نه کوي خو چې مقصد یوه کاپي ماته راکړئ، هلته یې زه خپله تکثیروم، د دارالانشاء اکثره کارکوونکي د کابل پوهنتون د څو وروستیو کلونو فارغان وو، نو اکثرو یې زه پېژندلم او ډېر احترام یې کاوه، یوه به ویل" اینه استاد فقط چند دقیقه انتظار بکش .." بل ویل " اینه دستی بریت پیدا میکنم، یك شماره خو پیدا خواهد شد" تر نیم ساعت انتظار وروسته اصلاً هیڅ څه پیدا نه شوه، بلاخره ما ویل چې هر چا کمپوز کړې وي، هغه سړی ماته راوښیئ ماته یې په ډسکټ کې راکړئ زه به یې هلته جلال اباد کې چاپ او تکثیرکړم، خو ماته یوه نسخه راکړئ.

بیا نو یوه بل ته غږ کړ" زودکنید بری استاد متن پشتو طرزالعمل تهیه کنید ، عاجل هله زود شوید" په دارالانشاء کې ډېره څه گوښه وه، خو د هیڅ شي پته نه لگېده، یوه پر یوه حواله اچوله او بل پر بل، په نتیجه کې هیڅ پته ونه لگېده، پر همدې وخت یو تن ماته رانږدې شو او غوږ کې یې راته وویل:"استاد چه دروغ بریت بگویم اصلاً متن پشتو اش برای ما هیچ نه رسیده، فکر میکنم هیچ ترجمه نه شده". ما ویل اصلي خبره دې اوس وکړه. سم له لاسه سرمحقق سیدامین مجاهد پسې چې د کمیسیون غړی و لاړم. هغه ته مې وویل چې موږ دطرزالعمل پښتو متن ته اړتیا لرو، دا څنگه کېږي؟ هغه په خندا شو

والله څه درته ووایم؟ پښتو متن يې اصلاً تر اوسه ترجمه شوی نه دی، ما ورته وویل علت څه شی دی؟ تر جرگې يې وروسته ترجمه کوئ که څنگه؟ هغه ویل نه؟ د پښتو متن ترجمې ته حق الزحمه نه شته. ښه ما ویل دا ټوله خبره حق الزحمې ته معطل ده؟ که د حق الزحمې خبره وي راپې وړه زه يې همدا نن شپه بې له حق الزحمې ترجمه کوم چې دا جنجال ختم شي، حق الزحمه دې اور پسې شي چې داسې یوه مهمه مسئله يې ټال کړې ده.

مجاهدصیب وویل چې دري متن يې ماته دترجمې لپاره راکړی چې زه يې پښتو کړم خو حق الزحمه نه لري، زه دا نه وایم چې زه د حق الزحمې د نشتوالي له خاطره دا متن نه ترجمه کوم، خو زه دا وایم چې د دري متن لپاره حق الزحمه وه او د پښتو لپاره نه شته دا پښتو ژبې ته په سپکه سترگه کتل دي زه به پرې دا حق ثابتوم او بیا به يې ترجمه کوم.

ما ویل خیر په هر صورت خو اوس موږ ته د ټېر ژر پښتو کړنلاره راولېږئ چې موږ کمپاین پیلوو او دغه راز نور ضروري اسناد هم په پښتو ژبه راولېږئ.

دري څلور ورځې مو نور هم انتظار وویست او بیا ورپسې کابل ته لاړم، دا ځل طرزالعمل ترجمه شوی، خو چاپ شوی نه و، دا ځل مې دکمیسیون مرستیال پوهاند صیب عبدالعزیز نه پوښتنه وکړه، هغه هم پوره خبر نه و خو دارالانشاء ته راسره ولاړ او د همدې مسلې پوښتنه يې وکړه هغوی وویل: "سبا به خیر چاپ میشه". ما ویل سبا اخري وعده ده؟ هغوی وویل هو، سبا مازیگر چې ورغلم ۱۰۰-۱۵۰ گڼې يې چاپ کړې وې، پوهاند صیب عبدالعزیز ماته په مخ کې کېښودې راته يې وویل: دغه ده گوره کار مې درته خلاص کړ، بیا ونه وایې چې د

پښتو غم نه خوري، څنګه مې ژر درته خلاص کړ، نوري به هم درولېږم ما ورته وویل بې شکه استاده! یاره چې پنځه تاغوندې نور پیدا شوي وای دا وطن او پښتو به ګل ګلزار شوې وای، پوهاند هم په خندا شو، ما ورته وویل ښه پوهاند صیب نور اسناد به څنګه شي؟ موږ ته پښتو اسناد راولېږئ چې ډېر ضرورت ورته لرو، پوهاند صیب بیا وخندل څه نوځنګه چې دا در ورسپدل نور به هم درولېږو، دومره یې ته هم ټینګه مه نیسه، ځینې شیان ته په خپله جوړ کړه پسې مه ګرځه، هو"

کله چې جلال اباد ته راغلم، ملګرو ته مې وویل ښه داده چې د اسنادو د تکمیل په برخه کې موږ او تاسو خپله ډېر کار وکړو او ډېر دمرکز په تمه نه شوو. ټول هغه اسناد لکه تعهد نامې، شناسنامې او نور چې له کابله راغلي وو او پښتو متنونه یې نه وو ټول مو راواخیستل ټول مو له مخې په پښتو کړل او تکثیر موکړل، دې کار په عامه پوهاوي کې ډېره مرسته وکړه او زموږ کارونه یې یو څه اسانه کړل، ځکه هغو کسانو ته چې زموږ تبلیغاتي کمپاین کې یې برخه اخیسته هغوی ته موږ چاپي اسنادورکول، په دې ډول ختیز ولایتونه او دا دفتر په ټول افغانستان کې لومړی دفتر و چې د خلکو یو ملي ضرورت یې په خپله رفع او خروب کړ او دا یوازینی دفتر و چې پښتو په کې له خپلو طبیعي حقوقو او رسمیت څخه برخمنه شوه، د پکتیا، کندهار او نورو پښتون مېشته ولایتونو دفترونو ته یوازې دلویې جرګې له طرزالعمل پرته له مرکزي دفتر څخه نور یوه پانه اسناد هم په پښتو ژبه نه دي ورغلي او دې ته وایي د مرکزي کمیسیون انصاف. هغه اسناد چې موږ خپله ترتیب کړي وو نمونه یې داده:



بسم الله الرحمن الرحیم

دلویې جرگې دجوړولوځانگړې اوخپلواک کمیسیون

په ( جلال آباد ) کې دڅارنې سیمه ییزه مرکزي هسته

باورلیک

ښاغلی ( حمیرا ) د ( ولی الله ) زوی د ( )
لمسی د ( ) اوسېدونکی او د ( ) مخ ( )
ټوک او ( ) نومرې تذکرې لرونکی د ۱۳۸۱ کال د
( ) پر ( ) نېټه په ( ) انتخاباتي واحد کې
دگډونوالوله خوا د ازادو، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې
دبیړنۍ لویې جرگې دغړي په توگه وټاکل شو.

دڅارنې دسیمه ییزې مرکزي هستې
د رئیس لاسلیک

بسم الله الرحمن الرحیم

دبیړنۍ لویې جرګې د جوړولو ځانګړی او خپلواك کمیسیون

په (            ) کې د څارنې سیمه ییزه مرکزي هسته

په (            ) کې د انتخاباتي واحد د څارنې پلاوی

# پیژندپاڼه

ښاغلی (            ) د (            ) زوی د (            ) لمسی د (            )

اوسیدونکې او د (            ) مخ (            ) توك او (            )

نومرې تذکرې لرونکی د سیمې د خلکو پروړاندې د (            ) تنو په غونډه کې د خلکو د

استازي په توګه وټاکل شو چې د بیړنۍ لویې جرګې لپاره د ټاکنو په دویم پړاو کې د انتخابوونکي

او انتخابیدونکي په توګه ګډون وکړي.

انتخاباتي واحد د څارنې پلاوي لاسلیك

مهر

بسم الله الرحمن الرحیم

**ژمنپاڼه**

**په بیړنۍ لویه جرگه کې دکاندید انوغړیتوب**

زه ( شکور محمد ) د ( عبدالحمید ) زوی د ( عبدالله ) لمسی اود ( [illegible] ) [illegible]
اوسېدونکی د (                ) مخ (                ) ټوك او (                ) نومـــــــرې
تذکرې لرونکی یم .

په داسې حال کې چې خپل خدای حاضر، ناظراوشاهدگڼم، دخلکوپر وړاندې اقرارکوم چې دبیړنۍ لویې جرگې دټاکنـود تـگلارې ټول محتویـات مې درك کړي اودبـن دتـړون بنسټونه او ارزښتونه منم، له تروریستې ټولگیوسره تړاو نه لرم،په مستقیم اونامستقیم ډول مې جرمونه نه دي کړي،مخدره توکي مې دودکړي نه دي،جنگي جرمونـه مـې نـه دي کـړي،دبشـرله حقوقـو مـې سرغړاوی نه دی کړی ،عامه شتمني مې نه ده لوټ کړې او فرهنگي اثار مې قاچاق کړي نه دي اوپه مستقیم اونامستقیم ډول مې بېگناه خلك وژلي نه دي.

ځکه نو زه ځان دبیړنۍ لویې جرگې دغړیتوب لپاره د کاندیدو وړ اومستحق گڼم.
که چېرې مې کړی اقرار ددې مخالف و نو مسئول به یم اوځواب به وایم.

لاسلیك اومهر

دلویې جرگې خپلواک کمیسیون
دختیزو ولایتونودتاکنوهسته
پېژند کارت

نوم :
دپلارنوم :
ولایت :
ولسوالي :
دنده :
داعتبار نیټه :
دکمیسیون دغړی لاسلیك:

پېژندپاڼه
ژمنپاڼه

تر دې وروسته دویم پرابلم دا و چې زموږ ژوندۍ ولسوالۍ یې له یاده وتلې وې. په ننگرهار کې د بهسودو او دره نور ولسوالۍ اصلاً په لست کې نه وې، هغه مو په لېست کې شاملې او سهم مو ترې ترلاسه کړ.

دکونړ ولایت دپېچ درې دوه ولسوالۍ او همدارنگه ناړۍ ولسوالۍ یې په نورستان پورې تړلې وې، د کونړ او ننگرهار د څو ولسوالیو نومونه غلط ثبت شوي وو، د یوه ولایت ولسوالۍ دبل په تشکیل کې نیول شوې وې، دې کار د هغه ولایت د مجموعي څوکیو شمېر زیاتوه کله چې به هغه ولسوالۍ بېرته خپل اصلي ولایت پورې تړلې کېدې، نو د څوکیو مجموعي شمېر راکمېده، په دې ډول د هغه بل ولایت خلکو ته ناراحتي پیدا کېده. په دویم پړاو کې موږ په ختیزو ولایتونو کې دا ناوړه پوهاوی په سوله ییز ډول ختم کړ او د هر ولایت خپلې ولسوالۍ مو د هغه په شمېر کې حساب کړې.

درېیم او اساسي کار د څوکیو د زیاتوالي هڅه وه، اکثره ولایتونه خصوصاً ځیني ولایتونه په دې وېش خوشاله نه وو، دختیزو ولایتونو ونډه هم کمه وه، نو ځکه دلته د خلکو ډله ییز غبرګون رامنځته شو او دفتر ته ډېرزیات شکایتونه راورسېدل، موږ دا ټول شکایتونه منظم او منسجم کړل او مرکز ته مو ولېږل، دبې انصافۍ ښکاره ټکی دا و چې کله یې نفوس پلمه کړي وو او کله اداري واحدونه، هغه اداري واحدونه چې دتنظیمي ملحوظاتو له مخې نوي جوړ شوي او دولس په ذهن کې تر اوسه منل شوي نه وو او نه په کې عملاً اداري پرسونل فعال وو، هغوی ته هم د اداري واحد سهم ورکړل شوی و، هغو ځایونو کې چې اصلاً پوهنتون هېڅ موجود نه و او ځینو پر دې نږدې وختونو کې دپوهنتون یوازې د نامه امتیاز ترلاسه کړی و، هغوی ته هم همغومره سهم ورکړل شوی لکه دنورو پخوانیو او نومیالیو پوهنتونو په شان، نوي اداري واحدونه چې تر اوسه لا په نقشه کې هېڅ ثبت شوي نه دي او یوازې د کلیو بڼه لري هغه یو هم له یاده نه دي وتلي، خو د ځینو ولایتونو پخوانۍ ولسوالۍ هېرې شوې دي. همدغه شکایتونه بلاخره ډېر شول او د ننګرهار، لغمان، کونړ خلکو د نورو څوکیو د ترلاسه کولو غوښتنه وکړه.

دا شکایتونه دومره زیات شول چې د ننګرهار ولایت چارواکي هم ورسره موافق شول او ددوی غوښتنه هم همدا شوه، یوه شپه دننګرهار والي حاجي صیب عبدالقدیر پوهاندعبدالعزیز، سرمحقق سیدامین مجاهد، کاوون کاکړ او زه (اسمعیل یون) دعوت کړو، د شپې لس بجې به وې چې پر همدې مسایلو خبرې پیل شوې، خبرې ډېرې پټې وې، حاجي عبدالقدیر وویل: زه د ننګرهار والي یم او مجموعاً د مشرقي ولایتونو خلك پر ما سخت باور لري، د اوسنۍ لویې جرګې

لپاره زه دننگرهار او شرقي ولایتونو په څوکیو قانع نه یم، زموږ ونډه کمه ده، موږ سره کمیسیون ناروا کړې، حاجي صیب عبدالقدیر وویل: دا خبره ما کابل کې کرزي صیب او نورو مشرانو ته هم کړې ده. څه موده دمخه زه کابل کې کرزي صیب سره ناست وم چې محقق صیب او خلیلي صیب راغلل، د لویې جرگې دڅوکیو پر همدې وېش بحث وشو. محقق صیب وویل، دا وېش ډېر مناسب دی، موږ پرې خوشاله یو، ما ورته وویل چې محقق صیب خوشاله به څنگه نه یې چې زموږ سهم یې هم تاته درکړی، نور نو څه غواړې قضاوت به دې هغه وخت عادلانه و چې زموږ په دریځ کې وای ستا برخه یې ماته راکړې وای. بیا که دې ویلي وای صحیح ده.

حاجي صیب قدیر زیاته کړه، زه ددې لویې جرگې پرارزښت، ماهیت او نتیجې مخکې پوه یم، هرڅه فیصله شوي، دا



کاوون کاکړ، اسمعیل یون او شاه محمود میاخیل دخلکو پوښتنو ته د ځوابونو پر مهال

یوازې دقانونیت لپاره ده، خو زه یوه خبره کوم چې زه نه غواړم پرځان

لاره جوړه کړم، اوس چې کوم وېش شوی، دا به بل وخت هم همداسې کېږي. همدا څوکۍ به معیار نیول کېږي او د هر وخت به دا ولایتونه متضرر کېږي، زه په تاریخ کې خپله ځان ته دا د پېغور ټکی نه پرېږدم. یو وخت به مشرقیوال او په تېره بیا ننګرهاري دا وایي چې قدیره ته والي وې، تا د خپل مقام او څوکۍ د ساتلو لپاره ځان غلی کړ او موږ باندې دا ظلم وشو.

زه مار په سینه نه بدلوم، دا مار چې اوس زما په سینه تېرشو، دا به بیا هر وخت تېرېږي او هر وخت به موږ ځوروي، ما په بن کې هم ځکه د پښتو غږ پورته کړ چې هلته هم همداسې ناروا حالت و. خلك به هرڅه وایي خو ما د افغانستان د اکثریت خلکو لپاره دا چیغه پورته کړه او که د ټولې دنیاسفیران راته عذر ته راغلي نه وای نو بېرته غونډې ته هم نه ورتلم.

دې وخت کې ما قلم او کاغذ راواخیست غوښتل مې د حاجي صیب قدیر خبرې ولیکم خو حاجي صیب مخ راواړوه یون صیب ښښنه غواړم. زما دا خبرې خصوصي دي یاداشتوه یې مه.

ښه ده چې په ذهن کې یې وساتې، بیا یې کاوون صیب ته وویل دا درې واړه ( پوهاند عبدالعزیز، سیدامین مجاهد او اسمعیل یون) خو ددې سیمې دي او تاسو په ملګرو ملتونو کې کار کوئ او پلار دې هم ددې سیمې او هېواد نومیالی لیکوال اوتاریخپوه دی، ستاسو ټولو مسئولیت دی چې زموږ دخلکو غمه وخورئ او که چېرې زموږ څوکۍ زیاتې نه شي، نو زه له انتخاباتو بایکاټ کوم، نو بیا به ګیلې مانې نه کوئ، سبا ته ستاسو ګروپونه، چپرهار، پچیراګام ولسوالیو ته ځي، ما هلته ولسوالانو او نورو مسئولیتونو ته هدایت کړی چې ستاسې ګروپونه د احتجاج په توګه خپل تبلیغاتي کمپاین ته پرېنږدئ. نو تاسې

ته مې څکه دلته بلنه درکړه چې لـه دې موضـوع څخـه خبر شـئ مـوږ پـه هېڅ وجه په دې څوکیو راضي نه یو.
وروسـتـه سـرمحقق سـیدامین مجاهـد دحـاجي صـیب د خبـرو پـه اړه



دلویې جرګې له کمیسیون او ملګرو ملتونو څخه دختیزو ولایتونو دخلکو غوښتنې

دافغانستان ختیزو ولایتونو (ننګرهار - لغمان او کونړ) په ټولو ولایتونو کې راغلي څو دلویې جرګې د ټاکنې کمیسیون له خوا هغه ته ورکړل شوې ونډه دهغوی نفوس د شمیر په تناسب ډېره کمه ده، د بېلګې په توګه د لغمان ولایت څلور ولسوالۍ الیشنګ، الینګار، دولتشاه او قرغه یي ... چې نفوس یې ... ونډه یې څه، دزیاتو ونډو حق لري، همدارنګه د کونړ د ... شیګل، ناړي، پېچ (مانوګي) او چپه دره ولسوالۍ او نورې ... د جلال اباد، بهسودو، مومندرې، رودات، خوږیانو، چپرهار، کوټ، کامه او نورو ولسوالۍ، د ننګرهار پوهنتون ونډه هم کمه ده او دننګرهار دمرکز (جلال اباد) ښار د څلورګونو ناحیو ته هم کمه ونډه ورکړل شوې ده. په مجموعي ډول ددې ټولو ختیزو ولایتونو ونډه کمه ده.

موږ هیله لرو چې دلویې جرګې کمیسیون او ملګري ملتونه زموږ دا غوښتنې په پام کې ونیسي او زموږ دولایتونو اداري واحدونو ونډې دهغوی دنفوسو د شمېر په تناسب زیاتې کړي او که چېرې موږ ته داحقوق را نه کړل شي نو موږ ځان ته د هر ډول عکس العمل حق ورکوو.

په درناوی

دختیزو ولایتونو دخلکو له خوا

په ختیزو ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د ټاکنې د موسسال هیئت دفتر او د ملګرو ملتونو لوړو ماغلو استازو ته دختیزو ولایتونو او خپله لویې جرګې ټاکنې او خپلواک کمیسیون او ددې کمیسیون ټاکل شویو غړو ته د ټېټ شمیر شکایتونو او غوښتنو د رسید او او خپله دسیمې دخلکو د شمیر د نیالونو په پام کې لرلو سره ختیزو ولایتونو ته دلویې جرګې ټاکنې کمیسیون لخوا ل شوی هیئت ... وکړه چې ختیزو ولایتونو ته په مجموعي ډول د ۱۲ څوکۍ زیاتې کړي. او په دې ډول دخلکو د شکایتونو او غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي

په درناوی

پوهاند عبدالعزیز دلویې جرګې خپلواک ... سرمحقق سید امین مجاهد ... کمیسیون غړی او دختیزو ولایتونو مسؤل.

تائیدي خبرې وکړې او ویې ویل څه شی چې شخصاً زما لـه وسـه پـوره

وه هغه ما په کمیسیون کې مطرح کړي دي، موږ حاضر یو چې ستاسو دا نظرونه کابل ته انتقال کړو.

کاوون صیب وویل: موږ به ستاسو او دخلکو دا نظرونه کابل کې خپل دفتر ته انتقال کړو، هغوی کېدی شي په دې مسله غور وکړي او فکر کوم چې نتیجه به یې هم مثبته وي، خو د څوکیو د زیاتولو لپاره باید ستاسو پیشنهادونه مشخص وي، د نفوسو، اداري واحدونو احصائیه او نور ضروري ارقام په کار دي.

دې وخت کې ما وویل چې زه به د ولایت له چارواکو سره کېنم. دوی به موږ ته دولسوالیو دنفوسو احصائیه او څه نور ارقام راکړي او هغه نظرونه او دلایل چې د خلکو د بېلابېلو کټګوریو له خوا موږ ته رارسېدلي دا به ټول سره یو ځای کړو او په پای کې به یې دنتیجې په توګه د څوکیو د شمېرد زیاتولو لار وباسو او د خپل دفتر له خوا به یې د پیشنهاد په توګه دملګروملتونو دفتر (UNAMA) او په کابل کې دلویې جرګې خپلواك کمیسیون ته وسپارم. په همدې مسئله توافق وشو.

سبا چې زموږ تبلیغاتي ګروپونه شېرزاد، پچیر او اګام ولسوالیو ته لاړل، نو حکومت خپل کار ته پرېنښودل، کاوون صیب د انتخاباتي پروسې دکنټرول او د ستونزو د مخنیوي لپاره کابل ته خبر ورکړ، ملګرو ملتونو دخلکو غوښتنې او شکایتونه پر ځای وبلل او سملاسي یې د ښاغلي جان ارنولد په مشرۍ یو هیئت جلال اباد ته راولېږه. جان دا وخت په ملګرو ملتونو کې د ښاغلي لخدار براهیمي دسیاسي چارو مرستیال و، یو ډېر دقیق او د افغانستان پر سیاسي مسایلو ډېر پوه شخص دی، هغه جلال اباد کې دلویې جرګې د انتخاباتو دفتر کې له موږ سره غونډه وکړه او موږ دخلکو ټول هغه نظرونه او ددې ځای د

حکومت د چارواکو نظرونه ورتـه واورول، هغـه پـه ډېـر دقت سـره زمـوږ وړاندیزونه او نظرونه واورېدل، او ویې ویل چې زه به دلـویې جرگې لـه خپلواك کمیسـیون سره پـه دې اړه خبرې وکـړم هیلـه ده مشـکلات حـل شي.

ما دخلکو او ولایت دمقـام د پیشـنهادونو او غوښتنو پـر اساس پـه ټولیز ډول د (۳۱) څوکیو د زیاتولو غوښتنلیك جوړ کـړ، کـاوون صـیب ته مې ورکړ، کاوون صیب وویل دا څوکۍ ډېرې زیـاتې دي کېـدی شـي پردې وړاندیز یو ځل بیا غور وکړئ.

موږ په پای کې د وړانـدې شـویو څوکیـو شـمېر (۲۱) تـه راټیټ کـړ. ښاغلي جان ارنولد دلویې جرگې لـه خپلواك کمیسـیون او پـه ځانگړي ډول ښاغلي محمداسمعیل قاسمیارسره خبرې کړې وې او هغوی ته یـې قناعـت ورکـړی و چـې ددې ولایتونـو سـهم بایـد زیـات شـي، مرکـزي کمیسـیون پلمـه کـړې وه چـې زمـوږ دوه تنـه غـړي پوهانـد عبدالعزیز او سرمحقق سیدامین مجاهد پـه سیمه کې دي، دوی چې هره فیصله وکـړه موږ یې منو، موږ چې کله خبر شوو مـا ډېـر ژر د (۲۱) پیشـنهاد شـویو څوکیو غوښتنلیك سرمحقق سیدامین مجاهد او پوهانـد عبدالعزیز تـه وړاندې کړ او دا خبره مې هم ورته وکړه چې مرکـزي کمیسـیون تاسـو تـه ددې څوکیـو د زیـاتولو واك درکـړی نـو اوس ستاسـو کـار دی چـې ژر تـرژره دا لانجـه ختمـه کـړئ. سـیدامین مجاهـد بـې لـه کـوم ځنډ څخـه داغوښتنلیك امضا کړ خو پوهانـد عبـدالعزیز زړه نـا زړه و او ویـې ویـل چې یوځل کابل ته لاړ نـه شـم او قاسـمیار صـیب سره خبـرې ونـه کـړم دا کار سخت دی ما ورته وویل چې تاسـو د قاسـمیار صـیب معـاون یاسـت کله چې رئیس نه وي معاون دا صلاحیت لري اوس تاسو دا امضـا کـړئ

که بیا قاسمیار صیب څه ویل، ورته ووایه چې راشه خپله د خلکو غوښتنو ته ځواب ورکړه.

دقاسمیار صیب قضاوت خو همدا و چې دالبیروني، عبدالله بن مسعود او نورو په اصطلاح پوهنتونونو ته یې هم هغومره سهم ورکړی لکه ننگرهار پوهنتون ته یې چې ورکړی، په داسې حال کې چې ننگرهار پوهنتون ترکابل پوهنتون وروسته د هېواد دویم ستر پوهنتون دی، بلاخره پوهاند صیب عبدالعزیز هم دا غوښتنلیك امضا کړ. غوښتنلیك او پرهغه باندې امریه متن په دې ډول دی:

# دلويۍ جرگۍ له کمیسیون اوملرو ملتونو څخه دختیزو ولایتونو دخلکو غوښتنې

د افغانستان ختیز ولایتونه ( ننگرهار،لغمان او کونړ) په گڼ مېشتو ولایتونو کې راځي، خو دلویې جرگې د ځانگړي کمیسیون له خوا هغو ته ورکړل شوې ونډه د هغود نفوس په تناسب ډېره کمه ده. د بېلگې په توگه به د لغمان ولایت څلور ولسوالۍ الینگار، الیشنگ، دولت شاه او قرغه یي یادې کړو چې نفوسو یې د اوسنۍ ونډې څخه د زیاتو ونډو حق لري، همدارنگه په کونړ کې دوټه پور، شیگل، ناړۍ، پیچ (ماڼوگي) او چپې درې ولسوالۍ او نورې، دغه راز په جلال اباد کې دبهسودو، مومندرې، روداتو، خوگیاڼیو،چپرهار، کوټ، کامه او نورې ولسوالۍ، د ننگرهار پوهنتون ونډه هم کمه ده او د ننگرهار دمرکز (جلال اباد) ښار څلورگونو ناحیو ته هم کمه ونډه ورکړل شوې ده. په مجموعي ډول ددې ټولو ختیزو ولایتونو ونډه کمه ده.

موږ هیله لرو چې دلویې جرگې کمیسیون او ملگري ملتونه زموږ روا غوښتنې په پام کې ونیسي او زموږ د ولایتونو د اداري واحدونو

ونډې د هغو د نفوسو د شمېر په تناسب زیاتې کړي او که چېرې موږ ته دا حق رانه کړل شي نو موږ ځان ته د هر ډول عکس العمل حق ورکوو.

په درناوي

دختیزو ولایتونو خلك

دخلکو ددې غوښتنې پر وړاندې د کمیسیون د غړو له خوا دا امریه متن ولیکل شو:

په ختیزو ولایتونو کې دملگرو ملتونو د ځانگړي مرستیال هیئت دفتر او دملگروملتونو نورو راغلو استازو ته دختیزو ولایتونو او خپله لویې جرگې ځانگړي او خپلواك کمیسیون او ددې کمیسیون ټاکل شویو غړو ته د گڼ شمېر شکایتونو او غوښتنو د رارسېدو او خپله



کاوون کاکړ، حاجي عبدالقدیر، سرمحقق سید امین مجاهد او پوهاند عبدالعزیز

دسیمې دخلکو دشمېر د زیاتون په پام کې لرلو سره ختیزو ولایتونو ته دلویې جرگې ځانگړي کمیسیون لېږل شوی هیئت پرېکړه وکړه چې ختیزو ولایتونو ته په مجموعي ډول (۲۱) څوکۍ زیاتې کړي او په دې ډول دخلکو شکایتونو او غوښتنو ته ځواب ووایي.

په درناوي
پوهاند عبدالعزیز دلویې جرګې دخپلواك کمیسیون مرستیال
او سرمحقق سیدامین مجاهد دنوموړي کمیسیون غړی.

تر دې وروسته مرکزي کمیسیون مجاهد او پوهاند عبدالعزیز دواړه کابل ته وغوښتل او دهمدې څوکیو د زیاتولو په باب یې ورسره خبرې وکړې، هغوی ورته وویل چې موږ خو هغوی سره د ۲۱ څوکیو په زیاتولو توافق ته ورسېدو، مرکزي کمیسیون بیا مخالفت وکړ، مرکزي کمیسیون به پر اختلافاتي مسایلو رایې ګیري کوله، دا رایه ګیري به طبعاً د نا پښتنو په ګټه تمامېدله چې په کمیسیون کې د پښتنو د شمېر په تناسب زیات وو. خو بلاخره دملګروملتونو د زیات فشار او د سرمحقق سیدامین مجاهد د زیات ټینګار په نتیجه کې ختیزو ولایتونو ته په مجموعي (۱۷) سېټه زیات شول چې دې کې (۲) لغمان ته (۲) کونړ ته (۳) ننګرهارپوهنتون (۶) قبایلو ته او پاتې نور ننګرهار ته زیات شول.

موږ لا په تبلیغاتي کمپاین کې مصروف وو، چې له نورو سیاسي چلینجونو سره مخامخ شوو. په دې چلینجونو کې یو دا و چې زموږ له تبلیغاتي کمپاین سره یو ځای دنظارشورا له خوا دلویې جرګې له کمیسیون سره د همکار ګروپ په نامه څو ګروپونه جوړ شوي وو. مخکې تر دې چې موږ کومې ولسوالۍ ته لاړشو، دوی به هلته تلل او تبلیغات به یې کول، ددې ګروپونو په ترکیب کې سیداحمدساپی د کونړ د سرې میاشتې رئیس، دجمعیت د تنظیم غړی او په ختیزو ولایتونو کې د "نهضت ملي" مسئول، جنرال غلام نقشبند د امنیت ددولسم ریاست رئیس او د هغه مرستیال جنرال سخي اپریدی، د

لغمان دملي امنیت رئیس معلم اسمعیل ( مشهور په معلم پرچمي) او ځیني نور غړي چې دومره مشهور نه وو، شامل وو.

ددې ګروپ مشر جنرال نقشبند و، خو په سیاسي او تبلیغاتي برخه کې سیداحمدساپي زیاتره کارونه ترسره کول، ددوی مرکز دننګرهار د قبایلو چارو ریاست په کلوپ کې و او له کابله یې دښاغلي یونس قانوني په امضا مکتوب راوړی و، چې په هغه کې له ټولو ولایتي او د ولسوالیو چارواکو څخه غوښتنه شوې وه چې له دې ګروپ سره دلویې جرګې لپاره په انتخاباتي کمپاین کې مرسته وکړي، دوی د لویې جرګې له خپلواك کمیسیون څخه تبلیغاتي مواد هم ترلاسه کړي وو. دوی د ننګرهار ولایت په ځینو ولسوالیو لکه هسکه مېنه، ښېوه. رودات او ځینو نورو ولسوالیو کې تبلیغاتي کمپاین ترسره کړی و، دوی په خپلو خبرو کې خلکو ته ویل چې تاسو باید مجاهدینو ته رایې ورکړئ، سلطنتي نظام باید تائید نه کړي، له غرب څخه راغلي اشخاص زموږ جهاد ته سپکاوی کوي. مسعود زموږ رهبر دی، موږ اسلامي نظام غواړو او داسې نور... ددې ګروپونو هدف دا و چې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د احتمالي واکمنۍ مخه ونیسي او د جهاد تر سیوري لاندې خپلو سیاسي هدفونو ته ځان ورسوي.

کله چې زموږ ګروپونه دې ولسوالیو ته لاړل، نو خلکو موږ ته وویل چې وروره دا د لویې جرګې څو کمیسونونه دي؟ یو خو مخکې راغلی و او موږ ته یې معلومات راکړل، اوس تاسو هم وایئ چې موږ دلویې جرګې خلك یو. د "نهضت ملي" ګروپونو ځانونه دلویې جرګې دسیمه ییز کمیسیون کارکوونکي معرفي کړي وو. ځینو ځایونو کې یې پر سلطنتي نظام نیوکې کړې وې، خلکو یې سخت مخالفت کړی و، موږ چې کله پر دې مسئله خبر شوو، ولایت سره مو تماس ونیو، په ولسوالیو کې زموږ اکثرو ارتباطي غړو ددې ګروپونو د فعالیت په اړه

رپوټونه راکړل، په دره نور کې زموږ رابط غړي شېرعالم خان امله وال موږ ته د هغه مکتوب نمبر راوړ چې دا ګروپونه له کابل نه معرفي شوي دي او د نورستان ولایت واما ولسوالۍ رابط غړي موږ ته د هغه مکتوب بشپړه کاپي راوړه چې دا ګروپونه پرې له کابله معرفي شوي وو.

کله چې د ننګرهار ولایت والي حاجي عبدالقدیر ددې ګروپونو پر فعالیت خبر شو، ژر تر ژره یې امنیتي چارواکو ته هدایت ورکړ چې دا ګروپونه ونیسي، په نتیجه کې ددې ګروپ یو تن سیداحمد سایې دامنیتي چارواکو له خوا ونیول شو او بندي شو، خو د لویې جرګې دختیزو ولایتونو دفتر د ولایت له مقام خصوصاً حاجي عبدالقدیر څخه هیله وکړه چې دا مسئله باید په سوله ییز ډول حل شي. نتیجه دا شوه چې دې کسانو سره موږ یوه غونډه وکړه او دتفاهم له لارې مو مسئله حل کړه او دوی بېرته کابل ته لاړل. د هغه مکتوب کاپي داده چې دا کسان پرې ولایتونو ته معرفي شوي وو.


ادارهٔ مؤقت افغانستان
وزارت امور داخله
ریاست دفتر

به ولایت محترم [illegible]
موضوع: [illegible] گروپ کاری هماهنگی کمیسیون تدویر لویه جرگه افغانستان به ولایات
تاریخ:
شماره:

[illegible] کمیسیون تدویر لویه جرگه افغانستان بخاطر هرچه بیشتر و بهتر [illegible] و بازدید با اقشار مختلف مردم جهت تعین و انتخاب نماینده‌های واقعی مردم به لویه جرگه افغانستان عنقریب عازم ولایت شما میشوند.

[illegible] از هیچ گونه همکاری در عرصه های مختلف با اوشان دریغ نورزید و سهولت های هرچه بیشتر را به انها فراهم نمایند.

والسلام
محمد یونس قانونی
وزیر امور داخله

دا ډول مکتوبونــه او گروپونــه د ښــاغلي يــونس قــانوني لــه خــوا د افغانستان ټولو ولسواليو ته لېږل شوي وو. موږ ددې مکتـوب کـاپي او نور جريان ټول ملگرو ملتونو ته هم ورولېږل.

موږ ځکه دا مکتوبونه ملگرو ملتونو ته وسپارل چې د انتخاباتو په پروسه کې د دولت د واکمنو مداخلـه د بـن د توافقـاتو خـلاف عمـل دی. ملگروملتونــو دا خبـره کابـل کـې دولتــي چـارواکو او پــه خــاص ډول دکورنيـو چـارو وزارت وزيرښـاغلي يـونس قـانوني تـه ورسـوله، تـر هغـه وروسته په ختيزو ولايتونو کې په کابل کې ديـوه خـاص تنظـيم دگمـارل شــويو گروپونــو فعاليــت کــم شــو. يــوازې ښــاغلي عبــدالولي مســعود دملگروملتونو ددې وړانديز په هکله کلك او منفي غبرگون ښودلی و، هغـه دا گڼلـه چـې گـنې ملگـري ملتونـه غـواړي لـه مـوږ څخـه دسياسـي فعاليتونو حق سلب کړي. دښاغلي ولي مسعود دخبرو په ځواب کې د ختيزو ولايتونو دسيمه دفتر دلايل دا وو:

* دولت د بن دتوافقاتو له مخې په انتخاباتي پروسه کې دمـداخلې حق نه لري.

* دولت بايد دټولو افغانانو دهيلـو او غوښتنو منعکسـوونکی وي نه ديوه خاص تنظيم او ډلې.

* که چېرې "ملي نهضـت" يـا "نظارشورا" او يـا هـم کـوم بـل گـروپ ځان ته د سياسي او تبليغـاتي فعاليـت اجـازه او حـق ورکـوي نـو بيـا ښـه داده چې په خپل تنظيمي لگښت خپل کارونه پرمخ بوځي، نه ددولت په اقتصادي، سياسي، پوځي، اخلاقي، تخنيکي او نور ملاتړ.

* که چېرې حکومت يـا پـه حکومت کې دخاصې ډلـې واکمـن يـو مشخص تنظيم ته دفعاليت لاره اواروي نو بيـا لازمه ده چې ټولو ډلـو تـه يو شان زمينه برابره کړي.

* دې کې هېڅ شك نه شته چې که د "نهضت ملي" دې اشخاصو سره ددولت امکانات او ټریا ټلیفونونه، دولتي وسایل، دامکتوب او نورې اسانتیاوې نه وای او ټولو ولسوالیو ته دکورنیو چارو د وزیر له خوا دامکتوبونه نه وای لېږل شوي، نو څرګنده خبره ده چې دې ګروپونو په دومره خلاص مټ دلته کار نه شو کولای.

نو که تنظیمونه فعالیت کوي، ددولت امکانات باید استعمال نه کړي که په خپلو امکاناتو هر ډول سیاسي فعالیت کوي اعتراض نه شته. په هر حال تر دې جنجالونو وروسته د انتخاباتو پر پروسه ددې ګروپونو فشار کم شو، خو د دولتي امنیت له خوا په متواتر ډول مکتوبونه راتلل چې موږ ته د ولسوالیو د استازو او بیا وروسته د وکیلانو نومونه او سوانح راکړئ. خو سیمه ییز دفتر تر پایه پورې د وخت د کمي، د سیاسي، امنیتي او تخنیکي ستونزو له امله او همدارنګه دخلکو د زیات ټینګار په وجه دا لېست دولتي مسئولینو ته ونه سپاره. یوازې پر هغه ورځ ددې لېست یوه کاپي دې چارواکو ته ورکړای شوه چې وکیلان په الوتکه کې سورېدل او کابل ته دپرواز په حالت کې وو.

په تبلیغاتي کمپاین کې تر راپېښو ستونزو وروسته انتخاباتي ستونزې او د انتخاباتو د ډول او څرنګوالي ستونزه رامنځته شوه. موږ لومړی په ولسوالیو کې د انتخاباتو پلان جوړ کړ. هرې ولسوالۍ ته مو د لویې جرګې له ټاکلو څوکیو سره سم دکړنلارې مطابق خپل سهمونه مشخص کړل، لکه:

هره ولسوالۍ چې یوه څوکۍ لري، باید د ولسوالۍ په کچه ۲۰ تنه استازي وټاکي، که دوه سېټه ولري ۴۰ تنه استازي باید وټاکي او که

درې یا تر هغو زیات سېټونه ولري نو باید شپږېته تنه استازي وټاکي. د ولسوالیو د استازو دا شمېر دې په خپله د قوم د سپین ږیرو لـه خوا د هغو له خپل دود ، وېش او ونډ سره سم تقسیم شي، دهر سېټ لپاره کاندید کسان او هغوی ته رای ورکوونکي دې (موافق او مخالف) لـه ټاکلي مهالوېش سره سم د ولسوالیو مرکزونو تـه حاضرشي. هلتـه دملګروملتونو پـه حضـور کـې انتخابـات ترسره کېـدل او ګټـونکي معلومېدل او لېست ته رسېدل، په دې ډول موږ دیوې میاشتې په ترڅ کې پردې بریالي شوو، چې د ختیزو ولایتونو په ټولو اداري واحدونو کې انتخابات ترسره کړو.

یوازې دننګرهار ولایت په مومندرې او بټې کوټ ولسوالیو کې دخلکو دخپلمنځي ستونزو د شتوالي او د سېټو پر وېش باندې د توافق د نشتوالي لـه امله انتخابات ترسره نـه شول. پـه نورو ټولو ولسوالیو او اداري واحدونو کې انتخابات ترسره شول او لېستونه بشپړ شول. ټول استازي ننګرهار پوهنتون تـه د دویم پړاو انتخاباتو لپاره راغلل. دنورستان په مرکز پارون او واما ولسوالیو کې خلکو وویل چې موږ دلارې دمشکلاتو له امله جلال اباد تـه تللی نـه شو. نو موږ خپل استازي همدلته ټاکو. د پارون خلکو له خپله منځه درې او د واما خلکو یو استازی وټاکل، ددې دواړو واحدونو د استازو بشپړلېست د الوتکې د الوتو او د وخت د کمي لـه امله هغه وخت لـه موږ څخه پاتې شو. خو د ختیزو ولایتونو دنورو ټولو (۵۰) اداري واحدونو د استازو لېست په دې ډول دی:

# د ننګرهار ولایت د ولسوالیو د استازو جدول

| گڼه | نوم | د پلار نوم | دنیکه نوم | ولسوالۍ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ملك نیاز | گل محمدخان | رحمت الله خان | اچین |
| ۲ | ملك کمین خان | علي محمدخان | عظیم خان | اچین |
| ۳ | مامور تورگل | علم دین خان | زمری خان | اچین |
| ۴ | محمدیوسف | حسن خان | غالب خان | اچین |
| ۵ | تحصیل خان | میاچندرخان | میاجان | اچین |
| ۶ | ملاغمیزخان | قدیرجان | حاجي خان | اچین |
| ۷ | باغچه گل | حاجي وارث خان | سانوخان | اچین |
| ۸ | شینوارگل | حاجي غلام عیسی | محمدحسن | اچین |
| ۹ | احمدشاه | محمدنبي | ولي خان | اچین |
| ۱۰ | مولوی شمال خان | گل جان خان | میرمحمدجان | اچین |
| ۱۱ | جمال خان | امیرمحمدخان | رازملي خان | اچین |
| ۱۲ | رازمحمد | محمد | | اچین |
| ۱۴ | قاري نورستان | محمدولي خان | عمران | اچین |
| ۱۵ | حاجي امان الله | حاجي عبدالعزیز | لالاجي خان | اچین |
| ۱۶ | حیات الله | فیض الله | الله دادخان | اچین |
| ۱۷ | یارمحمدخان | یارخان | رحیم داد خان | اچین |
| ۱۸ | غوریژگل | سردارمحمد | ظریف | اچین |
| ۱۸ | محمدعمرخان | غلام محي الدین | محمدعلي | اچین |
| ۱۹ | فضل الرحمن | گل محمدخان | محمدعمرخان | اچین |
| ۲۰ | محمدکریم خان | محمدخان | نورحمن خان | اچین |
| ۲۱ | عالم خان | گلدار خان | گل پاچا | اچین |
| ۲۲ | حاجي گل محمد | گل جان خان | پهلوان خان | اچین |
| ۲۳ | حاجي گلریزخان | هاشم خان | عرب خان | اچین |
| ۲۴ | محمدعمرخان | عزیزخان | عیسی گل خان | اچین |
| ۲۵ | حاجي غلام جان | حاجي سرور خان | مسعودخان | اچین |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | محمودخان | حاجي بسم الله | زمرالله | اچین |
| ۲۷ | ضابت خان | بناپېرلله خان | محمداشرف خان | اچین |
| ۲۸ | محمدالله خان | ملك شینی | څمکنی خان | اچین |
| ۲۹ | ولي خان | شمال خان | حبیب الله | اچین |
| ۳۰ | رشیدخان | حسن خان | خوګاخېل | اچین |
| ۳۱ | محمدنظیرخان | محمدنظرخان | محمدجان | اچین |
| ۳۲ | محمداکبر | محمدمدیرخان | عقل میرخان | اچین |
| ۳۳ | شهزاده خان | خمیر شاه ګل | سازګل | اچین |
| ۳۴ | جان اکبر | قمرګی | چنارخان | اچین |
| ۳۵ | سپین داری | میرزاخان | شاه خان | اچین |
| ۳۶ | تاڼه دارخان | جمعه خان | ګل سلام خان | اچین |
| ۳۷ | دوست محمد | وزیرخان | نصیح خان | اچین |
| ۳۸ | قاري محمدطیب | محمدشعیب | حاجي دین خان | اچین |
| ۳۹ | عبدالحلیم خان | حاجي عبدالخلیل | حاجي رحمت | اچین |
| ۴۰ | محمدي جان | محمدامین | غازي خان | اچین |
| **ګڼه** | **نوم** | **د پلار نوم** | **دنیکه نوم** | **ولسوالۍ** |
| ۱ | سید ایشان | سیدیاهوجان | سیدجلال | چپرهار |
| ۲ | حاجي امان الله | ملانجیب | ملاخاتم الله | چپرهار |
| ۳ | حاجي ګلاب الدین | کازالدین | عبدالمجید | چپرهار |
| ۴ | حاجي خانو | حاجي ککي | حاجي سرګند | چپرهار |
| ۵ | ګل خان | عبدالرحمن | اغاجان | چپرهار |
| ۶ | حاجي محمداګل | حاجي غلام سخي | جلال الدین | چپرهار |
| ۷ | خلیل الرحمن | احمدجان | حاجي ملایحیی | چپرهار |
| ۸ | انجنیرمختاراحمد | حاجي نظام ګل | فتح خان | چپرهار |
| ۹ | قیام الدین | محمدنبي خان | ملایاسین | چپرهار |
| ۱۰ | بهرام خان | ګل سید | ملاسید | چپرهار |
| ۱۱ | علي شاه | جلندرشاه | ولي محمدخان | چپرهار |
| ۱۲ | حاجي فیض الله | حاجي عمرالدین | الله دادخان | چپرهار |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | عبدالله | حبیب ګل | حمیدالله خان | چپرهار |
| ۱۴ | میراکبرخان | غلام محمدخان | اغا محمدخان | چپرهار |
| | ملك شېر | دواجان | میرزاشریف الله | چپرهار |
| ۱۵ | ملك نادرخان | نبي جان | مومن خان | چپرهار |
| ۱۶ | فقیرمحمد | فضل الرحیم | عبدالرحیم | چپرهار |
| ۱۷ | حاجي یوسف خان | سید روز | درویز | چپرهار |
| ۱۸ | الله خان | زین خان | عبدالودود | چپرهار |
| ۱۹ | محمدطاهرخان | عبدالغني خان | کچکول خان | چپرهار |
| ۲۰ | ملك شیراحمدخان | ملك نورمحمد | ملك زرین خان | چپرهار |
| ۲۱ | شاه ولي خان | غلام جیلاني | ملك عبدالرحمن | چپرهار |
| ۲۲ | سید سلام | میرسلام | نورسلام | چپرهار |
| ۲۳ | سیدنظیر | وزیر | سالوخان | چپرهار |
| ۲۴ | علم ګل | حاجي میراجان | هرات خان | چپرهار |
| ۲۵ | حاجي غمی | بلوچ | اکبرخان | چپرهار |
| ۲۶ | صوفي محمدامیر | لال ګل | محمدصدیق | چپرهار |
| ۲۷ | ګل وزیر | نبي جان | محمدصدیق | چپرهار |
| ۲۸ | خواجه حبیب الله | خواجه محمد | خواجه باپا | چپرهار |
| ۲۹ | انجنیرمحمدطاهر | ملك احمدګل | محمدګل | چپرهار |
| ۳۰ | حاجي محمدطاوس | عبدالرحمن خان | تورګل | چپرهار |
| ۳۱ | غلام سخي | عبدالرحمن | محمدسالم خان | چپرهار |
| ۳۲ | نورالله | محمدشعیب | ملك یارمحمد | چپرهار |
| ۳۳ | محمدحکیم | دامیرجان | عبدالرزاق | چپرهار |
| ۳۴ | نورمحمداحدیار | لال محمد | شېردل | چپرهار |
| ۳۵ | ډاکټر عین الله | امین جان | محمدسالم خان | چپرهار |
| ۳۶ | مرجان ګل | رحیم جان | احمدجان | چپرهار |
| ۳۷ | زردین | لال دین | جلال الدین | چپرهار |
| ۳۸ | محمدفاروق | حیدرجان | سلطان جان | چپرهار |
| ۳۹ | محمدحیات مجبور | محمدداود | مختار | چپرهار |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | محمد عارف | محمد حسين | | وټه پور |
| ۲ | شاه محمود | سيد احمد ګل | | وټه پور |
| ۳ | محمد اعظم | سيد امير | | وټه پور |
| ۴ | مير زمان | خدايداد | | وټه پور |
| ۵ | رحمت خان | امير احمد خان | | وټه پور |
| ۶ | انعام الله | خان مير | | وټه پور |
| ۷ | روح الله | محصل خان | | وټه پور |
| ۸ | محمد شير خان | شاه کټهور | | وټه پور |
| ۹ | غلام نبي | غلام اسحق | | وټه پور |
| ۱۰ | محمد غفور | غلام رسول | | وټه پور |
| ۱۱ | حضرت محمد | غلام حسين | | وټه پور |
| ۱۲ | نور الله | احمد جان | | وټه پور |
| ۱۳ | تا ج محمد | محمد | | وټه پور |
| ۱۴ | محمد عزيز | ازاد خان | | وټه پور |
| ۱۵ | محمود خان | حضرت جان | | وټه پور |
| ۱۶ | غلام قادر | عبدالکريم | | وټه پور |
| ۱۷ | محمد يوسف | شير افضل | | وټه پور |
| ۱۸ | مير زمان | معتبر | | وټه پور |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | محمد صدیق | خوشال | | وته پور |
| ۲۰ | عطا الله | خیر الله | | وته پور |
| ۲۱ | محمد ها شم | رحمن سید | | وته پور |
| ۲۲ | عسکر خان | میر افضل | | وته پور |
| ۲۳ | شمروز | علي | | وته پور |
| ۲۴ | پیر محمد | محمد | | وته پور |
| ۲۵ | محمد ظاهر | خلیل الله | | وته پور |
| ۲۶ | غلام الله | بسم الله | | وته پور |
| ۲۷ | خیر الرحمن | شمس الرحمن | | وته پور |
| ۲۸ | ادم خان | مسافر | | وته پور |
| ۲۹ | خان محمد | اختر محمد | | وته پور |
| ۳۰ | حمید علي | مدیر | | وته پور |
| ۳۱ | دل ارام | عمرا خان | | وته پور |
| ۳۲ | گل محمد | میر عالم خان | | وته پور |
| ۳۳ | حبیب | کرمی | | وته پور |
| ۳۴ | جنت گل | روزي خان | | وته پور |
| ۳۵ | نور الله | محمود خان | | وته پور |
| ۳۶ | عبدالقادر | فضل الروف | | وته پور |
| ۳۷ | ملتان | رحمت خان | | وته پور |
| ۳۸ | غازي | نور محمد | | وته پور |
| ۳۹ | محمد الله | موسی خان | | وته پور |
| ۴۰ | سرور | حبیب الله | | وته پور |
| ۴۱ | محمد اشرف | عبدالرحیم | | وته پور |
| ۴۲ | شمشیر | باره الدین | | وته پور |
| ۴۳ | عبدالمجید | محمد سعید | | وته پور |
| ۴۴ | عبدالقیوم | اکبر خان | | وته پور |
| ۴۵ | محمد فقیر | شهزاده گل | | وته پور |
| ۴۶ | غلام محمد | اماني ملك | | وته پور |

| ۴۷ | رسول محمد | نور محمد | | وته پور |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | نوم | ولد | | ولسوالۍ |
| ۱ | محمد علي | ملا تور خان | | اسمار |
| ۲ | حاجي وزیر | بوستان | | اسمار |
| ۳ | تازه خان | حلیم سید | | اسمار |
| ۴ | مرسلین خان | شمشاد خان | | اسمار |
| ۵ | شمس الرحمن | عبدالحمید | | اسمار |
| ۶ | میر ولي خان | ګل زرین | | اسمار |
| ۷ | ولي جان | شیر محمد | | اسمار |
| ۸ | محمد جمیل | اصحاب | | اسمار |
| ۹ | نظر ګل | ګلد ست خان | | اسمار |
| ۱۰ | محصل خان | ملك زرین | | اسمار |
| ۱۱ | صاحب غني | یامین ملك | | اسمار |
| ۱۲ | معتبر خان | ملك نیا زبین | | اسمار |
| ۱۳ | عظیم جان | کوتي خان | | اسمار |
| ۱۴ | جضرت نبي | محمد هاشم | | اسمار |
| ۱۵ | سید خان | شیر محمد | | اسمار |
| ۱۶ | محب الله | محمد اکبر | | اسمار |
| ۱۷ | عبدالوهاب | عبدالحنان | | اسمار |
| ۱۸ | محمد یونس | محمد جان | | اسمار |
| ۱۹ | سمیع الله | رحمت خان | | اسمار |
| ۲۰ | شیرین | ګل محمد | | اسمار |
| ۲۱ | جان سردار | حاجي پا جا | | اسمار |
| ۲۲ | محمد ګل جان | اکرم خان | | اسمار |
| ۲۳ | ناصر خان | سید اکبر خان | | اسمار |
| ۲۴ | حضرت علي | محمد جان | | اسمار |
| ۲۵ | احمد جان | محمد عظیم خان | | اسمار |
| ۲۶ | صاحب دل | سید حسن | | اسمار |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | خان زمین | حاجي شیر زمین | | اسمار |
| ۲۸ | عنایت الله | ملك مه خان | | اسمار |
| ۲۹ | عبدالقیوم | عبدالرحیم خان | | اسمار |
| ۳۰ | محمد زمان | محمد علي | | اسمار |
| ۳۱ | ارسلا خان | سید امیر خان | | اسمار |
| ۳۲ | حاجي سخي | حاجي میر عالم | | اسمار |
| ۳۳ | حاجي ملنګ | ملك اجدر خان | | اسمار |
| ۳۴ | سید محمود | حسین | | اسمار |
| ۳۵ | نور محمد خان | خیبول خان | | اسمار |
| **ګڼه** | **نوم** | **ولد** | | **ولسوالۍ** |
| ۱ | شاه محمود | سید محمود | | خاص کونړ |
| ۲ | سید امین | ګل امین | | خاص کونړ |
| ۳ | باز محمد | محمد افضل | | خاص کونړ |
| ۴ | طاوس | دوا جان | | خاص کونړ |
| ۵ | محمد امین | سید کریم | | خاص کونړ |
| ۶ | معروف | نور خان | | خاص کونړ |
| ۷ | احمد شاه | صحبت خان | | خاص کونړ |
| ۸ | محمد ایوب | عبدالستار | | خاص کونړ |
| ۹ | عبدالعزیز | محمد نبي | | خاص کونړ |
| ۱۰ | ګل هادي | دوا جان | | خاص کونړ |
| ۱۱ | میر سلام | عبدالله خان | | خاص کونړ |
| ۱۲ | مطیع الله | لطف الله | | خاص کونړ |
| ۱۳ | تاجور | حبیب خان | | خاص کونړ |
| ۱۴ | رحمن خان | ګل رحمن | | خاص کونړ |
| ۱۵ | میر محمد | نظر محمد | | خاص کونړ |
| ۱۶ | اسد الله | محمد صدیق | | خاص کونړ |
| ۱۷ | عبدالجلیل | مر سلین | | خاص کونړ |
| ۱۸ | ګل پاچا | سید عمر | | خاص کونړ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | محمد حکیم | محمد انور | | خاص کونړ |
| ۲۰ | عبدالمتین | سید خان | | خاص کونړ |
| ۲۱ | فضل رحیم | پیر محمد | | خاص کونړ |
| ۲۲ | محمد رفیق | خضر خان | | خاص کونړ |
| ۲۳ | سید مهربان | محمد علي | | خاص کونړ |
| ۲۴ | غلام محمد | ملنگك | | خاص کونړ |
| ۲۵ | عبدالبصیر | عبدالجلیل | | خاص کونړ |
| ۲۶ | نیك محمد | فضل کریم | | خاص کونړ |
| ۲۷ | فضل رحمن | عزیز رحمن | | خاص کونړ |
| ۲۸ | محمدرحیم | محمد نبي | | |
| ۲۹ | عبدالمجید | ولي محمد | | خاص کونړ |
| ۳۰ | جلات خان | مغل خان | | خاص کونړ |
| ۳۱ | محمد عارف | عزیز الله | | خاص کونړ |
| ۳۲ | فدا محمد | خان محمد | | خاص کونړ |
| ۳۳ | محمد الله | محمد شفیع | | خاص کونړ |
| ۳۴ | عبدالستار | ابرا هیم | | خاص کونړ |
| ۳۵ | سالارزي | رحیم خان | | خاص کونړ |
| ۳۶ | محمد اسرایل | مهرالدین | | خاص کونړ |
| ۳۷ | نور الله | غلام دستگیر | | خاص کونړ |
| ۳۸ | محمد هاشم | محمد ولي | | خاص کونړ |
| ۳۹ | عبدالستار | میا گل | | خاص کونړ |
| ۴۰ | حیات الله | محمد اسما عیل | | خاص کونړ |
| ۴۱ | روح الله | نوراني | | خاص کونړ |
| ۴۲ | محمد نعیم | غلام حضرت | | خاص کونړ |
| گڼه | نوم | ولد | | ولسوالۍ |
| ۱ | محمد عالم | عبدالکریم | | دانگام |
| ۲ | نادر مشوانی | صنوبر خان | | دانگام |
| ۳ | سید احمد خان | سمون | | دانگام |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | محمد منیر | حاجي عبدالحق | | دانگام |
| ۵ | نادر خان | عبدالحق | | دانگام |
| ۶ | رستم خان | اکرم خان | | دانگام |
| ۷ | مفاد (ځیر) | حاجي سید جان | | دانگام |
| ۸ | خانزاده | محمد جان | | دانگام |
| ۹ | عبدالمتین | عبدالغفا ر | | دانگام |
| ۱۰ | سهیم خان | حاجي ساز خان | | دانگام |
| ۱۱ | محمد ولي | ملك حضرت غلام | | دانگام |
| ۱۲ | سید عظیم | گل محمد خان | | دانگام |
| ۱۳ | سعید الله | حاجي خان گړی | | دانگام |
| ۱۴ | وارث خان | حسن خان | | دانگام |
| ۱۵ | شاه ولي خان | میر عظیم خان | | دانگام |
| ۱۶ | ملك اولي خان | صفت خان | | دانگام |
| ۱۷ | ملك سراج الدین | پام جان | | دانگام |
| ۱۸ | گل زیر خان | فضل رحمن | | دانگام |
| ۱۹ | شاه سوار | پاچا خان | | دانگام |
| ۲۰ | سنگین | عبدالقیوم | | دانگام |
| ۲۱ | حاجي شیر محمد | حاجي صالح محمد | | دانگام |
| ۲۲ | مزمن | امیر خان | | دانگام |
| ۲۳ | قلندر | گلزمان | | دانگام |
| ۲۴ | شاهي خان | سید کلام | | دانگام |
| ۲۵ | زیارت گل | فضل جان | | دانگام |
| ۲۶ | غلام حیدر | عبدالمختار | | دانگام |
| ۲۷ | حاجي تیمور شاه | محمد خان | | دانگام |
| ۲۸ | سید محبوب شاه | سید شاه | | دانگام |
| ۲۹ | قریب الله | عبدالغفار | | دانگام |
| **گڼه** | **نوم** | **ولد** | | **ولسوالۍ** |
| ۱ | حاجي امان الله | حاجي گل محمد | | مروره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | محمد زمان | حاجي محمد گل | | مروره |
| ۳ | دلبر | عبدالرحمن | | مروره |
| ۴ | حاجي حکیم خان | ثرگند خان | | مروره |
| ۵ | محمد | سید کریم | | مروره |
| ۶ | گل محمد شاه | حاجي مبارکشاه | | مروره |
| ۷ | شریف | حاجي سید عباس | | مروره |
| ۸ | محمد امین | عبدالقادر | | مروره |
| ۹ | شیر محمد خان | سردار خان | | مروره |
| ۱۰ | غلام رحمن | حفیظ | | مروره |
| ۱۱ | سید کمال | اکبر خان | | مروره |
| ۱۲ | حکیم سید | حلیم سید | | مروره |
| ۱۳ | دوست محمد | حاجي بختیار | | مروره |
| ۱۴ | حاجي محمد عارف | سیدا لرحمن | | مروره |
| ۱۵ | حاجي حبیب الله | حاجي حبیب | | مروره |
| ۱۶ | مکرم خان | اکبر شاه | | مروره |
| ۱۷ | حیات شاه | میا گل | | مروره |
| ۱۸ | حاجي عبدالظاهر | یار محمد | | مروره |
| ۱۹ | خان محمد | نور محمد | | مروره |
| ۲۰ | حاجي شیتا | حاجي تورسم | | مروره |
| ۲۱ | حاجي فیض محمد | لال محمد | | مروره |
| ۲۲ | محمد سلیم | فقیر محمد | | مروره |
| ۲۳ | بخت پور | سربلند | | مروره |
| ۲۴ | گل خان | سردار خان | | مروره |
| ۲۵ | محمد ادریس | محمد اکبر | | مروره |
| ۲۶ | حاجي شیرعالم | ملك رمضان | | مروره |
| ۲۷ | حاجي عبدالعزیز | ملك محمد شاه | | مروره |
| ۲۸ | امیر سلام | محمد اسلم | | مروره |
| ۲۹ | جان محمد | خان محمد | | مروره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | محمد غوث | حضرت غوث | | مروره |
| ګڼه | نوم | ولد | | ولسوالۍ |
| ۱ | حاجي غلام سخي | حاجي عابدخان | | نرنګ |
| ۲ | نعمت الله | عبدالمتین | | نرنګ |
| ۳ | حزب الله | غلام حبیب | | نرنګ |
| ۴ | ګلرزا | سید احمدخان | | نرنګ |
| ۵ | محمد نعیم | عجب خان | | نرنګ |
| ۶ | سیدمحمد | ګلزازی | | نرنګ |
| ۷ | مولوي محمد طالب | جمدرخان | | نرنګ |
| ۸ | عبدالجلال | کامل خان | | نرنګ |
| ۹ | محمد داود | لعل جان | | نرنګ |
| ۱۰ | حاجي غلام فاروق | حاجي محمد رحیم | | نرنګ |
| ۱۱ | قاضي محمد | عبدالغیاث | | نرنګ |
| ۱۲ | عبدالروف | عبدالحمید | | نرنګ |
| ۱۳ | ننګیالی | سخي سرور | | نرنګ |
| ۱۴ | عبدالمالك | غلام حضرت | | نرنګ |
| ۱۵ | محمد سید | جمعه ګل | | نرنګ |
| ۱۶ | حاجي شهیدالله | احمد نور | | نرنګ |
| ۱۷ | نور محمد | سر فراز | | نرنګ |
| ۱۸ | سید حسین | حاجي عبدالقادر | | نرنګ |
| ۱۹ | شېراعظم | نور محمد خان | | نرنګ |
| ۲۰ | محمد حسین | سیداجان | | نرنګ |
| ۲۱ | عبدالله | حاجي عبدالجلیل | | نرنګ |
| ۲۲ | حاجي صبعت الله | محمد امین | | نرنګ |
| ۲۳ | محمدباز | رئیس | | نرنګ |
| ۲۴ | سید خلیل الله | سید غلام سرور | | نرنګ |
| ۲۵ | عبدالصدیق | ګل رحمن | | نرنګ |
| ګڼه | نوم | ولد | | ولسوالۍ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | حبیب الرحیم | فضل الرحیم | | ناړی |
| ۲ | مسافر | خلیل شاه | | ناړی |
| ۳ | سید نبي | عبدالحق | | ناړی |
| ۴ | حاجي سید امین | سید عالم | | ناړی |
| ۵ | گل احمدخان | قادرشاه | | ناړی |
| ۶ | ظفر خان | زرملاخان | | ناړی |
| ۷ | غلام سخي | سردار داود | | ناړی |
| ۸ | اکبر خان | شېرمحمد | | ناړی |
| ۹ | جمال الدین | نورجلال | | ناړی |
| ۱۰ | حاجي عبدالمتین | حاجي عبدالله | | ناړی |
| ۱۱ | محمد افضل | ملك خان | | ناړی |
| ۱۲ | حاجي ولایت | حاجي روزمحمد | | ناړی |
| ۱۳ | خسرو | محمدالله | | ناړی |
| ۱۴ | قاضي عبدالستار | غلام سلامی | | ناړی |
| ۱۵ | عبدالرحیم | پاچاخان | | ناړی |
| ۱۶ | ملنگ | صابر | | ناړی |
| ۱۷ | حاجي ملنگ | فاتح خان | | ناړی |
| ۱۸ | گل حسن خان | باورخان | | ناړی |
| ۱۹ | حاجي شېرزمین | قلندرشاه | | ناړی |
| ۲۰ | رفیق | تازه گل | | ناړی |
| ۲۱ | مسافر | حاجي شیرین | | ناړی |
| ۲۲ | ملك دلیل | حسن خان | | ناړی |
| ۲۳ | عمراخان | روزي | | ناړی |
| ۲۴ | دایم خان | حاجي گل محمد | | ناړی |
| ۲۵ | محمد اکبر | ملك فیروز | | ناړی |
| ۲۶ | حاجي محمد افضل | امین جان | | ناړی |
| ۲۷ | حاجي تاجبرخان | گل احمد خان | | ناړی |
| ۲۸ | عبدالقیوم | ملك ممبر | | ناړی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | نعمت الله | محمد افضل | | ناړۍ |
| ۳۰ | حاجي سرفراز | شیرین | | ناړۍ |
| ۳۱ | حاجي ګل محمد | حاجي عبدالمتین | | ناړۍ |
| ۳۲ | احمدخان | ګلداعلي | | ناړۍ |
| ۳۳ | سید رحمن | ملك وزیر | | ناړۍ |
| ۳۴ | عبدالرحیم | ګلاب سید | | ناړۍ |
| ۳۵ | عبدالخالق | ملك اکبر | | ناړۍ |
| ۳۶ | سلطان محمد | جان الله | | ناړۍ |
| ۳۷ | کشر خان | اجداعلي | | ناړۍ |
| ۳۸ | زړور | حاجي امین | | ناړۍ |
| ۳۹ | رحمت ګل | نوروز | | ناړۍ |
| ۴۰ | زاهدالله | میاګل | | ناړۍ |
| ۴۱ | عبدالکریم | شهزاده | | ناړۍ |
| ګڼه | نوم | ولد | | ولسوالۍ |
| ۱ | زرګل | څائی | | سرکاڼي |
| ۲ | ګل منان | عبدالمنان | | سرکاڼي |
| ۳ | مسافرخان | عبدالمنان | | سرکاڼي |
| ۴ | محمد نادر | حاجي محمدکریم | | سرکاڼي |
| ۵ | تماش خان | سید احمد جان | | سرکاڼي |
| ۶ | مولوي | عبدالصمد | | سرکاڼي |
| ۷ | مغل خان | حبیب شیخ | | سرکاڼي |
| ۸ | نثاراحمد | څګرور | | سرکاڼي |
| ۹ | قابل | فتح خان | | سرکاڼي |
| ۱۰ | میرامان خان | محمد سرور | | سرکاڼي |
| ۱۱ | عبدالخالق | یاردل | | سرکاڼي |
| ۱۲ | سید ګوهرشاه | سید مقام شاه | | سرکاڼي |
| ۱۳ | اقبال خان | حبیب الله خان | | سرکاڼي |
| ۱۴ | داکترمحمدجمیل | حاجي محمدکریم | | سرکاڼي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | اغاجان | سید ګل جان | | سرکاڼي |
| ۱۶ | حاجي امانت خان | حاجي محمد میران | | سرکاڼي |
| ۱۷ | بهادرخان | حاجي شېرمحمد | | سرکاڼي |
| ۱۸ | محمدظاهر | امیرنواب | | سرکاڼي |
| ۱۹ | فضل واحد | فضل قادر | | سرکاڼي |
| ۲۰ | محمد افضل | خانه ګل | | سرکاڼي |
| ۲۱ | شېر علي | حضرت محمد | | سرکاڼي |
| ۲۲ | سید رحمن | نور رحمن | | سرکاڼي |
| ۲۳ | ولي محمد | اخونزاده | | سرکاڼي |
| ۲۴ | عبدالغیاث | مسافرخان | | سرکاڼي |
| ۲۵ | سید رحمن | ډبل | | سرکاڼي |
| ۲۶ | غلام خان | سید عظیم | | سرکاڼي |

| ګڼه | نوم | د پلار نوم | | ولسوالۍ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | منجور | محمد صدیق | | پېچ ننګلام |
| ۲ | حضرت جمال | محمد الله | | پېچ ننګلام |
| ۳ | محمد زرین | محمد عمر خان | | پېچ ننګلام |
| ۴ | عظیم جان | زمین خان | | پېچ ننګلام |
| ۵ | عبدالقدوس | مخدوم خان | | پېچ ننګلام |
| ۶ | دوران | ګل شیر | | پېچ ننګلام |
| ۷ | اعظم | دلاور خان | | پېچ ننګلام |
| ۸ | شیر خان | شامان | | پېچ ننګلام |
| ۹ | ګل محمد | ابراهیم | | پېچ ننګلام |
| ۱۰ | شمشیر | باز میر | | پېچ ننګلام |
| ۱۱ | شکور محمد | عبدالحمید | | پېچ ننګلام |
| ۱۲ | محمد همېش | عبد الله | | پېچ ننګلام |
| ۱۳ | حزب الله | محمد ولي | | پېچ ننګلام |
| ۱۴ | زاهد الله | خان محمد | | پېچ ننګلام |
| ۱۵ | عبدالقیوم | ګل محمد | | پېچ ننګلام |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | زبر دست | مبین | | پېچ ننګلام |
| ۱۷ | ازول ګل | اول خان | | پېچ ننګلام |
| ۱۸ | میر احمد | وزیر ګل | | پېچ ننګلام |
| ۱۹ | حضرت جمیل | انزر خان | | پېچ ننګلام |
| ۲۰ | عبدالنا صر | محمد میر | | پېچ ننګلام |
| ۲۱ | حاجي روح الله | محمد وکیل | | پېچ ننګلام |
| ۲۲ | محمد صابر | ساز نور | | پېچ ننګلام |
| ۲۳ | نعمت الله | میر احمد | | پېچ ننګلام |
| ۲۴ | فضل محمد | فضل رحمن | | پېچ ننګلام |
| ۲۵ | پسم الله | ګلا خان | | پېچ ننګلام |
| ۲۶ | پیر محمد | صالح محمد | | پېچ ننګلام |
| ۲۷ | شاکر الله | عبدالسلام | | پېچ ننګلام |
| ۲۸ | ګل عالم | احمد عبدالکریم | | پېچ ننګلام |
| ۲۹ | ظاهر | شاه زمان | | پېچ ننګلام |
| ۳۰ | ریاض الله | میر عالم | | پېچ ننګلام |
| ۳۱ | ګل رحیم | خیر محمد | | پېچ ننګلام |
| ۳۲ | نور کمال | اکرم خان | | پېچ ننګلام |
| ۳۳ | صاحب خان | حضرت خان | | پېچ ننګلام |
| ۳۴ | عبدالروف | عبدالوهاپ | | پېچ ننګلام |
| ۳۵ | رجیم ګل | زین الله | | پېچ ننګلام |
| ۳۶ | میر عطا خان | سید ملا | | پېچ ننګلام |
| ۳۷ | سید جلال | سید جان | | پېچ ننګلام |
| ۳۸ | نظر محمد | فقیر محمد | | پېچ ننګلام |
| ۳۹ | محمد عرب | حاجي عین الله | | پېچ ننګلام |
| ۴۰ | مستقیم | امروز | | پېچ ننګلام |
| ۴۱ | اکبر خان | محمد جبار خان | | پېچ ننګلام |
| ۴۲ | عبدالقیوم | صا حب رحمن | | پېچ ننګلام |
| ۴۳ | هدایت الله | محمد ګل | | پېچ ننګلام |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۴ | حاجي محمد دوران | نور محمد | | پېچ ننګلام |
| ۴۵ | حاجي سلیمان | حاجي محمد نظیف | | پېچ ننګلام |
| ۴۶ | رحیم داد خان | سمیع الله | | پېچ ننګلام |
| ۴۷ | ذاکر الله | حیاګل | | پېچ ننګلام |
| ۴۸ | حصرت نبي | فضل محمد | | پېچ ننګلام |
| ۴۹ | حضرت محي الدین | محمد باز | | پېچ ننګلام |
| ۵۰ | عبدالغني | مصلح الدین | | پېچ ننګلام |
| ۵۱ | شان محمد | جمند خان | | پېچ ننګلام |
| ۵۲ | پاچا وزیر | میرزا محمد | | پېچ ننګلام |
| ۵۳ | شمندروز | سید احمد خان | | پېچ ننګلام |
| ۵۴ | محمد نظیر | محمد اکرم | | پېچ ننګلام |
| ۵۵ | محمد حضرت | شیر علي خان | | پېچ ننګلام |
| ۵۶ | حمید الله | قیوم | | پېچ ننګلام |
| ۵۷ | غلام محمد | محمد کمال | | پېچ ننګلام |
| ۵۸ | محمد حسن | عبداخبیر | | پېچ ننګلام |
| ۵۹ | شا ه ولي | عبدالوهاب | | پېچ ننګلام |
| ۶۰ | عبدالظاهر | جان محمد | | پېچ ننګلام |
| ۶۱ | محمد زمین | نصرالدین | | پېچ ننګلام |
| ۶۲ | فضل جان | رحمن جان | | پېچ ننګلام |
| ۶۳ | مصل خان | حاجي حسن خان | | پېچ ننګلام |
| ۶۴ | مولوي توکل | محمد ساز | | پېچ ننګلام |
| ۶۵ | حاجي فضل اکبر | حاجي رحیم خان | | پېچ ننګلام |
| ۶۶ | حاجي سمع الله | حاجي غلام حیدر | | پېچ ننګلام |

کله چې د ولسوالیو د استازو لیست بشپړ شو، د لومړي پړاو انتخابات ترسره شول، نو بیا د ولسوالیو د وکیلانو د انتخاباتو

موضـوع او ددې لپـاره د کـړنلارې د جوړولـو مسـله مطـرح شـوه، د انتخابـاتو د څـارنې لپـاره د یونامـا ترڅنـګ مـوږ درې تنـه بهرنـي څارونکي هم درلودل چې یو امریکایي، یو اوکراینی او یو هم جرمنی و.

دوی د انتخاباتو په باب څو نظرونه وړاندې کړل، یو دا چې هر سړی حق لري د ولسوالیو د څوکیو د شمېر په تناسب رایې استعمال کړي، لکه یوه ولسوالۍ (۳) څوکۍ لري، یو سړی باید درې ځله رایې استعمال کړي. بل وویل چې هر سړی باید ځانته یو نښان ولري، د هرچا صندوق باید معلوم وي، پر صندوق یې خپل نښان وي، دا نښان باید خلکو ته توضیح شي او خلك د خپلې خوښې کاندیدانو ته رایې ورکړي. یوه ویل چې یوه رایه درلودونکی باید لږ تر لږه دوه ځله د رایې د استعمال حق ولري، خو خپله شخصاً زما طرح دا وه چې یو رایې ورکوونکی یوازې یو ځل د خپلې رایې د استعمال حق لري او یوازې یو صندوق د انتخاباتو لپاره په کار دی، نه نښان ته ضرورت شته او نه ډېرو بکسونو ته!

د انتخاباتو د نړیوالو څارونکو له خوا د هر کاندید لپاره بېلابېل نښانونه په پام کې نیول شوي وو:




لومړی نظر موږ ځکه رد کړ چې: دلته کار څو ځله زیاتېږي. د کارتونو شمېر له دوو نیولې تر شپږ ځلو زیاتېږي او د ټول زون په کچه دا کار پنځه یا شپږ ځله ګرانېږي. بله خبره دا ده چې دې انتخاباتو کې محدود شمېر منسجم اقلیت پر متفرق اکثریت واکمنېږي او ټولې څوکۍ ګټي. په داسې حال کې چې د انتخاباتو دمشروعیت یو اصل دادی چې اکثریت باید ګټونکي شي نه اقلیت. ما دوی ته یو مثال ورکړ: لکه په خوګیانو ولسوالۍ کې چې ټول پنځه سېټه لري او د ولسوالیو د ټولو استازو شمېر یې (۶۰) تنه دی.

شپېته تنه په ولسوالۍ کې پر بېلابېلو ټبرونو وېشل شوي دي، مثال یو ټبر ته (۱۰) تنه ونډه رسېدلې، بل ته (۹) تنه بل ته هم (۹) بل ته (۸)،



په ننگرهار ولایت کې د انتخاباتي بهیر یو انځور

بل ته (۷)، بل ته (۶)، بل ته (۵)، بل ته (۴) او بل ته هم (۴) یا (۳). دا مثال په ټولو ولسوالیو کې صدق کوي البته د ارقامو په توپیر. اوس که چېرې موږ رایې ورکوونکو ته د ولسوالیو دسېټونو په تناسب د رایې د استعمال حق ورکړو، نو دخوگیاڼو په ولسوالۍ کې دلومړي ټبر خلك چې د هر ټبر پر وړاندې اکثریت دي خو په مجموعي شمېر او تناسب کې اقلیت دي ټولې پنځه څوکۍ گټي، مانا دا چې دوی لومړی یو ځل خپل یوه کاندید ته لس رایې ورکوي هغه په خپلو لسو رایو کامیابوي، دویم ځل بیا هم همدا عمل تکرارېږي او همداسې تر پایه. نو په دې ډول دا ټبر ټولې پنځه څوکۍ ترلاسه کوي او نور پنځوس رایې ورکوونکي چې تر دې ډلې یې شمېر په مجموع کې پنځه ځله زیات دی انتخابات بایلوي، خو د یو ووټ په سیستم کې لومړی لس، بیا ۹، بیا ۹، ۸، ۷ چې له شپېتو نه د ۴۵ شمېر دی، انتخابات گټي. په څو ووټیز سیستم کې اکثریت انتخابات بایلوي چې دا په خپله د انتخاباتو مشروعیت تر

پښو لاندې کوي، خو په یو ووټیز سیستم کې اکثریت انتخابات گټي بل په انتخاباتو کې یو شمېر داسې کسان هم وي، چې د پیسو او زور په واسطه خپلې رایې خرڅوي او بدلوي، نو که یو سړی یو ځل خپله رایه خرڅه کړي، ښه ده او که څو ځله.

که چېرې یو ووټ یو ځلي استعمال شي، نو رایې ورکوونکي په ډېر دقت سره هغه کاروي او که احیاناً په نامشروع ډول خپل ووټ استعمال کړي نو یو ځل له دې حق څخه گټه پورته کولای شي او بس. موږ ته په کار ده چې په انتخاباتو کې د ووټونو د خرڅلاو مخه ونیسو، بل په دې حالت کې موږ تر نورو (څو وټیزوالو) انتخاباتو څو ځله د وخت او مالي لگښت سپما کوو.

موږ اوس کولای شو پر یوه ورځ دیوه ولایت انتخابات ترسره کړو. خو په هغو نورو حالاتو کې دا وخت څو ځله زیاتېږي، د صندوقونو د استعمال په برخه کې هم باید یو صندوق د ټولو رایې ورکوونکو مخ کې کېښودل شي، باید  هغوی صندوق وگوري. بیا صندوق د پردې شاته کېښودل شي او قلم ورسره کېښودل شي، هرڅوك چې رایې ورکوي هغه ته باید لومړی د ټولو خلکو مخ کې د رایې کارت ورکړل شي، هغه د پردې شاته لاړشي قلم راواخلي او د خپل کاندید نوم په کارت کې ولیکي او صندوق کې یې واچوي، درایې یا ووټ په کارت کې باید یوازې د کاندید نوم ولیکل شي نه د رایې ورکوونکي، په دې ډول رایې ورکوونکي محفوظ او له خطره خوندي پاتې کېږي. مخکې تر دې چې رایې ورکوونکي خپله رایه وکاروي باید د ټولو کاندیدانو نومونه په تخته ولیکل شي او رایې ورکوونکو ته معرفي شي.

د انتخاباتو بهرنیو کارکوونکو موږ سره دوه ورځې د انتخاباتو پر دې طرز بحث وکړ، بلاخره هغوی قانع شول او زموږ طرحه یې ومنله خو

د افغانستان په نورو سیمو کې انتخابات په دې ډول ترسره نه شول، په شمال کې د څو رایو سیستم پلی شوی و او په ځینو نورو ولایتونو کې ځینې نور سیستمونه، کله چې موږ په ننګرهار پوهنتون کې همدا سیستم عملي کړ، نو ډېر اسانه و، په نتیجه کې په څلور ورځو کې موږ د څلورو ولایتونو انتخابات په ښه ډول ترسره کړل او دغه لاندې وکیلان بریالي شول او په لویه جرګه کې یې ګډون وکړ:

## د افغانستان دختیزو ولایتونو د لویې جرګې وکیلان

ننګرهار ولایت

| ګڼه | نوم | دپلارنوم | ولسوالي |
|---|---|---|---|
| ۱ | محمدانورسلطاني | سلطان محمد | لومړۍ ناحیه |
| ۲ | حاجي نصیراحمد | حاجي فقیرمحمد | // |
| ۳ | غلام حیدر | غلام حضرت | // |
| ۴ | حاجي غلام دستګیر | وکیل عبدالرحیم | دویمه ناحیه |
| ۵ | ولي محممدعبدياني | حاجي شیراحمد | // |
| ۶ | ډاکټرسیدبهاکریمي | سیدکریم | دریمه ناحیه |
| ۷ | محمدابراهیم | محمداسماعیل | // |
| ۸ | محمدالله خان | عبدالشکور | // |
| ۹ | مولوی محمدقابل | سلطان جان | څلورمه ناحیه |
| ۱۰ | حاجي زلمی | حاجي سیدعالم | // |
| ۱۱ | میرویس یاسیني | عبدالستار | کامه |
| ۱۲ | مولوی عطاوالله | شمس الرحمن | // |
| ۱۳ | سیدعزیز | سیدنعمان | // |
| ۱۴ | شهزاده | محمدجان | // |
| ۱۵ | حاجي محمدیګل | حاجي نواب الدین | بهسود |
| ۱۶ | انجنیرعبدالغفار | حاجي فیض ګل | // |
| ۱۷ | حاجي محمدابراهیم | محمدعلي | سره رود |
| ۱۸ | ډاکټرفضل محمد | فتح محمد | // |
| ۱۹ | لعل اغا | شیراغا | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۰ | شکرالله | عبدالستار | // |
| ۲۱ | عبدالجبار | گلان | // |
| ۲۲ | داودشاه | محمدشاه | بنېوه |
| ۲۳ | ملك قیص | عبدالغفار | // |
| ۲۴ | غلام حضرت روغمن | فقیرمحمد | // |
| ۲۵ | گل محمدخان | محمدشاه خان | دره نور |
| ۲۶ | محمدنظر | غزن خان | // |
| ۲۷ | حاجي عبدالقدیر | حاجي خیال الدین | شینوار |
| ۲۸ | سیدموجودشاه | سیدقدرت شاه | // |
| ۲۹ | انجنیرفقیرمحمد | فضل الرحیم | چپرهار |
| ۳۰ | امان الله | غلام نبي | // |
| ۳۱ | محمدولي | میراگل | کوټ |
| ۳۲ | محمدنبي | محمدنواب خان | // |
| ۳۳ | بهاوالله | حاجي مطیع الله | رودات |
| ۳۴ | ډاکټرسیدفضل رباني | سیدموسی | // |
| ۳۵ | نجم الدین | پاچادین | // |
| ۳۶ | ډاکټرمحمدکریم باز | بازمحمدخان | خوګیاڼی |
| ۳۷ | حاجي امان | خیرالله | // |
| ۳۸ | الله نظر | امین الله | // |
| ۳۹ | حاجي سیف الله | مهراب خان | // |
| ۴۰ | عبدالرحیم | خطاب | // |
| ۴۱ | ببرك شینواری | ملك توتا | نازیان |
| ۴۲ | حاجي یاغیستان | ملك البند | // |
| ۴۳ | سوچه گل | عجب خان | دورباba |
| ۴۴ | محمددیدار | اجیرخان | // |
| ۴۵ | حاجي نذیر | حاجي حنیف | پچیراگام |
| ۴۶ | حاجي سیدامیر | ښایسته میر | // |
| ۴۷ | حاجي سردارخان | حاجي محمداصغر | لالپوره |
| ۴۸ | ډاکټر همایون | گل عالم | هسکه مېنه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۹ | بادام ګل | اکبرخان | // |
| ۵۰ | عبدالحلیم | عبدالخلیل | اچین |
| ۵۱ | حاجي امان الله | عبدالعزیز | // |
| ۵۲ | فضل الرحمان | ګل محمد | // |
| ۵۳ | ښایسته زر | پنیرخان | سپین غر |
| ۵۴ | انجنیرمحمدعمر | ماما زرغون شاه | // |
| ۵۵ | حاجي محمدظاهر | محمدعمر | شېرزاد |
| ۵۶ | ډاکټرمحمداصف | محمددین | // |
| ۵۷ | معلم ګل محمد | لعل محمدخان | // |
| ۵۸ | حاجي محمدداود | محمدزمان | حصارك |
| ۵۹ | انجنیرعبیدالله | سلیم | // |
| ۶۰ | روح الامین | حبیب الرحمن | ګوشته |
| ۶۱ | حاجي بابو | پیرمحمد | مومندره |
| ۶۲ | ډاکټرشاه محمد | محمدنبي | // |
| ۶۳ | ګل انور | محمدانور | بټي کوټ |
| ۶۴ | احسان الله | ولي خان | // |
| ۶۵ | برهان الله | خان شاه | // |
| ۶۶ | محمداسمعیل | حاجي بلوخان | داخلي ښځایه شوي |
| ۶۷ | عمرزاخېلوال | | د متخصصینو په استازی |
| ۶۸ | حاجي دین محمد | | دقبایلو په استازی |

# لغمان ولایت وکیلان

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۹ | سیدمحمدخان | شېرعلي خان | مهترلام |
| ۷۰ | سمیع الله خان | محمدحکیم | // |
| ۷۱ | پوهاندمحمدحسن کاکړ | میرزافضل حق | // |
| ۷۲ | جمعه ګل | عبدالسلام | // |
| ۷۳ | عبدالغفور | میرزامحمدقیوم | // |
| ۷۴ | محصل خان | میاجان | // |
| ۷۵ | ډاکټرمحمدامین | محمدرحیم | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷۶ | محمدګل | حاجي شېرګل | الينګار |
| ۷۷ | پوهنمل محمداسمعيل يون | محمدخان | // |
| ۷۸ | حاجي محمدکريم | مغل خان | // |
| ۷۹ | عبدالرحيم | علوجان | // |
| ۸۰ | عصمت الله | عبدالقيوم | // |
| ۸۱ | جنرال موسی خان | سيدحضرت | قرغه يي |
| ۸۲ | موسم خان | محمدعمر | // |
| ۸۳ | مکرم خان | ميراجان | // |
| ۸۴ | ډاکترعبدالمالك | ملك شيرين دل | // |
| ۸۵ | عبدالمنير | عبدالهادي | // |
| ۸۶ | سيداغا | عبدالهادي | اليشنګ |
| ۸۷ | شېرمحمد | ملك جمعه خان | // |
| ۸۸ | عبدالجبار | مهی الدين | // |
| ۸۹ | اسدالله | محمديوسف | // |
| ۹۰ | محمدعمرتسکين | عبدالغفار | دولت شاه |
| ۹۱ | عبدالجميل | محمدعزيز | // |

# کونړ ولايت

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۲ | حاجي غازي خان | محمدګل | اسعداباد |
| ۹۳ | صاحبزاده | محمدګل | // |
| ۹۴ | غلام دستګير | محمداجان | // |
| ۹۵ | شهزاده | حياجان | خوکۍ |
| ۹۶ | پاچاګل | ميارحيم | // |
| ۹۷ | حاجي امانت | محمدميران | سرکانۍ |
| ۹۸ | شاهدالله | احمدنور | نرنګ |
| ۹۹ | غلام نبي | غلام اسحاق | وټه پور |
| ۱۰۰ | محمدهاشم | رحمن سعيد | // |
| ۱۰۱ | حاجي روح الله | محمدوکيل | پيچ دره |
| ۱۰۲ | صاحب جان | حضرت عالم | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰۳ | رحیم داد | سمیع الدین | // |
| ۱۰۴ | عبدالولي | شیردست | پشد |
| ۱۰۵ | شاه جهان | خزین | شیګل |
| ۱۰۶ | ډاکټرمحمدامین | محمدعیسی | نورګل |
| ۱۰۷ | محمداسلم | محمدایوب | // |
| ۱۰۸ | شاه محمودمیاخیل | سیدمحمود | خاص کونړ |
| ۱۰۹ | محمدالله | محمدشعیب | // |
| ۱۱۰ | عبدالظاهر | یارمحمدخان | چپه دره |
| ۱۱۱ | ګلاخان | سعدالله خان | // |
| ۱۱۲ | مفادخیر | سیدجان | دانګام |
| ۱۱۳ | حاجي سیدامین | سیدعالم | نارۍ |
| ۱۱۵ | حاجي عبدالعزیز | محمدشاه | مروره |
| ۱۱۶ | محصل خان | ملك زرین | اسمار |

# نورستان ولایت

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۷ | عبدالحلیم | عبدالرحیم | پارون |
| ۱۱۸ | زینت الله | سیدرسول | // |
| ۱۱۹ | محمدموسی | شېرمحمد | // |
| ۱۲۰ | عطاوالله | دین محمد | منډول |
| ۱۲۱ | محمدسرور | معراج الدین | // |
| ۱۲۲ | مولوی عبدالحلیم | عبدالله | // |
| ۱۲۳ | غلام سخي | محمدموسی | ننګراج |
| ۱۲۴ | تمیم | محمدزبیر | برګ متال |
| ۱۲۵ | سمیع الحق | محمدافضل | // |
| ۱۲۶ | ګل اعظم | چیرا | وایګل |
| ۱۲۷ | احمدیوسف | احمدخان | // |
| ۱۲۸ | عبدالحنان | عبدالله | کامدیش |
| ۱۲۹ | عبدالمنان | حضرت خان | // |
| ۱۳۰ | شجاع الملك | عبدالمالك | غازي اباد |
| ۱۳۱ | مولوی محمدګل | نورالله | واما |
| ۱۳۲ | علاوالدین | عبدالقدیر | دواب |
| ۱۳۳ | نورولي | ولي محمد | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳۴ | حاجي خواني | | دقبايلو استازي |
| ۱۳۵ | صاحب الرحمن | | // |
| ۱۳۶ | گل رحمن | | // |
| ۱۳۷ | ملك محمدعلي مومند | | // |
| ۱۳۸ | میاشاه جهان | | // |
| ۱۳۹ | حاجي احمدخان | | // |
| ۱۴۰ | ملك درياخان | | // |
| ۱۴۱ | محمداشرف | | // |
| ۱۴۲ | حاجي خان ککوزی | | // |
| ۱۴۳ | حاجي جنت گل | | // |
| ۱۴۴ | محمدسرور احمدزی | | // |

## ښځینه وکیلانې

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴۵ | ارين | عبدالله | ننگرهار |
| ۱۴۶ | فهيمه | عبدالحق | // |
| ۱۴۷ | حميرا | ولي احمد | // |
| ۱۴۸ | سايمه | سيديوسف | // |
| ۱۴۹ | نگارخالېز | عبدالاحدخاليز | // |
| ۱۵۰ | ملالۍ | گل شاه | // |
| ۱۵۱ | عارفه عمرلور | عمرخان | لغمان |
| ۱۵۲ | ضیاکاکړ | عبدالحميد | // |
| ۱۵۳ | ډاکټره ثريا | گل جان | // |
| ۱۵۴ | ضیاگل | سيداكبر | كونړ |
| ۱۵۵ | انيسه | سيدپهلوان | // |
| ۱۵۶ | ډاکټره زلیخا | محمدامين | نورستان |
| ۱۵۷ | مصرۍ | نورالله | // |
| ۱۵۸. | پوهاند اسدالله شينواری | دننگرهار پوهنتون استازی | |
| ۱۵۹. | پوهندوی عبدالقدیرفضلي | // | |
| ۱۶۰. | پوهندوی الله داد | // | |
| ۱۶۱. | پوهندوی فرمان الله | // | |

په ټولو انتخاباتو کې زموږ دفتر له داسې سترو او خطرناکو ستونزو سره مخامخ نه شو، چې انتخابات دې ټکني کړي، یوازې په اچین ولسوالۍ کې یو تن د پخوانیو خپلمنځي زړه بداویو له امله ووژل شو. دا په داسې حال کې و چې دواړو غاړو له پخوا څخه چندان ښه مناسبات نه درلودل، خو په ولسوالۍ کې دلویې جرګې د انتخاباتو پر ورځ د مسئولې ډلې په وینا یوې ډلې د بلې دیو تن په وژلو لاس پورې کړ. خو د وژلو مسئولیت یې چا پر غاړه وانخیست او ویې ویل چې دا په هوایي امنیتي ډزو کې وژل شوی دی.

په ټول انتخاباتي بهیر کې د دفتر هېڅ غړی، په رشوت، ناوړه استفادې او نورو درغلیو ککړ نه شو. یوازې د لویې جرګې تر پایته رسېدو دوه میاشتې وروسته موږ خبر شو، چې ددفتر د ولسوالۍ یو رابط غړی له یوه وکیل نه درشوت اخیستلو هڅه کړې وه دا چې هغه ته دا پیسې ور ورسېدلي که نه ترپایه څوك شاهدان پیدا نه شول. البته دې کې هیڅ شك نه شته چې وکیلانو به د رایو د ګټلو لپاره په ولسوالۍ کې رایې ورکوونکو ته بډې ورکړې وي، د اوازو له مخې دننګرهار ولایت په یوه ولسوالۍ کې یو ووټ په درې لکه کلدارو اخیستل شوی دی.

په ټول انتخاباتي بهیر کې موږ نږدې شپېته زره ډالره لګښت درلود چې له دې جملې څخه مو غټ لګښت ترانسپورتي چارې وې، چې نږدې اتلس زره ډالر لګښت پرې شوی و، په دې پیسو کې لس نیم زره ډالر یوازې دننګرهار پوهنتون دلیلې پر بیا جوړونه ولګول او نږدې درې څلور زره ډالره مو لیلیې ته نور مواد واخیستل، چې ټول ننګرهار پوهنتون ته پاتې شول او پاتې پیسې زموږ د مامورینو معاشونه او د انتخاباتي چارو، نورو لګښتونه شول.

دنورو ساحوي دفترونو په انډول د ختیزو ولایتونو ټول انتخاباتي لګښت له (۱/۲) څخه تر (۱/۴) راکم و. په ختیزو ولایتونو کې ددې ټولو بریالیتوبونو تر شا دډېرو مفکرو ماغزو او پراخې حوصلې دخاوند ښاغلي کاوون کاکړ لاس و، کاوون په جلال اباد کې دملګرو ملتونو د دفتر مشر او د لویې جرګې له دفتر سره داسې پیوست همکار و، چې یوه شېبه یې هم دا دفتر یوازې پرېښنود، له مالي او سیاسي ملاتړه نیولې بیا دده تر خپلو ځاني هلو ځلو پورې ټول دلویې جرګې ددفتر په خدمت کې وو، د ملګرو ملتونو او دلویې جرګې ددفتر ترمنځ بشپړه همکاري موجوده وه. دغه راز په مالي او اداري چارو کې د ملګروملتونو ددفتر د بل غړي ښاغلي ډاکټر رضوان الله نادري صادقانه او مخلصانه کار هم د زیاتې ستاینې وړ دی، چې دفتر یې په ټولو مالي او اداري چارو کې بریمن کړ.

کله چې په جلال اباد کې د ټولو ختیزو ولایتونو انتخابات ترسره شول، نو موږ د دفتر له خوا په جلال اباد کې د افغانستان راتلونکي مشرتابه لپاره یوه عاجله سروې وکړه، چې څوک په راتلونکي کې د افغانستان د زعامت وړ دی او څوک باید په مهمو پوستونو کې راشي دا سروې په لاندې ډول وه:

# دعامه ذهنیت سروې

اول: څوک باید ددولت رییس وي؟

| الف: سیاف | ب: ګیلاني | ج: کرزی | د: ظاهرشاه | هـ: رباني |
|---|---|---|---|---|
| ۰,۷% | ۰۲% | ۴۹% | ۵۰% | ۰,۱% |

دویم صدراعظم باید وي که نه؟

هو                    نه

۹۲%                    ۸%

دریېم: که صدراعظم وي نو څوك باید وي؟

الف: امین ارسلا  ب: یونس قانوني  ج: پیرگیلاني  د: کریم خلیلي

۶۴%    ۱۱%    ۲۵%    ۰%

څلورم: ددفاع وزیر باید څوك وي؟

الف: دوستم   ب: جنرال رحیم وردك   ج: سردارعبدالولي   د: فهیم

۳%    ۲۹%    ۶۴%    ۴%

پنځم انتخابات ازاد وي که نه؟

هو      نه

۸۴%      ۱۶%

شپږم: ایا وکیلان تیار دي چې خپلې رایې په ازاده توگه ورکړي؟

هو      نه

۸۲%      ۱۸%

اووم: موجوده کابینه څومره دقناعت وړ ده؟

الف:%۲۰   ب:%۴   ج:%۶۰   د:%۸۰   هـ:%۱۰۰

۹۱%      ۸%

اتم: د راتلونکي کابینې په هکله به ستاسې نظریه څنگه وي؟

۲% الف: په موجوده کابینه کې لږ تغیرات راشي.

۱۴%ب: په موجوده کابینه کې متوسط تغیرات راشي؟

۸۴% ج: په موجوده کابینه کې ډېر تغیرات راشي؟

نهم : ستاسې نظر دملگرو ملتونو د رول په هکله څه دی؟

| | | |
|---|---|---|
| الف: ډېر ښه | ب: ښه دی | ج: منفي دی |
| ۱۶٪ | ۷۷٪ | ۷٪ |

لسم: که ظاهرشاه او کرزی کاندید وي، ستاسې انتخاب به کوم یو وي؟

| | |
|---|---|
| الف: ظاهرشاه | ب: کرزی |
| ۶۱٪ | ۳۹٪ |

یوولسم: که حامد کرزی او رباني کاندیدان وي. ستاسې انتخاب به کوم یو وي؟

| | |
|---|---|
| الف: کرزی | ب: رباني |
| ۹۹,۹٪ | ۰,۰۱٪ |

تر سروې وروسته موږ یوه ورځ دختیزو ولایتونو دټولو وکیلانو لپاره یو ورځنی سیمینار جوړ کړ، چې په دې سیمینار کې دننګرهاروالي ښاغلي حاجي عبدالقدیر، کاوون کاکړ، ښاغلی حبیب الله رفیع، پوهاند عبدالعزیز، سرمحقق سیدامین مجاهد، اسمعیل یون او نورو دلویې جرګې او نورو مسایلو په باب خبرې وکړې. د سیمینار اساسي هدف دا و چې له ختیزو ولایتونو څخه لویې جرګې ته کوم وکیلان ځي، نو دوی سره باید یوه مشترکه ژبه، مشترک ارمان او ګډ هدف موجود وي، دې سیمینار د وکیلانو پر ذهن مثبته اغېزه وکړه او هغوی ته یې ښه ذهنیت ورکړ. تر دې سیمینار وروسته دختیزو ولایتونو ټول وکیلان د ننګرهار والي ښاغلي حاجي عبدالقدیر له خوا په سپین غر هوټل کې دعوت شول او یوه لویه غونډه جوړه شوه، په غونډه کې د لغمان، کونړ او نورستان وکیلانو د هېواد د روانو حالاتو او بېړنۍ لویې جرګې په باب خبرې وکړې، په غونډه کې حاجي عبدالقدیر دغونډې برخوالو ته د راتلونکي لویې جرګې پر ارزښت ماهیت او صلاحیت رڼا واچوله او د خپلو خبرو په ترځ کې یې دا وویل:" که رښتیا راباندې وایئ هرڅه فیصله شوي دا

جرګه مازې د قانونیت لپاره ده او بس، اوس څنګه چې په کابل کې دځوکیو دوېش خبره مطرح ده، نو د مشرقي وکیلان هم باید داسې یو څوك نماینده وغواړي چې ددې سیمې د خلکو د حقوقو غوښتنه وکړي.
وروسته د ختیزو ولایتونو منتخبو وکیلانو ته د پچیرواګام ولسوالۍ وکیل او دا وخت د ننګرهار اداري رئیس ښاغلي ملك نظیر له خوا په یوه لوی کاغذ کې داسې یو متن وړاندې شو، چې په هغه کې د وکیلانو له خوا لیکل شوي وو، چې حاجي عبدالقدیر دختیزو ولایتونو د ټولو وکیلانو مشر او نماینده دی، موږ ده ته صلاحیت ورکوو چې په کابل کې ددې سیمې په اړه تصمیم ونیسي، ټولو وکیلانو دا متن امضا کړ، هېچا یې هم ظاهراً مخالفت ونه کړ، له کونړ څخه حاجي روح الله، له نورستان څخه هم یو تن او له لغمان څخه جنرال موسی خان ستور تائیدي خبرې وکړې. شاه محمود میاخېل دخاص کونړ وکیل پخوا له داسې پرېکړو سره شفاهي مخالفت کاوه، خو پر دې ورځ لومړی سړی و چې دا متن یې امضا کړ، وروسته حاجي عبدالقدیر (۵۰) لکه افغانۍ هر وکیل ته ددولت له بودیجې څخه په کابل کې د جیب خرڅ په نامه ورکړې، له حاجي روح الله پرته نورو ټولو وکیلانو دا پیسې واخیستې، ټول پر دې خوشاله وو، هېچا یې مخالفت ونه کړ.

# د هېواد په نورو سیمو کې انتخاباتي بهیر

د بېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتو د ترسره کولو لپاره د هېواد په بېلابېلو سیمو، لکه کابل، جلال اباد، ګردېز، هرات، کندهار، کندوز، مزارشریف او (بامیان، غزني) کې سیمه ییز دفترونه جوړ شوي وو. ددغو دفترونو دنده دا وه، چې د خپلواک کمیسیون له خوا، له جوړ شوي طرزالعمل سره سم په سیمه کې انتخابات ترسره کړي، خو څرنګه چې د انتخاباتو کړنلاره کې عمومیات په ګوته شوي وو، نه جزئیات، نو دې کار د کمیسیون دا غوره کړی طرزالعمل په عملي ډګر کې له یو لړ چېلنجونو سره مخامخ کړ. په طرزالعمل کې یوه غټه نیمګړتیا داوه، چې دا خبره په کې نه وه سپینه شوې چې یو رایه ورکوونکی د څو رایو استحقاق لري، د یوې او که تر یوې د زیاتې رایې د ولسوالیو د څوکیو په تناسب؟، بله خبره داوه، چې په هره ولسوالۍ کې (۲۰-۲۰) پورې رایې ورکوونکي یا د ولسوالیو استازي په پام کې نیول شوي، دا به د کوم معیار له مخې ټاکل کېږي؟ د ازادو انتخاباتو له لارې که د دودیز سیستم، وېش او ونډ له لارې؟

همدغو دوو او ځینو نورو عواملو په ټول هېواد کې انتخابات له څو ګوني چلند سره مخامخ کړل.

د ساري په توګه په شمال شرق ولایتونو کې له څو ووټیز سیستم څخه کار اخیستل شوی، مانا دا چې که یوې ولسوالۍ، دوه سېټونه درلودل، نو رایې ورکوونکي حق درلود، چې دوه ځله خپل ووټ استعمال کړي، که درې و درې ځله او که تر دې زیات و زیات ووټونه یې استعمالولای

شول. په جنوب شرق یا د ګردېز په هسته کې بیا سیستم دا سې و ، چې یو چا تر خپله حده زیات ووټونه اخیستي وو ، هغه کولای شول بل سره هم مرسته وکړي، خو ختیزو ولایتونو او ځینو نورو سیمو کې د یوه ووټ سیستم وکارېده او ددې سیستم ګټو ته مو دمخه اشاره وکړه.

د طرزالعمل د نورو برخو تطبیق هم په ټول افغانستان کې یو شان نه و ، مثلاً لومړی ټاکل شوې وه ، چې زورور قوماندانان او هغه کسان چې د جنګي جرمونو او کورنیو جګړو تور پرې پورې دی، هغه به لویې جرګې ته د غړي په توګه نه راځي، خو د طرزالعمل دا برخه تر ټولو دمخه په شمال شرق او شمال هستو کې تر پښو لاندې شوه ، همدارنګه په کابل هسته کې په ټولو ولایتونو کې انتخابات تقریباً هممهاله روان وو ، موږ په ختیزو ولایتونو کې د څو قوماندانانو مخه په دې علت ډب کړې وه ، چې د خپلې واکمنۍ پر مهال یې له خلکو سره ظلم کړی و او د بیت المال په لوټ کې یې برخه اخیستې وه ، ددې ټکي د څرګندتیا لپاره د خلکو له خوا په پټه توګه یو شمېر عریضې هم رارسېدلې وې، خو خلکو اوس هم نه غوښتل چې په ښکاره دې په قوماندان شاهدي ووهي او نه کومې محکمې هغوی په کوم جرم محکوم کړي وو ، خو په هر ترتیب موږ د خلکو د همدغو پټو غوښتنو او عرضپاڼو په پام کې نیولو سره ، له طرزالعمل سره سم د لویې جرګې په انتخاباتو کې د هغوی د کاندیدۍ مخه ونیوله، پر همدې وخت له ډله ییزو ارتباطي وسایلو څخه اعلان وشو ، چې له بدخشان څخه استاد برهان الدین رباني، له مزارشریف څخه جنرال دوستم، له تخار څخه قوماندان داود ، له کابل څخه استاد عبدالرب رسول سیاف او ملا تاج محمد ، د لویې جرګې د غړو په توګه منتخب شول، دې کار د بېړنۍ لویې جرګې د طرزالعمل عملي برخه ډېره پیکه کړه. د هغو قوماندانانو له جملې څخه چې د جلال اباد سیمه ییز دفتر یې د کاندیدۍ مخه نیولې وه ، یوه یې دفتر ته مراجعه وکړه او موږ

نه یې وپوښتل چې دا طرزالعمل د ټول افغانستان لپاره دی که یوازې د ننګرهار لپاره؟ موږ وویل د ټول افغانستان لپاره، قوماندان بیا وویل: خیر چې داسې ده، نو ما به ډېر جنایات کړي وي که جنرال دوستم او ددې تنظیمونو مشرانو؟ زه د همدې تنظیمونو د یوه غړی وم، استاد برهان الدین رباني او استاد سیاف زما په شان په سوونو څه چې په زرګونو قوماندانان لري، موږ چې هر څه کړي ددوی په لارښوونه مو کړي دي، نو دا کوم انصاف دی، چې اوس دې هغوی تذکیه او صفا شي او موږ دې په جرمونو ګرم وګڼل شو، قوماندان زیاته کړه تر هغه وخته پورې ما هم ډېر ټینګار نه کاوه، فکر مې کاوه چې ځه قانون عام دی، څه چې په عام وي هغه دې په ما هم وي، خو اوس لکه چې له کاسې څخه نیم کاسه راووته. د قوماندان دلایل د پورتنیو انتخاباتو په باب که هر څومره پر ځای وو، خو موږ د خلکو د مکررو غوښتنو له امله بیا هم قوماندان ته د کاندیدو حق ور نه کړ، بلاخره د قومندان له ټبره یو شخص چې وسلوال فعالیتونه یې ترسره کړي نه وو د لویې جرګې په انتخاباتو کې کاندید شو.

د طرزالعمل پر پورتني اړخ سربېره د انتخاباتو د کړنلارې ځینې نورې برخې تر پښنو لاندې شوې، د بېلګې په توګه هغه ولسوالۍ چې د څوکیو شمېر یې (۱) و هغوی حق درلود، چې د ولسوالۍ په کچه یې شل تنه استازي ټاکلي وای.

که دوه وو څلوېښت استازي یې ټاکلی شول او که درې یا تر هغو زیات سېټونه یې درلودل، نو شپېته استازي یې ټاکلی شول، په عمومي ډول باید په یوې ولسوالۍ کې د استازو شمېر تر شلو او شپېتو زیات نه وای، خو دا اصل د ختیزو ولایتونو د انتخاباتي هستې په ګډون د هېواد په یوه انتخاباتي هسته کې هم پوره تطبیق نه شو. یوازې تفاوت دومره و، چې په ختیزو ولایتونو کې تر ټاکلي شمېر څخه د استازو شمېر لږ زیات و، خو په نورو هستو کې بیا دا توپیر ډېر زیات و، لکه د سرپل،

جوزجان او فاریاب په ولایتونو کې اکثرو قوماندانانو پر سیمه ییزو دفترونو فشار راوړه، چې د ولسوالیو د استازو شمېر زیات کړي. په دې ډول د طرزالعمل دا برخه تر پښو لاندې کېدله او مالي لګښت زیاتېده. دغه راز د ولسوالیو د بېلابېلو ټبرونو د استازتر منځ طبیعي او واقعي انډول ته زیان رسېده او د هغه ټبر، خپل یا قوم استازو ته زیاته ونډه رسېده، چې قوماندان او یا هم کوم بل زورواکی هغه ته منسوب و. د ټول افغانستان په کچه د دې ډول ولسوالیو شمېر نږدې شلو ولسوالیو ته رسېږي، چې اکثره په شمالي ولایتونو پورې اړه لري چې د سیمه ییزو قوماندانانو زور په کې دا مهال تر هر چا زیات و. د هېواد د بېلابېلو ولایتونو په یو شمېر ولسوالیو کې اصلاً د بېلابېلو عواملو له امله هېڅ انتخابات ترسره نه شول، د کمیسیون سیمه ییزو دفترونو ته دویمه لاره د انتصاب لاره وه. په ختیزو ولایتونو کې یوازې دوه ولسوالیو (مومندرې او بټي کوټ) کې انتخابات ترسره نه شول خو د ټول هېواد په کچه تر (۲۴) زیات اداري واحدونه وو چې اصلاً هېڅ انتخابات په کې ترسره نه شول.

په دې ولایتونو کې ارزګان، سمنګان، زابل او نورشامل وو، چې په ځینو ولسوالیو کې یې له انتصاب څخه کار واخیستل شو. د انتصاب علتونه په اکثرو ولسوالیو کې د امنیت نشتوالی، د خلکو خپلمنځي اختلاف او د ونډ یا وېش پر سیستم د خلکو نه توافق و.

لنډه دا چې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې انتخاباتي بهیر یو شان نه و، د کابل د انتخاباتي حوزې مشر او همدارنګه د لویې جرګې د خپلواک کمیسیون د غړي ښاغلي صبغت الله سنجر په وینا: ((د کابل په انتخاباتي هسته کې انتخابات عادلانه نه وو، اکثره قوماندانان او نور زورواکان د زور د استعمال او د نورو کاندیدانو د وېرولو له لارې لویې جرګې ته کامیاب شول)) د هرات د انتخاباتي هستې د مسئول او

همدارنګه د نورو انتخاباتي هستو د مسئولينو په وينا په اکثرو هستو کې زور او زر استعمال شوي دي.

په ختيزو ولايتونو کې هم په ځينو برخو کې له زورواکو څخه دفتر ته شکايتونه راورسېدل، همدارنګه په ننګرهار ولايت کې د پيسو د کاروني خبر هم ترلاسه شو. د خلکو په ناليکلې او نارسمي وينا: ((د ننګرهار په يوې ولسوالۍ کې يوه تنظيمي شخص يو ووټ په درې لکه پاکستانۍ کلدارې واخيست)) دا د ووټ ډېر جګ رقم دی چې په دې ولايت کې پېرېدل شوی دی. په عمومي ډول په ختيزو ولايتونو کې په سلو کې (۹۰) داسې کسان انتخاب شول چې د ولس مستقيم ملاتړ ورسره و او په سلو کې لس بيا داسې کسان راغلل چې زر او زور څخه يې کار اخيستی و، د نورو ولايتونو فيصدي کېدی شي له دې څخه توپير ولري.

# ببرړنۍ لویه جرګه



## الف_ د جرګې په درشل کې:

د ببرړنۍ لویې جرګې د ځانګړې او خپلواک کمیسیون له خوا له ټاکل شوي مهالوېش سره سم باید ببرړنۍ لویه جرګه د (۲۰۰۲م) کال دجون پر لسمه چې د (۱۳۸۱ل) کال د غبرګولي د میاشتې له (۲۰) مې نېټې سره سمون خوري، جوړه شوې وای. ددې کار لپاره لا دمخه دکابل ښار په پولیتخنیك کې د المان حکومت له خوا یوه لویه کېږدۍ چې تر اوسه یې په افغانستان او ان په دې نږدې سیمه کې چا ساری نه و لیدلی، جوړه شوې وه. دې کېږدۍ تر دوو زرو پورې کسان ځایولای شول او تر دوو ملیونو امریکایي ډالروزیات لګښت پرې راغلی و. پر لویې کېږدۍ سربېره څلور پنځه نورې منځنۍ او وړې کېږدۍ نورې هم

ودرول شــوي وې چــې د وکیلانــو د راتولېــدو، مفــاهمې، مــذاکرې، تبلیغاتي کمپاین او خپلمنځي خبرو اترو لپاره ځایونه په کې په پام کې نیول شوي وو.

دپولتخنیــك دلیلــیې نــور (۷) بلاکــه او د هغــو خــونې د وکیلانــو استوګنځایونو تــه بېــل شــوي وو او خــوړنځی ( طعــام خــوري) د ډوډۍ لپاره په پام کې نیول شوی و.

د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه اکثره وکیلان د الوتکو پـه واسطه دجوزا تر شلمې نېټې دمخه کابل ته انتقال شول، دجوزا تر شلمې پورې د نورو ولایتونو وکیلان کابل ته ورسېدل، خو ځینې داسې هم وو چې تر دې دمه یې لا کابل ته استازي نه وو رسېدلي. هره هغـه الوتکـه چـې وکـیلان بـه یـې لېـږدول د کابـل پـر نړیـوال هوایي ډګـر بـه دکېناسـتو پـر وخت سواره وکیلان د لویې جرګې د خپلـواك کمیسـیون د دارالانشـاء د استازو له هرکلي سره مخامخېدل. وکیلانو ته مشخص موټر په پام کـې نیول شوي وو، په هغو کې به لومړی د کمیسیون دفتـر تـه انتقالېـدل او کله چې بـه یـې اسـناد تـر لاسـه کـړل او ټـول اسـناد بـه یـې کـره شـول، نـو بیا یې پولیتخینك ته رسول، هلته د (GTZ) موسسې له خوا دوی تـه د لـویې جرګې ځـانګړي کارتونـه ترتیـب شـوي وو، هغـه بـه یـې د دخـولي دروازې په خوله کې په یوه ځانګړي لویه خونه کې ترلاسه کول او بیـا بـه پولیتخنیك یا د لـویې جرګې د جوړېدو ځـای یـا انګړ تـه داخلېدل. پـه دروازه کې د ایساف ځواکونو او ملي اردو د ځانګړو کنډکونو لـه خـوا چې دا وخت تـازه جـوړ شـوي وو، لـه کمپیـوټري وسـایلو نیـولې بیـا د امنیتي چارو تر نورو عـادي وسـایلو پـورې لـه ټولـو امکانـاتو څخـه کـار اخیسـتل کېـده، لنـډه دا چـې دامنیـت پـه برخـه کـې پـه خـورا ښـه ډول ترتیبات نیول شوي وو.

دختیزو ولایتونو وکیلان په دربو پروازونو کې دجوزا پر (۱۸) مه نېټه له جلال اباد څخه کابل ته ورسېدل. دوه پروازونه تر غرمې دمخه ترسره شول او یو وروستی پرواز تقریباً ماسپښین (۲) بجې، وروستي پرواز کې لږ شان تخنیکي ستونزې هم پیدا شوې، هغه دا چې د چالانېدو پر وخت د الوتکې انجن گرم شو او له څرخونو نه یې لوی لوگي پورته شول، دومره سخته گرمي وه او ټول په الوتکه کې گرمۍ سخت وارخطا کړي وو، پیلوټ الوتکه بېرته گل کړه، اطفایې ته یې احوال ورکړی و، چې د الوتکو پر دوو انجونونو اوبه واچوي، ټول وکیلان له گرمۍ څخه په تنگ شوي وو، پر دې وخت د ننگرهار دپچیراگام ولسوالۍ وکیل ملك نظیر چې په ټوکو کې ښه تجربه او مهارت لري کټ کټ په خندا شو او ویې ویل :" او خلکو که دا طیاره الوتې وای او بیا یې سقوط کړی وای نو هغو کسانو چې انتخابات یې بایلولي ښه به خوشاله شوي وای او ویل به یې چې څه ددوی داسې داسې کړم ښه شول چې له مخې مو پناه شول".

دې وخت کې یوه بل وکیل پرې غږ کړ:" یاره ملکه همدا اوس چې هم ورکښېنته شې ښه وخت دی ځکه په دې طیارې بیا هم اعتبار نه شته کېدی شي سقوط شي نو یو ته چې ژوندی پاتې شې که چېرې موږ ته چا کنځلې کولې نو چې ته خو یې ځواب ورکړې". ملك وویل:" یاره والله که خو دې بده ویلې وي..".

د الوتکې انجن یخ شو، تر (۳۰) دقیقې مزله وروسته کابل ته ورسېدله، هلته یې دیوه لست له مخې د وکیلانو نومونه لوستل او موټر ته پورته کېدل. د لویې جرگې دخپلواك کمیسیون دفتر ته لاړو هلته مو خپل اسناد ترلاسه کړل او سبا لس بجې پولیتخنیك ته ورسېدو، زه او مېرمن مې (ارین) یو ځای وو، تر سختې تالاشۍ

وروسته د پولتخنیك دروازې ته ورسېدو،خپلې پاڼې مو ښکاره کړې او د کارت اخیستلو اتاق تـه لاړو. کارتونـه مـو خپـل واخیسـتل کلـه چـې د لویې جرګې د جوړېدو ساحې ته ور داخل شوو، نو د هېواد لـه بېلابېلـو سیمو څخه زیات شمېر وکیلان را رسېدلي وو، دا د جوزا د میاشـتې (۱۸) مه نېټه وه د سهار لـس بجـې وې، بېلابېـل وکـیلان بـه پـه ګروپـي ډول سره کېناستل، خپلمنځي بحثونـه او د راتلـونکي مشـرتابه پـه بـاب به یې خبرې کولې، موږ لومړی خپل اتاقونه معلوم کړل، مـا هیلـه لرلـه چې زه د کندهار وکیلانو سره یو ځای استوګنځی غوره کړم، ددې کار علت دا و چې په کندهار کې زما یو زیات شمېر فرهنګي ملګري وو او زه خبر شوی وم چې له دوی څخه هم یو دوه تنه لویې جرګې تـه انتخـاب شوي دي. له هغې جملې څخـه یـو تـن زمـوږ هېوادپـال فرهنګـي ملګـری عبدالمجیـد بـابی و، زمـا اتـاق د کنـدهار، ارزګـان او زابـل لـه وکیلانـو سره یو ځای شو، چې یو هم په کې د ارزګـان یـو مشـهور وکیـل ښـاغلی (نوابي) و.

دوی سره زمـا د ګډ استـوګنځي اصلي هـدف دا و چـې لومـړی ددې دواړو سیمو لـه وکیلانو سره د تفاهم او یوه واحد نظر د پیداکولو زمینـه برابره کړم، بیا دا مسله دپکتیا، بیا د هـرات. بامیـانو، بلـخ، کنـدوز او همداسې دهېـواد ټولـو سیمو د وکیلانـو ترمنځ وغځوو. زمـوږ پـه اتـاق کې د کندهاریو ورونو روحیه په پیـل کـې خورا ترخـه وه، نـږدې و چـې اتاق مې پرې ایښی وای او ترې تللی وم، خو لـه لـږ زغـم څخـه مـې کـار واخیست، خو کله چې له دوی سره د افهام او تفهیم په ژبه پوه شـوم، نـو بیا دومره خواږه شول چې ګرد سره حد نـه لـري، دوی سره مـې ورو ورو په اصطلاح سیاسي خبرې پیل کړې، پـه پیـل کـې خو یـې چنـدان مـیلان ونه ښود خو چې کله یې سر پرې خلاص شو، نـو بیـا یـې وویـل چـې بـالا

موږ ټول درېسي یو، په چا رای ونه وهې... د جوزا د(۲۰) مې نېټې تر غرمې دمخه د پولیټنخنیك په یوه هال کې د پکتیا، پکتیکا، غزني او خوست ولایتونو یو شمېر وکیلان سره راټول شوي وو، د ننګرهار یو شمېر وکیلان له هغې جملې څخه حاجي صیب دین محمد او پوهاند اسدالله شینواري هم تشریف درلود.. له غزني څخه ښاغلی اختر محمد ټولواك چې یو جراره او با جرئت شخص دی هم حاضر و.

د نوموړو وکیلانو تر خبرو وروسته ما هم نوبت واخیست او په ډېر درنښت مې دې کیلانو ته وویل چې زه تر تاسو ټولو کشر یم او پوهه مې هم تر تاسو ټولو کمه ده، خو هغه اور چې زما په زړه کې بل دی کېدی شي تر ټولو زورور وي، نو ځکه غواړم دلته ډېرې زیاتې او په جرئت خبرې وکړم، ځکه زموږ د امید وروستۍ مرجع همدا لویه جرګه ده، که دلته هم موږ چوپ شو او حق ونه غواړو او حق ونه وایو، نو بیا به مو د اسرافیل شپېلۍ راویښوي، د امید بله هېڅ مرجع نه شته نو زموږ هدف دا دی چې دا لویه جرګه یوه ښه او مثبته نتیجه ورکړي او موږ بېرته خپلو سیمو ته ستانه شو او که چېرې دا جرګه ناکامه شوه او بیا واك د وطن دښمنانو او ملي خاینانو سره پاتې شو، نو کېدی شي موږ بېرته ولس کې خلك په کاڼو وولي او باید ومو ولي.

موږ غواړو په لویه جرګه کې دغه څو اساسي مسایل حل شي او ټول وکیلان باید ددې لپاره مبارزه وکړي.

۱ـ یو داسې ملي شخص دې چې په هېڅ ډول کورنیو جګړو، وژنو او ورانیو کې دخیل نه وي، د ملي زعیم په توګه وټاکل شي او دا باید داسې شخص وي، چې د ملت اکثره وګړي پرې متفق شي.

۲ـ دملي زعیم یا د حکومت دمشر د ټاکلو ترڅنګ باید یوې غوره او بې طرفه کابینې په تېره بیا څلورو اساسي وزارتونو ته هم

خاصه پاملرنه وشي، لازمه ده چې په دې دوره کې ټول وزیران مسلکي او بې طرفه وي. په هېڅ تنظیم خصوصاً په جګړه مارو تنظیمونو پورې اړه ونه لري. د تېرو شپږو میاشتو تجربو وښودله چې که جمهور رئیس څومره ښه سړی وي خو چې د هغه وزیران خصوصاً مهم وزیران له هغه سره نږدې همکاري ونه لري او د هغه احکام تطبیق نه کړي، جمهور رئیس په یوازې ځان څه نه شي کولای. کله چې جمهور رئیس د ولس د استازو په خوښه ټاکل کېږي، دغسې باید کابینه هم د ولس په خوښه وټاکل شي، د تېرو شپږو میاشتو تجربه باید بیا تکرار نه شي، هېڅ تنظیم ته باید په دې او هغه نامه ځانګړی امتیاز ورنه کړای شي.

۳ـ افغانستان د څو کلونو تنظیمي جګړو یو غټ علت په روسیه کې د جعلي پیسو (افغانیو) چاپ دی، چې یو ځانګړی تنظیم او دیوه مشخص شخص جیب ته ځي او هغوی پرې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د خلکو ضمیرونه رانیسي او اورونه پرې بلوي. که چېرې دجنګسالارانو د قوت دا سرچینه بنده شي، نو یقیني خبره ده چې په افغانستان کې به د زیاتو جګړو اور په خپله مړ شي، د رسمي احصائیو له مخې په تېرو اتو کلونو کې د روسیې له خوا د استاد رباني حکومت او د هغه تنظیم ته تر (۱۴) زرو ملیاردو افغانیو زیاتې پیسې چاپ شوي او هغه پیسې چې لا مرکزي بانك ته هم نه دي ور رسېدلي او هوا په هوا اخوا دېخوا تقسیم شوي، هغه خو بې شمېره دي، یانې په شمېر نه دي په ټن دي او په وزن دي، که چېرې ددې ټولو پیسو مجموعه د افغان ولس پر هر فرد ووېشو نو د اټکل له مخې هر افغان ته اته په لسګونو ملیونو افغانۍ رسېږي، خو اوس دا ټولې پیسې دجنګ میدان کې مصرف شوي او که چا پرې کوم کیلومتر سړك پوخ کړی وي مهرباني دې وکړي موږ ته دې را په ګوته کړي. په دې لویه جرګه کې

باید د پیسو مسله را پورته شي او هغه چا چې دا پیسې یې چاپ کړي او استعمال کړي باید ملت ته ځواب ورکړي، تر دې وروسته باید په عاجل ډول ددې پیسو د چاپ مخه ونیول شي.

۴ـ ټول هغه کسان یا تنظیمي اشخاص چې د هېواد په ورانۍ، د کابل په ویجاړۍ او کورنیو جګړو کې یې برخه اخیستې او اوس هم له بهرنیو هېوادونو سره پټ او ښکاره اړیکي لري، باید نه د هېواد د مشرتابه لپاره ځان کاندید کړي او نه هم د کابینې د غړي په توګه.

ما دا او دې ته ورته ځو نورې خبرې هم وکړې، په غونډه کې به نږدې پنځوس وکیلان ناست وو، پر ټولو ډېرې ښې ولګېدې، ما چې کله خبرې خلاصې کړې، یو څو نورو وکیلانو هم دې ته ورته خو په لنډه توګه خبرې وکړې، خو وروسته د پکتیا ولایت یو وکیل را پورته شو او ماته رانږدې شو، غاړه یې رانږدې کړه ، یاره وراره ګله ډېرې ښې خبرې دې وکړې، زموږ د زړه زنګ دې لرې کړ، په خدای چې همدا خبرې مې په زړه کې ګرځې راګرځې، خو د راکښلو په چل یې نه پوهېږو، کور دې ودان بیا به دې ټولو وکیلانو سره کېنوو او خبره به غوټه کړو، ما وویل سمه ده، ټولو سره به کېنو، دشپې مو ګڼو وکیلانو سره وکتل، د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه ډېر مشهور او مخور استازي هم را رسېدلي وو، خو په استازو کې د داسې کسانو شمېر هم کم نه و، چې د زور او پیسو له لارې یې لویې جرګې ته لاره پیدا کړې وه، د شپې مو چې له اکثرو وکیلانو سره خبرې وکړې، نو د ټولو په ذهن کې درې اساسي خبرې تاوېدې، څوك به د زعامت لپاره ټاکل کېږي؟ پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه؟ حامد کرزی؟ که استاد رباني؟ ځینو کسانو د نورو اشخاصو نومونه هم زمزمه کول خو دا درې اشخاص په کې زیات مطرح و، په دې درې واړو کې بیا د

پخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه ډېر زیات احتمال و، تقریباً په سلو کې (۸۵-۹۰) وکیلانو د پخواني پاچا تائید کاوه، تر پاچا وروسته غوره شخص ښاغلی حامد کرزی و چې په دویم لېول کې و او درېیم شخص استاد رباني و چې د تنظیمي او قومي ملحوظاتو له مخې یې څو فیصده چانس درلود.

خو پر دې خبره ټول خلك متفق وو، چې د استاد رباني په بیا راتګ سره د افغانستان مسله نه هوارېږي او که چېرې دی بیا رامنځته شي، نو ستونزې به لا پسې زیاتې شي. د درېو کاندیدانو احتمالي ودرېدل د بحث وړ موضوع وه، پر همدې ستونزې د غور لپاره موږ د څو ولایتونو وکیلان سره کېناستو او داسې یو پلان مو جوړ کړ چې د ښاغلي حامد کرزي ورور ښاغلي قیوم کرزي ته بلنه ورکړو، چې موږ ته دکاندیدانو په ځانګړي ډول د ښاغلي حامد کرزي د کاندېدو په باب معلومات راکړي. دغه راز هغه کسان چې پخواني پاچا ته ډېر نږدې وو، هغوی سره مو هم تماس ونیو، چې د شاه دریځ باید معلوم شي، د پخواني پاچا نږدې خپلوان او نور پلویان، همایون شاه اصفي، هدایت امین ارسلا، جنرال رحیم وردګ، پاچاخان ځدراڼ او نورو ټولو هیله لرله چې پخوانی پاچا کاندید دی، دجرګې اکثرو غړو هم دا تصور کاوه چې پاچا به دلویې جرګې له لارې د هېواد د مشر په توګه ټاکل کېږي. خو په دې برخه کې د پخواني پاچا اوږدې چوپتیا دخلکو ذهنونه مشوش کړل.

ښاغلي قیوم کرزي زموږ بلنه ومنله او د جوزا د میاشتې (۱۹)مې نېټې د شپې پر اتو بجو یې دلویې جرګې د لویې کېږدۍ ترڅنګ یو منځنۍ کېږدۍ ته تشریف راوړ، په دې کېږدۍ کې نږدې درې نیم سوه کسان سره راټول شوي وو، په دې غونډه کې حاجي میرویس یاسیني،

اخترمحمدټولواك، له خوست څخه نواب امیرزی، دننگرهار، لغمان، خوست، هرات، کندهار، پکتیا، پکتیکا، غزني، لوگر، میدان وردگ او ځینو نورو ولایتونو وکیلان راټول شوي وو. په دې غونډه کې اخترمحمدټولواك، قیوم کرزی او زه (یون) د نورو خلکو پر وړاندې ناست وو، په اصطلاح دغونډې اجندا زموږ په لاس کې وه. د غونډې په پیل کې ما د لویې جرگې د رئیسه هیئت د ټاکنې او راتلونکي زعامت د ټاکنې لپاره دغه لاندې پېشنهادونه وکړل:

د لویې جرگې له طرزالعمل سره سم باید پنځه تنه دلویې جرگې د رئیسه هیئت په توگه وټاکل شي، یو رئیس، دوه مرستیالان او دوه منشیان.

که چېرې د لویې جرگې رئیسه هیئت دملت له هیلو سره سم دوکیلانو په خوښه او ښه تدبیر وټاکل شي، نو کېدی شي د لویې جرگې وروستی بهیر هم ښه او کامیاب شي، خو که چېرې رئیسه هیئت په تېره بیا رئیس ښه او باکفایته شخص نه وي، نو لویه جرگه له ستونزو او ان ناکامۍ سره مخ کېدی شي. د لویې جرگې د رئیسه هیئت غړي باید د نورو مسلکي او علمي صفاتو ترڅنگ یوه غوره صفت دا لري چې د هېواد په دواړو رسمي ژبو ( پښتو او دري) باید ښه پوه وي، چې د خلکو پوښتنو او ستونزو ته په عاجل او بالفعل ډول ځواب ورکړي او قناعت یې حاصل کړي، بله خبره داده چې په لویه جرگه کې باید د ملي سرود په نامه ددغه او یا هغه تنظیم ترانه ونه غږول شي، هر هغه څه باندې چې د ټول ملت توافق موجود نه وي باید هغه په لویه جرگه کې د ملت په نامه استعمال نه شي. بله خبره دا ده چې د جرگې په داخل کې باید د هېڅ تصویر یا عکس بند شوی نه وي، خصوصاً د هغو کسانو چې تر ۱۳۵۷ل کال وروسته په دغه یا

هغه تنظیم کې مطرح شوي او په ګڼو کورنیو جګړو کې یې برخه اخیستې ده، په لویه جرګه کې باید د ټولنیز عدالت او ملي وحدت روحیه حاکمه وي، نه تنظیمي، سمتي او سیاسي.

د زعامت د ټاکنې په برخه کې باید ووایو چې دا یوه مهمه مسله ده چې زموږ د ټول ملت برخلیك ورپورې تړلی دی، چې ډېر فکر پرې په کار دی خو زموږ په نظر د زعامت ترڅنګ د کابینې موضوع هم ډېره مهمه ده، خصوصاً دڅلورو مهمو وزیرانو د ټاکنې موضوع، ځکه که موږ هر څومره ښه، نرم او زړه سواندی شخص د زعامت لپاره وټاکو، خو چې دا څلور وزیران یې دمختلفو تنظیمونو غړي وي او خپلې تنظیمي لېوالتیاوې پالي مشر به ډېر څه ونه کړای شي، لکه په تېرو شپږو میاشتو کې چې موږ ولیدل.

د زعامت د ټاکنې په برخه کې له ښاغلي قیوم کرزي څخه زموږ هیله داده چې موږ باید خپل دا دوه کاندیدان ( اعلیحضرت او کرزی صیب) چې دواړه مثبت دي، پر یوه کاندید بدل کړو. موږ هیله لرو چې پخوانی پاچا په دې ملت کې تر هرچا زیات محبوب دی او د ټول ملت معنوي پلار دی. په دې ملك کې یې پنځه څلوېښت کاله حکومت کړی، کرزی صیب چې نن کوم مقام او حیثیت لري په دې کې هم د پاچا د لورېینې غښ لاس دی، له اخلاقي او ملي پلوه اعلیحضرت پر کرزي صیب دا حق لري چې کرزی صیب له خپلې کاندیدۍ ورته تېر شي، خو دا خبره هم کوو چې که چېرې کوم داسې بهرنی لاس او نړیوال فشار وي چې زموږ له مقاومت او غوښتنو سره سره بیا هم پخوانی پاچا د سیاست ډګر ته نه پرېږدي او یا په دې برخه کې زموږ هلې ځلې کومې مثبتې نتیجې ته نه رسېږي نو بیا تر پاچا وروسته زموږ کاندید ښاغلی حامد کرزی دی. خو موږ په هېڅ وجه دې ته حاضر نه یو چې دا

دواړه یو ځای کاندید شي، ځکه ددې وېره شته چې د رایو په تقسیم سره کوم نامطلوب شخص ته واك ورسي او یو ځل بیا ملت په وینو ولمبېږي.

زما دا خبرې اکثرو برخوالو واورېدلې او ټولو تائید کړې، په دې کې دخوست وکیل ښاغلي نواب امیرزي غږ کړ چې یون صیب دلویې جرګې لپاره موږ تاسې د منشي په توګه انتخابوو او اکثرو خلکو دهغه پېشنهاد ومانه، ما دا وخت ددې پېشنهاد مخالفت وکړ، خو وروسته حاجي میرویس یاسیني راته وویل چې ته ولې دخلکو پېشنهاد ردوې، دا به منې... ما چې کله خپلې خبرې خلاصې کړې، ښاغلي قیوم کرزي ته مو بلنه ورکړه، قیوم کرزي په ډېره حوصله، په ډېر دقت سره خبرې پیل کړې، لومړی یې ټولې هغه خبرې رد کړې چې ګنې د اعلیحضرت او کرزي ترمنځ اختلافات پیدا شوي او دا یې افواهات وبلل، ده پاچا او کرزی نوك او وری وبلل او ویې ویل چې ددوی ترمنځ هېڅ اختلاف نه شته، ښاغلي قیوم کرزي په خپلو خبرو کې پخوانی پاچا د ملت بابا یادوه او د حضور اعلیحضرت او بابا په نومونو به یې د هغه یاد کاوه، ده وویل حامد کرزی چې هر کار ترسره کوي نو اول بابا سره مشوره کوي او د هغه له مشورې پرته هېڅ کار نه کوي، په دې مسله کې هم له بابا سره په تفاهم رسېدلی او څه چې بابا ورته وایي هغه ترسره کوي، تاسو ته زه ډاډ درکوم.

ښاغلي قیوم کرزي لا خپلې خبرې نه وې خلاصې کړې چې د خلکو له خوا د پوښتنو طرح کولو هیله وشوه، پر دې وخت دپکتیا ولایت یو وکیل پورته شو او ښاغلي قیوم کرزي ته یې وویل چې زه د خپلې ولسوالۍ پنځه ویشت زروخلکو انتخاب کړی یم او دې خلکو ماته قسم راکړی چې ته به بابا ته رایه ورکوې، زه نه غواړم چې کرزي ته

رایه ورکړم، دی له خپل وزیر څخه دفاع نه شي کولای چې په هوایي میدان کې یې په چاقوګانو وواهه او ویې واژه نو موږ نه به څه دفاع وکړي؟ قیوم کرزي ددې خبرې پر وړاندې شدید عکس العمل ونه ښود او پر دې خبرې یې ټینګار کاوه چې د بابا او کرزي ترمنځ هېڅ اختلاف نه شته. دا غونډه دپوښتنو په همداسې نا تمام بهیر پای ته ورسېده.

دجرګې تر جوړېدو پورې دې او دې ته ورته ډېرې نورې غونډې هم جوړې شوې چې په اکثرو کې د هېواد ډېرو مطرحو اشخاصو خبرې وکړې، په دې مطرح اشخاصوکې پوهاند محمدحسن کاکړ، عزیزالله واصفي، همایون شاه اصفي، شاه محمود میاخېل، عبدالحفیظ منصور، تاجور کاکړ، عمر زاخېلوال، اخترمحمدټولواك، حاجي عبدالقدیر، صفیه صدیقي، اکبرنېکزاد، ببرك شینواری، ګل اغا شېرزی او ډېرو نورو اشخاصو ګډون وکړ، په یوه غونډه کې تاجور کاکړ په خپلو خبرو کې وویل:" خپل پلو (پوړنۍ) درته غوړوم چې دیوه ښه نظام لپاره هڅه وکړئ اتفاق او وحدت وکړئ، په افغانانو کې ښځه په سختو حالاتو کې نارینه و ته پوړنۍ غوړوي، تر دې سخت حالات پر موږ نه راځي، راځئ چې د یوه ښه نظام د جوړېدو لپاره کار وکړو...))

داکثرو غونډو برخوالو په خپلو خبرو کې پر اشخاصو او شخصیتونو بحث کاوه، څوك به د دولت مشر وي، څوك به وزیر وي، څوك مستحق دی، څوك نه دی؟ خو ښاغلي عمر زاخېلوال په یوه دوه سوه کسیزه غونډه کې دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل:" اصلي خبره داده چې دا او هغه شخص یا شخصیت زموږ مشکل نه شي حلولای او نه زموږ درد دوا کولای شي، موږ او تاسو باید پر سیستم خبرې وکړو، داسې یو سالم سیستم رامنځته کړو چې زموږ دنن او سبا مشکلاتو د حل لاره ورسره وي، په یوه سالم سیستم کې اشخاص خپله

سمبږي، ټول باید د افغانستان لپاره د اشخاصو پر ځای دیوه ښه او غوره سیستم په باب فکر وکړو...))

ښاغلي پاچا خان ځدراڼ هم د جرگې یو تکړه برخوال و، یوه ورځ دمخه جرگې ته راغلی و، پاچا خان ځدراڼ د پخواني پاچا سر سخت پلوی و، ما پسې یې لویه جرگه کې ځواب راولېږه، لیدو ته یې ورغلم، دا لومړی ځل و چې پاچا خان ځدراڼ سره مې وکتل، البته له پخوا څخه مې دمطبوعاتو له لارې پېژنده.

پاچا خان ځدراڼ په څرگند ډول دپخواني پاچا بیا واکمنېدل غوښتل، کله چې ما ورسره وکتل، تر روغبړ وروسته مو پریو څو سیاسي موضوعگانو بحث وکړ او تر دې وروسته یو چا غږ کړ چې جنرال صیب دوستم هم راغی، پر دې وخت پاچاخان ځدراڼ ماته وویل راځه چې لاړ شو، دوستم سره خبرې وکړو، چې هغه د بابا په باب څه نظر لري؟ زه هم له پاچاخان ځدراڼ سره د هغه په غوښتنه د دوستم لیدو ته ولاړم، ددوستم ترڅنگ گڼ شمېر خلك ناست وو، کله چې یې پاچاخان ځدراڼ ولید، له ځایه راپورته شو، نورو کسانو یخ شربت راوړ، پاچاخان ځدراڼ په خپلو خبرو کې وویل:" شما می پهمید که امی مردم (نظارشورا) یکی رابرای شما بالا کرده یکی را برای ما)) (مقصد یې په مزار کې استادعطا او په پکتیا کې دده یو مخالف و، چې یویې له دوستم سره مخالفت درلود او یو له پاچا خان ځدراڼ سره).
پاچاخان ځدراڼ دوستم ته وویل چې له بابا پرته بله لاره نه شته ټول باید همدا انتخاب کړو.

دوستم ډېر په احتیاط ځواب ورکړ: هو زه یو عسکر سړی یم دملت استازو چې هرڅوك انتخاب کړ، زه دملت د پرېکړې تائید او ملاتړ کوم.

## ب_ داعلیحضرت محمدظاهرشاه پر وړاندې ائتلافونه او سازشونه:

دې کې هېڅ شك نه و، چې په بېړنۍ لویه جرګه کې د پخواني پاچا پلویان ډېر زیات وو، که چېرې پخواني پاچا ځان کاندید کړی وای، نو د اټکل له مخې یې په سلو کې (۸۵_۹۰) رایې ګټلای شوې، د پخواني پاچا مخالفان او د هغو بهرني ملاتړي ټول پر دې خبره پوهېدل، نو ځکه خو یې یو لړ داسې پټ او ښکاره فعالیتونه او ائتلافونه رامنځته کړل چې د پاچا د بیا واکمنۍ مخه ونیسي.

اکثره جهادي ډلې او په تېره جمعیت تنظیم او نظار شورا دپاچا د بیا واکمنۍ او د سلطنت د بیا اعادې سرسخت مخالفان وو، د ځینو په وینا د جمعیت تنظیم مشر ښاغلی برهان الدین رباني په دې شرط له خپلې کاندیدۍ تېر شو، چې سلطنت به بېرته نه اعاده کېږي. د اسلامي اتحاد د تنظیم مشر استاد سیاف، د وحدت مشر کریم خلیلي، د حرکت تنظیم مشر شیخ محمداصف محسني او نورو جهادي مشرانو استاد رباني دې ته هڅوه چې د اعلیحضرت پر وړاندې د ښاغلي کرزي ملاتړ وکړي، دځینو اوازو له مخې دلنډ مهالې ادارې د ملي دفاع وزیر ښاغلي محمدقسیم فهیم له خوا امریکائیانو ته ویل شوي وو، چې که چېرې ظاهرشاه کاندید شي، نو کابل به په وینو ولمبول شي. دا چې د ښاغلي فهیم دا اخطار به څومره واقعیت ولري، د لیکلي سند په بڼه دا واقعیت نه شته، خو د اوازو له مخې دا واقعیت ردېدلای هم نه شي.

امریکایانو نه غوښتل چې دیوه شخص د حاکمیت په بدل کې که څه هم ټول ملت یې غواړي، یو ځل بیا خپل ځان له جگړې او د کابل له ورانۍ سره مخامخ کړي. دوی دا هم نه غوښتل چې خپل ائتلافي ملگري، چې د جگړو په سختو شېبو کې خپلو گټو سره متحد کړي وو، په دې بیه له لاسه ورکړي، د نظار شورا مشران هم د حالاتو پر دې نازکوالي پوهېدل، نو ځکه یې پر امریکایانو دپخواني پاچا د بیا واکمنۍ دمخنیوي لپاره فشارونه راوړل، پخواني پاچا که څه هم په ولس کې ښه پوره محبوبیت درلود، خو دا چې کوم پوځي ځواک یې نه درلود، نو ددې محبوبیت دتمثیل او بیا حاکمیت لپاره یې چندان څه نه شو کولای. د قدرت بله مرجع بهرني ځواکونه ( د ایساف ځواکونه او په تېره بیا امریکایي ځواکونه ) وو، خو نه د ایساف ځواکونو او نه هم امریکایي ځواکونو دا غوښتل چې دیو چا د مشروع حاکمیت لپاره قرباني ورکړي، په تېره بیا دا کار د ځاني قربانۍ په بدل کې ترسره کړي. د بن د توافقاتو یوه غټه نیمگړتیا همدلته معلومېږي، چې که چېرې د لنډمهالې ادارې یو لوړپوړی چارواکی یا چارواکي له قانون نه سرغړونه وکړي او یا هم عامه غوښتنې ته غاړه کېنږدي نو کوم اجرائیه ځواک موجود دی چې پر هغوی دا پرېکړه ومني؟

دپخواني پاچا پر وړاندې ددغسې پرتو ستونزو له امله بالاخره امریکایان هم دې ته رامات شول، چې هغه یوازې دسمبولیک رول په منلو قانع کړي، دهمدې کار لپاره خو د امریکا د جمهور رئیس ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد څو څو ځله پاچا او د هغه د کورنیو له مهمو غړو سره پټ او ښکاره ملاقاتونه وکړل، خو نتیجه لا پوره څرگنده نه وه او خبره همداسې په ابهام کې پاتې وه د پاچا کورنۍ هم په دې برخه کې کوم څرگند دریځ نه درلود. یوازې پرهمدې خبره یې

اکتفا کوله. ((بس چې څه د ملت اراده وي یاچا یې مني)). د جرګې غړو له دې خبرې وانګېرله چې پاچا په مستقیم ډول نه غواړي ځان کاندید کړي خو که جرګه ورته د زعامت دنده وټاکي پاچا یې مني، نو ځکه په جرګه کې دپاچا یو شمېر سرسختو مینه والو دا د امید وروستۍ مرجع بلله.

د جرګې تر پیل دمخه دلویې جرګې ډېر غړي د پاچا حضور ته ورغلل، یو شمېر یې دپاچا پر لیدو بریالي شول خو اکثرو یې د پاچا د کورنۍ له مهمو سیاسي غړو سره ولیدل او د پاچا د برخلیك په باب یې ورسره خبرې اترې وکړې. دلویې جرګې دې غړو دهېواد له بېلابېلو سیمو او بېلابېلو قومونو او ایډیالوژیو سره تعلق درلود، خو اکثره په دې نظر و چې پر دې وخت له بحران نه د هېواد او خلکو د وتلو یوه اساسي لاره همدا ده، چې پخوانی پاچا دحکومت مشري پر غاړه واخلي.

پاچا ته د بېلابېلو سیمو د خلکو په لړۍ کې یو ځل د ختیزو ولایتونو د وکیلانو یو ګروپ هم لاړ، چې شمېر یې نږدې څلوېښتو تنو ته رسېده، په دې ګروپ کې یو تن زه هم وم، په وزیر اکبرخان مېنه کې د پاچا کورته لاړو، کله چې هلته لاړو او کور ته ور دننه شو، نو ترمونږ دمخه د نورو ولایتونو یو شمېر وکیلان هم ناست وو او مجلس کې یو یو خبرې کولې، د پاچا د کورنۍ په استازۍ ښاغلي احمدشاه، مصطفی او مېرویس حضور درلود، خو خپله پاچا او سردار عبدالولي تشریف نه درلود، زمونږ یو هزاره ورور ته د خبرو نوبت ورسېد. هغه په ډېره صادقانه لهجه وویل:" دپاچا په بیا واکمنېدو کې د ټول ملت ګټه ده، مونږ د افغانستان په هېڅ نظام کې دومره د ارامۍ نفس نه دی ایستلی لکه د حضور په دوران کې، ما باندې خپلو خلکو دین ایښی و

چې په لويه جرګه کې بايد پاچا ته رايه ورکړم، موږ هيله لروچې اعليحضرت ځان کانديد کړي". دې وکيل چې خبرې کولې نو سترګو کې يې ورو ورو اوښکې زياتېدلې او اواز يې توپير کاوه، ده خپلې خبرې په همدې هيله پای ته ورسولې چې اعليحضرت بايد ځان کانديد کړي.

دې پسې د زابل، ارزګان ځينو نورو ولايتونو استازو خبرې وکړې، او ټولو دا خبره کوله چې پاچا بايد ځان کانديد کړي، دا د ټول ملت غوښتنه ده او موږ د هغه چا په نمايندګۍ دا خبره کوو چې موږ ته يې رايه راکړې ده، دې پسې دختيزو ولايتونو د استازو نوبت راورسېد. ښاغلي داودشهيد چې د ننګرهار ولايت يو مشهور شخصيت، ليکوال او شاعر دی هم په دې غونډه کې تشريف درلود، دی د پاچا له کورنۍ سره له پخوا نه پېژني او دلته يې په دې مجلس کې سهم درلود. دغونډې د انانسرۍ دنده ور پرغاړه وه، هر وکيل چې به د خبرو هيله لرله، ده به معرفي کاوه او د خبرو په ترځ کې به يې يو نيم شعار هم ورکاوه، لکه ژوندي دې وي په وطن مين زموږ شهزادګان، ژوندی دې وي اعليحضرت محمدظاهرشاه بابا او نور..

ده لومړی له لغمان ولايت څخه ښاغلي جنرال موسی ستور ته بلنه ورکړه چې خبرې وکړي، ستورصيب د خپلو خبرو په ترځ کې وويل: ((ټول ملت د پاچا تر شا ولاړ دی، موږ هر ډول قربانۍ ته حاضر يو، پاچا بايد ځان کانديد کړي او دملت هيله ومني، موږ ټول همدې ته راغلي يو چې دا وښيو چې موږ دپاچا ملاتړي يو، دا خو دلته څو دګوتو په شمار راغلي، نور ټول په پوليتخنيك کې همدې ته منتظر دي چې پاچا فقط ځان کانديد کړي، موږ هيله لرو چې پاچا دملت د استازو غوښتنه ومني...))

شـهید صئیب وروسـته ببـرك شـینواري ( دننگرهـار ولایـت د اچـین ولسـوالۍ اسـتازي) تـه بلنـه ورکـړه، ببـرك شـینواری د خلقـي رژیـم د رهبرۍ هیئت غړی او په هغه نظام کې د څرگند واك او ځواك خاونـد و، د ۱۳۵۸ ل کال د جدي پر ۶ مه نېټه د روسانو د یرغل په نتیجه کې لـه خپل مقامه لرې او زنداني شو، پوره لس کالـه پـه زنـدان کـې و، دی د پوره علم او حلم خاونـد او خپـل قـوم کـې پـوره اغېـز لـري، نـو ځکـه خـو خپل قوم په اکثریت رایو ټاکلی و، ببرك شینواري د خپلو خبرو پـه تـرڅ کې وویل:" زه د هغه نظام او هغه گوند سړی یم چې کلونـه کلونـه مـو د شاهي کورنۍ او پاچا پر ضد مبارزه کړې، هغـه وخـت کـې مـوږ پـه هغـه نظر وو، خو اوس زه دهغه جریان دیوه غړي په توگه دا وایم چې اوسـنی وخت کې پاچا ته اهم ضرورت دی او بل داسې څوك په ملت کې نه شـته چې ټول ملت پرې راټول شي، هغه جریانونه چې پخوانی پاچا یـې ردوه، اوس ټول په دې نظر دي چې پاچا د اوسني بحران د حل لپـاره یوازینـۍ لاره ده..." د ببـرك شـینواري تـر خبـرو وروسـته شـهید صـیب ماتـه نوبـت راکړ او ویې ویل چې دی د هېواد یو تکړه لیکـوال، شـاعر او روښنفکـر دی.

ما په خپلو خبرو کې وویل:" اعلیحضرت محمدظاهرشاه یوه داسـې رښه هنداره ده چې هرڅوك پـه کـې خپـل مـخ لیـدلای شـي، دا هنـداره تـر اوسه داغداره شوې نه ده، که اعلیحضرت کاندید شي، نـو د ټـول ملـت اتفاق پرې راځي، اوس د جرگې په ځای کـې ټـول وکـیلان دې تـه منتظـر دي چـې د پاچـا یـو مثبـت ځـواب واوري نـو هیلـه ده دملـت دا غوښـتنـه ومنل شي".

تر ما وروسـته ځینـو نـورو وکیلانـو هـم دې تـه ورتـه خبـرې وکـړې، د پاچا د کورنۍ په استازي د هغـه مشـر زوی ښـاغلي احمدشـاه پـه پښـتـو

ژبه خبرې وکړې دا لومړی ځل و چې یوه شهزاده په یوه رسمي مجلس کې په پښتو خبرې کولې. احمدشاه دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل:" موږ د ملت ارادې ته احترام لرو اعلیحضرت هره هغه پرېکړه مني چې د ملت د استازو له خوا ترسره شي".

د پاچا له کوره رخصت شو بېرته دپولیتخنیك پر لوري رهي شو. مازیګر مهال به و، احوال راغی چې پخوانی پاچا له خپلې کاندیدۍ تېرشو، دې اوازې په پولیتخنیك کې د پاچا پر پلویانو ډېر بد تاثیر وکړ، داسې اوازې څو ځله خپرې شوې وې، خو کومه لیکلې بڼه یې نه لرله، ماښام مهال مې د کرزي صیب یو مشاور وزیر څخه ددې اوازې په باب پوښتنه وکړه هغه وویل دا خبره رښتیا ده او دې سره یې ماته دپاچا د هغې اعلامیې د متن یوازې هغه کرښه راښکاره کړه چې په کې لیکل شوي وو، "زما د خوښې کاندید کرزی دی". زما هم پوره یقین راغی، د پاچا د اعلامیې له متنه ډېر خلك خبر شول، د شپې ماسختن د امریکا د جمهور رئیس ځانګړي استازي ښاغلي زلمی خلیلزاد هم د لویې جرګې ځای ته له وکیلانو سره دکتلو لپاره راغی، ګڼ شمېر وکیلان ورته په یوه کېږدۍ کې راټول شول، په دې وکیلانو کې د بېلابېلو ولایتونو وکیلان شامل وو. ګڼو وکیلانو له ښاغلي خلیلزاد څخه ګڼې پوښتنې وکړې، د پوښتونکو په ډله کې ښاغلی پاچاخان ځدران هم شامل و، ځدران د خلکو منځ کې جګ شو او له خلیلزاد څخه یې وپوښتل :" تاسو بابا له هغه ځایه راوست او دلته مو په قفس کې واچوه اوس یې خبرې ته هم نه پرېږدئ. هرسړی په دې پوهېږي چې غوا توره پې یې سپینې دي، هرڅه تاسې سره دي."

دې کې خلیلزاد وویل: ((پاچا په خپله خوښه اعلامیه خپره کړې او خپله حاضر شوی چې کرزی صیب کاندید کړي، زموږ په کې هېڅ

مداخله نه شته...)) دې کې پاچا خان ځدراڼ یو ځل بیا پر خلیلزاد ور غږ کړ چې:" خودت برش گفتی که اعلامیه را خپره کو." پر ښاغلي خلیلزاد نورې نیوکې هم وشوې. وکیلانو په مجموعي ډول دا انگېرله چې پخوانی پاچا له کاندیدۍ نه د تېرېدو په برخه کې، د امریکا د متحده ایالاتو له خوا هم تر فشار لاندې راغلی. د جهادي تنظیمونو د یووالي او د کرزي په گټه، له خپل کاندید تېرېدل دا ټول ددې دلایل وو، چې کابل مېشتو جهادي ډلو د پاچا پر ضد یو پوخ ائتلاف جوړ کړی دی. د لویې جرگې تر پیل یوه ورځ دمخه استاد برهان الدین رباني، استاد عبدالرب رسول سیاف، کریم خلیلي، حاجي عبدالقدیر، محمدقسیم فهیم، یونس قانوني او نور کابل مېشتي جهادي مشران یو ځای سره راټول شول او د لویې جرگې په یوه خېمه کې یې د خپلو خبرو په ترځ کې وویل چې زموږ کاندید ښاغلی حامد کرزی دی.

د وکیلانو په منځ کې هم یو شمېر داسې وکیلان وو، چې پاچا او سلطنتي نظام یې نه غوښتل او ان حساسیت یې ورسره لاره، په هغو نارسمي غونډو کې چې دلویې جرگې تر جوړېدو د مخه به په وړو کېږدیو کې جوړېدې د ځینو وکیلانو له خوا پر پاچا نیوکې کېدې او د هغه مخالفت کېده، خو ددې وکیلانو شمېر خورا کم و.

په ختیزو ولایتونو او همدارنگه په لویه جرگه کې تر ټولو مطرح شخص حاجي عبدالقدیر هم د پاچا مخالفت کاوه، دحاجي عبدالقدیر دا مخالفت ډېر ډاگیز نه و، خو ډېر موثر و، داسې تصور موجود و چې حاجي عبدالقدیر د پردې تر شا پر ټولو خبرو خبر و او دا ورته معلومه وه چې پاچا بیا نه شي واکمنېدلای، نو ځکه یې د ختیزو ولایتونو د وکیلانو په یوه غونډه کې وویل:" زه تاسو ته وایم چې پاچا ځان نه کاندیدوي، نه کاندیدوي، زه ښه خبر یم، ښه ده چې پر نورو مسایلو

خبرې وکړو". حاجي عبدالقدیر د استاد رباني په قانع کولو او راماتولو کې هم لوی لاس درلود، حاجي عبدالقدیر، استاد سیاف، محمدقسیم فهیم او محمدیونس قانوني له استاد رباني سره په دې باب څوځله خبرې وکړې چې هغه له خپلې کاندیدۍ تېر شي، سره له دې چې هغه هم پر دې پوهېده چې د ګټځنې چانس یې ډېر کم دی خو کېدی شي د سیاسي امتیازاتو د ترلاسه کولو او د خپل سیاسي حیثیت د اوچتولو لپاره یې پر خپلې کاندیدۍ ټینګار کاوه.

حاجي عبدالقدیر ته د نږدې منابعو په حواله، یو ځل د خبرو اترو په منځ کې استاد رباني ته حاجي عبدالقدیر وویل: «استاد! دوست نزدیکت کیست؟»

استاد رباني ورته وویل: "شما" حاجي عبدالقدیر ورته بیا وویل:" خیر که مه هستم ما هم بریت رای نمیتم، وقتیکه ما بریت رای نمیتم دیګرا خو بریت بیخي نمیته..." استاد رباني ددې ډول نظریاتو او د عیني واقعیتونو پر بنسټ له خپلې کاندیدۍ څخه منصرف شو او ده هم کرزی صیب د خپل کاندید په توګه معرفي کړ.

دپاچا پر وړاندې همداسې پرېمانه ستونزې پرتې وې، پاچا هم داسې تصور کاوه چې کېدی شي دده له کاندیدۍ سره ځینې خاصې سیاسي وسلوالې ډلې هم شدید مخالفت وکړي او وسلوال اخ و ډب جوړ کړي، که څه هم دملت اکثریت دده تر شا ولاړ و، خو څرنګه چې پاچا دا وخت کوم کورنی او بهرنی وسلوال ملاتړ نه درلود، نو ځکه یې کاندیدۍ ته زړه ښه نه کړ.

پاچا ته ځینو نږدې سرچینو دا خبره هم کوله چې که پاچا ددولت مشر شوی هم وای، نو بیا به هم په کابینه کې داسې وزیران وای چې وسلوال ګروپونه به یې لرل، له بهره به یې ملاتړ کېده او د قانونیت پر

وړاندې به ولاړ وو. ملت به له پاچا څخه عدالت او سوکالي غوښتله، خو دې خلکو به د قانونيت پر وړاندې خنډونه جوړول، په دې ډول به په ولس کې خواشيني او مايوسي رامنځته کېدله او د پاچا محبوبيت به په کې کمېده. د پاچا د بيا واکمنۍ په برخه کې دملگرو ملتونو او د امريکا د متحده ايالاتو د نظرونو ترمنځ توپير موجود و، ملگري ملتونه د پاچا پر محبوبيت او عامه درنښت خبر و، امريکايان هم پر دې پوهېدل، خو امريکايانو دا هم نه غوښتل چې ددوی د عسکرو د قربانۍ په بدل کې دې د پاچا بيا واکمني تضمين شي، د پاچا وسلوال مخالفين دپاچا د بيا واکمنۍ پر ضد وسلوال عمل ته چمتو و، پر دې وخت له امريکايي عسکرو او ايساف قوتونو پرته د پاچا پر ضد وسلوالو مخالفينو د ځپلو لپاره د قدرت کومه بله سرچينه موجوده نه وه.

امريکا د پاچا پر ځای خپلو افغاني وسلوالو موئتلفينو ته ترجيح ورکړه، د ملگرو ملتونو موسساتو هم کوم غوڅ اجرائيوي زور نه درلود چې د پاچا تر شا ولاړ وای، نو دا ټول عوامل سره راټول شول او پاچا يې له خپلې کانديدۍ څخه منصرف کړ.

پاچا لويه جرگه د بن له توافقاتو سره سم رسماً افتتاح کړه، خو ان په جرگه کې لا هم داسې کسان وو، چې د جرگې تخنيکي چارې يې په لاس کې وې او داسې انگېرل کېږي چې غوښتل يې د پاچا په بيانيه کې ځنډ وخنډ پيښ کړي، دجرگې تالار ته د پاچا تر راتگ وروسته د بيانيې پر وخت د برېښنا تگ او بيا راتگ خلکو کې دا گومان پياوړی کړ، چې د پاچا پر وړاندې توطيې رواني دي، بلاخره پاچا خپله بيانه ولوستله، خپل کانديد يې معرفي کړ، له ټولې پاچاهۍ تېر شو او

ښاغلي کرزي صیب څو ځانګړي امتیازونه " دملت بابا لقب" او نور د جرګې په نامه پاچا ته ورکړل:

خو په جرګه کې دیو شمېر پاچا ضدو اشخاصو له خوا بیا هم پاچا ته ستغې سپورې خبرې استعمال شوې، په دې کسانو کې یو هم د شیربهادر په نامه له کابل ښار څخه یو وکیل و چې ځان یې د (بچه حسن) په نامه یاد کړ او وروسته د لویې جرګې د استازو په منځ کې په همدې نامه یادېده، پر ده سربېره یو شمېر نورو کسانو هم دا چې پاچا ته ورکړي القاب او په اصطلاح امتیازونه پرې چندان ښه نه لګېدل، نو ډېر ژر یې عکس العمل څرګند کړ او د پاچا پر ضد یې یوه لیکلې پاڼه، د جرګې پر ځینو برخوالو ووېشله، ښه به وي چې ددې پاڼې متن دلته کټ مټ راوړو.

به نام خداوند

**و اینهم لویه جرگه... دیگر**

**درپی انتظار پنج ماهه مردم افغانستان وجهانیان بخاطر تدویر لویه جرگه، اینك بعد از ایجاد دو بار وقفه در امر افتتاح ان ساعت ٤ عصر- روز سه شنبه براساس توافقنامه بن این جرگه توسط محمدظاهرشاه پادشاه سابق افغانستان در حالی افتتاح گردید که بیشتر از یکهزار و پنجصد نماینده از سراسر کشور برای دریافت راه های حل مشکلات اساسی جامعه افغانستان انتخاب ریس برای دولت انتقالی وپایان بخشیدن به اختلافات خانمسوز بجا مانده از رژیمهای سابقه دور هم جمع شده اند، حال نباید با ایجاد فضای ضد دیموکراتیك و توهین به رای اراده ملت یکبار دیگر زمینه مداخلات اجانب و ریختن خون هزاران انسان دیگر را هموار ساخت.**

**مداخله اشکار در انتخاب کمیسیون تدویر لویه جرگه که در تعین اعضای ان به مردم افغانستان نقشی درنظرگرفته نشد، و در جاهای نیز دست درازی های دیگران درتعین اعضای لویه جرگه، زنگهای خطری برای مردم مظلوم ما تلقی**

گردید، اما امیدواری مردم ما برین بود که شاید به نماینده گان شان در داخل تالار اجلاس وقت داده شود تا با بحث رای زنی درپیرامون ریشه های مشکلات به مشوره هم راه حلی برای انها دریابند.

اما انچه در روز افتتاح اجلاس مشاهده گردید، جریانی بود قلابی، ضد مردمی و ضد ارزشهای اجتماعی که بیشتر به یك جریان شعبده بازی شباهت داشت تا افتتاح اجلاس بزرگ یك ملت مسلمان.

همانطوری که از اغاز کار اداره موقت اقای کرزی وعده یی از وزرا صلاحیت ها و حدود قانونی کار خود را در سایه نفاذ قانون اساسی ۱۳۴۳ رعایت نکرده بودند، یکبار اقای کرزی دیگر میخواهد با پیشنهاد اعطای القاب و صلاحیت های شاهانه برای پیر مرد فرسوده یی که حتی از روی کاغذ همین دیروز نتوانست کلمات را صحیح بخواند، با کلاه گزاری بر سر نماینده گان مردم ما این جریانات از قبل برنامه ریزی شده را مشروعیت قانونی ببخشد.

دهن پاره گی های دلقك مابانه قاسمیار با دربست قرار دادن استیژ در اختیار اقای کرزی خنده یی بود بر ریش نماینده گان مردم افغانستان .

ما درحالیکه این برخورد غیرمنصفانه با نماینده گان مردم کشور خود را توهین به یك ملت بزرگ می شماریم، در حد ادای مسولیت ملي اعلام می داریم اگر جریان کار لویه جرگه نیز به همین منوال_ بالك بخشی ها_ به پیش برود نتیجه یی جز ادامه خونریزی و اشوب نخواهد داشت و نباید فراموش کرد که در زمان حکومت دست نشانده روسها نیز در همین مکان لویه جرگه قلابی دیگر نیز دایر شده بود، که نتایج خونبار ان سالها ملت ما را درماتم نشاند.

جریان افتتاح لویه جرگه به ان می ماند که گویا دراین کشور، خون چند ملیون انسان نریخته و چند ملیون دیگر همین اکنون با اژدهای فقر و اواره گی دست و گریبان نبوده اند، اینهمه مصارف و دویدن ها بخاطر اعطای القاب و صلاحیت های شاهانه به محمدظاهرشاه و تمدید جریان کار اداره موقت خصوصاً ریاست اقای کرزی به راه افتیده بود.

نباید فراموش کرد، اگر قرار بر این باشد که ارگ به پاس اقامت دور شاهی محمدظاهرشاه در اختیارش گذاشته می شود، در انصورت اولا باید ارگ به بازمانده گان امان الله خان و حبیب الله خان سپرده شود تا ظاهرخان، و انجام این کار، مبادله ارگ در مقابل کاندیداتوری اقای کرزی به جای ظاهرشاه حساب خواهد شد.

ما یکبار دیگر اعلام می داریم که نباید با حق مسلم نماینده گان مردم ما در تعین زعامت اینده و تعین نظام سیاسي اینده بازی گردد و اراده و ارای مردم ما به باد مسخره گرفته شود.

وباید همگان به ویژه قدرتمداران و دست اندرکاران درونی و بیرونی سیاست افغانستان بدانند که هیچ لویه جرگه یی قلابی نتیجه یی جز ادامه بربادی ها و نا ارامی ها به بار نخواهد اورد.

(جوانان افغان)

# د ملي سرود جنجال

په بېړنۍ لویه جرګه کې یوه اختلافي مسئله هم د استاد رباني د واکمنۍ د وخت د "ملي سرود" د غږولو موضوع وه، دملګرو ملتونو نماینده ګیو او استازو ته د جرګې تر پیل دمخه یادونه شوې وه، چې د ملي سرود موضوع یوه اختلافي موضوع ده باید په لویه جرګه کې ونه غږول شي.دا نظرونه په جلال اباد کې دملګرو ملتونو (UNAMA) لوړپوړي چارواکي جان ارنولډ ته چې جلال اباد ته یې سفر کړی و، هم ورکړل شوي او هم د لویې جرګې د خپلواک کمیسیون استازو ته، په کابل کې د لویې جرګې تر پیل یوه ورځ دمخه د پکتیا ولایت یو شمېر وکیلانو دملګرو ملتونو استازي ښاغلي مایکل سمپل او همدارنګه د جرګې دارالانشاء ته وویل چې لویه جرګه باید د قران عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شي او له اختلافي مسایلو څخه باید ډډه وشي، دغه راز اوازه وه، چې ددغه یا هغه قومندان په نامه دلویې جرګې غړو ته مډالونه ورکول کېږي، دا مسئله هم د ملګرو ملتونو استازي ته یاده شوه، وکیلانو وویل چې دا ډول مډالونه هم باید توزیع نه شي. دملګرو ملتونو استازي وویل چې مډالونه د شخص په نامه نه دي، بلکې دلویې جرګې په نامه دي او سرود هم نه غږول کېږي، خو دلویې جرګې یو شمېر وکیلانو وویل چې دوی (شمال ټلواله) ملي سرود په چل او مهارت غږوي، وکیلان د بېړنۍ لویې جرګې د خپلواک کمیسیون پر هغې پټې پرېکړې خبر و، چې په خپله

پته پرېکړه یې له (۲۱) رایو څخه په شلو موافقو او یوې مخالفې رایې ددې ملي سرود غږول تصویب کړي وو، خو دا پرېکړه یې ځکه د بېړنۍ لویې جرګې په داخلي طرزالعمل کې په څرګند ډول نه لیکله چې د وکیلانو له عکس العمل څخه وېرېدل. په طرزالعمل کې یې لیکلي وو چې لویه جرګه به دقران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شي او بیا به اعلیحضرت محمد ظاهرشاه جرګه پرانېزي، خو عملاً داسې وشول کله چې دنومیالي قاري برکت الله سلیم له خوا دقران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو، نو دلویې جرګې د جوړېدو د خپلواک کمیسیون رئیس ښاغلي محمداسمعیل قاسمیار له خوا داسې یو اعلان وشو: " حالا شما را به شنیدن سرود ملی افغانستان دعوت میکنم و بعداً از اعلیحضرت محمدظاهرشاه دعوت بعمل میاورم که بیانیه داعیانه شان را ایراد نماید". کله چې دا سرود وغږول شو، نو یو شمېر وکیلان ورته پورته شول، خصوصاً هغه شمېر وکیلان زیات پورته شول چې په لومړیو کتارونو کې ناست وو، ځینې کسان هسې په دې خاطر پورته شول چې تر دوی دمخه کسان پورته شوي وو، په مخکنیو کتارونو کې اکثره تنظیمي مشران، تنظیمي اشخاص او د پخواني رژیم پلوي کسان ناست وو.

په منځنۍ او وروستۍ برخه کې یو زیات شمېر وکیلان پورته نه شول او پر خپلو ځایونو ناست وو، دا سرود د څو شېبو لپاره وغږول شو، مقصد دومره شو چې هغه په اصطلاح رسمیت یې پرې پوره کړ، دمخالفت لپاره یې پر دې وخت ځکه چانته چانس نه و، چې تر سرود وروسته سملاسي د اعلیحضرت وینا وه، نو که چا مخالفت هم کاوه داسې انګېرل کېده چې له اعلیحضرت سره مخالفت کوي، دسرود او اعلیحضرت د وینا انانس یو ځای ورکړل شوی و، دسرود شېبې ډېرې

کمې وې. په داسې حالت کې چې د پښتواني پاچا وینا پیلېدونکې وه مخالفت او له ځایه پورته کېدل د غونډې د اخلال سبب کېده او د پاچا دمخالفت بڼه یې خپلوله.

دغونډې تر پای ته رسېدو وروسته یو شمېر وکیلانو چې مخکې ددې سرود د نه غړولو لپاره د ملګرو ملتونو (UNAMA) استازي ښاغلي مایکل سمپل ته یې مراجعه کړې وه، یو ځل بیا هغه ته ورغلل او شکایت یې وکړ، هغه چې مخکې ژمنه کړې وه لږ شان وارخطا ښکارېده او وکیلان پرې ډېر غوصه وو، مایکل سمپل وکیلانو ته په ځواب کې وویل: "دملګرو ملتونو وظیفه ختمه شوې اوس دا خپله د لویې جرګې د پرمخبیونکو کار دی چې څنګه خپله اجنډا پرمخ بوځي".

دلویې جرګې ددویمې ورځې پر سهار د غونډې تر پیل دمخه یو ځل بیا یو څو تنه استازي ښاغلي قاسمیار ته لاړل او ویې ویل چې ستاسو دا کار (د سرود غړول) د طرزالعمل مخالف کار دی. د لویې جرګې په داخلي طرزالعمل او همدارنګه د لومړۍ ورځې د غونډې په اجنډا کې قطعاً ددې سرود یادونه نه ده شوې. هغه که هرڅومره استدلال وکړ چې دا د دولت رسمي سرود دی، خو وکیلانو ورته وویل کوم دولت؟ هغه دولت خو تېر شو او کومې شورا دا تصویب کړی؟ ښاغلي قاسمیار ته په دې برخه کې لږ څه تروې خبرې هم وشوې، خو هغه اوسېله وکړه، رسمي غونډه بیا پیل شوه د غونډې په پیل کې مخکې تر دې چې پر نورو موضوعګانو خبرې وشي، دننګرهار ولایت استازي مېرمن ارین د پرونۍ ورځې د اجنډا مخالف حرکت په باب له ښاغلي قاسمیار څخه پوښتنه وکړه، ارین د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل:" د بن د پرېکړو له مخې د (۱۳۴۳ل) کال قانون نافذ دی، په دې قانون کې خو دا ملي سرود نه شته، او نه د اوسنۍ لویې جرګې په

داخلي طرزالعمل کې دا سرود راغلی، تاسو د کوم منطق له مخې دا سرود وغږاوه؟ "ښاغلی قاسمیار لږ شان وارخطا غوندې شو او په خپلو خبرو کې یې څرګندونه کړه، چې:" این به هیچ وجه به معنی رسمیت بخشیدن به این سرود نه بود چون وقت بود سرود دولتی بود ما ازین خاطر اینرا پخش کردیم..". تر دې خبرو وروسته د پغمان ولسوالۍ وکیل عبدالرب رسول سیاف پورته شو او دا سرود یې تائید کړ او ویې ویل چې : " تنها از خاطر الله اکبر چیزی نګوید..". د استاد سیاف پر خبرو د بیا تبصرو په ترڅ کې وکیلانو په خپلمنځي غونډو کې وویل چې استاد سیاف غواړي د الله اکبر تر نامه لاندې د خپل یو موئتلف تنظیم ترانه پرخلکو د ملي سرود په نامه ومني. الله اکبر موږ ته تر هرڅه اوچت دی، خو دلته پر الله اکبر بحث نه دی، الله اکبر زموږ یو اسلامي اصل دی او موږ یې په پنځه وخته اذان کې په هرکلي او بانډو کې په شپه او ورځ کې پنځه ځله اورو او ایمان پرې لرو، خو دلته د ملي سرود موضوع ده، په ملي سرود کې دیوه هېواد او ملت ملي ویاړنې تمثیلېږي، نو ځکه ورته ملي سرود وایي، بله خبره د اکثریت ده، ملي سرود دیوه هېواد د اکثریت خلکو په ژبه وي، که خبره یوازې د الله اکبر وي نو ایا الله اکبر په پښتو ژبه کې نه شي راتلای که څنګه؟ او داسې نور دلایل، اوسني سرود کې نیمګړتیا دا ده چې دې کې ان د افغان کلمه نه ده راغلې، نو په یوه سرود کې چې دملت نوم او ملي ویاړنې نه وي راغلې نو هغه ته موږ څنګه ملي سرود ووایو؟ د استاد رباني د وخت ملي سرود دادی:

قلعــــه اســـــلام قلـــب اســـــيا
جـــــاودان ، آزاد خــــــاك آريـــــا
زادهٔـــــــاه قهرمــــــان بــــرزۀ
ســــــر زنـــــده مـــــردان خـــــدا
الله اكبــــــــــر الله اكبــــــــــر

تيـــغ ايمــــانش بــــه ميــــدان جهـــاد
بنــــد اســــتبداد را ازهــــمٔ‌ســـــت
ملـــــــت آزاده اى افغانســـــــتان
درجهـــان زنجيـــر محكومـــان شكســـت
الله اكبــــــــــر الله اكبــــــــــر

درخـــط قـــرآن نظـــام مــــا بـــود
پــــرچم ايمــــان بــــه بــــام مــــا بــــود
هـــــم صـــــدا و همنـــــوا هـــــم وا
وحـــدت ملـــى مـــرام مـــا بـــود
الله اكبــــــــــر الله اكبــــــــــر

شـــــــاد زى آزاد زى آبـــــــاد زى
اى وطـــن در نـــور قـــانون خــــدا
مشـــــعل آزادهـــــــى رافـــــــراز
مـــــردم بزٔشـــــت شـــــو رهنمــــا
الله اكبــــــــــر الله اكبــــــــــر

دملي سرود جوهر ملي ویاړنه او ملت پالنه ده، که چېرې پر اسلامي اساساتو زيات ټينګار کېږي، نو بيا ښه ده چې "اسلامي سرود" ورته وويل شي، نه ملي؟ که اسلامي سرود موږ غواړو نو بيا خو په کار ده چې د ټول اسلامي امت لپاره يې جوړ کړو، نه ديوه خاص قوم او يا ديوې خاصې ژبې د ويونکو لپاره؟ داسې ډېر دلايل له وکيلانو سره وو خو د خبرو چانس ورته پيدا نه شو، نو ځکه يې ديو ليکلي سند

په توگه ددې سرود په مخالفت لاسلیکونه وکړل، لاسلیکونه د اولې ورځې له ماښام څخه د دویمې ورځې د سهار د غونډې تر پیل پورې راټول شول خو کله چې ښاغلي قاسمیار وویل چې دا د رسمیت په منظور نه دی غږول شوی، نو بیا اکثره وکیلانو فکر وکړ چې بیا به یې نه غږوي، نو ځکه له نورو لاسلیکونو څخه منصرف شول، ددې لاسلیکونو او غبرگون متن په دې ډول دی:

## دلویې جرگې وکیلان
## د رباني ترانه ملي سرود نه دی

د بېړنۍ لویې جرگې په لومړنۍ غونډه کې چې د ښاغلي برهان الدین رباني د وخت یوه ترانه د ملي سرود په نامه خپره شوه دا د افغانستان ملي سرود نه دی، بلکې یوه تنظیمي ترانه ده چې نه په کې د افغان نوم شته او نه د افغانانو د ملي هویت د ساتنې او پالنې ولوله، بلکې دا ترانه د معاصر افغانستان پر ضد یوه ترانه ده چې ځینو خاصو ډلو ورته د ملي سرود نوم ورکړی دی.

د لویې جرگې د عمومي او داخلي طرزالعمل له مخې هم ددې ترانې غږولو ته نه کومه اشاره شوې وه او نه هم ورته اجازه وه. د لومړۍ ورځې په اجندا کې هم ددې سرود یا ترانې د غږولو یادونه نه وه راغلې، د لویې جرگې تر جوړېدو یوه ورځ د مخه هم محترمو وکیلانو د لویې جرگې د کمیسیون دارالانشاء او مسئولینو ته ویلي وو، چې دا ترانه ملي سرود نه دی او باید ونه غږول شي او هغو محترمو وکیلانو ته ډاډ او وعده ورکړې وه چې په هېڅ وجه به نه غږول کېږي، په همدې وجه خو یې په اجندا کې هم یادونه نه وه راغلې، خو ښاغلي قاسمیار

په خپل سر د لويې جرګې د طرزالعمل او اجندا خلاف دا کار وکړ او په ډېر فريبانه ډول يې په اصطلاح د ملي سرود او اعليحضرت المتوکل على الله محمدظاهر شاه نومونه سره يوځای واخيستل او ويې ويل چې "لومړی به ملي سرود واورول شي او بيا اعليحضرت المتوکل على الله اعليحضرت محمد ظاهرشاه خپله داعيانه وينا واوروي" د سرود او پخواني پاچا نومونه يې ځکه په يو ځل اعلان کړل چې خلکو څخه لاره ورکه کړي او په چل د مخالفت مخه ونيسي، خو بيا هم يو شمېر وکيلانو خپل غږ پورته کړ او ويې ويل چې موږ دا سرود نه منو او يو زيات شمېر وکيلان خو ورته ببخي پورته نه شول، موږ لومړی دلويې جرګې د ټولو طرزالعملونو او د لومړۍ ورځې د اجندا خلاف د ښاغلي قاسميار دا عمل غندو او د جرګې برخوالو ته يې بې اعتنايي او سپکاوی ګڼو او له ده څخه ددې خپلسري عمل د پوښتلو غوښتونکي يو. دغه راز موږ دا عمل د افغانستان د ملي وحدت او ملي ګټو خلاف يو عمل ګڼو او دا خبره په ډاګه کوو چې دا سرود قطعاً د افغانستان ملي سرود نه دی، دا کار هم د بن د تړون، هم د (۱۹۶۴ل) کال د اساسي قانون او هم د لويې جرګې د ټولو طرزالعملونو او د لومړۍ ورځې د اجندا خلاف کار دی. که چېرې د بل بشپړ ملي سرود تر جوړېدو پورې ملي سرود ته اړتيا وي نو بيا خو د مرحوم محمد داود خان د وخت ملي سرود ډېر غوره او مناسب ملي سرود دی، چې هم د جمهوريت او ديموکراسۍ تمثيل کوي او هم د افغان پالنې او ازادۍ.

په درناوي د بېړنۍ لويې جرګې وکيلان

(۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

د رباني ترانه ملي سرود نه دی

د بېړنۍ لويې جرګې په لومړنۍ غونډه کې چې د ښاغلي برهان الدين رباني د وخت يوه ترانه د ملي سرود په نامه خپره شوه د افغانستان ملي سرود نه دی، بلکې يوه تنظيمي ترانه ده چې نه پکې د افغان نوم شته او نه د افغانانو د ملي هويت د ساتنې او پالنې ولوله، بلکې دا ترانه د معاصر افغانستان پر ضد يوه ترانه ده چې څنګه خامخا د لوی ورته د ملي سرود نوم ورکړی دی.

د لويې جرګې د عمومي او داخلي طرزالعمل له مخې هم د دې ترانې غږولو ته کومه اشاره شوې وه او نه هم ورته [illegible] اجازه وه. د لومړۍ ورځې په اجندا کې هم د دې سرود يا ترانې د غږولو يادونه نه وه داخله. د لويې جرګې تر جوړېدو يوه ورځ دمخه هم محترمو وکيلانو د لويې جرګې کميسيون د اراکينو او مسؤلينو ته ويلي وو چې دا ترانه ملي سرود نه دی او بايد ونه غږول شي او هغوی محترمو وکيلانو ته ژمنه او وعده ورکړې وه چې په هيڅ وجه به نه غږول کېږي، په عمدي توګه خو يې په اجندا کې هم يادونه نه وه داخله. خو ښاغلي قاسميار په خپل سر د لويې جرګې د طرزالعمل او اجندا خلاف دا کار وکړ او په ډېر فريبانه ډول [illegible] په اصطلاح د ملي سرود او اعليحضرت محمد ظاهر شاه نومونه سره يو ځای وړاندې کړل او ويلي چې «لومړی به ملي سرود واورو لې او بيا اعليحضرت المتوکل علی الله اعليحضرت محمد ظاهرشاه خپله داعيانه وينا واورو» د سرود او وينا پاچا نومونه [illegible] په يو ځل اعلان کړل چې خلک مخې له وړاندې کړي او د مخالفت مخه ونيسي. خو بيا هم يو شمېر وکيلانو خپل غبرګون ښکاره کړ او ونه ويل چې موږ دا سرود نه منو او يو زيات شمېر وکيلان خو تر پايه پورته نه شول. موږ لومړی د لويې جرګې د ټولو طرزالعملونو او د لومړۍ ورځې د اجندا خلاف د ښاغلي قاسميار دا عمل غندو او د جرګې برخوالو ته له بې اعتنايي او سپکاوي ګڼو او له ده څخه د دې خپلسري عمل د پوښتلو غوښتونکي يو. د نه راز موږ دا عمل د افغانستان د ملي ارزښتونو او ملي ګټو خلاف يو عمل ګڼو او دا خبره په ټينګه تکراروو چې دا سرود د افغانستان ملي سرود نه دی، دا کار هم د بېړنۍ ترون، هم د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون او هم د لويې جرګې د ټولو طرزالعملونو او د لومړۍ ورځې د اجندا خلاف کار دی. که څېړي د راتلونکي ملي سرود تر جوړېدو پورې ملي سرود ته اړتيا وي نو بيا خو د مرحوم داود خان د وخت ملي سرود ډېر غوره او مناسب ملي سرود دی چې هم د جمهوريت او ديموکراسي تمثيل کوي او هم د افغان پالنې احساس لري. په درناوي د بېړنۍ لويې جرګې وکيلان

| نوم | ولايت | لاسليک |
| --- | --- | --- |
| ۱- محمد کميل [illegible] | لغمان | [illegible] |
| ۲- عصمت الله | [illegible] | [illegible] |


لاسلیک
ولایت
نوم
کونړ
۴- حاجي ... روح الله
لغمان
۵- حاجي محمد گل
۷- حاجي شمس الله
لغمان
۸- حاجي محمد کریم
۹- محمد رحیم
لغمان


۲۰- انجنیر محمد عمر شینواری
۲۱- سید عالم شینواری
۲۲- محمد شکیل
۲۳- لعل آغا
۲۴- عبدالله
۲۶ داکتر همایون
۲۷ غلام حیدر حیدری جلال اباد ښار
۳۰- حاجي عبدالجبار ننګرهار
۳۲ سراج الدین ننګرهار
۳۴ فضل ربانی
۳۵ نجم الدین ننګرهار


امضا
ولایت
نوم
۴۰- مولوی محمد قابل
ننگرهار
ننگرهار
ننگرهار
محمد داود
ننگرهار
۴۳- محمد انور سلطانی
بادغیس
۴۴- ملا ملنګ
ننگرهار
۴۵- فرمان زلی
۴۶- الله داد
۴۷- عبد الغفار
۴۸- عبد القدیر
ننگرهار
ننگرهار
محمد ابراهیم
۵۲- حاجی زلی
۵۳- حاجی نور احمد
ننگرهار
پکتیکا
پکتیکا
m. Ibrahim

(۵) د ټولې ملي شورو د پاره باید د ولایاتو نظر واخستل شي

او د جمعیت د تنظیم ترزنه باید د ملي شورو په نامه ونه غزول شي

| نوم | ولایت | لاس لیک |
| --- | --- | --- |
| عبدالله | غزني | |
| لقمان | خوست | |
| حاجي طوطي خان | خوست | |
| نور علي نماینده نورستان | نورستان | |
| عبدالحکیم | لوګر | |
| غلام حیدر | هلمند | |
| محمد عالم | کنر | |
| حاجي محمد شریف نائب | | |
| حاجي احمد | | |
| حاجي علم ګل | | |
| سید علم | | |
| حبیب | | |
| سلطان محمد | | |
| زعیم خان | | |


حاجی فضل محمد
ولایت کندهار

(۷) د رباني د وخت شرو د ملي شرو د ګټو نه منو

| نوم | ولایت | لاسلیک |
| --- | --- | --- |
| عارفه عمرلو | لغمان | |
| داکتر ثریا | لغمان | |
| نفیسه | کابل | |
| انیسه | کنړ ولایت | |
| زرین | ننګرهار | |
| سایمه | ننګرهار | |
| داکتر خالده | غزني | |
| داکتر نوریه | [illegible] | |
| شکریه | بدخشان | |
| حمیرا | ننګرهار | |
| هوسۍ | کابل | |
| مرۍ | نورستان | |
| زلیخا | نورستان | |
| جمیله مجاهد | کابل | |
| [illegible] | کندهار | |
| ګلالۍ | کندهار | |
| صفیه صدیقي | ننګرهار | |
| [illegible] | کندهار | |



(٨)

| نوم | ولایت | لاسلیک |
|---|---|---|
| مستوره | کابل | |
| فهیمه | ننگرهار | |
| نازنین | هلمند | |
| فوزیه | هلمند | |
| نیگار | ننگرهار | |
| حلیمه | ننگرهار | |
| زرغونه | وردک | |
| پروین | کوچیان | |
| [illegible] | لغمان | |
| [illegible] | کابل | |
| [illegible] | کاندهار | |
| وړانګه صافي | کابل | |
| زرغونه | کابل | |
| بلقیس | کاپیسا | |
| غزال | کابل | |
| [illegible] | وردک | |
| گل بدن | [illegible] | |
| صفیه | هرات | |
| صفیه [illegible] | کابل | |



# د لویې جرګې د رییسه هیئت ټاکنه

د بېړنـۍ لـویې جرګې پـه داخلـي کـړنلاره کـې راغلـي چـې د لـویې جرګې د ریاست، دوو مرستیالانو او دوو منشیانو لپاره دې انتخابات ترسره شي، ددې کار لپاره په کار وه موقت رئیس وټاکل شي چې د هغه تر سرپرستۍ لاندې انتخابات ترسره شي، دا کار وشو، د کابل پوهنتون رئیس ښاغلی ډاکټر محمداکبر پوپل دجرګې موقت رئیس په توګه وټاکل شو، خو مخکې تر دې هم په کار وه چې د لویي جرګې له پیـل سـره سـم د جـرګې موقـت رئـیس ټاکـل شـوی وای. خـو ښـاغلي قاسمیار چې دلویې جرګې د خپلواك کمیسیون مشر و، لـه همغـه پیلـه دلویې جرګې د ریاست چارې ترسره کولې، ستېج او میـك یـې پـه لاس کې و، یو شمېر وکیلانو دا اعتراض درلود چې دلویې جرګې د ریاست اوسنی رئیس (ښاغلی قاسمیار) که غواړي دلویې جرګې درياست لپاره ځان کاندید کړي، نو له همغه پیله باید د ریاست لپاره یو بل شخص تـر هغـه وختـه پـورې د رئـیس پـه توګـه ټاکـل شـوی وای چـې انتخابـات ترسره کېدل، قاسمیار صیب هم د لـویې جرګې د خپلـواك کمیسـیون رئیس دی، هم د لویې جرګې نامنتخب رئیس او هم غـواړي د منتخب رئیس په توګه ځان کاندید کړي.

په حقیقت کې له هغه پیله بیا تر دې دمـه پـورې دده پـه ریاست کې هېـڅ خـلا نـه ده راغلـې، نـو دا کـار خـو انتخابـات تـر پـوښتنې لانـدې راولي، د موقت رئیس تر ټاکلو پورې هم د ښاغلي قاسمیار په کار کې

له ورایه نیمګړتیا احساسېده، خو بلاخره موقت رئیس وټاکل شو چې د رئیسه هیئت لپاره انتخابات ترسره کړي، ښاغلي سیاف تر دې دمخه وړاندیز وکړ چې همدا رئیسه هیئت ښاغلی قاسمیار، پوهاند عبدالعزیز، محبوبه حقوقمل (مرستیالان) عبدالسلام رحیمي او ښاغلی فرید حمیدي (منشیان) دلویې جرګې د رئیسه هیئت لپاره مناسب دي او انتخاباتو ته اړتیا نه شته، خو دا وړاندیز د لویې جرګې د غړو له خوا رد شو.

موقت رئیس ښاغلي پوهنوال محمداکبر پوپل پر خپل کار پیل وکړ، هغه لومړی کار دا وکړ چې ښاغلی قاسمیار، پوهاند عبدالعزیز او محبوبه حقوقمل نه یې هیله وکړه چې خپلې څوکۍ پرېږدي، نور ددوی کار ختم شو، فرید حمیدي (منشي) ته یې دنده وسپارله چې د رئیسه هیئت د ټاکنې طرزالعمل تشریح کړي، حمیدي طرزالعمل تشریح کړ، په طرزالعمل کې غټ ټکي دا وو چې دجرګې هر استازی د جرګې رئیس ته یوه رایه ، د معاونیت دوو پوستونو ته دوه رایې او منشیانو( دوو پوستونو) ته هم دوه رایې کارولای شي.

ما (یون) درئیسه هیئت لپاره دکاندیدانو پر مشخصاتو ټینګار وکړ او ومې ویل چې ددې پوستونو لپاره کاندید اشخاص باید د هېواد په دوو رسمي ژبو پښتو او دري حتمي پوه وي، ځکه چې دا د ټول هېواد دلویې جرګې رئیسه هیئت ټاکنه ده نه د یو قوم او یوې ژبې،بل که دا اشخاص پر دواړو ژبو پوه نه وي، نو د جرګې کنټرول او اداره ورته سخته ده او هم خلکو ته قناعت ورکول او مفاهمه ورته مشکلېږي، څرنګه چې زما وړاندیز منطقي و، نو چا یې ښکاره مخالفت ونه کړ. دې وخت کې د نظر څرګندول او د ځینو کاندیدانو معرفي کول شروع شول، دا مهال یو وکیل چې ځان یې د پنجشېر د

ځلورګونو ولسوالیو استازی باله، استاد سیاف د لویې جرګې دریاست لپاره د خپل کاندید په توګه معرفي کړ او ویې ویل:" استاد سیاف یك شخصیت جهادی، عالم و دانش مند است به هر دو زبان مسلط است از طرف ما به صفت کاندید ریاست لویه جرګه معرفی میشود".

دې سره جوخت د خوست وکیل نواب امیرزي میك ته ځان رسولای و او په خپلو خبرو کې یې وویل:" زمیږ دخیست د وکیلانو له خوا جونرول صیب دوستم د لویې جرګې د ریاست لپاره کاندید دی". دا خبره بېخي د تعجب وړ وه چې د خوست یو وکیل څنګه د جنرال دوستم د کاندیدۍ غوښتنه کوي، کله چې مې نواب امیرزي نه پوښتنه وکړه چې دا څنګه معامله وه هغه راته وویل:" دا کار مې د ملي وحدت لپاره وکړ چې دا تعصبات ختم شي او بل که رښتیا یې راباندې وواییې "دوی" (شمال ټلوالې) موږ ته استاد سیاف په غاړه کې را اچوه او زموږ رایې یې پرې وېشلې ما ورته جنرال دوستم غاړه کې واچوه، چې ددوی رایې تقسیم شي".

دنواب امیرزي نیت که هر ډول و خو جنرال دوستم په دې خبره خوشاله شو او بیا وروسته خبر شوم چې د خوست او پکتیا وکیلانو سره یې له شبرغان زندان څخه ددې سیمې د طالب بندیانو د خوشې کولو ژمنه هم کړې وه، استاد سیاف له خپلې کاندیدۍ نه د قاسمیار په ګټه تېر شو او جنرال دوستم هم ځان کاندید نه کړ. د کاندیدانو لست نور وغځېده، خو بیا هم د انتخاباتو پر سیستم بحث روان و.

د انتخاباتو د سیستم په باب څو ډوله نظرونه موجود وو، خصوصاً د معاونینو او منشیانو د ټاکنې په باب، د کابل پوهنتون استاد او ددې جرګې استازي ښاغلي فیض الله جلال وویل چې د جرګې هر برخوال یوازې یو ځل وټ استعمالولای شي، یو وکیل حق نه لري چې

دوه ځلي وټ استعمال کړي، خو د جرګې بل وکیل احمدضیا رفعت چې دی هم د کابل پوهنتون استاد و وویل، هر وکیل حق لري چې دوه ځله وټ استعمال کړي، یو ځل یو معاون ته یو وټ بل ځل بل معاون ته. یو ځل یو منشي، بل ځل بل منشي ته، دې پسې ما (یون) خبرې وکړې ما د استاد فیض الله جلال خبره تائید کړه او ومې ویل چې هر وکیل باید تر یو ځل زیاته خپله رایه استعمال نه کړي، دوو مرستیالانو ته یوځل او دوو منشیانو لپاره هم باید یو ځل رایه استعمال شي، په مرستیالانو کې چې هر چا جګې رایې وګټلې د سر دوه کسان دې مرستیالان شي او په منشیانو کې هم همدارنګه، که موږ دوه رایې د مرستیالانو او دوه د منشیانو لپاره استعمال کړو، نو دا ټول په جرګه کې د هغو کسانو استازي راځي چې په یوې ډلې پورې اړه ولري، خصوصاً په هغې ډلې پورې چې دلته دهرې بلې ډلې په تناسب اکثریت دي، خو مجموعي اکثریت نه دی." د مثال په توګه دجرګې د ټولو استازو شمېر (۱۶۰۰) تنه دی، یو ګروپ (۶۰۰) تنه دی، بل ګروپ (۵۰۰) تنه، بل ګروپ (۳۰۰) او همداسې نور تر دې ټیټ، که موږ دوه ځله د وټ حق ورکړو، نو شپږ سوه کسیزه ډله یو ځل خپل یو کاندید په (۶۰۰) رایو کامیابوي، بل ځل بل کاندید (معاون)، د منشیانو په برخه کې هم همدا عملیه تکرارېږي، په نتیجه کې څلور واړه پوستونه د (۶۰۰) کسیزې ډلې لاسته ورځي، چې دا د ټولې لویې جرګې دغړو د شمېر نږدې دریمه برخه جوړوي، په دې عملیه کې په مجموعي ډول یو منسجم اقلیت بریالی کېږي او لوی اکثریت ماته خوري، خو د یو وټ په سیستم کې په شپږ سوه کسیز ګروپ پسې (۵۰۰) کسیز ګروپ په اتومات ډول ځای نیسي، او بیا وروسته نور، په دې ډول لږ تر لږه دوه سیاسي ډلې سېټونه ترلاسه کولای شي، چې دا د ټولې جرګې اکثریت

تشکیلوي، خو د جرګې يو بل مخکښ برخوال ښاغلي عزیزالله واصفي زما خبرې رد کړې دوه وتېز سیستم يې تائيد کړ او ويې ویل:" چون دو پوست معاونیت، دو پوست منشی است بناً اینها دو شخصیت حقوقی علیحده است، وما باید به هر شخصیت حقوق علیحده رای علیحده استعمال نمایم، ازین خاطر ما پیشنهاد مینمایم که بر هر کدام ان رای مستقل استعمال شود".

د واصفي صیب وړاندیز که څه هم په دې جرګه کې يو اړخ ښه زیانمنولای شو او عادلانه نه برېښېده، خو څرنګه چې دده خبرې پوره وزن درلود او خپله هم د جرګې د ریاست لپاره يو وتلی کاندید و، نو ځکه يې خبره ومنل شوه او معاونانو او منشیانو لپاره د دوه رایو سیستم ومنل شو، ددې پوستونو د کاندیدانو لپاره مخکې تر مخکې ځینو خلکو ځانونه کاندید کړي وو، هر لوري ځان ته کاندیدان درلودل.

دکاندیدانو د کمولو لپاره ځینې ځانګړې کمېټې هم جوړې شوې وې. يو مهم کاندید ښاغلی قاسمیار و چې مخکې تر مخکې د دولت او ځینو نورو واکمنو تنظیمونو ملاتړ يې هم ترلاسه کړی و، دلویې جرګې د خپلواک کمیسیون د مشرۍ امتیاز يې هم درلود. د انتصابي غړو ډېر غټ ملاتړ يې هم درلود، ځکه خو يو شمېر وکیلانو اعتراض وکړ چې لومړی دې د انتصابي غړو دقیق شمېر معلوم شي چې څوک دي او له کومه ځایه راغلي؟ بیا دې انتخابات شروع شي، خو د انتخاباتو تر پیله پورې ددې کسانو دقیق شمېر لویې جرګې ته وړاندې نه شو، وروسته پته ولګېده چې د ټولو انتصابي کسانو شمېر ان (۴۰۰) تنو ته رسېده. دا کسان اکثره د ښاغلي قاسمیار پلویان او د

دولت د خوښې کسان وو چې د جرگې دمشر په ټاکلو کې یې کارنده رول درلودلای شو. د قاسمیار صیب په مقابل کې غټ کاندیدان ښاغلی پوهاند محمدحسن کاکړ، ښاغلی عزیزالله واصفي او څلور پنځه تنه نور وو. تر دې دمخه د ښاغلي شاه محمود میاخېل تر سرپرستۍ لاندې یو شپږ کسیز هیئت فعالیت کاوه چې له بېلابېلو کاندیدانو سره خبرې وکړي او دې ته یې متمایل کړي چې دیو بل په گټه تېرشي، دوی یو شمېر کاندیدان را کم کړل، خو بیا هم اساسي کاندیدان لا پر خپل ځای پاتې شول.

په پای کې درې مهم کاندیدان د ښاغلي قاسمیار پر وړاندې پاتې شول، پوهاند محمدحسن کاکړ، عزیزالله واصفي، حشمت غني احمدزی، کله چې دا لست اعلان شو، بیا هم ځینو کسانو پوهاند صیب کاکړ ، عزیزالله واصفي او حشمت غني احمدزي سره خبرې وکړې، په پای کې پوهاند محمدحسن کاکړ او حشمت غني د واصفي په گټه له خپل کاندیدۍ منصرف شول او سر ته یوازې درې کاندیدان، ښاغلی قاسمیار، عزیزالله واصفي اوښاغلی ډاکټرکاظم تورا پاتې شول.

د کاندیدانو لپاره وټ کارت په دې ډول و:

[redacted]

### رئیس

۱. عزیز الله واصفی 575
۲. محمد اسماعیل قاسمیار 889
۳. داکتر محمد کاظم تورا 7
۴. حشمت غنی احمدزی

لطفاً یو نوم د رئیس، دوه نوموه د مرستیالانو او دوه نوموه د منشیانو په ردیفونو کې حلقه کړئ.

لطفاً یك نام مورد انتخاب تان را برای رئیس، دو نام برای معاونین و دو نام را برای منشی ها در هر یك از سه ردیف کاندید ها حلقه نمائید.

### معاون رئیس

۱. یوسف واعظی 30
۲. سید حسین عالمی بلخی 55
۳. پوهنوال محبوبه حقوقمل 84
۴. دوکتور محمد سرور سروری 79
۵. استاد عبدالاحد عشرتی 55
۶. اسدالله وفا 101
۷. عبدالغفار مظفری 9
۸. داکتر سید فضل ربانی 138
۹. صدیقه بلخی 79
۱۰. زرغونه رشتین 32
۱۱. داکتر سیما ثمر 411
۱۲. شاه محمود میاخیل 219
۱۳. دوکتور عبدالحی الهی 128
۱۴. دوکتور محی الدین مهدی 220
۱۵. سید محمد عالم امینی 6
۱۶. عبدالسلام رحیمی 229
۱۷. سلیمان یاری 28
۱۸. جنرال عبدالوهاب پیلوت 44
۱۹. سید محمد روئین 92
۲۰. قاری محب الرحمن 40
۲۱. استاد محمد انور سلطانی 54
۲۲. داکتر عبدالخالق فضل 83
۲۳. پوهاند عبدالعزیز 50
۲۴. سرمحقق سید امین مجاهد 72
۲۵. محمد اعظم دادفر 257
۲۶. معلم اسد الله 10
27. ثریا پیکان 22

### منشی

۱. مولوی محمد عمر شریفی 66
۲. محمد سعید ظریفی 4
۳. علی اکبر نجوا 8
۴. محمد نعیم معصومی 18
۵. سرور دانش 112
۶. ملا ولی 22
۷. عبدالرحمن مختار هوتکی 44
۸. قاضی حبیب الله 24
۹. الحاج عبدالروف 41
۱۰. فقیر شاه مهران 3
۱۱. طیبه یوسفی 56
۱۲. نادیه صالح 20
۱۳. عبداللطیف آشنا 46
۱۴. انور خان جگدلك 53
۱۵. محمد شریف ارزش 41
۱۶. عبدالقادر عدالتخواه 8
۱۷. عبدالودود پیمان 57
۱۸. نجیب الله نجیب 164
۱۹. سلیمان حامد 5
۲۰. عبدالقدوس قاطع 177
۲۱. عبدالباقی ترکستانی 86
۲۲. نعمت الله (احسان جاوید) 6
۲۳. اتفاق احمد نیك 23
۲۴. حاجی عارف اخلاقی 12
۲۵. عبدالله انصاری 10
۲۶. حاجی محمدابراهیم سالك 32
۲۷. داکتر محمد یوسف نورستانی 27
۲۸. داکتر محمد فاروق بره کی 51
۲۹. عباس بصیر 55
۳۰. میراحمد جوینده 37
۳۱. محمد نعیم مقصودی 15
۳۲. سید عنایت الله 44
۳۳. زین العابدین 85
۳۴. عبدالقیوم ملك زاد 106
۳۵. میراجان 8
۳۶. گل بدن حبیبی 29
۳۷. غرنی ببرك زی حدران 24
۳۸. عبدالغفور لیوال 43
۳۹. محمد حامد ذوهاب 42
۴۰. انجینیر شریف الله مظفری 23
۴۱. عبدالبصیر عشرت 33
۴۲. پوهنمل محمد اسماعیل یون 258
۴۳. سیمین حسن زاده 48
۴۴. استاد عبدالغفور آرزو 123
۴۵. استاد احمد ضیأ رفعت 63
۴۶. قاری نصرالله محمدی 83
۴۷. سید نعیم مجروح 209
۴۸. محمد الیاس ذره 13

[redacted]

| د ریاست لپاره کاندیدان | ګټلې رایې |
|---|---|
| ۱. عزیزالله واصفي | ۵۷۵ |
| ۲. محمداسماعیل قاسمیار | ۸۸۹ |
| ۳. ډاکټرمحمدکاظم تورا | ۵۷ |

| دمرستیالۍ لپاره کاندیدان | ګټلې رایې |
|---|---|
| ۱. یوسف واعظي | ۳۰ |
| ۲. سیدحسین عالمي بلخي | ۵۵ |
| ۳. پوهنواله محبوبه حقوقمل | ۸۴ |
| ۴. دوکتورمحمدسرور سروري | ۲۹ |
| ۵. استاد عبدالاحدعشرتي | ۵۵ |
| ۶. اسدالله وفا | ۱۰۱ |
| ۷. عبدالغفار مظفري | ۹ |
| ۸. ډاکټرسیدفضل رباني | ۱۳۸ |
| ۹. صدیقه بلخي | ۷۹ |
| ۱۰. زرغونه رښتین | ۳۲ |
| ۱۱. ډاکټره سیما ثمر | ۴۱۴ |
| ۱۲. شاه محمود میاخېل | ۲۱۹ |
| ۱۳. دوکتور عبدالحی الهی | ۱۲۸ |
| ۱۴. دوکتورمحی الدین مهدي | ۲۲۰ |
| ۱۵. سیدمحمدعالم امینی | ۶ |
| ۱۶. عبدالسلام رحیمي | ۲۲۹ |
| ۱۷. سلیمان یاري | ۲۸ |
| ۱۸. جنرال عبدالوهاب پیلوټ | ۴۴ |
| ۱۹. سیدمحمدرویین | ۹۲ |

| | |
|---|---|
| ۲۰. قاري محب الرحمن | ۴۰ |
| ۲۱. محمدانور سلطاني | ۵۴ |
| ۲۲. عبدالخالق فضل | ۸۳ |
| ۲۳. پوهاندعبدالعزیز | ۵۰ |
| ۲۴. سرمحقق سیدامین مجاهد | ۷۲ |
| ۲۵. محمداعظم دادفر | ۲۵۷ |
| ۲۶. معلم اسدالله | ۱۰ |
| ۲۷. ثریا پیکان | ۲۲ |

| دمنشیتوب لپاره کاندیدان | ګټلې رايې |
|---|---|
| ۱. مولوی محمدعمر شریفي | ۶۶ |
| ۲. محمدسیدظریفي | ۴ |
| ۳. علي اکبر نجوا | ۸ |
| ۴. محمدنعیم معصومي | ۱۸ |
| ۵. سروردانش | ۱۱۲ |
| ۶. ملا ولي | ۲۲ |
| ۷. عبدالرحمن مختار هوتکي | ۴۴ |
| ۸. قاضي حبیب الله | ۲۴ |
| ۹. الحاج عبدالروف | ۴۱ |
| ۱۰. فقیرشاه مهران | ۳ |
| ۱۱. طیبه یوسفي | ۵۶ |
| ۱۲. نادیه صالح | ۲۰ |
| ۱۳. عبدالطیف اشنا | ۴۰ |
| ۱۴. انور جګدلك | ۵۳ |
| ۱۵. محمدشریف ارزش | ۴۱ |
| ۱۶. عبدالقادر عدالت خوا | ۸ |
| ۱۷. عبدالودودپیمان | ۵۷ |

| | |
|---|---|
| ۱۸. نجیب الله نجیب | ۱۶۴ |
| ۱۹. سلیمان حامد | ۵ |
| ۲۰. عبدالقدوس قاطع | ۱۷۷ |
| ۲۱. عبدالباقي ترکستانی | ۸۶ |
| ۲۲. نعمت الله (احسان جاوید) | ۶ |
| ۲۳. اتفاق احمد نیك | ۲۳ |
| ۲۴. حاجي عارف اخلاقي | ۱۲ |
| ۲۵. عبدالله انصاري | ۱۰ |
| ۲۶. حاجي محمدابراهیم سالك | ۳۲ |
| ۲۷. ډاکترمحمدیوسف نورستانی | ۲۷ |
| ۲۸. ډاکتر محمدفاروق برکي | ۵۱ |
| ۲۹. عباس بصیر | ۵۵ |
| ۳۰. فقیراحمدجوینده | ۳۷ |
| ۳۱. محمدنعیم مقصودي | ۱۵ |
| ۳۲. سیدعنایت الله | ۴۴ |
| ۳۳. زین العابدین | ۸۵ |
| ۳۴. عبدالقیوم ملکزاد | ۱۰۶ |
| ۳۵. معراجان | ۸ |
| ۳۶. ګلبدن حبیبي | ۲۹ |
| ۳۷. غرنی ببرك زی ځدران | ۲۴ |
| ۳۸. عبدالغفور لېوال | ۴۳ |
| ۳۹. محمدحامد ذوهاب | ۴۲ |
| ۴۰. انجنیرشریف الله مظفري | ۲۳ |
| ۴۱. عبدالبصیر عشرت | ۳۳ |
| ۴۲. پوهنمل محمداسمعیل یون | ۲۵۸ |
| ۴۳. سیمین حسن زاده | ۴۸ |
| ۴۴. استاد عبدالغفور ارزو | ۱۲۳ |
| ۴۵. استاد احمدضیاء رفعت | ۶۳ |
| ۴۶. قاري نصرالله مهدي | ۸۳ |

۴۷. سیدنعیم مجروح ۲۰۹
۴۸. محمدالیاس ذره ۱۳

د انتخاباتو پر نتیجې او شمېرنې تولې شپه کار وشو او پر درېیمه ورځ سهار لوېې جرګې ته د موقت رئیس له خوا وړاندې شوې. ښاغلی قاسمیار (۸۷۹) په ګټلو د ریاست لپاره، اغلې سیماثمر (۴۱۱)، ښاغلي ډاکټر محمداعظم دادفر د (۲۵۷) رایو په ګټلو د معاونینو، پوهنمل محمداسمعیل یون د (۲۵۸) رایو او ښاغلی سیدنعیم مجروح د (۲۰۹) رایو په ګټلو سره دمنشیانو په توګه وټاکل شول.

تر ټاکنې وروسته د جرګې د برخوالو د غوښتنې پر اساس د رئیسه هیئت پنځو تنو غړو خپل ځانونه په لنډ ډول د جرګې استازو ته ور وپېژندل، د رئیسه هیئت د غړو قومي ترکیب په دې ډول و:

| | | |
|---|---|---|
| رئیس: | محمداسماعیل قاسمیار | تاجك |
| لومړی مرستیاله: | سیما ثمر | هزاره |
| دویم مرستیال : | ډاکټرمحمداعظم دادفر | ازبك |
| لومړی منشي: | پوهنمل محمداسمعیل یون | پښتون |
| دویم منشي: | سیدنعیم مجروح | پښتون |

# د ولسمشر ټاکنه

د بن د توافقاتو له مخې دمنځمهالې ادارې مشر باید دلویې جرګې له خوا ټاکل شوی وای. بېړنۍ لویه جرګه مکلفه وه چې د منځمهالې ادارې مشر وټاکي، د مشر ټاکنې لپاره یو شرط دا و چې په جرګه کې د حاضرو غړو له جملې څخه باید ټاکلې فیصدي یانې نږدې (۲۸۰) باور رایې ترلاسه کړي، هر چا ځان کاندیدولای شو، خو غټ شرط په کې همدا و.

په نتیجه کې دریو تنو ښاغلي حامد کرزي، مسعودې جلال، او ښاغلي ډاکټر امیرمحمدمحفوظ ندايي د کاندیدېدو لپاره پوره لاسلیکونه ترلاسه کړل یو تن بل ښاغلی نجرابي پر دې بریالی نه شو، چې پوره باور رایې یا لاسلیکونه ترلاسه کړي نو ځکه یې کاندیدي رد شوه. هر کاندید ته بلنه ورکول کېده چې خپل ځان معرفي کړي او خپله ستراتیژي بیان کړي، د ښاغلي کرزي خبرې نالیکلې وې، پر یادښتونو یې ډېره لګوله کومه منظمه ستراتیژي په کې په ګوته شوې نه وه او نه کوم منظم کاري پلان ته په کې اشاره شوې وه، کېدی شي د کرزي صیب د مشاورینو د داسې یوې ستراتیژۍ جوړولو ته پام نه وي شوی، خو اغلې مسعودې جلال یوه ډېره کره او منظمه بیانیه ترتیب کړې وه او داسې ګڼل کېدله چې ډېر ښه تیاری یې نیولی وي او بیانیه ورته دیو منظم کاري ټیم له خوا ترتیب شوې وي، په دې بیانیه کې د ریاست د ګټلو په احتمالي حالت کې ددې کاري پلان او ستراتیژي په ښه

شـوي وو، کـورنی او بهرنـی سیاسـت پـه کـې پـه ګوتـه شـوی و، دښځـو حقوقو، دیموکراسۍ او د خلکو نورې اساسي غوښتنې په کې منعکس شوې وې، دې خپله بیانیه په ډېر ښه ډول ولوستله پر اوربېدونکو یې ډېر ښه تاثیر وکړ او ډېرې چکچکې ورته وشوې، ندایي صیب هم خپل ځان معرفي کړ او خپله ستراتیژي یې ولوستله، خو هغومره کشش او راکښون په کې نه و لکه د مسعودې جلال په خبرو کې.

دکاندیدانو تر خبرو وروسته د انتخاباتو پر طرز باندې څه شخړه رامنځته شـوه، پـه جرګـه کـې یـو شـمېر دولتـي اسـتازو وویـل چـې انتخابات باید ښکاره وي، خو ځینو برخوالو اعتراض وکړ او ویې ویل انتخابات باید پټ او مستقیم وي، د اعتراض کوونکو په ډله کې یو هـم ښـاغلی فـیض الله جـلال د مسـعودې جـلال مېـړه و چـې لـه علنـي انتخاباتو سره یې سخت مخالفت وکړ، جلال په خپلو خبرو کې وویـل: " ما سخنګوی زن خود هستم، ما به نماینده ګی انها ګپ میزنم، ما جداً مخالف انتخابات علنی هستم به خاطریکه بسیاری از نماینده ګان نمیتوانند رای خود را به شکل درست در فضا دیموکراتیك استعمال نمایند، در انتخابات علنی استعمال زور و نفوذ متصور است، بناً ما پیشنهاد مینمایم که انتخابات به طورمستقیم و سری صورت بګیرد.."

د ښـاغلي جـلال د خبـرو پـر وړانـدې بیـا غبرګـون څرګند شو، خـودا جنجال د ښاغلي حامد کـرزي پـه خبـرو او مـوافقې بېخـي غـوځ شـو، ښاغلي کرزي په خپلو خبرو کې وویل:" ما با پیشنهاد اغای جلال موافق هستم انتخابات طور سری و مستقیم صورت بګیرد..".

د درې واړو کاندیدانو عکسونه په پاڼه کې نصب او تکثیر شول، دې پاڼې د وټ کارت مانا ورکوله، هر استازي حق درلود، په پاڼه کې دخپلې خوښې کاندید له نامه یا عکس څخه کړۍ راتاوه کړي، هر

استازي کولای شول یوازې دیوه کاندید له نامه یا عکس څخه کرېږ را تاوه کړي، که چېرې چا په یوه پاڼه کې له دووو نومونو یا عکسونو کرېږ راتاوه کړه دا وټ باطل او همدارنګه سپین وټ باطل ګڼل کېده.
په جرګه کې د ټولو برخوالو شمېر (۱۶۶۲) تنه و خو په انتخاباتو کې په مجموعي ډول (۱۵۵۰) کسانو ګډون وکړ، د انتخاباتو سیستم ډېر اسانه و او په ډېر کم وخت کې ترسره شو، هرې حوزې ته بېلابېل صندقونه ایښودل شوي وو او استازو خپلې حوزې ته مراجعه کوله، د انتخاباتو تر پیل دمخه ځینو وکیلانو سره د ښاغلي کرزي د انتخاب په اړه یو څه تشویشونه پیدا شول، ځینو وکیلانو فکر کاوه چې جمعیت او نظارشورا هسې نه چې له ښاغلي کرزي سره چل ونه کړي، ددوی مربوط وکیلان او نور پلویان چې دې نورو کاندیدانو مخصوصاً مسعودې جلال ته رایه وانه چوي، بیا به څه کېږي؟ دلته دوه تشویشه وو، یو دا چې دښاغلي کرزي حیثیت ته به سخته صدمه ورسېږي او بله دا چې دښځې انتخاب د افغاني ټولنې په اوسنیو شرایطو کې څومره د زغم وړ دی؟ په دې ډول به ټولنه له سخت بحران سره مخامخ شي، که بیا بل څوک دښځې پر ځای انتصابېږي نو بیا به خلك وایي چې دا یوه دیموکراتیکه پروسه نه وه، خو په هر حال تشویشونه زیات وو.

دتشویش یو اصلي علت دا و چې د پخواني پاچا د نه انتخاب له امله یو زیات شمېر وکیلان خوابدي وو او ددې خبرې زیات احتمال و چې ګڼ شمېر وکیلان بایکاټ وکړي، دا وکیلان اکثره دهېواد له شرقي، غربي او جنوبي سیمو څخه وو چې دجرګې په توازن او ناانډولۍ کې یې ټاکونکی رول درلود.

د انتخاباتو تر پیل دمخه ددې تشویش درفع کولو لپاره هڅې پیل شوې، حاجي صیب عبدالقدیر ماته وویل چې دغسې تشویشونه دي دا واقعیت دی؟ ما ویل کېدی شي، څه دلیل لرې؟ ما ورته وویل د پخواني پاچا د نه انتخاب له امله زیات شمېر وکیلان خفه دي، د بایکاټ احتمال یې شته، که بایکاټ یې وکړ، دکرزي صیب اصلي او پاخه وټونه له لاسه وځي، کرزی صیب مجبور دی یوازې پر احتمالي او ائتلافي وټونو تکیه وکړي، احتمالي او ائتلافي وټونه هېڅ یقیني نه دي، کېدی شي کرزي صیب ته رایې ورکړي او کېدی شي کوم بل کاندید ته یې ورکړي، که چېرې کرزي صیب ته رایې هم ورکړي، نو شرایط یې کېدی شي دومره سخت وي چې ملت ته په تاوان تمام شي او کرزی صیب بیا په اینده کې مجبور دی هغوی ته ډېر امتیاز ومني.

بل دا حساسې شېبې دي پر هېڅا باور نه شته، تاسو پر دې نورو خلکو څومره باور لرئ چې څومره به تاسو سره رښتیني وي؟ ایا که رښتیني نه وي، د توطئې دمخنیوي لپاره څه کولای شئ؟ حاجي عبدالقدیر په دې وخت کې ماته یې وویل ژر کوه خبره وکړه چې څه وکړم وخت کم دی؟

ما ورته وویل حل لاره یې داده چې یو خو د قاسمیار صیب د انتخاباتو په معامله کې تاسو نه ځینې خلك خفه دي، بل د پخواني پاچا په معامله کې هم خلك خفه دي، خو دې سره سره ستاسو خبره ډېر وزن لري تاسو تر هرڅه دمخه د جنوبي او کندهار وکیلانو سره وګورئ دموضوع پر حساسیت یې خبرکړئ چې بایکاټ ونه کړي، که بایکاټ وکړي، هم د جرګې مشروعیت ته زیان رسېږي او هم د کرزي صیب د انتخاب چانس کمزوری کېږي، هزاره ورونو سره هم خبره وکړه هغوی ستاسو له خبرو نه تېرېږي، حاجي صیب عبدالقدیر لومړی د پکتیا

وکیلانو سره وکتل، همدارنګه دکندهار، بامیانو او ځینو نورو ولایتونو له استازو سره یې وکتل، انتخابات لا نه و شروع شوي چې ډېر خوشاله ببرته راستون شو او ویې ویل چې ټول مې قانع کړل او ټولو زما خبره ومنله هېڅوك هم بایکاټ نه کوي او ټول به د کرزي صیب تر شا ودرېږي، په همدې وجه ټولو وکیلانو په انتخاباتو کې ګډون وکړ او هغه تشویش رفع شو چې د وکیلانو د بایکاټ له امله پیدا شوی و.

په دې ډول یوازې هغه کسان په انتخاباتو کې حاضر نه وو چې خپله څه شخصي مشکل یې درلود او یا له سره په جرګه کې حاضر نه وو. کله چې ټولې رایې ټولې شوې نو ټولې پر یو مېز ډېرۍ شوې، د رایې په شمېرنه کې دملګرو ملتونو استازو، د لویې جرګې د خپلواك کمیسیون اړوندو اشخاصو او په خپله د کاندیدانو استازو ګډون درلود.

د کرزي صیب په استازۍ حاجي عبدالقدیر او عارف نورزي برخه درلوده. د انتخاباتو پر ډول او څرنګوالي هېڅ اعتراض ونه کړ، په پای کې د انتخاباتو نتیجه د جون ۱۳/۱۴ د شپې پر ۱۰ بجو په دې ډول شوه:

۱ـ ښاغلي حامد کرزي ۱۲۹۵ رایې
۲ـ مسعوده جلال ۱۷۱ رایې
۳ـ ډاکتر میرمحمدمحفوظ ندایي ۸۱ رایې

په دې ډول ښاغلی حامد کرزی د (۱۲۹۵) رایو په ګټلو سره د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

# د تنظیمي مشرانو پر وړاندې د ښځمنو وکیلانو غبرگون

په بېړنۍ لویه جرگه کې د اوج یو ټکی دا و چې ښځمنو وکیلانو ښه په زغرده خپل ځان تثبیت کړ. د جرگې تر پیل دمخه په لویه جرگه کې دښځو ددې گڼ شمېر گډون په هکله ځینو خلکو سره پوښتنې وې او داسې انگېرل کېدله چې ښځې به په عام ډول په ښه توگه دملت او په تېره بیا دښځو دحقوقو مسئله راپورته نه کړي، تر سیاسي او پوځي فشارونو لاندې به راشي او خپل جرئت به بایلي، خو د جرگې عملي بهیر دا ټولې انگېرنې او اټکلونه غلط ثابت کړل.

دجرگې تر پیل دمخه ښځینه وکیلانو په جرگه کې له کورنیو او



بهرنیو اغېزمنو شخصیتونو سره د خپلو خبرو په ترځ کې په هېواد کې ټول مطرح جنگسالاران، هغه څه ددولت په چوکاټ کې دي او که تر دولت بهر دي په زغرده وغندل. د امریکا دمتحده ایالاتو د جمهور

رئیس له ځانګړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد سره ښځمنو وکیلانو په خپلو خبرو کې پر هغوی انتقاد وکړ او ویې ویل چې د خپلو سیاسي ګټو لپاره په افغانستان کې جنګسالاران او جګړه مار تقویه کوي، که له جګړه مارو سره د امریکا د متحده ایالاتو سیاسي او پوځي مرستې نه وای ، نو په افغانستان کې دې خلکو بیا سر نه شو پورته کولای، بهرني ځواکونه له جنګسالارانو سره معامله کوي او کله چې د افغان ولس ګټې د جنګسالارانو او بهرنیو ځواکونو پر وړاندې مطرح شي، نو بهرني ځواکونه اکثره د جنګسالارانو خوا نیسي او علت یې همدا دی چې ددوی دواړو ګټې سره مترادفې دي. ښځمنو وکیلانو په جرګه کې د جنرال دوستم، برهان الدین رباني، عبدالرب رسول سیاف، کریم خلیلي او نورو په سلګونو قومندانانو او جنګسالارانو پر ګډون په ښکاره ډول انتقاد وکړ، ښځو وویل چې هېڅوك هم ددې خلکو پر ورانیو او جنایتونو سترګې نه شي پټولای، خو ځرنګه چې دوی پر طالبانو د امریکا متحده ایالاتو د پوځي برید په نتیجه کې یو ځل بیا واك ته ورسول شول، نو ځکه بهرني ځواکونه په تېره بیا امریکایان ددوی پر کرغېړنه ماضي سترګې پټوي، ښځو دا انتقاد هم کاوه چې تنظیمي مشران او جنګسالاران یو هم دلویې جرګې د انتخاباتو د طرزالعمل له مخې ددې وړ نه دي چې په لویه جرګه کې ګډون وکړي، خو د لویې جرګې د طرزالعمل خلاف دادی ګڼ شمېر زورور په لویه جرګه کې ګډون لري. د ملګرو ملتونو مسولینو، د امریکا متحده ایالاتو د جمهور ریس استازی او نورو مطرحو اشخاصو سره دښځو بحث یوازې د نظر دتبادلې حیثیت درلود او نور یې عملاً کوم درد دوا کولای نه شو او نه یې پر جنګسالارانو چندان تاثیر درلود.

تر لویې جرګې یوه ورځ دمخه داسې وخت هم را ورسېد چې مدعي او مدعي الیه سره مخامخ شول، ټول تنظیمي مشران او مطرح زورور د خپل ملت پر وړاندې ودرېدل، د مازیګر تر لمانځه وروسته اکثره تنظیمي مشران او یاد وړ زورور په اصطلاح د خپل تبلیغاتي کمپاین او د ځان سپیناوي لپاره د لویې جرګې د عمومي کېږدۍ ترڅنګ یوې بلې نسبتاً کوچنۍ کېږدۍ ته راغلل، دې کېږدۍ ته نږدې درې نیم سوه وکیلان راټول شوي وو، استاد رباني، استاد سیاف، استاد خلیلي، محمدقسیم فهیم، یونس قانوني او نورو مطرحو اشخاصو ګډون درلود ، په غونډه کې لومړی استاد رباني خبرې وکړې، ټول هغه دلایل یې وویل چې ده ولې دځان له کاندیدۍ څخه ډډه وکړه، استاد رباني وویل چې ښاغلی حامد کرزی زموږ یو مجاهد دی زموږ کاندید دی، استاد سیاف هم ډېرې جذابې خبرې وکړې او حامد کرزی یې د ټولو مجاهدینو دکاندید په توګه یاد کړ. محمدقسیم فهیم هم د خپل جهاد او مقاومت په باب رڼا واچوله او د اوسنۍ لویې جرګې دایرول یې د خپلو مبارزو نتیجه وبلله، حاجي عبدالقدیر هم په دې غونډه کې جذابې خبرې وکړې، د خبرو مرکزي ټکی یې ملي یووالی او ملي روغه جوړه وه.

بیا استاد خلیلي هم ډېره جذابه او فصیحه وینا وکړه، څو نور مشران لا پاتې وو او غوښتل یې خبرې وکړي، خو د ښځمنو وکیلانو د صبر کاسه نسکوره شوه، یوه وکیله پورته شوه او ویې ویل چې همدا تاسو د تنظیمي جګړو په بهیر کې په کابل کې زما زوی شهید کړی دی، تاسو ټول زما مدعیان یاست، ستاسو لاسونه د ملت په وینو سره دي، تاسو څنګه دې ملت ته ځان سپینوئ؟

پر دې وخت دشمال تلوالې یو شمېر پلویانو او د ښاغلي فهیم او استاد رباني ساتونکو دې وکیلې ته ډېر بد الفاظ استعمال کړل، خو فهیم لاس پورته کړ او ویې ویل ارام کښېنئ پرې خپلې خبرې وکړي، دې پسې د لغمان وکیله ضیاء کاکړ پورته شوه او له استاد رباني څخه یې وپوښتل چې د ملي موزیم اثار مو څه کړل؟ پر دې وخت قانوني او فهیم غوښتل ځواب ووایي خو ضیاء کاکړ وویل: زما پوښتنه خپله استاد رباني ته متوجه ده همدی باید ځواب ووایي. استاد رباني یو ځل بیا پورته شو لومړی یې خپله غاړه صافه کړه او بیا یې وویل:" وقتیکه ما به کابل داخل شدیم خانه های موزیم کلش خالی بود.." دې سره د خلکو له منځ څخه یوه ښځینه اواز راپورته شو:" البته جن ها برده بودند". ( البته پېریانو به وړي وو). دې سره د خندا یوه څپه پورته شوه، دې کار د مجلس فضا ډېره خړه پړه کړه او له دې بل طرف نه د بدو الفاظو غږونه پورته شول ( وکیله نشانی کنید، وکیله نشانی کنید...) دې سره ضیاء کاکړ یو ځل بیا پورته شوه، ګوته یې همداسې خوځوله او ویې ویل زه یم ومې پېژنئ؟ د غونډې بهیر لاپسې کړکېچن شو او خبره نږدې وه چې فزیکي تصادم ته نږدې شي، هرڅومره چې خبره تاوېدله دې سره د تنظیمي مشرانو وضعیت خرابېده، پر دې وخت د ماښام د لمانځه اذان وشو د اذان په احترام شور او زوږ غلی شو او همدې سره غونډه وشلېده او وکیلان تیت وپرك شول، که چېرې د ماښام د لمانځه وخت نه وای رانږدې شوای، نو خدا خبر چې خبره به کوم حالت ته رسېدلې وای. د تنظیمي مشرانو مخامخ غندنې، تنظیمي مشران د باد بڼکه کړل او په نړیوالو خپرونو کې یې پراخ انعکاس وشو. د تنظیمي اشخاصو او ښځینه وکیلانو ترمنځ د جرګې په بهیر کې ډېر ځله فکري اختلاف او ترخې خبرې سره تبادله شوې. د

جرګې په بهیر کې یو وخت د ختیزو ولایتونو یوې ښځمنې وکیلې پر شمال ټلوالې څه نیوکې وکړې تر خبرو وروسته د همدې ټلوالې یو تن غړي وویل.." ار امر صاحب نمیبود وما مقاومت نمیکردیم شما شاید فعلاً در اینجا نمیبودید این خو برکت امر صاحب است که شما اینجا هستید" دې وکیلې ورته په ځواب کې وویل:"بیادر این نه برکت امر صاحب است نه مامر صاحب ونه برکت مقاومت شما این زور بی **۵۲** است که شما هم درین جا هستید و ما هم اګر این بی **۵۲** نمیبود امرصاحب تان خو خدا خبر که شما ها در کجا خود را پنهان میکردید، شکر بکش و بی **۵۲** را احترام کو که شماره مارا دوباره زنده کردند ما هم چیز می فهیم ما از جمله او مردم نیستم که اصل مسله را نفهمیم..".

لویې جرګې یوې بلې فعالې غړې تاجور کاکړ د وکیلانو په پراخه نارسمي غونډه کې د اختلافونو د ختمولو په باب وکیلانو ته وویل چې یا به اتفاق کوئ او ددې لویې جرګې له لارې به د ملت ستونزې حل کوئ او که نه موږ به خپل پوړني ستاسو پر سر کړو، تاجور کاکړ په ډېر جذاب ډول وویل: ((د افغانانو دود دی چې په هره سخته مسله کې چې یوه افغانه ښځه د مسلې د حل لپاره نارینه و ته پلو وغوړوي هغوی یې پلو تش نه پرېږدي او نه غواړي چې ښځه بینوا لاړه شي، نو زه هم تاسو ته خپل پلو غوړوم او زاري درته کوم چې سره جوړ شئ...))

کله چې کرزي صیب خپله کابینه اعلان کړه نو له لاندې څخه دیوې مېرمنې غږ پورته شو چې موږ دا کابینه نه منو، نه منو خو چا دې غږ ته ارزښت ورنه کړ، بیا یې په یوه پاڼه کې شخصاً خپل لیکلی اعتراض راوړ، په پاڼه کې لیکلي وو چې موږ قطعاً دا کابینه نه منو،

ما دا اعتراض کرزي صیب ته د خطابې پر مېز کېښود، خو ددې میرمنې غوښتنه او پوښتنه بې ځوابه پاتې شوه.

دلویې جرګې لومړۍ مرستیاله سیما ثمر هم د زورورو کسانو او جنګسالارانو له خوا له ګڼو اخطارونو سره مخ شوه او د افراطي ډلو له خوا ان د الحاد په تور تورنه شوه، خو هغې مقاومت وکړ او دې فشارونو ته تسلیم نه شوه.

مسعودې جلال دلومړي ځل لپاره د هېواد په تاریخ کې دا جرئت وکړ چې دښځینه قشر په استازۍ ځان د جمهوري ریاست مقام ته کاندید کړي، سره له دې چې ښاغلي کرزي د مسعودې جلال په انډول ډېرې زیاتې رایې ترلاسه کړې وې، خو مسعودې جلال هم د بل نارینه کاندید ډاکټر میرمحفوظ ندایي په انډول ډېرې رایې ګټلې وې. د جرګې په بهیر کې اکثرو ښځو په هېواد کې د سولې وثبات او ملي وحدت د ټینګښت، د هېواد د سوکالۍ او پرمختیا په باب خبرې وکړې، په عمومي ډول د نارینه وو شمېر په انډول په ببرړنی لویه جرګه کې د ښځو رول او فعالیت زیات وو او ښځې تر نارینه وو ښې وځلېدلې.

# پارلمان ولې جوړ نه شو؟

د بېړنۍ لويې جرګې د خپلواك كميسيون لـه خـوا يـوه طـرح وه او هغه دا چې د بېړنۍ لويې جرګې لـه غړو څخـه بـه يـو سـل كسيز موقـت پارلمـان جوړېـږي، ددې پارلمـان دنـده بـه دا وي چـې د انتقـالي اداري ترڅنګ فعاليت وكړي او د هغې كارونه وڅاري، په پارلمـان كې بـه لـه هر ولايت څخه دوه دوه تنه استازي او پـاتې نـورې څوكـۍ بـه د ښځو او مدني ټولنو له استازو پوره كېږي.

دپارلمـان د جوړولـو لپـاره همدغـه طرحـه وړانـدې شـوې وه، دې طرحې د وكيلانو ترمنځ سخته شخړه رامنځتـه كـړه، يـو شـمېر وكيلانـو وويل چې له هر ولايت څخه د دوو تنو وكيلانـو طـرح درسـته ده او پـاتې دې د ښځـو او مـدني ټولنـو لـه اسـتازو جـوړه شـي، كېـدى شـي لويـو ولايتونو كابل، كندهار، ننګرهار، بلخ، هـرات او پكتيـا تـه تـر دوو تنـو زيات سهم وركړاى شي، خو يو كم شمېر وكيلانو دا وړانديز درلود چې له هرې ولسوالۍ څخه دې يو تن استازى پارلمان ته انتخاب شي.

دريېمـه طرحـه دا وه چـې لـه هـرو لسـو وكيلانـو څخـه دې يـو تـن پارلمان ته انتخـاب شي، ددې طـرحې تـر شـا د اسـتاد ربـاني او پـه عـام ډول د شمال ټلوالې ملاتړ و.

په پاى كې يوازې دوه طرحې سر تـه ووتـې، يـو لـه هر ولايت څخه دوه تنه او بل په جرګه كې د حاضرو وكيلانـو لـه هـرو لسـو تنو څخه يـو تن، ددويمې طرحې د پلويانو دلايل دا وو چې نفوس بايـد معيـاروګڼل شي، دا بـه نـاعـادلانـه وي چې لـه هغـه ولايـت څخـه چې درې څلور لكـه وګړي ولري هم دوه تنه راشي او يو ولايت چې يو مليون يا يو نيم مليون

نفوس ولري له هغو څخه هم دوه تنه وکیلان پارلمان ته راشي، څرنګه چې په اوسنۍ لویه جرګه کې د هېواد نفوس او اداري واحدونه دواړه په پام کې نیول شوي، نو بایده دي چې له هرو لسو تنو څخه یو تن انتخابات شي. دوی له هر ولایت څخه دوه تنه په دې خاطر هم ردول چې فکر یې کاوه پښتون مېشتي ولایتونه زیات دي، نو کېدی شي په پارلمان کې د دوی ونډه زیاته شي. خو ددې نظر په مقابل کې له هر ولایت څخه دوه تنه طرحې پلویانو چې اکثره پښتانه وو استدلال کاوه، چې اوس په افغانستان کې دهېڅ قوم او هېڅ ولایت نفوس په دقیق ډول معلوم نه دی، که نفوس په پام کې ونیول شي غالباً پر غلط احتمال به تکیه کېږي، اوسنۍ لویې جرګې ته چې کومو کسانو لاره پیدا کړې ټول په عادلانه ډول نه دي راغلي، د نفوس احصائیه هم غلطه ورکړل شوې، نوي اداري واحدونه یې هم زیات کړي او په انتصابي کسانو کې هم ښه قضاوت نه دی شوی.

دوی استدلال کاوه چې په خپله د اوسنۍ لویې جرګې د ترکیب په باب موږ سره پوښتنې دي او عادلانه یې نه بولو، نو بیا ولې پارلمان ته دا اساس کېږدو، دوی ویل هغه ولایتونه چې په ښکاره ډول لوی دي او نفوس یې څرګند زیات دی هغوی ته دې تر دوو زیات سهم ورکړای شي، خو نورو ټولو ولایتونو ته دې په مساویانه ډول ونډه ورکړای شي، کله چې په هېواد کې قوي حکومت جوړ شو، نو لومړی دې د هر ولایت نفوس معلوم کړي بیا دې اداري واحدونه اصلاح کړي بیا که چا د نفوس معیار په پام کې نیوه که اداري واحدونه موږ له دوی سره موافق یو، خو اوس نه.

خو هغو ولایتونو چې دې لویه جرګه کې ورته زیات سهم ورکړل شوی و، شمال ټلوالې خصوصاً استاد رباني پر دې ټینګار کاوه چې

حتمي دي له هرو لسو تنو یو تن پارلمان ته راشي، دې دوو مسلو کې اختلاف وروستۍ حد ته ورسېده، خو وروستۍ پرېکړه دا وه چې پر دې مسله باید رای گیري وشي، د رای اچونې په برخه کې له هر ولایت څخه دوه تنه د نظریې پلویانو ټینگار وکړ چې انتصابي غړي دې په دې مسله کې رایه نه اچوي، ځکه چې په انتصابي غړو کې د ټول هېواد قومي، سیمه ییز او ژبني توازن په پام کې نه دی نیول شوی.

دوی استدلال کاوه چې د انتصابي غړو په برخه کې له اوسني سیاسي قوت څخه ناوړه گټه پورته شوې ان په افغانستان کې داسې ولسوالۍ وې چې د ټولو انتصابي او انتخابي غړو مجموعي شمېر یې د ځینو ولایتونو تر ټولو استازو زیات وو. د ساري په توگه جرگې ته له بېلابېلو لارو څخه له پنجشېر ولسوالۍ نه د راغلو استازو شمېر د لوگر، لغمان، نورستان ولایتونو تر استازو څخه زیات و. نو په دې وجه دې وکیلانو اعتراض درلود او غوښتنه یې کوله چې له هر ولایت څخه دې دوه تنه استازي راشي.

استاد رباني د جرگې پر وروستۍ ورځ په خپلو خبرو کې یو ځل بیا د پارلمان خبره وکړه او د هغه د صلاحیتونو. حاجي عبدالقدیر د استاد رباني خبرې رد کړې او یادونه یې وکړه چې اصلاً د بن په توافقاتو کې د پارلمان خبره بېخي راغلې نه ده، دا لویه جرگه هم د بن د توافقاتو له مخې جوړه شوې، موږ دلته هغه کارونه ترسره کوو چې د بن په توافقاتو کې راغلي دي.

پارلمان د بن په توافقاتو کې نه شته، خو موږ ویل چې خلك یا د لویې جرگې غړي یې غواړي، نو موږ ورسره موافق یو اوس موږ یوه حل لاره دا لرو چې له هرې انتخابي هستې څخه دې پنځه پنځه وکیلان سره کېني او په مشوره دې دا مشکل حل کړي.

وروسته ښاغلي حامد کرزي هم په خپلوخبرو کې همدا وړاندیز مطرح کړ، په پای کې خبره په همدې غوټه شوه او د جرګې تر پای ته رسېدو وروسته له انتخاباتي هستو څخه دا وکیلان راټول شول او د ښاغلي قاسمیار په مشرۍ یې په کابل ښار کې څو غونډې وکړې، خو عملاً کومې پرېکنده نتیجې ته ونه رسېدل، وروسته وروسته ځینو وکیلانو او په تېره بیا د دولت واکمنو سره دا نظر پیدا شو چې کېدی شي دا پارلمان دولت ته یو سر درد پیدا کړي او د دولت کارونه له ځنډ وخنډ سره مخامخ کړي، ددې امکان هم شته چې استاد برهان الدین رباني د پارلمان رئیس وټاکل شي، په دې حالت کې کېدی شي پارلمان د دولت دا اپوزیشن بڼه خپله کړي او د دولت د درې ګونو قواو ترمنځ ستونزه را ولاړه شي، بله مهمه مسئله دا وه چې پارلمان به پر اوسني وخت خپل صلاحیت له کومې سرچینې څخه اخلي، د (۱۳۴۳ل) کال له اساسي قانون، د بن د توافقاتو او که نه پر اوسني وخت ورته کومه بله ځانګړې لایحه جوړېږي؟

که د (۱۳۴۳ل) کال د قانون له مخې ورته صلاحیتونه مشخصوي، نو په هغه قانون کې خو دولت بله بڼه درلوده، اوس بېل ډول لري، د پارلمان صلاحیت د همغه وخت ددولت د څرنګوالي له مخې په ګوته شوی و، اوس خو بل ډول دولت دی، د پارلمان او اوسني دولت د واکونو څرنګوالی به څنګه مشخصېږي، که دا پارلمان د بن له توافقاتو الهام اخلي، نو د بن په توافقاتو کې خو د پارلمان یا موقت پارلمان هېڅ یادونه نه ده شوې، د بن په توافقاتو کې دا هم راغلي چې د (۱۳۴۳ل) کال د قانون هغه مواد د تطبیق وړ دي چې د بن د توافقاتو مخالف نه وي، څرنګه چې د بن په توافقاتو کې په منځمهاله دوره کې پارلمان نه و، نو ځکه د پارلمان جوړېدل او د صلاحیت په

ګوته کـول یـې یـوه سـتونزمنه مسـله وه، درېیمـه خبـره دا وه چـې کـه پارلمان د اوسني حکومت له خوا جوړېږي، نو صلاحیتونه به یې څرنګه ورته مشخصوي؟ بودجه بـه یـې څنګـه پیـدا کـوي او نـورې اړتیـاوې بـه څنګه پـوره کـوي؟، کـه چېـرې پارلمـان پـه بشـپړ ډول د اجرائیـه قـوې ( ددولت رئیس) تر اغېزې لاندې وي، نو بیا یې جوړېدل څه مانا؟ او کـه چېرې دیوې مستقلې اجرائیه قوې په توګه کار کـوي، نـو ایـا پـر داسـې لنډ او تنګ وخت او حساسو شرایطو کې بـه کـوم تضمین موجود وي چې ددې قواو ترمنځ به ستونزه نه راولاړېږي او کارونه به پـه هماهنګـۍ سره ترسره کوي؟

که چېرې د ستونزې د پېښېدو احتمال وي، نـو بیـا دولـت کلـه دې تـه حاضـرېږي چـې دداسـې یـو پارلمـان جوړېـدو تـه لاره اواره کـړي چې دولت او حکومت ته ستونزې پېښې کړي. په پای کې همداسې وشول، ډېر وخت په جرګو او جلسو تېر شو، پارلمان پلوي وکیلان هم ښه ډېر ستړي شول او نتیجه دا شوه چې دې پارلمان ته هېڅ اړتیـا نـه شـته، نـو ځکه تر پایه پورې پارلمان جوړ نه شو.

# لويې جرگې ولې پرېکړه ليک نه درلود

افغانستان او دنړۍ په نورو ټولنو کې دا يو دود او ضرورت دی چې اکثره غونډې او مجلسونه په پای کې يو پرېکړه ليك لري. پرېکړه ليك د غونډې د ټولو خبرو اترو غورچاڼ او وروستی تصميم وي چې د غونډې د ټولو او يا لږ تر لږه د اکثريت برخوالو ملاتړ ورسره وي، په پرېکړه ليك کې راغلي محتويات د تطبيق وړ مواد گڼل کېږي او ټولې اړوندې خواوې يې پر عملي کولو مکلفې گڼل کېږي، تاکل شوې وه ببرړنۍ لويه جرگه هم د خپل ځو ورځني کار په پای کې يو پرېکړه ليك ولري چې د ټولو او يا هم اکثريت برخوالو د نظر د يووالي تمثيل وکړي. د لويې جرگې دويم مرستيال ښاغلي ډاکټرمحمداعظم دادفر د لويې جرگې رئيسه هيئت چې ښاغلی محمداسمعيل قاسميار، اغلې سيما ثمر، خپله ډاکټر محمداعظم دادفر، پوهنمل محمداسمعيل يون او سيدنعيم مجروح يې غړي وو وړانديز وکړ چې لويه جرگه بايد يو پرېکړه ليك ولري چې د لويې جرگې په پای کې د جرگې د برخوالو ته اعلان شي او دا دلويې جرگې پرېکړه ليك وگڼل شي، ښاغلي دادفر زياته کړه چې زه حاضر يم ددې ډول يو پرېکړه ليك متن ترتيب کړم او رئيسه هيئت ته يې د بحث او کره کولو لپاره وړاندې کړم، قاسميار صيب وويل: **خوب است شما (دادفر) يك چيز را ترتيب کنيد))** موږ نورو درې واړو هم ورسره موافقه وکړه، د لويې جرگې د کار پر اوومه ورځ يې يو ترتيب شوی متن رئيسه هيئت ته وړاندې کړ، د متن د سر ځو جملې په دې ډول وې:

".. تمام باشندگان این سرزمین با هم برابر وبرادراند ، حقوق تمام ملیت های مختلف این کشور با هم مساوي و برابر اند.." ټول متن شپږ اوه جملې وو، اختلاف همدا د سر جملو څخه پیدا شو، ښاغلي قاسمیار وویل: ((متن خوب است، بد نیست اگر دیگر هم سرش غور شود خوب است)) سیما ثمر هم متن چندان خوښ نه کړ، خو مخالفت یې هم ونه کړ، نعیم مجروح هم د متن پر املایي او انشایي کره والي ټینګار وکړ، ما د متن له سر جملو او په مجموعي ډول له ټول پرېکړه لیك سره مخالفت وکړ، ما دا متن ګونګ او د مانا له پلوه متضاد وګاڼه، ښاغلي دادفر ته مې وویل: ((متن قطعه نامه یك لویه جرگه باید شفاف، واضحتر و بسیار دقیق باشد و هیچگونه ابهام نداشته باشد، درجمله اول، شما نوشته کردیدکه تمام باشنده گان این سرزمین با هم برابر وبرادر اند، اول باید گفته شود که نام این سرزمین چیست این باید واضح شود...)) ښاغلي دادفر وویل: افغانستان، ما وویل هویت ملی این باشنده گان چیست؟ ښاغلي دادفر وویل: افغان، افغانها، ما ویل: جمله باید طور ساخته شود که واضحتر باشد مانند، تمام افغانها با هم برادر اند و در مقابل قانون حقوق مساوي دارند. پر دې وخت بیا دادفر وویل: تو خیر به افغان بودن ما شك داری؟ ما ویل: نی صیب شک ندارم، مگر حذف نام افغان و افغانستان متن را مبهم میسازد. پر دویمه جمله هم زما اعتراض و، ما ویل: "ملیت" د قومیت (Nationality) یا قومي هویت په مانا دی، دا قومي تشکل نه دی، دا اصطلاح پر افغانستان باندې د روسانو تر یرغل وروسته، د افغانستان په سیاسي ترمینالوژۍ کې باب شوې او تر هغه د مخه "ملیت" په دې مانا نه استعمالېده. پر دې وخت بیا دادفرصیب وویل: تو دیگر از واقعیت ملیتها در افغانستان انکار میکني؟ ما ویل: ((نی صیب در افغانستان ملیتها وجود ندارند، اقوام است، ما پشتون را یک قوم میگویم، تاجک، ازبک، هزاره

وغیره نیز مانند پشتون از اقوام افغانستان است، ملیتها نیست، از لحاظ گرامر کلمه ملیت به تشکل قومي استعمال نمیگردد ، بلکه هویت ملی را نشان میدهد ، کلمه "ملیت" یک کلمه زبان عربی است (مل) اصلي کلمه است که ملت نیز از ان مشتق شده (مل +یت) مساوي میشود به "ملیت" "یت" نیز یک پسوند است که در زبان عربي پسوند (یت) به هر کلمه یکه یکجا شود جوهر یا ماهیت یک (شی) را نشان میدهد ، مثلاً انسان اصل کلمه است، باجمع پسوند "یت" کله ((انسان)) به ((انسانیت)) تبدیل میگردد. درکلمه ((انسانیت)) جوهر انسان نهفته است، یعنی انسانیت جوهر انسان را نشان میدهد ، مثلیکه حیوانیت جوهر حیوان، ادمیت جوهر ادم را نشان میدهد. ملیت جوهر یا هویت ملت را نشان میدهد ، هر کسیکه منسوب کدام ملت باشد ما اورا گفته میتوانیم که ملیت ات چیست؟ معادل کلمه ملیت در انگگلیسي (Nationality) و معادل کلمه ملت در انگلیسی (NATION) است، اگر فرضاً شما در زبان انگلیسی، عربي وغیره بین قوم و ملت کدام تشکل دیگر را مثال اورده میتواند مهرباني کنید توضیح نماید. نکته دومی اعتراض ما اینست که شما نوشته کردید ، حقوق تمام ملیتهای مختلف این کشور مساوی و برابر اند ". در کلمه "مختلف" مانا اختلاف نهفته است، یک کلمه عربي است جائیکه با هم اختلاف داشته باشد ، وقتیکه ما بگویم "ملیتهای مختلف" اینجا صفت "مختلف" معنی اینرا میرساند که باهم اختلاف دارند ، وقتیکه اختلاف داشته باشد برادری زیر سوال قرار میگیرد ، ما تنظیمها مختلف گفته میتوانیم ولی اگر خواهان واقعاً برادری بین اقوام افغان باشیم، باید کلمه ((مختلف)) به حیث یک کلمه توصیفی د ر این نوع عبارت حذف گردد. منظور دیگر ما اینست که افراد در مقابل قانون حقوق مساوی دارند ، وقتیکه ما بگویم تمام افغان ها درمقابل قانون حقوق مساوی دارند ، مسله حل و

تشویش رفع میشود ، چون اقوام در مقابل قانون به طور کُل مسولیت ندارد ، فرد مسول است ازین خاطر مهم نیست که ما اقوام در این جا قلمداد کنیم، اگر احیاناً باز هم حقوق اقوام و تساوي حقوق شان درین قسم قطعه نامه ها مطرح میشود ، خوب است که مساوي ومتناسب ذکر گردد نه تنها مساوی.)) پر دې وخت دادفر صیب یو ځل بیا اعتراض وکړ، خیر به نظر شما حقوق اقوام مساوي نیست؟ ما ویل: نی صیب مساوی نیست، متناسب است، بیا ییګ وویل چطور؟ ما وویل: اگر مسله تساوی اقوام مطرح میگردد ، ما در افغانستان اقوام خورد وبزرگ داریم، اکثریت و اقلیت است، اگر کلمه مساوی ذکر میگردد این معنی اینرا دارد که ما یک طرف(اکثریت) را متضرر میکنیم و امتیاز اقلیت را ازیک حدیکه حقوق شان ایجاب میکند ، بالا میبریم، در این صورت ما عدالت اجتماعي را تضمین کرده نه میتوانیم. دادفرصیب وویل: نه باید مساوی باشد ، ما ویل: خیر که مساوی باشد ما قبول دارم در همین لویه جرگه بحث پارلمان جریان دارد ، به نظر شما هندو وسکها افغان به اصطلاح شما یک ملیت است یا نه؟ ده ویل: است، ما ویل خیر که است شما ازبکها ، یا هزاره ها وتاجکها حاضر هستید ، که باهندو و سکها افغان درپارلمان چوکی مساوی بگیرید؟ یعنی یا دو ، پنج یا ده کرسی ازشما باشد به همین مقدار از هندوها وسکها؟ دادفر صیب پر دې وخت وویل: نی انها خو کم هستند ، باید کم بگیرید. پر دیګ وخت ما ورته وویل: بدین لحاظ ما میگویم که اکثگر مسله اقوام مطرح میگردد باید تساوی وتناسب ذکر گردد ، تساوی و تناسب این مفهوم را میرساند که قومیکه تعداد نفوس شان زیادتر باشد به تناسب نفوس شان حقوق زیادترمیگیرد وقومیکه کمتر باشد امتیاز کمتر ودر نهایت به حیث افراد تمام امتیازات و حقوق شان مساوی میگردد و هیچ نوع حق تلفی صورت گرفته نمیتواند ، چون این قطعنامه از طرف لویه جرگه پاس میگردد ازین

خـاطر حیثیـت یـک سـند معتبـر حقـوقی را برخـوردار میگـردد ، و مسـلهٔ اساسی دیگر اینست، که ما سر شفافیت و کامیابی خود همین لویـه جرگـه شـک داریـم کـه کامیـاب میشـود یـا نـه، و دیگـر مـا پـیش از پـیش یـک قطعنامه که تمام وکلا هم در جریان نباشند در اخر لویه جرگه قرایت نمایم، این خود یک عمـل تصنعی، تکلفی و خلاف دیموکراسی است و اگـر مـا نظر تمام وکلا در باره محتویات قطعه نامه بگیـریم ایـن یـک انتخابـات یـا رایگری دیگر را ضرورت دارد ، دادفرصیب لږ شان خفه شـو، کاغذونـه یې ماته راکړل ما ته یې وویل: ((خیر اگر میتانی خودت نوشته کو.))

نعیم مجروح زما د زیاتو خبرو ملاتړ وکړ او ویـې ویـل: رښتیـا بایـد په پرېکړه لیك کې ډېر احتیـاط وشي، سیماثمر پـه داسـې حـال کـې چـې سګرت یې څکول، زموږ بحث ته په ډېر دقت متوجه وه، د مجروح صیب تر خبرو وروسته یې ماته د ټوکو پـه انـداز وویـل: ((او یـون خدازده تـو خـو بسیار گپها را یاد داری ما فکر میکردم که تو خورد بچه هستی، هیـچ چیـز را یاد نه خواهد داشته باشی...)) د سیما ثمر دا خبرې زما د نظر پـه تائیـد وې، قاسمیار صیب هم وویل: ((یـک چیـزی کـه جنجـال پیـدا میکنـد از او بگذرید اگـر ضـرورت پیـدا شـد در اخر بـاز میشـینیم اگـر نـه شد خـو هـیچ ضـرورت نیسـت...)) پـه دې ډول ببرنـۍ لـویې جـرګې، کـوم منطقـي او نامنطقي پرېکړه لیك عمومي غونډې ته وړاندې نه کړ.

# ببړنۍ لویه جرگه، ملگري ملتونه او د امریکا متحده ایالتونه

په ببړنۍ لویه جرګه کې دوه بهرني ځواکونه یا ارګانونه تر هر چا زیات فعال وو او کار یې زیات محسوس ښکارېده: یو هم ملګري ملتونه وو چې د بن د توافقاتو له مخې ورته د افغانستان دسیاسي پېښو او پرمختیا وو دڅارنې دنده ورکړل شوې وه او بل هم د امریکا متحده ایالات وو چې د افغانستان د حالاتو د اصلي کنترولر او لوبغاړي په توګه مطرح و.

د ملګرو ملتو ښه لا هغه وخت ښوېدلې وه چې دلویې جرګې دخپلواک کمېسیون (۲۱) تنه غړي یې له کومې ژورې څېړنې او پلټنې پرته د یو شمېر مطرحو سیاسي ډلو د اغېز له مخې وټاکل ، دکمیسیون دغړو په ټاکنه کې د افغانستان قومي ، سیمه ییز او ژبني انډول او تناسب ته پاملرنه نه وه شوې، دکمیسیون داراالانشاء هم دملګروملتو له خوا وټاکل شوه، هلته هم دکفایت معیار په پام کې ونه نیول شو ، د انتخاباتو دطرز العمل په جوړولو کې هم ملګرو ملتونو اساسي رول درلود ، لوژستیکي او مالي چارې هم دهمدوی له خوا سمبالېدلې، لنډه دا چې دلویې جرګې ټولې تخنیکي او لوژستیکي چارې دملګرو ملتو له خوا تر سره شوې، خو کله چې دڅمر یا امتیاز ځای راغی، نو بیا دملګرو ملتو رول هغسې نه و لکه په نورو چارو کې.

دسیاسـي امتیـاز دترلاسـه کولـو یـو غـټ عامـل، ځـواك او دځـواك پرځـای استعمال دی، دامریکـا متحـده ایالاتو دخپـل جمهـور رئـیس د استازي ښـاغلي زلمـي خلیـل زاد لـه لاري پـه جرگـه کـې یـاد ورِ اغېـز درلود ، د دولت مشرتابه ته له انتخاب نه د پخواني پاچا په مخ گرځولـو او نظارشـورا تـه دزیـاتو امتیـازاتو پـه ورکولـو کـې د امریکـا متحـده ایالاتو ټاکونکی رول درلود.

مخکې تر دې چې پخوانی پاچا لـویې جرگې تـه د دولـت د مشـرتابه دنه منلو او له خپلې خوا د کاندید په باب خپله وینا واوروي ، تـر هغـې دمخه ښاغلي خلیل زاد څو څو ځله له پخواني پاچا او دهغه دکورنۍ له مهمو غړو سره کتلي وو او دځینو منابعو په وینا اعلیحضرت تـه یـې دا زیگنال ور رسولای و، چې د هغه دکاندیدۍ پـه حالـت کـې کېـدی شـي دامریکا متحده ایالت دده ملاتړ ونه کړي او خپل ائتلافي ملگري خفـه نه کړي ، دا داسې یـو حالـت و چـې افغانسـتان کـې یـوازې درې پـوځي قوتونـه موجـود وو ، یـو شـمالي ټلوالـه ، بـل د ایسـاف ځواکونـه او بـل سیاسي ټاکونکی پوځي ځواك (دامریکا ځواکونه) وو .

دې کـې شـك نـه و، چـې اعلیحضـرت تـه دجـرگې اکثـرو غـړو رایـه ورکوله خو وروسته بیا دجگړې دپېښېدو احتمـال و ، پخـواني پاچـا نـه غوښتل چې دجگړې په معضله کې راگیرشي . نو ځکه یې د هغـه مـتن لوستلو او منلو ته غاړه کېښوده چې ویـل کېـدل مخکـې تـر مخکـې پـه لنډو الفاظو کې په دقت سره ترتیب شوی و.

خو دملگرو ملتونو یو ډېر لوړ رتبه مامور چې نـه یـې غوښـتل خپـل نوم یې څرگند شي، تر جرگې وروسته ماته په خصوصي خبرو کې وویـل " مـوږ ( ملگـرو ملتونـو ) نـه غوښـتل چـې جرگـه دې پـه دې ډول پایتـه ورسېږي ، موږ غوښتل پخوانی پاچا اجرائیـوي رول ولـري نـه سمبولیك

خـو پنتـاګون مداخلـه وکـړه او خبـره بلاخـره دې حـد تـه ورسـېده " . پـه ببرړنۍ لویه جرګه کې دا څو مهمې مسئلې دزیاتې پاملرنې وړ وې: یـوه دزعامـت مسـئله او بلــه دکــابینې دانتخــاب ، دزعامــت مســئله د اعلیحضرت په یو خوا کېدو او د ښاغلي حامدکرزي په انتخاب اواره شوه خو دکابینې مسئله د ولس د استازو په خوښه اواره نه شوه .

ټول استـازي دې تـه منتظـر وو چـې کابینـه خصوصـاً دڅلـور مهمـو وزارتونو وزیران به دراییې اخیستنې لـه لارې ټاکـل کېـږي. دکـابینې تـر انتخاب یوه ورځ دمخه مـا ښـاغلي خلیلزاد سره پـه یـوه لنډه کتنـه کـې هغه ته دجرګې دغړو تشویش وړاندې کړ ، هغه په لنډو ټکو کې وویل: " کابینه صرف د تعرف لپاره جرګې ته وړانـدې کېـږي او بـس " کلـه چـې زه پر دې خبره باوري شوم چې کابینـه یـوازې دپېژنـدنې لپـاره جـرګې تـه وړاندې کوي او جـرګې تـه پـه کـې دعـزل او بـدلون صـلاحیت نـه ورکـول کېږي، نو پر همغه شپه مې دښاغلي خلیلزاد دخبرو په مصداق، لـه بـي بي سي راډیو سره دمرکې له لارې داخبره واضح کړه چې دکابینې ټاکنـه دبل چا په واك کې ده .

دجرګې یو زیات شمېر برخوال پر دې خبره خبر شول چې جـرګې سـره واقعي واك نه شته ، خو بیا هم یو شمېر برخوال پـه دې نظـر وو او هیلـه یې لرله چې که کابینه دبهرنیو ځواکونو دفشار په نتیجـه کـې دښـاغلي کـرزي لــه خــوا ټاکــل کېــږي هــم، نــو لازمــه ده چــې مســلکي اشــخاص دکابینې مهمې څوکۍ ونیسي ، خو داسې تصور هېڅا هم نه کـاوه چـې دا کابینه به دبن تر کابینې هم زیاته یوې ډلې ته منسـوب وي ، ښـاغلي زلمي خلیل زاد په ببرړنۍ لویه جرګه کې داسې یـو بهرنـی دپلومـات و، چــې د دولــت لــه وزیرانــو، دلــویې جــرګې لــه وکیلانــو او دجهــادي او

الحادي تنظیمونو لـه مشرانو سره یې په ازاده توگـه ملاقاتونـه کـول او هغوی ته یې خپل نظر ورکاوه ، اکثرو دهغه نظر تـه د وروسـتي نظر پـه توگه کتل، چې ټوله نتیجه پرې مرتبه وه .

دښــاغلي زلمــي خلیلــزاد حرکــات دجــرگې ځینــو وکیلانــو تــه دافغانستان دلنډې ماضي تاریخ یو ځل بیا تداعي کړ، ډېر لرې نه یـوازې شـل کالـه وړانـدې تـاریخ ، کلـه چـې پخـواني شـوروي اتحـاد پـر افغانستان یرغل وکړ او په اصطلاح دنړیـوال انترناسیونالیزم تـر شعار لاندې شوروي لښکرې افغانسـتان تـه راننـوتې ، نـو پـه افغانسـتان کـې پرېکړه ، وروستۍ خبره او نتیجه دپخـواني شـوروي اتحـاد پـه سـفارت پـورې تـړلې وه، (فکـرت احمـدجانوویچ تـابیوف) پـه کابـل کـې ډېرمهـال دشـوروي دسـفیر پـه توگـه دنـده سـرته رسـوله ، هغـه د افغـاني ټـولنې دپروگرامونـو پـه هـره برخـه کـې دومـره غـوڅ درلـود چـې دهـېڅ افغـان چـارواکي ونـډه ور سـره دپـرتلنې وړ نـه وه، پـه اکثـرو لویـو دولتـي ، سیاسي او اجتماعي غونډو او میټنگونو کې دهغـه گډون حتمـي خبـره وه .

سره له دې چې زلمی خلیلزاد له آره یو افغان دی، خو پـه سیاسـي او اجتماعي برخو کې دهغه غوڅ رول او اغېز دلـویې جرگې وکیلانـو تـه د دوو لویو او مختلفو هېوادو دچلندونو یو ډول تعبیر تداعي کاوه .

په پای کې هغـه څـه تـر سره شـول چـې د امریکـا د متحـده ایـالاتو او دهغو دکورنیو موئتلفیونو خوښه وه .

د پردې تر شا ترڅو ورځینو خبرو وروسته کابینه سره جوړه او پر داسې وخت جرګې ته وړاندې شوه چې دمابنام دلمانځه مهال رانږدې کېده او دوخت دکمي له امله چا سره دمخالفت چانس هم نه و .

نظار شورا ته بیا مهم وزارتونه ورکړل شول ، دکورنیو چارو وزارت یې هم په نامستقیم ډول نظار شورا ته وسپاره ، تاج محمد وردګ له سیاسي پلوه دنظار شورا ډېر نږدې خواخوږی، خو له قومي پلوه داسې پښتون و، چې نه یې قومي زور وځواك درلود او نه هم ده سره کومه قومي او ژبنۍ روحیه موجوده وه ، له اداري پلوه هم دکفایت خاوند نه و ، نظار شورا غوښتل هغه مهم پوست چې ددوی له لاسه وځي باید په یوه بې کفایته او سست عنصره شخص ډك کړي او ددې ترڅنګ ورته خپل داسې مرستیالان وټاکي چې بیا هم ورځخه کار ونه کړای شي ، نو په دې ډول دکورنیو چارو وزارت کنترول بیا هم له هر پلوه له دوی سره پاتې شو .

کله چې دکرزي صیب له خوا دکابینې لست اعلان شو، نو دکورنیو چارو وزارت لپاره دتاج محمد وردګ نوم په یادولو سره د جرګې زیات برخوال حیران شول ، زه هم حیران شوم ، ماخپله ځوکۍ چې دجرګې د رئیس ښي خواته وه پرېښوده او دجرګې له کېږدۍ بهر شوم ، دملګرو ملتو دسیاسي چارو مرستیال ښاغلي جان ارنولد زه له لاسه ونیولم ، ګوښه یې کړم خپل ژباړن ښاغلي حکیمي ته یې هم غږ کړ .

ماته یې وویل:" موږ خبر شوي یو چې تاته یې اخطار درکړی که په دې برخه کې موږ ته وضاحت راکړې " ما ورته وویل:" دلویې جرګې له پیله بیا تردې دمه یې ماته ډېر اخطارونه راکړي، پر هغو خفه نه یم او

نه یې په کیسه کې یم، دومره بې غیرته نه یم چې په خپل وطن کې دچا له اخطاره وډارشم ، موږ ته په خپل وطن کې دهر چا زور ، کفایت او ظرفیت معلوم دی ، خو خفه پر دې یم چې ملګرو ملتونو او دامریکا متحده ایالاتونو د افغانستان پر یو ستر ارزښت (لویې جرګې) ولې دومره ملنډې وهلې ، ولې یې جرګه پیکه کړه ، جرګه د افغانستان دټول برخلیك ټاکلو صلاحیت لري او دلته ورته دڅو وزیرانو دټاکنې حق نه ورکول کېږي ، دجرګې په نامه دا ډول ټاکنې او تکلفي کارونه دلویې جرګې سپکاوی او دټول ملت توهین دی .

زه پر دې وخت ډېر احساساتي او خفه وم ، ما جان ارنولد ته وویل که تاسو دا ډول کابینه پر موږ تپله نو بیا خو هغه دبن پرېکړه تر دې ښه وه، هغه به مو غځولې وه لویې جرګې ته څه حاجت و؟

لویه جرګه قطعاً دا ډول کابینه نه غواړي دا خو د بن تر کابینې هم بد تره ده .

جان ماته وویل :" دا صحیح ده چې دا کابینه دجرګې خوښه نه ده، خو په افغانستان کې چې دسولې دپروسې دا روان بهیر او دهغه انکشاف ته ګورو داخپله یو مثبت کار دی، خیر دی که دجرګې نتیجه ډېره مثبته نه ده" ما ورته وویل :" په سیاست کې خلك پر نتیجې او ثمربحث کوي ، نه پر بهیر او پروسیجر ، که پروسیجر ښه هم وي چې نتیجه منفي وي ، هرڅه منفي شول ، اصلاً ددې لویې جرګې نتیجه مثبته نه ده" .

جان ارنولد که څه هم کوښښ کاوه چې ما قانع کړي، خو هغه هم دامنله، لکه څنګه چې توقع کېده لویې جرګې دخلکو دهیلو مطابق

نتیجه ورنه کړه، دجان له خبرو دا څرګندېدله چې واك دملګرو ملتو لـه ګوتو ترورړل شوی دی .

خو ده زیات ټینګار، ماته دپېښو ګواښونو او امنیت په بـاب کـاوه، چې زه وضاحت ورکړم او دوی په دې برخه کې دمرستو ډاډ راکړي .

جان ارنولد ماته وویل:" چې ښه به وي تاسو له خپل فامیل سره جلال اباد ته لاړ شئ ، کېدی شي بیا جلال اباد ته درشم نورې خبرې به هلته سره وکړو".

زمـا او دجـان خبـرې همدلتـه پـای تـه ورسـېدې ، دجرګې دپـای پـر سهار له خپلې کورنۍ سره دنورو وکیلانو په شان خواشـیني جلال ابـاد ته راستانه شو .

# په بېړنۍ لويه جرګه کې وېناوال

په بېړنۍ لويه جرګه کې درې اساسي مسايل د بحث وړ وو؟ يو د دولت د مشر ټاکنه، بل د دولت دسياسي جوړښت او دریيم د کابينې د مهمو وزيرانو ټاکنه او پر دې ټولو مسايلو بحث. دلويې جرګې وکيلانو ته په کار وه چې پر همدغو دريو اساسي مسايلو زيات بحث وکړي، څرنګه چې دلويې جرګې وکيلان د هېواد له بېلابېلو سيموڅخه راغلي وو، د هېواد هره سيمه جګړې ځپلې وه او بيارغونې ته يې اړتيا لرله. نوځکه هر وکيل هڅه کوله چې د افغانستان د عمومي مسايلو پرځای زياتره خپل سيمه ييز مشکلات بيان کړي، غوښتل يې په دې ډول خپل سيمه ييز مسئوليت ترسره کړي او هغو خلکو چې دوی ته يې رايې ورکړې وې، هغوی هم خوشاله شي چې ځه زموږ غږ خو هم چېرته ورسېده. ډېرو کمو خلکو د ولسمشر پر ځانګړنو او د کابينې پر جوړښت بحث وکړ، نورو اکثرو خپل سيمه ييزمشکلات بيان کړل.

په لويه جرګه کې د نوبت اخيستل خپله يوه غټه ستونزه وه. دجرګې غوښ اکثريت غړو هيله لرله چې خبرې وکړي، خو ټولو ته دا چانس ورکول ممکن نه وو، اکثرو له ځان سره ليکلې مقالې درلودلې، د لويې جرګې رئيسه هيئت دنوبت په برخه کې يوه خپلمنځي جلسه جوړه کړه، په جلسه کې د مرستيالې سيماثمر طرحه دا وه چې يوازې مشهورو او مطرح اشخاصو ته دې نوبت ورکړل شي او بس، بوه بله طرحه دا وه چې کوم لست له پيله نيول شوی همغه دې تعقيب شي. هغه لست خورا اوږد و، داسې ولايتونه وو چې په لست کې يې هېڅ استازی

نه و او داسې ولایتونه هم وو چې څو تنو وکیلانو ورڅخه ځانونه ثبت کړي وو.

په دې لست کې انډول نه و او نه ددې لست ټولو ثبت شویو کسانو ته نوبت رسېده.

زما وړاندیز دا و چې په لومړي ګام کې دې له هر ولایت څخه یو یو تن استازی د هغه ولایت د ټولو وکیلانو په خوښه، د هغوی په استازۍ خبرې وکړي، که وخت و نو دویم تن دې هم خبرې وکړي، دویم نوبت باید ښځمنو وکیلانو ته ورکړل شي، همدارنګه دمدني، فرهنګي ټولنو، صنفي اتحادیو او نورو علمي مرکزونو استازي دې هم په دې لست کې ونیول شي، دغه راز ځینې نور مطرح اشخاصو ته دې هم نوبت ورکړل شي، په دې ډول به د هېواد بېلابېلو سیمو وکیلانو او د بېلابېلو بنسټونو استازو ته نوبت ورسېږي او ددوی د برخې استازولي به وشي.

په پای کې رئیسه هیئت زما وړاندیز ومانه، خو البته تر پایه پورې سل په سلو کې تطبیق نه شو، د جرګې په بهیر کې دهېواد هېڅ داسې ولایت پاتې نه شو چې یو نه یو استازی یې په لویه جرګه کې خبرې ونه کړي، د ټولو برخوالو په خبرو کې د افغانستان د خاورې د بشپړتیاپر ساتنې او ملي وحدت زیات ټینګار کېده او سیمه ییزې غوښتنې بیانېدلې، په مجموعي ډول د څو ورځو په ترڅ کې دغو لاندې او ځینو نورو اشخاصو خبرې وکړې:

پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه، حامد کرزي، لخداربراهیمي، محمداسمعیل قاسمیار، محمداکبرپوپل، فرید صمدي، پوهاند محمدحسن کاکړ، شیخ محمداصف محسني، عزیزالله واصفي، حشمت غني احمدزي، ګل اغا شېرزي، عبدالرب

رسول سیاف، محمدفیاض ارزګاني، ډاکټر کاظم تورا، صادق پرواني، قوماندان عطامحمد، ملك دریاخان، یونس قانوني، برهان الدین رباني، حاجي عبدالقدیر، حاجي خان ککوزي، نواب امیرزي، عمرقل، هربت سنګ، سرمحقق سیدامین مجاهد، انورالحق احدي، احمدولي مسعود، عبدالنصیب، ثریاپرلیکا، شیربازحکیمي، اکبر، احمدضیارفعت، محمدیوسف واعظي، فضل محمدابراهیمي، ارین محمدي، فضل الهادي هادي، حاجي احمدفرید، صفیه صدیقي، راضیه نعیمي، بیدارځائي، یوسف نورستاني، مخلص، ډاکټرامین، حاجي روح الله او ځینو نورو. په مجموعي ډول که د لویې جرګې ټولو غړو ته نوبت ورکړل شوی و، لکه څنګه چې د اکثریت هیله وه او هر وکیل په منځني ډول لس دقیقې خبرې کړې وای. نو په ټولیز ډول (۳۶-۴۰) ورځو پورې وخت په کار و چې ټولو ته نوبت ور رسېدلای وای.

## د هغو کسانو نومونه چې د خبرو لپاره یې خپل نومونه ثبت کړي وو، خو نوبت ورته ونه رسېد

| نوم | ځای |
|---|---|
| سیداغا صاحبزاده | الیشنك/لغمان |
| سیف الرحمان | زابل |
| روشن ښېرن | دکابل له ۶ مې ناحیې څخه |
| دوکتور ولي محمدعبدیاني | ننګرهار |
| عبدالحسین حیدري | غزني |
| محمدکاظم | دایمیرداد |
| عبدالغفوراحمدزی | دبلخ له شولګرې څخه |
| نجیب الله نجیب | // |

| | |
|---|---|
| نعمت الله خان | ارزګان |
| عبدالواحد خان | // |
| سيدنورخان | // |
| حاجي محمدسرورعثماني | فراه |
| محمدظريف | له شکردرې څخه |
| طاهره مرادي | ارزګان |
| محمدابراهيم | ننګرهار |
| عبيدالله | |
| عذرا جعفري | په ايران کې د مهاجرو استازې |
| انيسه عمراني | کونړ |
| ډګروال عبدالوکيل | دکابل له ۷ مې ناحيې څخه |
| حاجي سليمان ياری | دمهاجرو په استازی |
| عبدالبصير | بدخشان |
| نجيب الله نجيب | کاپيسا |
| پوهنمل محمدنعيم نوري | د کابل ۹ مې ناحيې څخه |
| حفيظ الله نورستانی | دکابل له ۱۶ مې ناحيې څخه |
| انجنيرشېرزمان | دبلخ له چاربولك څخه |
| مولوي کمال الدين | باميان |
| شفيقه | مزارشريف |
| حاجي غلام نقيب | دغزني له قره باغ څخه |
| ډاکټررمضان کريمي | |
| مولوي قابل | ننګرهار |
| الحاج سيدجلال الدين | تګاب |
| الحاج اميرمحمود | دمعلولينو او معيوبينوپه استازی |

| | |
|---|---|
| دوکتور عبدالسلام ظفري | دکابل پولیتخنیك استازی |
| محمدابراهیم قطب زی | دجلال اباد ښار ۳ مه ناحیه |
| انیسه تعین | د کابل له ۱۵ ناحیې ښځه |
| رحمت الله مخدوم زاده | دبلخ له زارع ولسوالۍ ښځه |
| محمدخلیل غیرت ځدراڼ | خوست |
| حاجي کفتان | پکتیکا |
| صحبت خان سروري | دتخارخواجه غار |
| مستوره سدوزۍ توخۍ | زابل |
| عمرقل | دبلخ دولت اباد ښځه |
| حاجي ملا جوره قل | سمنګان |
| حیات الله سرخابی | فاریاب |
| محمدحسین | بهسود / بامیان |
| بابه نظر | بغلان |
| عبدالولي | دوشي |
| عبدالجمیل | // |
| عبدالوکیل | ۷ مه ناحیه |
| عزیزالله قانت | سرپل |
| رحمت الله مخدوم زاده | زارع / بلخ |
| محصل خان . | کونړ |
| سمیع الله خان | لغمان |
| نعمت الله زاهد | بدخشان |
| حاجي ګلزمان | خاکجبار/ کابل |
| فضل الحق | بدخشان |
| خانقاه | دکابل ۱۵ مه ناحیه |

| | |
|---|---|
| غلام حسین ارزګاني | بلخ |
| محمدانور شعیب | د ژورنالېستانو له ټولنې څخه |
| عبدالعزیز درزابی | درزاب/ جوزجان |
| انجنیرقطب الدین | فیض اباد |
| انجنیرمحمدعیسی مصباح | دولت اباد/ فاریاب |
| انجنیرعبدالولي | کونړ |
| محمدطاهر نیازمند | مقر |
| سیدجمال الدین | کشم/ بدخشان |
| فضل احمد مدني | غزني |
| قاضي عبدالجبار | الیشنګک/ لغمان |
| حاجي یاغیستان | شینوار/ ننګرهار |
| ببرك شینواری | // |
| جمعه ګل عمري | لغمان. |
| ملا ولي محمد | بغلان |
| احمدحسین. | کابل ۶ مه ناحیه |
| سنګردوست | // |
| محمدرضا ذکي | // |
| حاجي عبدالعزیز | کونړ |
| حاجي غلام نبي | // |
| طیبه یوسفي | ایران |
| سیدصادق | دتخار خواجه غار څخه |
| حاجي سیدعمر | هلمند |
| حیات الله | بامیان |
| محمدیونس | دبغلان اندراب څخه |

| | |
|---|---|
| شېرشاه اوریاخیل | دکابل قره باغ څخه |
| دین محمد درویش | پکتیا |
| عبدالخالق شادان | کندز |
| محمدداود احمدي | کندهار |
| فضل الرحمن قاطع | ننګرهار |
| عبدالقسیم سنجش | کاپیسا |
| بلال نیرم | . |
| پیرحیدري | جلال اباد |
| سیف الله | ننګرهار |
| مولوي سیدالله | خوست |
| شاه حسین چکړي | کابل |
| محمدسعید ظریفي | دهرات پښتون زرغون څخه |
| سیدجمال فکوري | بامیان |
| عبدالطیف | دره صوف |
| عبدالاحد | کندز |
| نظرمحمدنیرومند | بدخشان |
| اسدالله مصطفی | خاص ارزګان |
| عبدالظاهرساپی | کونړ |
| سرمحقق دوکتورشاه محمود | دعلومو اکاډمۍ |
| ډاکټر عبدالخالق حقجو | سمنګان |
| امان الله سلیم | ننګرهار |
| ملك غلام حضرت فضلي | غزني |
| دوست محمدرحماني | بامیان |
| سیدمحمدقسیم | خوست |

| | |
|---|---|
| حیات الله | بامیان |
| محمدهاشم عثمان | بادغیس |
| ابوالاحرار | کابل |
| ډگروال محمدالله شعیب | کونړ |
| محمدعلي علي زاده | غزني |
| حاکم سیدکریم اریا | کابل |
| حیات الله بخشی | د لیکوالو او شاعرانو ټولنه |
| محمدزمان | بلخ |
| حمیرا | ننگرهار |
| شریفه | کابل |
| عبدالبصیرعشرت | کشم |
| الحاج مولوي هدایت الله | دره صوف |
| اخترمحمدکاکړ | کندز |
| حاجي امین | // |
| ډاکټررحمت الله | // |
| سیدمحمدعالم امیني | کابل ۶ مه ناحیه |
| ډاکټر محمدفاروق برکي | بگرامي / کابل |
| ډاکټر کرام الدین | دره صوف |
| حاجي محمدولي | بغلان |
| محمدیونس | اندراب |
| عبدالاله | // |
| ډاکټر عبدالله | غور |
| مولوي محمدعمر شریفي | کاپیسا |
| هستي خان | کندز |

| | |
|---|---|
| حاجي عالم گل | پکتیکا |
| معلم اسدالله | زابل |
| گلالۍ حمید | پوهني وزارت |
| انجنیرعمر شینواری | ننگرهار |
| عسل محمد شاکري | بدخشان |
| ډاکتر عبدالمالك عبدالرحمیزۍ | لغمان |
| دیپلوم انجنیر سیدگلاب ودان | ۱۲ ناحیه/ کابل |
| غرنی ببرك زی ځدراڼ | خوست |
| مولوي کمال الدین | بامیان |
| حاجي محمدرسول | شولگره، بلخ |
| سیدمحمدالیشنگی | الیشنگ / لغمان |
| محمدشاه فقیري | هرات |
| عبدالطیف | // |
| ډاکتر نعمت الله | شولگره/ بلخ |
| حاجي سخي داد حسیني | غزني |
| حاجي محمدرسول | بلخ |
| ډاکتر سیدمحمدیاسین | میدان ښار |
| سیدموجودشاه پاچا | ننگرهار |
| ملك محمدعلي مومند | کونړ |
| خیرمحمدنایبي | غور |
| مولوي محمدابراهیم | // |
| حاجي نواب خان | سروبی |
| محمدسنگین الفت | // |
| حاجي امیرخان | خوست |

| | |
|---|---|
| سیدمجتبی | ایران |
| حاجي سیدامین | کونړ |
| محمدزاهد | خوست |
| حمیدالله بارکزی | هلمند |
| انجنیرامان الله افشاري | پنځمه ناحیه/ کابل |
| اسدالله کوچی | هلمند |
| ډاکټر محمدامین | ۱۶ مه ناحیه/ کابل |
| شیراحمدصوبه دار | کوچیان/ کندهار |
| عبدالکبیر | ارزگان |
| استاد محمد گل کوچی | غزني |
| منشي عبدالشکور | هرات |
| فضل الرحمان فقهي | د هرات پوهنتون |
| انجنیرمحمدعیسی مصباح | فاریاب |
| ډاکټر عبیدالله عبید | د کابل ۴ مه ناحیه |
| محمدلطیف | فاریاب |
| عبدالرحیم | ۰ |
| فضل حق | بدخشان |
| محمدیعقوب | پروان |
| عبدالعزیز | جوزجان |
| حاجي عبدالحلیم شینواری | ننگرهار |
| محمدنعیم | وردگ |
| محمدگل متواضع | تگاب |
| کفایت درزابی | جوزجان |
| حاجي محمدگل | لغمان |

| | |
|---|---|
| سيدمحمدقاسم | خوست |
| خدابخش قاضي زاده | غور |
| معلمه سيمين شكر | باميان |
| سيدعوض رضايي | // |
| مولوي محمدعمر شريفي | // |
| محمدعارف اكبري | // |
| گلالۍ ناظم | كندهار |
| احمدالله فضلي | هرات |
| نجمه | غور |
| نوشافرين | غور |
| سيماجوينده | // |
| الحاج ملا نقيب الله | فارياب |
| حاجي سيدامين كوهستانى | كونړ |
| محمدحسين وفايي | باميان |
| سيدجمال | باميان |
| فاطمه شفاهي | // |
| غلام عباس احساني | // |
| امين الله باشي زاده | ۱۴ مه ناحيه/ كابل |
| احمدالله | |
| محمديعقوب مجاهد | پروان |
| رحيمه | هرات |
| نجيبه | // |
| بي بي گل | // |
| محمديعقوب مجاهد | فارياب |

| | |
|---|---|
| ظفرشريف | غزني |
| فرزانه حسيني | هرات |
| ډاکټرصالح محمد | مزارشريف |
| ډاکټرمحمدنادرعالمي | // |
| عبدالقديرشينواری | ننګرهار |
| حاجي درياخان | پکتيکا |
| غلام رباني ناشر | ۹ مه ناحيه/ کابل |
| عبدالرحمن | هرات |
| رزم ارا | تخار |
| محمداشرف احمدزی | دننګرهار د کوچيانو په استازۍ |
| الحاج سيدسراج الدين | هرات |
| سيدعبدالرحمن | هرات |
| صديق احمد | غزني |
| حاجي عبدالغفور | کندهار |
| الحاج عزيزالله | غزني |
| ملا دين محمد | بلخ |
| شاه محمد | // |
| ډاکټر محمدايوب | غزني |
| غلام دستګير | بلخ |
| محمدهاشم اورتاق | فارياب |
| محمدصالح بيګ | // |
| نجيبه | لوګر |
| ډاکټره زرغونه رښتين | دمهاجرو په استازۍ |
| محمدشريف سرحدي | پکتيا |

| | |
|---|---|
| محمدقاسم | غور |
| منشي عبدالشکور | هرات |
| سیدمقبول | کابل |
| محمدعلم حلیمي | غزني |
| محمدنبي | کوټ/ ننگرهار |
| حاجي سیدعبدالواجد عمر | بلخ |
| سادیا حقمل | خوست |
| شاه نظیر | // |
| مسلمه اماني نایبخېل | کابل |
| ډاکټر اکرام الدین | دره صوف / سمنگان |
| راحله | ٠ |
| محمداسحق | پروان |
| حاجي محمدطاوس | بگرام |
| افغاني | کندز |
| غلام حضرت روغمن | ښېوه / ننگرهار |
| گل محمدملك بابا | دره نور/ ننگرهار |
| انجنیرنجیب الله | ۷ مه ناحیه /کابل |
| حاجي عجب خان | خوست |
| انجنیرخان محمدثرك | کندز |
| محمدعلي عزیزي | ارزگان |
| محمدعارف شریفي | سرپل |
| عبدالجبار | غزني |
| گل انور انوري | بټي کوټ/ ننگرهار |
| صاحب الرحمن | کونړ/ شیگل |

| | |
|---|---|
| مولوي عبدالوهاب | بدخشان |
| مفاد ځیر | کونړ |
| نظرخان کټوازی | پکتیا |
| محمدالله | جلال اباد |
| محمدقاسم | بادغیس |
| اخترمحمدصدیقي | // |
| عبدالهادي | هرات |
| محمدسالم همدرد | هلمند |
| حمیده ابراهیمي | لوګر |
| معاون سرمحقق عبدالواسع | استالف |
| محمدشفیع | کابل |
| پوهنیارقاضي اصفه کاکړ | دمهاجرو په استازۍ |
| ډاکټرمحمداصف | ننګرهار |
| حاجي محمدظاهر | ننګرهار |
| موسی خان جبارخېل | بلخ |
| قاري محمدالله | سرپل |
| محمدعلم | سرپل |
| کفایت الله | // |
| عبدالقیوم | بلخ |
| سیدظاهرشاه | دمهاجرینو په استازۍ |
| عبدالغفور بیټني | لغمان |
| احمدشاه | هرات |
| شاه جهان | کونړ |
| ډاکټرجماهر انوري | دمهاجرو په استازۍ |

| | |
|---|---|
| محمدعارف عباسي | پکتیا |
| محمدعمر تسکین | دولت شاه/ لغمان |
| عزیزه قریشي | کابل |
| رحیمه ظریفي | پلخمري |
| انجنیرمحمدشهاب حکیمي | د ماین پاکۍ پروګرام استازی |
| عزیزالله علي زاده | غزني |
| سیدمحمدنبي | // |
| حاجي چمن علي توکلي | // |
| حاجي عبدالقدوس | هلمند |
| حاجي لعل محمد بلوچ | // |
| قاضي عبدالحق حبیبي | هرات |
| محمدرضا خان | پکیتکا |
| شهیدالله | کونړ |
| سیدعبدالرحیم هاشمي | انجیل/ هرات |
| مولوي محمدهاشم | وټه پور/ کونړ |
| الحاج امان الله برهاني | تخار |
| پهلوان عزیزالله | د کابل ۱۰ مه ناحیه |
| حبیبه امین | کابل ۱۶ مه ناحیه |
| دوکتور امام نظر صادق زاده | فاریاب |
| جان محمدادیب | // |
| ګلبدین حبیبي | له امریکا څخه د افغانانو په استازې |
| جنرال سیدعوض هاشمي | غزني |
| ذکیه ذکي | پروان |
| محمداحسان | بلخ |

| | |
|---|---|
| صالحه مهرزاد | نیمروز |
| قاضي عبدالوکیل نجرابي | کاپیسا |
| سیما جوینده | غور |
| حاجي عبدالواجد | غزني |
| سیدعبدالخالق | هرات |
| ډاکټر محیط | تخار |
| میرسلیمان یعقوبي | خوست/ بغلان |
| محمداصف سرابي | اطریش |
| ډاکټر محمدکریم باز | ننگرهار |
| غلام محبوب بارکزی | هرات |
| ثریا پوپل | علومو اکاډمۍ |
| دادمحمد | ببخایه شوي / هرات |
| محمدیونس | بغلان |
| عبدالمالك | بامیان |
| ملادین محمدناصر | بلخ |
| مولوي عیني | جوزجان |
| انجنیراسمعیل اکبر | // |
| ډاکټر عبدالستار صمدي | بلخ پوهنتون |
| استاد سلامت | // |
| انجنیرقطب الدین | جوزجان |
| انجنیردانش | اندخوی |
| وکیل حاجي محمدقرقیني | جوزجان |
| میرزمان صبری | خوست |
| حاجي امین الله | ۷ مه ناحیه/ کابل |

| | |
|---|---|
| حاجي غلام رباني | // |
| محمدافغان | پغمان |
| حاجي عاشق | سرپل |
| محمدمنګل | غزني |
| عبدالحی | لوګر |
| حاجي محمدعمرخان | // |
| محمدتيمور | بلخ |
| سرحدي | پکتيا |
| نورحبيب جلال | کاپيسا |
| محمدطيب نيازمند | مقر |
| ولي محمد | هرات |
| عبدالغياث ايماق | کندز |
| محمدعوض پيکار | بلخ |
| غلام حسن | مزارشريف |
| سيدميرزا | دره صوف |
| نفيسه نصيب | ٠ |
| خان شيرين | خان اباد |
| عبدالوهاب | // |
| غلام سخي | نورستان |
| حاجي غلام دستګير | ۲ مه ناحيه/ جلال اباد |
| عبدالجبار اماني | بلخ |
| ډاکټر محمدسرورسروري | په سعودي کې د افغانانو استازی |
| صفيه صديقي | کاناډا کې د افغانانو استازې |
| عبدالوکيل | کابل |

| | |
|---|---|
| انجنیرعبدالله معروفخېل | حصارك |
| حاجي محمدداود جبارخېل | // |
| حاجي شاه محمد | ارزګان |
| میراجان | شکردره |
| انجنیرشاه محمود بری | کندهار پوهنتون |
| حسن علي همتي | پاکستان / مهاجر |
| ډاکټر محمدوکیل | شکردره |
| بصیراحمدصدیقي | میربچه کوټ/ کابل |
| جمعه ګل | هلمند |
| احمدولي خان | کندهار |
| باقي بریال | د معیوبینو استازی |
| محمدابراهیم محسني | د کابل ۱۰ مه ناحیه |
| قمبرعارفي | ارزګان |
| ملك عبدالسلام | فراه |
| ملامحمد | هرات / د کوچیانو استازی |
| حاجي عبدالظاهر | هرات |
| انجنیرنورمحمد | ارزګان |
| عبدالمحمد | د بلخ پوهنتون استاد |
| مرزا عبدالغني | خواجه موسی/ فاریاب |
| بسم الله کلنتي | فاریاب |
| محمدامان | // |
| امدالله | د کوټې د مهاجرینو استازی |
| حیات الله بخش | دلیکوالو ټولنه |
| امان الله اق قیونلو | دولت اباد/ بلخ |

| | |
|---|---|
| حاجي سخي داد | چاربولك /بلخ |
| رحیمه جامي | هرات |
| دوکتور شفیع الله شهیم | د ډاکټرانو اتحادیې استازی |
| اقا شیرین ګلبهاری | ۱۵ مه ناحیه/ کابل |
| صفیه حیات | ۲ مه ناحیه / کابل |
| زرمینه حسن | کندز |
| مسلمه زیور | کندز |
| محمدحسن تیموري | د افغانانو ملي شورا استازی |
| محمدخان | زابل/ خاك افغان |
| ډاکټره نادره | مزارشریف |
| حاجي شاه ولي | هلمند/ ناوه |
| پوهندوی فرمان الله | ننګرهار پوهنتون |
| محمداخلاص احمدخان زی | هلمند |
| محمدامین | کونړ |
| زرغونه خالېز | وردګ |
| فضل الرحمن ځمکنی | پکتیا |
| محمدشریف سرحدي | // |
| معصومه خاوري | دایکندي/ ارزګان |
| فهیمه | ننګرهار |
| عارفه عمرلور | لغمان |
| ډاکټره ثریا | // |
| وحیده سلطاني | پولتخنیك/ کابل |
| شمیمه | جاغوري/ غزني |
| نرګس | مالستان/ غزني |

| | |
|---|---|
| عبدالطيف | دره صوف |
| عبدالوهاب | // |
| محمدکاظم | // |
| سيدميرزا | // |
| سلطان حسين | // |
| انجنيرمحمدنور سهيلي | مزارشريف |
| شاه محمود مياخېل | کونړ |
| صاحب جان کتهوازی | پکتيا |
| الحاج محمدابراهيم شجيع | سرپل |
| شيخ محمد علي | سرپل |
| محمدعوض پيکار | // |
| محمدسرورنبيلي | // |
| مولوي عبدالعزيز شرافت | تخار |
| عبدالرحمن | تخار |
| اسدالله حبيب کوفي | د اسيا نړيوال مرکز استازی |
| عبدالجبارجويا | ينګي قلعه/ تخار |
| محمدظاهرنوبهار | پل حصارك/ بغلان |
| احمدالله افضلي | هرات |
| حاجي ادم خان کتهوازی | پکتيکا |
| محمدداود فهمي | قره باغ / غزني |
| محمدحسن توحيدي | پکتيا |
| ميراقا | درواز |
| مولوي شاه معصوم | پروان |
| انجنيرعبدالغفار | ننګرهار |

| | |
|---|---|
| ملامحمدطاهر | سمنگان |
| مولوي عبدالبصیر | کندز |
| ډاکټرمحمداسماعیل نظري | کندز |
| محمدعارف | کاپیسا |
| محمداکرم تقدسي | ارزگان |
| فضل الحق | بدخشان |
| عبدالمجید | یفتل/ بدخشان |
| عبدالحمیدشهاب | داغستان/ بدخشان |
| قاري محب الرحمن صالحي | قره باغ/کابل |
| میراجان | شکردره/کابل |
| نازنینه عادلیار | تخار |
| عطاءالله محمدي | کوهستان/ بدخشان |
| غلام فاروق مجروح | هرات |
| علیشاه خان مظلومیار | هلمند |
| محمدحسن یعقوبي | جاغوري |
| غلام رسول | فراه |
| حاجي شهاب الدین حیاتي | شاه جوی |
| سیدحسین عالمي | بلخ |
| بهاوالله | روډات/ ننگرهار |
| حاجي بابو گردیوال | مومندره/ ننگرهار |
| محمداکبرمعروفي | کندهار |
| زرمینه نجیم ستانکزی | د کابل ۴ مه ناحیه |
| حاجي نورمحمد | غزني |
| زرجان | د ازادو قبایلو د ټولنې استازی |

| | |
|---|---|
| ملالۍ اسحاقزۍ | کندهار |
| حاجي عبدالقادر | جوزجان |
| مولوي عطاوالله لودين | کامه/ ننگرهار |
| دوست محمدعمري | بگرامي/کابل |
| ملاعبدالکريم | زابل |
| سلطان محمدخان | وردگ |
| شاه عبدالاحد افضلي | بدخشان |
| دکتورعبدالستارصمدي | بلخ پوهنتون |
| غلام رسول روستايي | بلخ |
| حاجي عبدالخالق | هلمند |
| عبدالمحيط | تخار |
| انجنيرخيرمحمد | سمنگان |
| عبدالله مايل | فراه |
| دادمحمد | هرات |
| دوکتورسيدبها کريمي | ننگرهار |
| عبدالعزيز | تخار |
| عبدالهادي واحدي | لغمان |
| عبدالشکور | بغلان |
| رزم درا جورش | تخار |
| سيدنعمت الله مصعب | بلخ |
| شريفه | د ښوونکو د ټولنې استازې |
| دوکتور داود راوش | د کابل پوهنتون |
| عبدالظاهر ساپی | چپه دره/ کونړ |
| شاه جهان | شيگل/ کونړ |

| | |
|---|---|
| صاحب جان | پېچ / کونړ |
| سخي جان | پکتيا |
| فضل الکريم | احمدخېل/ پکتيا |
| تاج محمدنصرتيار | بغلان |
| عوض علي رضايي | غزني |
| سيداحمدمعتمدي | // |
| عبدالوهاب | جوزجان |
| ډاکټره راحيله | باميان |
| محمدزبير | خوست |
| مولوي عبيدالله مولوي زاده | هرات |
| فاطمه شنايي | غور |
| رودابه | تخار |
| فتانه تخاري | تالقان/ تخار |
| ۱۱۰۳ | محمدشریف | ۰۹/۱۴۳ | // |
| ۱۱۰۴ | سیداسمعیل | ۰۹/۱۴۴ | // |
| ۱۱۰۵ | حاجي توردی اخند | ۰۹/۱۴۵ | // |
| ۱۱۰۶ | امرالدین | ۰۹/۱۴۶ | // |
| ۱۱۰۷ | عبدالوهاب | ۰۹/۱۴۷ | // |
| ۱۱۰۸ | محمدشاه | ۰۹/۱۴۸ | // |
| ۱۱۰۹ | محمدعلم | ۰۹/۱۴۹ | // |
| ۱۱۱۰ | دولت محمد | ۰۹/۱۵۰ | // |
| ۱۱۱۱ | ناجیه | ۰۹/۱۵۱ | // |
| ۱۱۱۲ | حاجي محمدالله | ۰۹/۱۵۲ | // |
| ۱۱۱۳ | عبدالقیوم | ۰۹/۱۵۳ | // |
| ۱۱۱۴ | خان محمد | ۰۹/۱۵۴ | // |
| ۱۱۱۵ | عبدالوهاب | ۰۹/۱۵۵ | // |
| ۱۱۱۶ | محمدیوسف | ۰۹/۱۵۶ | // |
| ۱۱۱۷ | محمدشریف | ۰۹/۱۵۷ | // |
| ۱۱۱۸ | بازمحمد | ۰۹/۱۵۸ | // |
| ۱۱۱۹ | عبدالاحد | ۰۹/۱۵۹ | // |
| ۱۱۲۰ | عبدالولي | ۰۹/۱۶۰ | // |
| ۱۱۲۱ | پشتون شانه | ۰۹/۱۶۱ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۲۲ | ملك اریچ | ۰۹/۱۶۲ | // |
| ۱۱۲۳ | عبدالروف | ۰۹/۱۶۳ | // |
| ۱۱۲۴ | عزیز الله | ۰۹/۱۶۴ | // |
| ۱۱۲۵ | نجیب الله | ۰۹/۱۶۵ | // |
| ۱۱۲۶ | نعمت الله | ۰۹/۱۶۶ | // |
| ۱۱۲۷ | نوروز | ۰۹/۱۶۷ | // |
| ۱۱۲۸ | انیسه گل | ۰۹/۱۶۸ | // |
| ۱۱۲۹ | شمس الرحمن | ۰۹/۱۶۹ | // |
| ۱۱۳۰ | عبدالشکور | ۰۹/۱۷۰ | // |
| ۱۱۳۱ | برهان الدین برهاني | ۰۹/۱۷۵ | // |
| ۱۱۳۲ | شېرخان | ۰۹/۱۷۶ | // |
| ۱۱۳۳ | احمدنیرو | ۰۹/۱۸۰ | // |
| ۱۱۳۴ | حاجي عبدالحنان | ۰۹/۱۸۱ | // |
| ۱۱۳۵ | حیات الله | ۰۹/۱۸۲ | // |
| ۱۱۳۶ | امان الله | ۰۹/۱۸۳ | // |
| ۱۱۳۷ | محمدعثمان | ۰۱۰/۰۰۱ | مزارشریف |
| ۱۱۳۸ | سیداحمد | ۰۱۰/۰۰۲ | // |
| ۱۱۳۹ | محمدامان | ۰۱۰/۰۰۳ | // |
| ۱۱۴۰ | اصفه | ۰۱۰/۰۰۴ | // |
| ۱۱۴۱ | عبدالعلي | ۰۱۰/۰۰۵ | // |
| ۱۱۴۲ | مولوی نعیم | ۰۱۰/۰۰۶ | // |
| ۱۱۴۳ | امام نظر | ۰۱۰/۰۰۷ | // |
| ۱۱۴۴ | خال نظر | ۰۱۰/۰۰۸ | // |
| ۱۱۴۵ | محمدهاشم | ۰۱۰/۰۰۹ | // |
| ۱۱۴۶ | محمدصالح | ۰۱۰/۰۱۰ | // |
| ۱۱۴۷ | جان محمد | ۰۱۰/۰۱۱ | // |
| ۱۱۴۸ | محمدعیسی | ۰۱۰/۰۱۲ | // |
| ۱۱۴۹ | عبدالسلام | ۰۱۰/۰۱۴ | // |
| ۱۱۵۰ | شیخ احمد | ۰۱۰/۰۱۵ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۵۱ | غلام جیلاني | ۰۱۰/۰۱۶ | // |
| ۱۱۵۲ | حمیدالله | ۰۱۰/۰۱۷ | // |
| ۱۱۵۳ | محمدطارق | ۰۱۰/۰۱۸ | // |
| ۱۱۵۴ | سیدتاجدار | ۰۱۰/۰۱۹ | // |
| ۱۱۵۵ | محمدصادق | ۰۱۰/۰۲۰ | // |
| ۱۱۵۶ | سیدابراهیم | ۰۱۰/۰۲۱ | // |
| ۱۱۵۷ | محمدموسی | ۰۱۰/۰۲۲ | // |
| ۱۱۵۸ | شفیع | ۰۱۰/۰۲۳ | // |
| ۱۱۵۹ | عبدالاحد | ۰۱۰/۰۲۴ | // |
| ۱۱۶۰ | حاجي عبدالاحد | ۰۱۰/۰۲۵ | // |
| ۱۱۶۱ | میرزا عبدالغني | ۰۱۰/۰۲۶ | // |
| ۱۱۶۲ | عبدالقیوم | ۰۱۰/۰۲۷ | // |
| ۱۱۶۳ | عبدالله | ۰۱۰/۰۲۸ | // |
| ۱۱۶۴ | محمدیوسف | ۰۱۰/۰۲۹ | // |
| ۱۱۶۵ | حاجي نقیب الله | ۰۱۰/۰۳۱ | // |
| ۱۱۶۶ | عبدالمنان | ۰۱۰/۰۳۲ | // |
| ۱۱۶۷ | غلام سخي | ۰۱۰/۰۳۳ | // |
| ۱۱۶۸ | محمدلطیف | ۰۱۰/۰۳۵ | // |
| ۱۱۶۹ | کرم الدین | ۰۱۰/۰۳۶ | // |
| ۱۱۷۰ | هدایت الله | ۰۱۰/۰۳۷ | // |
| ۱۱۷۱ | سیف الله | ۰۱۰/۰۳۸ | // |
| ۱۱۷۲ | حاجي جاراقول | ۰۱۰/۰۳۹ | // |
| ۱۱۷۳ | سمرالدین | ۰۱۰/۰۴۰ | // |
| ۱۱۷۴ | سید عبدالعلیم | ۰۱۰/۰۴۱ | // |
| ۱۱۷۵ | محمدطاهر | ۰۱۰/۰۴۲ | // |
| ۱۱۷۶ | فرید احمد | ۰۱۰/۰۴۳ | // |
| ۱۱۷۷ | عبدالروف | ۰۱۰/۰۴۴ | // |
| ۱۱۷۸ | شیراغا | ۰۱۰/۰۴۵ | // |
| ۱۱۷۹ | عزیزالله | ۰۱۰/۰۴۶ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۸۰ | عبدالخالق | ۰۱۰/۰۴۷ | // |
| ۱۱۸۱ | حاجي عتيق الله | ۰۱۰/۰۴۸ | // |
| ۱۱۸۲ | سميع الحق | ۰۱۰/۰۴۹ | // |
| ۱۱۸۳ | سيدمحمداقبال | ۰۱۰/۰۵۰ | // |
| ۱۱۸۴ | عبدالرشيددوستم | ۰۱۰/۰۵۱ | // |
| ۱۱۸۵ | سيدنورالله | ۰۱۰/۰۵۲ | // |
| ۱۱۸۶ | فيض الله | ۰۱۰/۰۵۳ | // |
| ۱۱۸۷ | سيدلطف الله | ۰۱۰/۰۵۴ | // |
| ۱۱۸۸ | حاجي یاوبرس | ۰۱۰/۰۵۵ | // |
| ۱۱۸۹ | حاجي محمدنظر | ۰۱۰/۰۵۶ | // |
| ۱۱۹۰ | باز محمد | ۰۱۰/۰۵۷ | // |
| ۱۱۹۱ | محمداعظم | ۰۱۰/۰۵۸ | // |
| ۱۱۹۲ | ګل احمد | ۰۱۰/۰۵۹ | // |
| ۱۱۹۳ | قطب الدين | ۰۱۰/۰۶۰ | // |
| ۱۱۹۴ | حاجي قربان نظر | ۰۱۰/۰۶۱ | // |
| ۱۱۹۵ | محمدصديق | ۰۱۰/۰۶۲ | // |
| ۱۱۹۶ | محمداسماعيل | ۰۱۰/۰۶۳ | // |
| ۱۱۹۷ | عبدالكريم | ۰۱۰/۰۶۴ | // |
| ۱۱۹۸ | عبدالوهاب | ۰۱۰/۰۶۵ | // |
| ۱۱۹۹ | حاجي رجب | ۰۱۰/۰۶۶ | // |
| ۱۲۰۰ | حاجي محمداسمعيل | ۰۱۰/۰۶۷ | // |
| ۱۲۰۱ | مخدوم قلي | ۰۱۰/۰۶۸ | // |
| ۱۲۰۲ | سيدحامداغا | ۰۱۰/۰۶۹ | // |
| ۱۲۰۳ | حاجي والله بردي | ۰۱۰/۰۷۰ | // |
| ۱۲۰۴ | خيرالله | ۰۱۰/۰۷۱ | // |
| ۱۲۰۵ | عبدالعزيز | ۰۱۰/۰۷۲ | // |
| ۱۲۰۶ | كفايت الله | ۰۱۰/۰۷۳ | // |
| ۱۲۰۷ | عبدالحی | ۰۱۰/۰۷۴ | // |
| ۱۲۰۸ | احمدشاه | ۰۱۰/۰۷۵ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲۰۹ | عزیزالله | ۰۱۰/۰۷۶ | // |
| ۱۲۱۰ | حاجي عبدالقادر | ۰۱۰/۰۷۷ | // |
| ۱۲۱۱ | احمد | ۰۱۰/۰۷۸ | // |
| ۱۲۱۲ | اقا محمد | ۰۱۰/۰۷۹ | // |
| ۱۲۱۳ | غلام محمد | ۰۱۰/۰۸۰ | // |
| ۱۲۱۴ | سلام جان | ۰۱۰/۰۸۱ | // |
| ۱۲۱۵ | ثریا | ۰۱۰/۰۸۲ | // |
| ۱۲۱۶ | محمدطاهر | ۰۱۰/۰۸۳ | // |
| ۱۲۱۷ | حاجي خیرمحمد | ۰۱۰/۰۸۴ | // |
| ۱۲۱۸ | محمدمحسن | ۰۱۰/۰۸۵ | // |
| ۱۲۱۹ | ملا موسی | ۰۱۰/۰۸۶ | // |
| ۱۲۲۰ | غلام نبي | ۰۱۰/۰۸۷ | // |
| ۱۲۲۱ | حاجي احمد | ۰۱۰/۰۸۸ | // |
| ۱۲۲۲ | کفایت الله | ۰۱۰/۰۸۹ | // |
| ۱۲۲۳ | محمدعالم | ۰۱۰/۰۹۰ | // |
| ۱۲۲۴ | حاجي بي بي حلیمه | ۰۱۰/۰۹۱ | // |
| ۱۲۲۵ | محمدعارف | ۰۱۰/۰۹۲ | // |
| ۱۲۲۶ | مبشر | ۰۱۰/۰۹۳ | // |
| ۱۲۲۷ | حاجي عشورا | ۰۱۰/۰۹۴ | // |
| ۱۲۲۸ | محمدالله | ۰۱۰/۰۹۵ | // |
| ۱۲۲۹ | شفیقه | ۰۱۰/۰۹۶ | // |
| ۱۲۳۰ | محبوبه | ۰۱۰/۰۹۷ | // |
| ۱۲۳۱ | غلام حسین | ۰۱۰/۰۹۸ | // |
| ۱۲۳۲ | عبدالوهاب | ۰۱۰/۰۹۹ | // |
| ۱۲۳۳ | دین محمد | ۰۱۰/۱۰۰ | // |
| ۱۲۳۴ | محمدنادر | ۰۱۰/۱۰۱ | // |
| ۱۲۳۵ | حاجي فتح محمد | ۰۱۰/۱۰۲ | // |
| ۱۲۳۶ | محمدزمان | ۰۱۰/۱۰۳ | // |
| ۱۲۳۷ | الله یار | ۰۱۰/۱۰۴ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲۳۸ | محمدالیاس | ۰۱۰/۱۰۵ | // |
| ۱۲۳۹ | عبدالغفار | ۰۱۰/۱۰۶ | // |
| ۱۲۴۰ | سیدعبدالوحید | ۰۱۰/۱۰۷ | // |
| ۱۲۴۱ | مستوره | ۰۱۰/۱۰۸ | // |
| ۱۲۴۲ | عمرقل | ۰۱۰/۱۰۹ | // |
| ۱۲۴۳ | عبدالمجید | ۰۱۰/۱۱۰ | // |
| ۱۲۴۴ | محمداکبر | ۰۱۰/۱۱۱ | // |
| ۱۲۴۵ | غلام دستگیر | ۰۱۰/۱۱۲ | // |
| ۱۲۴۶ | حبیب الله | ۰۱۰/۱۱۳ | // |
| ۱۲۴۷ | شېرمحمد | ۰۱۰/۱۱۴ | // |
| ۱۲۴۸ | حاجي سخي داد | ۰۱۰/۱۱۵ | // |
| ۱۲۴۹ | غلام حسن | ۰۱۰/۱۱۶ | // |
| ۱۲۵۰ | موسی جان | ۰۱۰/۱۱۷ | // |
| ۱۲۵۱ | شېرزمان | ۰۱۰/۱۱۸ | // |
| ۱۲۵۲ | عبدالقادر | ۰۱۰/۱۱۹ | // |
| ۱۲۵۳ | حاجي عبدالله | ۰۱۰/۱۲۰ | // |
| ۱۲۵۴ | محمدنور | ۰۱۰/۱۲۱ | // |
| ۱۲۵۵ | فیض محمد | ۰۱۰/۱۲۲ | // |
| ۱۲۵۶ | سیدمحمد حیدر | ۰۱۰/۱۲۳ | // |
| ۱۲۵۷ | حاجي عبدالحمید | ۰۱۰/۱۲۴ | // |
| ۱۲۵۸ | حاجي محمدسرور | ۰۱۰/۱۲۵ | // |
| ۱۲۵۹ | حاجي عبدالوکیل | ۰۱۰/۱۲۶ | // |
| ۱۲۶۰ | غلام رسول | ۰۱۰/۱۲۷ | // |
| ۱۲۶۱ | زلمی | ۰۱۰/۱۲۸ | // |
| ۱۲۶۲ | عبدالقدوس | ۰۱۰/۱۲۹ | // |
| ۱۲۶۳ | روزي بردي | ۰۱۰/۱۳۰ | // |
| ۱۲۶۴ | عمرقل | ۰۱۰/۱۳۱ | // |
| ۱۲۶۵ | حاجي محمدنظر | ۰۱۰/۱۳۲ | // |
| ۱۲۶۶ | عبدالجبار | ۰۱۰/۱۳۳ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲۶۷ | صالح محمد | ۰۱۰/۱۳۴ | // |
| ۱۲۶۸ | محمدتیمور | ۰۱۰/۱۳۵ | // |
| ۱۲۶۹ | عبدالباقي | ۰۱۰/۱۴۰ | // |
| ۱۲۷۰ | شاه محمدخان | ۰۱۰/۱۴۱ | // |
| ۱۲۷۱ | عبدالستار | ۰۱۰/۱۴۲ | // |
| ۱۲۷۲ | عبدالمحمد | ۰۱۰/۱۴۳ | // |
| ۱۲۷۳ | حاجي عبدالقیوم | ۰۱۰/۱۴۴ | // |
| ۱۲۷۴ | عبادالله مستاقي | ۰۱۰/۱۴۵ | // |
| ۱۲۷۵ | محمداشرف | ۰۱۰/۱۴۶ | // |
| ۱۲۷۶ | محمدباي | ۰۱۰/۱۴۷ | // |
| ۱۲۷۷ | امان الله | ۰۱۰/۱۴۸ | // |
| ۱۲۷۸ | سلامت | ۰۱۰/۱۴۹ | // |
| ۱۲۷۹ | غلام نبي | ۰۱۰/۱۶۰ | // |
| ۱۲۸۰ | شیخ محمدعلي | ۰۱۰/۱۶۱ | // |
| ۱۲۸۱ | محمدعوض | ۰۱۰/۱۶۲ | // |
| ۱۲۸۲ | محمدسرور | ۰۱۰/۱۶۳ | // |
| ۱۲۸۳ | محمدابراهیم | ۰۱۰/۱۶۴ | // |
| ۱۲۸۴ | الف محمد | ۰۱۰/۱۶۵ | // |
| ۱۲۸۵ | محمدنعیم | ۰۱۰/۱۶۶ | // |
| ۱۲۸۶ | لعل محمد | ۰۱۰/۱۶۷ | // |
| ۱۲۸۷ | بسم الله | ۰۱۰/۱۷۰ | // |
| ۱۲۸۸ | محمدیعقوب | ۰۱۰/۱۷۱ | // |
| ۱۲۸۹ | نادره | ۰۱۰/۱۷۲ | // |
| ۱۲۹۰ | راحله | ۰۱۰/۱۷۳ | // |
| ۱۲۹۱ | شفیقه | ۰۱۰/۱۷۴ | // |
| ۱۲۹۲ | سیدجلال | ۰۱۰/۱۷۵ | // |
| ۱۲۹۳ | حاجي محمداسحاق | ۰۱۰/۱۷۶ | // |
| ۱۲۹۴ | سیدنعمت الله | ۰۱۰/۱۷۷ | // |
| ۱۲۹۵ | حاجي محمدرسول | ۰۱۰/۱۷۸ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲۹۶ | نعمت الله | ۰۱۰/۱۷۹ | // |
| ۱۲۹۷ | شاولي | ۰۱۰/۱۸۰ | // |
| ۱۲۹۸ | عبدالله | ۰۱۰/۱۸۱ | // |
| ۱۲۹۹ | حمیرا | ۰۱۰/۱۸۲ | // |
| ۱۳۰۰ | محمداحسان | ۰۱۰/۱۸۳ | // |
| ۱۳۰۱ | رحیمه | ۰۱۰/۱۸۴ | // |
| ۱۳۰۲ | ماریه | ۰۱۰/۱۸۵ | // |
| ۱۳۰۳ | رحمت الله | ۰۱۰/۱۸۶ | // |
| ۱۳۰۴ | ساجده | ۰۱۰/۱۸۷ | // |
| ۱۳۰۵ | مسعوده | ۰۱۰/۱۸۸ | // |
| ۱۳۰۶ | حسینه | ۰۱۰/۱۸۹ | // |
| ۱۳۰۷ | حنیفه | ۰۱۰/۱۹۰ | // |
| ۱۳۰۸ | حیات الله | ۰۱۰/۱۹۱ | // |
| ۱۳۰۹ | دولت | ۰۱۰/۱۹۲ | // |
| ۱۳۱۰ | حبیب الرحمن | ۰۱۰/۱۹۳ | // |
| ۱۳۱۱ | محمدعمر | ۰۱۰/۱۹۴ | // |
| ۱۳۱۲ | نورالدین | ۰۱۰/۱۹۵ | // |
| ۱۳۱۳ | ثریا | ۰۱۰/۱۹۶ | // |
| ۱۳۱۴ | زرمینه | ۰۱۰/۱۹۷ | // |
| ۱۳۱۵ | عبداللطیف | ۰۱۰/۱۹۸ | // |
| ۱۳۱۶ | محمدکاظم | ۰۱۰/۱۹۹ | // |
| ۱۳۱۷ | عبدالوهاب | ۰۱۰/۲۰۰ | // |
| ۱۳۱۸ | محمدعمر | ۰۱۰/۲۰۱ | // |
| ۱۳۱۹ | خدیجه | ۰۱۰/۲۰۲ | // |
| ۱۳۲۰ | عبدالحکیم | ۰۱۰/۲۰۳ | // |
| ۱۳۲۱ | عبدالعزیز | ۰۱۰/۲۰۴ | // |
| ۱۳۲۲ | محمدهاشم | ۰۱۰/۲۰۵ | // |
| ۱۳۲۳ | عبدالرحیم | ۰۱۰/۲۰۶ | // |
| ۱۳۲۴ | محمداحمد | ۰۱۰/۲۰۷ | // |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۲۵ | عبدالقادردوستم | | | ۰۱۰/۲۰۸ | // |
| ۱۳۲۶ | عزیزالله | | | ۰۱۰/۲۰۹ | // |
| ۱۳۲۷ | سیدحسین علیمي | | | ۰۱۰/۲۱۰ | // |
| ۱۳۲۸ | محمداسماعیل | | | ۰۱۰/۲۱۱ | // |
| ۱۳۲۹ | حفیفه | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۱ | انتصابي |
| ۱۳۳۰ | نازیه | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۳ | // |
| ۱۳۳۱ | لطیفه | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۴ | // |
| ۱۳۳۲ | نفیسه | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۵ | // |
| ۱۳۳۳ | جمیله | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۶ | // |
| ۱۳۳۴ | حاجره | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۷ | // |
| ۱۳۳۵ | فتانه | ۳ | ۹ | ۰۱۱/۰۰۹ | // |
| ۱۳۳۶ | لیسا غبار | ۸ | ۸ | ۰۱۱/۰۱۰ | غړې |
| ۱۳۳۷ | سید خادم قبادي | ۸ | ۸ | ۰۱۱/۰۱۱ | غړی |
| ۱۳۳۸ | نرگس سادات | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۲ | غړې |
| ۱۳۳۹ | سیدمجتبی هاشمي | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۳ | غړی |
| ۱۳۴۰ | عباس جعفري | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۴ | // |
| ۱۳۴۱ | محمدسرور | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۵ | // |
| ۱۳۴۲ | احمدکمال | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۶ | // |
| ۱۳۴۳ | فاطمه فاطمي | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۷ | غړې |
| ۱۳۴۴ | عصمت ایوب | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۸ | غړی |
| ۱۳۴۵ | سیمین حسن زاده | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۱۹ | غړې |
| ۱۳۴۶ | عبدالحکیم | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۰ | غړی |
| ۱۳۴۷ | محمدصادق | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۱ | // |
| ۱۳۴۸ | محمدامیرنوري | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۲ | // |
| ۱۳۴۹ | محمدایوب یعقوبي | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۳ | // |
| ۱۳۵۰ | محمدخدا دادي | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۴ | // |
| ۱۳۵۱ | میر عبدالغفار | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۵ | // |
| ۱۳۵۲ | محمدروف مهدي | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۲۶ | // |
| ۱۳۵۳ | علي اکبر نجوای | | | ۰۱۱/۰۲۷ | // |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۵۴ | محمدهاشم | | | ۰۱۱/۰۲۸ | // |
| ۱۳۵۵ | رمضان کریمي | | | ۰۱۱/۰۲۹ | // |
| ۱۳۵۶ | عزرا جعفري | | | ۰۱۱/۰۳۰ | غړې |
| ۱۳۵۷ | گل محمدارزگاني | | | ۰۱۱/۰۳۱ | غړی |
| ۱۳۵۸ | طیبه یوسفي | | | ۰۱۱/۰۳۲ | غړې |
| ۱۳۵۹ | محمدقاسم وحیدي | | | ۰۱۱/۰۳۳ | غړی |
| ۱۳۶۰ | شاه جهان احمدي | | | ۰۱۱/۰۳۴ | // |
| ۱۳۶۱ | غلام سرور | | | ۰۱۱/۰۳۵ | // |
| ۱۳۶۲ | محمدفیاض | | | ۰۱۱/۰۳۶ | // |
| ۱۳۶۳ | قربان علي عرفاني | | | ۰۱۱/۰۳۷ | // |
| ۱۳۶۴ | صالح محمد | ۲ | ۵ | ۰۱۱/۰۳۸ | // |
| ۱۳۶۵ | سیدنقیب الله | | | ۰۱۱/۰۳۹ | // |
| ۱۳۶۶ | حیات الله | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۴۰ | // |
| ۱۳۶۷ | حاجي امام الدین | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۴۱ | // |
| ۱۳۶۸ | سیدحکیم | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۴۲ | // |
| ۱۳۶۹ | شفیق الله | ۱ | ۷ | ۰۱۱/۰۴۳ | // |
| ۱۳۷۰ | اسدالله کوفي | ۱ | ۹ | ۰۱۱/۰۴۵ | // |
| ۱۳۷۱ | خلیل الله | ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۴۶ | // |
| ۱۳۷۲ | حاجي عبدالحکیم | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۴۷ | // |
| ۱۳۷۳ | عبدالرحیم | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۴۸ | غړی |
| ۱۳۷۴ | محمداصف | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۴۹ | // |
| ۱۳۷۵ | محمداصف شهلزی | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۰ | // |
| ۱۳۷۶ | محمدعزیز | ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۱ | // |
| ۱۳۷۷ | سیدسعدالدین | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۲ | // |
| ۱۳۷۸ | بشیراحمد | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۳ | // |
| ۱۳۷۹ | عبدالسلام | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۴ | // |
| ۱۳۸۰ | ثریا | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۵ | غړې |
| ۱۳۸۱ | محمداسماعیل | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۶ | غړی |
| ۱۳۸۲ | محمدعیسی | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۷ | // |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۸۳ | سیدمحمدموسی | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۸ | // |
| ۱۳۸۴ | محمدکاظم | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۵۹ | // |
| ۱۳۸۵ | محبوبه حقوقمل | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۰ | // |
| ۱۳۸۶ | محمدطاهر | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۱ | // |
| ۱۳۸۷ | رشیدسلجوقي | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۲ | // |
| ۱۳۸۸ | صبغت الله | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۳ | // |
| ۱۳۸۹ | محمدفرید | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۴ | // |
| ۱۳۹۰ | عبدالعزیز | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۵ | // |
| ۱۳۹۱ | سیدامین مجاهد | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۶ | // |
| ۱۳۹۲ | صدیق مدبر | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۷ | // |
| ۱۳۹۳ | حمیرا نعمتي | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۸ | غړې |
| ۱۳۹۴ | سیدمسعود | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۶۹ | غړی |
| ۱۳۹۵ | اسدالله | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۷۰ | // |
| ۱۳۹۶ | مولوی خدایداد | | ۵ | ۰۱۱/۰۷۱ | // |
| ۱۳۹۷ | میرمحمدافصل | | ۵ | ۰۱۱/۰۷۲ | // |
| ۱۳۹۸ | محمدرفیق مجددي | | ۵ | ۰۱۱/۰۷۳ | // |
| ۱۳۹۹ | میرعبدالخالق | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۷۴ | مېلمه |
| ۱۴۰۰ | شیرمحمدابراهیم | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۷۵ | // |
| ۱۴۰۱ | هستي خان | ۲ | ۴ | ۰۱۱/۰۷۶ | // |
| ۱۴۰۲ | عبدالکبیر | ۲ | ۸ | ۰۱۱/۰۷۷ | // |
| ۱۴۰۳ | داودشاه | ۲ | ۴ | ۰۱۱/۰۷۸ | // |
| ۱۴۰۴ | حاجي دریاخان | ۲ | ۴ | ۰۱۱/۰۸۰ | // |
| ۱۴۰۵ | حاجي جنت ګل | ۲ | ۶ | ۰۱۱/۰۸۱ | // |
| ۱۴۰۶ | محمدسروراحمدزی۲ | | ۶ | ۰۱۱/۰۸۴ | // |
| ۱۴۰۷ | اسدالله | ۲ | ۸ | ۰۱۱/۰۸۵ | // |
| ۱۴۰۸ | حاجي عنایت خان | ۲ | ۶ | ۰۱۱/۰۸۶ | // |
| ۱۴۰۹ | حاجي ګلان | ۲ | ۸ | ۰۱۱/۰۸۷ | // |
| ۱۴۱۰ | امیرمحمود | ۱ | ۷ | ۰۱۱/۰۸۸ | // |
| ۱۴۱۱ | احمدنادر۵ | ۵ | ۰۱۱/۰۸۹ | | // |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۱۲ | جمیله مجاهد | ۱۸ | ۴ | ۰۱۱/۰۹۰ | غړې |
| ۱۴۱۳ | حبیب الله بشارت | ۱ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۱ | غړی |
| ۱۴۱۴ | محمدانورشعیب | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۲ | // |
| ۱۴۱۵ | راحیله | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۳ | غړې |
| ۱۴۱۶ | صدیق الله | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۴ | غړی |
| ۱۴۱۷ | سارا امیریار | ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۹۵ | غړې |
| ۱۴۱۸ | گل مکۍ شاه | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۶ | // |
| ۱۴۱۹ | عبدالحی ا لهي | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۷ | غړی |
| ۱۴۲۰ | محمدانور | ۱۵ | ۷ | ۰۱۱/۰۹۸ | // |
| ۱۴۲۱ | خلیل الله ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۰۹۹ | | // |
| ۱۴۲۲ | محمدعزیزمرزایي | ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۰۰ | // غړی |
| ۱۴۲۳ | غلام حسین | ۸ | ۱۰ | ۰۱۱/۱۰۱ | // |
| ۱۴۲۴ | سیدمحمدحسین | ۸ | ۲ | ۰۱۱/۱۰۲ | // |
| ۱۴۲۵ | سیدعوض هاشمي | ۸ | ۳ | ۰۱۱/۱۰۳ | // |
| ۱۴۲۶ | حسن زاده | ۸ | ۳ | ۰۱۱/۱۰۴ | // |
| ۱۴۲۷ | سیدعوض هاشمي | ۸ | ۳ | ۰۱۱/۱۰۵ | // |
| ۱۴۲۸ | عبدالفتاح نوابي | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۰۶ | // |
| ۱۴۲۹ | نجیب الله یوسفي | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۰۷ | // |
| ۱۴۳۰ | فیروز مرادي | ۱۲ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۰۸ | // |
| ۱۴۳۱ | گل سخي رحمانزی۱۲ | | ۷ | ۰۱۱/۱۰۹ | // |
| ۱۴۳۲ | عادله | ۱۲ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۱۰ | غړې |
| ۱۴۳۳ | غلام محمد | ۷ | ۸ | ۰۱۱/۱۱۱ | غړی |
| ۱۴۳۴ | احمدجان ۱۹ | ۷ | ۰۱۱/۱۱۲ | | // |
| ۱۴۳۵ | فضل کریم | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۱۳ | // |
| ۱۴۳۶ | محمدابراهیم رحماني۷ | | ۱۱ | ۰۱۱/۱۱۴ | // |
| ۱۴۳۷ | سیدظاهرشاه | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۱۵ | // |
| ۱۴۳۸ | محمدداود | ۱۲ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۱۶ | // |
| ۱۴۳۹ | اصیله وردك جمال | ۷ | ۷ | ۰۱۱/۱۱۷ | غړې |
| ۱۴۴۰ | نیك محمد | ۷ | ۷ | ۰۱۱/۱۱۸ | غړی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۴۱ | عبدالکریم | ۷ | ۱۰ | ۰۱۱/۱۱۹ | // |
| ۱۴۴۲ | محمدمهدي | ۷ | ۸ | ۰۱۱/۱۲۰ | // |
| ۱۴۴۳ | حاجي سلیمانیار | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۱ | // |
| ۱۴۴۴ | عبدالفتاح نورزی | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۲ | // |
| ۱۴۴۵ | شیرباز حکیمي | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۳ | // |
| ۱۴۴۶ | سیدابراهیم جیلاني | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۴ | // |
| ۱۴۴۷ | حاجي حیات الله | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۵ | // |
| ۱۴۴۸ | عبدالجمیل سلیم | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۶ | // |
| ۱۴۴۹ | غزل حارث | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۷ | غړې |
| ۱۴۵۰ | محمدمنګل | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۸ | غړی |
| ۱۴۵۱ | اصفه کاکړ | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۹ | غړې |
| ۱۴۵۲ | ایشان ولي محمد | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۳۰ | غړی |
| ۱۴۵۳ | رحیم بیګ | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۳۱ | // |
| ۱۴۵۴ | محمدشهاب حکیمي | | | ۰۱۱/۱۳۲ | // |
| ۱۴۵۵ | حسن علي همتي | | | ۰۱۱/۱۳۳ | // |
| ۱۴۵۶ | محمدجمعه | | | ۰۱۱/۱۳۴ | // |
| ۱۴۵۷ | محمدکبیر | | | ۰۱۱/۱۳۵ | // |
| ۱۴۵۸ | صفیه صدیقي | | | ۰۱۱/۱۳۶ | غړې |
| ۱۴۵۹ | حمیده | | | ۰۱۱/۱۳۷ | // |
| ۱۴۶۰ | مومنه | | | ۰۱۱/۱۳۸ | // |
| ۱۴۶۱ | سعدالدین شرفزی | | | ۰۱۱/۱۳۹ | غړی |
| ۱۴۶۲ | شهلا میهن دوست | | | ۰۱۱/۱۴۰ | غړې |
| ۱۴۶۳ | ظاهره | | | ۰۱۱/۱۴۱ | غړې |
| ۱۴۶۴ | عبدالباقي بریال | | | ۰۱۱/۱۴۲ | غړی |
| ۱۴۶۵ | ثریا | | | ۰۱۱/۱۴۳ | غړې |
| ۱۴۶۶ | حاجي فضل کریم | | | ۰۱۱/۱۴۴ | غړی |
| ۱۴۶۷ | ماه مشتري | | | ۰۱۱/۱۴۵ | غړې |
| ۱۴۶۸ | وړانګه ساپۍ | | | ۰۱۱/۱۴۶ | // |
| ۱۴۶۹ | حبیبه عمر | | | ۰۱۱/۱۴۷ | // |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۷۰ | صدیقه بلخي | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۴۸ | غړې |
| ۱۴۷۱ | بلقیس احمدي | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۴۹ | غړې |
| ۱۴۷۲ | امنه افضلي | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۵۰ | غړې |
| ۱۴۷۳ | حیات الله حیات | | | ۰۱۱/۱۵۱ | غړی |
| ۱۴۷۴ | نعمت الله شهراني | | | ۰۱۱/۱۵۲ | // |
| ۱۴۷۵ | امان الله حیدرزاده | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۵۳ | // غړی |
| ۱۴۷۶ | عبدالغفار مظفري | | | ۰۱۱/۱۵۴ | // |
| ۱۴۷۷ | سیده افسانه | | | ۰۱۱/۱۵۵ | غړې |
| ۱۴۷۸ | محمدهاشم | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۵۶ | غړی |
| ۱۴۷۹ | حاجي عبدالغفور | | | ۰۱۱/۱۵۷ | // |
| ۱۴۸۰ | فصل هادي شینواری | | | ۰۱۱/۱۵۸ | // |
| ۱۴۸۱ | عبدالرشید مخلص | | | ۰۱۱/۱۵۹ | // |
| ۱۴۸۲ | برکت الله سلیم | | | ۰۱۱/۱۶۰ | // |
| ۱۴۸۳ | حمیده | | | ۰۱۱/۱۶۱ | غړې |
| ۱۴۸۴ | عبدالوهاب یوسفزی | | | ۰۱۱/۱۶۲ | غړی |
| ۱۴۸۵ | نوریه زینت | | | ۰۱۱/۱۶۳ | غړې |
| ۱۴۸۶ | حیات الله | | | ۰۱۱/۱۶۴ | غړی |
| ۱۴۸۷ | حاجي ذبیح الله | | | ۰۱۱/۱۶۵ | // |
| ۱۴۸۸ | محمدطاهر | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۶۶ | غړی |
| ۱۴۸۹ | نورمحمد | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۶۷ | غړی |
| ۱۴۹۰ | میرمحمد محفوظ | | | ۰۱۱/۱۶۸ | // |
| ۱۴۹۱ | عنایت الله کمال | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۶۹ | // |
| ۱۴۹۲ | عبدالحفیظ فخري | | | ۰۱۱/۱۷۰ | // |
| ۱۴۹۳ | شمیم | | | ۰۱۱/۱۷۱ | غړې |
| ۱۴۹۴ | اصفه | | | ۰۱۱/۱۷۲ | غړې |
| ۱۴۹۵ | خدیجه | | | ۰۱۱/۱۷۳ | // |
| ۱۴۹۶ | سیداحمد گیلاني | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۷۴ | غړی |
| ۱۴۹۷ | فاطمه گیلاني | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۷۵ | غړې |
| ۱۴۹۸ | عطاالرحمن | | | ۰۱۱/۱۷۶ | غړی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۹۹ | حاجي محمدطیب | | | ۰۱۱/۱۷۷ | // |
| ۱۵۰۰ | محمدظاهر حاتم | | | ۰۱۱/۱۷۸ | // |
| ۱۵۰۱ | سیما | | | ۰۱۱/۱۷۹ | غړې |
| ۱۵۰۲ | عتیق الله | | | ۰۱۱/۱۸۰ | غړی |
| ۱۵۰۳ | محمداکبر شېرزاد | | | ۰۱۱/۱۸۱ | // |
| ۱۵۰۴ | عبدالوهاب | | | ۰۱۱/۱۸۲ | // |
| ۱۵۰۵ | سیدمیرزا حسین | | | ۰۱۱/۱۸۳ | // |
| ۱۵۰۶ | سلطان حسین | | ۱۰ | ۰۱۱/۱۸۴ | // |
| ۱۵۰۷ | شریفه | ۱۲ | ۷ | ۰۱۱/۱۸۵ | غړې |
| ۱۵۰۸ | همایون شاه اصفي | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۸۶ | غړی |
| ۱۵۰۹ | محمدجمعه مبلغ | ۱۵ | | ۰۱۱/۱۸۷ | // |
| ۱۵۱۰ | عجب خان | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۸۸ | // |
| ۱۵۱۱ | عادله بهرام | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۸۹ | غړې |
| ۱۵۱۲ | سیدنعیم مجروح | ۶ | ۷ | ۰۱۱/۱۹۰ | غړی |
| ۱۵۱۳ | عبدالمحمددقیق | ۶ | ۷ | ۰۱۱/۱۹۱ | // |
| ۱۵۱۴ | کنگارام | ۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۹۲ | مېلمه |
| ۱۵۱۵ | پریت سنگ | ۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۹۳ | مېلمه |
| ۱۵۱۶ | حاجي گل | | | ۰۱۱/۱۹۴ | // |
| ۱۵۱۷ | محمدنعیم مقصودي | | ۲ | ۰۱۱/۱۹۵ | // |
| ۱۵۱۸ | حاجي عبدالوهاب | | ۱۰ | ۰۱۱/۱۹۶ | // |
| ۱۵۱۹ | ظاهرطنین | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۹۷ | // غړی |
| ۱۵۲۰ | عبدالرحیم عیني | ۱۵ | ۱۰ | ۰۱۱/۱۹۸ | // |
| ۱۵۲۱ | شاه عوض علي | ۱۵ | ۳ | ۰۱۱/۱۹۹ | // |
| ۱۵۲۲ | محمدهاشم صالحي | | ۱۵ | ۰۱۱/۲۰۰ | // |
| ۱۵۲۳ | زرغونه ربنتین | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۰۱ | غړې |
| ۱۵۲۴ | ننگیالی طرزي | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۰۲ | غړی |
| ۱۵۲۵ | نازنین جبارخیل | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۰۳ | غړې |
| ۱۵۲۶ | محمدکبیر | ۷ | ۷ | ۰۱۱/۲۰۴ | غړی |
| ۱۵۲۷ | عبدالغفور احمدزی | ۴ | ۱۰ | ۰۱۱/۲۰۵ | غړی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵۲۸ | خدیجه | ۱ | ۴ | ۰۱۱/۲۰۶ | غړې |
| ۱۵۲۹ | حاجي گلزمان | ۱ | ۷ | ۰۱۱/۲۰۷ | غړی |
| ۱۵۳۰ | بادام گل | ۲ | ۶ | ۰۱۱/۲۰۸ | // |
| ۱۵۳۱ | علي رشید رستمي | | ۳ | ۰۱۱/۲۰۹ | // |
| ۱۵۳۲ | محمداکرام | | ۳ | ۰۱۱/۲۱۰ | // |
| ۱۵۳۳ | محمدعارف | | ۳ | ۰۱۱/۲۱۱ | // |
| ۱۵۳۴ | عبدالله | | ۳ | ۰۱۱/۲۱۲ | // |
| ۱۵۳۵ | حسام الدین | ۹ | ۱۰ | ۰۱۱/۲۱۳ | // مېلمه |
| ۱۵۳۶ | گلبدن حبیبي | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۱۴ | // |
| ۱۵۳۷ | عبدالحی | ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۱۲۱۵ | غړی |
| ۱۵۳۸ | سیدمحمدمحفوظ ندایي | ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۱۶ | غړی |
| ۱۵۳۹ | صبغت الله مجددي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۱۷ | // غړی |
| ۱۵۴۰ | عبدالرحیم کریمي | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۱۸ | // غړی |
| ۱۵۴۱ | محمدرفیق احمدیار | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۱۹ | // |
| ۱۵۴۲ | میرویس صادق | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۰ | غړی |
| ۱۵۴۳ | شریف فایض | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۱ | غړی |
| ۱۵۴۴ | عبدالرحیم | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۲ | غړی |
| ۱۵۴۵ | محمدعلیم عزم | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۳ | غړی |
| ۱۵۴۶ | عبدالمالك هموار | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۴ | غړی |
| ۱۵۴۷ | ملا تاج محمد | ۱ | ۷ | ۰۱۱/۲۲۵ | غړی |
| ۱۵۴۸ | سیما ثمر | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۶ | غړې |
| ۱۵۴۹ | محمدشفیق شیرزی | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۷ | غړی |
| ۱۵۵۰ | امین فرهنگ | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۸ | غړی |
| ۱۵۵۱ | مارشال فهیم | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۲۹ | غړی |
| ۱۵۵۲ | محمدیونس قانوني | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۰ | غړی |
| ۱۵۵۳ | عبدالله عبدالله | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۱ | غړی |
| ۱۵۵۴ | محمدعالم راسخ | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۲ | غړی |
| ۱۵۵۵ | تاجور کاکړ | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۳ | // غړې |
| ۱۵۵۶ | عنایت الله نظري | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۴ | // غړی |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵۵۷ | امان الله ځدران | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۵ | // غړی |
| ۱۵۵۸ | سلطان حمید سلطان | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۶ | // غړی |
| ۱۵۵۹ | سید مخدوم رهین | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۷ | // غړی |
| ۱۵۶۰ | هدایت امین ارسلا | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۸ | // غړی |
| ۱۵۶۱ | محمدکبیر مارزبان | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۳۹ | // غړی |
| ۱۵۶۲ | حامد کرزی | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۰ | // غړی |
| ۱۵۶۳ | شهزاده مسعود | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۱ | // غړی |
| ۱۵۶۴ | محمدشاکر کارګر | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۲ | // غړی |
| ۱۵۶۵ | سید مصطفی کاظمي | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۳ | // غړی |
| ۱۵۶۶ | سهیلا | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۴ | // غړې |
| ۱۵۶۷ | سیدمحمدعلي جاوید | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۵ | // غړی |
| ۱۵۶۸ | محمداصف محسني | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۶ | // غړی |
| ۱۵۶۹ | اشرف غني احمدزی | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۷ | // غړی |
| ۱۵۷۰ | عبدالقدیر | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۸ | // غړی |
| ۱۵۷۱ | محمدیوسف اعتبار | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۴۹ | // غړی |
| ۱۵۷۲ | حاجي شیرمحمداخندزاده | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۰ | // غړی |
| ۱۵۷۳ | جمیله زمان انوري | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۱ | // غړې |
| ۱۵۷۴ | سیدحسن هاشمي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۲ | // مېلمه |
| ۱۵۷۵ | اسدالله وفا | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۳ | // غړی |
| ۱۵۷۶ | سمیع الدین ګوند | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۴ | // غړی |
| ۱۵۷۷ | نجیبه طبیبي | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۵ | // غړې |
| ۱۵۷۸ | محمداکرم فاضل | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۶ | // غړی |
| ۱۵۷۹ | عبدالوسیق رهین | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۷ | // |
| ۱۵۸۰ | حاجي عبدالحی نعمتي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۸ | // |
| ۱۵۸۱ | علي منګل حسین | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۵۹ | // غړی |
| ۱۵۸۲ | حاجي محمدمحقق | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۰ | // غړی |
| ۱۵۸۳ | عبدالله | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۱ | // غړی |
| ۱۵۸۴ | محمدیحي معروفي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۲ | // غړی |
| ۱۵۸۵ | شفیقه نوري | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۳ | // غړې |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵۸۶ | سيد حسين انوري | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۴ | // غړی |
| ۱۵۸۷ | سيدفضل اکبري | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۵ | // مېلمه |
| ۱۵۸۸ | محی الدين بلوچ | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۶ | // غړی |
| ۱۵۸۹ | حاجي حان محمدخان | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۷ | // غړی |
| ۱۵۹۰ | ادينه نيازۍ | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۸ | // غړې |
| ۱۵۹۱ | محمدحسن تيموري | ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۶۹ | // غړی |
| ۱۵۹۲ | امدادالله عزيز | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۰ | // |
| ۱۵۹۳ | ثريا ساديد | ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۱ | // غړې |
| ۱۵۹۴ | محمدسرور | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۲ | // غړی |
| ۱۵۹۵ | فضل احمد ذکريا | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۳ | // مېلمه |
| ۱۵۹۶ | محمدحنيف بلخي | ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۴ | // غړی |
| ۱۵۹۷ | عتيق الله پژواك | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۵ | // غړی |
| ۱۵۹۸ | عبدالغفار شجاع | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۶ | // غړی |
| ۱۵۹۹ | محمدکريم خليلي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۷ | // غړی |
| ۱۶۰۰ | تاج محمدوردك | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۸ | // غړی |
| ۱۶۰۱ | عبدالخالق فاضل | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۷۹ | // غړی |
| ۱۶۰۲ | محمدعلي جلالي | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۰ | // غړی |
| ۱۶۰۳ | سيدسنجراني | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۱ | // غړی |
| ۱۶۰۴ | سيف الله خان | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۲ | // غړی |
| ۱۶۰۵ | نفيسه | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۳ | // مېلمنه |
| ۱۶۰۶ | ماجان | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۴ | // غړې |
| ۱۶۰۷ | محمدامين | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۵ | // مېلمه |
| ۱۶۰۸ | زليخا | ۳ | ۶ | ۰۱۱/۲۸۶ | // غړې |
| ۱۶۰۹ | ضياالحق حقيار | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۷ | // غړی |
| ۱۶۱۰ | مصريه | ۳ | ۶ | ۰۱۱/۲۸۸ | // مېلمنه |
| ۱۶۱۱ | عبدالاحدعشرتي | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۸۹ | // غړی |
| ۱۶۱۲ | هاشمه طاهرصديقي | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۰ | // غړې |
| ۱۶۱۳ | عبدالرحمان هوتکي | ۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۱ | // غړی |
| ۱۶۱۴ | عطا محمد | ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۲ | // غړی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶۱۵ | محمدعارف نورزی ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۳ | // غړی |
| ۱۶۱۶ | عنایت الله عنایت ۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۴ | // غړی |
| ۱۶۱۷ | رڼا پوپل ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۵ | // غړې |
| ۱۶۱۸ | نادر علي محدوي ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۶ | // مېلمه |
| ۱۶۱۹ | انوارالحق ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۷ | // |
| ۱۶۲۰ | غلام دستګیر ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۸ | // غړی |
| ۱۶۲۱ | محمدرحیم علي یار۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۲۹۹ | // غړی |
| ۱۶۲۲ | فضل الله مجددي ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۰ | // غړی |
| ۱۶۲۳ | عبدا لهادي واحدي ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۱ | // غړی |
| ۱۶۲۴ | رسول امین ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۲ | // غړی |
| ۱۶۲۵ | ګل محمد عارفي ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۳ | // غړی |
| ۱۶۲۶ | عمر ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۴ | // غړی |
| ۱۶۲۷ | عبدالطیف ابراهیمي۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۵ | // غړی |
| ۱۶۲۸ | سیداکرام الدین ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۶ | // غړی |
| ۱۶۲۹ | زلمی رسول ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۷ | // غړی |
| ۱۶۳۰ | قسیم فضلي ۱۱ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۸ | // غړی |
| ۱۶۳۱ | محمداسحق رهګذر۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۰۹ | // غړی |
| ۱۶۳۲ | احمدمشاهد ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۰ | // مېلمه |
| ۱۶۳۳ | سیدمحمداقبال منیب ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۱ | // غړی |
| ۱۶۳۴ | احمد ولي مسود ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۲ | // غړی |
| ۱۶۳۵ | فتانه اسحق ګیلاني۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۳ | // غړې |
| ۱۶۳۶ | حمیدالله خان توخي۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۴ | // غړی |
| ۱۶۳۷ | حاجي اسدالله ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۵ | // غړی |
| ۱۶۳۸ | محمدامان ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۶ | // غړی |
| ۱۶۳۹ | حاجي سیداحمد ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۷ | // غړی |
| ۱۶۴۰ | ګل محمدیلاقي ۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۸ | // غړی |
| ۱۶۴۱ | سیدمحمدامین طارق۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۱۹ | // غړی |
| ۱۶۴۲ | زلمی هېوادمل ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۰ | // غړی |
| ۱۶۴۳ | عبدالمالك بارکزی ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۱ | // مېلمه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶۴۴ | حاجي حضرت خان۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۲ | // مېلمه |
| ۱۶۴۵ | حاجي گلاب شینواری۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۳ | // غړی |
| ۱۶۴۶ | مولوی محب الله ۱۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۴ | // غړی |
| ۱۶۴۷ | محمداسماعیل قاسمیار ۱۰ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۵ | // غړی |
| ۱۶۴۸ | حکیم تنیوال ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۶ | // غړی |
| ۱۶۴۹ | مونیسه ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۷ | // غړې |
| ۱۶۵۰ | عبدالوحید سهرابي۱۳ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۸ | // غړی |
| ۱۶۵۱ | محمدسرورصالح ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۲۹ | // غړی |
| ۱۶۵۲ | فضل عظیم مجددي۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۰ | // مېلمه |
| ۱۶۵۳ | محمدعارف ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۱ | // غړی |
| ۱۶۵۴ | عبدالغفور ارزو ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۲ | // مېلمه |
| ۱۶۵۵ | رازمحمددلیلي ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۳ | // مېلمه |
| ۱۶۵۶ | جلیل احمدعثماني ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۴ | // مېلمه |
| ۱۶۵۷ | حاجي غازي محمد ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۵ | // مېلمه |
| ۱۶۵۸ | سیدنصیراحمدعلوي۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۶ | // مېلمه |
| ۱۶۵۹ | سیدنوراحمدشاه ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۷ | // مېلمه |
| ۱۶۶۰ | محمدجلیل شمس ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۸ | // مېلمه |
| ۱۶۶۱ | بسم الله بسمل ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۳۹ | // مېلمه |
| ۱۶۶۲ | ثریا پیکان ۵ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۰ | // غړې |
| ۱۶۶۳ | عاقله فرزام فاطمي ۳۷ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۱ | // غړې |
| ۱۶۶۴ | نسرین | | ۰۱۱/۳۴۲ | // غړې |
| ۱۶۶۵ | سیما نوري ۸ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۳ | // غړې |
| ۱۶۶۶ | محمداسماعیل ۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۴ | // غړی |
| ۱۶۶۷ | سیدعبدالرحمن | | ۰۱۱/۳۴۵ | // غړی |
| ۱۶۶۸ | ضیاءالدین مجددي۱۶ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۶ | // مېلمه |
| ۱۶۶۹ | حاجي عیام الدین خان۹ | ۱۱ | ۰۱۱/۳۴۷ | // مېلمه |


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
۱۳ ۸۷
افغانستان په
سیاسي
کړلېچ کې
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# افغانستان په سیاسي کړلیچ کې

## ( د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه )

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

# بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | افغانستان په سياسي کړلېچ کې |
| ليکوال: | محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون کلتوري يون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۸۷ل کال |
| د ليکوال پرله پسې نومره: | (۲۸) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۲۸) |
| کمپوزر: | ضياءالرحمن ضياء |

# ((افغانستان په سیاسي کړلېچ کې)) او یو څو نورې خبرې

((افغانستان په سیاسي کړلېچ کې)) د یون د سیاسي او ټولنیزو لیکنو یوه مجموعه ده، خو د ټولو سیاسي لیکنو نه، بلکې د نړدې یوې لسیزې د یو شمېر سیاسي او ټولنیزو لیکنو. دیارلس کاله کېږي چې تقدیر زما او د یون ژوند سره تړلی دی، په دې تېرو دیارلسو کلونو کې زموږ فردي ژوند څه ناڅه سوکاله و، خو اجتماعي او سیاسي غمونه دومره زیات وو، چې موږ یې د فردي ژوند په خوشالۍ پوه کړي نه یو. په دې تېرو دیارلسو کلونو کې موږ تر یوویشت ځلو زیاته کوچ کشي کړې او له یوه ځایه مو بل ځای ته کډه وړې ده. زموږ دا کوچ کشي که له یوې خوا د جګړو او نورو ستونزو له امله وه، نو یوه زیاته برخه یې د یون د سیاسي مشکلاتو له امله هم وه، هر نظام چې په تېرو کلونو کې راغلی، نو یون یې له چارواکو سره تر خپلې وسې ټکر کړی او مخالفت یې ورسره څرګند کړی دی. د ډاکتر نجیب الله په واکمنۍ کې سره له دې چې هغه وخت یون محصل و، خو په اخبارونو کې یې ځینې سیاسي او ټولنیزې لیکنې راتلې، د هغه وخت نظام سره یې هم چندان جوړه نه وه، بیا چې کله د مجاهدینو په نامه د ځینو پروتوکولیانو تش په نامه اسلامي حکومت راغی، نو هغه خو هېڅاته هم د منلو وړ نه و، نو یون یې هم مخالف و، دې حکومت سره خو یې مخالفت دې حالت ته ورسېد، چې خبره نوره تر زغم ووته، یون مجبور شو کابل پرېږدي، دا مهال به کله په کابل او زیات وخت به په پېښور کې پر فرهنګي چارو بوخت و. کله چې د طالبانو واکمني راغله، نو ټولو فکر کاوه چې د پخوانیو جګړه مارانو له غضبه خلاص شو، خو طالبانو سره نور نور مرضونه

ملګري وو، یون او په کابل کې هغه وخت یو زیات شمېر لیکوالو طالبانو ته ډېر وویل، چې د تېرو حکومتونو اشتباه ګانې مه تکراروئ او له دې ولس سره ګوزاره وکړئ، یو وخت کې د طالبانوقهر دومره زیات شو چې یو نسبتاً لوړ پوړي لیکوال طالب چارواکي یون ته وویل: ((که ژوند غواړې، نور نو کابل نه ووځه، کله چې حالت ښه شول بیا به راشې او که نه اوس پېښور ته ځه، میاشت دوو کې یو ځل کابل ته راځه د چا به درته ډېر پام نه کېږي.)) دا وخت د ښځو پر ټولنیزو فعالیتونو او کار ټینګ بندیز و. زه چې کله پر (۱۳۷۰ل) کال له پوهنتونه فارغه شوم، نو بیا د کابل ښار په آمنه فدوي لېسه کې د ښوونکې په توګه مقرره شوم او د طالبانو تر واکمنۍ یو کال دمخه، په کابل کې د امهات المومنین پوهنتون په پښتو څانګه کې استاده شوم، خو کله چې طالبان واک ته ورسېدل، د هېواد ټول ښځینه قشر خپلې دندې له لاسه ورکړې، پر کور کېناستې، په لومړیو څو میاشتو کې یې معاشونه ورکول، وروسته هغه هم بند شول، په کابل کې چې دا مهال د فرهنګي کار ټولې دروازې بندې شوې، نو یون مجبور شو بیا پېښور ته مخه کړي، هلته یې ورو ورو د خپلو هغو فرهنګي ملګرو په مرسته چې پخوا ځینو غربي هېوادونو ته تللي وو، د فرهنګي کار یوه سلسله پیل کړه، لومړی یې هیله مجله چاپ او بیا یې د نورو کتابونو د چاپ لارې چارې ولټولې، دا وخت به یون یوه اوونۍ په کابل او یوه اوونۍ په پېښور کې و، ماته به یې ویل چې تر لیني موټروانانو زه په دې لاره کې ډېر بلد یم، خو کله چې له پېښوره کابل ته د کتابونو د رارسېدو لړۍ پیل شوه، نو دا کار هم پر طالبانو چندان ښه ونه لګېده، ستونزې نورې هم زیاتې شوې، نور نو د یو چا تګ او راتګ اسانه نه و، (هیله) او (سمسور)، (زما مشره لور او مشر زوی) هم دا وخت دومره شوي و، چې د ګرځېدو وو او پلرني مینې ته یې سخت ضرورت وو، پلار چې به یې کله راغی، نو دواړه اولادونه، یو به یې پر یوه اوږه او بل به یې پر بله اوږه سپاره شول، هغه به هم د لوبو او خوراک دومره شیان ورته راوړي وو، چې دوی به پرې زیات خوشاله شول، بیا به یې له لاسه ونیول او د پوهنتون په ساحه کې به یې وګرځول راوګرځول، هغه وخت پوهنتون

کې داسې و، لکه ترڼلی چې وي، د نجونو پر تعلیم بندیز و او د هلکانو شمېر هم په کې د اوس په انډول ډېر کم و، کله چې به یون بېرته پېښور ته، ته نو زموږ په کور کې به غم خور و، هیلې او سمسور به دومره ژړل چې ما به هم خپله ژړا نه شوه ټینګولای.

یوه ورځ سمسور ډېر مریض شو، ډاکتر ته مې بوته، ډاکتر معاینه کړ، ویې ویل، دا مریضي نه لري، خو دا ډېر خفه معلومېږي، ما ویل پلار پسې یې خفه دی. بیا چې کله یون کابل ته راغی، نو دواړو ورته وویل چې نور دې پېښور ته نه پرېږدو. یون ورته وویل نور تاسې هم بیایم، ځای مې پیدا کړی دی. بیا یې ما سره مشوره کړه، نو پر ډېرو سختو لارو پېښور ته لاړو، د یون ملګري دې خدای ټول اباد او سوکال لري، یون یې هېڅکله اقتصادي مشکل ته پرې ایښی نه دی، خو یون په پېښور کې هم په فرهنګي کار کې دومره سرګردانه وو، چې د شپې به یې هم دومره کاغذونه کور ته راوړل چې اکثره وخت به د همغو پر لوستلو او کتلو ویده شوی و، درې ژمي مو په پېښور کې همداسې تېر کړل، چې د امریکائیانو او طالبانو دښمني اوج ته ورسېده او طالبانو په کې خپل حکومت له لاسه ورکړ. دا وخت سره له دې چې یون په پېښور کې ډېره ښه دنده لرله او لوړ معاش یې درلود او ماته هم په خپله مسلکي برخه کې په لوړ معاش کار پیدا کېده، خو د ښاغلي کاوون کاکړ په غوښتنه یون دا ټول کارونه او امتیازونه پرېښودل، هغه سره جلال اباد ته راغی او دلته د ختیزو ولایتونو لپاره د بېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتي چارو کارونه ورسپارل شول، څوموده وروسته مو کور راوړ او زه د ننګرهار د یوناما په دفتر کې د ښځو چارو د مسولې په توګه مقرره شوم، دا داسې مهال و چې په ټول ننګرهار کې یوه ښځه ماموره هم پر کار مصروفه نه وه، یوازې د مخابراتو ریاست کې یو دوه ښځینه مامورینې نوې مقررې شوې وې، ما د څو میاشتو په بهیر کې ((د ښځو د سوکالۍ ټولنه)) جوړه کړه، بیا مې ((ناهید)) مجله ورته چاپ کړه او د ښځو د ودې لپاره مې په لسګونو غونډې، ورکشاپونه او سیمینارونه جوړ کړل او همدارنګه مې ګڼ شمېر ښځو ته په دولت کې د کار او تقرر زمینه برابره کړه. د یو دوو کلونو په

بهیر کې په ننګرهار کې د ښځو یو غورځنګ پـه ټوکېـدو شـو، بیـا پـه بېړنـۍ لویه جرګه او د اساسي قانون په لویه جرګه کـې د ننګرهـار د خلکـو اسـتازې شوم او وروسته بیا په ولسي جرګه کې هم د ننګرهار د خلکو له خوا د خپلـې استازې په توګه انتخاب شوم. یـون د بېړنـۍ لـویې جرګـې د غـړي او بیـا د لومړي منشي، د اساسي قانون د دارالانشا غـړي او د افغانسـتان او پاکسـتان د امن د ګډې جرګې د منشي په توګه، ټول هغه څه چې له لاسه یې کېدل، د خپل ولس د خدمت لپاره یې ترسره کړل، خو ایا دا ټـولې منـډې تـرړې او هلې ځلې په ارام زړه او بې خطره وې که نه د ستونزو له پېچومـو تېرېـدلې؟ هغه چاته چې د خپل هېواد تېر تاریخ او په تېره بیا تېر دېرش کلـن تـاریخ معلوم وي، هغو ته ښه څرګند ده  چې له کوم بهرني او کـورني پـوځې ملاتـړ پرته د هر سیاسي ګام پورته کول د سر د خطر په بیه تمامېدی شي.

مورږ دا خطرونه د سر په سترګو لیدلي، دا چې لوی رب پـه خپلـه لورېینـه ساتلي یو، دا نو د هغه ذات مهرباني ده او مـورږ یـوازې پـر همغـه ذات تکیـه لرو: (( د خوشال خټک تکیه پر ذوالجـلال ده)). د افغانسـتان د مخالفینولـه لوري  ددې ټولو خطرونو او ګواښونو ترڅنګ، زمورږ په ټولنـه کـې یـو شـمېر نور عیبونه هم شته، هغه سره له دې چې لـه فزیکـي پلـوه ډېـر خطرنـاک نـه دي، خو په ټولنه کې د یوه مثبت شخصیت د تبارز پـر وړانـدې ودرېـږي او سالم شخصیتونه  ودې ته نه پرېږدي، دا مرض تر هر چـا پـه ښـتنو کـې ډېـر دی، په ښتنو کې داسې خلک هم پیدا کېږي چې تر هر چا به ورته سـتا لـه خوا ډېره ګټه رسېدلې وي، خو تر ټولو دمخه به ستا د بربادۍ سـبب ګرځـي او تاته به کوهي کني، زه او یون په جلال اباد کـې عمـلاً لـه دې ډول ډېـرو ستونزو سره مخامخ شوي یو، د یون پر وړاندې هـم عمـلاً هغـه چـا پـر ډول ډول منفي تبلیغاتو لاس پورې کړ چې د یون په لاس، په ښځو کې یاد شوی او مطرح شوی و، ان د ادبیـاتو الفبـې یـې هـم لـه ده زده کـړې ده، دومـره خدمت چې یون ورته کړی و، کېدی شي خپل پلار او نـږدې خپلوانـو هـم ورته نه وي کړی، خو هغه د لوړتیا غوښتنې عقـدې دومـره پسـې اخیسـتی و چې د افغانستان ټولې ستونزې پاتې شوې، د یون پرضد یـې داسـې شـفاهي

او تحریري کمپاین پیل کړ چې دا ښاغلی کله یوازې له ځان سره سوچ وکړي، نو خپله به هم په خپلو الفاظو وشرمېږي. یوه بله اغلې مېرمن بیا داسې وه چې ځان یې داسې پښتو پاله او ملتپاله معرفي کاوه، چې مور ویلې څه شی چې په کور کې لرو، ټول ترې قربان کړو، په ډېرو غونډو او ورکشاپونو کې یې ځان د افغان ملت ګوند د مهمې غړې په توګه معرفي کاوه، مور چې د خدای په فضل په هېڅ تنظیم کې نه وو، نو هر چا چې به، که به هغه کوم تنظیمي شخص و که خپلواک، خو چې د ملت خبره به یې کوله، مور به ورته احترام درلود، دې ته مو هم ډېر احترام درلود، دا مو د ښځو د یوې ټولنې مشره کړه، یون ورته ډېر زیات مالي امکانات پیدا کړل، د ورکشاپونو او غونډو په جوړولو کې یې ورسره مرسته وکړه، ما هم تر خپله وسه زیاته مرسته ورسره وکړه، کله چې ښځه په پښو ودرېدله او پنځو کې یاده شوه، نو دې محترمې یوه ورځ د یوناما په دفتر کې زما پر ضد یوې امریکایي مېرمنې (ګارمینډیارقسانې)) ته عریضه وکړه، چې اریـن یون پښتو او پښتنو ته کار کوي، د افغان ملت غړې ده، نو باید له کاره ګوښه شي. زه هغه وخت هم د هېڅ ګوند غړې نه وم او اوس هم نه یم. دا بېلګه مې ځکه راوړه چې زمور په ټولنه کې کار کول له ډېرو ستونزو سره مل دي، نو چې یوه افغان ملتۍ تا د افغان ملتۍ په تور مجرمه وګڼي، نو دې حالت ته به څه نوم ورکړې؟ له هغې ورځې چې پارلمان کې یم، یوه ورځ به هم مور په کور کې ارامه ډوډۍ نه وي خوړلې، ځکه هلته داسې جنجالونه دي چې ارامي درڅخه اخلي. په کابل کې اوس هم داسې څوک حاکم دي چې اساساً د افغانستان د ملي ګټو مخالف دي. پیسې او وسلې هم لري، بهرنۍ نړۍ او ګاونډي هېوادونه یې هم تر شا ولاړ دي، د سیاسي او نورو قتلونو اوږد پس منظر هم لري. ددې ډول خلکو د سیاسي هیلو خلاف حرکت په اوس وخت کې د خودکشۍ په مانا دی. خو که په کابل کې ددې ډول عناصرو پر وړاندې د منطقي مبارزې په برخه کې د څو تنو نوم یادېږي، نو یو به په کې یون وي، که د قدرمن استاد حبیب الله رفیع نوم لومړی وي، نو د یون به ورپسې دویم وي. زه دلته د یون نوم د ستاینې او تائیدونې په

خاطر نه راوړم او نه هم د هغه سپاهي په شان فکر لرم چې خپل ځان خپله ستايي، زه خپله د یون له ځینو فعالیتونو، ځینو مرکو او ځینو نظرونو سره مخالفه یم، ځکه چې نه غواړم خدای مه کړه اولادونه مې په دې تنکیتوب او ماشومتوب کې د خپل پلار د مینې او سیوري په ارمان شي، ما څو ځله یون ته ویلي، چې نه دې زر شته نه دې زور او د زرو زور خاوندانو سره ډغره وهې، دا ډول مبارزه د ځان له سېزلو پرته بله مانا نه لري. استاد سیاف څو ځله په پارلمان کې ماته ویلي دي: ((یون چې کله مرکه کوي، نو په کلاشینکوف ډزې نه کوي، چې یو یو ډز وکړي او خپل هدف وولي، هغه سره همېشه چریز ټوپک وي، یو ډز وکړي نو چې ساچمې يې پر هر چا برابرې شوې...))

یون ته چې دا خبرې کوم هغه وايي: (( ژوند ډېر لنډ او تنګ دی، کارونه ډېر دي، موږ باید لاره خلاصه کړو، یو ځل چې لاره خلاصه شي، بیا نور خلک شته چې د هېواد د خاینینو پر ضد مبارزه وکړي، خو په پیل کې باید یو یا څو تنه قرباني ورکړي، چې نورو ته د جرئت لاره پرانیزي.))

دا لیکنې د یون د تېرو لس دولسو کلونو لیکنې دي، چې یو مستقیم خط تعقیبوي، په تېرو وختونو کې يې په خپل او بدل نامه چاپ کړې دي، کېدی شي د بیا چاپ پر وخت د ډېرو خلکو خوښې شي، خو ځینې به يې ضرور مخالفت هم وکړي.

که چېرې دا لیکنې د هېواد لپاره ګټورې تمامې شي او خلک ترې ښه ګټه پورته کړي، نو زه يې ځکه په ثواب کې ځان شریک ګڼم، چې که زما مرسته او همکاري نه وای، نو یون دومره ګڼو لیکنو ته نه وزګارېده، د کور د ټولې سودا غم پر ما دی، د ماشومانو روزنه او پالنه هم پر ما ده، د خپلو خپلوانو د غم او ښادۍ پوښتنه هم زه کوم، هم د کور کار کوم، هم د پارلمان او ولس چارو ته ځان رسوم، خو یون مې یوازې خپلو علمي، فرهنګي او سیاسي کارونو ته پرې ایښی دی، خو دی بلمقابل له ما سره زما د ځینو لیکنو په اصلاح، د ځینو بیانیو په لیکلو، سیاسي مشورو، راډیویي او ټلویزیوني مرکو او نورو ټولنیزو او علمي مسایلو کې مرسته کوي او ژوند

همداسې په ګډه پر مخ بیایو، کورنی ژوند مو ډېر سوکال، خو ټولنیز او سیاسي ژوند مې ډېر سرګردان دی. ددې څو کرښو لیکل مې ځکه مناسب وګڼل، چې د شرم هغه حاکم دود مات کړم، چې یوه مېرمن د خپل کور ودان پر اثر څه نه شي لیکلای او یا لږ تر لږه په پښتنو کې دا دود نه شته او ما داسې بېلګې تراوسه نه دي لیدلي. د منفي کلتور د زنځیرونو شلول د هر متمدن افغان دنده ده.

خدای(ج) دې افغانستان اباد او زموږ ملت سر لوړی او سوکال لري.

په ډېر درناوي

ارین یون

په ولسي جرګه کې د ننګرهار

د خلکو استازې

کابل- افغانستان

د سریزې په توګه:

# سیاسي لیکنې او د لیکوال شخصیت

دا ټولګه چې اوس ستاسو مخې ته پرته ده، دا زما د هغو سیاسي او ټولنیزو لیکنو یوه مجموعه ده، چې د تېرو پنځه لسو کلونو په بهیر کې مې لیکلې دي. دا لیکنې اکثره تر تنظیمواکۍ وروسته پېر یانې د طالبانو واکمني او تر هغه راوروسته ځینې سیاسي پېښې او بدلونونه په خپله لمن کې رانغاړي.

دا لیکنې اکثره په هیله مجله، ګوربت مجله، وفا جریدې او ځینو نورو مجلو او خپرونو کې چاپ شوي دي. دا لیکنې که څه هم اکثره زما په خپل نامه چاپ شوي، خو ځینې په کې داسې هم دي، چې د هغه وخت له غوښتنو سره لازمه وه، چې په بدل یا مستعار نامه چاپ شي، سیاسي لیکنو ته کله کله د بدل یا مستعار نامه د کارونې اړتیا ځکه پېښېږي، چې دې سره لیکوال خپل فزیکي ژوند هم خوندي کوي او د فکر او پیغام د انتقال ضرورت هم پوره کوي. سیاسي لیکنې طبعاً جانبي عوارض لري، سیاسي لیکنې داسې نه دي چې پر ټولو یو شان ولګي، ضرور به پر چا ښه او پر چا به بده لګي، سیاست اصلاً د ګټو جنګ دی، د ګټو په جګړه کې زیاتره وخت اخلاقي نورمونه او یو شمېر انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي، کله چې لیکوال د سیاسي مسایلو په اړه لیکنه کوي، که څه هم دا لیکنه یې د ناپېیلتوب پر اصل ولاړه وي، خو له دې لیکنې څخه بیا د حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم، ګټندوی او متضرر، تعبیر او انتباع یو

شان نه وي. په تېره بیا پـه هغـو ټولنـو کـې چـې سیاسـت لـه عقیـدې سره موښل شوی وي او یو له بله متاثر شوي وي، دلته نو سیاسي ارزښتونه هـم د عقیده یي او کله هم عقیده یي د سـیاسي هغـو پـه تلـه تلـل کېـږي. پـه داسې حالاتو کې نو سـیاسي قضـاوت هـم اسـانه کـار نـه دی. مـا اصـلاً لـه سیاسي لیکنو سره لېوالتیا نه درلودله او لکه د نورو لیکوالو پـه شـان پـر مـا هم احساسات او عواطف ډېر غالـب وو، کـه همـدا اوس هـم راتـه څـوک وسله، واک و ځواک په لاس راکړي، نو کېدی شي د خپل سر قاتل ته هم څه ونه وایم، په همدې خاطر مې د خپلې نـږدې لـس کلنـې لیکـوالۍ پـه ترڅ کې له څرګندو سـیاسي لیکنـو ډډه کـړې وه، خـو یـو وخـت حـالات داسې راغلل، چې هر څه د زغم تر کچې پورته شول، ځینې داسې پېښـې هم وې، چې د شعر او هنر په نورو څانګو کې یې ځایول اسانه کار نـه و، د یوه نېغ او مستقیم ځواب غوښـتونکې وې، پښـتنو کـې د سـیاسي لیکنـو د لیکوالو کمی له ورایـه احساسـېده. اصـلي خـبره دا وه چـې پـر افغانسـتان باندې د پخواني شوروي تر مستقیم یرغل او د حفیظ الله امین پـر ځـای د ببرک کارمل تر نصبولو وروسته، په پښتنو کې په عام ډول او په لیکوالو کې په خاص ډول هغه پخوانۍ روحیه ماته شوه، د غرور او روحیې دا ماتېـدا ان تراوسه هم دوام لـري. د بهـرني یرغـل د پیـل پـه کلونـو کـې چـې پـه افغانستان کې د سیاسي واک طبیعي جوړښتونه ویجـاړ کـړای شـول او پـر ځـای یـې د قـدرت مصـنوعي سرچینـې راوټوکـول شـوې او دا مصـنوعي سرچینې د بهرنیو منابعو په مرسته په واک او سیاست کې دخیلې شوې، نـو پښتانه لیکوال په پیل کې په دفاعي او بیا د وخت په تېرېدو سره له دفاعي حالت څخه هم راوغورځېدل. د بهرنیو په مرسته د قدرت د نویو سرچینـو مدعیانو او پلویانو لومړی د افغانستان پر ځینو خاصو ملي شخصـیتونو، بیـا تاریخي پېښو او ارزښتونو پسې قلمونه راواخیسـتل او بیـا ان تـر دې حـده

وړاندې لاړل، چې د ټول هېواد هویت، تېر تاریخي برم او د ملت جوړښت ته گواښونه متوجه کړي. دغسې سختو او اغزنو حالاتو موږ دېته اړ کړو، چې د قلم څوکه یو څه د سیاست خواته هم راواړوو. دې کار ورو ورو له سیاسي لیکنو، عملي سیاست ته راټېله کړو او د تېرو څو کلونو په بهیر کې، چې کومې سیاسي پروسې په هېواد کې پیل شوي، د یوه فرد په توگه په هغو کې راټاله شوم، دا چې په تېرو سیاسي بهیرونو کې مې څه کړي؟ د یو فرد په توگه مې څه له لاسه کېدل؟ او بیا مې په هغه کچه څه کړي؟ دا کېدی شي ځینو ته څرگند وي او ځینو ته نه، خو زه دومره وایم، چې داسې څه مې نه دي کړي، چې وجدان مې پرې نا ارام شي، خو داسې مې ډېر څه کړي چې روح مې پرې تر دې دمه ارام دی، په دې برخه کې قضاوت لوستونکو او هغو کسانو ته پرېږدم، چې دا تېر حالت یې څارلی وي، خو زه دومره وایم، چې په دې تېرو پروسو کې مې هېڅکله هم فرهنگ د سیاست لپاره نه دی استخدام کړی، بلکې له سیاسته مې یو څه راشلولي او فرهنگ ته مې ورکړي، سیاست مې د قدرت لپاره نه دی کړی، بلکې غوښتي مې دي چې واک د فرهنگ په خدمت کې شي.

په تېرو څو کلونو کې مې چې هر څه کړي د همدې مقصد لپاره مې کړي، که هغه لیکنې دي او که عملي سیاست. خپلو لیکنو هم د خطر پر لومړنۍ کرښه ودرولای یم او عملي سیاست هم، څومره خوندي دي، هغه خلک چې د جبهې تر شا موقعیت لري، په سیاسي امتیاز کې شریک دي، خو په سیاسي دښمنۍ کې نه، که سیاسي روغه جوړه هم کېږي، نو دوی اتومات د امتیاز لومړۍ کرښې ته راځي. د سیاست د همدغه ډول خطرونو په پام کې نیولو سره یو شمېر ځیرمنو لیکوالو او شعوري سیاستوالو ماته مشوره راکړه، چې که څه هم د ژوند او مرگ مالک لوی څښتن تعالی دی، خو دنیایي اسبابو ته هم پام په کار دی، که موږ غواړو،

خپلې ژبې، کلتور، ملت او هېواد ته لا زیات خدمت وکړو، نو په کـار دي، چې په حکومت کې د خپل ظرفیت مطابق دندې واخلو، ځینـو خـو بـه لا دا هم ویل چې پښتو ته له همدې ارګه زیان رسېدلی، څو چې ارګ خپـل نه کړو، نو پښتو ته د هغې خپل استحقاق نه شو ورښلای... جمهـور رئـیس حامدکرزي چې د دې تېرو څو کلونو په سیاسي او کلتوري بهیرونو کې زه ښه پېژندلم، نو څو ځله یې له ما څخه وغوښتل چې په حکومت کـې کـار وکړم، خو ما ښنه وغوښته، بل ځل یې راته بیا د دندې وویل، د دوو مهمـو وزارتونو معینیتونه، خو ما ویل رئیس صاحب اداري کار نـه کـوم، بېسـواده کېږم، هغه په ټینګار وویل چې یو ښـه اجرائیـوي پوسـت بـه درکـړم، چـې خلک دې تر لاس لاندې وي او څوک مقرر کړای شې، ما ویل نه، یـوازې فرهنګي برخه کې کار کوم، بیا یې راته وویل، چې خیر نـو پـه کلتـوري او تعلیمي وزارتونو کې معینیتونه وغواړه، ما ویل نه هغه هـم درونـد کـار دی، نه یې شم کولای، بیا یې وویل خیر نو څه غـواړې؟ خپـل وړانـدیز او نظـر دې ووایه! ما ویل، یا د جمهور رئـیس پـه مطبوعـاتي دفـتر او یـا هـم مـلي امنیت شورا کې فرهنګي دفتر، جمهور رئیس وویل، ددې ځای مطبوعـاتي دفتر ته که راشئ، دا دفتر چندان دفـتر نـه دی، خـو نـوم یـې زیـات دی، ټلواله به داسې سـخت تبلیغـات درپسې وکـړي، ټـولې دنیـا تـه بـه چغـې ورسوي او ملي امنیت شوراکې خو فرهنګي دفتر نه شته، ما ویل خـیر دی هم نوی پوست یا بست جوړ کړه او هم زما تقرروکړ، بیـا یـې ډاکترصـاحب فاروق وردګ تـه مـخ راواړاوه، ویـې ویـل: څـه چـې یـون صـاحب وایـي همغسې وکړه، امنیت شورا کې یې ابراهیم جـان هسـې هـم انـډیوال دی، ساعت به یې تېر وي، ما خو ویل چې دی فعال او د منډو ترړو سړی دی، یو اجرائیوي پوست ته باید تللای وای، دلته به یـې زړه ډېـر تنـګ شي، دا

ډېر قید دفتر دی، خو دی چې خوشاله دی همداسې وکړئ، ژر یې فرمان جوړ کړئ چې امضا یې کړم.

په څو ورځو کې زما کار خلاص شو او زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر کې د فرهنګي چارو د رئیس په توګه مقرر شوم، دا چې تر تقرر وروسته مې څه کړي؟ او هلته څه کېدل ممکن وو؟ د ارګ فضا او هوا څنګه وه؟ چا کوم ځای کې څومره صلاحیت درلود؟ دا یو بېل بحث دی، چې بیا به یې بل وخت انشا الله لوستونکي داستان ولولي او قضاوت به پرې وکړي، خو کوم څه چې زه د یوې بېلګې په توګه وړاندې کولای شم، هغه دادي چې له پخوا نه دا دود و چې د ارګ په چاپېریال څوک فرهنګي کار ته نه وزګارېږي، په تېره بیا لیکوالۍ ته! خو ماته خدای پاک ددې مجال راکړ، چې زه نه یوازې خپلې تېرې لیکنې له سره راټولې او خپل کړی کار منظم کړم، بلکې یو شمېر نوې لیکنې هم وکړم، دا اثار چې اوس درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي، زما د دندې د همدغه مهال کار دی. له دې پورته خبرو څخه مې هدف دا دی، چې یو شمېر تنګنظره اشخاص چې زموږ په قوم کې دي، خو زموږ د قوم نه دي، کله دلته او کله هلته په ناسمو او بدلو نومونو د ځینو ملتپالو افغان لیکوالو داسې بې منطقه غندنه کوي، چې په خپل نامه یې هېڅکله هم نه کولای اونه یې سپینولای شي. ددې غندنو په ترڅ کې لا یو شاغلي د یوې جلۍ په مستعار نامه دا ادعا هم کړې وه، چې زه په خوشال خان لېسه کې د یون همصنفي وم او څه سپکې چې یې په خوله راغلي هغه یې ما پسې لیکلي، خو دېته یې پام نه و، چې خوشال خان لېسه کې قطعاً جونې نه وې، وایي دروغجن حافظه نه لري، بیا که احیاناً دا ښاغلی یا اغلې زما همصنفي یا

همصنفۍ هم وي، نو ما خو په تېر عمر کې دغه څو ماتې ګوډې لیکنې کړي دي، نو دا ښاغلی یا اغلې دې هم زما د یو همصنفي یا همصنفۍ په توګه خپلې یو څو ګلالۍ لیکنې په خپل نامه (په هغه نامه چې په حاضرۍ کې لیکل شوی وي)، ټولنې ته وړاندې کړي. همداسې یو څو لنډ پاري او لنډ فکري نور هم شته، چې بېچاره ګان پر رواني ناروغۍ اخته دي او په پښتنو کې یې هر مطرح لیکوال پسې اور لړوني را اخیستي دي. له ټولو تنګنظرو او پراخنظرو لیکوالو څخه زما هیله ده، چې خپلې ماضي ته یو ځل نظر وکړي، خپلې ټولې لیکنې بیا له سره راټولې کړي، د لوستونکو مخې ته یې کېږدي او بیا تر هغه وروسته که پر بل چا نیوکه کوي، نو د خپلو اثارو د مصداق له مخې به یې کوي. دا سیاسي او ټولنیزې لیکنې چې تاسې ګورئ، د نږدې درې څلور نظامونو تصویرونه کاږي. ما په دې لیکنو کې کوم خاص تغیر نه دی راوړی، یوازې ځینو ځایونو کې مې املایي، انشایي تېروتنې سمې کړي او کوم ځای کې که کومه کلمه، سپوره او یا بې ځایه راغلې، یا هم کوم نوم بې ضرورته راغلی او یا هم کومه نېټه او یا ارقام غلط شوي، په هغو کې ډېر کم جزیي بدلون او سمون راوستل شوی، نور هر څه ددې لیکنو د تاریخي اصالت له مخې پر ځای ساتل شوي دي، د یو چا چې ماضي صفا وي، پر حال په خپله ډاډه کېږي او پر راتلونکي یې باور زیاتېږي. نو ځکه زه له لیکوالو څخه بیا بیا هیله کوم، چې په خپلو لیکنو، په تېره بیا په سیاسي لیکنو کې ډېر احتیاط وکړي، لیکنه توکړي لاړې دي، چې یو ځل تو شوې بیا نه راپورته کېږي، لیکنه چې یو ځل خپره شوه، هغه نوره د ولس مال شو او د لیکوال له انحصاره

ووته، نو ځکه خو سیاسي لیکنې همېشه له خطر سره ملګرې وي او بې احتیاطي یې د لیکوال شخصیت ته ډېر زیان رسوي. په سیاسي لیکنو کې ډېره سخته ده، چې لیکوال د بېلابېلو سیاسي پېښو په بهیر کې پر یوه مستقیم خط حرکت وکړي او که څوک له دې ازموینې بریمن راووتل، نو پوه شه چې د فکر د پوخوالي پړاو ته رسېدلی او نور تیندکونه نه خوري. ددې لیکنو ټولګې ته مې ((افغانستان په سیاسي کړلېچ کې)) نوم ورکړ، ددې علت دا دی چې افغانستان له تېرو دېرشو کلونو، په سخت سیاسي بحران کې راګیر دی. کورنیو او بهرنیو سیاستوالو په تېرو دریو لسیزو کې زموږ هېواد په داسې کړکېچنو او کړلیچونو سیاسي لارو روان کړی، چې ډېر ځله ترې هېواد ته سخت زیانونه ورسېدل او لا رسېږي. په دې لیکنو کې د ځینو دا ډول خطرونو، ګواښونو، پېچومو او کړلېچونو یادونه شوې او حل لارې یې هم په ګوته شوي دي. زموږ دټولو ملتپالو افغان لیکوالو دنده ده، خپل هېواد یوازې دسیاستوالو ((ترحم)) ته پرې نږدي، چې د هغوی څه زړه وغواړي هغه ترسره کړي.ددې سیاسي او ټولنیزو لیکنو ترڅنګ زما یو شمېر نورې دا ډول لیکنې هم شته، چې هغه ددې وروستیو درې څلورو کلونو په سیاسي پېښو پورې اړه پیدا کوي، هغه په یوه بله ځانګړې ټولګه کې راټول شوې دي، خو دې اوسنۍ ټولګه کې زما د هغه وخت ځینې لیکنې چې لازمه وه،باید په دې ټولګه کې خوندي شوې وی، تر دې دمه لاسته رانغلې، لکه د واک طبیعي او مصنوعي سرچینې، د افغانستان دفاعي سیټمونه او ځینې نورې... خو خیر په هر ډول دا زما د هغو سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه ده، چې په تېرې نږدې

یوې نیمې لسیزې کې مې کړي او تر دې دمه مې لاسته راغلي دي. په دې هیله چې زموږ لیکوال په سیاسي لیکنو کې احتیاط وکړي، د شخصي- گټو پر ځای ملي گټې وپالي، د ځاني عقدو له جاله رابهر شي او په یوه لویه دایره کې ځان او نور وگوري، خپلې لیکنې خپله راټولې کړي، خپل کار خپله وکړي، نه خپل کار پر نورو بار کړي او نه د نورو د کارونو خنډ شي، خپلې دې لیکنې ته د پای ټکی ږدم.

په فرهنگي مینه

محمد اسمعیل یون

کابل-افغانستان

د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۲۳مه

# د هېواد رنځور سیاست

**دا لیکنه د وفا جریدې د پنځم کال په (۴۷-۴۸)مه ګڼه کې چې د (۱۳۷۵ل) کال د مرغومي له (۱۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

سیاست د ټولنې د پرمختیا، سمون، خوځون، د ژوند د ورځنیو چارو د پرمخ بیولو او اوډنې لپاره، د یوه اساسي سمبالوونکي په توګه اساسي رول لري. نېکمرغه ټولنې هغه دي چې د سیاست سمبالوونکي یې په پوهه، ګروهه، دود، کلتور او د ټولنې له عیني او ذهني شرایطو، غوښتنو او اړتیاوو سره سم ګام پورته کړي، قهر، زغم، وینا او عمل یې متناسب او متوازن وي.

کله کله د سیاست دې آرونو ته د نه ځیرتیا او یا نه پاملرنې له کبله یوه ټولنه له سختو بدمرغیو سره مخامخېدی شي، چې بیا یې سمون او رغونه نه یوازې د همغو سیاستوالو له واکه وتلې وي، بلکې د ټولنې زیات وګړي، هم د هغې د بیا رغونې جوګه کېدی نه شي. افغاني ټولنه هم یوه داسې ټولنه ده چې له څه کم دوو لسیزو راپدېخوا له داسې رنځ سره مخامخ ده. سیاست د یوې ساري ناروغۍ په توګه او د داسې یو عنصر ـ په توګه چې زموږ د ټولنې د هر وګړي د ژوند چارې په هغه پورې تړلې ګڼل کېږي، زموږ د ولس د هر فرد ذهن ان د وینو او تن رګونو ته ورننوتی او هر تن د خپل ذهن د اخیستنې او شننې تر بریده هره ورځ پر سیاسي خبرو او

مشاجرو بوخت وي، ځینو خو خبره تر خبرو هم پورته کړې او د همدې سیاسي گروهو او اندونو له کبله یې وسله پر اوړو کړې او دا اوولس کاله یې ډزولې هم ده او ځینې نور یې په ډېره زیاته کچه د همدې مختلفو گروهو د ټکر په وجه قرباني شوي هم دي.

اوس نو که له پنځه لس ملیونه اټکلیز نفوس څخه لس ملیونه ( له پنځو ملیونو ډېرو وړو او زړو پرته) چې هغوی هم د خپل ذهن په کچه په خپلمنځي یا عام سیاسي بحث او مشاجرو کې برخه اخلي، خو بیا هم که دوی په پام کې ونه نیسو او یوازې (لس ملیونه) تنه په نظر کې ونیسو، نو که دوی لږ تر لږه د ورځې (یوساعت) پر سیاسي خبرو او مشاجرو تېر کړي، نو افغانانو به یوازې او یوازې د ورځې (لس ملیونه ساعتونه) وخت پر بې نتیجې سیاسي خبرو تېر کړی وي. په دې بحثونو کې له عادي بحثونو څخه نیولې تر ترخو، تروو او سختو خوا بدوونکو بحثونو او فزیکي گوزارونو پورې شامل دي. که د یوې ورځې تلف شوي وخت په یوه کال (۳٦٥) ورځو کې ضرب کړو ( لس ملیونه× درې سوه پنځه شپېته) نو مساوي کېږي له (درې ملیاده او شپږ سوه پنځوس ملیونه ساعته) او که دا په دې تېرو شلو کلونو کې چې د افغانستان د سیاسي رنځ ډېرې سختې گرمې شپې ورځې دي ضرب کړو: (درې ملیارده شپږ سوه پنځوس ملیونه ساعتونه ضرب شل کلونه) مساوي کېږي له (درې اویا ملیارده) ساعتونو سره.

دا وخت مو یوازې او یوازې پر دې تېر کړ چې گڼې دا گروهه او یا دا شخص تر هغې بلې عقیدې او شخص څخه لوړتیا لري. (درې اویا ملیارده ساعته) هغه وخت دی چې په یاده موده کې به د نړۍ هېڅ قوم پر دې

موضوعګانو نه وي تېر کړی، ځکه هغوی پوهېږي چې: ((وخت لکه سره زر دی))

د افغاني ټولنې د اوسني پېر د ډېرو سياستوالو او سياست لوبېدونکو يوه لويه نيمګړتيا داده، چې: (( دوی سياست د عقيدې تر پولې اوچت کړی)) او چې څوک د چا سياسي تګلارې ته تروې وګوري، ګنې د هغه عقيدې ته يې په سپکه کتلي. څرنګه چې ځينې عقيده يي ذهنونه د هېڅ ډول نيوکې تاب نه لري، نو په دې ډول فزيکي عمل ته د لاس غځونې هڅه کوي. په اکثرو ټولنو کې سياست د ژوند د تخنيکي چارو د برابرولو لپاره يوه اغېزمنه وسيله ګڼل کېږي او له ګروهو (عقايدو) سره يې لوی واټن وي، اکثره تلپاتې ګروهې په خپل ذات کې سپېڅلې وي او د ډېر وخت لپاره پايېږي، خو سياست د ورځې له غوښتنو سره سم بدلون مومي. هغه څه چې په ځينو ګروهو کې جايز نه وي، په سياست کې عملاً جايز ګڼل کېږي. له همدې کبله ځينې کسان سياست ته ((ښه لوبه)) نه وايي.

زموږ په ټولنه کې هم ددې لوبې لوبغاړي ورځ پر ورځ خپل ځان څرګندوي، پروني سپېڅلي نن سپېڅلي نه دي او د نن سپېڅلو نه به سبا ته پرده اوچته شي. د افغاني ټولنې په تېر شل کلن او په تېره بيا په پنځه لس کلن سياسي ډګر کې د فکري او سياسي ناروغيو ښه لوی کتاب غوړېدلی دی. ددې کتاب په پاڼو کې لولو چې څنګه يو شمېر ((لويان)) لکه د ماشومانو په څېر سهار پر جګړو اخته وي او ماښام بيا د ملګرتوب او پخلاينې خبرې کوي. د ماشومانو په جګړو کې خو يوازې ( د هغو د لاس جوړې کوډلې) ورانېږي، خو د دوی په دښمنۍ کې ښارونه او هېوادونه،

د ماشومانو په دوستۍ کې خو بېرته مینه او محبت راشي، خو د دوی په دوستۍ کې بیا هم د یوې بلې دښمنۍ او دسیسې توپان پروت وي. له دې کبله خو د نړۍ نامتو لیکوال ویکتورهوگو دوی ته د کرکې په سترګه ګوري او وایي: (( دا هغه خلک دي چې لومړی مور پخپل منځ کې وجنګوي وجنګوي او ټول مو قتل کړي، خو بیا وروسته راشي او زموږ پر قبرونو کېني، د سولې تړون لاسلیک او د جګړې پای اعلان کړي)). د ویکتورهوګو ددې خبرې ژوندۍ بېلګې موږ په خپل هېواد کې لرو. په مسجدونو کې سوګندونه، په ښارونو کې قسمونه، د هېواد په دننه او بهر کې قسمونه وشول، لوزونه وشول او مات شول، هدیرې جوړې شوې او ښارونه وران شول، خو لوبه روانه ده لا.

د همدې سیاسي لوبو په بهیر کې د هېواد یو زیات شمېر مخور، پوهان، لیکوال او د لید ځښتنان له دغه او هغه ګوند سره د اړیکو، اوډلتیا او ددغې او هغې ګروهې د پاللو په نوم د مړینې ښکار شول. هېواد په ذهني ډول پر بېلابېلو ډلو ووېشل شو او ملي شتمني یې د مخالفو لورو په ټکولو کې وشیندل شوه. کله چې سیاسي آرونه تر پښو لاندې شول، نو د برچې منطق پر ټول هېواد حاکم شو، ټول هېواد د اور په لمبو ولمبول شو. ددې جګړې دروندوالی دومره زیات و، چې د نړۍ ډېرې لویې جګړې هم ورسره پرتله کېدی نه شي. د ساري په توګه د امریکا متحده ایالتونو له ویتنام سره د جګړې په ټول بهیر کې (څوارلس نیم ملیونه ټنه) چاودېدونکي مواد استعمال کړي دي، خو د افغانستان د یوه زون (ختیزې سیمې) د جګړې د ټولو کلونو د ټولو غاړو له خوا استعمال شوي

چاودېدونکي مواد په انګلیز ډول تر دې رقم زیاتېږي. پاتې لا د ټول افغانستان د جګړې اندازه.

مذهبي کړکېچ، عقیده یي بحران، د باور محوه کول، د ټولنیزو ارزښتونو بې ارزښته کول، د روان شل کلن سیاست بله پایله ده. د قومي، ژبنیو او سیمه ییزو کینو راټوکول هم د یو واحد ولس پر وجود یو کرغېړن ګوزار دی، له نامشروع سیاسي لارو او د ټوپک د میل په واسطه د ژوند د خړوبولو امکانات هم د همدغه عصر د سیاست زېږندنه ده. د روغ، ناوړه چالاکۍ د ګروهو غلط کارول، لوټ، زندۍ کول، وژنه او نور ددې مهال د سیاست د رغنده توکو په توګه د عمل په ډګر کې لوبېږي. ځینې سیاسي ډلې او ګوندونه د دغې او هغې ګروهې تر پردې لاندې د خپلو کړنو د توجیه لپاره وسایل او دلایل لټوي او د یوه ښه کار لپاره د یو بد عمل پر سرته رسولو باندې سترګې پټوي، خو په اکثرو او بیا هم په ډېرو ګروهو کې به هېڅکله هم څوک دا (آر) ونه مومي چې د کوم نېک کار لپاره دې یو کرغېړن کار د پیلامې په توګه وکارول شي، هغه هم داسې ناوړه کار چې ښېخي د راتلونکي نېک اند او کار ریښې هم له بېخه وباسي.

د یاد وړ خبره داده چې په سیاست او تاریخ کې معمولاً پر نتیجې بحث کېږي. د ښې کړنې نتیجه، نېکه او مثبته او د بدو بده ارزول کېږي.

لنډه دا چې زموږ ولس په تېر شل کلن سیاسي بهیر کې د زهرو په هر ګوټ پسې بل ګوټ تېر کړی او همدې منفي سیاست د یو طاعون، نري رنځ او سرطان په څېر زموږ د ولس، ټولنیزو، فرهنګي او د ژوند د نورو ډګرونو رګونو ته لاره کړې او هغه یې زبېښلي او مروړلي دي. دا رنځ لا دوام لري، خو اوس دا پوښتنه رامنځته کېږي، چې دا رنځ به همداسې

دوام لري او که نور زموږ د ولس له ستوني د دې خپسې جګول په کار دي؟ او هم د حل د لارې دا لعل د کوم ښامار په خوله کې دی؟

په لنډېز سره ویلای شو، ټولې هغه منفي هڅې چې په تېر شل کلن سیاسي بهیر کې ترسره شوي او پورته مو په لنډیز سره یادونه وکړه، د هغو معکوسې (مثبتې هڅې) ترسره کول، د ټولنې د فرهنګي کچې اوچتول، د ټوپک د منطق ختمول، له ګروهو نه د ګروهو خلاف کار نه اخیستل، له ولس، وطن او عقیدې سره ربتینې مینه، په واک کې د مسلکي معیارو پر بنسټ د اشخاصو ټاکنه، د مشر لپاره د مشرتوب آرکانو پوره کول، ولسواکۍ ته په درنه سترګه کتل او یو لړ نور لاملونه (عوامل) په ګډه سره کولای شي، زموږ د ټولنې د رواني سیاسي ناروغۍ د علاج لپاره یوه نسخه شي.

# پښتو او د پښتنو مضر احتیاط

دا لیکنه له نن څخه یوولس کاله دمخه لیکل شوې وه او د پښتنو یوه متداوم رنځ ته په کې اشاره شوې ده. دا لیکنه بیا همغه مهال ((د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې)) په هغه کتاب کې چاپ شوه، چې د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا چاپ شوی و. په دې اثر کې د بېلابېلو افغان لیکوالو هغه لیکنې راټولې شوي، چې د پښتو ژبې د ودې او اړتیا پر محور راڅرخي او د همدې ضرورت پر بنسټ لیکل شوې دي.

پر هره ټولنه چې افراط او تفریط واکمن شي، ټولنه له خپل انډوله وځي او د استاد الفت په اند د یوه پرڅای دوه تنه تلفات ورکوي. مضر- احتیاط هم د تفریط یو ډول دی، چې زیان یې له افراط سره خپل انډول برابروي ، ځکه خو د اسلام سپېڅلي دین د افراط او تفریط دواړه حالته مردود کړي او منځنی حد یې غوره بللی دی.

مضر احتیاط نه یوازې یوه ټولنیزه ناروغي ده، بلکې د یو شخص د ځاني ژوند د ښېرازۍ او ودې پر وړاندې خنډ اچوونکې ناروغي هم ده. استاد الفت په ټولنیز ژوندانه کې د مضر احتیاط پر ناروغۍ د یوه اخته کس حالت بیانوي، چې مضر- احتیاط یې د جرئت وزرونه تړلي او داوهامو سیوری یې ورته پر ذهن خور کړی دی. دا کار ددې سبب شوی چې دا کس د ژوند له ډېرو نعمتونو بې برخې شي. استاد الفت وایي: ((

شمی اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا چې به کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل. د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق راونه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوزي. د ده دا عادت و چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه. هو! دی له ډېره عقله پیاده گرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېره لږه وه.))

د پښتو ژبې د خدمت او پالنې په باب هم د ځینو پښتنو چلند دې مضر- احتیاط ته ورته دی. یو شمېر روڼ اندي، سیاستوال او نوم څرگندي پښتانه ددې لپاره له پښتو پالنې او ان پښتو یادونې او گړنې څخه ډډه کوي، چې څوک ورته ژبپال او ملتپال (نشنلیست) ونه وایي. دوی داسې فکر کوي چې که یو ځل چا ورته نشنلیست او فاشیست ووایه، دا تور خو نو بیا تر (کفره) هم بد تر دی، بیا خو چې هر څومره ځان سپین کړي، سپینېدی نه شي. د پښتو ژبې دښمنانو له ډېرې پخوانه د یو منظم او سنجول شوي پلان له مخې پښتو ضد چارې اوډلي دي. په دې پښتو ضد هڅو کې یوه هڅه همدا یرغلیز تبلیغ او چلند دی چې دوی یې د یوې اساسي وسیلې په توگه کاروي، دوی تږول عمر د پښتو د ښېرازۍ رگونه زبېښلي، د پرمختگ په لار کې یې ورته خندونه جوړ کړي او جوړوي یې، خو چې کوم اندیال ( شعوري پښتون) ورته ووایي چې ولې؟ نو بیا پرې سم له لاسه د نشنلیست او فاشیست تور پورې کړي. زموږ ځینې په زړه سپېڅلي پښتانه یې د مکارۍ په همدغه جبل کې راگیر کړي او ان تر دې وخت یې د خلاصون لار نه ده پیدا کړې. که کوم هڅاند پښتانه له دغه ژبنۍ زبېښاک نه د وتلو رپې رپولای، نو بیا زیاتو پښتنو او نا پښتنو پرې په

دې پلمـه د ملامتـۍ اور پـورې کـړی چـې د هېـواد د ورونـو قومونـو او ((ملیتونو)) ترمنځ بې اتفاقۍ او ژبني تضاد ته لمن وهي. په افغانستان کـې د پښتنو او د هغوی د ژبنیو حقوقو د غصبوونکو ترمنځ د ورورۍ مثال هغه د اوښ او لېوه د ورورۍ مثـال لـري: ((وایـي یـو وخـت د اوښ او لېـوه ترمنځ د ورورۍ یو تړون شوی و، دواړه پـه یـوه کـور کـې اوسـېدل، لـه خپلو اولادونو سره یې ګډ ژوند کاوه، ټول به د یوې کورنۍ د غړو په څېـر اوسېدل، د دوی ترمنځ دا تړون هم شوی و چې د یو بل اولادونه به خپل اولادونه ګڼي او توپیر به یې نه کوي، هر چا چې د دواړو ترمنځ توپیر وکړ هغه به ملامت وي. ژوند څو مـوده همداسـې تېـر شـو، یـوه ورځ لېـوه او اوښ دواړه د سارا پر لوري له کوره بهر شول، څرنګه چې د دواړو لاس تـه څه ور نه غلل، نو وخت پرې ډېر تېر شو، نـو هـم د اوښ بچیـان او هـم د لېوه هغه ښه وږي شول، د لېوه د بچیانو نور تاب رانغی، نو ټوپ یې کـړ د اوښ د یوه بچي اورمېږ یې ورتاو کړ، وینه یې وڅښله او غوښه یې وخوړه، کله چې اوښ او لېوه دواړه کور ته راستانه شول، نو ګوري چـې د اوښ د بچي یوازې پوټکی پاتې دی او بس. اوښ چې دا حالت ولید نـو لـه ډېـر خفګانه یې چیغه کړه: ( هله زما بچی). لېوه چې د اوښ ( زمـا بچـی) غـږ واورېد نو فوراً یې پرې نیوکه وکړه او ورته یې وویل چې ته ملامت یې، ته د ورورۍ پر اصولو نه پوهېږې، تا ولې زما او د خپلو اولادونو ترمنځ تـوپیر وکړ، تا ولې وویل: ( زما بچی) ایا زما بچي ستا بچي نه دي؟)) په افغانستان کې له ژبني پلوه د پښتنو او پښتو ضد کسانو ورورې همدغه مثال لري، پـه دې هېواد کې پښتو او پښتانه تل په خپل حاکمیت کـې هـم محکـوم وو، هم محروم، خو د ملامتۍ ګوته هـم دوی تـه نیـول کېـږي، هـم یـې ژبـه زبېښل کېږي او هم فاشیستان ګڼل کېـږي. کـه یـو ناپښـتون ټـول عمـر د پښتنو ژبني حقوق زبېښي او یو پښتون هسې وویل چې ولې پښـتو؟ نـو بیـا

سم له لاسه ورته وایي چې ته ولې پښتو یادوې دا خو نیشنلیستي او ((ملیتي)) مسایل دي.

د پښتو ضد ډلو ټپلو دغو هڅو، اغزن چاپېریال او نورو نادودو، له فرهنگي او ژبني پلوه پښتانه پر څو ډلو وېشلي دي:

۱- یو هغه ډله پښتانه دي چې خپله ژبه، خپل کلتوري، ملي او هېوادني مسوولیت پېژني، د ملت جوړونې په بهیر کې د ژبې پر ارزښت هم پوهېږي او د افغانستان د ملي یووالي او خاورې د بشپړتیا لپاره د پښتو پر ستر اهمیت او رول هم پوهېږي. دوی د اندیالو هېوادپالو او ملت رغاندو پښتنو افغانانو په توگه د پښتو ژبې پالنه، بډاینه، وده او پرمختگ خپله دنده بولي او په دې لاره کې له هېڅ ډول هاند و هڅې ډډه نه کوي. دوی په دې برخه کې دومره منډې تړړې کړي او کوي یې چې ان خبره یې د ځاني ژوند د بلهارۍ (قربانۍ) تر بریده هم رسېدلې ده. په حقیقت کې د همدغې ډلې د بې سارې قربانۍ، اند و هڅو برکت دی چې پښتو د پردیو له یرغلیزو هڅو او د خپلو پښتنو د بې تفاوتۍ له چلندونو سره سره تراوسه ژوندۍ پاتې ده او لا وده کوي.

۲- دویمه ډله هغه پښتانه دي چې نه یوازې پښتو نه پالي، نه یې وایي او نه یې لیکي، بلکې پر ضد یې هم دي. دا ډول پښتانه اکثره په پښتو ضد مورچل کې ناست دي او نورو پښتو ضد ډلو سره یو ځای پر پښتو ډزې کوي.

دې ډلې اکثرو پښتو هېره کړې، لیک او وینا په بله ژبه کوي، د همغې ژبې له لوست، وینا، موسیقۍ او خبرو خوند اخلي، خپلې شخصي-اقتصادي او نورې گټې هم په هماغه ژبه کې گوري. پښتو ضد ډلو ټپلو لپاره دا ډول پښتانه د پښتو ځپلو ډېره ښه وسیله ده. دارنگ پښتانه په پښتو دښمنۍ کې له اصلي ((ستمیانو)) نه هم څو ځپکه تېر دي، هر

پښتون به یې ډېرې بېلگې لیدلي وي. دا ډله کېدی شي ((ستمي پښتانه)) وگڼل شي.

۳- درېیمه ډله هغه پښتانه دي، چې د بې تفاوتۍ پر غونډۍ ناست دي، د نړۍ له ښه او بده خبر نه دي او هر څه اسماني پېښې گڼي، په دې ډله کې اکثره نالوستي کسان راځي. مضر احتیاط کاري هم په همدې ډله کې راځي، چې د ډېر احتیاط له کبله ځانته د بې تفاوتۍ حق ورکوي او دا لا هم پرې سرباري کوي چې، والله نو موږ ته خو دا او هغه ژبه یو شی دي. بې تفاوتانو کې د پښتني ټولنې یوه غټه برخه راځي، چې نالوستي، ناشعوري، یو شمېر روحانیون او نور په کې رانښکېل دي. په ټولیز ډول د پښتو په باب پښتانه پر همدغو دریو کټگوریو وېشل کېدی شي:

شعوري پښتانه، پښتو ضد پښتانه او بې تفاوتان.

اوس راځو دېته چې د ژبني فعالیت له مخې پښتانه په کومه کچه دي؟

د شعوري پښتنو ټول ځواک پر دې برخه اوبه کېږي، چې له پښتو ضد پښتنو سره مقابله وکړي. د خپل ځواک یوه برخه له پښتو ضد پښتنو سره لیکنۍ او گړنۍ مقابلې ته بېله کړي او خپل وخت هغو ته پر قناعت ورکولو تېر کړي او بله برخه یې د ستمي پښتنو له خوا پښتو ته د ور اړول شوي زیان جبران ته بېله کړي. نو که شعوري پښتنو ډېره توره هم کړې وي، ایله به یې دومره کړي وي چې د پښتو ضد پښتنو د هڅو مخنیوی وکړي. بې تفاوتان خو هسې هم وایي چې ژبه موږ ته بې تفاوته ده او موږ پرې کوم کار نه لرو، که چېرې موږ د ژبني فعالیت له مخې د پښتون قوم هڅې وارزوو کېدی شي ووایو چې دوه متضاد او متخاصم ځواکونه یو د بل پر وړاندې مبارزه کوي او په پایله کې یو بل دفع کوي. یانې د دواړو وروستی حاصل صفر دی. په حقیقت کې د ژبني فعالیت له مخې د پښتنو فعالیت خنثی دی، ځکه چې یو مټ د بل مټ زور اوبه کوي او د درېیم

ګړي د ګوزار د مخنیوي لپاره ورته کوم ځواک نه پاتې کېږي. د ژبنـي فعالیت له مخې کېدی شي، پښتانه او پښتو ضد ډلې ټپلې په اعـدادو کـې هم افاده کړو:

د ساري په توګه دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې په هېواد کې د پښـتنو نفوس د نورو ټولو قومونو د مجموعي شمېر دوه برابـر دی، یـانې پـه هـرو پنځه لسو تنو کې لس پښتانه او پنځه ناپښتانه دي.

اوس نو که موږ پښتانه یانې د ټول نفـوس لـه پنځـه لـس برخـې نـه لـس برخې پر دریو برخو وویشو، نو هره برخه به درې تنـه شي ( د یـوه تـن لـه محاسبې پرته) که چېرې په لسو پښتنو کـې درې تنـه پښـتو ضـد پښـتانه او درې بې تفاوتان له دې شمېره وباسو نو ټول به څلـور تنـه پـاتې شي. کـه چېرې موږ درې پښتو ضد پښتانه له ناپښتنو سره یوځـای کـړو نـو د هغـوی شمېر به اتو تنو ته ورسېږي.

د بې تفاوتانو رول به هـېڅ نـه محاسبه کـوو، خـو کـه چېـرې هغـه هـم محاسبه کړو نو د ناپښتنو شمېر بـه تـر دې هـم زیـات شي، ځکـه چـې بـې تفاوتان او مضر احتیاط کاري اکثره د تلې پلې ته ګـوري، هـره خـوا چـې درنه وي همغې خواته ځان اچوي.

د شمېر له پلوه اته له څلورو سره مقابل دي، د ژبني فعالیت له مخـې دا انډول ښیي چې په فرهنګي برخه کې د پښتنو تلفات باید درې ځله زیـات محاسبه شي، ځکه چې: یو کس له تا بېل شو (لومړی تلف) دویـم سـتا لـه مقابل لوري سره یوځای شو ( دویم تلف)، بېرته ستا په مقابل کې استعمال شو ( دریېم تلف).

که چېرې پـه فزیکـي جګـړه کـې د یـو لښـکر یـو عسـکر ووژل شي او د جګړې له ډګره ووځي، نو هغه په هماغه یـوه تلـف کـې حسابېږي، ځکـه چې د هغه رول نور د ابد لپاره ختم شي. خو د همځنګو ژبـو او کلتورونـو

تلفات داسې نه دي، هغه لکه د پښتنو په شان هم ځان وژني، هم خپل قوم وژني او هم بل ژوندی ساتي. نو دا تلفات څو ځلي ( درې چنده) او ډېر درانه دي.

د پښتو ضد پښتنو ترڅنګ بې تفاوتان او مضر احتیاط کاري هم د مقابل لوري په ګټه دي. څرنګه چې زموږ په ټولنه کې ژبنی انډول د پښتو او پښتنو په ګټه نه و، نو دا ډله کسان تل هڅه کوي چې واکمن بهیر سره ملګري شي، ځکه چې د راحت احساس وکړي. پښتانه احتیاط کاري بیا په خپل کار کې د مضر احتیاط تر وروستي بریده ځان رسوي. ان که چېرې په یو ژبني او فرهنګي چاپېریال کې د ناپښتنو شتوالی اصلاً هېڅ مطرح نه وي او یا په هغه محیط کې هغوی بېخي وي نه، نو احتیاط کاري یې ددې لپاره ګټې خوندي کوي، چې څوک ورته بیا نشنلیست او فاشیست ونه وایي. د ناپښتنو یو چلند دا هم دی چې دوی په ځینو حساسو وختونو او مسایلو کې له همدې ډول احتیاط کارو پښتنو څخه د پښتنو د استازو(!) په توګه ګټه اخلي. ځکه هغوی پوهېږي چې که دوی د پښتنو پر ضد هر ډول هڅه وکړي دا ډول اشخاص کوم غبرګون نه ښیي، د شعوري پښتنو مخه هم د افراطینو او فاشیستانو په تور د دغو احتیاط کارو، معتدلو او ورځچارو په واسطه په ډېر ښه ډول نیول کېدی شي. په دې ډول په ژبنیو او فرهنګي مسایلو کې ژبنی فعالیت، اکثره د دوی په ګټه پای ته رسېده.

د احتیاط کارو یوه بېلګه به هم وړاندې کړو: زموږ یو دوست لیکوال و، ګڼ شمېر کتابونه یې لیکلي وو، ده چې څومره مینه پښتو سره لرله، همدومره ان تر دې زیاته یې فارسي سره هم لرله، ده دا استدلال کاوه چې پښتو باید دفارسي په غېږه کې وده وکړي او له فارسي پرته یې وده ناممکنه برېښي. ده فارسي ژبې ته د دري ژبو او پښتنو خدمت د افغانستان

د ملي وحدت په ګټه کار پاله، خو د پښتو پر وړاندې یې دري ژبې پر خدمت مکلف نه ګڼل. نو ده ځکه د خپلې ذهني او فزیکي انرژۍ یوه درنه برخه د فارسي ژبې خدمت ته بېله کړې وه. ده ان په پېښور کې چې یو بشپړ پښتني چاپېریال دی، د خپلې خپرونکې جریدې ژبنۍ برخه په سلو کې (٦٠) فارسي او (٤٠) پښتو ټاکلې وه او د جریدې په سلو کې (٩٠) سرمقالې یې هم په فارسي ژبه وې. د پښتنو له خوا پر ده باندې ډېرې اصولي نیوکې وشوې، چې دا کار پر هېڅ معیار برابر نه دی. خو ده د زړه له کومې دا غوښتل چې زموږ دري ژبي ورونه خوشاله کړي، ځکه یې نو ان په یو بشپړ پښتني چاپېریال کې هم د دوی ژبنیو حقوقو ته په دومره درنه سترګه کتل.

ده په داسې یو چاپېریال کې کار کاوه چې که ان دري ژبی هم د اخبار مدیر وای، دري به یې دې کچې ته نه وای لوړه کړې، ځکه چې د چاپېریال غبرګون ته به یې طبعاً پام و، خو زموږ دې لیکوال خپل دا چلند که څه هم په څرګنده یوه بې انصافي او نا انډولي وه، خو بیا هم ((د افغانستان د ملي یووالي او د ورونو قومونو په ګټه باله)) او تر وروستي حده خپل دې اند او چلند ته رښتینی هم و. خو دومره تېرېدنې، زغم، صداقت، پر خپله ژبه ظلم او د بلې غوړونې بیا هم پښتو ضد اشخاص قانع نه کړای شول، د همدې شخص په باب مې په کابل کې د یوه تن دري ژبي ورور له خولې واورېدل: ((او... هم افغان ملتی است چندین کتابش به پشتو چاپ شده.)) دې سره سړي ته هغه متل رایاد شي، چې (( هندو سترې او خدای ناراضه)) د دا ډول اشخاصو شمېر په لسګونو، په سلګونو ان په زرګونو وو، چې له پښتو نه یې دري ته ډېر خدمت کړی دی، خو هغوی بیا هم د نشنلیزم له توره پاک نه شول. که موږ په افغانستان کې دري ژبې ته د شوي خدمت او کار جاج واخلو، نو که د افغانستان له

تاجکو نه د پښتنو ونډه په کې زياته نه وي، نو کمه خو په هېڅ وجه نه ده. ايا بلې ژبې ته دومره ستر خدمت او خپلې ته دومره خيانت او له هغې سره د بې تفاوتۍ چلند به مورِ د فاشيزم له لامنطقه تور څخه خلاص کړي؟ نه هېڅکله نه!

نو څه بايد وشي؟ ښه خبره داده چې مورِ بايد خپل ځان وپېژنو، خپله حافظه ترلاسه کړو، نه خپل حق نورو ته وبښو او نه د نورو حقوق تر پښو لاندې کړو. ښه کار دادی چې پښتانه دې پښتو ته خدمت وکړي او دري ژبې دري ته، که ټول پښتانه لکه د دنيا د نورو قومونو او يا زمورِ د دري ژبو ورونو په شان د خپلې ژبې خدمت ته ور ودانګي، نو بيا به پر څو برخو د پښتنو د وېش خبره هم له منځه لاړشي. بيا به نو مورِ هم نه په نورو ژبو کې مسخه کېږو، نه به له خپلې ژبې سره د خيانت په بيه د بلې ژبې د خدمت بار اوچتوو، نه به پر سلو ذهني او رواني ناروغيو اخته کېږو او نه به څوک رانه ګيله کوي. ځکه چې نورو ته د خدمت معيار به د هغوی د خدمت په معيار پورې تړلی وي، که هغوی زمورِ ژبې ته په درنه سترګه کتل او د هغې خدمت يې خپله دنده بلله، مورِ به هم د هغوی ژبې ته خدمت خپله دنده بولو او که نورو زمورِ ژبه زبېښله او غوځوله، نو زمورِ ښه سرِيتوب به دا وي چې خپله ژبه وژغورو خو د بل ژبه هم غوځه نه کړو.

زمورِ وروري او دوستي بايد پر انساني اصولو ولاړه وي، راکړه ورکړه مو بايد پر عدل او انډول ولاړه وي، نه د اوښ او د لېوه وروري چې هم يې بچيان له منځه لاړشي او هم په وروری کې ملامت شي!؟

# مدرسه او ښوونځی

**دا ليکنه د طالبانو د قدرت په اوج کې، هغه مهال ليکل شوې وه، چې طالبانو د ښوونځي نوم پر مدرسې بدل کړ، ښوونځي يې هم پر مدرسو واړول او د ښوونځيو پر ضد عام کمپاين پيل شو. دا ليکنه هماغه مهال په بدل نامه په هيله مجله کې چاپ شوې ده.**

له هغه وخته چې افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دين وړانګې رارسېدلي، نو زموږ ولس پرې خپل زړونه او ذهنونه روښانه کړي دي، د خوارلس سوو کلونو په بهير کې په ټوله اسلامي نړۍ کې هېڅ هېواد او قوم د اسلام لپاره دومره قرباني نه ده ورکړې، چې زموږ هېواد او افغان ملت دومره بلهاري ورکړې ده، ځکه خو د تاريخ په اوږدو کې د زياترو نا اسلامي هېوادونو له خوا، افغانستان او افغان ولس د يومتعصب اسلامي هېواد او يو متعصب ملت په توګه ياد شوی او ګڼل شوی دی، خو د اسلام لپاره د افغانانو له دومره سترې قربانۍ سره سره، دوی د اسلامي هېوادونو په ډله کې کوم خاص امتياز نه دی تر لاسه کړی، ان افغانستان د اسلامي کنفرانس له غړيتوبه هم وکښل شو، د اسلام تر راتګ وروسته بيا تر دې دمه ان دېرديو يرغلګرو د اشغال او واکمنۍ پر وخت د افغانستان روحاني قشر په افغاني ټولنه کې خپل زيات اغېز لرلی او دا اغېز يې د ټولنې تر بل هر پاړکي زيات و او لا دی.

زموږ ټولنې هر وخت د ملا، پیر او مرشد په غږ ، لاربښوونه او لمسون د پردیو یرغلگرو او د وخت د واکمنو پر ضد پاڅونونه پیل کړي او هغه یې له واک و ځواکه را پرې ایستي دي. یانې دا چې تر اسلام وروسته په افغاني ټولنه کې د واک د اندول په ټینگولو او نړولو کې د ملایي او روحاني قشر اغېز خورا زیات و، خو د روحاني قشر دا اغېز او مهم رول د تاریخ په اوږدو کې تل مثبت نه و، کله کله له سپېڅلو مذهبي ولولو سره سیاسي تدبیر اود واک کنترول همغاړي شوي، خو تر عمل وروسته حالات له کنتروله وتي او واک و ځواک هم بیا د ملا او روحاني له گوتو وتی دی.

د افغاني ټولنې د روحاني قشر له خوا د ټولنې د نورو رغنده خواوو او روحانیت تر منځ توپیر او د نورو خواوو د بې ارزښته ښودلو یو اوږد بهیر هم دملایي او نا ملایي پاړکو تر منځ یو ډول ښکاره او څرگند بېلوالی اوتضاد رامنځته کړی و، دغه راز په ټولنه کې د ټولنې د عامو وگړو له خوا د ملایي او روحاني قشر عام اقتصادي سپورټ او ملاتړ هم د هغو پر وړاندې د ملا او پیر ربښتینې اسلامي ژبه او دهغې کارونه پخه کړې وه، ځکه خو د ملا ځاني گټو، زېښلي اقتصادي حالت، د خلکو له خوا د ملا د ژوند خړوب اود ځانساتي کلتور د گډ امتزاج له کبله د اسلام داسې بڼه رامنځته شوه، چې د نړه اسلام وړانگې د خلکو ذهنونو ته ونه رسېدې او په نتیجه کې د مذهب ، کلتور او سیمه ییز دود ځینې روایتونه یو ځای کړای شول او د اسلام شفافه او رڼه بڼه د خلکو له نظره پټه شوه.

همدغه حالت او همدغه بهیر له نورو اسلامي ټولنو څخه د افغاني ټولنې اسلام رابیل کړ او زموږ ملایي قشر یې پر خپله خبره د افراط تر بریده ټینگار ته ورساوه، ان دا چې د تاریخ په اوږدو کې یې نور اسلامي ټولنپوهان چلنج کړل، هغوی یې په نا اسلامي عقیده تورن کړل او یا یې

داسې وانګېرله چې د هغوی عقیده سسته شوې او یا تر اسلامه په خپل ځانګړي تعبیر ځانساتي (محافظه کار) شوي، په دې ډول زموږ ټولنې په ډېرو علمي خواوو کې پرمختګ ونه کړ، یوازې د ملایانو او روحانیونو شمېر په کې زیات شو.

د نورو ټولو اسلامي ټولنو په اندول په افغانستان کې د روحانیونو او ملایانو شمېر ځکه زیات شو چې دلته د روحانیت په اندول دټولنې نورو برخو متوازن پرمختګ ونه کړ. ددې لمړېزې پیړۍ په پیل کې په ټول افغانستان کې د روحانیونو شمېر اټکل دوه نیم لکو تنو ته ورسېده، چې د وخت د افغاني ټولنې د نارینه وګړو تقریباً په سلو کې ۳-٤ تنه جوړوي، په افغانستان کې د بزګرانو شمېر هم تقریباً همدې حد ته رسېده، له بزګرانو پرته د ټولنې بل هېڅ پاړکي له شمېریز پلوه له روحاني قشر سره سیالي نه شوه کولای. څرنګه چې افغانستان یو زراعتي هېواد و، نو تقریباً همدغو دوه دوه نیم لکو بزګرانو د هېواد ټوله ځمکه کرله، د روحاني قشر په ګډون یې د هېواد ټولو وګړو ته ډوډۍ برابروله، خو کله چې په هېواد کې د عصري ژوند اړتیاوې زیاتېدلې، نو ټولنه اړه وه چې د عصري علومو له لارې خپلې نوې اړتیاوې پوره کړي او په نویو علومو سمبال کدرونه وروزي. په ټولنه کې د عصري علومو د تبلیغ او دودولو په برخه کې چټک او ګړندي حرکت، د ځانساتي روحاني قشر د نظري مخالفت له امله، فزیکي ټکر او یو نا مطلوب بحران ته لاره اواره شوه، د هېواد په معاصر تاریخ کې دا ټکر لومړی ځل پر ۱۳۰۷ ل کال پېښ شو او یو نوی متمدن دولت او دنوې ترقۍ کاروان د تورې ارتجاع ښکار شو. تر هغه لنډه موده وروسته بیا کله چې حالات بېرته نورمال بهیر ته راوګرځول شول او یو داسې نظام جوړ شو چې د روحانیت د تائید ټاپه هم پرې لګېدلې وه او د ټولنې د ترقۍ لپاره یې هم یوه ستراتیژي لرله، نو د

سلگونو عصري ښوونځیو د جوړولو کار یې پیل کړ، خو بیا هم د ښوونځي او مدرسې تر منځ یو څرگند توپیر او تضاد لیدل کېده، هر څومره چې د ښوونځیو شمېر ډېرېده او خلک په عصري پوهه سمبالېدل، همدومره په ټولنه کې دمدرسې او ملا رول محدودېده او تنگېده، ان تر دې بریده چې په ټولنه کې د روحاني او ملایي پاړکي رول ته په نه سترگه کتل کېدل او خبره د هغوی د سپکاوي برید ته ورسېدله، د پنځوسمو کلونو په ترڅ کې په ټول افغانستان کې تر (۳۰۰۰) پورې بېلابېل عصري ښوونځي اود لوړو زده کړو څو پوهنتونونه جوړ شول او تر څنگ یې څو رسمي دینې مدرسې، د شرعیاتو پوهنځي او د اسلامي څېړنو څو مرکزونه جوړ شول. سره له دې چې د افغانستان د ښوونې او روزنې په نصاب کې دیني مضامین هم ځای شوي وو ، خو لکه څنگه چې ښکاره وه دې مضامینو ته ډېره پاملرنه نه کېده اودملایي پاړکي د قناعت وړ نه وو، د دولت په چوکاټ کې د دیني مدرسو په اندول د عصري ښوونځیو شمېر څکه زیات وو، چې د خپلې ټولنې اړتیاوې پوره کړي او پر عام و خاصو ټولو زده کړې وکړي، ملایانو ددې اندول دمخنیوي او پر سیمه د خپل اغېز د ساتنې لپاره پر کلیوالي سیمو او مسجدونو ډېره لگوله او په سلگونو مدرسې یې په کې فعالې کړې وې، چې د خړوب چارې یې پر ولس حواله شوې وې، نتیجه دا شوه چې هغه څوک چې به له مدرسې فارغ شو، پر عصري علومو به نه پوهېده او هغه څوک چې به له عصري ښوونځیو فارغ شو، هغه به پر دیني علومو چندان نه پوهېده او ان بې تفاوتي به یې ورسره کوله، په نتیجه کې د دوی تر منځ تضاد نور هم زیات شو، یانې د مدرسې فارغ ملا او له ښوونځیو څخه فارغ (روشنفکر) و او ملا بیا پر روښنفکر د الحاد او کفر تورونه پورې کول، روښنفکر پر ملا د مرتجع او پرمختگ ضد تورونه. یو شمېر روښنفکران بیا په خپلو هڅو او چلند کې

دومره افراطي شول چې ټولې ملي، هېوادنۍ او ان اسلامي پولې یې ونړولې، د پردیو ایډیالوژیو ښکار شول او پردي یرغلگر یې هېواد ته راوبلل، له بده مرغه چې دا هېواد پلورونکي د روښنفکرانو په نومونو یاد شول، نو د ټول افغان ولس په تېره بیا د روحاني قشر ولولې یې راوپارولې، روسي جنرال الکساندر مایوروف لیکي چې: موږ یو سخت چلنج سره مخامخ وو، او هغه موږ محاسبه کړی نه و، هغه دا چې موږ د افغانستان له روحاني قشر سره پر جگړه اخته شو. دی لیکي چې: دا وخت په افغانستان کې د ټولو مسجدونو شمېر تر څلوېښت زرو زیات وو. دا څلوېښت زره ملایان او له هغو هر یوه سره اټکل لس لس طالبان او نور په لسگونو مقتدیان داټول زموږ پر ضد راپاڅېدل چې ټول شمېر یې میلونونو تنو ته رسېده.

د افغانستان روحاني قشر ـ ته چې د روسانو پر ضد د روان جهاد ښه وسیله لاس ته ورغلې وه او ټول ولس یې په خوله پاڅون او عمل ته تیار ولاړ و، نو دپردیو پر ضد یې پر گرمې مبارزې سربېره د (ښوونځیو) پر ضد هم جهاد اعلان کړ او څه کم درې نیم زره ښوونځي یې دوړه کړل او په دې ډول یې له ښوونځي او (روښنفکر) څخه خپل تاریخي غچ واخیست.

د افغانستان د ښوونځیو د سیزلو له کبله د افغانستان په جگړه ییزه بهیر کې اټکل اووه میلونه افغانان نالوستي پاتې شول. اوس یو ځل بیا د مدرسې طالب او ملا داسې بېشانه ډول واک ته رسېدلي چې نه یوازې د افغاني ټولنې په تاریخ کې یې سارۍ نه لیدل کېږي، بلکې دټولې اسلامي نړۍ په څوارلس سوه کلن تاریخ کې هم د ملا او طالب د داسې ټولواکمنۍ بېلگه نه شته، ملا او طالب اوس یو ځل بیا په ښوونځي، پوهنځي او مکتب پسې اورلړونی را اخیستی او داسې توندې هڅې یې پیل کړي چې که چېرې همدا شان دوام ومومي یو وخت به د چاودنې او

غبرگون سختې مرحلې ته ورسېږي اودمدرسې برخلیک به هم هغه حالت ته ورسوي چې نن د ښوونځي او مکتب دی.

دوی له ښوونځي او مکتب سره دومره حساسیت وښود چې ان نوم یې هم ورته له منځه یوړ، لومړی یې نوم ورته ختم کړ او بیا یې په نصاب کې ورته دومره بدلون راوست چې هسې نوم یې د عصري مدرسې پاتې دی، د عصري علومو په برخه کې په سلو کې (۲۰) هم څه په کې نه شته، نور ټول دیني علوم دي. ددې خبرې منطق دا دی چې افغاني ټولنه له ملا او طالب پرته بل چاته اړتیا نه لري.

د طالبانو د رسمي خپرونو پر استناد اوس په افغانستان کې د ټولو مدرسو شمېر (عصري او دیني) (۳٤۰۰) ته رسېږي، چې د دوی په وینا له دې جملې څخه یوازې (۱۱۰۰) مدرسې تر اوسه پورې ټولې (نرې دیني) مدرسې او پاتې لا اوس هم عصري دي، د نرې مدرسې مانا داده چې په سلو کې سل باید دیني مضامین په کې تدریس شي اود عصري مدرسې مانا دا ده چې عصري او دیني مضامین دې دواړه په کې تدریس شي، خو په عملي ډول داسې ده چې اوس رښتیا هم په دیني مدرسو کې سل په سلو کې مضامین دیني دي، خو په عصري هغو کې اتیا په سلو کې مضامین دیني دي، یو څوک چې په سلو کې اتیا برخې دیني مضامین ولولي هغه څخه بیا ملا جوړېږي او که انجنیر یا ډاکټر؟

طالبان وایي د هغو مدرسو شمېر چې د ښوونې او روزنې وزارت له خوا تمویلېږي (یوولس سوو ) ته رسېږي، که په هره مدسه کې د طالبانو شمېر (۵۰۰) تنه وګڼو نودا به پنځه نیم لکه طالبان شي او که د نارسمي دیني مدرسو شمېر هم همدومره اټکل کړو، نو خبره به یو ملیون طالبانو ته ورسېږي، که په پاکستان او ایران کې د روزل شویو طالبانو شمېر هم همدومره محاسبه کړو نو په څو راتلوونکو کلونو کې به په افغانستان کې د

ټولو ملایانو شمېر اټکل دوه ملیونه تنه شي او که د افغانستان ټول اوسنی نفوس، په (بهر او داخل کې ) شل ملیونه تنه محاسبه کړو ( لس ملیونه ښځې) نو په راتلونکو کلونو کې به په هرو لسو تنو نارینه و کې دوه تنه ملایان وي. په سلو کې (لس تنه). که دوه ملیونه ملایان د خپلو دیني زده کړو تر څنګ یو بل کار او کسب زده نه کړي او د عصري علومو په برکت ځانته کار او کسب پیدا نه کړي، نو فکر نه کېږي، جګړه ځپلې افغاني ټولنه به د دومره کسانو چې په تولیدي او اقتصادي کار کې یې اغېز ناڅرګند دی، د خړوب ظرفیت ولري.

خدای (ج) دې وکړي چې داسې ونه انګېرل شي، چې دا لیکنه د هېواد د ملایي پاړکي چې تل یې د هېواد او ولس په ژغورنه او لارښوونه کې تر هر چا زیاته ونډه اخیستې او د قربانۍ میدان ته وتلی دی، د بل رنګ ښودلو لپاره شوې ده، بلکې دا لیکنه ددې لپاره ده چې اوس د هېواد دټولو دیني، سیاسي، اقتصادي، پوځي او نورو چارو لارښوونه د ملایانو پر غاړه ده ، که دوی د ټولنې د ټولو خواوو تر منځ او دهغوی د ودې لپاره متوازن ګامونه پورته نه کړي، نوکېدی شي د ټولنې یوه خوا کږه شي، انارشي رامنځته شي، اندول خراب شي او ټولنه د تباهۍ خواته لاړه شي، چې بیا به یې نه ملا تنستې راټینګولای شي، نه امي او نه هم روښنفکر. لکه څنګه چې خدا پاک (ج) خپل نظام (ټولو کایناتو) کې داسې یو انډول ټینګ کړی چې د هغه په برکت دټولې نړۍ او کایناتو ژوند دوام لري. داسې د خدای (ج) خلیفه (حضرت انسان) ته هم په کارده چې د ټولو خواوو توازن وساتي، له واکمنو ملایانو نه هم دا هیله کېږي چې د اعتدال لاره خپله کړي، افراط او تفریط ونه کړي ځکه چې همدې افراط او تفریط زموږ ټولنه تباه کړې او تباه کوي یې.

# په ږیره کې ګیر ولس

*چې څښتن یې په خپل فضل ږمنځ نه کړي*
ښې ښې ږیرې به شي سپکې لکه درب
(حمیدبابا)

**دا لیکنه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په مستعار نامه لیکل شوې وه او د هغو تر سقوط څه موده وروسته په هیله مجله کې چاپ شوې ده.**

موږ هم عجیبه خلك یو، کله ځان تر عقیدې قربان کړو او کله بیا عقاید تر ځان ځارکړو، کله د وطن دساتنې او دفاع لپاره وجنګېږو او کله بیا هم له خپل هېواده دخپلو ځاني ګټو لپاره وسیله جوړه کړو او یو بل ته په کې مورچلې ونیسو. کله نور پر خپلو اوږو واك ته ورسوو او کله بیا هم دنورو د راپرځولو لپاره پښې اړم کړو او له تخته وبخته سره یې پوپناه کړو، کله دیوې نا اشنا ایډیالوژۍ دحاکمیت لپاره له خپل سر و مال نه تېر شو او کله بیا هم د همدې ایډیالوژۍ دنسکورولو لپاره معکوس حرکت پیل کړو. کله بیا یو سیاسي فکر او تګلاره دعقیدې تر بریده اوچت کړو او په هغه کې بیا دومره افراطي حرکت وکړو، چې نه یوازې دهمغې تګلارې د ړنګېدو او ناکامۍ سبب شي، بلکې

دهغې دشرمېدو علت هم شي. ددې ټولو خبرو اصلي علت دادی چې موږ لا تر اوسه پورې دیوه واحد ملت د ملي شعور اوچتې کچې ته نه یو رسېدلي. واحد ملتونه دخپل ژوند دپرمختګ او پاینښت لپاره یوه واحده ملي ستراتیژي لري، چې دهغه ملت ټول وګړي که هغه هر ډول سیاسي او فکري تګلاره ولري، خو یو ملي ارمان او ستراتیژۍ ته ژمن وي.ملي ګټې دبېلابېلو عقایدو او نظریو تر شعارونو نه قربانوي، بلکې بېلابېلې ګروهې دخپل ملت دښېرازۍ وسیلې ګڼي.

دتاریخ په اوږدو کې زموږ واکمنو په سلګونو ډوله افراطي حرکتونه کړي، چې دهغو زیان او جبران بیا دملت غاړې ته پرېوتی دی. خلقیانو، اخوانیانو او د طالبانو افراطي حرکتونو زموږ ملت د اور په لمبو وکړاوه او تر اوسه یې لا هم برخلیك معلوم نه دی. پر دې ټولو حرکتونو وخت پر وخت لیکنې شوي او نورې به هم پرې کېږي، خو موږ به دلته یوازې د طالبانو د اسلامي تحریك دسلګونو افراطي حرکتونو له جملې څخه دداسې یو افراطي کار یادونه وکړو، چې تر اوسه یې په ګرده نړۍ کې ساری نه دی لیدل شوی او نه په اسلام او نه هم په نورو ادیانو کې دداسې افراطي چلندونو بېلګه چا ثبت کړې ده، دا افراطي حرکت د ږیرې د پرېښودلو او اوږدولو په باب د طالبانو زیات ټینګار دی.

**ږیره تر ټولو اوچت معیار:** د طالبانو دتحریك له پیله په تېره بیا دهغوی د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې هېڅ شی هم

دومره ارزښت نه درلود ، لکه ښځې، د ژوند ټول ارزښتونه د ښځې دکچ او مېچ دځرنګوالي له مخې تلل کېدل او ارزول کېدل، که یو چا به هرڅومره پوهه او اخلاق درلودل خو چې ښځه به یې نه وه، هیڅ به و او که به د طالبانو لاس ته ورغی، نو توهین، تحقیر، سپکاوی، وهل، ټکول او ان زنداني کول یې حتمي او باوري وو. دکابل دځرخي پله زندان، چې په بېلابېلو واکمنیو کې له سیاسي زندانیانو ډك وو، د طالبانو پر وخت له لنډ ږیرو او بې ږیر خریلو افغانانو ډك وو.

**دجبري ږیرو کدري زیان:** دطالبانو پر وخت ږیره داسې یو جبري امر وګڼل شو، چې ددولت دیو مامور لپاره تر ټولو ستر معیارګڼل کېده، ان شل کلن تحصیل، کار، تقوا، تجربې او نورو ښېګڼو ورسره هم سیالي نه شوه کولای، نوځکه دلوړ مقام له خوا داسې حکم صادرشو: "هغه مامورین چې ږیرې یې خریلي او یا لنډې کړي دي باید له دولتي ادارو څخه وکښل شي". ددې امر له مخې هغه مامورین او پاتې کدرونه چې ویې نه شو کړای په لنډ وخت کې د ږیرې پر ارزښت ځان پوه کړي او خپلې ږیرې اوږدې کړي له خپلو دندو ګوښه شول، چې شمېر یې زرګونو کاري علمي او فني کدرونو ته رسېږي. له "شریعت غږ راډیو" نه به ډېر ځله دا خبرونه خپرېدل چې "نن د عدلیې وزیر الحاج ملا نورالدین ترابي د(...) وزارت لیدنه وکړه او په هغه کې یې یو شمېر هغه کسان چې ږیرې یې له اسلامي شریعت سره سمې نه وې پرې ایښې نا مطلوب وګڼل شول او له خپلې دندې ګوښه کړای شول".

اقتصادي زیان: دې کې شك نه شته چې د ډېرې خرڅېنې هغه وسایل چې له بهر نه افغانستان ته واردېدل، د ډېر خرڅېنې د بندیز له وجې به دا واردات ډېر کم شوي وي او له دې وجې به دمملکت په عمومي لګښت کې یوڅه سپما شوې وي، خو په دې اړخ کې کېدی شي دډېرپاکونې او پریمنځلو لګښت دا اندول ببرته برابر کړی وي، دلویو ډېرو پرېمنځل او پاکول، شامپو، وخت او د صابون لګښت غواړي، خو که فرضاً دلګښت او سپما دا انډول برابر هم وګڼل شي،دا وخت ډېرې نور لګښت درلود چې هغه په افغانستان کې دډېرې د پرېښودلو، پاللو، ساتلو او څارنې اساسي لګښتونه وو، چې د امربالمعروف او نهې عن المنکر په شان دیو ځواکمن او هر کاره وزارت جوړېدو غوښتنه یې کوله، دې وزارت د ډېرو کنترول لپاره په سلګونو ګاډو او هم په زرګونو محتسبینو ته اړتیا لرله او طالبانو دبشپړ شریعت د تطبیق او دپوره ډېرو دمظاهرې لپاره دا تشکیل پوره کړی هم و، هر ولایت کې یې د امربالمعروف او نهې عن المنکر ریاستونه او په ولسوالیو کې یې څانګې وې، چې د ولایتونو ریاستونو به څو ګاډي درلودل او د ځینو ولسوالیو ریسانو هم ځانګړي ګاډي درلودل. له دې پرته په کلیو او ښاري ناحیو کې هم ددې ریاستونو څانګې وې، چې پر بایسکلونو او نورو وسایلو به سپاره ګرځېدل او د ډېرو دڅارنې چارې به یې ترسره کولې. د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت معاش د طالبانو په حکومت کې تر بل هر ارګانه زیات و، چې دمیاشتې په ټولیز ډول تر (درې ملیارده

افغـانیو) څخـه زیاتېـده او کـه د مـوټرو او نـورو چـارو اړتیـا وه لګښت یې په پام کې ونیـول شي، نـو تـر پورتنیـو ارقـامو څخـه هـم ډېر لوړېږي. خو ددې ټول لګښت مرکزي ټکی د ږیرې کنټرول و.

اروايي زيـان: طالبـانو پـه خلکو کـې د ږیـرې لـه املـه دومـره وېـره او ډار خپـاره کـړي وو، چـې ان کـه چاپـه خـوب کـې هـم ږیـره خرېلې وای، نو وېرېدلای بـه و، تـر ډېـره وختـه بـه هـر چـا پـه خپلـه ږیـره لاس وهـه چې لویـه ده کـه وړه؟ لـه امـر بـالمعروف نـه بـه پـرې خلاص شم او کـه نـه؟ ډېرو خلکو کې بـه لومړی څو ځلـه ځان پـه هنداره کې معاینه کړ او بیا به له کوره بهر شو. د چاچې به ږیره لږ لنډه وه نو له لاندې خوا به یې لږ پورته کړه چې لږ ببر معلوم شي او بیا به له کوره بهر شو.

د ډېرو خلکو ږیرې سپیني وې، خو دا چې خریلې یې نـو ځوانـان ښکارېـدل، کـورني ژونـد او ټولنـه کـې د ځوانـانو پـه ډلـه کـې حسابېدل، ذوق او شـوق یـې هـم دځوانـانو وو، خـو کلـه چـې ږیـرې جبرې شوې، نو دوی ږیرې اوږدې کړې، نو ټول سـپینږیري ښکـاره شول، بیا ددې لپاره چې په کورني نظام کې دکورودانې تـر روانـي اغیـز لانـدې را نـه شـي او یـا پـه ټولنـه کـې ببرتـه دخپلې ځوانـۍ هویـت افـاده کـړي لـه لـرې، لـرې هېوادونـو یـې د ږیـرې تورولـو رنګونه را وغوښتل، خو هغو هم دومره اوږدو ږیرو ته چندانې کـار ورنه کړ. دکابل پوهنتون یو اسـتاد چـې دطالبـانو تـر راتـګ دمخـه یې واده کړی و، په طالبي پړاو کې یې خپله ږیره رنګوله، یـو ځـل یې په نکرېزو رنګ کړه، سره شوله، خو لاندې ورپسـې بیـا سـپینه

رالویه شوه، سره او سپینه شوه، سپینه یې بیا په تور رنګ رنګ کړه، سره او توره شوه، خو موده پس بیا سپینه ورسره را ووتله، بیا سره، توره او سپینه (دري رنګه) شوه، چا چې به ورته ویلې چې استاده! دا څنګه چل دی، یو رنګ او دوه رنګه ږیرې مو ډېرې لیدلې وې، خو درې رنګه مو لا تر اوسه نه وه لیدلې، ستاسو ږیره بېخي داسې ده لکه بېرغ درې رنګه ده، هغه به په یوه مالګینه خندا وخندل او وبه یې ویل: ((تاسو خو په دې نه پوهېږئ، تاسې خو باید افغانستان تجربه کړی وای، دلته بیرغونه او نظامونه څومره ژر بدلېږي، داسې زما ږیره هم در واخله، زما ږیره د افغانستان دسیاسي نظامونو ښکارندویه ده، څو موده وروسته یې زه دا سره برخه غوڅوم یوازې دا توره او سپینه پاتې کېږي، بیا سپینه ورپسې زیاتېږي او توره کمېږي، بیا یو وخت توره هم ورپسې غوڅوم او کله چې یوازې سپینه برخه پاتې شوه، کېدی شي هغه بیا زه خپله چاړه راواخلم یا هم ډم او یا هم کوم زورور چاړه را واخلي او له بېخه یې غوڅه کړي او بېرته لوڅ مخ لکه څنګه چې وم همغسې را ووځم او خلکو ته ځان ښکاره کړم، دې استاد به دا ټوکې هم کولې چې زما ږیره د افغانستان د دریو پړاوونو ښکارندویي کوي، لومړۍ برخه یې چې سره ده هغه دخلکیانو پړاو، دویمه برخه یې چې توره ده هغه دمجاهدینو دوره ده، ځکه چې تره کي به مجاهدینو ته (توره ارتجاع) ویله او دریمه برخه یې چې سپینه ده هغه د (طلبه

کرامـو) پـړاو دی، نـو زمـا ږیـره ددې هېـواد دسیاسـي پېښـو او پړاوونو هنداره ده.))

یو تن بیا دا سې و چې خپله ږیره یې نه اوږدوله، مقصد دومره وه چې څه په ښکاره او زیات په پټه به ښار کې پرې ګرځېدی شو، له هغه نه چې به دې پوښتنه وکړه، ولې ږیره نه اوږدوې، هغه به ویل! ((خپل ګرېوان ته ګورم))، کله چې به دې ورته وویل: د ږیرې له ګرېوان سره څه؟ هغه به هم مالګینه خندا وکړه، ((ږیره خو ګرېوان ته دکتلو مخنیوی کوي، تاسو وګورئ، استاد سیاف خپل ګرېوان ته کتلای شي؟ رباني او حکمتیار خپل ګرېوان ته کتلای شي؟ او که دوی خپل ګرېوان ته سرکښته کړی وای او دخپل وجدان په هنداره کې یې خپل اعمال تللي وای نو هېڅکله یې دا کارونه نه کول، زه نه غواړم چې د زیاترو مجاهدینو په شان زما ږیره زما او زما دګرېوان ترمنځ یو حایل او دېوال شي، زه انسان یم، زه هر وخت خپل ګرېوان ته سر کوزوم او دخپل ضمیر په هنداره کې خپله څېره ګورم".

دا تېر پنځه کاله چې به هر چېرته لاړې، که دوه کسه به هم سره کېناستل نو ضرورو خو به یو ځل د ږیرې بحث کېده، چا به ویل باید پرېښودل شي، ځکه چې دپیغمبر (ص) سنت دي، چا به ویل پرېښودل یې ځکه ضروري دي چې موکد سنت دي. طالبانو په پای کې د دریمو ټولګیو دپښتو او دري لوست په کتابونو کې ولیکل "ږیره پرېښودل واجب دي" ځینو به لا په کې دا هم ویل ږیره سنت دي خو اوس وخت یې پرېښودل فرض دي، زموږ دکلي

ملا بیا په کې د ږیرې د فرضیت په باب دا دلیل هم راوړ:" ږیره خو اصلاً یو سنت ده، په سنتو کې بیا هم سنت موکد ده، هر چا چې پرېښودل دا سنت، نو دی ګرځي تارك دسنتو او چې شو څوك تارك دسنتو، نو کېږي په ده اطلاق د کفر او دا خبره واضحه ده په ډېرو کتابونو " د ږیرې بحث همداسې له افرادو نیولې تر کورنیو، خپلونو، قومونو او بیا دټول ملت کچې ته غزېده، هر چا هر وخت دخپل ذهن تر کچې د ږیرې په باب خپله انرژي لګوله، په حقیقت کې دټول ملت ذهني انرژي د ږیرې بحث ته راټوله شوه او په یو نه یو ډول له رواني پلوه له ږیرې سره وتړل شول.

ټولنیز زیان: د امربالمعروف او نهي عن المنکر کسانو د ږیرې په اړه دومره افراط وکړ چې ټولنیزه او ډله ییز کرکه یې هم راوپارولـه، دا کـار زیاتره پـه ښـاري سیمو کـې تـر سره شـو. د ۱۳۷۶ل کال په بهیر کې په داسې حال کې چې لـه طالبـانو سره عامه خواخوږي زیاته وه، طالبان لومړی ځل په مزار شریف کې دتوطیې ښکار شول او سخت تلفات ورته ورسېدل، په دې وخت کې دهېواد په نورو سیمو کې دطالبانو خواخوږي نوره هم زیاته شوه او خلك هم پرې سخت خواشیني وو، خو الحاج نورالدین ترابي په میدان ښار کې له کندهاره راروان دسورلیو لوی کاروان ودراوه او ځلور سوه تنه ږیر خریلي او لنډ ږیري یې کوز کړل، په دې کې داسې کسان هم وو، چې خپل ماشومان او تور سرې یې ترې په موټرکې پاتې شول او دوی یې د ږیرې دلنډون په ((جرم)) یوې لرې دښتې ته په موټرو کې یوړل او هلته یې خوشې کړل او د

سورلۍ موټرو ته یې امروکړ چې کابل ته لاړشي، دا هغه ستر ټولنیز او ډله ییز ظلم و چې د اسلام له پیله بیا تر ننه پورې هېڅکله هم هېڅ مسلمان واکمن پر چا نه و کړی. ترابي نه یوازې په میدان ښار، بلکې دماهیپر په لویه لاره، جلال اباد، کابل، کندهار، غزني او د هېواد په نورو ولایتونو کې هم دا ډول کارونه تر سره کړي دي. په حقیقت کې همدا ترابي، ترابان او نور ترابي خېل وو، چې د زرګونو معصومو طالبانو هېواد ګټلی او اسلام ګټلی نوم یې په سیند لاهو کړ او دخلکو په ذهن کې یې وټکول.

په کابل ښار کې د یوې مخورې افغان کورنۍ د واده جشن جوړ و، د واده هلك (شاه) چې نن یې په ټول ژوند کې دخوشالۍ د اوج ټکی و، پر ځان او مخ ګوتې وهلې وې، طبعاً ږیرې ته به یې هم ګوتې ور رسېدلې وې، دې کې د نهی عن المنکر کسان خبر شول، واده ته دمېلمنو بهیر لا روان وو، چې دوی ټول کورمحاصره کړ، (شاه) یې ونیو او ځان سره یې بوته، خلکو ورته ډېرې عذر وزارۍ وکړې چې را خوشې یې کړي، خو هغوی ونه منله، خلکو څو غوریه وریجې او نوره ډوډۍ هم د امر بالمعروف ریاست ته یوړه، چې په دې ډول د واده تصدیق او رښتینولي وشي، هغوی هغه ډوډۍ هم وخوړه خو هلك یې پرې نښود، واده والا ناوې پسې لاړل، مازیګر ماښام یې بې (شاه) ناوې کورته راوړله، یو ځل بیا دهلك پلار او څو تنه سپینږیري د امربالمعروف دخصوصي زندان مشر ته ورغلل، دهلك پلار ورته وویل چې خیر دی

دده پرځای به زه دلته نن شپه تېره کړم او نورې هرځوشپې چې تاسو غواړئ،زه به یې دلته تېرې کړم،خو زوی مې نن شپه پرېږدئ چې ناوې مو راوستې ده، دهلك پلار دا هم وویل چې خیر دی یوازې نن شپه یې پرېږده، سبا سهار هرڅو بجې چې تاسو یې غواړئ بېرته به یې په تضمین سره درته حاضر کړم، خو د امربالمعروف مشر ددې سپینږیرو یوه خبره هم ونه منله او خلك بېنوا کورته ستانه شول. همداسې په لغمان کې د امربالمعروف د وزیر کسانو پر یو ځوان پسې چې ږیره یې دوی ته له لرې لنډه ښکاره شوې وه، غبرګ کړی و چې ودرېږي، ښایي هغه ځوان به ددوی غږ نه و اورېدلی، خو مولوی سلیم خپلو کسانو ته امر کړی و، چې درنه ونه تښتي، ترهغه چې هلك دلغمان دصرافۍ مارکیټ ته رسېده، د امربالمعروف کسان هم ورپسې ورسېدل، پرته له دې چې ددې هلك ږیره وګوري چې رښتیا هم لنډه ده او که په سنتو برابره، خو ددې هلك پر وهلو یې پیل وکړ، دا وهل دومره بې رحمانه وهل و چې هلك پر همغه ځای بې هوښه شو او د امربالمعروف کسان ترې ولاړل، هلك دکاندارانو روغتون ته یوړ، تر ډېرې درملنې وروسته معلومه شوه چې د مولوي سلیم د ډېرو لغتو له امله یې یو پښتورګی له کاره لوېدلی و. څه فکر کوئ چې د اسلام په نامه دا ځورونه به دخلکو په زړونو کې د طالبانو پر وړاندې څومره کرکه

را پارولې وي؟ داسې په سلګونو پېښې شوي چې ټولنيز او ډله ييز دردونه او کرکې يې را پارولي دي.

ددې سلګونو پېښو له منځه موږ دلته يوازې دا څو بېلګې يادې کړې.

**سوداګريز زيان:** ډېر هغه افغانان چې دپانګو ښتنان وو هغه تر هېواد بهراوسي او طبيعي وه چې زياترو ړيرې هم نه لرلې، هيله يې وه چې د طالبانو په واکمنۍ کې د سوله ييزې فضا له رامنځته کېدو سره سم وخت پر وخت هېواد ته لاړشي او خپل سوداګريز کارونه هلته پيل کړي، خو د ړيرې او نورو ذوقي بنديزونو له امله يې ونه کړای شول، هېواد ته زړه ښه کړي، نو په دې وجه هېواد ته زيات اقتصادي او سوداګريز زيان واوښت.

اکثرو لويديځمېشتو او بهر مېشتو افغانانو هم د همدې وېرې له امله هېواد ته زړه نه ښه کاوه او په دې ډول يو څه نور اقتصادي زيان هم هېواد ته واوښت او دا ټول د ړيرې دلنډون او اوږدوالي له وجې، طالبان په پنځو کلونو کې پر دې بريالي نه شول چې د ړيرې له حريمه او دايرې را ووځي او پراخې ذهني نړۍ ته مخه کړي.

**پايله او ټوليزه ارزونه:** که د طالبانو پنځه کلنې واکمنۍ ته نظر وکړو نو په رسمي پاليسۍ کې هېڅ شی دومره زيات

مطرح نه و، لکه ړیرې چې د طالبانو د ذهن مرکزي ټکی او تفکر جوړاوه. سره له دې چې طالبانو په سلګونو او زرګونو پاټکیان ختم کړل، دواك مختلفې سرچینې او پاچاهۍ یې ړنګې کړې، دیوه مرکزي دولت د جوړېدو لپاره یې هیلې راوټوکولې، بېلتونپالي یې وځپل او خپله یې په لسګونو زره تنه قرباني شول، خو دا ټول ارزښتونه د ړیرې او حجاب جزئیاتو داسې رانیولي او پټ کړي وو، چې دچا سترګې پرې ګرد سره نه خوړېدې، نو ځکه خو سړی ویلای شي چې دطالبانو د واکمنۍ مرکزي ټکی "ړیره" وه او ددې ترڅنګ ټول ملت ددوی په واکمنۍ کې په (ړیره) کې (راګیر) و.

# طالبان، بتان او بتپالان

**کله چې طالبانو په بامیانو کې د بودا تاریخي مجسمې ړنګې کړې، نو دا لیکنه پر همغه مهال په مستعار نامه شوې وه او همغه مهال د هیلې مجلې د (۱۳۷۹ل) کال په (٦)مه ګڼه کې چاپ شوې ده، دادی دلته یې یوځل بیا درنو لوستونکو ته وړاندې کوو:**

طالبانو په دې نږدې وختونو کې په افغانستان کې داسې یو تاریخ ضد عمل ترسره کړ، چې د (۲۰۰۰) کلونو په اوږدو کې هېچا نه و ترسره کړی. دوی پر یوه تاریخي ارزښت داسې یو ګوزار وکړ، چې دټول بشریت احساسات یې را وپارول او د ټولې نړۍ زړه یې وبوږناوه.

دبامیانو د بودا مجسمې یادوو، چې په (۵۳) او (۳۵) متره لوړوالي سره یې دا دومره کاله له افغانانو سره یوځای، پردې وطن ټولې تېرې شوې رڼاوې او ناخوالې ولیدلې او ویې زغملې. هغو د اسلام سپېڅلي دین د راتګ ملایمې وړانګې ولیدې، چې د دوی تر لمنو یې ټوله ځمکه روښانه اونرمه کړه، خو د دوی تندی یې ونه سېزه. دوی د چنګېز د اسونو ګردونه او دتورو خرپاوې ولیدل، چې د دوی له څنډو تېر شول، خو د دوی لوړوالي ته یې پورته ونه شول کتلای. دوی دنړۍ د ستر زبرځواک د سرو لښکرو سور سېلاب او سور ناورین ولید، خو د لمبو تاو یې تردوی ونه رسېده، دوی دخپلو یو شمېر نااهلو هېوادوالو

ظلمونـه، وحشـتونه او لـه پردیـو سـره پټـې او ښکـاره معـاملې ولیدې، خو بیا یې هم لاشعور دومره لـه کینـې ډك نـه و، چـې دوی ته زیـان واړوي او داسـې نـورې ډېرې تـورې، سرې او شنې تیـارې تېـرې شـوې، خـو هغـو ټولوبیـا هـم یـو حـد، یوبریـد او یـوه پولـه پېژنـدل. خـو تـر (۲۰۰۰) کـالو وروسـته پـر افغانسـتان داسـې یـو ځوك واكمن شول چې د خپل او پردي دګټې او تاوان پـه خیـال کـې نـه دي، د دوی د احساسـاتو تـاو د بـودا تـر بوتـانو هـم ورسـېده او داسې یې په لوګیو کې تاو کړل چې د ابد لپاره یې د هېوادوالـو او نړیوالو له سترګو پناه کړل.

طالبانو پـه دې کـار نـړۍ تـه ثابتـه کـړه، چـې دوی هـر تـاریخي او ملي ارزښت له خپل فکري تعبیر او تحلیل نه قربانولای شي؛ نه د نړیـوالې ټولنې څـه پـروا لـري او نـه هـم د خپلـو هېوادوالـو د ګټـو. دوی لـه مـذهب نـه پـه یـوډول ځانګړي تعبیـر، مـذهب لـه تـاریخ او فرهنګ سره ټکر کړ او ددې ټکر له امله تر ټولو غټ زیان تر هرڅـا لومړی خپله زموږ ټولنې ته واوښت. طالبانو هم په خپـل لاس خپـل محبوبیت د ورکـاوي یـوې لـویې کنـدې تـه ټېلواهـه. دوه زره کالـه وروسته به هم ددغه عمل تړاو له ملا او طالب سره کېږي. دلتـه بـه د هغـو زیـانونو یادونـه وکـړو، چـې لـه دې پېښـې پیـدا شـول او یـا پیدا کېږي.

## الف- طالبانو ته یې زیان:

لـومړی: ددې پېښـې زیـان تـر ټولـو دمخـه طالبـانو تـه دی. طالبانو په افغانسـتان کې له دویمـې هجري پېـړۍ را وروسـته ټول

اسلام چلنج کړ او په دې وخت کې يې د ټولو صحابو کرامو، علماوو، لويو واکمنو لکه: سلطان شهاب الدين غوري، سلطان محمود غزنوي، احمدشاه بابا او نورو ... اسلامي برياوو، سوبو او واك و ځواك ته د پوښتنې نښه(؟) كېښوده، ځكه چې په دې(۱۴) سوو كلونو كې دوى يوه هم دې بتانو ته كوم زيان ونه رساوه.

دويم: طالبانو ټولې نړۍ ته له مذهب او دين څخه خپله اخيستنه او خپله ذهني كچه څرګنده كړه. دوى ديوه تاريخي اثر او د عبادت وړ يو څيز ترمنځ توپير ونه كړاى شو. د باميانو بتان د (۱۴) سوو كلونو په بهير كې دعبادت لپاره نه وو ساتل شوي، بلكې دهغو دتاريخي ارزښت له مخې ساتل شوي وو.

په افغانستان كې هېڅ بتپال(بتپرست) نه شته، خو ددې بتانو له دركه افغانستان ته هركال زياته مادي ګټه رسېدله، پخوا خلكو، اور، لمر او نورو ته هم عبادت كاوه، خود ټول بشر ژوند په همدې شيانو پورې تړلى دى، طالبان بايد له اور او لمر نه هم خلك منع كړي، چې ګټه ترې وانخلي، ځكه چې پخوا ورته عبادت كېده. عجيبه خو دا ده چې اوس خلك دومره ساده نه دي چې د ډبرو په زړه كې كښل شوي تصوير ته عبادت وكړي اوپه بدل كې هېڅ شى ترلاسه نه كړي، اوس د عباداتو او نمانځنو ډولونه بدل شوي دي، ډېر خلك پيسو ته عبادت كوي، ډېر مقامونو ته عبادت كوي او ډېر نور اشخاصو اوښاغلو ته...

لکه څنګه چې اوس اور او لمر ته څوك عبادت نه کوي، دغسې د بامیانو بتانو ته هم په افغانستان کې چا عبادت نه کاوه، یوازې دتاریخي ارزښت او اقتصادي ګټې له مخې ورته زموږ خلکو اړتیا لرله.

درېیم: څرنګه چې مسلمانان په نړۍ کې د نورو په اندول دژوند د عصري وسایلو، زور و ځواك له مخې، کمزوري دي او په اسانۍ سره ورته خطر پېښېدی شي، په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې چې مسلمانان په کې لږکي دي، د بامیانو دبتانو ماتولو له کبله به هغوی ته د سر و مال سخت زیان پېښ شي. ددې ټولوزیانونو مسولین طالبان ګڼل کېږي. د دوی هغه ادعا به هم غلطه ثابته شي، چې دوی دا کار د اسلام او مسلمانانو په خاطر کړی دی. ځکه چې له دې کار څخه خو مسلمانانو ته د ګټې پرځای زیان واوښت.

**څلورم:** پر طالبانو به د ځینو خلکو هغه ګومان او شك هم پر یقین او باور بدل شي، چې طالبان یې دنورو ګوډاګیان ګڼل. ځکه چې د طالبانو تر پرېکړې یوازې یوه اوونۍ وړاندې زموږ د یوه ګاونډي هېواد یو لوړپوړي چارواکي کابل اوکندهار ته سفر کړی و او تر هغه وروسته بیا دبتانو ماتولو اعلان وشو. ډېر افغانان او سیاسي کتونکي په دې نظر دي چې زموږ ګاونډیو د افغانستان پوځ له منځه یوړ، اقتصاد یې ختم کړ او اوس نو وار دکلتور د ختمولو دی او دا کار د واکمنو وسلوالو ډلو په واسطه ترسره کوي. عجیبه خبره خو دا ده چې د طالبانو مشر تر دې وړاندې د

تاریخي اثارو دساتنې لپاره یو ځانګړی فرمان صادر کړی و او دا فرمان دطالبانو مطبوعاتو خپور کړی هم دی. خو اوس یې یو ناڅاپه دا کار وکړ. کتونکي په دې اند دي چې دښمن ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې له یوبل څخه خپل غچ اخلي.

پنځم: طالبانو په خپل دې کار سره په افغاني ټولنه کې په راتلونکي کې ملا او طالب د تاریخپالو او هېوادپالو افغانانو پر وړاندې ودرول. عام ولس یې پرې بې باوره کړ او د روښنفکر قشر احساسات یې راوپارول. چا چې یو ټولګی ښوونځی هم لوستی وي، هغوی په دې کار دطالبانو سخت مخالف شول، په عام ولس اوپه تېره بیا په تحصیل کړي قشر کې چې پخوا دوی کوم پلویان لرل، هغه یې ټول مخالف شول. په راتلونکي افغانستان کې به ملا او طالب ته خلك د خپلو تاریخي اثارو د له منځه وړونکو په توګه ګوري.

شپږم: له نورې نړۍ سره یې د طالبانو د پخلاینې او د هغوی د په رسمیت پېژندلو امکانات ټول له منځه یووړل، طالبان به نور هم تجرید شي.

اووم: طالبانو یوه تاریخي سهوه اوتېروتنه وکړه، تاریخي تېروتنې په تاریخ کې نه جبرانېږي او نه بښل کېږي. طالبانو د دوه زرو کالو تاریخي اثار ختم کړل، که دوه زره کاله دهېواد فرهنګ ته کار اوخدمت هم وکړي، دا زیان نه شي جبرانولای. ځکه چې ددې بل بدیل نه و، کاشکې طالبانو خپله داتېروتنه په بل شي ازمویلې او تجربه کړې وای، چې بیارغونه یې شونې وای، کېدی

شي طالبان يو وخت پښېمان شي، خو بيا به دا پښېماني هېڅ ګټه ونه لري.

اتـم: تـر دې دمخـه بېلابېلـو ډلـو پـه ځانګړې توګـه د ربـاني ـ مسعود او د هغو د موئتليفونو له خواد افغانستان زيات تاريخي اثار، له هغې جملې نـه دکابـل مـوزيم اکثـره قيمتـي تـاريخي اثـار لوټ شوي او بهرنيو هېوادونو تـه وړل شـوي دي، د هغـوی لاس بـه هم په طالبانو پاك شي.

نهم: د طالبانو دمخالفينو د تبليغاتي تبر خوله بـه نـوره هـم تېـره شي، چې تل به يې ويل:" طالبان يک گروه بی فرهنګ است".

## ب ـ اسلام ته يې زيان:

لومـړی: لکـه څنګـه چـې څرګنـده ده، اسـلام دعـدل، اعتـدال او انصاف دين دی، خو طالبـانو پـه زيـاتو او يـوواريزو افراطي هڅو نړۍ تـه د اسـلام داسـې تعبيـر وړانـدې کـړ، چـې اسـلام د افـراط او تفـريط لاره تعقيبـوي(!). هېـڅ ډول نرمښـت او معتـدل چلنـد تـه پـه کې ځای نه شته(!) او له تمدن اوتاريخ سره اړخ نه لګوي!

دويم: په نړۍ کې يو زيات شمېر وګړو دخپـل روحـي تسـکين او ارامتيا لپاره اسلام ته مخه کړې وه، کلـه چـې د طالبـانو پـه تعبيـر دومـره تـنګ اسـلام(!) وګـوري چـې دخوښـۍ او خوشـالۍ لپـاره پـه کې څه نه شته؛ نو ډېر به زړه ښه نه کړي چې تر دې وروسته اسلام ومني.

دریېیم: دتنظیمي ډلو دزورزیاتیو او په اوسني وخت کې د طالبانو د کړنو له کبله او هم د کومې اقتصادي ستراتیژۍ اوپلان د نشتوالي له امله به یو شمېر افغانان نورو ادیانو ته مخه کړي، لکه چې د ځینو خپرونو دخبرونو له مخې تر اوسه پورې تر یوه لك تنو زیات افغانان عیسویت ته وراوښتي دي او د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) دا حدیث به چې: ((ډېر خلك به له فقر څخه کفر ته متمایل شي)) دلته عملي شي.

څلورم: دطالبانو په نسکورېدو سره به د هغوی معکوس حالت رامنځته شي. په هغه وخت کې به هم هغه معکوس حالت په افراطي بڼه ترسره شي.

یاني اوس چې د ږیرې خریل جرم دی، هغه وخت به د ږیرې پرېښودل جرم وګڼل شي.

## ج ـ افغانانو او افغانستان ته یې زیان:

لومړی: د (۲۳) کلني جګړې په ترڅ کې د افغانستان ټول بنسټونه تباه شوي او یوازې ډېر کم تاریخي اثار پاتې وو، چې په هغو کې همدا د بامیانو بتان د نړۍ په کچه په سترو تاریخي اثارو کې راتلل او هر کال به د نړۍ له ګوټ ګوټ نه ګڼ شمېر سیلانیان دهغو لیدو ته راتلل او هېواد به یې دنړۍ په سطحه ځلاوه او ډېره اقتصادي ګټه به ترې لاسته راتلله. زموږ دهېواد د حال اړیکي یې له (۲۰۰۰) کالو دمخه زمانې پورې تړل. له دغو ټولو ګټو څخه زموږ هېواد محروم کړای شو.

دویم: بودیزم د نفوسو د شمېر له مخې د نړۍ دریم دین ګڼل کېږي. د طالبانو په دې عمل سره هغوی ټول متاثر شوي او د افغانستان او افغانانو پروړاندې دهغو په زړونو او ذهنونو کې نسلونه نسلونه یو ډول کینه روزل کېږي. هغوی دا کار له افغانانو او افغانستان څخه انګېري. طالبان اوس وخت کې یوه واکمنه ډله ده چې د نور ډلو په شان به څو ورځې واکمنه وي او بیا به له منځه ځي. خو د اعمالو جبران به یې افغانان کوي.

دریم: د داسې تاریخي اثارو په ختمېدو سره به زموږ د حال او ماضي اړیکي غوڅ شي، نوی نسل به پر تاریخي ارزښتونو او اثارو بې باوره شي، افغانستان به د څو زره کلن تاریخ پرځای څو سوه کلن اود څو سوه کلن پرځای به د څوکلن هېواد په توګه د نړۍ نوي پښت ته څرګند شي.

**څلورم:** سره له دې چې طالبان ځان یوه مذهبي ډله بولي او کومې سیمې، قوم او ژبې ته انتساب د خپل ځان توهین(!) او د خپلې عقیدې شرك بولي( له کومې سیمې او قوم نه دي راپورته شوي). خو د هغوی مخالفین دوی په زوره دهېواد اکثریت قوم پورې نښلوي، ځکه چې د دوی اکثره په پښتو خبرې کوي، که څه هم دوی له پښتو ژبې سره نه کومه مینه لري او نه کومه لېوالتیا ، ان د دښمنۍ تر بریده له ژبپالنې سره مخالف دي، خو بیا هم د دوی مخالفین دوی په پښتنو پورې تړي. ان د ایران مذهبي مشر یوه ورځ وویل:"طالبان یك قوم بی فرهنګ است".

اوس به نو په راتلونکي کې د هېواد اکثریت(پښتنو) په تېره بیا د فرهنګیانو ځواك په دې مصرف شي، چې ددې خبرې سپیناوی وکړي، چې طالبان دخپل ذهن مطابق خپله تګلاره لري، نه قومي لېوالتیا لري او نه ژبنۍ.

بله عجیبه خبره خو لا دا ده چې د نړۍ اسلامي هېوادونو خپل تاریخي اثار ساتلي او خوندي کړي دي، خو یوازې د طالبانو تعبیر داسې دی چې تاریخي اثار هم له مذهب سره مخالف بولي. ایا د سعودي په موزیم کې تر اسلام دمخه همدا ډول اثار نه شته؟ ایا په سعودي کې د جهالت دورې ټول اثار ختم شوي دي؟ تر افغانستان نه خو په مصر کې اسلام دمخه خور شوی و، چا د فرعونیانو احرامونه ونړول؟ چا د هغوی ډبرینې مجسمې ماتې کړې او یا چا د فرعونیانو مومیایي شوي جسدونه له احرامونو څخه راوکښل؟



وګورئ په دې انځور کې د یوه فرعون مومیایي شوی مړی چې (۳۰۰۰) کاله پرې تېر شوي دي؟

ایا په عـراق او ترکیـه کـې چې د اسلامي خلافت لـوی مرکزونـه وو، همدا ډول اثار نه شته؟ او کـه نـه یـوازې طالبـان تـر ټـولې نـړۍ داسلام پـر تعبیـر او تحلیـل ښـه پوهېـږي؟ ځینـې بیـا وایـي چې پـه مصر کې خو د فرعونیـانو مجسـمې، احرامونـه او مومیـایي شـوي مړي دعبرت لپاره دي، چې انسانان یې وګوري. عجیبـه خـو دا ده چې دهغوی تاریخي اثار د عبرت وسیله کېدی شي، خـو زمـوږ نـه شي کېدی.

کلـه چـې د بامیـانو بتـانو لـه خپـل هېـواد (ګران افغانسـتان) او افغانانو نه خدای پاماني اخیستله، نو دحال په ژبه یې افغانانو تـه وویل:" د خدای پامان ګرانو او خوږو افغانانو! دوه زره کاله مې لـه تاسو سره سړې تودې تېرې کړې، ډېر غمونه اودردونـه مـو پـه ګـډه سره ولیدل. تاسو به فکر کړی وي چې موږ هم همداسې غلي ولاړ وو او ستاسو پر اوښکو او غمجن حالت مو اوښکې نه تویولې؟ نـه داسې نـه ده، مـوږ ټول غمونـه او اسوېلي ببېرتـه زړه تـه تېـر کـړي، اوښکې مـو نـه دي تـویې کـړي، خـو د اوښـکو لمبې مـو لـه زړو نـه تاوې کړي دي. موږ درنه لاړو، خو ګورئ په تلو تلو کـې یـوه خبـره درتـه کـوو، چـې نـور خپـل ویاړونـه مـه نـړوئ، نـور خپـل ځلـي مـه ورانـوئ، نـور د خپلـو پلرونـو هډوکي مـه خرڅـوئ، نـور پـردي مـه پالئ، پردي نه خپلېږي، خپل مه پـردي کـوئ، هـو! دې طالبـانو نـه مې هم یوه ګیله ده، هغه هم داسې نه چې دوی د بتـانو او یـا زمـوږ مخالف دي، هغه دا ده چې د دوی د هر یوه په جیبونـو کـې یـو بـت څـه چې بتـان او عکسـونه دي، طالبـان خپلـه بتـان وېشـي، تاسـې

وګورئ چې د دوی د هر یوه په جېب کې څه پراته دي؟ کاشکې دوی له خپلو زړونو او جېبونو دا عکسونه او بتان لرې کړي وای او بیا یې نو که موږ نړولي هم وای، پروا یې نه کوله.

موږ خپلو افغانانو سره دا دوه زره کاله ژوند وکړ، دوی خو دومره لنډپاري نه وو، دوی خو پر مېلمه، سپینږیري، تورسرې او مظلوم سر ورکوي... موږ درنه ځو، خو تاسو ته ښېرې نه کوو، دعاوې درته کوو چې خدای ج مو نور ارام او سوکال کړه، ځکه تاسې ډېرې سختۍ لیدلې دي، په همدې کې یې وروستۍ خدای پاماني واخیسته او پر ځمکه راپرېوتل..."

# که طالبان سقوط شي؟

*طالبان به فراموش د دین کتاب کا*
*د دنیا کتاب به ګوري موږ به نه یو*

**عظیم رانګیزی**

دا لیکنه دطالبانو تر پرځېدو اته میاشتې وړاندې دهغوی دواک د اوج پرمهال لیکل شوې او همغه وخت په ګوربت مجله کې خپره شوې وه. دا لیکنه ما په بدل نامه کړې وه، خو هغه وخت مې په بدل نامه ځکه خپره کړه چې زما ژوند ته یې ګواښونه را ولاړولای شول، خو زما اصلي موخه دا وه په هرنامه چې وي خو چې دلیکنې پیغام خلکو او واکمنو ته ورسېږي. واکمنو هغه وخت خپل غاښونه ډېر وچیچل خو اصلي لیکوال یې پیدا نه کړای شو، د هغه وخت واکمنو خو دلیکنې دپیغام دعملي کولو لپاره نه یوازې دا چې هېڅ ونه کړل، بلکې منفي غبرګون یې هم وښود.

دا لیکنه ما د طالبانو تر سقوط وروسته په هیله مجله کې یو ځل بیا په خپل نامه ځکه خپره کړه، چې دا ښکاره کړم چې موږ وخت پر وخت خپل رسالت ترسره کړی یا په خپل او یا هم په بدل نامه. ددې لیکنې دخپراوي بله وجه دا وه چې ددې لیکنې زیاتې وړاندوینې اوس پر واقعیت بدلې شوې، که زموږ پرونیو واکمنو ځینو مشورو او نېکو نظریو ته ارزښت ورنه کړ، نو حال یې هغه شو، خو که زموږ اوسني واکمن بیا هم پر ملي ګټو ولاړو مشورو ته اهمیت ورنه کړي، نو حال به یې ترهغو پخوانیو بدتر شي. دادی دلته دا لیکنه دریېم ځل چاپوم. دا هم تاسو او دا هم ددې خپرې شوې لیکنې کټ مټ متن.

دا خو ټولو ته ښکاره ده چې په تېرو نږدې دوه نیمو لسیزو کې د افغانستان زیاتره سیاسي او پوځي ډلې له بهره خړوب شوي او لا

خړوبېږي، همدغه مغرض بهرني ملاتړ، افغاني ټولنه له یو سخت حالت سره مخامخ کړې، کله به پرې افراط واکمن وي او کله هم تفریط. یو وخت داسې و چې چا به خولۍ پر سروله، یا به یې سپینې جامې اغوستلې او یا به یې پینځه وخته لمونځ کاوه او ږیره به یې لرله، هغه نو بیا ((سخت اخوانی او یا هم د انګرېز بچی و)) سترګې به یې پرې پلستر کړې او ژوندی به یې تر خاورو لاندې کړ.
د (۱۳۵۷ل) کال د یوه بې ګناه زنداني د خولې خبره ده چې ویل یې: ((کله چې له ما څخه څارنوال پوښتنې پیلولې، نو د خپل څنګ ملګري څخه یې وپوښتل: د دې سړي جرم څه دی؟ ملګري یې ځواب ورکړ: صاحبه! دا مو بالفعل په لمانځه نیولی دی. بیا نو زه په دې جرم بندي شوم، او ترڅو میاشتې بند وروسته هسې د خپل بخت په زور را خلاص شوم.))
شل کاله وروسته بیا په دې بله خوا کې داسې یو افراط حاکم شو چې ږیره خریل شین کفر وګڼل شو، سر تور ګرځېدل، خولۍ نه پر سرول او یا لونګۍ نه تړل، د خدای (ج) او رسول (ص) له اوامرو نه بغې وګڼل شوه، موسیقي اورېدل، ساعتېري کول او یا په ډکه خوله خندا ټول حرام وګڼل شول او هغه څوک چې د دې کارونو تر سره کوونکي وي، هغه د سختې سزا وړ.
د څرخي پله همغه زندان چې شل کاله پخوا د ږیرورو، خولۍ والو، لونګۍ والو او نورو سپین پوښو شکنجه ځای و، شل کاله وروسته، د لنډږیرو، ږیرخریلو او سرلوڅو د وهلو ټکولو، ځوررولو او شکنجه کولو ځای شو.

اوس نو زموږ ټولنه د سیاسي لوبډلو له خوا د افراط او تفریط په جبل کې راګیر ده، کله به پرې افراط واکمنېږي او کله هم تفریط او هر کله چې پر یوه ټولنه باندې داسې حالات راشي، هلته به د یوه پر ځای دوه تنه له منځه ځي، لکه استاد الفت چې په ((دوه جنازې)) لیکنه کې د داسې حالات کیسه کوي، چې په یوه ورځ او یوه ساعت کې له یوه روغتون نه دوه تنه مړي رااوېستل شول، یو د وینې د لوړ فشار له امله مړ شوی و او بل د ټیټ فشار له کبله.

د افغانستان سیاسي ډلو هم همداسې وکړل، کله یې پر ټولنه افراط واکمن کړ او کله هم تفریط، کله یوه اړخ افراط وکړ، کله بل اړخ، خو تر منځ یې ولس لکه د ژرندې د دوو پلونو تر منځ لوېدلي غنم دل شو. دلته زیات وخت سیاسي او مذهبي ډلې په رنګ او لباس پورې نښتې دي، له مانا او محتوا سره سر و کار نه لري، فکرونه او سوچونه نه بدلوي، بلکې، خولۍ او لونګۍ بدلوي. دلته سرونه مهم نه دي چې څه په کې دي؟ خولۍ او لونګۍ مهمې دي. دوی په دې فکر دي، چې خولۍ او لونګۍ له سره لرې شوې او پر سر شوې، نو فکر هم ورسره بدل شو، نو ځکه خو شل کاله مخکې خولۍ او لونګۍ پر سرول جرم و او اوس یې نه پر سرول غټ جرم دی ان د کفر معادله ګناه ده. یو وخت په دفترونو کې په تېره بیا د کابل ښار په دفترونو کې ږیرور او بې دربشۍ سړي نه پرېښودل کېدل او چندان مقررېدل هم نه، خو اوس منځ ږیری سړی هم نه پرېښودل کېږي، د لنډږیري او ږیرخریلی ځای خو زندان دی. یو

وخت به نجوني په زور ښوونځیو ته بیول کېدلې، خو اوس یې په زوره له ښوونځیو څخه منع کوي.

لنډه دا چې اوس یو ځل بیا زموږ پر افغاني ټولنه یو داسې افراط واکمن دی چې تر تېر افراط یې هم، په افراط کې پښه اړولې ده. دا داسې یو افراط دی چې په ځینو برخو کې یې ان د نړۍ تاریخ تر اوسه پورې ورته بېلګې نه دي لیدلې.

خو اوس راځو دې ته چې ایا دا افراط به زموږ پر ټولنه تل تر تله همداسې واکمن وي او که نه له منځه به ځي؟ که له منځه ځي د دې بدیل به څه وي؟ په مقابل کې به یې غبرګون څه وي، او ځایناستی به یې څه شی وي؟

کله چې سړی په ذهن کې دا او دې ته ورته پوښتنې ګرځوي، نو د خپل هېواد د راتلونکي په باب یې اندېښنه نوره هم زیاته شي، ځکه د تېرو تجربو پر اساس موږ ولیدل چې د ((کمونستانو)) په واکمنۍ کې هغه ډول افراط پر ټولنه واکمن شو او د "بنسټپالو مسلمانانو" په واکمنۍ کې دغه بل ډول افراط: د طالبانو واکمني چې "د اسلامي انقلاب بشپړتیایي پړاو" ګڼل کېږي، د اسلامي شریعت په نامه داسې فضا پر ټولنه حاکمه کړه، چې "اسلامي شریعت" یې په اصطلاح د "عمل او کمال" پوړیو ته ورساوه. داسې شریعت یې نافذ کړ چې د بشریت د ستر لارښود حضرت محمد(ص) تر زماني وروسته بیا تر دې دمه یې چا ساری نه و لیدلی. (په سلو کې دوه سوه اسلام). په سلو کې دوه اسلام دا مانا لري، چې سل یې خپله اصلي بڼه او سل نور یې د طالبانو زیاته کړې برخه ده او دا

ټول یې بیا جګړه ځپلي افغانستان ته راوړی، چې پر اوسني وخت ټولو اسلامي او نااسلامي هېوادونو ته اړ دی او د همدغو اسلامي او کفري هېوادونو له خوا پر همدې برخلیك اخته شوی دی.

طبیعي خبره ده چې د طالبانو افراط نور د انفلاق او چاودنې حالت ته رسېدلی دی. ان خبره دې حد ته رسېدلې چې ډېر خلك له خپل دین ځنې واوړي، د ځینو خپرونو، اوازو او ګونګسیو له مخې تر اوسه پورې تر دوو لکو زیات افغانان عیسویان شوي او دا لړۍ لا دوام لري. د (UNHCR) په دفتر او د بهرنیو هېوادونو په سفارتونو کې ګڼ شمېر افغانانو داسې کیسونه هم ثبت کړي دي چې موږ اسلام پرېیښی او عیسویان شوي یوو، طالبان موږ وژني، نو ځکه باید موږ ته پناه راکړای شي.

ګڼ شمېر کسان د طالبانو له وېرې لمانځه ته ځي، دې کې داسې کسان هم لیدل شوي، چې بې اوداسه لمانځه ته تللي دي، مقصد له طالب نه یې ځان خلاص کړی دی. ږیرې هم همداسې درواخله، چې ډېرو زیاتو کسانو له وېرې پرې ایښې، په سلو کې تر پینځه ویشتو زیاتو کسانو چې نوې یې ږیرې پرې ایښې دي، څرګنده کړې چې ږیرې یې نه د اسلام او نه د خدای (ج) د رضا لپاره پرې ایښې دي، بلکې د خپلې حیا او عزت لپاره یې پرې ایښې دي، ځکه چې طالبان د ږیرې له خاطره د چا د حیا او عزت خیال نه ساتي، مانا دا چې اوس زموږ په ټولنه کې د انسان کرامت او عزت د هغه تر ږیرې ډېر راټیټ دی. ځینې کسان پر طالبانو باندې دا اعتراض هم لري، چې هر انسان د لوی خدای(ج) پر وړاندې مسوول دی، نه د طالب

پر وړاندې، سزا او بښنه يې هم د خدای(ج) کار دی، خو طالبانو د خدای(ج) د بنده ګانو د سزا مسوولیت پر خپله غاړه اخیستی، خو کله چې د ډوډۍ او نفقې مسئله رامنځته شي، نو بیا وايي: ((والله خیر الرازقین)) (الله روزي رسان دی)، [ولې يې له خدایه نه غواړئ چې له موږه يې غواړئ]. نو دې ښاغلو طالبانو ته باید وویل شي چې د ږیرې کار خو هم د خدای(ج) او بنده تر منځ خبره ده، نو ستاسو په کې څه کار؟ خو د ډوډۍ او کار پیدا کول لا د اسلام له نظره پر خلیفه باندې د ولس حق دی.

ځیني پر طالبانو باندې بل انتقاد هم کوي، چې په اسلام کې یوازې د عبادت برخې ته افراطي پاملرنه کوي او د ژوند نورې برخې ترې پاتې دي، په داسې حال کې چې اسلام د تعادل دین دی او د ژوند ټولو برخو ته يې د پاملرنې وړانګې رسېږي، خو دوی د نورو برخو مخه ډب کړې، ولس يې یوازې پر عبادت مکلف کړی او خپله همداسې په راټولولو کې دي؟

له امامته تر ریاسته او له مدرسې نه تر رشوته، ټول کارونه خپله تر سره کوي، د ورځې خرڅ يې پر دولت حواله دی او د شپې يې پر ولس. د ترافیکو ریاست، د ښاروالۍ د تنظیفاتو ریاست، د روغتونونو ریاست، د برېښنا ریاستونه، بانکونه او نور ټول مسلکي ځایونه چې د هغو د پر مخ بیولو لپاره ډېرو مجربو مسلکي کادرونو ته اړتیا ده، ټول ملا صاحبانو نیولي دي، ایا په ټوله افغاني ټولنه کې لس مسلمان انجنیران نه شته، چې لس مسلکي ریاستونه ورته ورکړل شي، یا لس مسلمان ډاکټران او ان

دوه ښه مسلمان ترافیکان نه شته، چې هر یوه ته خپل مسلکي پوست ورکړل شي؟ "د کار اهل ته د کار سپارل" خو لا د اسلام یو لارښود رکن دی که دا نه وای، نو څه حال به و؟

که ولس د ژوند په هره برخه کې لکه ټلوېزیون، انټرنېټ، هنر او یا کوم بل ژوندی شی وغواړي نو ملا صاحب بیا سم له لاسه وایي چې دا خو بدعت دی، ټلوېزیون د دجال نښه ده، تصویر حرام دی، خو خپله چې پېجېرو، ډاټسونو او نورو نویو موټرو کې ګرځي، ګرځنده موبایل ټیلیفونونه کاروي، هغه بدعت نه دی، لنډه دا چې د ملا صاحب او طالب په افراطي واکمنۍ کې ولس نور تر پوزې راغلی دی. که چېرې د کوم بهرني فشار، یا کورنیو مخالفتونو او یا هم د ولس د پاڅون په نتیجه کې طالبان په زور او یو ناڅاپي ډول راوپرځول شي، نو زموږ ټولنه به یو ځل بیا په بل چپي افراط کې راګیره شي او هغه افراط به د طالبي افراط سخت غبرګون وي، چې کېدی شي په دې لاندې برخو کې یې اټکل کړو:

*ږیره:*

لږ تر لږه درې ملیونه افغانان به چې د طالبانو د زیات فشار او ټینګار له امله یې ږیرې پرې ایښې، خپلې ږیرې به پر یوه ورځ کلې کړي او دا به د نړۍ د ټولو ولسونو د ږیر خریني په تاریخ کې یو بې ساری ریکارډ وي، چې افغانان به یې ټینګ کړي، لکه څنګه چې اوس د طالبانو په زور، افغانانو په نړۍ کې د ږیرو پرېښودلو یو بې ساری ریکارډ ټینګ کړی، داسې به یې په خریلو کې هم ریکارډ ټینګ کړي.

## بد حجابي:

د سخت بندیز پر وړاندې بې کنټروله ازادي رامنځته کېږي، د یوې ډېرې سختې بد حجابۍ د رامنځ ته کېدو وېره شته، د مخنیوي لپاره به یې هم څه امکانات ځکه نه وي، چې د حجاب دوران به تېر شوی ګڼل کېږي او پلویان به یې محکوم وي، دا به په لویو ښارونو کې ډېره زیاته بد اخلاقي رامنځته کړي.

## مذهبي او عقیده یي خلا:

یوه لویه مذهبي او عقیده یي خلا به رامنځته شي، ځکه چې د مذهب په نوم واکمنو به له مذهب څخه د خپلې واکمنۍ پر وخت د خلکو زړونه تور کړي وي، دې کې به مغرضو اشخاصو او د نورو ادیانو پلویانو ته هم لاره اواره شي، چې په افغاني ټولنه کې اسلام ضد پروګرام پلی کړي او خلك د ژوند په تضمین نورو ادیانو او مذهبونو ته واړوي.

## د ملا او طالب عاقبت:

دا یو څرګند حقیقت دی، چې ملا او طالب زموږ په ټولنه کې له اقتصادي پلوه یو نتلی او اسکیرلی پاړکی دی، چې د ژوند د خروب له پلوه د ولس پر اوږو بار و او د دیني نصیحت، وعظ او اخلاقي لارښوونو له درکه یې خپل ژوند خړوباوه، خو کله چې پر ولس واکمن شول، نو بیا یې د کلونو اقتصادي عقدې ټس له خپل ولسه ووېست، د دې لپاره چې د خپل فقر عقده خړوب کړي، په داسې ګاڼو کې سپاره شول، چې په تصور کې یې هم نه ګرځېدل او

هم د دویم او درېیم واده په لټه کې شول، دغه اوسنۍ اقتصادي برلاسي او هغه پخوانۍ اقتصادي تنګلاسي او له خلکو سره اوسنی ناوړه چلند به له ولس سره د ملا او طالب راتلونکې ګوزاره سخته کړي.

## غچ:

زموږ ټولنه یوه قبیله یي ټولنه ده، غچ، انتقام او بدل اخیستل د قبیله یي ټولنې یوه مهمه ځانګړنه ده، په اوسني وخت کې ملا او طالب داسې ځوك نه دي پرې ایښې چې یا یې په ږیره، ویښتانو، لمانځه، عشر، لباس، مسلك، وسلې او یا هم نورو ګڼو مسایلو نه وي ځورولي، ځرنګه چې افغانستان کې سیاسي دښمني او یا د مذهب په نامه د نورو توهینول هم پر شخصي دښمنۍ بدلېږي، نو طالبانو خصوصاً د امر بالمعروف کسانو داسې ډېرې دښمنۍ ځان ته کرلي دي، چې راتلونکي کې به یې اغزنه نتیجه تر لاسه کړي.

## د حل لاره:

سره له دې چې طالبانو تر خپلې واکمنۍ وروسته وختونو کې په خپلو کارونو کې دومره افراط وکړ، چې خلك یې د کرکې تر بریده له ځانه خوابدي کړل، خو بیا هم دوی ستر او لوی کارونه تر سره کړل چې سترګې ترې پټېدی نه شي، په سلګونو او زرګونو وړې او لویې پاچاهۍ، قومندانواکۍ، زورواکۍ او پاټکسالارۍ یې ختمې کړې، هېواد یې له تجزیې ځخه وژغوره، سوله یې ټینګه کړه، د واك یوه سرچینه او مرجع معلومه شوه. خو د دې لپاره چې دا ټولې بریاوې بېرته له لاسه ور نه کړي، د هغو نورو پر برخلیك اخته نه

شي او دا دومره ستړې سوبې بېرته په ربړه یا بلې ورې خبرې با ینلي او تول وخت همداسې په ربړه کې ګیر پاتې نه شي، نو ښه به دا وي چې دوی په خپلو تولو عملونو او چلندونو کې نرمښت او بدلون راولي او هغه هم سم نرمښت او مثبت بدلون.

چې ټکي کړي د دنیا لپاره جوړه
حــذر بویه له دې هسې طالبانو.
عظیم رانیزی

# چې طالبان سقوط شول

(درې ورځې په کابل کې)

**زه د طالبانو تر سقوط وروسته درې ورځې په کابل کې وم او بیا پېښور ته د خپلو فرهنګي کارونو لپاره لاړم، دا زما د همغو درې ورځو یادښتونه دي، چې بیا په هیله مجله کې هم چاپ شول.**

دسه شنبې ورځ کله چې سهار له خوبه پاڅېدم، نو راډیو مې چالان کړه، دسهار پر (۵،۳۰) بجو بي بي سي راډیو وویل، چې دشمال ځواکونه دکابل ښار ۶ کیلومترۍ ته رسېدلي دي او قوماندانانو یې هوډ کړی دی چې کابل ونیسي.

دهمدې سه شنبې پر شپه طالبانو له کابل نه خپل پوځونه په منظم ډول دجنوب، شرق او غرب پر لوري وکښل، طالبانو چې دشپې پر (۸) بجو دخپلو قطعاتو ایستل پیل کړي وو، دسهار تر (۶) بجو پورې په منظم ډول له ښاره ووتل. دسهار تر شپږوبجو وروسته په کابل ښار کې یو ځل بیا لوټ او تالان ګډ شو، ښځو، نرو، ماشومانو او ځوانانو زیاترو پر هغو دفترونو او ځایونو یرغل وکړ،چې د ډول ډول موادو هیله ترې کېده، دلوټ او تالان دا برید چې دسهار پر(۶) بجو پیل شوی و، ددې لیک تر لیکنې یانې (۱۰) بجو پورې یې دوام درلود ، یوې ښځې په داسې حال کې

چې چادري یې له سره لرې کړې وه، د اوږو یوه بوجۍ یې پر اوږه وه چې دمخ دواړه خواوې یې پرې سپېرې کړې وې، داسې ښکارېده چې د وړو بوجۍ یې کله یوې اوږې ته اړولې وې او کله بلې ته، نو ځکه خو یې مخ ورته سپېره کړی و، هغې سره اوس د طالبانو د امر بالمعروف دکسانو وېره نه وه چې مخ یې لوڅ دی او که پټ، یوازې پردې خوشاله ښکارېده، چې د وړو بوجۍ یې په نصیب شوې ده.

یوې بلې ښځې د غوړیو دوه پیپونه یو پریوه اوږه او بل یې پر بله اوږه ایښي وو، یو ماشوم سره څو ګیلاسونه وو او بل سره دلاتېین ښیښه، چا سره یو ډول فرشونه او ځینو سره ډول ډول کارتنونه، چې سړی نه پوهېده څه به په کې وي، خو چې په نوم بنیادم دې لیده یو شی پرې بار و.

موږ په شش درك کې د خپل کوربه له کور څخه ووتو او دهغه لوی سړك څنډې ته نږدې ودرېدو چې له شش درك څخه مستقیماً درېیم مکروریانو ته غځېدلی دی، زه د همدې شش درك له څو تنو نورو اوسېدونکو سره ولاړ وم او دخلکو بهیر مو کاته، ولاړ خلك هم خورا هك حیران وو، یوه یې په کې دا هم وویل چې یاره څه طالبان وو، چې چا ترې سوڼ هم نه شول کولای، کله چې هغوی کابل ونیوه، نو ستن هم ضایع نه شوه. خو اوس دادی بېرته هماغه حالت تکرار شو چې دمجاهدینو په راتګ سره راغلی و، په همدې ځای کې دپولیسو یو ماموریت هم و چې اوس په کې طالبان نه وو او تش و، خو له ماتو دروازو او کړکیو څخه یې ښکارېده چې یو تن په کې پر کار بوخت دی او څه راټولوي،

یـوه دقیقـه وروسـته یـو کـس غلـی راووت اولـه یـوې غـوټې سـره دکوځې پـر لـوري وخوځېـده، څـو دقیقې وروسـته دوه درې کسـان راغلـل، دوو سـره دوه پخـواني سـرپوښ توپکونـه وو، دوی پـه درې ژبـه خبـرې کـولې او ځانونـه یـې شـمال ائـتلاف تـه وفـادار کسـان معرفي کول، دوو یې اخوا دېخوا منډې کړې او لـه یـو څـو کسـانو څخه یې دغـلا مالونـه راتـاو کـړل او ماموریت کې یـې کېښـودل، ددوی شمېر لـړه شـېبه وروسـته لـس دولـس کسـانو تـه ورسـېده او تقریباً په څو دقیقو کې یې له پنځوس شـپېتو کسـانو څخـه مالونـه راتاو کړل او ماموریت کې یې کېښودل، بیا ماموریت تـه دهمـدې کسـانو وتـل ننوتـل پیـل شـول، څـو شـېبې وروسـته یـو کـس بـار لـه ماموریت څخه را ووت او بل پرې لـه لـرې غـږ کـړ: "چیسـت وبچـه، کی استي؟" خو دماموریت ددروازې ترڅنګ ولاړ یو کس پرې غـږ کـړ:" ازخود است".

سـرې غلـی شـو، دا کـار یـو دوه ځلـه بیـا هـم تکـرار شـو، دغـلا دا بهیـر ظـاهراً دشـش درك او درېـیم مکرویـان تـرمنځ پـروت، دحکومـت پـه لوژسـتیك ریاسـت کـې پیـل شـوی و، همدلتـه د استخباراتو څو نورې ادارې هم شته، غالباً چې هغـه بـه هـم لـوټ شوې وي، ما چې لـه څـو تنـو سـره دغـلا دبهیـر دا حـالات کتـل نـو ولاړو خلکـو ډېـر افسـوس کـاوه، سـره لـه دې چې دې کسـانو هـم کولای شول دغلا ځای ته چې یـوازې (۲۰۰) متـره لـرې و، لاړشـي او څه ترې راوړي، خو دا کار ورته ډېر بد ښکارېده او هغـو خلکـو ته یې هم بد بد کتل چې غلا یې کوله، په همدې شېبه کې یـوکس زموږ ترڅنګ په داسې حال کې تېرشو چې دبایسکل پـر کنجوغـه

یې د اوړو یوه غلا شوې بوجۍ تړلې وه، سلام یې واچاوه او بیا تېر شو، سترګې یې ټیټې وې او داسې ښکارېده لکه چې ډېر بد کار یې کړی وي، دده او د ولاړو کسانو د زړونو او فکرونو ترمنځ یوه سخته دردونکې رواني رابطه تېرو بېر شوه.

دغلا دې بهیر همداسې دوام درلود او زه کورته راغلم، دغه یادښت مې ولیکه، اوس چې لس بجې او پنځلس دقیقې دي غوارم یو ځل بیا له کوره ووځم او نورې پېښې هم ولیکم، خو ددې یادښت تر لیکلو چې مې کوم معلومات تر لاسه کړي، هغه دادي چې دښار په نورو برخو کې هم لوټ او تالان ګډ دی. په کابل کې دپیسو ادلون بدلون یو مارکیټ( سرای شهزاده) هم لوټ شوی دی او هم په ښار کې یو شمېر نور دکانونه تالا شوي دي. همداسې هغو کسانو چې له ښاره شش درك ته راغلي وو، وویل چې په ښار کې هم سخت لوټ او تالان ګډ دی، بانك چور شوی، دفاع وزارت، قول اردو، پامیرسینما، شاوخوا ځینې دولتي ځایونه او ګودامونه لوټ شوي دي. یوه کوچني هلك چې له کوم دولتي دفتر څخه یې غالۍ پټه کړې وه او په لاره کې روان و، یو وسله وال پرې برابر شو، ټوپکي ورته وویل: کجا میری؟ هغه و ډار شو ورته یې وویل: "اګر خودت کار داری، بریت میپرتم" ټوپکوال ورته وویل: ((پرتو.)) هغه غالۍ واچوله او ټوپکوال ژر قالینه پورته کړه او په یوه ټکسي موټر کې یې واچوله او پر خپله مخه لاړ.

دغه راز دشش درك په ماموریت کې هغه مالونه چې له تالانګرو څخه راګرځول شوي وو، له همدې ماموریت څخه په یوه کراچۍ کې بار او دځو تنو له خوا یوړل شول.

زه (۱۰) کم (۱۱) بجې له شش درك څخه دڅلورم مکرویانو په نیت وخوځېدم او غوښتل مې دکابل پوهنتون یو استاد ښاغلي غلام نبي فراهي کورته ورشم، تر نن (۵) کاله وړاندې هم دمیزان پر (۵) نېټه د همدې استاد په کور کې دغرمې مېلمه وم، چې طالبانو غرمه مهال دځرخي سیمه ونیوله او مازیګر ماښام کابل ته را ورسېدل، زه په دې نیت ددې استاد کور ته تلم چې که هغه څه معلومات ولري او ماسره یې شریك کړي، دشش درك - مکرویانو په لاره کې د بهرنیو چارو د وزارت یو تن مامور مخې ته راغی، چې پر سره سپورتي بایسکل سپور و او په تېرو اوو ساعتونو کې یې دکابل ښار یو شمېر سیمې لیدلې وې، هغه وویل: ((زه پر میوند جاده باندې پامیر سینما ته لاړم، زیاتره دکانونه تړلي وو، په دې سیمه کې چې څه دولتي موسسې وې هغه ټولې چور شوي. کلوله پشتې ته ورخېرمه سیمې ته ورغلم، دلته مې د طالبانو هغه ډاډسن ولیده چې نن شپه د امریکایي الوتکو له خوا ویشتل شوې وه او څلور تنه په کې مړه شوي وو، ډاډسنه ټوله سوې وه، دمړو اندامونه هرې خواته پراته وو، ده وویل چې د افغانستان بانك لوټ شوی و، له هغه ځایه د نوي ښار پارك ته لاړم، هلته هم شپږ مړي پراته وو، ویل کېدل چې یو په کې عرب دی او نور پاکستانیان دي.

دکابل ښار د امنیې قوماندانۍ مخې ته هم د یوه تن طالب مړی پروت و..."، کله چې دمکروریانو سیمې ته ورسېدم ، نو خال خال خلك په کې لیدل کېدل، موټر هم ډېر کم وو، کله چې د استاد فراهي کورته ورسېدم، نو هغه په کور کې نه و او په نوي ښار کې دخپل ورور کورته ورغلی و. بیا پر دولسو بجو او (۱۵) دقیقو په څلورم مکرویان کې زموږ خپلوان و دهغوی کور ته ورغلم، هلته زموږ یو بل خپلوان دعامې روغتیا وزارت د چور خبر هم راکړ او دا یې هم وویل چې په بي بي مهرو کې پنځه تنه پاکستانیان چې چادرۍ یې پر سر کړې وې، ونیول شول، دماسپښین مهال کابل راډیو فعاله شوه، چې ملي ترانې یې خپرولې. نن څلوربجې خبر شوم چې په شهزاده سرای کې (۴۵) دکانونه لوټ شوي، په مکرویانو کې دمهاجرینو ریاست او په نوي ښار کې دشهیدانو او معیوبینو وزارت هم لوټ شوی و، ځکه چې هلته یوه زیاته اندازه مواد وو.

دمازیگر پر (۳,۳۰) بجو دشش درك سیمې پر یوه خامه سړك دوو ډاډسنونو کې ناست پنجشېریان راغلل او د یوه سړي کور ته چې دوه شخصي موټر یې کور کې ولاړ وو، ور ننوتل، دواړه موټر یې ترې بوتلل او بیا یې په لاره کې پرې جنگ شو، یوې ډلې وویل چې موږ یې وړو او بلې ډلې وویل چې موږ یې وړو، خو په پای کې زورورې ډلې یوړل، په همدې ترخ کې یو پنجشېري غږ کړ "ببرش، مال اوغان است".

په مالیې وزارت کې هم دموټرو پر سر جګړه پېښه شوه. دهمدې ورځې پر(۶)بجو په کابل کې افغانستان راډیو چې طالبانو ورته دشریعت غږ رادیو نوم ورکړی و، بېرته دافغانستان رادیو په نامه یاده شوه او پر (۶)بجې په کې په فارسي ژبه لنډ خبرونه وویل شول، چې یو په کې د امنیت په باب یو خبر، بل د طالبانو له خوا دشلتړنو موسسې د (۸) تنو بهرنیو کارکوونکو دبیولو په باب یوخبر او بله یې هم د ملي بس دتصدۍ خبرتیا خپاره کړل. په راډیو کې تر پنځو کلونو وروسته ښځینه ویندویانو هم خبرې وکړې.

دچهارشنبې ورځ دسهار پر (۷) بجو او (۵۰) دقیقو ښاغلي محمد یونس قانوني له افغانستان راډیو څخه د افغانستان د اسلامي دولت دعالي شورا دغړي او دکابل د امنیت دعالي کمیسون د مشر په نامه خپله بیانیه واوروله، په دې بیانیه کې یې دافغانستان خلکو ته دکابل او هېواد دنورو سیمو دنیولو په باب مبارکي ورکړه او ویې ویل چې دا "دلوی مسعود" د اتلولیو نتیجه ده، طالبان یې د پردیو ګوډاګیان وبلل او دا یې هم وویل چې موږ خو کابل ته نه راننوتلو، خو څرنګه چې دلته شریرو عناصرو د ښار امنیت ګډوډوه، نو ځکه موږ دلته راننوتلو، خو ده دا ونه ویل چې ولې یې درنې وسلې او پوځي قطعات دکابل هغو برخو کې ځای پر ځای کړل چې پنځه کاله دمخه یې په هغو ځایونو کې طالبانو سره سختې جګړې کړې وې.

دکابل دنیولو پر درېیمه ورځ ښار ته ګڼ شمېر شمال پوځونه را ننوتل، چې دکابل پر څلورو دروازو یانې خپله د خیرخانې کوتل، چهاراسیاب، څرخي پله سیمه او ارغندي واټ (چوك) کې ځای پر ځای شول، دا ددې مانا لري چې دوی نه غواړي له کابل څخه ووځي، داسې اټکل شته که سیاسي حل پیدا نه شي، نو کابل به یوځل بیا دجګړو مرکز شي، خو پر همدې ورځ خبر شوم، چې په کابل کې پرون ورځ دفواید عامې وزارت او په کابل کې د افغاني سرې میاشتې ګودامونه هم لوټ شوي دي.

نن سهار لس بجې دشش درك په سیمه کې یو تن په داسې حال کې په وینو سور روان و، چې شاوخوا ترې ګڼ شمېر وسله وال کسان روان وو، ما چې دهمدې ځای له خلکو څخه، چې د همدې شخص دخلاصون په هیله شاته ورپسې روان وو، وپوښتل چې څه پېښه ده؟ دوی وویل دا یې په دې جرم نیولی دی چې طالب دی، خو مور ورته قسم خورو چې طالب خو لا څه والله که خو به یې تر اوسه لونګی هم پر سر کړې وي، دا چې پښتون دی ځکه یې وهي، وینې یې بهوي او بیا یې یې.

نن غرمه مې واورېدل چې په کابل ښار کې شپږ تنه نور هم وژل شوي او موټرې ترې وړل شوي دي. دا پېښې په داسې حال کې کېږي، چې دکابل غرب سیمې په باب لا تر اوسه حالات ډېر روښانه نه دي، ځکه هلته دوحدت حزب ځواکونه مېشت دي او ټاکل شوې وه، د هغوی یو زر تنه جنګیالي نن له بامیانو نه کابل ته راشي، خو داسې ویل کېږي، چې په میدان ښار کې دجهادي

قوماندان موسی خان له خوا یې مخه نیول شوې ده، دغه راز ویل کېږي چې دکابل اوسنۍ ادارې موسی خان ته ویلي، چې خپله وسله کابل ادارې ته ورکړي او هم وحدت حزب ته اجازه ورکړي چې کابل ته داخل شي، خو موسی خان دا خبره نه ده منلې او ویلي یې دي، چې زه یو جهادي قوماندان یم، دا وسله دملت ده او هر کله چې په افغانستان کې ملي دولت جوړ شو، زه به هغه وسله ورکړم، اوس ولس پر ما باور کړی او موږ ټول دروم یا ظاهر شاه دسولې د بهیر ملاتړ کوو.

پر همدې ورځ درېیو تنو وسله والو په پل باغ عمومي کې یو ټکسي ډریور او یو بل تن چې هغه سره ترڅنګ ناست و، دکلاشینکوف په ډزو وویشت، ټکسي چلوونکی ځای پرځای مړشو او دویم تن سخت ټپي شو، درې واړه وسله وال کسان وتښتېدل.

نن مازیګر په ښار کې دا اوازه هم وه، چې ګڼ شمېر انګلیسي ځواکونه دکابل په خواجه رواش هوایي ډګر کې راکښته کېږي. دغه راز کابل ته دشمال اتحاد داخل شوي قوتونو نن کابل ښارکې خپلو تشکیلاتو او مقرریو ته دوام ورکړ، دوی دکابل ښار دټولو امنیتي حوزو امرین پنجشېریان وټاکل، دغه راز یونس قانوني د کورنیو چارو وزیر ، جنرال فهیم ددفاع وزیر ، ډاکټر عبدالله دبهرنیو چارو او عبدالحفیظ منصور د اطلاعاتو او کلتور وزیر په توګه ټاکل شوي دي. دخاد ددرېیمې ادارې ریس او ځینو ادارو لپاره هم پنجشېریان ریسان ټاکل شوي دي.

دهمدې ورځې په ماښام خبر شوم، چې کابل ته د راننوتو پر وخت دنظار شورا دیو قوماندان بصیر سالنګي له خوا دسالنګ یو بل قوماندان اغا شیرین سالنګی چې څو کاله مخکې طالبانو ته را اوښتی و، دخیرخانې په کوتل کې په داسې حال کې ووژل شو، چې ددوی هرکلي ته ورغلی و، اغا شیرین له امان الله ګذر سره پر خبرو اترو بوخت و چې ډزې پرې وشوې او د ډزو په ترځ کې هم اغا شیرین سالنګی او هم محمود سرخه ووژل شول.

# ایا ټول پښتانه طالبان دي؟

## د تومتونو یار دې زه یم
## د پټاسو دستمال دې بر کلي ته ځینه

**دا لیکنه د طالبانو تر سقوط وروسته په مستعار نامه د هیلې مجلې د (۱۳۸۱ل) کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.**

دا خو ټولو ته ځرګنده ده چې پښتانه په افغانستان کې ښه ټاکونکې اکثریت دي او د هېواد په سیاسي او ټولنیزو بدلونونو کې پرېکنده رول لري، خو ددوی پر وړاندې د نورو له خوا ځینې تعبیرونه او نظرونه پوره دقیق نه دي، یا له ناخبرۍ دا نظرونه وړاندې کېږي او یا هم د پښتنو پر وړاندې قصداً داسې نظرونه او تعبیرونه تبلیغېږي، چې واقعیت نه لري. پر افغانستان د پښتنو (۲۵۰) کلنه واکمني، هر چارواکی او زورواکی او د هرې سیاسي ډلې مشر د پښتانه ټبر د استازي په توګه انګېرل، هغه مسایل دي چې که څوك یې ژورو ته متوجه شي، نو له واقعیت سره انطباق نه لري، د ساري په توګه پر افغانستان باندې تېره دوه نیم سوه کلنه واکمني، که موږ یوازې پښتنو ته منسوب کړو، نو بیا هغه قوت او هغه خلك څوك وو چې په دفتر او دربارکې یې

دعام پښتانه څه چې ان د واکمن ژبه هم تړلای او اړولای شوه، ددې خبرې مانا داده، چې په تېره دوه سوه کلنه دوره کې هم، پښتانه پوره حاکم نه وو، ان له فرهنګي او ژبني پلوه تر ستم لاندې وو.

خو دا ټوله دوره اوس د ځینو له خوا د پښتنو د واکمنۍ په نامه حسابېږي، له درې، څلورو لسیزو را په دېخوا د هېواد په سیاسي لوبو کې هر شخصیت او هره ډله چې د واک پر ګدۍ ناست دي، نو هغه وخت یې هېڅکله هم پښتو او پښتنونواله نه ده یاده کړې، چا د خپلې طبقاتي مبارزې د اصولو خلاف ګڼلې او چا د خپلې عقیدې پر وړاندې شرك ګڼلې، خو دا بې ژبې نسلي پښتانه چې کله د واك له ګدۍ را پرځول شوي، نو بیا ور پورې د پښتون نوم تړل شوی او هر کړی بد کار یې په ټول پښتانه ټبر پورې تړل شوی، خو د قدرت پر ګدۍ، خلقي، اخواني او طالبي پښتون یوازې خلقي، اخواني او طالب و، هره یوه خپله لاره لرله، پښتو او پښتانه یې د ایډیالوژۍ او فکر په چاپېریال کې نه ځایېدل. همدا خلك چې را پرځول شوي، نو بیا ددوی د عملونو ټس له پښتنو څخه اخیستل شوی او کفاره یې پښتانه ولس ورکړې ده. ښه به وي چې یو څو بېلګې هم وړاندې کړو:

١. **د خلقي پښتنو پړاو:** په خلقي پړاو کې د طبقاتي مبارزې شعار او بازار ډېر ګرم و، دوی د نړۍ د کارګرانو پیوستون غوښته، نه د پښتنو یووالی او ښېرازي، په دې پړاو کې یو شمېر ملتپال پښتانه دوی ته د مبارکۍ، مشورې او ځینو

اصلاحاتو لپاره ورغلل، دوی هغه د افغان ملتیانو په تور بندیان او په سزا محکوم کړل، د هغه لست له مخې چې خلقیانو د وژل شویو افغانانو په باب خپور کړ، پښتانه په کې غوڅ اکثریت دي، ځکه چې په پښتون مېشتو سیمو کې د اخواني ډلو تحریك او تحرك ډېر زیات و.

کله چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، حفیظ الله امین یې وواژه او پرځای یې خپل مسلکي غلام ببرك کارمل دکابل پر تخت کېناوه، نو د کارمل لومړۍ وینا دا وه چې: " رژیم خون اشام وفاشیستي حفیظ الله امین برای ابد از بین رفت". د امین د فاشیستۍ ثبوت دا و چې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال زیات پښتانه وژل شوي وو، بیا نو دوی د شوروي د ملاتړ تر سیوري لاندې په ټولو دولتي ادارو کې د پښتنو دکمولو پر پروژې پیل وکړ. اکثره پښتانه یې د امین د باند د غړو او فاشیستانو په تور له کاره ګوښه او یا هم د رتبې له مخې تنزیل کړل. د کارمل د دورې په پای کې د یوې شمېرنې له مخې له پوځ پرته په نورو دولتي ادارو کې د پښتنو ټول شمېر په سلو کې (۱۳) ته رسېده. په همدې دوره کې چې به هر چا له هره ځایه پر روسي پوځونو ډزې کولې، نو د پرچم ډلې او په تېره بیا ددې ډلې مربوطو ترجمانانو به روسانو ته ویلې چې دا خو ټول پښتانه دي، هغوی به نو بیا د پښتنو سیمو ته توپونه اړم کړل، خپله د روسانو لېوالتیا هم همدا وه، همدا کورنی او بهرنی عامل ددې سبب شو، چې ډېر پښتانه

د امین د بانډ او مجاهدینو په تېره بیا د ګلبدین حکمتیار د ډلې د پلویانو په نامه له منځه یوړل شي.

دې دورې ان اوه نیم کاله دوام وکړ، بلاخره خبره د ډاکټر نجیب الله واکمنۍ ته ورسېدله، دده په راتګ سره داسې تصورکېده چې پر پښتنو به پخوانی ظلم او فشار کم شي، په ځینو برخو کې دا فشار یو څه کم شو، خو په ځینو برخو کې د پخوا په پرتله هم زیات شو، علت یې دا و چې د روسانو اوږده ستراتیژي نه وه بدله شوې، ډاکټرنجیب له دومره ناوړه احتیاطه کار اخیسته چې په سلو کې یې **۹۵**فیصده خبرې په دري ژبه کولې او د هېواد لږه کیو ته یې تر حده زیات امتیاز ورکړی و، د هېواد ملي انډول یې خراب کړی و، خو هغوی بیا هم دی معاف نه کړ، د جبل السراج د تړون له مخې یې دده حکومت رنګ کړ او جنرال دوستم په پای کې وویل چې: "نجیب یك فاشیست بود".

۲. **اخواني پړاو:** پښتنو اخواني ډلو په ځانګړې ډول اسلامي حزب د خپلې مبارزې له پیله له قومیت سره دښمني لرله، په تېره بیا د جهاد په کلونو او د واك پر مهال یې ډېر د کار پښتانه له تېغه تېر کړل. قومیت ددوی د ایډیالوژۍ په دایره کې نه ځایېده، خو کله چې پښتانه اخواني ګروپونه په تېره بیا اسلامي حزب کمزوري شول او د واک له صحنې څخه وایستل شول، نو ددوی مخالفینو، (جمیعت او نظار شورا) ډېرپښتانه ددوی په تور له منځه یوړل، هرڅوك به یې چې خوښ نه شو، نو ورته ویل به یې: " تو ګلبدیني استي"، جمیعت او شورا نظار سره د مجاهد او

ملحد د توپیر خبره مطرح نه وه، په اصطلاح دوی کې هغه د چا خبره ګرد سره مجاهدین او ملحدین نه وو، ټولو یوه قومي لاره نیولې وه، یوازې دقومیت او ژبې پر شعار راټول وو، یو وخت خو داسې راغی چې رباني او مسعود نېغ په نېغه د روس له ګرېوانه (کولابه) سر راوکښه . کله چې د طالبانو اسلامي تحریك د رباني د جمیعت او د مسعود د نظار شورا پرضد جګړه پیل کړه، نو جمیعتیانو او د هغو بهرنیو ملاتړو تبلیغ او هڅه کوله، چې دې جګړې ته قومي رنګ ورکړي، طالبان چې اصلاً د مذهبي ولولې له مخې راپاڅېدلي وو، پر ملي او قومي مسایلو یې سر نه خلاصېده، په لومړي سر کې خو د حکمتیار د اسلامي حزب د له منځه وړلو لپاره ورته کندهار ته استاد رباني ښې بې درېغه پیسې هم ور ولېږلې، کله چې طالبان میدان ښار ته راغلل، نو مسعود ورته ورغی، خپله تومانچه یې ورته پر مېز کېښوده او ویې ویل:" صیب ما خو یك عسکر استیم اول غم حکمتیاره بخورید"، خو کله چې طالبان دوی سره مخامخ شول، نو بیا یې د پښتو او فارسي د جنګ تبلیغ ته زور ورکړ. طالبان هم لکه د اسلامي حزب په شان سوچه مذهبي حرکت و، قومیت او ملتپالنه یې یو شرك ګاڼه، د طالبانو امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد خپلو اندیوالانو ته په خصوصي ډول ویلي وو: "هغه څوك چې د پر د پښتو، پښتنو او ملت چیغې وهي یو څو تنه یې په دار کړئ چې نورو ته د عبرت درس شي".

له پښتنو سره د طالبانو بې تفاوتي، بدچلندي او ددوی د ملي شعور نشتوالی له دې څخه هم ښکاري، چې ډاکټر نجیب الله یې د خپلې واکمنۍ په پیل او قومندان عبدالحق یې د خپلې واکمنۍ په پای کې بې درنګه ووژل. دا چې ډاکټر نجیب الله او قومندان عبدالحق سره څومره د پښتنو درد و دا بېله خبره ده، خو وژل یې د طالبانو د ملي شعور د نشتوالي ثبوت دی، خو برعکس قومندان اسمعیل خان ژوندی ساتي او ددې دوو نورو غونډې چلند ورسره نه کوي. طالبانو د خپل واك په پای کې دا هم ونه کړل چې واك ملي خلکو ته پرېږدي، کله چې د نظار شورا ځواکونه د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې کابل ته ننوتل، نو یو ځل بیا یې خپل همغه تېر خصلت تکرارکړ، له لوټ او تالان نه نیولې، ددولتي واك تر انحصاره پورې ټولو چارو ته یې لاس واچوه، پښتانه یې د طالب او القاعدې په نامه له کاره ګوښه کړل او پرځای یې له یوې مخې دیوې ولسوالۍ خلك او نور پښتون ضد عناصر مقرر کړل.

اوس یې نو د روسانو په شان له امریکایانو سره هم ښه غوړه یارانه پیل کړې، لکه څنګه چې هغه وخت پرچمیانو روسانو ته راپورونه ورکول او د پښتنو سیمي یې د مجاهد مېشتو سیمو په نامه ځپلې، اوس اوس شورای نظار امریکایانو ته راپورونه ورکوي او د پښتنو سیمې ورته د طالب مېشتو سیمو په توګه ور معرفي کوي، دوی ته اوس ټول پښتانه طالبان دي، خپله هغه خبره یې اوس هېره ده چې ویل به یې" طالبان یك جنبش خود جوش است" او یا "ما یك عسکر استم اول غم حکمتیاره

بخورید". اوس یې د طالبانو د عملونو د کفارې بار د پښتنو پر اوږو ایښی دی، امریکایان هم د افغاني ټولنې پر داخلي جوړښت یا سم نه پوهېږي او یا هم خپله نه غواړي سر یې پرې خلاص شي.

که چېرې دا حالت همداسې دوام پیدا کړي، نو پښتانه به مجبور شي د ځان د خلاصون او ژغورنې په خاطر هرې ممکنې وسیلې ته لاس ور واچوي، بیا به امریکایانو ته هم ډېره ګرانه وي چې پر حالاتو کابو شي، د طالبي جګړې پر ځای به یوه ملي جګړه پیل شي. امریکایان به مجبور شي چې افغانستان پرېږدي او یا تر پایه یوې اوږدې جګړې ته چې د ویتنام تر هغې به ډېره زیانوونکې وي، دوام ورکړي. خو که چېرې امریکایان ووځي او یا یې هم تر اوسني حالت یې پالیسي بدله شي، د نظار شورا حالت به څه وي؟ طبیعي ده چې تر هغه بل ځل نه به بدتر وي، هغه بل ځل خو د ټولنې یوازې یو قشر یانې طالب راپورته شوی و او دوی یې ټول په غارونو نیوستل، خو که دا ځل ټول قومونه راپورته شول، نو داځل به چېرته ترې خلاص شي، خو مخکې تر دې چې حالات دې حد ته ورسېږي او یو ځل بیا په هېواد کې ډېرې وینې تویې شي، ښه به وي چې هم امریکایان د پښتنو پر وړاندې په خپله پالیسۍ کې تغیر راولي او هم نظار شورا له قومي تعصب او د واك له انحصار نه تېر شي، ټول یوه متعدله لاره خپله کړي، چې په افغانستان کې سوله او ثبات او یو قوي مرکزي حکومت رامنځته شي.

# القاعده که الفایده؟

**دا لیکنه د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته چې هره خوا کې د القاعدې د ځینې اوازې خپرې وې، ددې ډلې پخواني پلویان اوس ددې ډلې نوي دښمنان وو او د امریکا د مرستو سیلاب پرې را خور و، لیکل شوې او همغه وخت په هیله مجله کې چاپ شوې ده.**

د سپین سترګۍ په باب خو به دا اصطلاح هرچا اورېدلې وي چې وايي:"پلانی دومره سپین سترګی دی چې له کالیو سره دې په سترګو کې راننوزي" ددې اصطلاح شننه یا شان نزول دادی چې یو سړي به یو ناوړه کار کړی وي، ټول کلی او ولس به پرې خبر وي، دی په خپله هم په زړه کې پوهېږي چې دا کار خو مې کړی، خو بیا به هم پر دې خپل کار ځان منکروي، خو کله چې ورځخه وپوښتي چې ولې او څنګه دې دا کار کړی، نو ژر به درته ووايي، چا کړی؟ زه هېڅ خبر نه یم او له ټول کړي کار سره به دې په سترګو کې راننوزي؟ دا خو لا هغه سپین سترګي دي، چې له خپل کړي کاره منکر دي او ځان نا خبره او ناګار اچوي، خو اوس

داسې سپین سترګي پیدا شوي، چې نه یوازې له خپل کړي کار او عمل څخه منکر دي، بلکې هغه انجام شوی ناوړه عمل هم پر تا، پر ما او پر نورو را اړوي، یانې غل مه نیسه چې غل به تا ونیسي.

په افغانستان کې د دوه نیم لسیزې جګړې په بهیر کې بېلابېلو او مختلفو تنظیمونو او د هغو ډلواکو او ټولواکو مشرانو تر شمېره وتي جنایتونه کړي او یو شمېر یې لا اوس هم لګیا دي د خپلو جنایتونو لړۍ غځوي. عجیبه خو دا ده چې ددې ډلو رنګونه او ژبې دومره سره اوړي را اوړي چې سړی ورته حیرانېږي. پرون یې پلونه الوزول، نن ځان د هېواد معمارښيي، پرون یې جهاد افتخار باله او د روس پرضد جنګ فریضه، خو نن جهاد اشتباه بولي او له روسانو سره دوستي د ځان بقا، پرون یې دیموکراسي یو شرك باله او نن بیا ځان د دیموکراسۍ مدعیان ښيي، پرون یې په کابل کې د (۶۵) زرو کابل ښاریانو سرونه تولې کړل، خو نن بیا ځان د کابل د خلکو خواخوږي او دوستان معرفي کوي، پرون یې اسامه بن لادن په ښه شان او شوکت له سوډانه په اریانا افغان الوتکه کې افغانستان ته راوست، خو نن یې بیا د هغه د وژلو او شړلو لپاره امریکایي بمباریو ته هر کلی ووایه، پرون ورته د طالبانو جنبش، خودجوش تحریك و، خو نن بیا ورته ټول

تروریستان شول. لنډه دا چې پروني شعارونه له ننیو عملونو سره سل په سلو کې مخالف دي. خو عاملین یې په ډېره سپین سترګۍ د ځان د سپینولو هڅه کوي. د ډېرې حیرانۍ خبره داده چې دا ډلې او اشخاص نه یوازې پر خپلو ژمنو او وعدو ولاړ نه دي، بلکې خپل عملونه پر نورو هم تپلای او اړولای شي، کار خپله وکړي او اړوي یې پر بل، قتل خپله وکړي خو په جرم یې بل څوك نیسي. ښکاره بېلګه یې همدا القاعده تنظیم دی، چې د هغو بهرنیانو او همدغو کورنیانو له خوا چې دا اوس یې پرضد راپاڅېدلي، افغانستان ته رارسېدلی و. هغه وخت چې القاعده او اسامه بن لادن افغانستان ته وارد ېدل، نو نه پرې زموږ ولس خبر و او نه یې هم کومه لېوالتیا ورسره لرله، همدا تنظیمونه وو او د هغوی همدا بهرني ملاتړي، چې اسامه او القاعده یې د افغانستان لمن ته را ورسول. هغه وخت هم د اسامه راشن او خیرات همدې تنظیمونو ته چالان و او کله چې امریکایانو پر افغانستان برید وکړ او القاعده یې ډېره زیانمنه کړه، بیا هم د اسامه د ځپلو له لارې راغلې ګټه همدې جنګسالارانو ته رسېږي. زموږ ولس هغه وخت هم د القاعدې د شتون له کبله پر افغانستان باندې د لګېدلو بندیزونو زیان ګاللی دی او بیا یې د ځپلو له امله هم زموږ د خلکو کلي او کورونه بمبارېږي. اوس په حقیقت کې د نړۍ ګټو هېوادونو او په افغانستان کې جنګسالارانو ته

القاعده سازمان د عایداتو د یوې بنې سرچینې په توګه بدل شوی دی، کله چې امریکائیانو پر افغانستان برید کاوه، نو ګڼو هېوادونو لکه اندونیزیا ، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان او یو شمېر نورو هېوادونو سره یې د هغوی د همکارۍ له امله له لسګونو نیولې تر سلګونو ملیونو ډالرو مرسته وکړه، تر دې وروسته یې کورنیو جنګسالارانو او جګړه مارو ته نقدي انعام څه چې د افغانستان د حکومت واك هم وسپاره، له همدې کبله القاعده سازمان په افغانستان کې د بې قاعدې او بې سروبوله ډلو لپاره یوه بنه ګټندویه وسیله وګرځېدله او له همدې وسیلې څخه درګرده خپل ژوند خړوبوي او پړسوي.

یانې دا چې القاعده سازمان دې ډلو ته، پر الفایده تنظیم او الې بدل شوی دی، د ساري په توګه جمیعت او نظار شورا مړ ژواندي ګروپونه چې د طالبانو له خوا د مرګ پولې ته نږدې شوي وو، د القاعدې او امریکې د ټکر له امله بېرته را ژوندي شول او واك ته ورسول شول، خو طالبانو په دې ټکر کې خپل واك وځواك بایلود.

یانې دا چې القاعده تنظیم طالبانو ته په زیانمنونکي وسیلې او بې چوکاټه او بې قاعدې ډلو جمیعت، نظار شورا او نورو ته په الفایدې بدل شو. نظار شورا نه یوازې له القاعدې نه دداسې

الفايدې په توګه ګټه پورته کړه، چې ځان یې لـه مرګـه وژغـوره، بلکې له دې نامه څخه لا نـوره هـم ګټه پورتـه کـوي. د نظـار شـورا جنګي ډله اوس خپل ټول مخـالفین د طالـب او القاعـدې پـه نامـه یـادوي او هرڅـوك چـې یـې خـوښ نـه وي د القاعـدې پـه نامـه یـې تورنـوي او د بهرنیـو پـه مرسـته او مـټ یـې لـه منځـه وړي، کارونـه خپلـه کـوي او نـوم پـرې د القاعـدې ږدي، قتلونـه خپلـه کـوي او وژونکي یې القاعده ښیي.

کله ډاکټر عبدالرحمن ووژنـي او نـوم پـرې د القاعـدې کېـږدي او کله بیا حاجي قدیر ووژني پر طالبانو او القاعدې یې تاوان کړي، کله کله بیـا پـه کابـل او نـورو ښـارونو کـې بمونـه والـوزوي بیـا هـم پرې القاعده تورنوي، عجیبه خبره داده چې په دې ټولـو پېښـو کـې د نظـار شـورا هېـڅ لـوړ رتبـه او ټیـټ رتبـه غـړو تـه کـوم تـاوان نـه رسېږي، بلکې نـورو خلکـو تـه زیـان رسـي، نـو دلتـه پوښتنـه پیـدا کېږي چې طالبـان او القاعـده کـه دښمنـي لـري، نـو اساساً خـو یـې باید نظار شورا سره ولري، نه نورو خلکو سره، نـو کـه القاعـده او طالبان هم د نظار شورا مخـالفین لـه منځـه وړي، دا خـو نـو بیـا د نظـار شـورا دوسـتان دي، نـو دوی یـې بایـد د دښمنـۍ امتیـاز وانخلي. دا خبره ډېره بـاوري ده، چې القاعـده او طالبـان اوس پـه افغانسـتان کې دومره کمزوري شوي، چـې د دا ډول لویـو بریـدونو او وژنو توان نه لري، بلکې هغه څوك ددې بریـدونو تـوان لـري چـې

د طالبانو پر مقام کېنول شوي دي، نظار شورا اوس دا د ځان لپاره ډېره طلایي موقع ګڼلې، چې د خپل نامشروع واك د انحصار لپاره د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره هر ډول ناروا كار او جرم ته لاس واچوي او بیا خپل لاسونه په طالبانو او القاعدې پاك کړي او له دې لارې فایده اوچته کړي. دوی په خپلو دې ډول هڅو غواړي امریکائیانو ته هم وښیي چې ګورئ دلته اوس هم القاعده شته، ستاسو حضور دلته حتمي دی، ځکه چې دوی اوس پردې پوهېږي چې که دا نن هم امریکائیان له افغانستان څخه ووځي، نو د ولس د غوسې او قهر له امله په کابل کې د نظار شورا د ټوپکیانو واك تر میاشتې هم نه شي غځېدلای، نو ځکه د ځینو کتونکو په نظر اوس نظار شورا هڅه کوي، چې خپله هم دا پېښې رامنځته کړي، حالات نازك او خطرناك وښیي او له امریکا څخه ډول ډول نعمتونه، سوغاتونه او انعامونه ترلاسه کړي، نو ځکه خو القاعده نوم د پخوا په شان زموږ ولس ته دیوې ګرمې لمبې او نظار شورا ته د الفایدې په مانا دی او د همدې وسیلې په توګه كارول کېږي.

# غوړه مالي په سیاست کې

دا لیکنه هم د هیلې مجلې د (۱۳۸۲ل) کال په (۲)مه گڼه کې خپره شوې ده.

یاره ژوند هم عجیبه لوړې ژورې لري، وگړي په کې هر ډول ټیټ وپاس ته مجبوروېږي، هغه څوک چې د ژوند د ناخوالو دې ډول ټیټ وپاس ته سر نه ټیټوي او پر مستقیمه لاره روان وي، له غرونو سره سر جنگوي، په عامه افکارو کې دې ډول خلکو ته سرتمبه اشخاص ویل کېږي، چې د دوی په اصطلاح له حالاتو سره سازش نه کوي او خپله روزي په خپله لغته وهي، ډېر کم اشخاص د زمانې دې ډول تور وبریښ سره مقابلې ته تیار دي، خو کله چې بریالی شي، نو بیا سم بریالی وي، بیا د ټولنې نور گڼ اشخاص پرې راټول شي او ورته وایي چې یاره ښشکه چې ځان دې دې سختیو او کړاوونو ته ټینگ کړ، که څه هم موږ درته ډېر وویل، چې ډېر احتیاط پکار دی، د ټولې کورنۍ ژوند او خپل سر ته دې خطر دی، خو تاسو د خپل ژور فکر او ټینگ هوډ پر آس سواره وئ. په هېڅ ډول خطر کې دې رای نه وهله، نو همدا علت و، چې مقصود منزل ته ورسېدی، موږ هم ستاسو تر شا ولاړ یو، هر ډول خدمت چې وي په شپه او ورځ د سر په سترگو ورته تیار یو، خو اوس هم یوه مشوره درکوو، هغه دا چې ځان سره به ډېر احتیاط کوې، د سر دښمنان دې د سر تر وېښتانو هم زیات دي، خدای مه کړه چې څه خواشینوونکې پېښه رامنځته نه شي. چې ته نه یې بیا که ټوله دنیا موږ ته راکړي، نو موږ یې

څه کړو، ته اوس سر يې سر، نه دې دي اورېدلي چې سل دې ومره خو دسلو سر دې مه مره، نو که اوس ته پر موږ لورېږې د خپل سر خيال دې ساته. په ټولنه کې لوړ مقام ته رسېدلي دا ډول اشخاص چې خپل ځان د شهرت په دې ډول څپو کې ويني، نو ځان ترې ورک شي، ورو ورو يې منفي اړخونه پر مثبتو هغو زيات شي او د شخصيت دړنګېدو لاره يې اواره شي، کله چې دا ډول اشخاص له خپل برم او پر تمه راپريوزي، نو په ټولنه کې د نرمو او خوږو خولو خاوندانو ته يو ځل بيا د خبر بازار ګرم شي، څومره مې ورته وويل چې دا کارونه مه کوه، نو زموږ يې نه منل او د نورو يې منل، حال يې دا شو، ځينې بيا په کې دا هم وايي، ياره! ((که مې سل نصيحتونه ورته کړل- هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو)) ((نصيحت پر غافلانو اثر نه کا، د سړې اوسپنې خوشې ټکول دي)) ((زړګيه خوره داغونه چې زما دې نه منل- نصيب دې شول دردونه چې زما دې نه منل.)) عمومي ارزونه دا شي چې ټول مسئوليت له برمه غورځېدلي شخص پر غاړه پرېوزي او غوړه مالان له زيان او مسئوليته ځان يوې خوا ته ښه خوندي کړي، يو شمېر سياستوال او واکمن بيا داسې وي، چې غوړه مالي او غوړه مالان يې سخت بدي راځي، مخامخ ستاينه د غندنې په مانا انګېري، له همدې امله يو شمېر غوړه مالان غندي، غوړه مالي يې منع کوي او ان له دندو يې ګوښه کوي، له داسې اشخاصو سره په مقابله کې ساده غوړه مالان خپل مقام او موقف له لاسه ورکوي او يوازې هوښيار غوړه مالان خپله جاله پورې ويستلای شي، په اصطلاح دوديزه غوړه مالان ماته خوري او ځای يې ماډرن غوړه مالان نيسي-، د ترکيې اوتولې نړۍ مشهور طنز ليکوال عزيز نسين په عمومي ډول غوړه مالي پر دوه ډلو وېشلې: ۱- شرقي غوړه مالي ۲- غربي غوړه مالي.

عزیز نسین شرقي غوړه مالي یوه دودیزه غوړه مالي بولي، د هغه پـه نظـر په دې معاصر وخت کې یې نور ارزښت او اغېز له منځـه تللـی، پـه شرقـي غوړه مالۍ کې سـتاینه پـه مسـتقیم او مخـامخ ډول تـر سره کېـږي، جـار، قربان، بلا دې واخلم، ستا غـم دې پـر مـا شي او داسـې نـور الفـاظ ددې غوړه مالۍ افاده ییز لوښي دي. چې ډېر زیات سـولېدلي او کلیشـه شـوي دي، اکثره زاړه مامورین (متقاعدین) یې نوښته لیکوال اودرباري مامورین له همدې میتود څخه کار اخلي، د عزیز نسین په نظر په اوسني وخت کې غربي غوړه مالي د زیات چلند وړ ده، په غربي غوړه مـالۍ کـې هـدف پـه نامستقیم ډول انتقالېږي، نامستقیمه ستاینه چې په یو نه یـو ډول پـه دویـم یا دریم لاس مطلوب شخص ته ور ورسېږي، پـر هغـه شـخص ډېـره اغیـز ښندي، نظر دې ته چې خپله یې څوک د یو چا له خوا واوري.

لکه څنګه چې پر ماشوم بانـدې نامسـتقیمه ښـوونه او روزنـه زیـات اغېـز لري، او هغـه یـې بـې فشـاره او بـې تکلیفـه زغمـلای او جـذبولای شي، نـا مستقیمه ستاینه او غوړه مالي هم همداسې ده، عزیـز نسـین هـم پـه خپـل طنز کې د شرقي او غربي غوړه مالۍ دوه عمـلي بېلګـې د ښـاروالۍ د دوو مامورینو په وجود کې وړاندې کوي او وایي چې: شرقي غوړه مال د نوي ښاروال له تقرر او پېژندنې سره سم، هغه ته په دودیـزه غـوړه مـالۍ، جـار دې شم، زما د سترګو تور یـې، خـدای دې زمـا پـر سر همداسـې سـیوری لره... پیل وکړ،نوي ښاروال له غـوړه مـالانو سـخته کرکـه لرلـه او دا یـې د مشرانو د انحراف یو خطرناکه وسیله ګڼله، نوډېر ژر یې غړ وکـړ، چـوپ شـه غوړه مالي مه کوه، زما له غوړه مالانوبد راځي ، غوړه مال سم لـه لاسـه سر تر نامه پورې ټیټ کړ، او ویې ویل: (( پـه دواړو سـترګو څـه چـې حضـور فرمایي)) د دودیزوال تر څنګ بل مـاهړن غـوړه مـال مـامور هـم تشریـف درلود، چې له مودې راهیسې یـې د دودیـز وال غـوړه مـال، غـوړه مـالي

څارله، خو په دې ډول غوړه مالۍ کې یې مهارت نه درلود، نو ځکه خو په ښاروالۍ کې ډېر مطرح نه و، کله چې ماډرن مامور په دې پوه شو چې د زاړه مامور زړه غوړه مالي له موده لوېدلې اودنوي ښاروال دا ډول غوړه مالي بده راځي، نود خپل نوي هنر پر تمثیل یې پیل وکړ، په غرمنۍ کې به یې د ښاروال څنګ ته ځان ورساوه، ښاروال چې به د خوراک پر وخت د څښاک اوبو ته لاس کړ، نو ده به یې لاس ونیو، لږ په نسبتاً تروه لهجه به یې وویل (( فکر کوم دا اوبه تصفیه شوي نه دي که لږ انتظار وکړې، نو تصفیه او یا جوش کړې اوبه به در کړو نوښه به وي)) ماډرن غوړه مال به د ډوډۍ پر وخت له ښاروال څخه ترکاري او نور هغه څیزونه چې روغتیا ته د خطر د پېښېدو احتمال به په کې وو، دښاروال له مخې لرې کول، اوپر روغتیا ساتنه به یې ډېر ټینګار کاوه، ښاروال ورو ورو ځان سره داسې فکر کاوه، چې والله زما نږدې دوست هم دی دی. ځکه چې هېڅوک ان زما خپله کور ودانه زما د روغتیا دومره خیال نه ساتي لکه دی یې چې ساتي. نو د ښاروال په زړه کې یې زیات منښت او ګرانښت پیدا کړ، د ماموریت له عادي پوسته یې ورو مدیریت ، ریاست او بیا یې خپلې مرستیالۍ ته پورته کړ، کله چې ماډرن مامور د مقام اومنزلت لوړې پوړۍ ته ورسېد، نوزوړ غوړه مال یې یوه ورځ غلی دفتر ورغی تر دودیزې غوړه مالۍ او روغبړ وروسته یې ورته وویل: (( صاحبه زه خو په دې د زړه له تله خوشاله یم چې زما د شعبې یو مامور داسې یو لوړ مقام ته ورسېد، چې ان زما خولۍ هم ورسره غوړو کې لوېږي، خو اوس دا راته ووایه چې زه له دې خپلې دې پنځه ویشت کلنې تجربې سره سره وروسته پاتې شوم او ته ولې په دې کمه موده کې او کمه تجربه دا دومره لوړمقام اولوړې پوړۍ ته ورسېدې؟ فقط که په دغه راز مهارت او علت مې صیب سر راخلاص کړئ)).

مرستیال صیب ورننېږدې شو او ورو یې غـوږ کـې ورتـه وویـل: ((مـامور صیب ستا غوړه مالي چې ده هغه زړه غوړه مالي ده، دې ته شرقـي غـوړه مـالي وایـي، ددې دوران اوس تېـر شـوی، دا مخـامخ سـتاینه ده او زړه شوې، ددې دوران نور تېر شوی، اوس د نوې غوړه مـالۍ دوران دی،دې ته غربي غوړه مالي وايي، د غربي غوړه مـالۍ يـو اسـاسي رکـن نامسـتقيمه ستاینه ده، ددې ستاینې یو ډول دا دی چې ته په یو داسې ځـای کـې د غټانو ستاینه کوې،چې په هغه ځای کې دغټانو داسې څوک وي، چې ستا ستاینه هغه ته ورسوي، دا کار هغه ته داسې تلقینېږي، چـې گنـې دی زمـا رښتني دوست دی اوس پـوه شـوې کـه نـه ؟ دشرقـي او غـربي چـاپلوسي عمده فرق همدا مستقیمه او نا مستقیمه ستاینه ده هیلـه لـرم چـې اوس بـه دې سر خلاص شـوي وي)). زاړه مـامور ورو دتائیـد سر وخـوزاوه او ویـې ویل: ((رښتیا چې زما د غوړه مالۍ وخت تېر شـوی دی)). شرقـي ټـولنې اکثره سره ورته کلتور لري، ستونزې یې دي که نیمگړتیـاوې یـې دي، کـه ټولې سره ورتـه نـه دي خـو اکـثره یـې سره ورتـه دي، اوس راځـو خپلـې ټولنې ته، خپلې ښاروالۍ ته، خپل دربار ته، چـې دلتـه حـالات څـه ډول دي، ورته دي او که نـه دي؟ پـه افغـاني ټولنـه کـې د غـوړه مـالۍ لـړۍ د سلطان محمود غزنوي له دورې رانیولې بیا د کرزي صیب تر دربـار پـورې رارسېږي، د تاریخ په دې بېلابېلو پړاوونوکې دې ډول اشخاصو په ډله ییـز اویا هم په انفرادي ډول خپل شخصیت تمثیـل کـړی دی، دربـاري غـوړه مالانو دکار وروستۍ نتیجه دستایل شوي شـخص ناکـامي راوتـې، د غـوړه مالانو له لاسـه د دربـارونود ړنگېـدو غـټ علـت دا دی، چـې پـه دربـار او حکومت کې غټې او وړې نیمگړتیـاوې وي، کلـه چـې چـارواکي د خپـل دربار له غوړه مالانو څخه دخپل چار چلند پـه بـاب پوښـتنه وکـړي، چـې څنگه دي حالات؟ نو غوړه مالان لاس په نامه ورته وایي: صیبه کارونه ډېـر

ښه دي په دې ډول یې لومړۍ شخص محاصره کړی وي ، دا ډلې د ولس اودربار تر منځ حایل وي او هغوی هېڅکله د واقعیتونو لیدو ته نه پرېږدي، د دربار خپل ضرورتونه هم کله کله داسې وي، چې رسمي غوړه مالانو ته اړتیا لري، چارواکي په دې ډول خپلو هڅو ته د پخوا په شان دوام ورکوي اوپه پای کې ګړنګ ته برابر شي، متحدالمال غوړه مالان په ټولنه کې په عادي ډول له تقبیح او تطمیع پرته د عادت له مخې خپلې غوړه مالۍ ته دوام ورکوي.

د طالبانو د واکمنې پر مهال زما یو اشنا طالب چارواکي راته وویل: (( یاره یون صیب دا د پخوانیو اخبارونو کلیکسونونه که دې راته پیدا کړي وای، چې د هغو شاعرانو او لیکوالانو نومونه مې په کې پیدا کړي وای، چې کمونستانو ته یې شعرونه ویل، چې یو څه سزا خو ورکړو))، ما هماغه وخت طالب چارواکي ته وویل: ((اندېواله کلیکسونونو او اخبارونو ته څه ضرورت دی؟ همدا خپل ورځني اخبارونه وګوره، تاسو ته چې څوک شعرونه لیکي همدغه دي او بس، همدا راونیسئ اوسزا ورکړئ، ټول مشکل حلېږي))، طالب چارواکي وویل: ((دا څه وایې؟ )) ماوویل: ((ښځې واقعیت وایم،ځکه لکه څنګه چې ستاسو او ستاسو دنظام صفت کوي، داسې یې د تېرو هم کړی، اود سباني به هم وکړي، هغه شاعران چې تاسو نه ستایي، تېر نظامونه یې هم نه دي ستایلي اوسباني به هم ونه ستایي))، چارواکي وویل: (( مونږ خو یوه ایډیالوژي لرو، خلک مونږ د خپلې ایډیالوژۍ له خاطره ستایي)). ما وویل چې ایډیالوژي خو په واک پورې منحصره نه ده، طالب خو تر واک د مخه هم ایډیالوژي لرله، ولې چا نه ستایه، چې اوس یې ستایي؟ دا ټول د قدرت برکت دی، د ایډیالوژۍ نه دی، بل هر نظام ځانته یوه ایډیالوژي یا شعار لري، غوړه مالان او د سست فکر خاوندان ډېر ژر دې ډول ایډیالوژیو ته ور

تسلیمېږي، کله چې دا شعارونه د زور سرچینې لـه لاسـه ورکـړي، شـعارونه خپله اتومات ړنګ شي، طالب چارواکي یـو ځـل بیـا وویـل: ((والله رښـتیا دي وویل، خو یوه خبره ده، دا کسان چې ته یې یـادوې والله ښـه خلـک دي، نیمه شپه چې زه ورته ټیلفون وکړم، چې هله په دې موضوع راته یـو شعر یا لیکنه راولېږئ، سبا یې وختي دفتر ته را رسولې وي، تاسـو غونـدې خلک والله که د یو نظام په ښه هم راشئ، یو کرښه هم چاتـه نـه لیکـئ)). طالب زما شخصي ملګری و، ګپ ته مـو دوام ورکـړ، مـا وویـل کلـه چـې د طالبانو واکمني ړنګه شي، نو تا به بېرته کویټې تـه پنـاه ور وړې وي. کابـل کې به ستاسو پر ځای یو پښتون دښمنه واکمني رامنځته شي او ستاسـو پـه نامه به له هر پښتون څخه غچ اخلي، نو کېدی شي زموږ غوندې خلکو هم په کابل کې ګوزاره ونه شي، بیا نو چې کله کویټې کې سره مخامخ شو، نـو بیا به ګورو چې د چا خبره کره ده. همدا د طالبانو نظام و، چې یـو نـاظم شاعر اشنا مې مخې ته راغی او په پېښور کې په موټر کې سره همسـفر شـو، شاعر راته د مرحوم امان الله ساهو نه ډېر سر وټکاوه، ماترې پوښـتنه وکـړه، ولې ساهو صیب خو ډېر د کار سړی و، ذهناً او روحاً یې تر مادیـاتو سـویه اوچته ده، هغه وویل ما د خپلو شعرونو مجموعه چاپوله، دا د مجاهـدینود حکومت دوره وه، پر خپل ځاني لګښـت مـې دا مجموعـه چاپولـه او ددې لپاره مې یو څه لګښت برابر کړی و، کتاب مې ساهو صیب ته د ایـډیټ او کمپوز لپاره ورکړ، هغه ما باندې د کمپوز دومره پیسې کېښودې چې ټـولې تیارې کړې پیسې مې په کمپوز ورکړې او چاپ ته یې هېڅ پیسې پاتې نـه شوې، هماغه و چې د شعر مجموعه مې چاپ نه شوه، سره له دې چې هغه وخت زه له ساهو صیب څخه ډېر زیات خفه وم، چې ولې ددومره اوچتـې پایې سړي داسې کار راسره وکړ، خو اوس ترې ډېر زیات خوشـاله یـم، مـا وویل د خوشالۍ علت دې څه دی، ده لږه مالګینه خندا وکړه، یون صېب

تانه به يې څه پټوم اصلي خبره داده چې دا شعرونه ټول ما دمجاهدينو په دوره کې ويلي وو، مجاهدينو اود هغوی د قومندانانو ډېر زيات صفتونه پـه کې راغلي وو، کله چې طالبان راغلل، نو دا ټول يې پسې واخيسـتل اوس اکثرو ته ټوپکيان او پاټکيان وايي، زما پـه شـعرونو کـې د هغـوی د اکـثرو نومونه هم راغلي وو، نو که چېرته دا مجموعـه چـاپ شـوې وای، اوس بـه طالبانو زه له سپېږمو نه تړلی وم، خـو د خـدای فضـل و چـې دا مجموعـه چاپ نه شوه او هغه تاوان باندې هم خوشاله يم چې په کمپوز راغی او پـه دې هم خوشاله يم چې نورې پيسې راسره نه وې، کـه نـورې پيسـې راسره وای نو هماغه وخت مې چاپوله، خو خدای به مې پرده کړې وه، ما وويـل ښه نو اصلي خبره دا ده چې ساهو صيب ته دعا کوې، چـې دا رسـۍ يـې له غاړې درته وېستې ده، ده وويل خدای دې خير او برکت ورکړي، ساهو صيب لا هغه وخت ژوندی و، د دنيا له بدرنگيو سره يې ډغرې وهلې، چې يوه ورځ مې په يوه ناسته کـې ورسره همـدا بحـث وکـړ، هغـه کـټ کـټ وخندل او زنگانه ته يې ټک وکړ، خدای دې دده کور له غنمو ډک کـړي، دا شعرونه مېړونه يې ماته راکړل، راته يې وويل چې دا هم کمپـوز کـړه او هم ايډېټ کړه او بيا پرې يوه سريزه هم وليکه او گوره چې په سريزه کـې راته لـږ پـام وکـړې، مـا چـې کلـه دا نظمونـه وکتـل، نـو لـه يـوې مخـې د مجاهدينو د قومندانانو ستاينې وې او داسې ستاينې چې خپله مجاهـدينو هم نه شوې زغملای، بل سـړيه تـه خـو ټـولې دنيـا تـه معلـوم يـې چـې د مجاهـدينو سـيوری دې پـه کـاڼو ويشـته، کـه يـو مجاهـد د کـوم مجاهـد قومندان صفت وکړي، نو څه بلا ورپسې، نو ته خـو داسـې يـو څـوک يـې چې په خلقي- پرچمي نظام کې تر ټولو منلی شخص وې، جهاد موږ کـړی دی او گرم دا دی، ټوله نړۍ حيرانه ده، چې له دې قومندانانو نه دا ولـس ځنگه وژغوري اودا يې ستاينه کوي، لنډه دا چې دا نظمونـه مـې ولوسـتل

او زما يو ملګري ته مې ورکړل چې ورته کمپوز يې کړي، په دې فکر کې وم، چې په څه ډول يې د چاپ مخه ونيسم، ځکه دا نه يوازې خپله ده ته په تاوان ده، ځکه چې سبابل نظام راشي په دې مجموعه به دده پوستکي وباسي، بلکې پښتو ادب ته سپکاوى دى، چې په اوسني ادبي بهير کې داسې نمونې په اصطلاح شعري ټولګې ټولنې ته وړاندې کوي، مونږ د جهاد په ګرمو کلونو کې په سپېدې مجله کې داسې شيان نه دي چاپ کړي، نو اوس چې جهاد ختم شو ولې دا شعارونه له موږه تېر شي.

نو فکر مې وکړ چې د ده دا بېله کړې پانګه په کمپوز مصرف کړم، د کمپوزر ورځ به هم ښه شي او دا به هم ژر ددې وس پيدا نه کړي چې بيا پيسې راټولې کړي او دا مجموعه چاپ کړي.کله چې دفتر ته راغی ما وويل صيب دا خو غټه مجموعه ده څومره پيسې دې ورته تيارې کړي، هغه وويل (...) کلدارې، ما ويل داخو يوازې د کمپوز هم نه کېږي، نو چاپ به يې په څه شي کوې، سړی ډېر حيران پاتې شو ويې ويل، خير دچاپ غم به يې بل وخت کوو، نو تيارې کړې پيسې يې په کمپوز کې لاړې اومجموعه يې تر ننه چاپ نه شوه او زه پوره يقين لرم چې نن به ماته دعا کوي، ناظم شاعر په موټر کې ماته وويل، چې يوه مجموعه خو د ساهو صېب له لاسه هغسې شوه، چې کيسه مې درته وکړه، اوس مې يوه بله مجموعه تياره کړې که ددې غم راته وخورې کمپوز يې کړې، ايډيټ يې کړې او يوه ښکلې غونډې سريزه پرې وليکې او چاپ يې کړې، ما وويل، نه څنګه د ساهو صيب غوندې يې غم وخورم، که بل ډول هغه په خندا شو نه بل ډول، ما ورته وويل مونږ د شعرونو مجموعه نه چاپوو، علمي، تدريسي، څېړنيز او نور کتابونه چاپوو،خو زه دومره کولای شم

چې ستا مجموعه یو ښه کمپوزر ته ورکړم، خو شرط به په کې دا وي چې هېڅ داسې شعر به په کې نه پرېږدم چې په هغه کې د طالب او یا کوم بل زورور ستاینه راغلې وي، ښه په خنداشو ویې ویل: داشعرونه ټول د طالبانود دورې شعرونه دي، طبعاً د هغوی ستاینه په کې شته، ما ورته ویل چې زه خو داسې شعرونه نه پرېږدم چې د طالبانو ستاینه په کې وي، هغه بیا په خنداشو، یون صیب د همدې لپاره دا مجموعه تا له درکوم چې ته په کې چاڼ وکړې مانه هسې توکلي ستاینه کېږي، په ځان هېڅ نه پوهېږم، خو دخلکو صفت راځخه کېږي، ما ورته وویل یو ځل خو ساهو له مرګه ژغورلی یې، دا ځل به دې زه انشاالله له خطره بچ کړم. ځکه چې طالبان به اخر له منځه ځي او بیابه خلکو ته د طالب د ستاینې په جرم نیولی یې، ښه دا ده چې همدااوس ترې تېر شې، طالب بې له هغې هم تا ته چندان ارزښت نه درکوي، چې صفت یې وکړې، او که ونه کړې. په طالبي پړاوکې هم ددې ښاغلي ناظم د نظمونو ټولګه چاپ نه شوه، دا ډول ناظمان زموږ په ټولنه کې یو نه دي په لسګونو دي. یوه ورځ په دفتر کې ناست وم چې زموږ یو ملګري عزت الله شمسزي ته له بهر نه ټیلفون راغی، هغه د (...) صیب د شعرونو پر کمپوز باندې چټک او ضربتي کار پیل کړئ، کله چې مې شمسزي نه پوښتنه وکړه چې څوک یادوې؟ ولې نه یې پېژنې؟ (..)صیب ! ما وویل هغه خو قومندان نه و څه؟ اوس شعرونه لیکي، شمسزي یو غټ ناچاپ کتاب زما مخ ته کېښود، ما چې لږ سر سري وکوت د شعرونو ښه ((ګل ګلزار)) په کې جوړ و، یوقومندان او بل قومندان یې ښه د مزې سپک کړي او ټولې ناخوالې یې ورته یادې کړې وې، په نظمونو کې یې وزنې تېروتنې هم وې، شمسزي ته مې وویل: څه

کوې دې سره؟ هغه وویل: زه خو دا سړی ښه نه پېژنم، خـو د چا لـه خـوا چې رالېږل شوی هغه زموږ او ستاسو ملگری دی، خفه کولې یې نه شو،که نه دا مجموعه خـو والله کـه پـه چـاپ ارزي، دا ډېـر لگښـت هـم غـواړي، تقریباً پنځه سوه یا شپږ سوه مخه کېږي، زه به یـې ورتـه د (...) پـه سـترگو کمپوز اوایډیټ کړم که نه خو دچاپ وړ نه ده، ښاغلي عـزت الله شمسـزي دا مجموعه په ډېر تکلیف کمپوز او ایـډیټ کـړه، وزني تېروتنـې یـې هـم ورسمې کړې او چاپ ته تیاره شوه، دکمپوز ټـول لگښـت یـې دولـس زره کلدارې شو او د ایډیټ حق الزحمه یې ده ورته معاف کړه، لازمه وه چـې د شعرونو یا نظمونو لیکونکی د کمپوز لگښتت راولېږي او خپلـه مجموعـه چاپ ته یوسي، د کمپوز په بهیر کې د مجموعې د خاوند له خوا پرله پسې ځوابونه راتلل چې کمپوز څنگـه شـو؟ کلـه چـې کمپـوز خـلاص شـو ، نـو شمسزي ورته وویل چې څوک راولېږه چې مجموعـه یـوسي، دې وخـت کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ ټکر پیښ شـو، پـه نتیجـه کـې د طالبـانو نظام ړنگ شو، پر مجموعې څومیاشـتې تېـرې شـوې، د شمسـزي لـه خـوا ځواب ورولېږل شـو، چـې د کمپـوز لگښـت راولېـږه، د مجمـوعې خاونـد وویل: وروره لگښت مگښت نه شته، اوس خو طالبان سقوط شـول،زما پـلار هم دا شعرونه چاپولای نه شي، وروره زه ښخي له مجموعې تېر یـم تـه لـه کمپوزه تېر شه، تا ته دې درپاتې وي. د یو نـاظم لـه خـوا د پـردۍ غـوړه مالۍ نتیجه دا شوه، چې شمسزي په کې دولس زره کلدارې تاوان وکـړ، د انفرادي غوړه مالۍ خو دا حال و، په دربار کې هم دا حال دی، د کـرزي صیب په دربار کې دوه ډلې خلک زیات اغېـز لـري، یـو د ټوپـک پـه زور واک ته رسېدلي اشخاص او دویم غوړه مالان.

د ټوپک په زور واک ته رسېدلي اشخاص د هرې خبرې د ویټو کولو واک لري او درباري غوړه مالان پر دې بریالي شوي چې ځان ته په دربار کې ځای پیدا کړي او د نورو با استعداده کسانو مخه ډب کړي، په اکثرو هغو برخو کې چې ولس له حکومت څخه د زیاتو کارونو هیله لري، د همدغو دوو ډلو له خوا له ځنډ وخنډ سره مخامخېږي.

که چېرې په دربار کې همداسې حالت روان وي، نودا دربار به هم د نورو دربارونو پر برخلیک اخته شي، په مجموعي ډول په سیاست کې د کینې او ښـي شرقـي او غـربي غـوړه مـالی نتیجـه د حکومتونـو او مـوثرو اشخاصو له منځه تلل دي اوبس.

# په افغانستان کې د نوې سرشمېرنې په باب څو اندېښنې

**د بن تر پرېکړې وروسته د منځمهالې ادارې په بهير کې د سرشمېرنې د ترسره کولو اوازه وه او په دې اړه تشويشونه وو، دا ليکنه ما د همدغو تشويشونو په اړه ليکلې او هماغه وخت په گوربت مجله کې چاپ شوې ده.**

دې کې هيڅ شک نه شته، چې په هره ټولنه او هېواد کې د هغو د وگړو دقيقه سرشمېرنه د هغو ټولنو او هېوادونو د اقتصادي ودې، ټولنيزې سوکالۍ او فرهنگي سمون لپاره يو اساسي کار او عامل دی. له يوې عادي کورنۍ نه نيولې بيا د هېواد ترکچې پورې د ټولو ورځنی او کلنی لگښت، گټه او عايدات د هغو د شمېر له مخې معلومېږي.

سرشمېرنه د څو مشخصاتو له مخې ترسره کېږي او د هرې برخې د اړتيا د پوره کولو او پرمختيا لپاره پلانونه جوړېږي، لکه د جنس، عمر، زده کړې، سيمې، قوم او نورو ځانگړنو له پلوه. په هغو هېوادونو کې چې يو واحد قوم اوسي او د ملي شعور کچه يې اوچته وي، که له هره پلوه سرشمېرنه ترسره شي، نو له چا سره تشويش ځکه نه وي، چې په سرشمېرنه کې د درغلۍ امکان نه وي او څوک نه وي چې د ټولنې کومه خوا درنه او زياته وښيي، خو په هغو هېوادونو کې چې د اکثريت تر څنگ نور قومونه يا اقليتونه اوسېږي، په دې هېوادونو کې تر ټولو حساسه او

جنجالي موضوع همدا سرشمېرنه ده. په ځانګړې توګه که په دې هېوادونو کې سیاسي ثبات او عادل حکومت هم موجود نه وي. که اکثریت د زور او فشار له امله د واک ټول امتیاز ترلاسه کړی وي، نو بیا خو د اقلیتونو یا لږه کیو پر سر خاورې دي او که چېرې د کومې بهرنۍ لاسوهنې او یا هم د کورنیو عواملو له کبله واک کوم اقلیت ته رسېدلی وي، نو بیا خو دوی د خپلې دایمي بقا او د واک د انحصار لپاره هڅه کوي، چې په هر ډول خپل شمېر زیات وښیي او پر سرشمېرنې خپل اغېز پرېباسي.

افغانستان کې د اکثریت ترڅنګ ګڼ شمېر لږکي قومونه هم اوسي، چې ټول په ګډه د افغان ملت هډونه جوړوي، زموږ په هېواد کې سرشمېرنه او د هر قوم د نفوسو شومره والی هغه جنجالي مسئله ده، چې حل یې ضروري دی. د یوه قوم مدعیان هم پر خپل شمېر قانع نه دي، له کلونو راهیسې له سرشمېرنې څخه یوه حساسه سیاسي موضوع جوړه شوې، ځینو له دې موضوع څخه سیاسي ګټه پورته کړې او ځینو زیان زغملای دی.

دې کې هېڅ شک نه شته چې ټول افغانان په دې نظر دي چې په افغانستان کې یوه دقیقه او ناپلوې سرشمېرنه تر ډېرو کارونو یو مهم کار دی، خو سرشمېرنه به د چا له خوا کېږي او څرنګه به ترسره کېږي؟ په افغانستان کې اوس سرشمېرنه د هغې د ټولنیز، اقتصادي، فرهنګي او نورو ارزښتونو په پرتله زیات سیاسي ارزښت لري. د سیاسي ارزښت په ټاکنه کې لوری یا طرف ډېر زیات رول او اغېز لري، نو دلته هم همدا پوښتنې رامنځته کېږي، چې دا سرشمېرنه به د چا له خوا ترسره کېږي؟ د چارو عملي مامورین به یې څوک وي؟ له کومې سیاسي ډلې سره به خواخوږي لري او د چا له خوا به ګومارل شوي وي، د دې پوښتنو تل ته چې څوک

ننوزي، نو بیا ورسره دا تشویشونه پیدا کېږي، چې کېدی شي په سرشمېرنه کې درغلي وشي، دلته به د ځینو هغو تشویشونو یادونه وکړو چې د اکثریت افغانانو په زړونو او فکرونو کې په دې باب موجود دي:

۱- ځینې خلک په دې خبره خوشاله دي، چې د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو او لویو ځواکونو ښه دخیله ده، نو کېدی شي، دوی په سرشمېرنه کې مرسته وکړي او دقیقه سرشمېرنه ترسره کړي. دا د یوې فکري فرضیې په توګه ښه نظر دی، خو په خواشینۍ سره باید وویل شي، چې په عملي ډول په افغانستان کې ملګري ملتونه، د امریکا متحده ایالات او اوس وخت نور مطرح هېوادونه لکه ایران، روسیه، هند او نور د هېواد د اکثریت (پښتنو) پر وړاندې د کورني ائتلاف، چې په سر کې یې د نظار شورا ګروپ دی، برخه ګرځېدلي دي او همدوی د نظار شورا اساسي ملاتړي او سپورټران دي. له بهرنیانو سره خپلې سیاسي ګټې مطرح دي، نه په افغانستان کې د اقلیت او اکثریت حقوق او نه دکوم یوه بشپړه سوکالي او ارامي. اوسمهال د نظار شورا او د همدې بهرنیانو سیاسي ګټې پر یوه لیکه ولاړې دي، څه چې دا هېوادونه غواړي هغه نظار شورا تر سره کوي او څه چې بیا د نظار شورا کورنۍ غوښتنې او د واک انحصار دی، هغه بیا هغوی ورته ترسره کوي. د همدغسې یو سیاسي سازش په نتیجه کې د هېواد نور قومونه په تېره بیا اکثریت پښتانه له خپلو اوسنیو سیاسي حقوقو محروم شوي او د نورې محرومېدنې اټکل او امکان هم شته. یو څو بېلګې به یې هم وړاندې کړو: د همدې ملګرو ملتونو، امریکامتحده ایالاتو او نورو په خوښه او فشار د بن ناعادلانه غونډه جوړه شوه او اساسي واک یې نظار شورا ته وسپاره، له یوې ولسوالۍ نه شپږ تنه وزیران شول. بیا یې د لویې جرګې لپاره ځانګړی ۲۱ کسیز کمېسیون جوړ کړ چې په هغه کې یې ۱۳ پښتون مېشتي ولایتونه له استازیتوبه محروم کړل، خو له

یو ولایت (پروان) څخه یې درېیو تنو ته په کې غړیتوب ورکړ. همدې کمیسیون بیا د بدخشان ولایت (۱۳) ولسوالۍ (۲۸) او د پنجشېر یوه ولسوالۍ څلورو ولسوالیو ته پورته کړې او د تنظیمواکۍ ناثبت شوي او شفاهي فرمانونه یې زموږ پر ولس تحمیل کړل، له اداري واحدونو پرته یې ناپښتون مېشته سیمو په تېره بیا تاجک مېشته سیمو ته د څوکیو شمېر زیات او د پښتون مېشتو سیمو هغه کم کړ، په انتصابي غړو کې یې هم ډېرې ډنډۍ ووهلې او څه چې یې خوښه وه، هغه یې وکړل. دا ټولې هڅې ددې لپاره وې چې په بېړنۍ لویه جرګه کې د پښتنو شمېر راکم کړي او دوی په راتلونکي کې هم ځانته یو حقوقي بنسټ جوړ کړي او د دوی په اند که اینده کې نورې لویې جرګې جوړېږي د همدې معیار له مخې باید جوړې شي، ځکه چې دا جرګه خو د ملګرو ملتونو تر قانوني چتر لاندې جوړه شوې ده. خو نظار شورا له دې ترکیب سره سره بیا هم په لویې جرګې کې سترګې خوږې نه شوې او د وېرې احساس یې وکړ، له خپلو بهرنیو پلویانو سره یې مزې وځغلول، خپل خوښې کابینه یې جوړه کړه او جرګې ته یې هم هېڅ وړاندې نه کړه. له دې بیان څخه مې مقصد دا و چې دغه بې انصافي چا وغندله او چا یې مخه ونیوله؟ ایا نړۍ نه پوهېږي چې په اوسني وخت کې واک له ملت سره دی او که یوې ولسوالۍ ته سپارل شوی؟ واک له ولس سره دی که له ټوپک او ټوپکیانو سره؟ هر کله چې څوک دې پوښتنو ته ځیر شي بیا پوهېږي چې راتلونکې سرشمېرنه به څرنګه وي؟

۲- په پیل کې داسې هیله کېده، چې ملګري ملتونه به د بن د پرېکړې پر اساس د سرشمېرنې لپاره یو ځانګړی کمېسیون جوړوي. خو اوس داسې څرګنده شوه چې دا کار یوازې د احصایې مرکزي ادارې ته سپارل شوی، چې اوس د نظار شورا تر واک لاندې ده، بهرنۍ سرچینې به له

دوی سره یوازې مالي مرسته کوي. که چېرې دا اداره د واکمن گروپ تـر سیوري لانـدې خپـل کـار تـه دوام ورکـړي، نـو پـوره بـاور دی چـې پـه افغانستان کې به د قومونو د نفوس شـمېرنې پـه برخـه کـې داسـې درغـلي رامنځته شي، چې نه یوازې افغانان، بلکې نړۍ به هم ورته حیرانه شي.

۳- دا خبره هم ځرگنـده نـه ده، چـې دوی پـه سرشـمېرنه کـې د ختـې (نسل) او ژبې ترمنځ توپیر کوي او که نه هر چا چـې دري خـبرې وکـړې، هغه تاجک او هر چا چې پښتو خبرې وکړې، هغه پښتون گڼـي، کـه ژبـه د قومیت معیار وگڼل شي، نو په افغانستان کې ډېر هغه قومونه یا د هغـو یـوه برخه چې خپله ژبه یې هېره کړې او بله یې خپله کړې، خپـل قومیـت لـه لاسه ورکوي، که ژبه معیار وگڼل شي نو هزاره گان هم باید په تاجکو ورگډ شي، خو واقعیت دادی چې هزاره ځان ته قوم دی او تاجک ځان ته، پـه هرات ښار کې یو زیات شمېر پښتنو قبیلو خپله ژبه هېره کړې، خو دغـه دا مانا نه لري چې تاجکان شوي، مانا دا چې هر دري ژبی تاجـک نـه دی او هر پښتو ژبی پښتون نه دی، دې ټکي ته باید په راتلـونکې سرشـمېرنه کـې خاصه پاملرنه وشي.

٤- په افغانستان کې ځینې نور داسې قومونه شته چې د سیاسي امتیاز او فشار له امله کېدی شي، خپل قومي هویت پټ کړي او واکمن گروپ یـې د خپل قوم په شمېر کې حساب کړي، د دې درغلـۍ احـتمال ډېـر زیـات دی. ښه به وي چې یوه بېلگه یې وړاندې کړو. په ننگرهار او لغمان کـې د یاد وړ شمېر پشه یان اوسي، دوی ځانگړی قوم دی او ځانگړې ژبـه لـري، ځرنگه چې د پښتنو په منځ کې اوسي نو دویمه ژبه یـې پښـتو ده. خـو پـه اوسني وخت کې د دوی یو څو تنه قوماندانان له نظـار شـورا سره اړیکـي لري او د هغوی له خوا ورته ویل شوي چې تاسو خو اصلاً تاجکان یاسـتئ او یو نیم ته خو یې چې تذکره ورکړې، نـو قـوم یـې ورتـه تاجـک لـیکلی

دی. دغه ډول سياسي، اقتصادي، امتيازونه او فشارونه او قومي درغلۍ د يوه قوم د هويت د ختمولو لپاره يوه هڅه ده او په راتلونکې سرشمېرنه کې د دې ډول هڅو احتمال خورا زيات دی.

۵- ډېرې پښتون مېشته سيمې د غرو او درو په لمنو او سختو ځايونو کې پرتې دي، چې تګ ورته خورا زيات لګښت او ستړيا غواړي، که چېرې د سرشمېرنې غړي ملي اشخاص نه وي، نو کېدی شي چې ډېرو سيمو ته د اقليمي، ترانسپورتي، امنيتي او نورو ستونزو له امله هېڅ لاړ نه شي او که همدا لاملونه پلمه کړي، کېدی شي ډېرې دا ډول سيمې بېخي له ياده وايستل شي او يا يې هم شمېر د اټکل له مخې ډېر کم وښودل شي.

٦- د اټکل او ځينو سرشمېرنو له مخې په افغانستان کې د کوچيانو شمېر دوه مليونه تنه شاوخوا اټکل شوی دی، څرنګه چې دوی دايماً په سفر کې وي، نو شمېرنه يې ګران کار دی او زيات لګښت غواړي، کېدی شي د سرشمېرنې مسوولين د دوی په باب هم همغه پورتنۍ پلمه تکرار کړي، نو دلته يې د حل ښه لاره داده چې د کوچيانو د شمېرنې لپاره خپله له کوچيانو څخه يو کميسيون جوړ شي او دا دنده هغوی ته وسپارل شي.

۷- په ځينو پښتون مېشتو سيمو کې دا دود اوس هم حاکم دی چې د خپلو ښځو نومونه چاته نه ښيي او دا سخت شرم ګڼل کېږي دا او دې ته ورته د نورو کلتوري ستونزو د حل لپاره ښه داده چې د سرشمېرنې په غړو کې د هرې سيمې خلک شامل وي، که چېرې په ځينو سيمو کې د ښځو سرشمېرنه ممکنه نه وي، نو د نارينه وو له شمېر سره دې مساوي او يا هم تر هغو يو دوه فيصده زياته ځکه اټکل شي چې د جګړې په کلونو کې د ښځو په پرتله د نارينه وو د تلفاتو شمېر زيات و.

۸- په مجموعي ډول ډېره د اندېښنې خبره داده چې د سرشمېرنې د غړو (مامورینو) په ټاکنه کې به قومي انډول او تناسب ساتل کېږي که نه؟ که چېرې د مامورینو په استخدام کې دې اصل ته پاملرنه وشوه، نو بیا هم کېدی شي، تر ډېره حده د درغلیو مخه ونیول شي او که دا ترکیب هم د کابل د اوسنۍ اداري د ترکیب په شان وي، نو بیا یې نتیجه هم همداسې یوه اړخیزه بوله.

بله ډېره د اندېښنې خبره داده چې که په افغانستان کې دقیقه سرشمېرنه ونه شي او د ټول ملت قناعت پرې حاصل نه شي، نو افغانستان به په داخل کې له نوي حقوقي بحران سره مخامخ شي. هغه چا چې د درغلۍ له لارې خپل شمېر زیات ښودلی هغوی به ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه د خپل حقوقي سند په توګه میدان ته وړاندې کوي، چې دا سرشمېرنه خو هغوی کړې، دا څنګه نه مني؟ او که هغه څوک چې قصداً زیانمن شوي او شمېر یې راکم شوی دی، هغوی به وایي چې ملګرو ملتونو او نورو بهرنیانو خو تاسو ته د خپلو سیاسي ګټو د خوندي کولو لپاره په هره مرحله کې تر حده زیات امتیازونه درکړي وو، نو دا خو نه ستاسو حقوق وو او نه درسره ملت منله، چې یوې ولسوالۍ ته دې په لنډمهاله او منځمهاله اداره کې تر شپږو زیات وزارتونه ورکړل شي او پر پاتې حکومت دې هم خېټه واچوي. همدا بحثونه او جنجالونه به تر ډېره روان وي او کېدی شي خبره جنګ جګړو ته هم ووځي، یانې له سرشمېرنې به سربندنې جوړې شي. نو د حل ښه لاره یې داده چې سرشمېرنه دې د ملګرو ملتونو تر مستقیمې لارښوونې لاندې د رښتیني، خپلواک او ځانګړي کمیسیون له لارې تر سره شي، د کمیسیون غړي او نور مامورین

باید د دولت غړي او مامورین نه وي او نه په کوم سیاسي تنظیم پورې تړاو ولري، د هر ولایت او ولسوالۍ وګړي دې په کې شامل وي، ملګري ملتونه دې هم هڅه وکړي چې په ټولو ممکنو وسیلو د اوسني حکومت او په تېره بیا د نظار شورا د لاسوهنو مخه ونیسي- او په رښتیا دې هم د سرشمېرنې لپاره یو ازاد او ناپېیلی چاپېریال رامنځته کړي او که داسې نه وي، نو له هغه خیره چې زموږ ملت ته شر جوړېږي، زموږ ملت هغه خیر نه غواړي، هېڅ سرشمېرنه دې نه کېږي، دا کار دې یو نورمال حکومت ته وځنډول شي او دې ته دې بېلې شوې پیسې اوس د سړکونو او روغتونونو پر جوړولو ولګول شي.

# ایله جاري جنرالان او مارشالان

دا لیکنه هغه مهال شوې وه چې په افغانستان کې د ملي پوځ او پولیسو یوه منظمه قطعه هم نه وه، خو تنظیمي جنرالان تر شمېره وتي وو او تر عسکرو د جنرالانو شمېر زیات و. دا لیکنه هم په هیله مجله کې خوندي شوې ده.

موږ هم عجیبه خلک یو، کله څوکۍ لرو، خو سړي ورته نه لرو، کله بیا سړي لرو خو څوکۍ ورته نه لرو، کله بیا داسې هم وي، چې د یو مقام لپاره دوه درې کسه په رسمیاتو کې درج وي، خو عملي کفایت په یو کې هم نه وي، کله بیا داسې وي چې رتبې او نومونه یې غټ وي، خو کارونه یې واړه وي، کله بیا داسې وي چې تحصیل کړي اشخاص مو په بازار کې کراچۍ چلوي، خو د بازار او کوڅې خلک پر مقامونو ناست وي، کله خو بیا داسې هم وي، چې د حکومت د مشر تخت مو یو ځای وي او بخت یې بل ځای وي، د پاچاهۍ تخت یې په مرکز کې پاتې وي، خو پاچا په کلیو او غرو رغو کې سرګردانه ګرځي، کله پاچا بهرنیان دعوت کړي او ولس یې مخالفت ته راپورته شي، خو کله کله بیا د پاچا له لاسه ولس دومره په تنګ شي، چې بهرنیانو ته زړه ښه کړي، چې بهرنیان مداخله وکړي او دده له غضبه یې خلاص کړي، کله بیا پرچمیان، ملحدین او نور روسان دعوت کړي او مجاهدین یې په مقابل کې راپاڅېږي ، کله کله بیا مجاهدین د روس لمن ونیسي او د تېرو جګړو ښنه ترې وغواړي او خپل ملاتړ ته یې راوبولي، کله کله بیا په یو کار کې د کار کوونکو تر شمېره کار فرمایان ډېر شي او کله کله هم په هېواد کې د عسکرو پر ځای جنرالان .

کله کله پر ښځو داسې ناتار راشي، چې له نارینه و سوڼ نه شي کولای او کله کله د بیا د ښځو د ژبو تنستې خلاصې شي او نارینه داسې سپک کړي لکه د باد بڼکه، خو لنډه دا چې کله داسې کېږي او کله هسې، په همدې کله داسې او کله هسې کې زموږ هېواد او ولس هر څه بایلول.

اوس یو ځل بیا د همداسې ریشخندیو، تراژېدیو او کمیډیو وخت راغلی دی، (تراژیدي- کمیډي) ورته ځکه وایو چې داسې مسئله به وګورې چې له ډېره قهره به دې ورته خندا راشي، اصلاً خو به غم وي، خو تا به داسې کړي، چې له ډېره قهره او تاوه به دې په خنداکړي، لکه حمید بابا چې د هغو سرو کړو پسونو د سرونو په باب چې پر کراچۍ ایښي اوپه اور سوي وي، سپین شوي او سپین غاښونه یې له ورایه خلکو ته ښکاري او هرڅوک داسې فکر کوي، چې ماته خاندي، خو هغوی د اور په لمبو کړېدلي وي، اور له هغو هر څه اخیستي وي او هغه له ډېره تاوه خاندي، شاعر دغه حساس نزاکت ته متوجه شوی، نو ځکه خو یې ویلي دي:

لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین کا
هسې ماله له غمه خندا راغله

نو موږ چې اوس هم د خپل سوي لوي هېواد او ولس حالت ته ګورو او په تېره بیا د هغو د سیاسي لوبغاړو او لوبو ننداړو او ریشخندیو ته ګورو، نو موږ ته هم له ډېره غمه خندا راشي.

وګورئ ټول پوځ مو تالا شو، ټانکونه، موټرې او وسایل یې کباړ او پر ګاونډیو هېوادونو وپلورل شول، پوځیان او عسکر ټول وپاشل شول، لس کاله کېږي چې هېڅوک هم د عسکرۍ د مکلفیت پر اساس عسکرۍ ته نه دې جلب شوي، یو منظم روزنیز پوځي مرکز مو فعال نه دی، د ظابطانو او ورو ظابطانو د روزنې مرکز نه شته، خو د جنرالانو د روزنې مرکز فعال دی، څو ورځې د مخه یو چا کیسه کوله چې په کورینو چارو وزارت کې عسکر نه شته، ټول صاحب منصبان دي او هغه هم لوړ رتبه صاحب منصبان،

نوکومه شعبه کې چې چاى په کـار شي، د شـعبې مشر- پـر بـل مـادون امـر وکـړي، ((جـنرال صـاحب یـک گـیلاس چـاى خـو بیـار)) مانـا دا چـې د افغانستان جنرالان دومره بې ارزښته او دومره ډېر شول، چې اوس د شعبې د پیاده کار ورځنې اخیستل کېږي.

دا هغه مېړني ملت ته یوسپکاوى دى، چې د یوې پېړۍ په لر او بر کـې یې دوه نړیوالې امپراتورۍ ړنگـې کـړې، د جنرالانـو پـه مسئله کـې لا بلـه کمیډي دا ده چې دا اکثر جـنرال صـاحبان زیـاتره د یـوې سـیمې او ان زیاتره د یوې ولسوالۍ دي، علت یې دا دى چـې نـور مشرـان او جـنرالان یې د خپلو سیمو دي،هغوى بیا تردې هم وړاندې لاړل، چا ډگر جنرال او چا ځانته د ستر جنرال رتبې ورکړې، ښاغلي محمد قسیم فهیم چې اصلاً د کابل د ابو حنیفه مدرسې زده کوونکى و او هغـه هـم تـرې نیمگـړې پـاتې ده، ځانته له مسلکي معیار(!) سره سم د (مارشال) رتبه ورکـړه، نـو همدلتـه ده چې سړي ته هغه د شاعر خبره را یادېږي ( هسې ما لـره لـه غمـه خنـدا راغله). دا د ټولې نړۍ په عسکري تاریخ کې یوازینى استثنایي کیس دى، نو اوس دې خپله فهیم صیب، زموږ د ولس وگړي او هر نړیوال یـو ځـل د څو شېبو لپاره فکر وکړي او د خپل ضمیر په هنداره کې دې وگـوري، پـه هغه هېواد کې چې اوس له څو تنظیمي عسکرو پرته هېڅ اردو نه لـري او هر څه دې متلاشي وي، هلته د مارشال رتبې ته څه اړتیا شته؟ که په ټـول هېواد کې له یو منظم عسکري کنډک نه نیولې تـر یـوې قـول اردو پـورې چې لږ تر لـږه د مرحـوم داود خـان د وخـت پـه معیـارونو برابـر وي، یـوه پوځي قطعه موجوده واى نو بیا به هم سړى ووایي چې سـل پـه لالي پـور دي دا یوه هم د همده مبارک، خو چـې پـه ټـول ملـک کـې یـوه منظمـه پوځي قطعه موجود نه وي،نو دا ستر جنرالي او مارشالي څه مانا؟

خو که چېرې دا ستر جنرال او مارشال صيب واقعاً د خپلو دې رتبو مستحق وي، نو لږ تر لږه، خو دې په کابل کې سم امنيت ټينګ کړي، د ملګرو ملتواوبهرنيانو دومره سترو پوځونو ته څه اړتيا ده، خو دا ستر حقيقت بايد زموږ اوسني جنرالان او مارشالان د زهرو د يو ګوټ په څېر له ستوني تېر کړي، چې که نن هم د ملګرو ملتو او امريکا متحده ايالاتو پوځونه له کابله ووتل، نو نه به دا پوځي رتبې وې اونه به دا چرچې او نه به دا پوځيان وي، نه به مارشالان، نه به دا ناصر خان وي نه به يې دا سره سره اوښان ، دا صاحبان کېدی شي چې بېرته خپل مکان او ورته زمان ته لاړ شي، چې له کومه ځايه راوستل شوي دي، خو مخکې تر دې چې اوسني واکمن بېرته پر خپل پخواني برخليک اخته شي، ښه به وي چې د شکرانې لمونځ اداکړي او خپل رب ته سر ټيټ کړي او خپلې تېرې تجربې تکرار نه کړي اوکه نه کېدی شي يو ځل بيا پر هماغه تېر برخليک اخته شي.

# څوک د اساسي پوستونو لپاره وړ دي؟

**دا لیکنه ما د بېړنۍ لویې جرگې د جوړېدو په درشل یانې دې جرگې ته د انتخاباتو په بهیر کې کړې وه او هغه وخت چې زه په جلال اباد کې د همدې جرگې لپاره په ختیزو ولایتونو کې د انتخاباتو د کمیسیون مسئول وم، نو دا لیکنه مې په هغې جریده ((جرگه)) کې چې د همدې دفتر له خوا په موقت ډول خپرېده، چاپ کړه، خو څرنگه چې هغه وخت دې دفتر د ملگرو ملتونو د مرستو ځانگړي دفتر یوناما (UNAMA) سره په گډه کار کاوه او د هغوی له خوا ددې دفتر سیاسي او اقتصادي ملاتړ کېده، نو ځکه خو په جلال اباد کې د یوناما د دفتر مشر ښاغلي کاوون کاکړ ددې چاپ شوې جریدې وېش مناسب ونه باله، همغه و چې دا جریده ونه وېشل شوه، تر یو څه بدلانه وروسته بیا دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۸۰ل) کال په (٦) گڼه کې چاپ شوه، دا دی دلته دا لیکنه یو ځل بیا خپروو:**

ټاکل شوې ده د غبرگولي پر (۲۰) نېټه په هېواد کې بېړنۍ لویه جرگه جوړه شي. د ملي مشرتابه، د مهمو وزارتونو د وزیرانو ټاکل د لویې جرگې اساسي دنده گڼل شوې ده، داسې بریښي چې د ملي مشرتابه د ټاکنې مسئله ځکه دومره سخته نه بریښي چې

کېدی شي پرکوم معتدل شخص موافقه وشي، خو غټه مسئله او ستونزه د مهمو وزارتونو ده، ځکه که ددولت مشر یو معتدل شخص وي او مهم وزارتونه دیوې سیمې، یوې ولسوالۍ او یا هم د یوه ځانګړي تنظیم لاس ته ورشي، نو بیا خو هرڅه چې همدا خلك او ډله وغواړي همغه به کېږي، لکه دې تېرې تجربې چې وښودله، له وزارتونو پرته د صدارت د څوکۍ برخلیك هم معلوم نه دی، چې انتقالي دوره کې به صدراعظم څوك وي او که نه؟ خو که د صدارت څوکۍ نه وي بیا به هم د وزارتونو پر سر سخته لانجه روانه وي. په اوسنۍ اداره کې چې کومې ډلې سره اساسي واك دی، دوی به په اسانۍ دې ته حاضر نه شي چې واك پرېږدي، نو د حل لاره څه ده؟ د حل یوه لاره داده چې په لویه جرګه کې باید اول پر اصولو او معیارونو توافق وشي. د ساري په توګه د هر وزارت لپاره دې مسلکي اشخاص غوره شي، هیڅ ولسوالۍ ته دې دوه وزارتونه نه ورکول کېږي، د چا چې په تېرو وختونو کې سیاسي، بشري او اخلاقي ریکارډ خراب وي، هغه دې په هیڅ وجه د لوړو پوستونو لپاره نه انتخابېږي، ددې لپاره چې بیا تنظیمي جګړې پیل نه شي، ښه به دا وي چې د مهمو وزارتونو لپاره لکه دفاع، کورنیو، بهرنیو چارو او مالیې وزارتونو لپاره ناپېیلي، مسلکي اشخاص د وزیرانو په توګه وټاکل شي، نه

تنظیمـي او نـه ګونـدي اشـخاص، خـو کـه چېـرې بیـا هـم د واك انحصـار دیـوې سیاسـي ډلـې پـه لاس کـې پـاتې شـي او نـور ملـت ورڅخه محروم شي، نو د دایمي سولې د ټینګښـت لپـاره بـه هیلـې ډېـرې کمـې وي، پـه هـره ټولنـه کـې تـر انتخابـاتو د مخـه یـو څـه اټکلونه هم وي، نو د اوسنۍ بېړنۍ لویې جرګې د نتیجو پـه برخـه کې هم ځینې اټکلونه شته، کېدی شي د هغو څرنګوالی پـه لانـدې ډول په ګوته کړو:

لومړی اټکل:

اعلیحضـرت محمدظاهرشـاه مشـر، حامـد کـرزی صـدراعظم، فهـیم د دفـاع وزیـر، یـونس قـانوني د کورنیـو چـارو وزیـر. نتیجـه (منفـي) علـت یـې دادی چـې پخوانـی پاچـا د خپـل عمـر لـه کبلـه پـه ډېرو اداري کارونو کې دمداخلې جوګـه نـه دی، پـاتې شـو د کـرزي صـیب، فهـیم او قـانوني صـیب خبـره دا بـه د اوسـنۍ لنـډ مهـالې اداري متـرادف وي، ځکـه چـې دوه مهـم اساسـي پوسـتونه بـه یـوې ولسـوالۍ تـه اختصـاص شـوي وي، څـه چـې دوی غـواړي کـرزی صیب به یې ورسره لکه د اوس په شان مني.

دویم اټکل:

کـرزی صـیب د دولـت مشـر، قـانوني صـدراعظم، فهـیم صـیب د دفاع وزیر او نور..

په دې ډول هم نتیجه منفي ده، ځکه صدراعظم به له خپل اجرائیوي ځواك نه د خپل سیاسي دریځ لپاره زیاته ګټه پورته کوي او پوځ به یې هم په لاس کې وي او نور وزارتونه هم، ددولت د مشر رول به سمبولیك وي.

درېیم اټکل:

کرزی صیب ددولت مشر، فهیم ددفاع وزیر، یونس قانوني دکرزي مرستیال بیا هم نتیجه منفي ده، ځکه چې په اتلسو میاشتو کې به په دفاع وزارت کې دیوې سیمې او یوې ژبې له ویونکو پرته بل هېڅوك نه ځای پر ځای کیږي، تر ټول حکومت به ددوی د زور منطق خپور وي او ددې کسانو بیا لرې کول به د ډېرو وینو تویولو قرباني غواړي.

څلورم اټکل:

کرزی صیب ددولت مشر، یو مرستیال یې هزاره (تحصیل کړی مسلکي)، یو تاجك (تحصیل کړی) یو پښتون تحصیل کړی او یو هم ازبك تحصیل کړی. ددفاع، کورنیو چارو، باندنیو چارو او مالیې وزارتونه ناپیلو مسلکي کسانو ته او که ځینې نور وزارتونه د اوسنۍ اداري ځینو نورو مسلکي وزیرانو ته هم ورکړل شي نتیجه به یې منفي نه وي، علت به یې دا وي چې د واك انحصار به له یوې ولسوالۍ څخه ټول ولس ته منتقل شي. ځینو ته کېدی شي پوښتنه

پیدا شي چې که کرزی صیب ددولت مشر شي نو بیا یې پښتون مرستیال ته اړتیا څه ده؟ دلته باید دا خبره په ډاګه شي چې ښاغلي کرزي په خپله شپږمیاشتنۍ موده کې دا وښودله چې له ده سره د پښتون او ناپښتون خبره مطرح نه ده، دی لا ان تر دې حده هم مخکې لاړ چې واکمن اقلیت ګروپ ته یې د اکثریت د ګټو او حقوقو د درناوي او خوندي کولو ګیله او یادونه هم ونه کړه. کرزي صیب دا خبره په زبات ورسوله چې ده ته د افغانستان ټول قومونه یو شان دي او ان پر لړه کیو یې ډېره لورېینه وکړه، خو د اقلیتونو د حقوقو واکمنو مدعیانو د تعصب د جام جوش لا تراوسه ناست نه دی اوس هم میم زرما ټوله زما غواړي، ددې خبرې ثبوت تېر شپږ میاشتنی حکومت او په هغې کې دیوې ډلې او یوې ولسوالۍ ترحده زیات حاکمیت دی.

# ((لوخې د خپل قام بد غوښتل سر يې په اوبو کې وچ شو))

**دا ليکنه مې د لنډمهالې ادارې پرمهال کړې وه او بيا همغه وخت په گوربت مجله کې چاپ شوه.**

زموږ د هېواد تېرو ۲۳ کلنو خونړيو او جنجاليزو پېښو دا ثابته کړه چې نه پر بهرنيو پرديو او نه هم پر کورنيو پرديو او غليمانو باور شته.

د نورمحمد تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل او ډاکټر نجيب الله سياسي تېروتنو، ښويېدنو او جنايتونو، له پرديو سره د انډيوالۍ او بيا د هغو د ناوړه انجام، پخې تجربې پريښي دي.

د يو شمېر جهادي- نيمه جهادي، الحادي او نيمه الحادي شخصيتونو د مسخه کېدنې تجربې هم زموږ مخې ته پرتې دي، د طالبانو د افراطي حرکت نتيجه هغه وروستۍ پخه تجربه ده چې د افغانستان د سياسي بهير د تجربو جام يې تر مورگو ډک کړ. خو ددې ټولو تجربو له منځه يوه بله پخه تجربه هم ترلاسه شوه، چې هغه په هېواد کې په اکثريت او اقليت پورې د تړليو مشرانو سياسي شخصيت او عملي چلند و. هغو سياستوالو چې د سرې، شنې او سپينې ايډيالوژۍ تر اورنيو گوزارونو لاندې يې خپل ملي هويت او ملي ارمانونه وسېځل او ملي پولې يې ړنگې کړې، نن په خپل هېواد کې ځای نه لري او له عامې کرکې سره مخامخ دي. هغو سياستوالو چې له قومونو يې د خپل سياسي شخصيت د تبارز لپاره مورچلونه جوړ کړي وو، که د عام ملت په ذهن کې د کرکې وړ شول، خو

په خپل قوم او قبیله کې یې ځان ته د منښت او گرانښت ځای پیدا کړ او په اصطلاح هوجره او هدیره یې معلومه شوه. خو هغه سیاستوال چې ملي او قومي بېس او بنسټ یې نه درلود او د صداقت د نشتوالي له کبله یې ایډیولوژیکي مبارزه بریالۍ نه شوه، نو په ولس او نړۍ کې یې د پښې اېښودلو ځای ورک شو.

د هېواد د اوسنۍ لنډ مهالې ادارې مشر ښاغلی حامدکرزی د هېواد په اوسنیو حساسو شرایطو کې له همدغسې پخو تجربو څخه تېرېږي، راتلونکې څو میاشتې به دا معلوموي، چې دی هم پخوانۍ پخې تجربې تکراروي او که نه په هېواد کې د اکثریت او اقلیت د متناسبې تساوۍ لپاره کار کوي؟ د څو تېرو اوونیو له دولتي چار چلند څخه خو داسې ښکاري چې ښاغلی حامدکرزی خو یا هسې خپلې شپې تېروي او په اصطلاح د نظار شورا ارادې ته یې ځان تسلیم کړی او یا هم فرصت ته گوري او له تدبیر نه کار اخلي.

ښاغلي کرزي ته به باید دا حقیقت ښه په ښکاره په زبات رسېدلی وي چې که دی (پښتون) نه وای نو شاید هېڅکله هم په دغسې بحراني شرایطو کې د دولت د مشر په توگه نه وای ټاکل شوی. نړیوالو د دې حقیقت جام پر سر راواړاوه چې په افغانستان کې له پښتنو پرته څوک د دولت مشري نه شي کولای، د دې هېواد د سیاسي ثبات لپاره همدا یوه ښه کره نسخه او کیلي ده چې د دولت مشر باید پښتون وي. نو ښاغلي کرزي صیب ته چې د هېواد د یوه اکثریت د استازولۍ په هیله دا ستر مسوولیت ورکړ شوی، له همدې امله ورته هم بایده دي چې هغه په ښه وجه ترسره کړي. اوس ټول ملت ویښ دی، څوک پر چا باندې د لعل پر ځای کوټې لعل نه شي تېرولای، د کرزي صیب مشري باید په دې مانا نه وي چې د دولت رئیس دې یوازې پښتون وي او نور میم زر ما ټول د

ستمیانو او که په غوڅ ډول وویل شي ټوله د یوې ډلې. د معاصر افغانستان په دې دوه نیم سوه کلن تاریخ کې هېڅکله هم داسې نه دي تېر شوي، چې اهلیت، مسلکي وړتیا او شخصیت له په پام کې نیولو پرته دې د هېواد درې او په حقیقت کې پنځه، شپږ، اووه او یا اته مهم وزارتونه دې د یوې ولسوالۍ وګړو ته ورحواله شوي وي او هغوی دې بیا له مسلکي معیارونو پرته په ډېره سپین سترګۍ د خپل کلي، سیمې، ژبې او قوم هر کس او ناکس ته د هغه تر استعداد او لیاقت پورته څوکۍ ورکړې وي. له بده مرغه چې نن نظار شورا په همداسې یوه دریځ کې ده او دا لوبه یې روانه کړې ده.

که موږ دولتي څوکۍ د افغانستان او د افغانیت په دایره کې وڅېړو، بیا خو نو دا مهمه نه ده چې شمالیوال ته زیاتې څوکۍ ورکړل شوې که جنوبیوال او ختیزوال ته، خو په دې شرط چې دې څوکیوالو سره د ټول ملت غم او ټول هېواد خبره مطرح وي؛ د قوم، ژبې او سیمې خبره ورته وړاندې نه وي. خو اوس دا حقیقت ټولو ته معلوم دی چې ستمیانو، نظار شورا او د اقلیتونو د حقوقو ټولو مدعیانو ته د ټول افغانستان او ټول ملت د ګټو په انډول خپلې ځاني، ژبنۍ، سیمه ییزې او قومي ګټې ډېرې د پام وړ دي، ځینې داسې ډلې او کسان هم شته چې ان د افغانستان له تصور او شتوالي سره هم مخالف دي، له اکثریت سره کینه خو لا پر ځای پرېږده، خو که اوس هم څوک دا واقعیت نه مني،ـ نو دوی به د چا خبره د فیل په غوږ کې ویده وي.

موږ دا نه وایو چې کرزی صیب دې پر ټولو لویو پوستونو پښتانه مقرر کړي او نور قومونه دې له دولتي څوکیو بې برخې کړي. کرزی صیب اوس د ټولو افغانانو مشر دی، نه د یو قوم. ده ته لازمه ده چې د ټولو قومونو د شمېر د تناسب له مخې په دولت کې د هغوی متناسبه مساوي

برخه د اهلیت، مسلک او شخصیت په پام کې نیولو سره تضمین کړي. د دې خبرې سپینول هم په کار دي چې ځینې ځان غرضي کسان کله کله وایي چې «د افغانستان د ټولو قومونو حقوق سره برابر دي(!)» د دې جملې ظاهري مانا تساوي، خو اصلي مانا یې ناتساوي ده. ځکه که د ټولو قومونو حقوق مساوي وي، نو د افغانستان تاجکان په تېره بیا پنجشېریان حاضر دي چې د لغمان او ننګرهار له شاړو (پشه یانو) سره برابر حقوق واخلي او خپلې څوکۍ ورسره ووېشي؟ ایا هزاره ګان حاضر دي چې د افغانستان له هندوانو سره برابر حقوق واخلي؟ هېڅکله حاضر نه دي. ددې جملې بڼه باید داسې واړول شي: ( ټول افغانان سره برابر او مساوي حقوق لري). ځکه چې هر افغان که هغه پښتون وي که هزاره وي، تاجک وي که ازبک، پشه یي وي که نورستانی او که نور د قانون پر وړاندې یو شان حقوق لري او د قومونو حقوق باید د هغو د شمېر د انډول له مخې ورکړل شي، د ډېرو ډېر د لږو لږ، نه د قومونو د نومونو له مخې، په دې ډول به اصلي فردي تساوي رامنځته شي.

اوسنی حکومت او په تېره بیا کرزي صیب ته په کار دي چې د اوسني حکومت تقرر د مسلکي معیارونو له مخې وکړي، نه د قومي معیارونو له مخې، خو که چېرې زموږ د اقلیتونو د حقوقو یوشمېر مدعیان د قومونو خبره مطرح کوي، چې په ټوله نړۍ کې تراوسه دا کار نه دی شوی، نو بیا خو باید د قومونو د شمېر تناسب په پام کې ونیول شي. خو که په واقعیت کې د قوم، ژبې او سیمې شمېر په پام کې ونیول شي نو بیا خو د نظار شورا ټاټوبي ته یو وزارت هم نه رسېږي.

د کرزي صیب او نورو ټولو هغو مشرانو او هېوادوالو چې د لویې جرګې ملاتړ کوي، دې خبرې ته هم باید پام وي، چې که په اوسنۍ شپږ میاشتنۍ دوره کې یو ځل افغان ضد کسانو په دولت کې ځای ونیو او دا ویروس یو ځل په دولتي ادارو کې خور شو، نو دوی په اسانۍ سره

کولای شي د لويې جرګې د جوړېدو بهير ټکنی کړي او يا پر لويې جرګې هم خپلې غوښتنې ومني. که هغه وخت د لويې جرګې د برخوالو پرېکړه پر دوی فشار راوړي، نو بيا هم کېدی شي خبره خونړيو جګړو ته ووځي، ځکه چې دوی مخکې هم د قدرت د انحصار لپاره خونړۍ جګړې کړې وې او هر ډول سياسي او اخلاقي بېشرمۍ ته هم حاضر دي. اوس هم هغو خلکو سره واک دی چې دوی نه يوازې د لويې جرګې له ماهيت، بلکې د هغې له نامه سره هم حساسيت لري.

تر ټولو بده پېښه دا وشوه چې اوس وخت کې جنګي جنايتکاران د ((بن)) د تړون تر پردې لاندې د خپلو ناوړه ارمانونو د بري په لټه کې دي.

په هر حال که کرزي صيب او نور مخور ملي شخصيتونه په اوسنۍ اداره کې، ددې افغان ضد او هېواد ضد ويروس (ستميت) مخه ونه نيسي، نو دوی به هم د تاريخ له سخت او نوم بدي چېلنج سره مخامخ شي، د ځينو په نظر خدای مه کړه د کرزي صيب رول به هماغه د غفورزي صاحب په شان وي، چې د پروفيسور رباني په دولت کې د هغه شخصي صدراعظم و او انجام به يې هم د هغه په شان وي، ځکه چې د کرزي صيب په اوسنۍ اداره کې يو لوړ پوړي ستمي نظار شورايي واکمن له يو چا سره په خصوصي خبرو کې ويلي وو: ((چه کرزی باشد چه غفورزی)). افغانان بايد خپلو ملي ګټو ته جدي پام وکړي، له قومي، ژبنيو او سيمه ييزو تعصبونو څخه لاس واخلي. بايد په جدي توګه د واک او قدرت له انحصار څخه تېر شي، موږ بايد متوجه شو چې کار بايد اهل ته وسپارل شي. که کرزی صيب اکثريت د اقليت تر خوشالۍ قربان کړي، نو خدای مه کړه برخليک به يې د لوخو په څېر شي، چې د خپل قام سپکه يې غوښته اوسر يې په اوبو کې وچ شو. خو کرزی بايد هېڅکله ځان داسې يو بد برخليک ته تسليم نه کړي.

## بېړنۍ لویه جرګه:

# یو څو انتقادونه او څو وړاندیزونه

دغه لیکنه ما دبېړنۍ د لوییـګ جرګګیـګ لپاره لیکلیـګ وه او غوشګتل میګ هلته ییګ واوروم، خو د وخت د کمـي لـه املـه ددیګ اورول نا ممکن شول وروسته مې بیا د هیلـې مجلـې د (۱۳۸۱ل) کال په (۲)مه ګڼه کې چاپ کړه، دا دی دلته یې یـو ځل بیا د قدرمنو لوستونکو مخې ته ږدم.

د بېړنـۍ لـويې جـرګې ټولـو قـدرمنو غـړو، ښـاغلو بهرنیـو او



کورنیو مېلمنو تـه سلامونه او احترامونـه! غـواړم پـه لنډیز سره د ځینو مهمو مسئلو په باب خپل نظر څرګند کړم.

۱ــ د بن تړون:

سره له دې چې د بن تړون عادلانه نه و او د واك اساسي کلي یې دیوې جنګي سیاسي ډلې په لاس کې ورکړه، خو مثبت یې ځکه بللای شو، چې د افغانستان د راتلونکي حکومت لپاره یې یوه اډانه او یو اسکلیټ جوړ کړل.

۲ــ لنډمهاله اداره:

*الف - بهرنۍ سیاست:* دښاغلي حامد کرزي په مشرۍ لنډمهاله اداره په خپل بهرني سیاست کې تر زیاته حده بریمنه وه، د نړۍ د زیاتو هېوادونو پام افغانستان ته راواوښت او دوه اړخیز دیپلوماتیك اړیکې ټینګ شول. ښاغلی کرزی یو نړیوال شخصیت او وتلې نړیواله څېره شوه او له ګڼو هېوادونو څخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ملیاردونو ډالرو ژمنه واخیستل شوه.

*ب - کورنۍ سیاست:* هرڅومره چې لنډمهاله اداره په نړیوال ډګر کې ځلېدلې، همدومره په کورني ډګر کې پیکه شوې او دیوې مشخصې جنګي سیاسي ډلې د انحصاري او افراطي واك له امله د عام ولس د کرکې وړ ګرځېدلې ده، ددې ادارې ځینې غټې نیمګړتیاوې دادي:

۳ - لوټ او تالان:

*الف - عامه شتمنۍ:* تر اوسه هم د جعلي پیسو چاپ روان دی، پرته له دې چې دا پیسې مرکزي بانك ته راشي او ثبت شي، نېغ په نېغه یې استاد برهان الدین رباني ته خپله ونډه رسېږي او

نظار شورا ته خپله وندہ، ډېره د خواشینۍ او درد خبره داده چې دا هر یو بانکنوټ په یوه خصوصي او یو سریال نمبر څو څو کاپۍ چاپېږي، جگړې پرې ډېرېږي او ضمیرونه پرې رانیول کېږي. د ارقامو له مخې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د **۴۵**کلنۍ واکمنۍ پر مهال د ټول افغانستان لپاره (۲۷) ملیارده، د مرحوم داود خان د واکمنۍ پر مهال نږدې (**۵۰**) ملیارده، د خلق او پرچم په ټوله واکمنۍ کې (۷۰۰) ملیارده، خو د استاد رباني له واکمنۍ نه بیا تر دې دمه د یو رقم له مخې (**۱۴**) زره او د بل رقم له مخې (۸۱) زره ملیارده افغانۍ چاپ شوي او دا شمېر که بیا په سلو کې ضرب شي نو خبره به کوم حد ته ورسېږي؟ په کورني ډگر کې د لنډمهالي اداري تر ټولو غټه ناکامي همدا ده چې د افغانستان د جگړې یوه اساسي سرچینه یانې د جعلي پیسو د چاپ او وېش مخه یې ونه شوه نیولای.

ب – *شخصي شتمنۍ:* تر اوسه پورې په کابل ښار کې په سلگونو واړه موټر غلا شوي، چې اټکلي شمېر زرو (۱۰۰۰) موټرونو ته رسېږي. مانا دا چې هره ورځ په کابل ښار کې لږ تر لږه (۶) موټر غلا شوي دي، په دې اړه دې هغو عریضو ته مراجعه وشي چې د کورنیو چارو وزارت ته راغلي دي، له گاډو پرته د خلکو په سلگونو کورونه هم په جبر ضبط شوي، نیول شوي او د واکمنې ډلې په لاس کې دي.

۲- امنیتي حالت: د هېواد په گوټ گوټ کې همغه پخواني پاټکسالاران او جنگسالاران بیا د واك پر گدۍ ناست دي او بیا

یې د خپل پخواني خصلت (خپلمنځي جګړو) تکرار ننداري ورانډې کړې دی. په کابل ښار کې چې څه ناڅه امنیت ټینګ دی، هغه هم د لنډمهالي اداري کمال نه دی، بلکې د نړیوال سوله ساتي ځواك برکت دی، خو دې سره سره بیا هم په لسګونو موټر چلوونکي وژل شوي او موټر یې وړل شوي دي، موټر خو څه کوې چې ان په الوتکه کې هم څوك په امن کې پاتې نه شول او د همدې اداري د ملکي هوایي چلند وزیر ډاکټر عبدالرحمن یې په چړو سورې سورې کړ، خو چا یې لا تراوسه پوښتنه ونه کړه.

۳- نشراتي برخه: په کابل ښار کې اکثره خپروني په سلو کې (۹۵) برخې یوازې په یوه ژبه ( دري) خپرېږي، د انتقاد او ویتو حق هم یوازې د واکمني اداري له مشخصې ډلې سره دی. کابل راډیو ټلویزیون هم یوازې د یوې مشخص کینه ګر ګروپ په لاس کې دی، داسې نه ښکاري لکه د یو هېواد مرکزي راډیو ټلویزیون، بلکې داسې ښکاري چې د یوې ولسوالۍ او یا یوه ګروپ شخصي ټلویزیون وي.

۴- ملګرو ملتونو ولې د جنایتکارانو د تثبیت کمیسیون جوړ نه کړ؟

د بن د تړون له مخې باید د لویې جرګې د ځانګړي کمیسیون په شان د جنګي جنایتکارانو د تثبیت لپاره هم یو ځانګړی کمیسیون جوړ شوی وای، که چېرې دا کمیسیون جوړ شوی وای، نو اوس به یې د لویې جرګې لپاره هم، د لویې جرګې د کمیسیون له خوا د جوړ شوي طرزالعمل په تطبیق کې غوره رول لوبولای

وای، کېدی شول د لنډمهالي اداري یو څو وزیرانو او یو څو تنظیم سالارانو دې لویې جرګې ته لاره نه وای پیدا کړې، ځکه چې دې کمیسیون به په افغانستان کې جنګي مجرمان تثبیت کړي وو.

**۵** - د لویې جرګې کمیسیون: د بن د تړون له مخې دلویې جرګې د کمیسیون غړي باید بشپړ نا پېیلي او ناتنظیمي اشخاص وای، خو په خواشینۍ سره چې دې کمیسیون کې داسې تنظیمي اشخاص شته چې اوس هم تنظیمي او سمتي تمایلات لري. په کمیسیون کې د هېواد ملي او سیمه ییز ترکیب په پام کې نه دی نیول شوی، د هېواد اکثریت ته په سلو کې ۲۸ برخې ونډه ورکړل شوې ده او له ۱۳ پښتون مېشتو ولایتونو څخه یو تن استازی هم په کې نه شته، د همدې ناعادلانه ترکیب له امله د لویې جرګې مرکزي کمیسیون په ځینو ولایتونو کې د تنظیمواکۍ پرمهال زیاتو شویو ولسوالیو ته څوکۍ ورکړي او د ځینو ولایتونو ژوندۍ ولسوالۍ یې له پامه غورځولي دي، د کمیسیون دا کار د هېواد بېلابېل ولایتونه له لوی حقوقي بحران سره مخامخ کړي، وروسته تر دې چې هرڅوك واك ته رسېږي هغه به د خپل ولایت د اداري واحدونو شمېر زیاتوي او په پای کې به افغانستان په سلګونو ولسوالۍ نه، بلکې په زرګونو ولسوالۍ به ولري.

# د نوي حکومت لپاره څو وړاندیزونه

۱ـ نوی حکومت او نوی کابینه باید له لنډمهالې اداري څخه چورلټ بدلون ولري، د یوې سیمې، یوې ژبې، یوه قوم، یوه تنظیم او یوې ولسوالۍ حاکمیت باید تمثیل نه کړي، بلکې د ټول افغان ملت د هېلو ښکارندویي باید وکړي، که د لنډمهالې اداري ځینې وزیران په نوې کابینه کې راځي، نو باید د مسلکي معیارونو له مخې راشي، نه د تنظیمي اړیکو له پلوه.

۲ـ څلور اساسي وزارتونه د فاع،کورنیو، بهرنیو چارو او مالیې وزارتونه باید یو قوم، یوې سیمې او یوه ولایت ته اختصاص نه شي، یا د بېلابېلو کمیسینونو او یا هم د ناپېیلو مسلکي اشخاصو له خوا اداره شي.

۳ـ هغه کسان چې په انتقالي دوره کې د وزیرانو په توګه ټاکل کېږي، په راتلونکي منتخب حکومت کې باید لوړو مقامونو ته د بیا کاندیدۍ حق ورڅخه واخیستل شي، چې د تېرې شپږ میاشتنۍ دورې د وزیرانو تجربې د تکرار مخه ونیول شوي.

۴ـ راتلونکی پارلمان: د اتلس میاشتني پارلمان لپاره چې څومره کسان ټاکل کېږي، باید د هغوی عمومي شمېر په مساویانه ډول پر ولایتونو ووېشل شي او له همدې ټاکلو استازو څخه دې مسلکي او کارپوه اشخاص د پارلمان لپاره په انتخابي ډول غوره شي او که څو تنه د ګوتو په شمار په انتصابي ډول راځي، نو هغوی دې هم د قومي او مسلکي تناسب او معیار له مخې غوره شي، که دلویې جرګې دیوویشت کسیز کمیسیون

غړي غواړي د راتلونکي پارلمان غړي شي، نو د خپلو ولايتونو له ونډې څخه دې د هغو د وکيلانو له خوا په انتخابي ډول راشي. د نور هر ډول انتصاب او ويتو مخه بايد ونيول شي.

۵ـ راتلونکی اساسي قانون: په راتلونکي اساسي قانون کې بايد د يو قوي مرکزي دولت حقيقت او واقعيت ثبت شي، هېڅ ډول فدراليزم او زورواکۍ ته بايد اجازه ورنه کړای شي.

۶ـ بيا رغونه: په راتلونکو اتلسو مياشتو کې بايد د افغانستان د بيارغونې لپاره اساسي پلان طرح شي او هغه په ملياردونو ډالر چې نړيوالو له افغانستان سره د مرستې لپاره بېل کړي، بايد ترلاسه او پر کار واچول شي. تر هرڅه دمخه ددغو څلورو اساسي برخو بيا جوړونې او رغونې ته اړتيا ده:

۱.د ټولو لويو لارو او ډګرونو جوړول: د هېواد ټولې لويې لارې ويجاړې شوي، که هرڅومره ژر جوړې شي، هم به مو اقتصادي ګټه ترلاسه کړې وي او هم د وخت سپما.

۲.ښوونه او روزنه او عامه روغتيا: د اتلس مياشتني حکومت دويم اساسي کار بايد دا وي چې د هېواد ښوونه او روزنه عصري کړي او په کليوالي او ښاري سيمو کې زيات ښوونځي جوړ کړي، د زياتو ناروغيو د مخنيوي په خاطر په هېواد کې وقايي چارو ته زياته اړتيا ده او هم د طبي پرسونل، روزنې، پالنې او د زياتو روغتونونو جوړولو ته.

۳.کرنيزه برخه: افغانستان دښې اب وهوا له کبله اساساً يو زراعتي هېواد دی، که موږ سل کاله هم متواتر کار وکړو، په

صنعت کې له نورو هېوادو سره ځان د سیالۍ جوګه کولای نه شو، خو که دولت یو کال خپل پام کرنې او مالدارۍ ته راواړوي، نو نورې نړۍ ته به ډېرې غلې دانې او مېوې صادرې کړو.

په پای کې یو ځل بیا خپلې خبرې راټولوم او د راتلونکې کابینې او پارلمان د عادلانه جوړښت پر مسلې ټینګار کوم او وایم چې په راتلونکي پارلمان او کابینه کې باید د هېڅ قوم او هېڅ سیمې جنایتکار ته ځای او مقام ورنه کړای شي.

# حاجي عبدالقدير او بېړنۍ لويه جرګه

## (څو خاطرې او څو حقيقتونه)

دا ليکنه د حاجي عبدالقدير د تلين په مناسبت ليکل شوې وه او ((د دستار سړی)) د مقالو په ټولګه کې چاپ شوې ده.

د سياسي، ټولنيزو او کلتوري شخصيتونو ژوند، له ډېرو لوړو ژورو ډک وي او د اوج او زوال ټکي لري. همدغه ټکي د يو سياسي، ټولنيز او کلتوري شخصيت د تبارز او شهرت سبب ګرځي.




حاجي عبدالقدير هم د خپل سياسي ژوند په بهير کې ډېرې لوړې ژورې ليدلي دي، زما په نظر درې مهمو مسلو او په هغو کې د حاجي عبدالقدير غوښ او مثبت رول د هغه شهرت ملي کچې او اوج ته ورسوه.

۱- په جلال اباد کې د سولې لپاره د جهادي مشرانو راټولونه:

جلال اباد ښار ته د مجاهدينو په راتګ سره د حاجي عبدالقدير غټه مېړانه دا وه چې دا لرغونی او کلتوري ښار يې له لوټ، تالان او تباهۍ څخه وژغوره، دا وخت پر ټول

افغانستان داسې حالات خواره وو، چې د تمدن هېڅ مرکز او د هېواد د هېڅ لوی ښار وګړي او شتمني خوندي نه وو. خو د حاجي عبدالقدیر په مشرۍ د ننګرهار جهادي شورا پر دې بریالۍ شوه، چې جلال اباد له تنظیمي او خپلمنځي جګړو وژغوري او دلته د سولې، جرګو او مرکو ټغر خور کړي. حاجي عبدالقدیر یوازې په ننګرهار یا ختیزو ولایتونو کې د سولې پر ټینګښت بسنه ونه کړه، هڅه یې وکړه چې په کابل او ټول افغانستان کې سوله او امن ټینګ شي.

کابل ته یې د روغې جوړې لپاره په لسګونو ځله د سولې هیئتونه ولېږل، خو کله چې په کابل کې د جګړې د ټولو غاړو پر وعده خلافۍ مطمین شو، نو بیا یې ټولو تنظیمي مشرانو او پر جګړې اخته لوریو ته بلنه ورکړه، چې جلال اباد کې سره جرګه شي او په هېواد کې د سولې او روغې جوړې راوستلو لپاره موافقې ته سره ورسېږي.

حاجي عبدالقدیر ددې غونډې لپاره هر اړخیزې هلې ځلې وکړې، چې دا غونډه کوټلې او مثبته نتیجه ورکړي، هغه وخت اکثره سیاسي کتونکي او عام خلک حیران وو، چې څنګه یو والي پر دې بریالی شو، چې سر کښېنه، نه ایلېدونکي او نا متعهده تنظیمي مشران د ډېرو ورځو لپاره پر یوه مېز سره کېنوي، ان د دې ګواښ تر کچې پورې چې که چېرې روغې جوړې ته سره ونه رسېږي، نو یو هم له غونډې څخه رانه وتلای نه شي، دې نه اټکلېدونکي کار دده شخصیت ډېر وځلاوه.

۲- د بن کنفرانس: د افغانستان په اوسني سیاسي بهیر کې د بن کنفرانس یو ځانګړی مقام لري، دا کنفرانس سره له دې چې له سیاسي او د امتیازونو د وېش له پلوه ډېر زیات نا انډوله و، خو بیا هم پر دې بریالی شو، چې په افغانستان کې د سیاسي ژوندانه او فعالیت لپاره یوه اډانه جوړه کړي. په دې کنفرانس کې د شمال ټلوالې تله خورا درنه وه، الحاج

عبدالقدیر هم دا وخت ددې ټلوالې یو مطرح غړی ګڼل کېده، خو حاجي عبدالقدیر د بن په غونډه کې له پیله یوې غټې خلا ته متوجه و، دا خلا په غونډه کې د هېواد د اکثریت یانې پښتنو دمناسب استازیتوب نشتوالی و، کومو پښتنو چې په دې غونډه کې ګډون کړی و، هغوی هم د شمال ټلوالې تر دومره اغېز لاندې راغلي وو، چې د هغو اکثرو هم په دري ژبه خبرې کولې، حاجي عبدالقدیر د پښتنو د اکثریت او د پښتو د محکومیت او محرومیت درد احساس کړ او د اعتراض په ډول یې غونډه پرېښوده، هغه وخت اکثرو افغانانو د حاجي عبدالقدیر دا حرکت او جرئت تائید کړ او ویې ستایه، خو یو نیم به په کې دا تبصره هم کوله، چې حاجي عبدالقدیر ته شمال ټلوالې ویلي وو، چې ته دا چیغه پورته کړه، مقصد غونډه اخلال شي او په دې ډول به ټول قدرت لکه د اوس په شان ټلوالې ته پاتې شي.

د بېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتو په بهیر کې مو یوه شپه له حاجي صیب عبدالقدیر سره ناسته درلوده او همدا پوښتنه مې ورسره مطرح کړه او ومې ویل: حاجي صیب سره له دې چې اکثره پښتانه ستا پر دې جرئت او حرکت خوښ شول، خو یو شمېر نظرونه داسې هم شته چې وایي تاسو د شمال ټلوالې په خوښه د غونډې د اخلال په خاطر دا کار کړی و. تاسو په دې اړه څه وایئ؟

حاجي صیب وویل: (( یونه! اوس خو هغه وخت تېر دی زه خبره سپینه کوم، خلک به هر څه وایي ما دا هر څه د پښتنو په خاطر کړي وو، ځکه پښتانه ددې وطن اکثریت دي، په ټول کنفرانس کې یو ټکی پښتو نه وه، نو څه به مې کول، غلی ناست وای ښه وه، که اعتراض مې کړی وای؟ کله چې له کنفرانس نه راووتلم د ټولې دنیا سفیران راپسې راغلل، چې راشه که نه غونډه بېخي له منځه ځي، د دنیا مخ مې وکه او غونډې ته په

دې خاطر ورغلم چې د غونډې د اخلال او ړنګېدو مسئولیت په ما رانه شي، بیا به سبا خلکو ویلې چې ګوره که نه دې غونډې نتیجه ورکوله، افغانستان کې حکومت جوړېده خو حاجي قدیر په کې لغته ووهله، نو ځکه غونډې ته بېرته ستون شوم، مقصد زما چې کوم هدف و د پښتو غږ اوچتول هغه مې ترسره کړ، نور چې خلک څه خبرې کوي هغه د خلکو کار دی)). د بن کنفرانس حاجي عبدالقدیر ته د هغه د همدغه جرئت له امله غټ شهرت وباښه او دی یې د ټولو پښتنو په منځ کې مطرح کړ.

بېړنۍ لویه جرګه: د بېړنۍ لویې جرګې تر جوړېدو دمخه زه په ختیزو ولایتونو کې د لویې جرګې لپاره د انتخاباتو مسئول وم، دا وخت مې له حاجي عبدالقدیر سره څو ځله لیده کاته وشول، دا وخت ماته لا ښه څرګنده شوه، چې په دې وروستیو سیاسي پېښو او بهیرونو کې د نورو سیالو قوماندانانو او سیاستوالو په انډول د حاجي عبدالقدیر استعداد او جرئت لوړ دی. د روان سیاسي بهیر او د هغه راتلونکې نتیجه ښه ارزولای شي، پر دې هم ښه پوهېږي چې زموږ ګاونډي هېوادونه او نور نړیوال په افغانستان کې څه غواړي او څه کوي. ده د افغانستان د سیاسي ډګر د راتلونکي په باب هم ښه وړاندوینه کولای شوه، د خپل واک او د نورو د واک په انډول، کچ او مېچ ښه پوهېده، همدغې تجربې دی د دې وړ کړی و، چې د خرپ په ځای کې خرپ وکړي او د ترپ په ځای کې ترپ او د احتیاط په ځای کې احتیاط، د عوامو د ارزونې له مخې په سیاست کې سازش او احتیاط د سیاستوالو اخلاقي شخصیت ته زیان رسوي. عام ولس اکثره وخت د خرپ او ترپ سیاستوال خوښوي، خو حاجي عبدالقدیر د جرئت، احتیاط او ولسي پوهې له امتزاج څخه خپل سیاسي ژوند رغولی و.

د (۱۳۷۱ل) کال د ثور میاشت وه، یو شمېر جهادي ډلو د پخواني حکومت یو شمېر ملېشو سره د جبل السراج د تړون پر اساس د ائتلاف له امله د کابل نسبي واک ترلاسه کړی و. دې ائتلاف اساساً قومي بڼه لرله او د هېواد له اکثریت سره د کرکې پر بنسټ جوړ شوی و، زه اسمعیل یون او زما دوه نور ملګري ډاکټر محمد ابراهیم شینواری او ډاکټر روح الله د (۱۳۷۱ل) کال د ثور پر (۹) مه نېټه له کابله جلال اباد ته په دې نیت راغلو چې دلته له یو شمېر جهادي مشرانو سره، چې دا وخت اکثره په جلال اباد کې وو، وګورو، د جبل السراج د ائتلاف د ناوړه مقصدونو په اړه ورسره خبره وکړو. دلته د جلال اباد نوي واکمن مشران ډېر زیات مصروف وو. کله چې حاجي صیب عبدالقدیر ته زموږ لیک ورغی، نو هغه وغوښتلو د ماښام او مازیګر د لمانځه ترمنځ موږ ته د ملاقات وخت راکړل شو، کله چې مو د جبل السراج د ائتلاف او د هغه د راتلونکو پایلو په باب خبرې وکړې، نو حاجي صیب وویل: (( خیر نو چې دا ائتلاف دومره د پښتنو په خلاف دی، زه حکمتیار ته هم نه ګورم، زه خپله درې لکه لښکر لرم دا ټول ورپسې خوځوم...))

کله چې موږ بیا ټینګار وکړ چې ددې ائتلاف اصلي ریښه بهر ته رسېږي او هغوی د پښتنو پر ضد دا ائتلاف جوړ کړی او دا خبره مو نوره هم ټینګه کړه، نو حاجي صیب عبدالقدیر ودرېد او زما لاس یې کېکاږه او ویې ویل: (( پلان داسې دی چې په دې دور کې پښتنو ته قدرت نه ورکوي، وینه تویول پرې په کار نه دي...))

حاجي عبدالقدیر د هغه وخت په سیاستوالو کې د ګوتو په شمار کسانو له جملې څخه و، چې د پردې تر شا د ګاونډیو هېوادونو په لاسوهنو ښه پوهېده او پر دې هم پوهېده چې دده خپل لاس تر تېږې لاندې دی. تر دې کتنې پوره لس کاله وروسته زه په ختیزو ولایتونو کې د بېړنۍ

لویې جرگې د انتخاباتو مسئول شوم، دا ځل د وظیفه یې مکلفیت له مخې اړ وم چې د ننگرهار والي حاجي عبدالقدیر سره وخت پر وخت وگورم. د دوو میاشتو په بهیر کې مې څو ځله ورسره وکتل. دا ځل د تېرو لسو کلونو په پرتله له یو بل حاجي قدیر سره مخامخ شوم، زیات وخت به یې دا خبره تکراروله چې (( دا ځل زه هېڅ غیر قانوني کار نه کوم زموږ ټول ضرورتونه پوره دي دا ځل موږ کار کوو)).

کله چې د بېړنۍ لویې جرگې د څوکیو د وېش خبره مطرح شوه، نو ننگرهار او ټولو ختیزو ولایتونو ته په کې کمه ونډه ور رسېدلې وه. حاجي صیب موږ وغوښتلو په دې کتنه کې په جلال اباد کې د ملگرو ملتونو د مرستیال هئیت د دفتر (UNAMA) مشر کاوون کاکړ، له کابل نه د بېړنۍ لویې جرگې د خپلواک کمیسیون مرستیال او غړی پوهاند عبدالعزیز او سرمحقق سید امین مجاهد او زه اسمعیل یون شامل وو. د شپې ناوخته مو د جلال اباد په قصر کې خبرې پیل کړې، د دولت له خوا نور هېڅوک نه وو، حاجي صیب خپلې خبرې داسې پیل کړې: (( د ننگرهار او نورو ختیزو ولایتونو څوکۍ کمې دي، زه پر دې قانع نه یم، زه دا نه منم، تر څو چې ماته د څوکیو د زیاتولو ژمنه رانه کړای شي، زه ولسوالیو ته ستاسو هئیتونه د کمپاین لپاره نه پرېږدم. زه ددې انتخاباتو او د لویې جرگې په ماهیت او صلاحیت ښه پوهېږم، خو زه نه غواړم، زما په سینه مار تېر شي او دا وېش د قانون ښه خپله کړي، زه غږ پورته کوم، سبا به زه دلته والي نه یم، خو ننگرهاریان به ماته وایي، چې حاجي قدیره ستا په ولایت کې موږ باندې دا ظلم شوی و او تا د خپل ولایت له خاطره غږ پورته نه کړ او موږ باندې دا قانون شو)).

حاجي صیب قدیر دا هم وویل: (( ما په بن کې هم دا غږ پورته کړی او اوس یې هم پورته کوم.)) ما په کابل کې کرزي صیب ته هم په داسې

حال کې دا خبرې وکړې چې کریم خلیلي او محقق هم ناست وو، ما وویل چې زموږ څوکۍ کمې دي او موږ پرې قانع نه یو، خو کریم خلیلي او محقق وویلې چې نه کمیسیون عادلانه فیصله کړې او سیټونه یې ښه وېشلي. ما محقق ته وویل چې عادلانه به یې خود کړی وي، چې زما سیټونه یې هم تاته درکړي، که ته زما په موقف کې وای، نو بیا به دا تاته معلومه شوې وای چې عادلانه دي که نه؟))

د حاجي عبدالقدیر د غوښتنې او په ختیزو ولایتونو کې د انتخاباتو د دفتر په ګډو هڅو په پای کې (۱۷) سیټونه ختیزو ولایتونو ته زیات شول او دې زیاتوالي د اساسي قانون د لویې جرګې د څوکیو پر وېش هم مثبت تاثیر وکړ او ننګرهار بیا تر کابل وروسته د افغانستان د ټولو ولایتونو په منځ کې په لومړۍ درجه راغی.

د بېړنۍ لویې جرګې په ټول انتخاباتي بهیر کې ده هېڅ ډول منفي مداخله ونه کړه، بلکې د انتخاباتو له دې سیمه ییز کمیسیون سره یې هر ډول همکاري وکړه، ان له کابل څخه د دولتي امکاناتو په زور د جمیعت په تېره بیا د نظار شورا یوه ګومارل شوې ډله، چې د انتخاباتي پروسې د اخلال او متاثره کولو لپاره یې فعالیت کاوه، په ټینګه وترټله او د فعالیت مخه یې ونیوله او ورته یې وویل چې دا خپلواک کمیسیون دی، دولت او نور تنظیمونه باید د دوی په کار کې مداخله ونه کړي.

تقریباً د لویې جرګې د انتخاباتو په پای کې حاجي صیب له موږ څخه هیله وکړه چې یوازې د قبایلو د څوکیو د وېش په برخه کې که ورسره مشوره وشي، نو کمیسیون ته به ګټورې مشورې ورکړي او د څوکیو وېش به په عادلانه ډول ترسره شي، ددې کار علت دا و چې ده په قبایلي سیمه کې ډېره زیاته پېژندګلوي لرله. کله چې په ټولو ختیزو ولایتونو کې انتخاباتي بهیر له کومو ځاني تلفاتو پرته په ډېر ښه ډول ترسره شو، نو

حاجي عبدالقدیر په همدې مناسبت په یوه جوړه شوې لویه غونډه کې د خوښۍ او مننې څرگندونه وکړه، له پوهاند عبدالعزیز، سرمحقق سیدامین مجاهد، کاوون کاکړ او اسمعیل یون څخه یې مننه وکړه او کور ودانی یې ورته ووایه. حاجي صیب وویل: (( انتخابات ډېر سخت کار دی، مړي په کې کېږي، ما به هر ماښام راډیو ته غوږ نیولی و، کله چې به خبرونه شروع شول نو زړه به مې درب درب کاوه او ویل به مې الله خیر چې څو به مړه وي خو د خدای(ج) په فضل چې هر څه ښه تېر شول.))

کله چې په ختیزو ولایتونو کې انتخابات ټول خلاص شول، نو د څلورو واړو ولایتونو وکیلان یې راوغوښتل او په سپین غر هوټل کې یې د سلا مشورې غونډه جوړه کړه، ورته یې وویل: (( تاسې ته سپینه خبره کوم هر څه فیصله شوي دا جرگه مازې د قانونیت لپاره ده. اوس په کابل کې د څوکیو وېش روان دی، هر څوک باید خپل حق مخکې تر مخکې تثبیت کړي، زه خو د مشرقي ولایتونو حق غواړم که تاسو ماته واک راکوئ نو زه به کابل ته لاړ شم او ستاسو په نماینده گۍ به هم څو تنه بوځم، هلته به د خپلو حقوقو خبره مطرح کړو.)) ټولو ورسره ومنله او ټولو په لیکلي او شفاهي ډول حاجي صیب ته واک ورکړ. حاجي صیب په دې وخت کې پر اداري رئیس ملک نظیر غږ کړ: ((ملکه په کابل کې به دوه حویلۍ د مشرقي د وکیلانو لپاره ونیسې، هر څومره کرایه او خرچه چې راځي پروا نه کوي، دا وکیلان به هلته اوسېږي او نور مشرقیوال چې کابل کې کارونه لري او د اوسېدو ځای نه لري دا به د ټولو لپاره د یو مېلمستون حیثیت لري. ټول وکیلان چې له دې ځایه کابل ته ځي د هغوی خرچه هم برابره کړئ!)) حاجي صیب تر نورو وکیلانو دمخه کابل ته ورسېد او هلته د پردې تر شا د کابل له واکمنو سره د راتلونکي نظام، مشرتابه او د څوکیو د وېش په باب پر خبرو اترو مصروف شو. د کابل تر تگ دمخه یې ماته په

یوه خصوصي ناسته کې ویلي وو: (( زه، کرزی صیب، خلیلزاد، فهیم او څو تنه نور سره ناست وو، خبره مو سره غوټه کړې، ما خلیلزاد ته وویل دا حل نو د بن د قرارداد په شان معاملې درسره نه منم، چې هر څو مو یو گروپ ته ورکړي دي.)) حاجي صیب دې خبرې ته هم اشاره وکړه، ((چې د کورنیو چارو وزارت یې ده ته پیشنهاد کړی دی.))

کله چې حاجي صیب د پردې تر شا د سیاسي معاملو پر حل او فصل بوخت و، نو دې کې دا څو ټکي ډېر زیات مطرح و:

۱- زعامت نه د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر اړول.

۲- د پروفیسور برهان الدین رباني د کاندیدۍ مخنیوی

۳- دلویې جرگې په واسطه د حامد کرزي د زعامت ټاکنه.

٤- د کابینې د څوکیو وېش.

حاجي عبدالقدیر له پورتنیو څلورو مهمو ټکو څخه په درېیو کې بریالی شو، خو په یوه کې پاتې راغی. دا وخت په لویه جرگه کې په پښتنو مشرانو کې تر ده بل مطرح شخص نه و، زعامت ته د اعلیحضرت له کاندیدۍ نه دده نه ملاتړ ددې سبب شو، چې اعلحیضرت په کورنۍ کچه د قدرت یو غټ عنصر له لاسه ورکړي.

له کاندیدۍ نه د استاد رباني د مخنیوي په لار کې هم دده رول ډېر مهم و، تر جرگې دمخه یې یوه ورځ استاد رباني ته وویل: (( استاد دوست نزدیکت کیست؟ استاد طبعاً وویل: شما (حاجي قدیر). حاجي عبدالقدیر ورته بیا وویل: ((خیر که ما دوست نزدیکت هستم همین ما بریت رای نمیتم، دیگه کس بریت رای میته؟)) استاد رباني ته یې وښودله چې زما په شان یو نږدې دوست درته رایه نه درکوي، له نورو خلکو به څه گیله کوې. استاد رباني ددې په مقابل کې دا شرط کېښود چې خیر اعلیحضرت به هم ځان نه کاندیدوي. د نظار شورا او نورو جهادي ډلو

نظر هم همدا و چې اعلیحضرت به ځان نه کاندیدوي. دې ټولو او نورو بهرنیو عواملو د اعلیحضرت د کاندیدۍ مخه ونیوله، خو استاد رباني ته د غوڅ قناعت او ځواب په برخه کې د حاجي عبدالقدیر رول ډېر زیات اغېزناک و.

له کاندیدېدو نه د اعلیحضرت او استاد رباني انصراف ددې سبب شو، چې ښاغلي حامدکرزي ته په بشپړ ډول لاره اواره شي. له ښاغلي حامدکرزي نه د حاجي عبدالقدیر هر اړخیز ملاتړ ددې سبب شو، چې نه یوازې د خپلو پلویانو په رایو کې یې ضایعات رانه شي، بلکې نور خلک هم ورته رامات شي، په لویه جرگه کې یو وخت ددې خطر پېښ شو چې د اعلیحضرت گڼ شمېر پلویان له جرگې څخه بایکاټ وکړي. دا خلک همدارنگه په دویمه درجه کې د کرزي پلویان هم گڼل کېدل، که چېرې دا خلک له جرگې وتلي وای، نو د کرزي صیب انتخاب ته هم غټ خطر متوجه کېده او په خپله د کمیت له پلوه د جرگې مشروعیت ته هم پوره زیان اوښته.

حاجي عبدالقدیر ددې خطر په رفع او دفع کې غوڅ رول ولوباوه او د پاچا هغه ناخوښه پلویان چې د گڼو دلایلو له مخې ناخوښه وو، قانع کړل چې له جرگې څخه بایکاټ ونه کړي، تر لویې جرگې یوه ورځ دمخه تنظیمي مشران د ښځینه وکیلانو پر وړاندې ودرېدل، په دې غونډه کې لومړی حاجي عبدالقدیر خبرې وکړې اوپر ملي وحدت یې ټینگار وکړ، خو چا کوم اعتراض ونه کړ، کله چې د استاد رباني نوبت ورسېد، نو تر خبرو وروسته تر سختو اعتراضونو لاندې راغی، ټول اعتراضونه ښځمنو وکیلانو وکړل، استاد لاجوابه و او غونډه د هغه د زیاتې پیکه کېدو سبب شوه.

په بېړنۍ لویه جرگه کې یوازینی ټکی چې د حاجي عبدالقدیر پخوانی شخصیت یا په بن کنفرانس کې د هغه استقامت یې د پښتنو په منځ کې تر پوښتنې لاندې راوست، هغه په ډله ییز ډول د ختیزو ولایتونو پر وکیلانو غږ کول و، چې ټول د (قاسمیار) ملاتړ وکړئ، دا کار د اکثرو پښتنو وکیلانو خوښ نه شو، او خلکو داسې ویل چې هغه کوم حاجي قدیر و چې د بن کنفرانس کې یې هغه چغه پورته کړه او دلته په معکوس ډول حرکت کوي، کله چې حاجي صیب قدیر په لویه جرگه کې د قاسمیار په پلوي غږ پورته کړ، نو ما همغه شېبه حاجي صیب ته وویل: ((حاجي صیب دا څه کوې، دا کار هم تاته په تاوان دی هم ټولو پښتنو ته او بل دا کار د انتخاباتو له اصولو سره هم جوړ نه دی، ځکه رایې پټې دي، د هر چا خوښه ده چې هر چا ته رایه ورکوي، داسې په جار اعلان کول ډېر زیان پېښوي... دا وخت حاجي صیب ماته ډېر په قهر شو او ویې ویل: (( یونه! چوپ شه ډېرې خبرې مه کوه بیا به وروسته خبرې کوو، تا او میاخېل دا درې ورځې ماته د سر په کاسه کې اوبه راکړې.))

د شاه محمود میاخېل اختلافات چې هر څه وو، وو به، زه پر هغو تبصره نه غواړم خو ماته حاجي صیب ځکه په قهر و چې ځو ځله یې وکیلان راټول کړل او د بېلابېلو موضوعاتو په باب یې ورته خبرې وکړې، هر ځل به ما د حاجي صیب څنگ ته ځان ورساوه او ورته ویل به مې چې د څلورو مهمو وزارتونو موضوع هم یاده کړه، هغه غوښتل چې دا موضوع علني نه کړي، ځکه دوی په خپل منځ کې موافقې ته رسېدلي وو، خو یوه ورځ یې له لاسه ونیولم او دهلېز کې یې کونج ته بوتلم، راته یې وویل: (( مشرقي ته یې داخله وزارت منلی، شمال سره مې زور برابر نه دی، ډېرې زیاتې پیسې او وسلې لري، که نور هر چا رانه زیات امتیاز

واخیست بیا مې غاړه کې لنګوټۍ واچوئ او کش مې کړئ، چې حاجي قدیره ته بې غیرته وې، نور مې څه ته په عذابوئ...)) له شمال ټلوالې سره د زور د نا انډولۍ او امتیاز خبره یې د مشرقي وکیلانو په یوه عامه غونډه کې هم وکړه.

کله چې زه د اکثریت رایو په ګټلو سره د لویې جرګې د لومړي منشي په توګه انتخاب شوم او پر خپلې څوکۍ کېناستم، نو یوه وړه ټوټه کاغذ مې پر مېز کېښودل شو، په کاغذ کې لیکل شوي وو: (( یون صیب زه تاسو ته ددې لویې کامیابۍ مبارکي وایم، حاجي قدیر)) کله چې ما دا کاغذ ولوست نو بیا مې لاندې د کین لاس لومړي کتار ته وکتل، چې حاجي صیب یې په منځنۍ برخه کې ناست و. ما ورته سر وخوځوه او دی په سترګو او شونډو کې موسکی شو، ما له دې شیبې څخه ډېر خوند او لذت واخیست، ځکه زه پوهېدلم چې زما په انتخاب حاجي صیب څومره خوشحاله شوی او ده دا کار د مشرقي ولایتونو او ځان لپاره یو بری ګاڼه، سره له دې چې په بېړنۍ لویه جرګه کې ما خپل ځان او ټول پښتانه محروم ګڼل، تر لسګونو روحي فشارونو او نورو ډول ډول ګواښونو لاندې وم، خو دا هر څه مو په چوپه خوله زغمل.

کله چې جرګه رسماً پیل شوه، نو یوه ورځ مې په تفریح کې حاجي صیب قدیر سره وکتل، ما ویل د قاسمیار صیب موضوع کې درنه خلک خفه دي. هغه وویل اوس به یې درته ووایم: (( اصلي خبره دا وه چې قاسمیار د سترې محکمې لپاره کاندید و او دا د ډېرې مودې لپاره کار دی، لویه جرګه یوازې د شپږو ورځو لپاره ده، ما یوه معامله کړې، د

قاسمیار ملاتړ مې ددې لپاره وکړ، چې هغه بل امتیاز موږ ته پرېږدي، دولت ما سره ژمنه کړې چې ستره محکمه به فضل الهادي شینواري ته ورکوو، نو ځکه ما دا کار وکړ...)).

په لویه جرگه کې یوه ورځ زما مېرمن (ارین یون) د استاد رباني د وخت ((ملي سرود)) د غږېدو په اړه احتجاج وکړ او دا یې د ۱۳۴۳ل کال د قانون او د اوسنۍ لویې جرگې د داخلي طرزالعمل خلاف عمل وګاڼه، دغه راز یې په شمالي ولایتونو کې د ډله ییزو وژنو، مهاجرتونو او د طالب په نامه د پښتنو د ځورونې په اړه خبرې وکړې، د شمال ټلوالې پر مشرانو دا خبرې بنې ونه لگېدې، نو حاجي صیب ته یې شکایت وکړ، حاجي صیب د غرمې ډوډۍ پر مهال له ما څخه پوښتنه وکړه او ویې ویل: ((دې خورکۍ چې د مشرقي ولایاتو د ښځو په نماینده گۍ خبرې وکړې دا څوک ده؟)) ما وویل ولې څه خبره ده؟ حاجي صیب وویل: ((ډاکتر عبدالله او دلته ځینې نور وزیران په قهر دي، چې دا انتقادونه یې موږ ته راجع دي. نو ما ځکه تانه پوښتنه وکړه چې دا څوک ده؟)) ما ورته وویل: ((حاجي صیب دا زما مېرمن ده)) حاجي صیب وویل: ((بس پوه شوم هر څه یې چې ویلي ښه یې ویلي.))

د لویې جرگې په بهیر کې ښاغلي حامدکرزي د مشرقي ولایتونو وکیلانو ته د خبرو اترو پر وخت وویل: ((تاسو د جمهوري ریاست مرستیالي غواړئ که یو مهم وزارت؟)) له مهم وزارت څخه یې مقصد د کورنیو چارو وزارت و. ټولو وکیلانو ورته وویل: ((مهم وزارت)) هغه وویل: (( ښه ده پوه شوم)).

د لویې جرګې د پای پر ورځ د موقت پارلمان د جوړونې په باب د شمال ټلوالې او نورو وکیلانو ترمنځ د نظر اختلاف پیدا شو، خو حاجي عبدالقدیر د بن د تړون له مخې وضاحت ورکړ او د موقت پارلمان جوړولو مسئله یې د پخو دلایلو له مخې اواره کړه.

کله چې د لویې جرګې د وروستۍ ورځې په پای کې کابینه اعلان شوه، نو د حاجي صیب قدیر پر ځای تاج محمد وردګ د کورنیو چارو وزارت د وزیر په توګه ټاکل شوی و او داسې څرګنده شوه چې یو ځل بیا د معاملو له پاسه معامله شوې ده.

# افغانستان ملت دی که افغان؟

**دا لکینه ما هغه وخت وکړه چې کله مې د بېړنۍ لویې جرگې د ټاکنو کړنلاره ترلاسه کړه، دا مهال، تر دې دمخه او تر جرگې وروسته، ان اوسمهال هم دا اصطلاحگانې سمې نه کارول کېږي، د اساسي قانون په لویه جرگه کې هم (( د افغانستان ملت)) لغوي تېروتنه په پښتو او دري متن کې په قصدي او ناقصدي ډول تېره شوې او په نورو حقوقي متنونو کې هم کله کله په همدې ډول تکرارېږي، خو د اساسي قانون انگلیسي متن چې آر (اصل) متن گڼل کېږي، هلته دا نقیصه رفع شوې او همدارنگه د افغانستان په اړه په نورو حقوقي متنونو کې دا نقیصه نه شته. زما دا لیکنه هماغه مهال د هیلې مجلې د (۱۳۸۱ل) کال په (۱) گڼه کې چاپ شوې ده.**

زموږ په گڼو خپرونو، رسمي او نا رسمي ویناوو کې کله کله ملي او حقوقي نومونو( اصطلاحاتو) ته پوره او ژور پام نه کېږي، یوه نومونه د بلې پرځای کارول کېږي، یا یو نوم له اصلي مانا څخه اړول کېږي او په دویمه یا بدله مانا کارول کېږي، کله کله بیا له یوې کلمې سره مخکې یوه بله داسې توصیفي کلمه یو ځای کوي چې ددویمې کلمې مانا هم سره بدلوي، کله کله خو بیا ځینې اصطلاحگانې چې اصلاً د مانا او په تېره بیا د اصلي مانا

له پلوه سره متضادې او یا مغیرې وي، په یوه او مساوي مانا کاروي او تر اصلي اصطلاحګانو د مخه ورته د (برابر) صفت یا کلمه کاروي.

دلته غواړو پر همدغو څو اصطلاحګانو چې اوس زموږ د هېواد په خپرونو او د واکمنو په رسمي ویناوو کې زیاتې تکرارېږي، لنډ بحث وکړو:

ملت افغانستان یا د افغانستان ملت:

په اوسنیو زیاتو خپرونو کې ددولتي چارواکو او ځینو نورو اشخاصو له خوا ( د افغان ملت) پرځای ( د افغانستان ملت) اصطلاح کارول کېږي. ځینې د (افغانستان ملت) اصطلاح په شعوري ډول استعمالوي او ځینې یې په ناشعوري ډول، هغه کسان چې ( د افغانستان ملت) اصطلاح په شعوري ډول کاروي هغوی اساساً په افغانستان کې دیو واحد ملت (افغان) شتوالی نه مني. په حقیقت کې (افغان) دیو ملت په توګه نه مني، دوی وایي چې افغانستان یو هېواد دی او بېلابېل قومونه یا ددوی په اصطلاح (مختلف ملیتونه) په کې اوسي، هریو ځانته هویت لري، یانې دا چې ټول افغانان نه دي، د افغان نوم یو خاص قوم ته منسوب او پر نورو یې تحمیل کړی دی! او دودول یې یو ډول استعمار دی! ځکه نو دوی کله کله په افغانستان کې هر اوسېدونکي ته د (افغان) پرځای ( افغانستاني ) نومونه کاروي.

په حقیقت کې ددې ډول خلکو د ضمیر ښیښه د افغان او افغانستان پر وړاندې صفا نه ده، ددوی ستراتیژي داده، چې په

لومړي ګام کې د یو واحد ملت په توګه د (افغان) هویت ختم کړي او بیا په دویم پړاو کې د افغانستان د نوم د بدلولو هڅه پیل کړي، په دې ډول به یو واحد ملت او یوه ټاکلي جغرافیه چې دا ملت په کې اوسي له منځه یوسي،ددې ډول افغان ضد ډلو تر شا بهرنی ملاتړ هم شته، چې په دې برخه کې ګډې هیلې او ارمانونه لري.

خو ددې ترڅنګ یو شمېر کسان په ناشعوري ډول د (افغانستان ملت) نومونه کاروي، دوی د هغو نورو تر تبلیغاتي اغېز لاندې راغلي، د کلمې د مانا تل ته نه دي پرېوتي او نه یې پرې سر خلاصېږي، که چېرې دوی پر دې پوه شي چې دا اصطلاح غلطه او یایې مانا منفي ده، نو نه یوازې دا چې خپله به یې ونه کاروي، بلکې د کاروونکو پر ضد به یې سخت غبرګون هم وښیي.

دې ډول اشخاصو او نورو هغو کسانو ته چې په ناشعوري ډول دا اصطلاح کاروي، ددې څو ټکو څرګندول په کار دي:

١. افغانستان د جغرافیې نوم، د خاورې نوم دی، د هېواد نوم دی، نه د ملت، البته افغانستان له افغان نه اخیستل شوی (افغان+ ستان = افغانستان)، دې کې (افغان) د ملت نوم دی (ستان) مکاني روستاړی دی، یانې دا چې د افغانستان د هغې خاورې، جغرافیې او کور نوم دی چې افغانان یا افغان ملت په کې اوسېږي، هرڅوك چې په دې کور کې اوسېږي هغه افغان دی، هر افغان د افغان ملت یو غړی دی.

۲. د افغانستان د نوم بله ښېګڼه داده چې دا دیو ملت له ریښې (افغان) څخه رغېدلی دی، هر هغه هېواد چې نوم یې د هغه هېواد له ملت څخه رغېدلی وي، لکه خپله افغانستان نو د بقا او استحکام چانس یې ډېر زیات وي. د افغانستان د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې هم یادونه شوې چې زموږ د ملت نوم ( افغان) دی او هر څوك چې په افغانستان کې اوسي هغه افغان دی، داسې نه دي ویل شوي چې زموږ د ملت نوم افغانستان دی، افغانستان د افغانانو د خاورې یا جغرافیې نوم دی نه د افغان ملت.

افغان ضد شعوري، ډلې تل هڅه کوي چې د افغان او افغانانو د نومونو له کارونې ډډه وکړي او ددوی پر ځای اکثره وخت د (مردم افغانستان) یا (د افغانستان د خلکو) اصطلاح وکاروي، دلته بیا هم همغه مغرض نظر پروت دی، یانې دا چې په افغانستان کې خلك اوسېږي، خو افغانان نه دي، په عادي محاوره کې ددې اصطلاحګانو پرځای او ناځای کارول چندان اهمیت نه لري، خو د ملي ترمینالوژۍ او قوانینو د تسوید او جوړونې په برخه کې که دا اصطلاحګانې په شعوري ډول غلطې وکارول شي، نو د هېواد او ملت هویت له خطر سره مخامخولای شي، ښه به وي چې په دې برخه کې یوه ژوندۍ بېلګه هم وړاندې کړو: تاسو به د بېړنۍ لویې جرګې د ځانګړي کمیسیون طرزالعمل لوستی وي، په دې طرزالعمل کې د همدغو افغان ضد

کسانو له خوا په شعوري ډول هڅه شوې چې په ټول طرزالعمل کې د (افغان) کلمه پرېښودي، وګورئ د همدې طرزالعمل لومړۍ ماده:
" لويـه جرګـه عـاليترين مظهـر اراده مـردم افغانسـتان است و از قاطبه ملت نمايندګی ميکنـد..." پـه دې جملـه کـې دوی د (افغـان) اصطلاح څنګه ورکـه کړې، سره له دې چې د جملې په دواړو برخـو کې ورته اړتيا ده، يانې دا چې " لويـه جرګـه عـاليترين مظهـر ارادهٔ تمام افغانها است و از قاطبه ملت افغـان نمايندګی ميکنـد"، کـه فرضاً پـه لومړۍ برخـه کـې د افغـان يـا افغانهـا يادونـه راغلـی نـه وای، نو په دويمه برخه کې بايد حتماً راغلی وای يانې ( از قاطبـه ملـت افغـان نمايندګی ميکنـد)، اوس دلتـه نـه ښکـاري چـې ( از قاطبه کدام ملت نمايندګی ميکنـد)، دوی دا کـار پـه شعوري ډول کړی.
د څلورم څپرکي (۱۳) مه ماده چې د رای ورکوونکـو صـفات پـه ګوتـه کـوي، پـه لومـړي فقـره کـې هـم همداسـې يـوه درغلـي شـوې، يـانې هغـه څـوك د رای ورکولـو حق لـري چـې: " کـه ازطريـق نسـب افغـانی تابعيـت افغانسـتان را داشـته باشـد." دلتـه چـې نـوره هېـڅ چـاره نـه وه نـو دوی د ( افغـان) پرځـای د (افغـاني) کلمـه راوړې. د (افغان) او (افغاني) ترمنځ هم د مانا لـه مخـې ډېـر تفـاوت شـته. پـه (افغاني) کې (ي) نسبتي توری دی، چې له يو (شي) يا (ځا) سره د (شي) يا (ځا) نسبت او اړيکي ترې، دلته هم همغـه درغلـي شـوې، مانـا دا چـې يـو څـوك دې خپلـه افغـان نـه وي، خـو چـې د افغـاني نسب له لارې د افغانسـتان تابعيت لري، درايې ورکولـو حـق لـري،

کـه فقـره یـې داسـې لـیکلې وای، هرڅـوك چـې افغـان وي او د افغانسـتان تابعیت ولـري د رایـې ورکولـو حق لـري، خبـره مطلقـه ځرګنده وه، خو دلته بیا خبره همغه نیت ته رسېږي چې د (افغـان) پر وړاندې له ځینو سره موجود دی.

د (افغان) او (افغاني) تـرمنځ تفـاوت دومـره دی لکـه د (رحـیم) او (رحیمي) ترمنځ. دلته (رحیم) یوازې رحیم دی، خو کله چې د هغـه اولادونـه پیـدا کېـږي، نـو لـه هغـه سـره د نسـبت لـه لارې پرځـان (رحیمي) تخلصونه ږدي، خو خپله یو هم رحیم نه دی، ددې مانـا هم همدا راوځي چې خپله (رحیم) خو په ټاکـنو کې ګډون نـه شـي کولای او یا یې یادونې تـه هم اړتیـا نـه شـته، خـو ((رحیمیـان)) پـه کې د رایې ورکولو حق لري، یا پـه اصـطلاح رحیم نـه منم خو نـور رحیمیان منم، په (افغاني) نسبتي نوم کې یو بل مشـکل هـم شـته، چې دیـو چـا نسـبت بـه افغـان تـه وي، خـو خپلـه بـه افغـان نـه وي، دریېیم یا څلورم نسب به یې افغان وي، خو دا فقره چې دلته پـه دې شکل راغلی، یوازې د (افغـان) اصـطلاح د مخنیـوي لپـاره راغلـې ده، اوس تاسـې ټـول طرزالعمـل وګـورئ، پـه یـو ځـای کـې هـم د (افغان) کلمه نه ده پرېښودل شوې.

ملیتهـای مختلـف ( مختلـف ملیتونـه) دا اصـطلاح لـه بهـر څخـه وارده شـوې اصـطلاح ده، چـې د کورنیـو ارتباطیـانو لـه خـوا یـې د هېواد په ټېرو ۲۳کلنو خپرونـو کـې پـه شعوري او نـا شـعوري ډول دود مونـدلی دی. لومـړی خـو بایـد دا خبـره ځرګنـده شـي چـې (ملیـت) د کـوم قـومي او ډلـه ییز تشـکل نـوم نـه دی، بلکـې (یـت)

روستاړی په عربي کې د يو شي د جوهر او ماهيت ځرګندولو لپاره راځي لکه حيوان + يت = حيوانيت، انسان + يت= انسانيت. دلته هم (مليت) د چا د قومي هويت د پېژندلو لپاره دی، مانا قوميت دي څه دی؟ خو روسانو او د افغانستان ستميانو دا اصطلاح د ملت او قوم ترمنځ ديو بل ځانګړي قومي تشکل لپاره کارولې او کاروي يې، ددوی په نظر په افغانستان کې ((مختلف مليتونه)) دي (نه قومونه). ددوی د ستراتيژۍ له مخې که افغانستان تجزيه شي نو تيار مليتونه به ورته جوړ وي، هر يو به خپله ونډه واخلي، دوی د افغانستان د بېلابېلو ټبرونو لپاره د قوم اصطلاح کارول هغو ته کسر شان ګڼي، نو ځکه خو يې مليتونه بولي، دوی په خپلو ليکنو کې د افغانستان د بېلابېلو قومونو ( مليتهای مختلف) اصطلاح کاروي.

مختلف دلته دوه ماناوې ورکوي: يو دا چې يو بل سره اختلاف ولري او بل بېلابېل، کله کله بيا دوی ((مليتهای مختلف، برابر و برادر)) اصطلاحګڼانې هم کاروي، دا هغه اصطلاحګانې دي چې دقيقې نه دي، که چېرې ددوی په اصطلاح ((مليتونه)) يوځل مختلف شول يانې د کلمې په اساسي مانا اختلاف يې پيدا کړ، نو بيا خو برادر و برابرېدلی نه شي.

بله خبره دا ده چې که موږ ووايو دهېواد ټول اوسېدونکي افغانان دي او ټول سره برابر حقوق لري، نو بيا خبره حل شوه قومونو او بيا مختلفو قومونو ته څه اړتيا ده؟ خو دوی همېش د قومونو لپاره د برابر (مساوي)، برادر او مختلف اصطلاح

کـاروي، لـه برابـر ومسـاوي څخـه ددوی هـدف نـابرابري ده، دوی غـواړي د اکثریـت او اقلیـت حقـوق د برابـرۍ تـر نامـه لانـدې نـا متـوازن او نـا مسـاوي کـړي، ددې شـعار ظـاهري مانـا یـوه، خـو باطني بله ده، د افغانستان هېڅ اقلیت نه غواړي د افغانسـتان لـه ډېر کوچني اقلیت هندوانو او سکانو سره برابـر او مسـاوي حقـوق واخلـي، خـو شـعار یـې ورکـوي. لازمـه ده چـې کلـه کلـه اصـطلاح کارول کېـږي د هغـې مانـا بایـد دقیقـه وسنجول شـي، د سـاري پـه توګه ټول افغانان سره برابر او مساوي حقوق لري، خو ټول قومونـه سره مساوي نه دي،بلکې متناسب دي، پـه مسـاوي او تناسـب کـې د قومونو په توګه د لویو قومونـو حقـوق ډېـر او د وړو کـم وي، خـو که د فرد په توګه یې وېشي نو د ټولو بـه مسـاوي شي.

لــه دې لیکــنې څخــه موخــه داوه چــې زمــوږ ملــي او سیاســي ترمینالوژۍ ته په مغرضانه ډول یو شمېر اصطلاحګانې ور ننـوتې دي او ځینې خلـك پـه شـعوري ډول هڅـه کـوي، هغـه دود کـړي، د شــعوري او ملــي افغــاني مطبوعــاتو دنــده داده چــې د دا ډول اصطلاحاتو مخه ونیسي او د هغو دقیق شکل دود کړي.

# ايا له نظار شورا څخه د بناغلي کرزي د خلاصون لاره شته؟؟

دا ليکنه د منځمهالي ادارې پر مهال د هيلې مجلې د(۱۳۸۱ل) کال په (۲)مه گڼه کې چاپ شوې ده.

په افغانستان کې دجنگي او سياسي ډلو په کتار کې نظار شورا يوه ډېره څرگنده او مهمه جنگي سياسي ډله ده، دا ډله په



ائتلافونو، سازشونو، قومي نښتو، لمسونو، وژنو، ورانيو، توطيو او پرديو ته په جاسوسۍ کې تر نورو ډلو دمخه ده، د

همدغې سرتیټېی او جاسوسۍ له امله خو دادی نن هم په سیاسي ډګر کې مطرح ده او په اصطلاح له نورو یې میدان ګټلی دی.

د نظار شورا د جنایتونو ډېره غټه بېلګه ددوی هغه تېر ځلورنیم کلن حکومت دی، چې په نتیجه کې یې کابل ښار ویجاړ د هغه (۸۵) زره کورونه وران او (۶۵) زره ښاریان شهیدان شول.

دا جنګ ډله یو وخت د طالبانو د اسلامي خوځون له خوا په ټپ شوه، له ټول هېواد څخه یې ددوی دظلم ټغر ټول کړ او یوازې په سلو کې پر پنځمه برخه خاورې یې نیمژواندی ژوند کاوه، یوازې یوه کاري ضربه په کار وه، چې دمرګ کندې ته ګوزار شي، خو د طالبانو افراطي چارچلند او نړیوال ټکر یوځل یا نظار شورا ته یو داسې طلايي چانس په لاس ورکړ، چې بیا راژوندی شي او د مرګ د خوب پرځای د کابل د تاج وتخت خوبونه ووینې. د سپتمبر د (۱۱) مې نېټې پېښه که ټولې امریکا ته د زهرو یو تریخ ګوټ شو، خو نظار شورا ته یوه داسې نوش دارو او اب حیات شو، چې مړې پرې راژوندی شو. د نظار شورا مشرانو یو دم د امریکائیانو لاسونه ښکل کړل او په پښو کې ورته ورغښتل او بیا یې خپله لاسونه ورته په نامه کېښول او ویې ویل چې صاحبانو هر امر وخدمت ته تیار یو، هر ډول نوکري کولای شو، سره له دې چې (ازموده را ازمودن خطا است) خو تاسو کولای شئ موږ یو ځل بیا و ازمویئ، بیا یې نو امریکائیانو ته د (۵۰۰) کیلویي بمونو پرځای د (۵۰۰۰) کیلویي بمونو فرمایش ورکړ چې د بشر دله منځه وړلو قابلیت خو لا څه چې پر یوه وخت

د ونو، بوټو او ټولو ژوندیو موجوداتو د لـه منځه وړلـو وړتیـا یـې لرله.

په پای کې نظار شورا د امریکائیانو د الوتکو تـر وزرونـو لانـدې کابل ته ننوتله، دا داسې مهال و، چې طالبـانو پـه هېـواد کـې نـور اکثره نظامي قوتونه ختم کړي وو، نو ځکه خو میدان دوی تـه تـش او خوشې و.

ښاغلی حامد کرزی چې اوس د هېـواد یـو مهـم سیاسـي شـخص دی، مخکـې تـر دې چې نظـار شـورا کابـل تـه ننویسـتل شـي، پـه ارزګـان کـې پرطالـب ضـد جګړې اختـه و او څـه سیمې یـې لانـدې کړې وې. په پای کې د بن د نامتوازن او نا عادلانـه تـړون لـه مخـې د واك سیاسي کړۍ نظار شورا تـه ورکـړل شـوې او ښـاغلی حامـد کـرزی د لنډمهـالې شپږ میاشـتنۍ ادارې د مشـر پـه توګـه وټاکـل شو.

کله چې کـرزی صیب د واك (!) د رسـمي انتقـال لپـاره کابـل تـه راغـی، نو نه ورسره لښکر و، نـه عسـکر، نـه توپونـه او نـه مېړونـه، یـوازې بې وسلې کـرزی و، یـوه چپنـه وه او یـوه قـره قلـۍ. همغـه وخت هغو سیاستپوهانو سره چې د نظار شورا پر خصوصیاتو پـوه دي او د افغانسـتان وضـع ورتـه ښـه معلومـه ده، داسـې تشـویش پیدا شو، چې یاره دا وړۍ لکه چې شړۍ نـه شـي. څنګـه امکـان لري چې دلېوانو منځ ته یو څوك بې وسلې او بې وسیلې راشي او هغوی دې ورته څه ونه وایي. د کرزي صیب د واك نندارہ خو همغـه وخت معلومـه شـوه چې د احمدشـاه مسـعود تـر عکـس لانـدې یـې

ترڅو کرښېزې پښتو وینا وروسته ژبه واړوله او فارسي خبرې یې پیل کړې، دا په افغانستان کې د اقلیت ژبې او کلتور ته دبرلاسۍ په لاره کې لومړی او اساسي ګام دی، چې تر کرزي صیب دمخه نورو ډېرو پارسیوان شویو پښتنو شاهانو هم پورته کړی دی.

کرزي صیب هغه حقانیت ته پام ونه کړ، چې ده ته دا څوکۍ د اکثریت (پښتنو) په استازۍ ورکړل شوې وه، نړیواله ټولنه په دې خبره ښه پوهېدله چې د هېواد اکثریت پښتانه دي، څو چې مشرتوب دوی ته ونه سپارل شي، په هېواد کې ثبات راوستل ناممکن دي. هغه شپږ میاشتنۍ دوره زیاتره په بهرنیو سفرونو او ډېرو غوړو وعدو تېره شوه، خو کرزی صیب پر دې بریالی نه شو، چې په هېواد کې دسولې او ثبات لپاره زیات عملي ګامونه پورته کړي، غټ عمراني کارونه پیل کړي، وسلې راټولې کړي او ان پردې هم بریالی نه شو چې ددولت په داخل کې د خپلو فرامینو تطبیق ته لاره اوراه کړي.

شپږو میاشتو کې خلکو هم، دا ویل چې ځه خو نوی حکومت دی، کرزی صیب هم بې توپه او بې لښکره ورغلی، کله چې لویه جرګه جوړه شي، په هغې کې به اساسي څوکۍ له جنګسالارانو واخیستل شي، حالت به تر دې ښه شي. لویه جرګه جوړه شوه، کرزی صیب د مشر په توګه وټاکل شو او جرګې ټول صلاحیت کرزي صیب ته ورکړ، خو کرزي صیب داسې کابینه جوړه کړه اویا پرې وتپل شوه چې د بن تر هغې هم ناکاره وه او بیا یې چاته د مخالفت مجال هم ورنه کړ او دا ځل نو نظار شورا ته نور ډېر

امتیازونه هم ورکړل شول، اوس همغه زورواکان له کرزي صیب نه راتاو دي او دی چې هر نېك کار کوي هغوی یې مخه نیسي.
حقیقت او واقعیت دا دی چې نظار شورا ته دومره امتیاز ورکړل شوی چې ولس یې په هېڅ وجه نه شي زغملای، نظار شورا ته د دومره امتیاز ورکول د کرزي شخصیت ته د زیان په بیه تمام شول، خو دې سره سره بیا هم نظار شورا کې دومره اخلاقي او سیاسي شهامت نه شته چې لږ تر لږه دکرزي صیب اوامر ومني او د هغه په مخه کې خنډونه را ولاړ نه کړي، کېدی شي کرزی صیب او نړیواله ټولنه اوس دواړه د نظار شورا یا پنجشېر ولسوالۍ له دومره زیات واك نه پښېمانه وي، خو تشه پښېماني څه ګټه نه لري، عملي کار په کار دی. نو د حل لاره څه ده؟
اساسي خبره داده چې نظار شورا یا جمیعتیان د خپلو ناروا غوښتنو لپاره له خپل پوځي ځواك څخه کار اخلي، ترڅو چې ددوی پوځي ځواك له منځه لاړ نه شي او یا هم د هغو پر وړاندې بل قوت جوړ نه شي، د واك انحصار به همداسې دوام ومومي.
اوس یوه ښه لاره داده چې کرزی صیب ځان ته یو خاص ګارد جوړ کړي، چې نیغ په نیغه په جمهوري ریاست او شخصاً په ده پورې تړلی وي. ددې خاص ګارد لپاره کېدی شي، څلور زره تنه له ختیزو ولایتونو، څلور زره تنه له جنوب ختیزو، څلور زره تنه له مرکزي او شمال ختیزو او څلور زره هم له شمال لویدیزو ولایتونو څخه را وغواړي، ټول شل زره تنه کېږي، دا کسان به په کابل ښار کې امنیت ټینګ کړي، د جمهوري ریاست د فرامینو لپاره به

روحي او فزيکي قوه شي او جمهور رئيس او مسلکي کابينه به له هر ډول تنظيمي او نظامي ګواښونو څخه وژغوري.

په دې ډول کېدی شي د نظار شورا زور اوبه شي، ددې ترڅنګ دې دملي اردو د جوړولو بهير تعقيب شي او هر منظم کنډك يا غونډ چې جوړېږي هغه دې د تنظيمي قطعاتو پرځای چې اوس د دفاع وزارت په چوکاټ کې فعال دي، ځای پرځای شي، د ملي اردو د جوړښت په باب هم بايد ژور فکر وشي، اول پر دې اساسي مسئله غور وشي چې ايا يو ټوپك سالار، پاټکسالار او جنګسالار ملي اردو غواړي او که نه او په تېره دا چې ټوپکسالار د دفاع وزارت په راس کې وي؟ ځواب يې څرګند دی، نه هېڅکله نه! ځکه چې د ملي اردو په جوړښت کې د ټوپکيانو محوه مطرح ده.

هغوی هېڅکله نه غواړي، په خپل لاس خپله ځان ته قبر وکيني، ځينې ټوپکسالاران چې اوس يې دفاع او کورنيو چارو وزارتونه او استخبارات په ولکه کې دي، غواړي د خلکو په سترګو کې خاورې ودوړوي، ملېشه يي او تنظيمي وسله والو ډلو ته د ملي اردو نوم ورکړي او په دې ډول خپله بقا تضمين او خوندي کړي، خو که دا کار دوام ومومي لکه دا و چې؛ نو بيا يې هم نتيجه همداسې بوله. خو اوس د ملي اردو تر جوړښت د مخه د تنظيمواکۍ د مخنيوي لپاره کرزي صيب ته ضرور ده چې ځان ته يو خاص ګارد جوړ کړي، ځکه چې ملت پر کرزي صيب اعتبار کړی او دی هم يوې درنې او مبارزې کورنۍ ته منسوب دی، نو دی بايد د خپلې کورنۍ، پښتنو او په مجموع کې د ټول افغان

ملت د عزت ساتلو لپاره په رښتیا هم یو عملي، با کفایته، باعزمه مشر او جمهور رئیس وي، نه دا چې رېړه زما واك یې د ملا، که د نظار شورا د عسکرو د برچو تر څوکو لاندې د کرزي صیب د پاچاهۍ کاروان همداسې روان وي، نو داسې وېره شته چې دا کاروان به د پښېمانۍ او بې کفایتۍ یوې کندې ته ورسیخ شي او بیا به د خلاصون هېڅ لاره ونه لري.

# څوک جنګسالار، پاټکسالار او ټوپکسالار دی؟

**دا لیکنه هم د منځمهالې ادارې پر مهال په هیله مجله کې چاپ شوې ده.**

له دوه نیمو لسیزو راهیسې افغانستان له جنګسالارانو، پاټکسالارانو او ټوپکسالارانو سره یرغمل دی، په تېره یوې نیمې لسیزې کې خو بیا اکثرو جنګسالارانو د جنګ او جګړې لپاره مقدس شعارونه او ایډیالونه عنوان کړي او خلک یې پر ځان راټول کړي وو، دهمدغو شعارونو په زور یې ځان ته د جګړې او لوټ و تالان یو ډول ظاهري مشروعیت پیدا کړی و. خو کله چې مجاهدینو او ملحدینو په کابل کې ګډائتلافي حکومت جوړ کړ. نو ټوپك خپل پخوانی منطق او مشروعیت له لاسه ورکړ، د جهاد اصطلاح هم خپل پخوانی کیف بایلود او مجاهدینو ته هم هغه ځګه شمله پاتې نه شوه.

تر هغه وروسته چې هرڅه وشول ټولو ولیدل، په زور او زېرېې یادون ضروري نه دی، خو دطالب نظام تر رنګېدو وروسته چې د بهرنیانو د هڅو په نتیجه کې په افغانستان کې یو څه ثبات رامنځته شوی، نو د هرچا په خوله او ژبه د جنګسالار، ټوپکسالار او پاټکسالار اصطلاحګانې ډېرې اورې راوړي،

ښاغلی حامد کرزی هم د جنګسالارانو اصطلاح ډېره زیاته تکراروي، ولس هم د هغو د واک د اختتام هیله کوي، نړیوال هم د ټوپکسالارانو د ختمولو هیله لري، عجیبه خو دا ده چې خپله جنګسالاران، ټوپکسالاران او پاټکسالاران هم دهمدې ډول کسانو د نابودولو چغې وهي. یانې دا چې غل هم چغې وهي چې غل دی او کاروانی هم چغې وهي چې غل دی، خو اصلي غل معلوم نه شو.

د ښاغلي حامد کرزي صیب په مشرۍ دلنډمهالې اداري تر جوړېدو وروسته د جنګسالارانو اصطلاح ډېره زیاته کارول کېږي، خو په واقعیت کې په افغانستان کې هېڅکله هم جنګسالاران په دومره مطلق ډول په واك كې نه وو، لکه په لنډمهاله اداره کې چې ددې خلکو څومره زور او واك تمثیلېده، ان د رباني په هغه تېره جنجالیزه واکمنۍ کې هم جنګسالاران دومره په واك وځواك نه وو، علت یې دا و چې هغه وخت یو جنګسالار هم پوره واك نه درلود، یو بل ته بالفعل خطر و، ټول زور یې د یو بل دفع کولو ته متوجه و، جګړې، ورانۍ او جنګونه ډېر و، جنګسالارانو د ارامۍ او راحت احساس څکه نه شو کولای چې بل جنګسالار به ارامۍ ته نه پرېښودل، خو تر لنډمهالې اداري وروسته د جنګسالارانو واك وځواك ته قانوني بڼه ورکړل شوه، مخکني جنګسالاران څوك د دفاع وزیر شو، څوك د کورنیو چارو، څوك د استخباراتو رئیس شو، څوك د پولیسو قومندان او څوك هم والیان شول او څوك هم ولسوالان.

اوس له کرزي صیب سره هغوی هم یو ځای چغې وهي چې جنګسالاران او ټوپکیان نه منو، هرڅوك د جنګسالارانو پرضد چغې وهي، خو هېڅوك هم د هغو نومونه نه اخلي، کله چې

بې‌ډنۍ لويه جرګه جوړه وه، نو کرزي صيب ته يو ځل بيا ښه موقع په لاس ورغله او پر جنګسالارانو يې ښه دمزې ټکونه وکړل، د لويې جرګې غړو ته هم دا وخت ښه طلايي چانس په لاس ورغلی و او اکثرو پر ټوپکوالو، پاټکيانو او جنګسالارانو ښه په زغرده انتقادونه وکړل، عجيبه خو داوه چې په لويه جرګه کې د ټوپکسالارانو او جنګسالارانو ونډه او برخه هم ښه غوښنه وه او ان په اصل کې په جرګه کې يو اساسي ځواک و، چې د ارتباطاتو مزي يې تر بهرني اساسي ځواک پورې غځېدلي وو، که چا د ټلويزيون له لارې د لويې جرګې لومړی کتار (ستېج ته مخامخ ليکه) ليدلی وي، نو د پخوانيو جنګي تنظيمونو اکثره مشران او زورواکان به يې په کې ليدلي وي لکه رباني، سياف، خليلي، محسني، تورن اسمعيل خان، عبدالرشيد دوستم، فهيم، قانوني او داسې نور چې د کابل د خرابۍ او ويجاړۍ اساسي عاملين او مسئولين دي، په دې لومړي کتار کې د احمدشاه مسعود او عبدالعلي مزاري شتوالی ځکه ناممکن وو، چې هغوی په حق رسول شوي وو، يوازې د ښاغلي حکمتيار کمی له ورايه احساسېده، که چېرې حکمتيار هم په دې لومړي کتار کې ناست وای، نو بيا به د افغانستان د وروستۍ لسيزې په تېره بيا د کابل د ورانۍ ټول لوبغاړي، ټوپکيان او پاټکيان پوره شوي وای.
عجيبه خبره خو داده چې يو شمېر ټوپکوالو او جنګسالارانو هم د جنګسالارانو غندنه کوله. د هغوی دا کار په دې مانا نه و، چې ګنې دوی له خپلو تېرو عملونو پښېمانه دي او نور جنګ جګړې نه غواړي، بلکې هغوی داسې انګېرله چې دوی بېخي بېګناه دي، دوی هېڅ نه دي کړي، هرڅه يې چې کړي هغه ددوی مخالفينو کړي، په همدې خو يې ځان ته برئت ورکاوه، بله ديادون

خبره خو داوه چې ځومره وروسته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخدار براهیمي هم اعلان وکړ، چې لویې جرګې ته یو زیات شمېر جنګسالارانو لاره کړې وه، خو خلکو یې زیاته غندنه وکړه، هغه هم د جنګسالارانو نومونه وانه خیستل او نه یې د کوم جنګسالارر بېلګه وړاندې کړه.

د ملګرو ملتونو پښنه لا هغه وخت ښوېېدلې وه چې دلویې جرګې په کمیسیون کې یې په خپله دجنګسالارانو استازي کېنولي وو، نو ځکه خو جنګسالارانو وکړای شول، په اسانۍ سره جرګې ته لاره پیدا کړي، خو لنډه دا چې په اصولو کې هرڅوك د جنګسالارۍ او ټوپکسالارۍ غندنه کوي، خو کله چې د عمل وخت راشي نو ټول ځان غلی نیسي، موږ له ښاغلي کرزي صیب، ملګرو ملتونو او د جنګسالارۍ نورو مخالفینو څخه هیله کوو چې کله بیا د جنګسالارۍ پر ضد خبرې کوي، نو باید د جنګسالارانو نومونه هم واخلي، چې د ولس دزړه پر لمبو اوبه تویې شي. ځینې جنګسالاران بیا ځان ته دا برئت ورکوي، چې موږ خو صیب د طالبانو او القاعدې پرضد جنګېدلي یو، موږ جنګسالاران نه یو، دا ښاغلي هغه کسان دي، چې په اصطلاح (غر) په (پر) پټوي، که له دې ښاغلو څخه وپوښتل شي، چې تاسو د طالبانو تر ظهور دمخه څه کول؟ پر کوم علمي، فرهنګي او عمراني کار مصروف وئ او که نه په کابل او د هېواد په نورو سیمو کې مو جګړې کولې، طالبان خو همدا ستاسو د عملونو زېږنده وو؛ که تاسو نه وای د طالب وجود ته اصلاً هېڅ ضرورت نه پیدا کېده.

له ښاغلي کرزي صیب څخه د افغان ولس هیله داده، چې هېڅ زورواکي ته باید د ملي اتل لقب او مارشال رتبه ورنه کړل شي، بلکې هغوی د ملت عادلانه قضاوت ته پرېښودل شي.
د افغان ولس هیله ده چې کرزی صیب او ملګري ملتونه چې کله هم د جنګسالارانو یادونه کوي، باید رښتیني بېلګې یې هم وړاندې کړي، داسې نه چې غل غندم، خو دغله نوم له وېرې په خوله نه اخلم، یا دا چې یوازې د مات شویو جنګسالارانو یادونه کوم او د واکمنو په باب څه نه وایم. زموږ ولس ته ټول جنګسالاران یو شان دي، که هغه د شمال دي، که د جنوب، اوس حاکم دی که محکوم، وزیران دي که فقیران، مقصد چې جنګسالار او ټوپکوال وي د غندلو او رټلو وړ دی.
کوم زورواکي چې اوس د حکومت پر لوړو څوکیو ناست دي که دا جنګسالاران نه وي، نو خیر بیا څوك جنګسالاران دي؟
هیله ده د لنډمهالي اداري مشر ښاغلی حامد کرزی صیب او ملګري ملتونه همدې پوښتنې ته کوټلی، حقیقي، واقعي، رښتیني او صادقانه ځوابونه پیدا کړي.

# د افغانستان د راتلونکي ولسمشر د انتخاب څرنګوالی

**دا لیکنه هم هغه مهال شوې وه چې نـه د اساسي قـانون لویـه جرګـه جوړه شوې او نه هم د انتخاباتو کمیسیون او قـانون معلـوم وو، خـو هغه څه چې زما په نظر ملت ته په ګټه و او د افغانسـتان جوړښـت تـه یې ګټه رسولای شوه، ما د همغه انتخاباتي سیستم غوښـتنه کـړې ده، له نېکه مرغه ددې لیکنې زیاتې برخې وروسته پـه انتخابـاتي سیسـتم کې عملي شوې، خو یو څه تشویشونه لاهم پـر ځـای پـاتې شـول. دا لیکنه هم پر هماغه مهال د هیلې مجلـې د ۱۳۸۱ل کـال پـه (۵) ګڼـه کې چاپ شوې ده.**

د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو په مـادي او مـانیز ملاتړ اوس د افغانستـان د نوي اساسـي قـانون د مسـودې پر ابتـدایي مـتن کـار روان دی، کلـه چې ابتـدایي مسـوده بشـپړه شـي، د تـدقیق دیـوه کمیسـیون لـه خـوا بـه کـره کېـږي، بیـا بـه د مطبوعـاتو او نـورو امکاناتو په واسطه ولس ته وړاندې کېږي او د خلکـو د نظرونـو تـر راټولونې وروسته به بیا دا نظرونه د اساسي قانون د کمیسـیون لـه خوا په پام کې نیـول کېـږي، تـر دې وروسـتـه بـه یـوه وروسـتۍ کـره

مسوده جوړېږي، همدا کره او يا په اصطلاح پوره مسوده به د اساسي قانون لويې جرګې ته وړاندې کېږي.

د لويې جرګې تر منظورۍ او تائيد وروسته به دا قانون د اساسي قانون بڼه خپلوي او هېوادنۍ چارې به پرې سمبالېږي. دا چې د اساسي قانون دا بهير به په همدې ډول ترسره شي که نه؟ د اساسي قانون د کميسيون غړي به پوره وړتيا ولري که نه؟ قومي او سيمه ييز انډول او د افکارو توازن به په کميسيون کې څرنګه وي؟ دا او دې ته ورته پر نورو مسايلو دلته بحث نه کوو، دلته يوازې پر دې غږېږو چې په اساسي قانون کې به د ولسمشرۍ د مقام او د هغه لپاره د انتخاباتو څرنګوالی په ګوته کېږي. د هېواد مشري يا ولسمشري کېدی شي د پاچا او جمهور رئيس په وجود کې تمثيل شي، په پاچاهي نظام کې د پاچا قدرت په مطلق او مشروط ډول تمثلېږي، چې د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې مطلق شاهي نظام نا ممکن برېښي او هم د اوسنيو ديموکراتيکو معيارونو مخالف کار ګڼل کېږي، د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه په وجود کې د يو مشروطه شاهي نظام او په هغه کې د شاه اجرائيوي او سمبوليك رول نه د ټولنې له غوښتنو لرې دی او نه هم د ټولنې له عيني واقعيتونو، خو د ټولنې تېر تاريخ او د تېرې بېړنۍ لويې جرګې بهير ته په کتنې سره د ولس هره غوښتنه او هر عيني واقعيت د کورنيو او بهرنيو وسلوالو سياسي ځواکونو له خوا چلنج کېدی او ويتو کېدی شي. که د پخواني پاچا په وجود کې مشروطه شاهي نظام هر څومره

هم د خلکو غوښتنه او د ټولنې يو عيني واقعيت او ضرورت وي، پر افغانستان باندې واکمنې کورنۍ او بهرنۍ سياسي پوځي ډلې به دې ته تيارې نه شي، چې داسې نظام ته له خپل نا کنټروله واکه تېرې شي، که په هېواد کې ديو احتمال پر بنسټ مشروطه شاهي نظام هم په پام کې ونيول شي، نو طبعاً تر شاه وروسته دويمه اساسي اجرائيوي څوکۍ (صدارت) به د قدرت ديوې بلې اساسي سرچينې په توګه مطرح شي او د صدراعظم د ټاکنې لپاره بيا هم د يموکراتيکو انتخاباتو ته اړتيا پيښېږي.

که د شاهي نظام ټول چانسونه له منځه لاړ شي، نو د مشرتابه د ټاکنې لپاره دويمه سياسي لاره د جمهور رئيس ټاکنه ده. که جمهور رئيس ټاکل کېږي، بشپړ اجرائيوي څواك به ولري؟ او که نه سمبوليك رول به ولري او د څواك ممثل به يې صدر اعظم وي؟ او يا هم جمهور رئيس او صدراعظم به دواړه وي او دواړه به متناسب اجرائيوي څواك ولري؟ په هر حال کله چې په اساسي قانون کې د هېواد د اجرائيوي مشرتابه (ولسمشرۍ) مقام يا دريځ څرګند شو ، نو بيا د هغه د ټاکنې لپاره دوديزه او قانوني لاره همدا عمومي انتخابات دي. تر ټولو ستره او مهمه مسئله همدا عمومي انتخابات دي، ټاکنې بايد په بشپړ ډول عادلانه وي او د هر ډول درغلۍ مخه بايد په کې ونيول شي، د عادلانه او صفا انتخاباتو په نتيجه کې يو روښان، د خلکو دخوښې او حساب وړ ولسمشر رامنځته کېدی شي، عادلانه انتخابات د انتخاباتو يو رښتيني عادلانه قانون ته اړتيا لري او د عادلانه

قانون د پلي کېدو لپاره یوې ناپییلې ځواکمنې سرچینې تـه اړتیـا ده.

عـادلانه قانون بیا هغه وخت عـادلانه ګڼل کېـږي، چې د عمـل پـه ډګر کې پلی شي او مثبته نتیجه ترې لاسته راشي. کله کله داسې هم وي چې قـانون عـادلانـه لیکـل شوی وي، خو عملي کېـدل یې ناعادلانه وي، کله بیا د عدالت تر نامه لاندې یوه ناعـادلانـه طرح لیکـل شوې وي او ولـس تـه د عـدالت پـه نامـه وړانـدې شوې وي. مقصـد دادی چې کلـه د عادلانـه قـانون او عـادلانـه ټـاکنو نـوم اخیستل کېږي دا باید لفظ او عمل، نظر او عملي کېدنـه ټول یـو بل سره منطبق وي.

په افغانستان کې د راتلونکې ولسمشرۍ لپاره په انتخاباتو کې دا مسئله هم د یادونې وړ ده، چې د ولسمشرۍ لپاره انتخابات د ګونـدونو د اکثریت رایـو د ګټلو لـه مخې کېـږي یـانې کـوم ګونـد چې زیاتې رایې وګټلې د هغه استازی به د جمهور رئیس پـه توګـه ټاکل کېږي که څنګه؟ او یا هم دا چې د پارلمان لپاره انتخابات کېږي او چا چې په پارلمان کې ډېرې رایـې ترلاسه کړې هغـه بـه د دولـت مشـر ټـاکي او یـا هـم حکومـت بـه جـوړوي. دغـه راز د انتخابـاتو د معیـارڅرنګوالی هـم ډېـر مهـم دی، یـانې دا چې د کومو معیارونو له مخې ټاکنې ترسره کېـږي، د افغانسـتان اداري واحدونه په پام کې نیول کېږي که نفوس یا وګړي، که دواړه؟

کـه د اداري واحـدونو معیـار پـه پـام کـې نیـول کېـږي، نـو د تنظیمواکۍ پـه جنجـالیزه دوره کـې د خپلسـرو زیـاتو شویو اداري

واحدونو ستونزه به څنګه اوارېږي؟ بل د نفوسو مسئله هم یوه جنجالي مسئله ده، ځکه چې تر اوسه پورې په افغانستان کې اول د قومونو او بیا د اداري واحدونو د اوسېدونکو شمېر په دقیق ډول معلوم نه دی. هغه ځوك چې د وګړو د شمېر په تناسب څوکۍ وېشي هغوی ته به ډېره مشکله وي، چې د ټولو خلکو رضایت راجلب کړي، د تېروتنو او درغلۍ د راپېښېدو امکان په کې ډېر زیات دی، خصوصاً د څوکیو د وېش په برخه کې، په کمیسیون کې که تنظیمي اشخاص ځای شوي وي، نو بیا خو خبره په ډاګه له عدالته وځي.

زموږ په اند په اوسني وخت کې د اداري واحدونو او نفوسو د فرضیې پر بنسټ د ګوندي انتخاباتو نتیجه مثبته نه ده، لکه پورته چې یادونه وشوه د خپلسرو اداري واحدونو ستونزه او د نفوس د دقیق تثبیت د نشتوالي ستونزه دواړه رامنځته کېږي، د ګوندي انتخاباتو په نتیجه کې به د ازادو رایو ګټونکو (ممبرانو) برخلیك څنګه کېږي؟ ایا په ګوندي سیستم کې د ټول ولس د مستقیم نظر څرګندونه کېدی شي؟ که په ګوندي سیستم کې فرضاً یوه ګوند هم د مشرتابه د ټاکنې لپاره لازم شمېر پوره نه کړ، بیا به څنګه کېږي؟ یا هم یو ګوند تر نورو ګوندونو لږ زیات اکثریت وګټاته، خو د ازادو ممبرانو مجموعي شمېر تر دوی هم زیات دی، خو څرنګه چې هغو په خپل منځ کې کوم پیوستون نه لري، نو نه شي کېدی دیوه واحد اکثریتي سیستم په توګه

رامنځته شي. نو دلته بیا هم د ولس د اکثریت هیلې شاته پاتې کېږي.

په ګوندي سیستم کې د درغلۍ د پېښېدو غټ اټکل دا دی هغه ګوندونه چې د ولسي نفوذ له پلوه کمزوري، خو د پیسو او نورو امکاناتو له پلوه پیاوړي دي، هغوی به د پیسو په زور ډېر ازاد ممبران را خپل کړي او هم به یو شمېر کمزورو وړو ګوندونو ته تر خپل استحقاقه د پورته امتیاز په منلو سره هغوی هم د ځان ملګري کړي او د حکومت مشرتابه به دداسې چا له خوا وټاکل شي، چې ددرغلۍ له لارې یې ځان ددې جوګه کړی وي چې مشر وټاکي، په دې ډول به د عام ولس رایې د هغو د استازو له خوا هغوی ته د شخصي امتیاز په ورکولو سره په ناسمه توګه وکارول شي. نو ددې ډول درغلیو او ستونزو مخه څنګه نیول کېدی شي ایا د حل کومه لاره شته؟ د حل لارې به یې نورې هم وي، خو زموږ په نظر د راتلونکو سالمو انتخاباتو لپاره د حل یوه لاره داده:

د جمهور رئیس دټاکنې لپاره باید په مستقیم او سري ډول د ټول ولس مستقیمي رایې واخیستل شي، په مرکز، ولایتونو، ولسوالیو، کلیو او هر هغه ځای کې چې د خلکو د راټولېدو ځای وي، د رایې اخیستنې صندوقونه دې کېښودل شي، هر څوك (ګوندونه او ازاد شخصیتونه) د هېواد د مشرتابه لپاره خپل کاندید معرفي کولای شي. انتخابات دې په ټول هېواد کې پر یوه ټاکلي وخت ترسره شي، کله چې له ټول هېواد څخه رایې را ټولې

شي، تر شمېرلو وروسته چې د هرچا رایې تر نورو زیاتې وې هغه دې د هېواد د مشر یا جمهور رئیس په توګه وټاکل شي. دې ډول انتخاباتو کې درې اساسي ستونزې پر یوه وخت حلېږي:

۱. د اداري واحدونو جنجالي ستونزه اصلاً هېڅ نه مطرح کېږي.

۲. د نفوس د دقیق شمېر معلوملو او په دې اړه د نانددریو او ډنډیو مخه نیول کېږي، ځکه ټول وګړي هرڅومره چې وي عملاً به په انتخاباتو کې په مستقیم ډول دخیل شي.

۳. د رشوت، زرو زور له لارې به د خلکو د رایو د رانیولو مخه ونیول شي، ځکه چې دټاکنو په دې ډول کې به څوک چاته رشوت نه شي ورکولای، کېدی شي د افغانستان له اټکلي (۲۵) ملیونه وګړو څخه تر نیمایي زیات یې د رایې ورکولو تر قانون لاندې راشي، نو څوك او کوم ګوند به ددې وس ولري چې دولس دیارلس ملیونه وګړو ته رشوت ورکړي، یوه، لس، سل او زر رایې به په څو واخلي او دا رایې به بیا د ووټونو په دې لوی دریاب کې څومره ارزښت ولري؟ خو په هغه بل سیستم کې یانې دا چې خلك یو ځل خپل استازي وټاکي او استازي بیا د حکومت مشر وټاکي په دې حالت کې د خلکو د رایو د خرڅولو او ضایع کولو ډېر زیات احتمال شته، د ساري په توګه که د اداري واحدونو او نفوسو د شمېر په پام کې نیولو سره انتخاباتي سیستم عیار شي، نو کېدی شي هرې ولسوالۍ یا هر اداري واحد ته د تېرې بېړنۍ لویې جرګې د ټاکنو په شان دوه یا درې څوکۍ ورسېږي، که

فرضاً دیوې ولسوالۍ زیات وکم یو لك وګړي خپل درې تنه استازي وټاکي او بیا دا استازي وروسته د پیسو، زور او فشار له وجې خپلې رایې بل چا ته ورکړي او یایې په نا سم ډول وکاروي، نو په حقیقت کې د یو لك کسانو رایې پر سیند لاهو شوې.

په هغه انتخاباتي سیستم کې چې د خلکو قوت د خپلو استازو په وجود کې تمثیلېږي، په هغه حالت کې دا قوت د ډېرو کمو امتیازاتو او پیسو په مقابل کې تر ګوتو کېدی شي، خو که مستقیماً خلکو ته مراجعه وشي، هېڅکله به هم د زر و زور له لارې دا کار شونی نه شي.

د خلکو د استازو له خوا د مشرتابه د ټاکنې بله اټکلي بېلګه به هم وړاندې کړو. که احیاناً یو ګوند د مشرتابه لپاره شلو نورو رایو ته اړتیا لري او د خلکو د استازو په ډله کې تر (۵۰) تنو زیات ازاد ممبران هم موجود وي، نو که دا ګوند وغواړي په اټکلي ډول د لسو لکو ډالرو په بدل کې د شلو ممبرانو نظر په خپله خوا رااړولای شي، موږ باید د خپلې ټولنې دا تریخ حقیقت ومنو چې د پنځوسو تنو له جملې شل تنه هر یو د پنځوس زرو ډالرو په بیه خپل نظر اړولای او بدلولای شي، ددې نتیجه دا شوه چې د انتخاباتو دې سیستم کې زموږ د ملت برخلیك یا لږ تر لږه د سیاسي مشرتابه برخلیك په لسو لکو ډالرو او ان تر دې هم په کمو پیسو بدلېدلای شي.

خو که چېرې ولس په مستقیم ډول یانې هر افغان دیوه فرد په توګه د جمهور رئیس په ټاکنه کې برخه واخلي، د ګوندونو او

نورو سیاسي اشخاصو د درغلۍ له ډېرو چالونو څخه خوندي پاتې کېدی شي. کله چې جمهور رئیس د ولس د اکثریت رایو په ګټلو سره وټاکل شي، نو کابینه دې هم خپله جوړه کړي، جمهور رئیس باید پوره او مناسب اجرائیوي څواك ولري، د کابینې مشري دې هم د جمهور رئیس پر غاړه وي.

د صدارت پوست یا صدراعظم ته اړتیا نه شته، ځکه چې دلته بیا د قدرت دوه سرچینې رامنځته کېږي او وخت پر وخت د جمهور رئیس او صدراعظم ترمنځ د واك پر سر د ناندریو د پېښېدو امکان شته، د صدراعظم په رامنځته کېدو سره د مالي لګښتونو، درغلیو او اداري تورم د پېښېدو امکان هم زیاتېږي. د افغانستان په شان هېوادونو لپاره ښه داده چې د قدرت مرکزونه راټول وي نه تیت، واحد وي نه متفرق.

پر جمهوري ریاست سربېره د پارلمان (ولسي جرګې) لپاره هم ټاکنې ضروري دي، که په افغانستان کې د ولسي جرګې لپاره په انتخاباتي سیستم کې اداري واحدونه او دقیق نفوس یا لږ ترلږه اټکلي نفوس د واړه په پام کې ونیول شي ښه به وي، پارلماني انتخابات که د ګوندونو په حساب وشي او یا هم په کوم بل ډول دومره ستره ستونزه ترې نه راولاړېږي، خو په دې شرط چې جمهور رئیس تر دې دمخه د خلکو د مستقیمو رایو په واسطه ټاکل شوی او پارلمان یوازې د حقوقي مسایلو او قوانینو د څېړنې او تطبیق چارو ته ځانګړی شوی وي.

د پارلمان ځانګړنه دا ده چې اپوزيشن يا مخالف لوری حتماً په کې وي، نو د داسې پرېکړې صادرول ناشونی کوي، چې د ملت د ملي ګټو مخالفې وي، په پای کې د خپلو خبرو نچوړ په دې توګه راوړو:

۱. د جمهور رئيس يا ولسمشر د ټاکنې لپاره بايد ټول ولس په مستقيم او سري ډول په ټاکنو کې برخه واخلي.

۲. د ولسي جرګې يا پارلمان لپاره دې د اداري واحدونو او نفوس دواړو په پام کې نيولو سره انتخابات ترسره شي او د خلکو قوت او نظردې د خپلو استازو له لارې په پارلمان کې تمثيل شي.

# راتلونکې لویه جرگه، انتخابات، تشویشونه، اټکلونه او وړاندیزونه

دا لیکنه ماتر ببړنی لویې جرگې وروستته لیکلې وه، او هماغه وخت د هیلې مجلې د (۱۳۸۱ل) کال په (۳)مه گڼه کې چې د یاد کال (زمري-وږي) سره سمون خوري، چاپ شوې ده، ددې لیکنې پرمهال معلومه نه وه چې د اساسي قانون د جوړېدو بهیر به څنگه وي، ددې قانون د تصویب لپاره به لویه جرگه څنگه جوړېږي؟ څو میاشتې وروسته د قانون جوړونې بهیر پیل شو، بیا نږدې یو نیم کال وروسته د اساسي قانون لویه جرگه جوړه شوه، تر هغه وروسته بیا د جمهوري ریاست او ملي شورا لپاره انتخابات وشول، خو ما چې له نږدې نه دا ټول بهیرونه څارلي او په خپلو سترگو مې لیدلي، نو په دې لیکنه کې چې ما کوم تشویشونه او اټکلونه څرگند کړي وو، د هغو یو زیات شمېر پر واقعیت بدل شول، دادی ددې لیکنې د اټکلونو ارزونه د خپلو قدرمنو لوستونکو قضاوت ته پرېږدم.

تشویشونه: وخت او ژوند د باد او اوبو مثال لري، ډېر ژر تېرېږي او شاته نه گوري. هوښیار خلك هغه دي چې له وخت څخه پر خپل وخت ډېره گټه پورته کړي، رحمان بابا خو ان تېر وخت او

تېر ساعت د لحد مړی ګڼي چې ان په سختو ژړاګانو هم نه را ژوندی کېږي او نه بېرته رغېږي.

د بن دتړون او دبېړنۍ لويې جرګې دپرېکړو له مخې دهمدې بېړنۍ لويې جرګې تر جوړېدو يو نيم کال وروسته د اساسي قانون د تصويب لپاره بله لويه جرګه رابلل کېږي او تر هغې وروسته بيا د شپږو مياتو په بهير کې عمومي انتخابات کېږي او په نتيجه کې به يو منتخب حکومت رامنځته کېږي. اساسي قانون، لويه جرګه، انتخابات او منتخب حکومت هغه ډېرې سترې سياسي مسالې دي، چې د افغانانو او افغانستان برخليك ټاکي، د زمانې څرخ په ډېره بېړه تاوېږي، خو زموږ ولس په تېره بيا ملي سياسي ډلې، ملي شخصيتونه او نورې سياسي ډلې لا تر اوسه کوم فعال سياسي تحرك، خوځون او فعاليت نه لري او ددې طلايي وخت طلايي شېبې يې له لاسه وځي. راتلونکې لويې جرګې او انتخاباتو ته خورا کم وخت پاتې دی، که سياسي ډلې همداسې ويدې پاتې شي او يا هم نوې متحرکې سياسي ډلې او ګوندونه رامنځته نه شي، نو داسې اټکل کېږي، چې د افغانستان راتلونکې به تردې هم مبهمه او بدتره شي.

که چېرې په هېواد کې د ملي ګوندونو همدا ډب حالت همداسې ډب پاتې شي او د اوسنۍ واکمنې انحصارګرې ډلې پر وړاندې يو ملي بديل، جبهه او ائتلاف جوړ نه شي او د هېواد په سياسي چارو کې د اوسنۍ واکمنې سياسي ډلې لاس همداسې

خلاص پاتې شي، نو د سترو سیاسي ناورینونو د پیښېدو اټکل کېدی شي، چې ځینې یې دلته په ګوته کوو:
اټکلونه:

**الف_ د بدیل مخنیوی:** اوسنۍ واکمنه سیاسي ډله غواړي تر راتلونکې لویې جرګې پورې په هېواد کې هېڅ یوه لویه سیاسي ډله او جبهه چې ددوی ګټو ته خطر او ضرر پیښولای شي، رامنځته نه شي، دوی غواړي همدا حالت تر لویې جرګې پورې همداسې وساتي. که چېرې دوی تر بلې لویې جرګې پورې له یوځي پلوه همداسې برلاسي پاتې شي، نو بیا هم لویه جرګه تر خپل اغېزلاندې راوستلای شي، لکه څنګه چې په دې بې‌دړنګه لویه جرګه کې امریکائیانو او ملګرو ملتونو دوی ته د ویټو حق ورکړ او سولې ته دګوابښ په نامه یې دوی ته امتیازونه ومنل، نو بله لویه جرګه هم همداسې وګڼه. واکمنه انحصارګره ډله غواړي د زور، وسلو او پیسو په وسیله د قوي اپوزیشن مخه ونیسي، هر مخالف ته د طالب او القاعدې رنګ ورکړي او د هغو د ځپلو لپاره د بهرنیو ځواکونو په تېره بیا د امریکایي ځواکونو پام هم راواړوي.

**ب_ راتلونکې اساسي قانون:** د راتلونکې اساسي قانون مسوده دیو ځانګړي کمیسون له خوا ترتیبېږي او لویې جرګې ته د تصویب لپاره وړاندې کېږي، په اساسي قانون کې به دوه موضوعګانې تر نورو زیاتې جنجالي وي، یوه د فیدریشن موضوع او بله د ملي ژبې موضوع. د فیدریشن پلویان اوس

دومره ځواکمن نه دي، نو کېدی شي افغانستان کې یو مرکزي نظام د زیات تائید وړ وګرځي، خو د پښتو ژبې هغه خپل حقوق چې د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون کې ورته ورکړل شوي، خو هېڅکله عملي نه شول، هغه هم کېدی شي له ګواښ سره مخامخ شي، ځکه چې اوس د پښتو ژبې هغه ډېر شعوري مخالفین په بشپړ واك کې دي، دوی به اوس هڅه کوي چې پر کمیسیون خپل فشار راوړي چې داساسي قانون ددې مادې متن بدل کړي او بیا په لویه جرګه کې دخپلو پلویانو له لارې هڅه وکړي د پښتو ژبې حق سلب کړي. د فیدریشن او ژبې له موضوع پرته اساسي قانون کې نورې موضوعګانې ځکه د زیات تشویش وړ نه دي، چې هغه پر ټول ولس، پر شمال وجنوب، ختیځ او لویدیځ یو شان تطبیقېږي.

ج ـ **عمومي ټاکنې (انتخابات):** په اساسي قانون کې به د انتخاباتو ماده هم راځي او کېدی شي دیوې بلې ځانګړې ضمیمې په توګه د انتخاباتو قانون جوړ شي، د هېواد راتلونکي سیاسي برخلیك او حکومت په ټاکلو کې د انتخاباتو قانون تر ټولو مهم رول ادا کوي، مهمه خبره داده چې د انتخاباتو قانون د ټولنیز عدالت او واقعیتونو پر بنسټ جوړېږي او که نه؟ دا هم تر اوسه معلومه نه ده چې د انتخاباتو دقانون بشپړ متن لویې جرګې ته وړاندې کېږي او که نه؟که چېرې د راتلونکو انتخاباتو لایحه د ببړنۍ لویې جرګې د ځانګړې کمیسیون د انتخاباتو په شان وي، نو بیا خو ښکاره خبره ده چې ټولنیز عدالت تر پښو لاندې کېږي،

د ببرړنۍ لويي جرګې د انتخاباتو يوه بېلګه به وړاندې کړو: په ببرړنۍ لويه جرګه کې د لغمان له ولايت څخه ټول (۲۵) له لوګر څخه ټول (۱۷) خو پنجشېر ولسوالۍ څخه له بېلابېلو لارو تر (۳۰) تنو هم زيات د جرګې د غړو په توګه راغلي وو. د بدخشان اداري واحدونه له (۱۳) څخه (۲۸) ته پورته شوي وو. د انتخاباتو په قانون کې به حتما د اداري واحدونو او نفوسو خبره مطرح کېږي. دې کې بيا ټولنيز عدالت تر پښو لاندې کېږي، يو خو دا چې په تنظيمواکۍ کې استاد رباني په خپل سر د تاجکمېشتو سيمو اداري واحدونه زيات کړي او د نفوسو په اټکل کې يې هم مبالغه کېږي، په بېړنۍ لويه جرګه کې د خوست يو وکيل محمداکبر نېکزاد استاد رباني ته د موقت پارلمان د ټاکنې په برخه کې وويل" استاد در افغانستان شما (تاجيکها) اکثريت هستيد يا ما (پشتونها)؟" استاد رباني ورته وويل: "شما" نو نېکزاد صيب ورته وويل: " دا نو چې زه په بېړنۍ لويه جرګه کې له هر لسو تنو څخه يو تن د پارلمان د غړو په توګه ومنم، نو دې کې خو ته اکثريت کېږې او موږ اقليت کې راځو، نو دا خو معلومېږي چې تاسو او دلويې جرګې کميسون له موږ سره درغلي کړې او زموږ حق مو سلب کړی، اکثريت مو په اقليت بدل کړی، نو هغه پارلمان چې اکثريت په کې په اقليت بدلېږي نو موږ يې ولې ومنو؟ښه به دا وي چې له هر ولايت څخه دوه دوه تنه پارلمان ته راشي". استاد رباني چې د اکبر نېکزاد دا خبرې واورېدې نو غلی شو او څه ځواب يې نه درلود.

نو که د انتخاباتو په قانون کې پارلماني څوکۍ بیا هم په همدې ډول ووېشل شي، لکه د بېړنۍ لویې جرګې د کمیسیون له خوا چې شوې وې، نو ښکاره خبره ده چې د انتخاباتو په نتیجه کې به یو ملي حکومت او پارلمان رامنځته نه شي، ځکه چې د هېواد اکثریت به په لومړي ګام کې له واکه محروم شي.

**د – راتلونکې لویه جرګه:** تر اوسه دا معلومه نه ده چې راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا انتخابات کېږي او که نه؟ همدا وکیلان؟ لویې جرګې ته ځي او که نه په دې برخه کې به څه کمی وزیاتی غورچاڼ او یا غوراوی کېږي. دا به دچا له خوا کېږي، د انتسابي غړو، وزیرانو او والیانو د ګډون مسئله چې اکثره د واکمنې ډلې پلویان وو، څنګه اوارېږي. دا ټولې هغه پوښتنې دي چې باید تر لویې جرګې ډېرې دمخه سپینې او اوارې شي. که لویې جرګې ته د همدې انتسابي غړو په ګډون همدا ترکیب بیا راشي او واکمنه ډله هم تر هغه وخته په همداسې قوت کې پاتې وي او بهرنیان یې هم همداسې ملاتړ وکړي، نو داسې دې وګڼل شي چې نه به داسې اساسي قانون تصویب شي چې هغه پر عدالت ولاړ وي او نه هم د انتخاباتو عادلانه قانون.

**هـ – راتلونکي انتخابات:** د راتلونکې لویې جرګې، اساسي قانون او د انتخاباتو د لایحې له کیفیت څخه ښه څرګندېږي، که چېرې لویې جرګې ښه ورتیا درلوده او د عدالت پر بنسټ یې اساسي قانون تصویب کړ او تر هغه وروسته د انتخاباتو قانون هم د ټولنیز او ملي انډول او عدالت پر بنسټ ولاړ و، نو بیا خو د

راتلونکو انتخاباتو نتيجې هم مثبتې بوله، کله چې د انتخاباتو نتيجې د عام ملت د هيلو ښکارندويې وي، نو د هغو پر اساس به جوړ شوی حکومت هم ملي او د ولس د خوښې وړ وي او که په پورته ټولو مسايلو کې درغلي شوې وه، نو حکومت يې هم همداسې بې کفايته او بې ثباته وګڼه.

**و ـ د ټاکنو د نتيجو تضمين:** تر ټولو ستره او سياسي وېره د انتخاباتو تضمين دی، که چېرې په افغانستان کې رښتيني انتخابات هم وشي او د ولس د خوښې استازي په ټاکنو کې غوڅ بری ترلاسه کړي، خو دې سره سره بيا هم واکمنه نظامي ډله د واك له اساسي لېږد څخه ډډه وکړي، نو ايا داسې کوم تضمين او سرچينه شته چې واکمنه ډله دې ته اړه کړي چې واك نوي منتخب حکومت ته پرېږدي؟

په خواشينۍ سره بايد ووايو چې تراوسه داسې کوم تضمين، د واك کومه بله سرچينه نه شته چې واکمنه ډله واك پرېښودو ته اړه کړي. په افغانستان کې اوس د واك اساسي سرچينې بهرني پوځې ځواکونه او په کورني کچه د نظار شورا پوځي ډله ده، بهرني پوځونه نه غواړي چې په افغانستان کې د ټولنيز عدالت د تضمين او تامين لپاره خپله وينه قربان کړي، غوره مثال يې همدا تېره بېړنۍ لويه جرګه ده.

دا واقعيت ټولو ته ثرګند دی، چې که پخواني پاچا اعليحضرت محمدظاهرشاه ځان کانديد کړی وای نو (۸۰ ـ ۹۰) سلنې وکيلانو هغه ته رايه ورکوله، خو دنظار شورا د مخالفت له

وجې هغه ځان کاندید نه کړ او امریکائیانو نه غوښتل نظار شورا سره د جګړې او یا د هغوی د خفګان په بیه د شاه ملاتړ وکړي، په دې وخت کې له ملګرو ملتو او امریکایي پوځونو پرته بل مطرح قوت نه و، چې نظارشورا باندې یې د زور له لارې د ولس حق منلای وای. کله چې پخوانی پاچا له خپلې کاندیدۍ تېرشو، نو په کاندیدانو کې تر ښاغلي حامد کرزي بل غوره شخص نه و، نو ځکه وکیلانو هغه په ډېر اکثریت یانې له (۱۵۰۰) رایو څخه په (۱۲۹۵) رایو د هېواد د مشر په توګه په دې نیت وټاکه، چې د اوسنۍ واکمنې ډلې انحصاري واك پای ته ورسوي.

خو کله چې د حکومت جوړېدو خبره شوه بیا له جرګې څخه واك واخیستل شو او خبره د پردې شاته ولېږدول شوه. نظار شورا ځکه اساسي پوستونه او کابینه رایې اخیستنې ته وړاندې نه کړه، دوی پوهېدل چې د انتخاباتو له لارې یې موږ نه شو ګټلای. د لویې جرګې رئیسه هیئت دپنځه څوکیو لپاره انتخابات دوی ته غوره ببلګه وه، چې د نظار شورا یا پنجشېر ولسوالۍ دکاندیدانو له جملې څخه یو تن هم بریالی نه شو، نو کله چې د جرګې د رئیسه هیئت څوکۍ نه شي ګټلای، نو وزارتونه به څنګه وګټي؟

همدا علت و چې بیا یې له خپل نظامي زور څخه ګټه پورته کړ، کرزی صیب، امریکائیان او ملګري ملتونه یې دې ته اړ کړل چې اساسي وزارتونه بیا دوی ته ورکړي او بیا په داسې وخت کې یې جرګې ته اعلان کړي، چې د مخالفت لپاره هېڅ وخت پاتې نه وي. دکابینې تر انتخاباتو وروسته په یوه خصوصي غونډه کې ښاغلي

کرزي صیب دا اعتراف کړی و چې: " موږ په لویه جرګه کې عدالت تر پښو لاندې کړ او سولې ته مو ترجیح ورکړه". له "سولې ته ترجیح" څخه دښاغلي کرزي مقصد دادی چې نظار شورا اخطار ورکړی چې: "که چېرې په کابینه کې زموږ شرطونه ونه منل شي نو موږ به کابل په وینو ولمبوو". نو ځکه یې غوره وبلله، چې څه که عدالت تامین نه شو نو لږ تر لږه خو موقتي سوله رامنځته شوه، نو د راتلونکو انتخاباتو د مثبتې نتیجې د تطبیق او تضمین لپاره هم همدا ویره شته چې بیا به د بېړنۍ لویې جرګې پېښې تکرارېږي.

اوس پوښتنه داده چې راتلونکې لویې جرګې، اساسي قانون، انتخاباتو او منتخب حکومت ته د دومره تشویشونو او اټکلیزو خطرونو د مخنیوي لپاره کومه د حل لاره هم شته او که نه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي، چې د حل لارې شته، خو دا حل لارې زیات کار، زغم، پوره تدبیر او زیاته قرباني غواړي، دلته به ځینو حل لارو ته هم اشاره وکړو:

۱. **دیوه ملي اساسي بدیل جوړول:** د اوسني انحصار د ختمولو لپاره تر ټولو ضروري خبره دیوه افغانشموله سیاسي بدیل جوړول دي. په دې سیاسي بدیل کې باید په افغانستان کې د ټولو قومونو د استازۍ تمثیل وشي، که چېرې داسې وشي نو دیوې ځانګړې ډلې د انحصار ماتېدل ډېر اسانېږي، اوسنۍ انحصارګره ډله غواړي تر راتلونکې لویې جرګې او انتخاباتو پورې هم سیاسي حالات او هم نظامي وضع همداسې پاتې شي او

په دې موده کې کوم قوي مخالف سر راپورته نه کړي، که چېرې حالات همداسې بې تحرکه روان وي، نو د اوسنۍ سیاسي نظامي ډلې د برې اټکل زیاتېدی شي.

۲. دلــویې جــرګې د وکیلانـــو رول: کــه چېـــرې د راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا له سره ټاکنې کېږي، نو باید د هغو لپاره سم ترتیبات ونیول شي او هغه نیمګړتیاوې چې په بېړنۍ لویه جرګه کې وې، د هغوی د مخنیوي لپاره باید هڅه وشي، کوښښ دې وشي چې غوره ملي او مسلکي شخصیتونه لویې جرګې ته ولېږل شي، ولایتونو او ولسوالیو ته د زیات وکم سهم د ورکړې هغه نا انډولي چې په بېړنۍ لویه جرګه کې وه هغه باید بیا تکرار نه شي او که چېرې همدا وکیلان بیا لویې جرګې ته ځي او یا په کې غورچاڼ کېږي، نو ددې لپاره باید یا یو بېل ناپیېلی کمیسیون وټاکل شي، چې د هېڅ سیاسي ډلې اغېز پرې پروت نه وي او یا دې هم د هر ولایت له خپلو وکیلانو یوه یوه جرګه جوړه شي او هغوی دې له خپل منځه لویې جرګې ته غوره او مسلکي کسان ور وپېژني، په دې لویه جرګه کې دمسلك پر خاوندانو ځکه زیات ټینګار کېږي، چې دا د اساسي قانون د تصویب لپاره جوړېږي، نو د فن او مسلك خاوندانو ته په کې ډېره اړتیا لیدل کېږي، که لویې جرګې ته په رښتیا هم ډېر غوره غوره وکیلان لاړ شي، نو زیات اټکل دی، چې دوی به په هېوادنۍ کچه غوره پرېکړې وکړي او د اساسي قانون هغه مادې

چې دملت د ګټو پرځای د ځینو خاصو ډلو د نظر او هیلو ښکارندویي کوي په قانون کې ځای ونه مومي.

۳. د انتخاباتو ځانګړی کمیسون: د انتخاباتو ځانګړی کمیسون باید بشپړ ناپېیلی او د ملګرو ملتونو تر مستقیمې څارنې لاندې کار وکړي، د واکمنې ډلې او نورو تنظیمي ډلو تر اغېزې لاندې باید نه وي، د انتخاباتو طرزالعمل باید روښان او دعدالت پر بنسټ ولاړ وي، که چېرې سیمه ییزه، ژبني، قومي او تنظیمي لېوالتیا په کې په پام کې نیول شوې وي او په انتخاباتي حوزو کې د څوکیو او یا استازو شمېر ناعادلانه وي، نو مخکې تر دې چې عملي انتخابات پیل شي باید سمون په کې راوستل شي، که د انتخاباتو د نا عادلانه طرزالعمل له مخې عادلانه ټاکنې هم ترسره شي، نتجیه به یې منفي وي، د ساري په توګه که د انتخاباتو په طرزالعمل کې یوې ولسوالۍ ته (۱۰) څوکۍ او یوه ولایت ته (۱۰_ ۱۲) څوکۍ ورکړل شي، نو دا عدالت نه دی. د بېړنۍ لویې جرګې د طرزالعمل له مخې پنجشېر ولسوالۍ (۹) څوکۍ، لوګر او نورستان ولایت ته (۱۷) (۱۷) څوکۍ ورکړل شوې وې، خو وروسته د ښځینه استازو او نورو غړو په ګډون له پنجشېرولسوالۍ څخه (۳۰) له نورستان څخه (۱۹) او لوګر څخه هم غالباً(۱۹) کسانو ګډون کړی و، نو که دا او دې ته ورته نورې دا ډول هڅې کېږي، نو دا به طبعاً انتخابات تر پوښتنې لاندې راولي، که فرضاً د انتخاباتو طرزالعمل له دا ډول بېلګو څخه ډک وي، نو بیا انتخابات ځکه ضرور نه دي چې

طبعاً یې همغه خلك ګټي چې چا پر طرزالعمل خپل دا ډول نظر او غوښتنه تحمیل کړي. په تنظیمي پړاو کې د اداري واحدونو خبره بله لانجمنه مسئله ده که د هغو پر بنسټ نویو زیاتو شویو ادارو واحدونو ته امتیازات ورکړل شي، نو بیا به اکثره مستحق ولایتونه او د هغو اوسېدونکي زیانمن شي، د تنظیمي پړاو له مخې د پنجشېر ولایت یوه ولسوالۍ پر څلورو ولسوالیو بدله شوې، لغمان ولایت هم څلور ولسوالۍ لري، مانا دا چې لغمان او پنجشېر ولسوالۍ ته به یو ډول حقوق ورکول کېږي، که چېرې د انتخاباتو کمیسیون هم د بېړنۍ لویې جرګې د کمیسون لاره تعقیب کړه، نو څرګنده خبره ده چې عدالت تر پښو لاندې کېږي.

د اداري واحدونو ترڅنګ دنفوسو شمېر بله جنجالي مسئله ده چې د انتخاباتو کمیسون به ورسره لاس وګرېوان وي. په افغانستان کې هېڅ قوم هم پر خپل هغه شمېر چې په ځینو احصائیو کې ورکړل شوی قانع نه دی، اکثره شمېرنې هم دقیقې نه دي، نو که د نفوسو د شمېر له مخې ولایتونو او ولسوالیو ته سهم ورکړل شي، ځیني نور به پرې ځکه قانع نه شي چې هېڅوك تربل ځان کم نه ګڼي او که په انتخاباتو کې نفوس په پام کې ونه نیول شي نو دا هم لویه بې انصافي ده. که چېرې د ملګروملتونو له خوا واقعیت ته کومه نږدې احصائیه وي، نو هماغه دې په پام کې ونیول شي، هم نفوس او هم اداري واحدونه دواړه دې په پام کې ونیول شي او که دقیقه احصائیه نه وي، نو د هرې سیمې او په مجموعي ډول دهېواد د نفوسو تردقیقې سرشمېرنې پورې دې

انتخاباتي سیستم تر تنظیمي اداري دمخه اداري واحدونو له مخې عیار شي. هغه ولایتونه چې په ښکاره تر نورو لوی دي او زیات نفوس لري لکه کابل، ننګرهار، کندهار، هرات، مزارشریف او پکتیا دوی ته دې تر نورو ولایتونو نسبتاً زیات سهم ورکړل شي او نورو ولایتونو ته مساویانه ونډه ورکړل شي، کله چې تر منتخب حکومت وروسته په هېواد کې عمومي سرشمېرنه وشوه بیا دې په نورو انتخاباتو کې هم اداري واحدونه او هم نفوس دواړه په پام کې ونیول شي، لنډه دا چې د بېړنۍ لویې جرګې دځانګړي کمیسیون له خوا چې داخل کومه بې انصافي شوې وه، هغه باید بیا تکرار نه شي.

## ۴. د انتخاباتو د نتیجو د عملي کولو تضمین:

ډېر زیات احتمال دی چې تر انتخاباتو پورې په افغانستان کې ملي پوځ او ملي پولیس (ځارندوی) جوړ نه شي، البته تر اوسني حالت به یوڅه پرمختګ وشي، خو د داسې ملي پوځ او ملي پولیسو جوړول چې د ولس زړه پرې راټول او ډاډه شي تر هغه وخته ستونزمن برېښي، که چېرې اوسنۍ واکمنه ډله په همدې ډول له خپل نظامي او سیاسي زور سره په واک کې پاتې وي، نو طبیعي خبره ده چې نه یوازې پر ټاکنو خپل اغېز غورځولای شي، بلکې د هغو تګلوری هم بدلولای شي، که چېرې همدا ډله انتخابات وګټي، نو بیا یې د نتیجې د عملي کولو لپاره تضمین ته څکه اړتیا نه پیدا کېږي، چې خپله همدوی دي، نو دوی په خپله دولت هم جوړوي او خپل نظامي دریځ به هم غښتلی کوي.

خو که چېرې ددوی مخالفینو انتخابات وګټل لکه په تېره لویه جرګه کې چې تقریباً اکثره وکیلان ددوی له انحصار سره مخالف وو، نو بیا به څه کېږي؟ واکمنه ډله به په خپله خوښه نظامي او سیاسي واك پرېږدي او که نه؟ په هېڅ وجه فکر نه کېږي چې هغوی دې په خپله خوښه واك پرېږدي. که فرضاً ډېر زیات نړیوال سیاسي فشار پرې راشي، نو بیا به هم ووایي چې څه ملکي برخه یې د منتخب حکومت، خو د نظامي چارو امتیاز باید موږ سره وي، ځکه چې د"طالب او القاعدې پر ضد مو جګړه کړې ده؟!!" نو که بیا هم داسې حکومت چې نظامي چارې یې د تنظیمي اشخاصو او ملکي چارې یې دملت د استازو له خوا ترسره کېږي، ګومان نه کېږي چې ډېر دوام وکړي. تل به ملکي حکومت د پوځي هغو له خوا ترګواښ او خطر لاندې وي. نو تر ټولو ښه لاره یې داده چې یو نړیوال سیاسي او پوځي تضمین موجود وي، ګومان نه کېږي چې امریکایي پوځونه او نړیوال سوله ساتی ځواك تر راتلونکو انتخاباتو دمخه له افغانستان نه پښې سپکې کړي، ځکه که دوی ووځي د اوسني حکومت عمر هم شاید را لنډ شي.

نو ښه لاره خو داده چې د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې سوله ساتي ځواکونه تر نویو انتخاباتو پورې د اوسنۍ واکمنې ډلې ټولې ملېشې بې وسلې کړي او د ملي پولیسو او ملي اردو د جوړولو کار ډېر زیات ګړندی کړي، په ملي اردو او پولیسو کې دې د جهاد او الحاد په نومونو د تنظیمونو او ټوپکوالو داخلول بند شي. د بن کنفرانس پرېکړې هم وایي چې له کابل ښار څخه

باید تول وسلوال کسان ووځي. تر هغه چې کابل ښار له وسلوالو ملېشو څخه پاك نه شي، د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې سوله ساتي ځواکونه او همدارنګه د نړۍ ستر زبرځواکي؛ د امریکا متحده ایالتونه، انګلستان او نور مطرح هېوادونه په افغانستان کې د راتلونکو انتخاباتو د نتیجو تطبیق تضمین نه کړي، راتلونکي انتخابات به بې باوره او بې ثمره وي.

# په راتلونکي اساسي قانون کې درې مهم ټکي

هغه وخت چې د اساسي قانون د تسوید کمیسیون جوړ شو، نو دا لیکنه ما کړې وه او پر همغه مهال مې د هیلې مجلې د (۱۳۸۱ل) کال په (٤) گڼه کې چاپ کړه، شاوخوا یونیم کال د اساسي قانون د تسوید او تدقیق موده وه او بیا د اساسي قانون لویه جرگه جوړه شوه، ددې لیکنې تر لیکلو وروسته زه تقریباً په دې شاوخوا یو نیم کلن بهیر کې د اساسي قانون د جوړولو د پروسې د یوه کارکوونکي په توگه پاتې شوم، بیا په لویه جرگه کې هم د اساسي قانون د دارالانشا غړی وم او تر خپلې وروستي حده پورې مې په دې بهیر کې د خپل ملت او هېواد لپاره صادقانه هلې ځلې کړي، خو کومه وړاندوینه چې ما د اساسي قانون تر لویې جرگې شاوخوا یونیم کال دمخه کړې وه، زه د اساسي قانون د جوړولو د ټول کار په بهیر او په تېره بیا د اساسي قانون په جرگه کې له هغو سره مخامخ شوم، دا چې د اساسي قانون په جرگه کې او تر هغه دمخه او وروسته څه وشول، زموږ اکثره هېوادوال خبر دي. زه نه غواړم هغه مسایل دلته راوسپړم، خو دومره وایم هغه څه چې ما ویلي وو، هغه یو پر بل پسې واقع شول او روحاً ډېر خوشاله یم، چې یو شمېر ملت ضد هڅې ناکامې شوې. دا هم تاسو او دا هم دا لیکنه:

افغانستان په تېرو دوه نیمو لسیزو کې په یوه قانوني خلا کې ژوند کاوه، که د "اساسي اصولو" یا " اساسي قانون" په نامه څه رامنځته شوي هم وو، نو هغه هم یوازې د کاغذ پر مخ وو او چا پرې عمل نه کاوه، مانا دا چې د سر زورو، خپلسرو، سیاسي ډلو شتوالي قانون چلنج او له ګواښ سره مخامخ کړی و او د هغه د عملي کېدنې ساحه یې له منځه وړې وه. اوس دادی تر یوه ځلیریشت کلن هر اړخیز ناورین وروسته د ملګرو ملتونو په مادي او مانیز ملاتړ د افغانستان د دولت له خوا د افغانستان د اساسي قانون لپاره یو ځانګړی (۹) کسیز کمیسیون ټاکل شوی او ویل کېږي چې وروسته دوه تنه نور هم پرې زیات شوي دي. د اساسي قانون دا کمیسیون تر ډېره حده د مسلکي معیار له مخې ټاکل شوی او هڅه شوې چې لږ تر لږه د هېواد د بېلابېلو قومونو او ان مذهبونو استازولي تمثیل کړي، خو د اکثریت د حقوقي او لازمې استازولۍ په اندول په کې لږکیو ته د منسوبو غړو تله درنه ده، خو نه هغومره درنه لکه د بېړنۍ لویې جرګې د ځانګړي او خپلواك کمیسیون په شان.

د اساسي قانون د ځانګړي کمیسیون پر مشرتابه باندې هم شك دی چې له یوې خوا په دولت کې لوړ پوست لري او له بلې خوا په ماضي کې د هغه قومي، ژبنۍ او سیمه ییزې لېوالتیاوې خلکو ته څرګندې شوې دي، ځینو سره داسې وېره شته چې دا به دیوه ملي دیموکراتیك اساسي قانون د جوړېدو پر بهیر منفي اغېز وکړي، خو په هر حال د اساسي قانون د کمیسیون په باب په

لنډیز سره سړی دومره ویلای شي، چې د لویې جرګې تر ځانګړي کمیسیون ښه دی، خو دومره هم پوره او کره نه دی چې ټول ملت پرې قانع شي، که د ښاغلي صمدحامد، پوهاند محمدحسن کاکړ، پوهنوال روستارتره کې او ځینو نورو په شان څو تنه نور هم ددې کمیسیون په غړو او ان مشرتابه کې شامل وای، نو بیا به یې د ولس زیات باور خپل کړی وای او تر ټولو مهمه دا چې د کمیسیون د رښتیني ناپیېلتوب لپاره یوه ناپیېلې (نادولتي او نا تنظیمي) مشرتابه ته اړتیا ده.

ویل کېږي چې د اساسي قانون د کمیسیون ددې ترکیب ترڅنګ به د اساسي قانون د مسودې د تدقیق لپاره یو بل کمیسیون هم جوړېږي، چې د غړو شمېر به یې لږ تر لږه (۳۳) تنه وي، ددې کمیسیون کار به دا وي چې د اساسي قانون د اوسني کمیسیون له خوا د جوړې شوې مسودې متن کره کړي، وروسته به د مسودې دا متن مطبوعاتو او ولس ته وړاندې کېږي، د خلکو تر نظریاتو وروسته به بیا بېرته د همدې کمیسیون له خوا دا نظریات راټولېږي او تر غور وروسته به یو کره یا وروستی متن ترې جوړېږي او بیا به لویې جرګې ته وړاندې کېږي، د اساسي قانون د کمیسیون جوړښت او د کار څرنګوالی چې هر ډول وي او هر ډول پای ته ورسېږي، خو دغه درې موضوعګانې به ډېرې بحث پاروونکې وي:

**۱ _ *په اساسي قانون کې د فدریشن موضوع:*** ډېره موده کېږي چې د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو له خوا د فدریشن

موضوع ته لمن وهل کېږي، په دې هېوادونو کې (روسیه، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکیه) او کله کله ان د نړۍ د ډېرو لرې هېوادونو په مطبوعاتو کې هم دا موضوع یادېږي، په کورنۍ کچه لږه کیو ته منسوب یو شمېر اشخاص او یا په اصطلاح د لږه کیو د حقوقو مدعیان دې موضوع ته ډېره هوا ورکوي او کله کله لا په ځینو غونډو کې هم دا موضوع یادوي او ان ددې لپاره لا ځانګړې غونډې او سیمینارونه هم جوړوي.

داسې اټکل او احتمال هم شته چې د اساسي قانون په دې ځانګړي کمیسیون کې هم ځینې داسې اشخاص شته چې دې موضوع ته لمن وهي او دې موضوع ته خاصه لېوالتیا لري.

اساسي خبره داده چې فډریشن په افغانستان کې نه له قومي پلوه، نه له اقتصادي او نه هم له مذهبي پلوه د تطبیق وړ دی، هغه هېوادونه چې په افغانستان کې فډریشن ته لمن وهي، هدف یې دادی چې افغانستان پر بېلابېلو کورواکیو ووېشي او بیا هر یو خپلې مطلوبې ساحې سره خپل اړیکي ټینګ او پیاوړي کړي، وروسته به همدا کورواکې سیمې د بشپړو خپلواکو سیمو په توګه اعلان کړي، افغانستان به ټوټې او هره ټوټه به یې هر تجزیه غوښتونکی هېواد د ځان کړي. مانا دا چې فډریشن د افغانستان د تجزیې لپاره لومړنی مقدماتي ګام دی.

اوس خبره داده چې د فډریشن موضوع ته به په اساسي قانون کې څنګه اشاره کېږي او څنګه به په مسوده کې ځایېږي؟ ایا دا د اساسي قانون د کمیسیون صلاحیت دی؟ که د لویې جرګې؟ ایا د

اساسي قانون کمیسیون دا صلاحیت لري چې تر لویې جرګې د مخه د اساسي قانون په مسوده کې دا موضوع ثبت کړي او یا هم استدلال وکړي چې د اساسي قانون د مسودې تر اعلان وروسته په اصطلاح خلکو وړاندیز وکړ چې د فدریشن موضوع دې هم په اساسي قانون کې ځای شي او ددې لپاره ځینو کسانو مخکې تر مخکې دستوري هڅې هم پیل کړې وي او غوښتې یې وي خپل نظرونه د خلکو د نظر په توګه څرګند او تمثیل کړي، نو ځکه دا موضوع په مسوده کې ځای شوه!

اساسي خبره داده چې تربل اساسي قانون پورې چې دلویې جرګې تر نظر او لید وروسته به پلی کېږي، د بن د تړون له مخې د (۱۳۴۳ل) کال اساسي قانون، شاه او شورا ته له منسوبو څپرکو پرته نور د اعتبار وړ دی، نو د اساسي قانون کمیسیون حق نه لري د هغه اساسي قانون ځینې اساسي توکي مخکې تر دې چې لویه جرګه پرې پرېکړه وکړي، دوی په خپل سر بدل او بیا یې لویې جرګې ته هسې د تائید لپاره وړاندې کړي، البته دا د لویې جرګې حق او صلاحیت دی، چې دوی د افغانستان لپاره د نظام څرنګوالی وټاکي، که داسې او دې ته ورته د نورو مادو د زیاتون اړتیاوې وي، نو هغه دې بیا خپله د لویې جرګې له لارې په اساسي قانون کې زیاتې شي، نه د اساسي قانون د کمیسیون له خوا، د اساسي قانون د کمیسیون د کار محور باید د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون محتویات وي، ځکه چې تر دې دمه همدا

قانون د اجرا وړ دی او په دې کې اساسي بدلون راوستل هم د لویې جرګې کار دی.

یو ساده اټکل او مثال وړاندې کوو: که چېرې د اساسي قانون له خوا د مرکزي حکومت یا د مرکزیت د حاکمیت تمثیل د (۱۳۴۳ل) کال د اساسي قانون په شان پر خپل ځای پاتې شي، نو بنایي په لویه جرګه کې هېڅوك هم ددې جرئت ونه کړي چې د فدریشن خبره مطرح کړي، خو که چېرې د اساسي قانون کمیسیون مخکې تر مخکې د فدریشن موضوع په مسوده کې یاده کړي، نو ددې زیات احتمال دی چې ډېر زیات خلك به د فدریشن مخالفت وکړي او یوه ډله خلك به هم د فدریشن پلوي وکړي او لویې جرګې کې به همدا د اختلاف ټکی شي او د اساسي قانون د نورو دیموکراتیکو مادو پر تصویب او تائید به هم اغېز وکړي.

دلته د یادولو وړ خبره داده چې په دې حالت کې هم د اساسي قانون کمیسیون د فدریشن د پلویانو په لیکه کې ودرېږي، ځکه چې دوی په خپله هغوی ته تیاره کړې مړۍ په خوله کې ورکوي. نو که د اساسي قانون کمیسیون غواړي چې خپل ناپېیلتوب وساتي د اساسي قانون په مسوده کې دې داسې جنجالي موضوعګانې په خپل سر نه زیاتوي، عجیبه خبره خو داده چې د نړۍ هېوادونه دیووالي پر لوري روان دي. دواړه جرمني سره یو ځای شول، یمنونه یوځای شول، ویتنامونه لا دمخه یو ځای شوي، کوریاوې به هم سره یو ځای شي، لس هېوادونه په اروپایي اتحادیه کې

شامل شول، ټوله نړۍ د یوه کلي حیثیت غوره کوي او هېوادونه به ددې کلي بېلابېل کورونه وي، خو زموږ د هېواد کورني او بهرني دښمنان بیا لګیا دي د فدریشنونو تر نامه لاندې یو واحد هېواد او یو واحد ملت سره وېشي، په کور کې "کورګي" جوړوي او په ملت کې "ملیتونه".

د فدریشن او د لږه کیو د حقوقو مدعیان که په رښتیا دیوه ستر حقیقت او واقعیت په توګه مطرح وي، نو بیا خو یې ګټه په دې کې ده چې د ټول افغانستان په کچه ځان مطرح کړي او دلته زیاته ګټه ترلاسه کړي، که واقعاً ځان د شمېر او موجودیت له پلوه دزیات استحقاق وړ بولي.

***۲- په اساسي قانون کې د مذهب مسئله:*** په اساسي قانون کې د مذهب مسئله بله جنجالي موضوع ده، چې د اساسي قانون کمیسیون او راتلونکې لویه جرګه به ورسره مخ وي. د (۱۳۴۳ل) کال په اساسي قانون کې لیکل شوي چې "حنفي مذهب د افغانستان رسمي مذهب دی او د نورو مذهبونو پیروان د خپلو مذهبي چارو په اجرا کې ازاد دي". د (۱۳۶۶ل) کال یانې د ډاکټر نجیب الله د حاکمیت د وخت اساسي قانون کې بیا د مذهب د رسمیت موضوع په ابهام کې تېره شوې او لیکل شوي چې "ټولې چارې به د اسلامي شریعت مطابق ترسره کېږي" او د کوم مذهب د رسمیت یادونه په کې نه شته.

په ټوله دنیا کې قانون داسې وي چې د اکثریت رایې ته مراجعه کېږي، د اکثریت تائید د د موکراسۍ مهم اصل دی. څرنګه چې

افغانستان کې حنفي مذهبي افغانان اکثریت دي، نو د اکثریت د حقوقي حیثت په پام کې ساتلو سره باید د (۱۳۴۳ل) کال د اساسي قانون دا ماده پر خپل ځای پاتې شي، که چېرې لویې جرګې دا لازمه وبلله، کېدی شي بدلون په کې راوستل شي، خو د اساسي قانون کمیسیون باید مخکې تر مخکې دا حساسه موضوع په خپل سر بدله نه کړي.

ایران او ایران پلوي اشخاص دې مسئلې سره زیاته لېوالتیا لري، خو ښه به وي چې په دې برخه کې خپله د ایران له تجربې څخه ګټه پورته شي، چې ایرانیانو په ایران کې دا مسئله څنګه حل کړې، ښه داده چې د ایران له اساسي قانون څخه ګټه واخیستل شي، چې هغوی شیعه مذهب ته د کوم منطق له مخې رسمیت ورکړی او حنفي مذهب ته یې ولې دا امتیاز نه دی ورکړی. په افغانستان کې د هر مذهب پیروانو ته باید دا حق حاصل وي چې په ازادانه توګه خپل مذهبي مراسم ترسره کړي، خو په ملي کچه باید د اکثریت حقوقو ته هم درناوی وشي او څه چې په نړۍ کې دود دي همغه اصل دې په پام کې ونیول شي.

**۳- *په اساسي قانون کې د ملي ژبې مسئله:*** دریمه مسئله چې په اساسي قانون کې به جنجالیزه وي هغه د ملي ژبې مسئله ده. د (۱۳۴۳ل) کال په اساسي قانون کې لیکلي شوي چې "پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي"، خو په (۳۵) ماده کې لیکل شوي: "دولت مجبور دی چې د افغانستان د ملي ژبې پښتو د پراختیا او تعمیم لپاره کار او هڅه وکړي"، (۳۵) ماده د

لـویې جـرګې لـه خـوا زیاتـه شـوې وه. د ډاکټـر نجیـب الله د وخـت اساسـي قـانون کـې لـه "پښتـو" څخـه "ملـي" کلمـه حـذف شـوې او لیکل شوي چې "د افغانستان د ملي ژبو له جملې څخه پښتو او دري د افغانسـتان رسـمي ژبـې دي". اوس دا پوښتنـه پیـدا کېـږي چې په نړیوالـه کچـه د ملي ژبې د پېژنـدنې لپـاره کـوم معیارونـه شـته او کـه نـه؟ د ملـي - رسـمي او بیـا رسـمي ژبـې تـرمنځ څـومره توپیر او امتیاز شته؟.

تر کومه ځایه چې له نړیوالو قوانینو او د نړۍ د اکثـرو هېـوادونـو له اساسي قوانینو څخه ښکاري، چې هلتـه د ملـي ژبـې د تثبیـت لپاره د هغه هېواد اکثریت اتنیـك ګـروپ یـا لـوی قـوم معیـار دی. یونسکو چې د ملګرو ملتونـو یـوه کلتـوري پرمختیـایي اداره ده، پـه افغانسـتان کـې پښتـو د افغانسـتان د ملـي ژبـې پـه توګـه پـه رسـمیت پېژنـي او " د پښتـو څېړنـو نړیـوال مرکـز" او همدارنګـه " پښتـو" مجلـه چـې پـه پنځـو نړیوالـو ژبـو (د یونسـکو پـه ژبـو) یـې خپـرونې کـولې د همـدې سـازمان لـه خـوا تمویلېـدل. دې سـازمان دغـه راز د "اسـتازي" پـه نامـه یـوه ځـانګړې مجلـه چـې د ملګـرو ملتونو یو خپرنی ارګان بلل کېده، هم د افغانستان لپاره په پښتـو ژبه خپروله.

یونسـکو بیـا پـه ایـران کـې (فـارسـي) ژبـه د ایـران د ملـي ژبـې پـه توګه په رسمیت پېژندله او همداسې په نـورو هېوادونـو کـې د هغـه هېواد د اکثریت قـوم ژبـه د ملـي ژبـې پـه توګـه پـه رسمیت پېژنـي. البته د ملي ژبې مانـا دا نـه ده چـې ټولې دفتـري او رسـمي چـارې

دې په همدې یوه ژبه وي، د ملي - رسمي ژبې ترځنګ په یوه ګڼ قومیز هېواد کې نورې ژبې هم رسمي کېدی شي او خلک پرې له زده کړې نیولې، تر دفتري او سیاسي چارو پورې د اړتیا وړ ټول پوهاوی را پوهاوی کولای شي.

د هندوستان ملي ژبه هندي ده، خو له انګلیسي څخه هم په رسمي چارو کې اعظمي ګټه پورته کوي، له انګلیسي پرته په ټول هند کې تر (۳۰۰) پورې ژبې رسمي بڼه لري چې ښوونځیو کې رسمیات لري او ګڼ شمېر خپرونې پرې کېږي.

په پاکستان کې اردو ملي ژبه ده، خو انګلیسي تر اردو هم زیات رسمیت لري، سندي هم د سند ایالت رسمي ژبه ده، په پرمختللي بلجیم کې همدا اوس درې ژبې رسمي دي، خو ملي پارلمان ته تلونکی هر غړی مجبور دی چې ملي ژبه یې زده وي، د نړۍ هر اساسي قانون چې را واړوې په هغه کې همدا د اکثریت اصل په پام کې نیول شوی دی.

دلته ددې خبرې ډاګیزول هم په کار دي چې د ملي ژبې د ټاکلو په برخه کې د هغه هېواد اصلي قومي اکثریت په پام کې نیول کېږي، نه موقتي ژبنی اکثریت، موقتي ژبنی اکثریت کېدی شي د وخت د سیاسي او فرهنګي پېښو په رامنځته کېدو سره بدلون ومومي، خو د قومي اکثریت محوه کېدل تر زیاته حده ناشوني دي. د بېلګې په توګه یو وخت فرانسوي د روسیې د دربار رسمي ژبه وه او چا چې به په فرانسوي خبرې کولې، نو ځان به ورته ډېر اشراف او متمدن ښکارېده، خو د (۱۹۱۷ل)کال تر انقلاب

وروسته د روسيې له دربار او ټولې روسيې څخه د فرانسوي ژبې ټغر ټول شو او ځای يې د هغه ځای د اکثريت قوم ژبې ( روسي ژبې) ونيو، روسي ژبه بيا دومره پراخه شوه چې د منځني اسيا ټولو جمهوريتونو کې خوره شوه او ددې جمهوريتونو رسمي ژبه شوه، خو کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، دې جمهوريتونو د خپلو قومونو د اکثريت ژبې د ملي ژبې په توګه اعلان کړې، د قزاقستان په اساسي قانون کې خو دا هم راغلي که چېرې جمهوري رياست ته کانديد شخص د ملي ژبې په امتحان کې له (۵) نومرو څخه (۳,۵) نومرې پوره نه کړي، نو د جمهوري رياست د کانديدۍ حق يې سلبېږي.

دغه راز يو وخت فارسي د هند د مغلي دربار رسمي ژبه وه، خو اوس فارسي د هند له نيمې وچې څخه راټوله شوې او خپل اساسي مرکز فارس (اوسني ايران) ته يې مخه کړې ده، پښتو چې د هېواد د اکثريت قوم ژبه ده، له پېړيو راهيسې محکومه ساتل شوې او کله چې ورته پام شوی، نو خپله ورتيا يې ښه ځلولې ده.

د يوه لويديځوال پښتو پوه ډاکټر پيچکا په اند د پښتو ژبې د پرمختګ سرعت ډېر ګړندی دی، مانا دا چې که څوک پښتو ژبې ته قصدي خنډونه را ولاړ نه کړي، نو ډېر زيات پرمختګ به وکړي، خو اوس په اساسي قانون کې د ژبې د حقوقو مسئله ده، ايا د اساسي قانون د تسويد کميسيون به دا حق ولري چې د (۱۳۳۴ل) کال داساسي قانون (۳۵) ماده په خپل سر حذف کړي او که دا کار به جرګې ته پرېږدي؟ په غالب اټکل چې د اساسي

قانون کمیسیون (۳۵) ماده حذفوي او یوازې دومره بـه لیکـي چـې "پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي".

ایا په دې شکل د مـادې ثبت بـه د افغانسـتان ټول قومونـه قـانع کـړي؟ فکـر نـه کېـږي، ځکـه پښتانـه چـې د هېـواد اکثریت دي لـه هغو څخه د پښتو ژبې خپل ملي حیثیت او حقـوق سلبېږي او نـور قومونـه بـه هـم ووایـي چـې ولـې یـوازې پښتـو او دري ژبـې رسـمي دي، ایا د نورو ژبو ویونکي حق نـه لـري چـې پـه خپلـه مورنـۍ ژبـه زده کړه وکړي؟

د اندېښنې وړ بله خبره داده چې د "ملي" صفت په حذفېدو سره به د ژبو په برخه کې په افغانستان کې یـو حقـوقي بحـران رامنځتـه شي هغه دا چې کومې ژبې چې رسمي ګڼل کېږي، د هغـوی تـرمنځ د "تساوۍ" تر شعار لاندې د "تناسب" اصل لـه منځـه ځـي، د هرې ژبې ویونکي به په هېـواد کـې د مسـاوي حقوقـو ادعـا کـوي، دلتـه بـه غـټ چیلـنج، ملـي ترمینـالوژۍ تـه وي، چـې پـه کومـه ژبـه بـه جوړېـږي، ملـي ترمینـالوژي د ملـي وحـدت د ټینګښـت او واحـد ملت د جوړونې لپاره مهم ګام ګڼل کېږي. مـثلاً کـه پـه افغانسـتان کـې څـو ژبـې یـا لـږ تـر لـږه پښتـو او دري رسـمي ژبـې شـي، ملـي ترمینالوژي به په کومه ژبه جوړېږي؟، ملي سرود بـه پـه کومـه ژبـه وي؟، د وزارتونـو لـوحې او د نـورو ګـڼ شمېر مهمـو دولتـي چـارو سرلیکونه یـا عنوانونـه بـه پـه کومـه ژبـه وي؟ دا هغـه پـوښتنې دي چـې د اساسـي قـانون د پلـي کېـدو پـر وخـت بـه خلـك ورسـره مخامخېږي.

د (۱۳۴۳ل) کال په اساسي قانون کې سره له دې چې پښتو د افغانستان ملي او رسمي ژبه وه، خو په عمل کې هېڅکله هم پښتو ته د همدې حقوقو له مخې کار ونه شو، یانې دا چې پښتو ته خپل حق ورنه کړ شو، خو د پښتو ژبو او دري ژبو ترمنځ دومره یو تفاهم یې رامنځته کړ چې ددولتي پاڼو اکثره سرلیکونه به پښتو وو، خو نور اکثره متن به په دري ژبه و او همدارنګه د ملي ترمینالوژۍ د جوړولو لپاره هم یو څه ګامونه پورته شول، خو وروسته وروسته بیا دا تفاهم او انډول هم له منځه لاړ، اکثره متنونه خو په دري ژبه وو او سرلیکونه هم په دري واړول شول. ان دا چې د استاد رباني حکومت خو ملي سرود هم په دري ژبه واړوه او داسې متن یې ورته انتخاب کړ چې ان د افغان نوم یې په کې نه و یاد کړی.

د ملي سرود یوه ځانګړنه داده چې ملي ایډیال تمثیل کړي، خو دې سرود کې دا کیفیت هم نه شته، د استاد رباني تنظیمي سرود په بېړنۍ لویه جرګه کې د لویې جرګې د وکیلانو له خوا رد شو، خو په اوسني حکومت کې واکمنه ژبنۍ ډله د خپلو ژبنیو تعصبونو له مخې تر اوسه هم دا ترانه د افغانستان د ملي سرود په نامه غږوي، که په اساسي قانون کې د ملي ژبې ځای جوت نه وي، نو تر ډېره وخته به دغسې تنظیمي ترانې د ملي سرود په نامه غږول کېږي.

دملي ژبې تثبیت په دې مانا نه دی، چې نورې رسمي ژبې به له منځه ځي، یا د هغو ارزښت به راټیټېږي، بلکې دلته د یو

ربنتیني حقوقي مساوات او تناسب اصل ټاکل کېږي او د راتلونکو جنجالونو مخه نیول کېږي. ددې خبرې یادونه هم ضروري ده چې د افغانستان ټول قومونه د بشر د حقوقو د یوه اساسي اصل له مخې حق لري چې لږ تر لږه خپلې لومړنۍ زده کړې په خپله مورنۍ ژبه وکړي، که دولت ورته نورې اسانتیاوې هم برابرولای شي، نو ډېره ښه ده او که نه وي نو بیا پاتې لوړې زده کړې او نورې چارې دې په پښتو او دري ژبو ترسره کړي، خو د پښتو او دري د ودې لپاره هم باید قانون یو لړ شرایط وړاندې کړي، یو شرط خو یې باید دا وي چې ددولت هر مامور مکلف کړي چې په دواړو رسمي ژبو لیکل او لوستل وکړای شي، که چېرې په ټول افغانستان کې ددولت د ټولو ټیټ رتبه مامورینو لپاره دا شونی نه وي، نو هر هغه مامور چې په مرکز کې دنده ترسره کوي، پر هغوی دې دا اصل عملاً ومني چې په دواړو ژبو دې لیکل او لوستل وکړای شي، ځکه چې مرکز د ټولو افغانانو مشترك کور او چارځای دی، دلته به د افغانستان له هرګوټ څخه خلك کار ته راځي، نو که د مرکز یو مامور په پښتو او دري دواړو ژبو حاکمیت ونه لري، ددې خلکو کارونه به څنګه په ښه وجه ترسره کوي؟.

دریم که پورتني دواړه اصول یو وار په بشپړ ډول شونی نه وي، نو دویم اصل دې ورو ورو عملي شي، خو دریم او ډېر ضروري اصل باید دا وي چې له یوه مدیریته نیولې بیا د دولت تر جمهوري ریاسته پورې په ټولو مهمو پوستونو کې د ټاکنې تر

ټولو ضرور او اساسي معیار باید دا وي چې دا اشخاص د هېواد پر دواړو لویو رسمي ژبو حاکمیت ولري، هغه اشخاص چې پر دې پوستونو مقررېږي، په پښتو او دري ژبو باید لیکل، وینا او لوستل وکړای شي. ځکه دوی د افغانستان د ټولو خلکو د کار لپاره ټاکل شوي، نه د یوه ځانګړي قوم لپاره.

د ملي ژبې د حق د تثبیت لپاره دې له ایران نه نیولې د نړۍ تر بل هر لرې پروت هېواد پورې د ټولو هېوادونو اساسي قوانین ولټول شي، هغوی چې څرنګه ملي ژبه تثبیت کړې وي، همغه میتود دې په افغانستان کې هم عملي شي. پښتو د افغانستان د ملي ژبې په توګه د پښتنو حق دی، ددې حق غصبول پښتنو سره څه چې ټول افغان ملت سره درغلي او د بشري حقوقو تر پښو لاندې کول دي، که چېرې بیا هم په قوانینو کې دا ډول درغلي پېښه شي، نو پوره باور دی چې دا به د اساسي قانون مشروعیت هم تر ښکاره پوښتنې لاندې راولي او هغه اساسي قانون چې د هېواد اکثریت له خپلو حقوقو محروم کړي، د هغه عملي کېدل هم ناشوني دي.

شاید د اساسي قانون په کمیسیون، راتلونکې لویې جرګې او په اوسني حکومت کې یو شمېر واکمن داسې فکر وکړي چې اوس پر اکثرو پښتنو قصداً د طالب او القاعدې سیوری خور شوی او د پښتنو لاس تر تیږې لاندې دی. نړیوال ځواکونه او په تېره بیا اکثره امریکایي ځواکونه هر پښتون ته د طالب او القاعدې په سترګه ګوري، نو همدا زمونږ لپاره ښه تاریخي او تصادفي

فرصت دی چې خپلو نا مشروعو غوښتنو ته حقوقي مشروعیت ورکړو او د یوې تکلفي لویې جرګې له لارې به دا هرڅه تصویب کړو. نو دا داسې یو خیال دی چې عملي کېدل یې ګران دي، دا ټول به وشي خو منې یې پر چا؟، هغه قانون چې دیوه ملت لپاره جوړېږي او د هغه ملت هیلې، حقوق او غوښتنې په کې تمثیل نه شي، نو هغه کله عملي کېدی شي، ترڅو به دا بهرني قوتونه وي او دا پټ او ښکاره سازشونه، ترڅو به دا ناصرخان وي او دا یې سره سره اوښان؟.

# راتلونکې عمومي ټاکنې، څو خطرونه او څو وړاندېزونه

دا ليکنه هغه مهال شوې وه چې نه د اساسي قانون لويه جرګه جوړه شوې وه، نه د انتخاباتو کميسيون جوړ شوی و او نه هم د انتخاباتو لپاره کوم طرزالعمل ترتيب شوی و، خو تر دې ټولو وړاندې د جمهوري رياست د عمومي ټاکنو په اړه تشويشونه وو او انديښنې وې. دا ليکنه همدغو تشويشونو او انديښنو ته د ځواب موندلو په نيت ليکل شوې وه. کله چې لويه جرګه جوړه شوه، د انتخاباتو کميسيون او بيا قانون جوړ شو او وروسته بيا ټاکنې ترسره شوې، نو په دې ليکنه کې يو شمېر تشويشونه رفع شول، خو بيا هم په دې ليکنه کې يو شمېر راغلي اټکلونه او تشويشونه پر خپل ځای او لاينحله پاتې شول او تر نن ورځې زموږ ولس کړوي. داليکنه هماغه مهال د هيلې مجلې د (۱۳۸۱ل) کال په (٦) ګڼه کې چاپ شوې ده.

د بن د تړون له مخې د اساسي قانون تر تصويب وروسته بايد په افغانستان کې عمومي ټاکنې تر سره شي، جمهور رئيس د ولس د مستقيمو او پټو رايو له لارې وټاکل شي او اوسنۍ انتقالي اداره خپل ځای يوه منتخب حکومت ته پرېږدي، د اټکل له مخې د اساسي قانون د تصويب په لويه جرګه کې به د نظام د جوړښت پر درېيو ډولونو سخت بحثونه او شخړې رامنځته شي: مشروطه شاهي نظام، په دې کې به شاه د واک

سمبول وي، اجرائيوي ځواک به صدراعظم سره وي، چې د پارلمان د اکثريت غړو په تائيد به ټاکل کېږي، په رياستي نظام کې به جمهور رئيس د واک سرچينه وي، چې د ولس د مستقيمو رايو په نتيجه کې به ټاکل کېږي، يو، دوه يا درې مرستيالان به لري، کېدی شي صدراعظم ولري او يا يې ونه لري، خو اصلي اجرائيوي ځواک به جمهور رئيس سره وي.

په پارلماني نظام کې جمهور رئيس سمبوليک رول لري، صدراعظم به د پارلمان د اکثريت غړو په خوښه ټاکل کېږي، د حکومت (اجرائيه ځواک) په راس کې به واقع وي، که لويه جرگه له دې درې واړو نظامونو څخه هر يو په اساسي قانون کې تصويب کړي، نو انتخاباتو ته اړتيا ده. دا چې انتخابات به څرنگه تر سره کېږي، راي ورکوونکي به څرنگه تثبيتېږي او د رايو ورکولو مرکزونه به د کومو معيارونو له مخې ځومره، څرنگه او کومو ځايونو کې تثبيتېږي؟ د ډېر غور او بحث موضوع ده، چې پر ټول انتخاباتي بهير اودهغو د نتيجو پر څرنگوالي ژور اغېز اچوي. ټاکل شوې ده د ۲۰۰٤ م کال د جون پر مياشت عمومي ټاکنې ترسره شي ، څوک چې په عمومې ټاکنو کې د رايې يا ووټ حق لري، ددې کسانو ثبت او راجستر خورا گران کار دی او که له ډېر دقت څخه په کې کار وانه خيستل شي، نو کېدی شي د عمومي ټاکنو قانونيت هم تر پوښتنې لاندې راولي، په انتخاباتو کې تر ټولو مهم اصل دا دی چې د رايې وړ خلکو له درېيو دوه برخې او يا هم اکثريت بايد حتمي ثبت او راجستر شي.

په دويم گام کې مهم اصل دادی چې له همدې ثبت شويو کسانو دوه ثلثه او يا هم اکثريت په انتخاباتو کې گډون وکړي، که چېرې دا پورتني دواړه اصلونه بريالي او عملي نه شي، نو بيا دټاکنو قانونيت او مشروعيت تر

پوښتنې لاندې راځي.د افغانستان په راتلونکو عمومي ټاکنو کې دغه دواړه اصلونه له سترګو ګواښ او چلنج سره مخامخ دي. دلته غواړو دغو دواړو اصلونو ته د ورپېښېدونکو ګواښونو او د هغو د حل لارو په باب څو څرګندونې وکړو:

الف- د رایې ورکوونکو ((وټرانو)) د راجستر ستونزې: په دې برخه کې کولای شو، دې لاندې ستونزو ته نغوته وکړو:

**۱- جغرافیایي ستونزې:** دا یو څرګند واقعیت دی چې افغانستان یو غرنی هېواد دی، چې تر اوسه یې د غرونو په لمنو کې پرتو سیمو اولرې کلیو، باندېو ته سړکونه نه دي غځېدلي او ګڼ شمېر خلک په همداسې سیمو کې ژوند کوي، چې د ډله ییز ارتباط او پیوستون لارې یې غوڅې یا محدودې دي.

هغه تحصیل کړي یا نیمه تحصیل کړي اشخاص چې د ووټرانو د تثبیت دنده پر غاړه لري، په اسانۍ سره زړه نه ښه کوي چې داسې سختو سیمو ته لاړ شي، چې هلته د موټر لاره نه وي او څو ساعته یا څو ورځې پلې مزله ته په کې اړتیا وي، نو په دې وجه په لکونو هغه افغانان چې په دې سیمو کې اوسېږي اود ووټ استحقاق لري له خپل دې حق څخه محرومېږي.

**۲- کلتوري ستونزې:** تر اوسه لا هم افغانستان کې د کلیو، لرې پرتو سیمو او لویو ښارونو تر منځ کلتوري واټن او ان تضاد موجود دی، انتخاباتي کمیسیون او د ووټرانو د تثبیت کمیسیون طبعاً په لویو ښارونو کې جوړېږي او دا هم څرګنده ده چې دا کمیسیون به تر زیاته حده خپل غړي له همدې ښاري تحصیل کړو او یا هم نیمه تحصیل کړو اشخاصو څخه پوره کوي، دې کسانو ته ګرانه ده چې د بېلابېلو ولسوالیو

د خلکو پر کلتوري خوی او بوی ښه بلد شي او هغوی دې ته رامات کړي، چې په ښه زړه او پراخه تنده ځانونه ثبت کړي.

**۳- د ښځو ستونزه:** ښځې د هېواد نیم نفوس جوړوي، لکه څنګه چې نارینه د رووټ حق لري، ښځې هم د رووټ حق لري، تر اوسه لا په لرې پرتو، کلیوالي او ان په ځینو ښارونو کې د خلکو ذهنیت دې ته تیار نه دی، چې ښځې دې په انتخاباتو کې ګډون وکړي، که فرض کړو چې د هېواد غوڅ اکثریت ښځې د رووټ له حق څخه محرومې شوې او اقلیت نارینه هم د بېلابېلو عواملو له امله ثبت او راجستر نه شول، نو د عادلانه انتخاباتو لومړی اصل یانې دوه ثلثه اکثریت خپله له منځه لاړ، د یوه محروم اکثریت په حالت کې د اقلیت تر منځ انتخابات بې ګټې او بې مانا دي.

**٤- امنیتي ستونزه:** دا یو تریخ واقعیت دی چې اوس په هېواد کې سراسري سوله نه ده ټینګه شوې، د مرکزي حکومت د واک مزي لا د هېواد ګوټ ګوټ ته نه دي رسېدلي، همدا اوس د ټول هېواد په کچه تر (٤٠) زیات داسې ولسوالان شته، چې په ولسوالیو کې ولسوالان په خپل سر مقرر او برحال دي، خو په کابل کې له کورنیو چارو وزارت سره هېڅ رسمیت نه لري او نه له دې وزارت څخه معاشونه اخلي، د هېواد پر بېلابېلو برخو واکمن مختلف جنګسالاران او مختلفو تنظیمونو ته وفادار اشخاص واکمن دي، نو په داسې یو حالت کې د انتخاباتو لپاره د عمومي راجستر پروسه له ډېرو سختو امنیتي چلنجونو سره مخامخېږي. یوه بله مهمه مسئله دا ده چې د ووټرانو د راجستر او نوملیکنې پروسه باید د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو ادارو تر څارنې او کنټرول لاندې ترسره شي. خو همدا اوس د ملګرو ملتونو د دفترونو کارکوونکي د افغانستان له مهمو ښارونو پرته اکثرو ولسوالیو ته د امنیتي ستونزو له امله هېڅ سفرونه

نه کوي، که چېرې د ملګرو ملتونو د استازو د نشتوالي په حالت کې په کومه ولسوالۍ کې په خپله د افغاني ګروپونو له خوا د نوملیکنې پروسه تر سره شي، ددې کار د شفافیت، قانونیت او مشروعیت تضمین څوک کوي؟

یو زیات شمېر تحصیل کړي افغانان پر بېلابېلو تنظیمي ایډیالوژیو وېشل شوي، زیات احتمال دی، چې د انتخاباتو کمیسیون د راجستر پروګرام کې به هم ونډه ولري، نو ددې خطر شته چې دوی به د ثبت او راجستر پر وخت خپلې تنظیمي لېوالتیاوې په پام کې وساتي او د خپلې خوښې اشخاص به ثبت کړي.

**٥- د عامه شعور د کچې د ټیټوالي ستونزه:** د راجستر پر وخت یوه ستونزه دا هم ده چې ډېر خلک د انتخاباتو پر ارزښت او ماهیت سم نه پوهېږي، کېدی شي له نوم ثبتونې او راجستر سره چندان لېوالتیا ونه ښیي اویو شمېر خلک بې تفاوته پاتې شي، نو دا ټول عوامل ددې سبب ګرځي، چې د ووټرانو شمېر د هغوی تر اصلي شمېر راکم شي.

**٦- د کوچیانو د نوملیکنې ستونزه:** د افغانستان د نفوسو یوه درنه برخه کوچیان تشکیلوي، چې د بېلابېلو سرچینو په استناد یې په ټول هېواد کې شمېر د (٢-٤) میلونو وګړو تر منځ دی، کوچیان سخت او ګرځنده ژوند لري، د ژمي مېنه یې پر یوه ځای او د دوبي یې پر بل ځای وي او پاتې وخت یې په سفر تېرېږي، کېدی شي، د کوچیانو د نفوس له یاد شوي رقم څخه نیمایي یې د ووټ مستحق وي، که چېرې د کوچیانو د نوملیکنې لپاره یوه اساسي تګلاره جوړه نه شي، نو زموږ د ولس یوه درنه برخه به له انتخاباتو بې برخې پاتې شي.

ب- د ووټرانو د انتخاباتو ستونزې: کله چې په هېواد کې د ووټرانو د راجستر لړۍ پای ته ورسېږي، او انتخابات پیل شي، نو انتخابات به هم له یو لړ ستونزو سره مخامخ وي او چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

**۱- د انتخاباتي حوزو د تثبیت ستونزه:** د انتخاباتو کمیسیون کېدی شي، هڅه وکړي چې د خلکو د راټولېدو په مهمو مرکزونو لکه د ولایتونو، ولسوالیو په مرکزونو او ځینې نورومهمو ځایونو کې د رایې ورکولو مرکزونه جوړ کړي، دا مرکزونه کېدی شي له بېلابېلو کلیو واټن ولري، نو زیات شمېر خلک به زړه ښه نه کړي چې له لرې ځای څخه په خپل لګښت د رایې ورکولو مرکزونو ته لاړ شي او که دا لګښت کومه خاصه ډله ورکوي، نو انتخابات به هم د هغوی په ګټه تمام شي.

**۲- د ښځینه ووټرانو د انتخاباتي حوزو ستونزه:** تر ټولو غټه ستونزه د ښځینه ووټرانو ستونزه ده، چې حاضرې به نه شي، تر خپل کور او کلي بهر چېرې لرې د انتخاباتو مرکزونو ته لاړې شي، په انتخاباتو کې د ښځو د ګډون په باب پوهاوی هم یوه بله ستونزه ده چې ښځې به ورسره لاس او ګرېوان وي.

**۳- د کوچیانو د انتخاباتي حوزو ستونزه:** لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، کوچیان ګرځنده ژوند لرې، نو دوی ته ستونزمنه ده چې یو یا څو واحدو مرکزونو ته د رایې اچونې لپاره لاړ شي، نو په دې ډول که دوی تر دې د مخه زیات راجستر شوي هم وي، نو زیاتې رایې به یې نا استعماله پاتې شي.

**٤- متفرقه ستونزې:** پر پورتنیو یادو شویوستونز سربېره یو شمېر نورې ستونزې هم شته، لکه ترانسپورتي، لوژستیکي، د وخت کمی، تبلیغاتي، ذهني، سیاسي، تخنیکي او نورې ستونزې، چې د انتخاباتو د کمیسیون ګروپونه به ورسره لاس او ګرېوان وي، خو اوس راځو دې ته چې دا ستونزې د حل لارې لري او که نه؟ که چېرې د حل لارې ورته ونه لټول شي یا پیدا نه شي او بیا دا ستونزې پرې حل نه شي او دا یادې

شوې ستونزې همداسې لاینحله پاتې شي، نو بیا خو ښه دا ده چې بېخي د راجستر لړۍ پیل نه شي او نه عمومي انتخابات ترسره شي، ځکه چې په داسې شرایطو کې د عادلانه انتخاباتو ترسره کول ناشوني دي او تر ناعادلانه انتخاباتو، نه انتخابات ښه په دې دي، چې د نا عادلانه انتخاباتو په نتیجه کې د انتخاباتو د مشروعیت او تائید تر چتر لاندې یو نا عادلانه مشرتوب ډېر دروند بار دی چې د ولس پر اوږو پرېوزي او که هسې له انتخاباتو پرته یو خپلسری حکومت خپل واک وغځوي، نو هغه کې د ولس مسئولیت ځکه ډېر زیات نه دی، چې دوی خو انتخابات کړي نه دي،په خپل سر راغلی او په خپل سربه بېرته ځي.

خو زموږ په کلتور کې د ا متل دی چې که غر هر څومره لوړ دی پر سر یې لار شته ، د هر مشکل او هرې ستونزې حل لارې شته، چې که په ژور ډول تشخیص او عمل پرې وشي ستونزې ورسره حلېدی شي، نو د پورتنیو ستونزو دحل او عادلانه انتخاباتو د ترسره کولو لپاره دلته څو وړاندیزونه کوو:

## ۱- د ووټرانو د نوملیکنې لپاره عمومي ستراتیژي:

د رایې ورکوونکو د راجستر لپاره باید تر هرڅه لومړی یوه لیکلې ستراتیژي جوړه شي او ټولو هغو اړخونو ، ستونزو او حل لارو ته په کې اشاره وشي، چې عادلانه ټاکنو ته زیان رسوي دا لیکلې ستراتیژي باید د انتخاباتو د کمیسیون ټولو دفترونو او کار کوونکو ته ورسول شي او هغوی پرې ښه ځان پوه کړي.

## ۲- د نوملیکنې لپاره د افراد و جذبونه:

طبعاً د انتخاباتو کمیسیون به په مهمو ولایتونو او ممکن په هر ولایت کې ساحوي دفترونه جوړوي، کله چې ساحوي دفترونه په خپل تشکیل کې د نوملیکنې لپاره افراد جذبوي، نو دا باید د ټولو اداري واحدونو د

نفوسو، جغرافیایي موقعیت او دهغو اداري واحدونو اتنیکي جوړښت د ځومره والي او څرنګوالي له مخې په پام کې ونیسي، د هرې ولسوالۍ او هر اداري واحد لپاره باید د همغې ولسوالۍ تحصیل کړي اشخاص استخدام کړي، چې د همغې سیمې د خلکو په خوی بوی ښه بلد وي.

## ۳- دښځو نوملیکنه:

په ډېرو کلیوالي سیمو کې لا عام ذهنیت دې ته جوړ نه دی، چې ښځې دې راجستر شي او یا دې په ټاکنو کې ګډون وکړي، نو ددې ستونزې د حل یوه لاره دا ده، چې د نوملیکنې لپاره دې په غوڅ ډول نارینه کار کوونکي نه استخدامېږي، په هره ولسوالۍ کې لس شل تحصیل کړې او نیمه تحصیل کړې ښځې پیدا کېږي، همدا ښځې دې د راجستر په پروګرام کې جذب شي او ښځې دې دښځو له خوا راجستر شي، په دې ډول به د حساسیت مخه ونیول شي.

## ٤- د عامه ذهنیت دښه والي حل لاره:

د عامه ذهنیت د کنترول او ښه والي لپاره ښه لاره داد ه چې د راجستر په پروګرام کې د کلي مشر، ملک او روحانیون یا ملا امامان هم شامل شي، په دې ډول به د راجستر د پروګرام پر ضد د تبلیغاتي کمپاین مخه ونیول شي او ټول به په واحده پروسه کې شریک شي.

## ۵- د کوچیانو د ستونزې حل:

د کوچیانو د راجستر لپاره ښه لاره داده چې د راجستر په پروګرام کې خپله د کوچیانو دخېلونو استازي شامل شي، ددې د ټولو خېلونو شمېر ۱۵۰ خېلونو په شا وخوا کې دی، نو که د راجستر په پروګرام کې د کوچیانو لږ تر لږه ۱۵۰ استازو ته ونډه ورکړل شي، کار به ډېر اسانه شي.

## ٦- د انتخاباتي حوزو د ستونزو حل:

هر څومره چې د انتخاباتي حوزو شمېر زیات وي، په همغه اندازه رایې ورکوونکو ته اسانتیا پېښېږي، د ټول افغانستان په کچه د (۵۰) زرو په شاو خوا کې جامع مسجدونه دي، که د هر جامع مسجد مخه او یا د هغه انګړ یوه انتخاباتي حوزه وګڼل شي او دوه ورځې د ټولو انتخاباتو لپاره په پام کې ونیول شي، یوه ورځ د ښځو او یوه ورځ د نارینه و لپاره نو په انتخاباتو کې د ډېرو خلکو د ګډون احتمال شته.

## ۷- د فني او مسلکي اشخاصو جذبول:

په انتخاباتي پروسه کې چې هر څومره زیات مسلکي او فني اشخاص داخل شي، د ټاکنو د بري چانس زیاتېږي، د راجستر له پروګرام نه نیولې بیا تر عملي انتخاباتو پورې ددې ټولې لړۍ لپاره په کار پوه اشخاصو ته اړتیا ده.

په عمومي ډول که موږ د انتخاباتي بهیر دا ټولې ستونزې او حل لارې په ژور ډول په پام کې ونیسو او هغه ګام پر ګام عملي کړو، نو د عادلانه انتخاباتو د بري چانس زیاتېږي او له دې پرته انتخابات د وخت، پیسو او نورو امکاناتو ضایع کول دي او بس.

# د خدمت معیار

دا لیکنه هم د هیلې مجلې د (۱۳۷۹ل) کال په (۳) مه گڼه کې خوندي شوې ده.

په وروسته پاتو ټولنو کې دکار وېش په پوره او منظم ډول نه وي رامنځته شوی او یا ورته ډېر ارزښت نه ورکول کېږي، تخصصي څانگې جوت ځای نه لري او یا یې دکار مخه نیول کېږي، مسلکي کادرونه دخپل آر مسلک ترڅنگ اړ دي دویم او درېیم کار ته هم لاس وغځوي او خپل ژوند خروب کړي، همدغه او ځینې نور لاملونه وي، چې وروسته پاتې ټولنه نوره هم وروسته پاتې ساتي او دپرمختگ مخه یې نیسي. کله چې په یوه ټولنه کې دکار وېش نه وي رامنځته شوی او د ټولنې ټول وگړي دکار پر وېش قانع شوي نه وي، نو د خدمت کولو کچه او معیار هم نه معلومېږي. ځکه څنگه ارزولای شو چې چا په کومه برخه کې، څومره او څنگه کار کړی دی؟ کله چې په ټولنه کې کار وېشل شوی نه وي، د خلکو او په تېره بیا دعوامو غوښتنې هم خپله موخه نه شي ځارلای، بلکې ډېر ځله بې ځایه هم وي. د بېلگې په توگه که په ټولنه کې یو چا د خپل نسبي خدمت او هڅې له کبله یو څه نوم وگاټه او د خپلې ځانگیزې پوهې له لارې یې ټولنې ته یو گټور کار وکړ، نو عام وگړي له هغه نه دنورو هر ډول اړتیا وړ کارونو د سرته رسولو هیله لري. طبعاً دا ډول کارونه د هغه شخص

په وس پوره نه وي، نو ځکه خو دعوامو هیلې نه شي پوره کولای، دا کار په خپل ځانگیز کار کې د ده پر گټلي نوم هم ناوړه اغېز کوي او په نتیجه کې په یوه ځانگړې ځانگه کې د ټولنې د یوه خدمتگار خدمت هم له یاده وځي.

زموږ په شان وروسته پاتې او وروسته پاتې ساتل شویو ټولنو کې دخدمت کولو بله لویه ربړه داده، چې ډېرو سیاستوالو او نورو دخدمت په نامه شعارونه ورکړي، خو وروسته یې سر خیانت ته وتلی دی. د ((خدمت )) شعار اوس په عامو خلکو کې دومره بې باوره شوی، چې څوک دخدمت نوم واخلي، نو دخلکو په ذهن کې خیانت تداعي کېږي، نو اوس که یو څوک د ربنتیني خدمت هیله هم لري، څوک پرې باور نه کوي. ان که څوک د خدمت عملي بېلگې وړاندې هم کړي، بیا هم ځینې وایي: (( دا خو ځکه داسې خدمتونه کوي او ځان ښه سړی کوي، چې خلک تېر باسي په دې کې یې هم چل دی)). زموږ په ټولنه کې د ټولنې اصلي خدمتگاران په یوه او بل نامه تورن، بدنام او دعوامو د ټیټې ذهني کچې دناباورۍ ښکار شوي. زموږ په ټولنه کې بله ستره نیمگړتیا داده چې خدمت په مسلک او کار کې نه افاده کېږي، بلکې په اند او گروهې پورې تړل کېږي، هرې سیاسي او گروهمنې ډلې دخپل واک پرمهال خپل نالوستي او نامسلکه کسان پر مسلکي پوستونو او څوکیو کېنول او ډېرې توندې لنډ مهالې خو ډېرې ځپونکې او شاتمبونکې اغېزې یې پرېښودې. له څو تېرو او غبرگېدونکو پېښو څخه د مسلک خاوندانو او نورو ډېرو پوهانو ته دا نهیلي پیدا شوه، چې یاره (( افغانستان د استثناتو

هېواد دی دلته هر ناممکن شی ممکن او هر ممکن شی ناممکنېدلای شي)) نوموړ ته څه په کار وه چې سر مو په خپل مسلک کې سپين کړ او د زړه وينې مو وڅښلې؟

ځينې کسان هر خدمت د گروهې په تله تلي؛ دکار لاسته راغلې ثمرې او مېوې ته نه گوري، بلکې دېته گوري چې دا د چا په هڅه رامنځته شوي دي. دلته په واقعيت کې دهر خدمتگار کار دهغه د اخلاقو او گروهې په هنداره کې مطالعه او ارزول کېږي: (( پلانی ښه ډاکتر دی خو افسوس چې عقيده يې خرابه ده. زه به دپلاني انجنيري څه کړم چې عقيده کې ټينگ نه دی، پلانی به ښه تکړه پوهاند وي خو په پلاني گوند کې دی او پلانی...)).

دلته پر دې بحث نه کېږي، چې پلاني ټولنې ته څه وړاندې کړل، بلکې د يو چا د خدمت او سړيتوب معيار په دې پورې تړل کېږي، چې دده په ذهن او فکر کې څه گرځي؟! د ټولنې يو شمېر وگړي بيا دهمدغه ذهني ابهام په تلې هر څه تلي، هغه هم داسې چې هر څوک له خپل ځان سره دخدمت ارزونې او ټاکنې لپاره بېلابېل معيارونه لري. څرنگه چې په ټولنه کې دخدماتي کارونو وېش نه دی رامنځته شوی، نو دخدمت معيارونه هم نه دي مشخص شوي او نه يې بريدونه ټاکل شوي دي. له دې کبله که هرڅوک او د ټولنې هر خدمتگار په يوه ځانگړې څانگه کې ټولنې ته د زياتو خدمتونو جوگه هم شي، بيا به هم د ټولنې د ټولو وگړو په ذهن او فکر کې يو شان مقبوليت ونه لري، نو خدمتگار بايد څه وکړي؟.

کله چې په ټولنه کې د یو چا د خدمت معیار معلوم نه وي او یا په ټولنه کې دخدمت د ارزونې کچه راټیټه وي، نو خدمتګار طبعاً د اوږدې او سترې کوونکې مبارزې له کبله نهیلی کېږي، د ده دا نهیلي نه یوازې دده پر فزیکي او روحي ژوند ناوړه اغېزه کوي، بلکې د ده پر کورنۍ هم اغېزښندي او همداسې ټولې ټولنې ته غځېږي. کله چې څوک په ګانده (اینده) کې د یونېک او غوره کار دخدمت تکل کوي، نو چې د تېرو خدمتګارانو د ژوند حال او وروستی برخلیک ویني، نو په خپل کار کې ټکنی او پښه نیولی کېږي او ځینې خو په کې ښخي له خپل پلان کړي کاره تېرېږي.

ددغسې حرکت په نتیجه کې په ټولنه کې دخدمتګارانو شمېر راکمېږي، دخدمت کچه ټیټه او ټولنه شاته پاتې کېږي. د بنسټیز کار دسرته رسولو په مقصد او په ټولنه کې دخدمتګارانو دنهیلۍ دمخنیوي لپاره یوه غوره او اساسي لاره داده، چې هر څوک په ټولنه کې د خدمت او نېک کار د سرته رسولو هیله لري، نو له سره دې په زړه او ذهن کې دقربانۍ او بلهارۍ روحیه وروزي او د هېڅ ډول مادي او مانیز امتیاز هیلې دې نه لري، ځکه چې د خدمتګارانو او د ټولنې دعام ولس د ذهني کچې ترمنځ زیات واټن دی، د ټولنې عام خلک ددې ذهني وس نه لري چې خپل پالونکي او خدمتګاران ونازوي او د ځواک څښتنان د لنډ مهالي عیش او عشرت له کبله د ټولنې دخدمت او د هغو د خدمتګارانو دپاللو جوګه نه دي او نه هغو ته خپل پام را اړوي.

که چېرې د هرې برخې خدمتګار ځان له اروایي پلوه داسې تسکین کړي چې: ((همدا مې ټولنه ده او همدا یې معیارونه، خو دې سره سره بیا هم ورته په یوې الهي، ملي او هېوادنۍ مینه کار کوم او د هېڅ ډول مادي او مانیز امتیاز هیله نه لرم)) نو بیا خو کېدی شي چې له ډېرې ذهني او رواني سترړیا او نورې نهیلۍ سره مخامخ نه شي، ځکه چې ده له سره خپله ټولنه او د هغې معیارونه تللي دي. که خدمتګار په همدې روحیه په ټولنه کې کار وکړي او نور هم دا لاره تعقیب کړي، نو دخدمتګارانو شمېر به زیات شي او ټولنه به هم دپرمختګ پر لوري روانه شي، کله چې ټولنه نسبي او بیا نور پرمختګ وکړي، نو په ټولنه کې د ځینو ارزښتونو او معیارونو د بدلون امکان هم زیاتېږي، بیا به نو ټولنه په ټاکلو معیارونو هم خدمتګار پېژني او هم خاین، خو تر هغه دمخه د استاد روهي په اند: (( په وروسته پاتې ټولنه کې دخدمت او شخصیت معیار معلوم نه وي)) خدمتګار باید له هر چا څخه د ډېر عزت او پالنې هیله ونه لري او د قربانۍ په زغملو سره خپل کارونه ترسره کړي.

# فکري خلا

**دا لیکنه د هیلې مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.**

په هره ټولنه یا هېواد کې چې سیاسي ثبات لـه منځه لاړشي او یا وسلوال پوځ وپاشل شي، نوسم له لاسه ورسره عـمومي انارشي رامنځته شي، سیاستوال دې پېښې تـه د(قـدرت خـلا) وایـي اوتـل هڅه کوي چې په ټولنه کې دا ډول تشیال (خلا) رامنځته نه شي.
دسیاسي او پوځي واك دخـلا یـوه عملي بېلګـه تـر ننـه لـس کالـه وړانـدې زمـوږ پـه خپـل هېـواد کـې پېښـه شـوه، کله چې دپخـواني شوروي پلوي حکومت مشر ډاکټر نجیب الله پاکستان پلوو، ایران پلوو او یا هم دیو بل ډول روس پلـوو ډلـو ډلګیـو لـه خـوا تـر سـخت فشار لاندې راغـی او اړشـو چې لـه واك نـه لاس پـه سرشي، نـو پـه هېواد کې یې دسیاسي بې ثباتـۍ او دقـدرت خـلا رامنځتـه کېـدو دمخنیـوي پـه بـاب دملګـرو ملتـو سـازمان تـه لمـن وغـوړولـه، چې دنوي بدلون په راتلو سره به سیاسي او پوځي ځواك رامنځتـه شـي او ټولنه به له کنټروله ونه وځي.
ډاکټر نجیب الله چې دمجاهدینو له بېلابېلو ډلو سره ډېـر کلونـه جنګېـدلی و، سیاسـي ظرفیـت او د اکـثرو ډلـو تـر مـنځ دځواکونـو انډول ورته معلوم و. پـه پایلـه کـې همغسـې وشـول چې هغـه اټکـل کړی و.

په افغاني ټولنه کې دسیاسي خلا له راپیداشوي ناورین څخه نه یوازې افغاني ټولنې، بلکې ټولې نړۍ دعبرت ښه درس واخیست، خو اوس هم پر هغه اساسي لامل غور نه کېږي، چې دسیاسي تشیال درامنځته کېدو سبب ګرځي.

دسیاسي خلا درامنځته کېدو اساسي لامل، فکري تضاد، بې اتفاقي، فکري کمزوري اویا هم هغه فکري خلا ده چې پر یو واحد ارمان اویاهم پر ځانګړي ټکي دټولو او یا زیاتو خلکو د راټولېدو او توافق چانس له منځه وړي. په حقیقت کې همدا فکري خلا ده چې په یوه ټولنه کې سیاسي ګډوډۍ او پوځي لاسوهنې ته لاره برابروي. په زیاترو ټولنو کې ځینې داسې ایډیالونه وي چې دیوملت ټول وګړي او سیاسي ډلې پرې راټولېږي او درناوی یې کوي. ملي، عقیده ییي او هېوادني ارزښتونه هغه ستر ارزښتونه دي، چې دیو ملت او هېواد دتشکل سبب ګرځي.

لیکوال او شاعر دټولنې هغه پاړکی دی چې تر ټولو زیات دملي ارزښتونو پالنې اوځلونې ته ژمن وي، ځکه خو لیکوال ته دټولنې سترګې او دهغه تخلیق یانې (ادب) ته دټولنې وجدان وایي.

دټولنې ځینو وګړو ته بې ایډیاله ژوند ګران نه دی، خو شاعر او لیکوال بې ایډیاله ژوند نه شي کولای او که کوي یې هم دا مانا لري چې یو بې روحه کالبوت دی. زموږ یو شمېر شاعران او لیکوال اوسمهال له همدغه فکري بحران او خلا سره مخامخ دي. هغوی چې به پخوا یو ارمان او ایډیال ته متعقد وو، پر ایډیالونو باندې د ډول ډول ناخوالو د راتلو له امله سخت مړاوي دي.

اساسي خبره داوه چې ځینو لیکوالو دخپل ځان لپاره واړه ارزښتونه او ایډیالونه ټاکلي وو، لکه سیاسي، سیمه ییز، قبیله یي او نور... نو کله چې پر دې ډول ارزښتونو ګردونه راغلي، نو دوی هم ورسره مړاوي شوي دي.

یو شمېر نور بیا سیاسي توپانونو او نورو ناخوالو دومره وارخطاکړي چې هېڅ نه پوهېږي څه وکړي او کوم ارمان ته دې ده ولګوي. دا ډول لیکوال له یوې فکري خلا او بحران سره مخ دي، لیکنې یې کوم مشخص لوری نه شي ټاکلای او نه په کې کوم ځلند مانیز جوهر پروت وي. لیکنې یې بې ارمانه وي، ارمان او ایډیال دلیکوال لپاره د روح مثال لري او بې روحه لیکنې د مړو لیکنو حیثیت لري.

دبې ایډیاله لیکوالو بله ستونزه داده، چې له ډول ډول فکري تېروتنو سره مخامخېږي، متضادې لیکنې ورځخه کېږي او دشخصیت ثبات ته یې زیان رسېږي، دشخصیت بې ثباتي چې زموږ په ټولنه کې زیاتره په اخلاقي انحراف او فکتور پورې تړل کېږي، دلیکوال دیوه اثر د اغېزمنۍ لپاره ډېره مهمه خبره ده. په وروسته پاتې او قبیله یي ټولنه کې اخلاقي معیارونه او دشخصیت ځانګړنې ډېر زیات مطرح دي، نو هغه څوك چې غواړي پخه او تلپاتې لیکوالي وکړي، باید دهغې لپاره پاخه مانیز بنستونه هم ولري او دخپلې لیکوالۍ لپاره تلپاتې، پراخ او ستر انساني ایډیالونه انتخاب کړي، نو په دې ډول به په لیکوالۍ کې له فکري بحران او خلا څخه وژغورل شي.

# مجاهد او جنګسالار

**دا لیکنـه هغـه وخـت شـوې وه، چــې د مجاهـد او جنګسـالار پــر اصطلاحاتو په رسـنیو کـې تـود بحـث روان و او بیـا هماغـه مهـال د ګوربت مجلې د (۱۳۸۳ل) کال په (٦)مه ګڼه کې چاپ شوې ده.**

له سیاسي پلوه د ((مجاهد)) اصطلاح په افغانستان کې د سیاسي بحران تر پیل (۱۳۵۷) ل کال وروسته استعمال شوه او پر افغانستان باندې د شوروي یرغل په ټولو کلونو کې یې دمذهبي او ملي مشروعیت ټول پړاوونه ووهل، نو ځکه په همدغه دوران کې ((مجاهد)) د ولس د زړونو تل ته ننوت او د منبت او ګرانبت مراتب یې حاصل کړل، ان تر دې بریده چې که یو ((مجاهد)) د شریعت تر پولې اخوا هم ځینو کارونو ته لاس ور ووړ، نو خلکو پرې پرده خوروله او ویل یې خیر دی پروا نه کوي مجاهد دی... رښتیا هم افغان ولس د جهاد په لوښي کې د خپل هېواد د ازادۍ او سرلوړۍ لپاره بې سارې قربانۍ ورکړې او خپل ځان یې دنړۍ په ولسونو کې د یوه اتل په توګه تثبیت کړ ، په پاکستان کې اوو او په ایران کې اتو کمونیزم ضد او حکومت مخالفو سیاسي تنظیمونو چې اکثرو یې تر شوروي یرغل دمخه په دې هېوادونو کې ځالې کړې وې، په شوروي یرغل سره ځان ته جهادي مشروعیت حاصل کړ او د جهاد مشري یې راخپله کړه، ولس له ناچارۍ اړ و د شوروي پر ضد جهاد ته دوام ورکړي، که څه هم په لوړه ګېډه او تش لاس دې وي، سیاسي تنظیمونو ته دا ښه فرصت و، چې د افغان ولس او د شوروي مخالفو هېوادونو په

تېره بیا امریکا متحده ایالات، سعودي عرب او نورو ترمنځ یو حایل رامنځته کړي، له هغوی څخه وسلې او پیسې ترلاسه کړي او ضمناً دا ورته هم په گوته کړي چې د ولس رهبري زمونږ په لاس کې ده او دا ټول ولس مونږ راپاڅولی دی. د همدغه مهارت په نتیجه کې سیاسي پوځي، تنظیمي مشرانو د جهاد په ټول بهیر کې د شهرت ښه شان او شوکت تېر کړ، کله چې شوروي لښکرې له افغانستان څخه ووتلې نو تر هغه وروسته جهادي مشروعیت هم ورو ورو کمزوری شو، هغه جهادي ډلې او تنظیمي مشران چې تر دې دمخه یې هر روا او ناروا عمل مشروع گڼل کېده او مذهبي جذبه یې پر سیاسي تدبیر ډېره غالبه وه، له سخت چلینج سره مخامخ شول، د دې ډلو مشرانو سیاسي منطق ډېر کمزوری او تر جگړه ییز بهیر ډېر شاته پاتې و، د شوروي لښکرو تر وتو وروسته په افغانستان کې مذهبي او ملي جنگ ورو ورو پر سیاسي او قومي جنگ بدل شو، دا داسې یو حالت و چې اکثرو جهادي مشرانو پرې دمخه فکر نه و کړی، د جهاد نړیوال ملاتړ په همدې وختونو کې ورو ورو کمېده، د جبهې لیکې کمزورې کېدلې او د واک د نیونې لپاره په پټه او ښکاره تر مذهبي ارزښتونو اخوا ائتلافونه او سازشونه جوړېدل، یو شمېر جهادي او جهادنما ډلې په کابل کې له یو شمېر الحادي او قومي ډلو سره د سازش په لټه کې شوې، څرنگه چې دا ډول هڅې د ملي گټو پر ضد وې، نو د عامه مشروعیت پر ځای یې عامه کرکه راوپاروله. د سازش او ائتلاف له لارې پر کابل باندې بېلابېل او مختلف تنظیمونه واکمن شول او ورسره ټول هېواد ته د نامشروع جگړې لمبې خورې شوې، هر ځای ته ټوپکواکي وغځېده. حالات دومره ترینگلي شول، چې هېواد ته د تجزیې خطر پېښ شو، ولس له دې حالت تر پوزې راغی او خبره د انفلاق تر بریده ورسېده، پخوانیو جهادي ارزښتونو خپل رنگ او خوند بایلود. پخوانیو سیاسي او مذهبي

اصطلاحاتو ته نوې نومونې راووتې، قوممندان، ټوپکي، ټوپکوال، نامسووله اشخاص، جګړه مار ټوپکسالار، جنګسالار او داسې نور. ددې نومونو یو غټ علت دا و چې پخوانی مجاهد د خپلو عملونو له مخې نننی مجاهد نه و. مجاهد او جهاد له معنوي پلوه د بهرني یرغل پر وړاندې له مبارزې څخه خپل مشروعیت ترلاسه کاوه، خو نن چې هره خوا خپلمنځې جګړه شروع وه او ټوپک کارېدل، دې جنګ بله مانا لرله، دا د قدرت لپاره د هوسونو جنګ و، څرنګه چې د جنګ بڼه بدله شوله، همداسې د جنګ اصطلاحات او مفاهیم هم بدل شول. د پخوانیو مجاهدینو یوشمېر ډلې او اشخاص چې په نوي جنګ کې راښکېل وو، له دې نویو اصطلاحاتوسره یې سخت مخالفت کاوه، دوی هڅه کوله چې پخوانۍ سپېڅلې تورې اوسنیو نامشروع امتیازاتو او کړنو ته مشروعیت ورکړي او د تېرې تورې په برکت خپله اوسنۍ ګناه بابیزه او ښلې وښیي، خو دې خبرې ته یې پام نه و، چې پخوانی شغل هېڅکله هم د اوسني شغل ځای نه نیسي او نه یو د بل پرځای کارېږي، مثلاً پخوا یو څوک نانوای و، بیا یې نانوایتوب پرېښود، او قصابي یې پیل کړه، اوس د قصاب پر دندې او غولي ولاړ دی، نو څوک ورته د نانوای خطاب نه کوي، بلکې قصاب یې ګڼي. د ځینو مجاهدینو په اړه هم همدا مثال صدق کوي، یو وخت کې یو چا جهاد کاوه او ځان یې د جهاد پر ټولو اصولو برابر کړی او پسوللی و نو خلکو ورته مجاهد ویلې، خو کله چې همدې خلکو د جهاد تر پولو پښې واړولې او نورو کارونو ته یې لاس کړ، نو بیا خلکو ورته نور اصطلاحات چې د هغوی له عمل سره منطبق او مصدق وو وکارول، که چا د خلکو د ځورونې لپاره ټوپک ګرځاوه، هغه ته د ټوپکي او که چا پاټک درلود هغه ته د پاټکي اصطلاحات وکارېدل. حقیقت دادی چې له جهادي حالت نه نامشروع ټوپکي حالت ته د ځینو اشخاصو اوښتل یوه پروسه وه، هر

څوک چې په دې پروسه کې شامل وو، هغوی دویم نومونه خپل کړل. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ټوپکوال او پاټکوال ټول له یوې مخې د هېواد په یوه گوټ کې را ایسار کړای شول، خو د امریکا د متحدو ایالاتو د پوځي یرغل په نتیجه کې د ټوپکوالو مشران یو ځل بیا را ژوندي شول، په سیاسي او پوځي برخه کې یو ځل بیا ورته تر خپل استحقاق او استعداد پورته امتیازات ورکړای شول، ولس له همغه پیله د طالبانو پر وړاندې پر دا ډول بدیل خوښ نه و، خو امریکایي ځواکونو او نړیوالې ټولنې د خلکو د هیلو خلاف ټوپکوال په زیاتو امتیازاتو ونازول، ولس له همغه پیله دې خلکو ته د دوی د شان مطابق اصطلاحات وکارول، هغوی چې تر ټولو زیات ټوپک او وسله وال اشخاص یې درلودل او په دولت کې یې تر ټولو زیات امتیازات ترلاسه کړي وو، د جنگسالار او ټوپکسالار په نومونو ونومول.

په دې تېرو دریو کلونو کې د جنگسالار پوځي اصطلاح ډېره زیاته سیاسي مانا او اغېزه راخپله کړې، هر څوک جنگسالار یادوي او غندي یې، خو هېڅکله هم چا کوم شخص جنگسالار ته گوته نه ده نیولې او څوک یې په دې نوم نه دی نومولي. جنگسالاران هم هېڅکله دا اصطلاح پر ځان نه مني او د داسې اصطلاح کارونه د مجاهدینو توهین گڼي. دا چې په افغانستان کې اوس څوک جنگسالار دی او څوک مجاهد، مخکې پرې په ضمني ډول تبصره وشوه، خو یو شی چې حقیقت دی هغه دادی چې اوس په افغانستان کې جنگسالاران شته، هم په دولت کې دي او هم تر دولته بهر، یا رسمي او نا رسمي جنگسالاران دواړه شتوالی لري، د جنگسالارۍ اصطلاح هم باید په دقیق ډول وکارول شي، که یو څوک مجاهد ته جنگسالار ووایي، نو بېشکه دا د مجاهد په حق کې ظلم دی او گناه ده، خو که څوک جنگسالار ته مجاهد وایي، دا نو بیا تر هغه زیات

ظلم دی او گناه ده، په حقیقت کې هر هغه څوک چې د وسلې په زور تر خپل استعداد او استحقاق پورته امتیاز ترلاسه کوي، هغه جنگسالار دی، که هغه پخوا هر څوک و سپین و که تور، مجاهد و که نه و، د جنگسالار د تعریف په باب پخوانی ښېگڼې او بدگڼې د محاسبې وړ نه دي، بلکې د هغه اوسنی کړنې د محاسبې وړ دي. د پخوانیو ښېگڼو په مقابل کې د اوسنیو بدگڼو ښل داسې مانا لري، چې موږ ناروغ ته د اصلي درملو پر ځای تاریخ تېر درمل ورسوو، طبیبان پر دې پوهېږي چې ناروغ ته تاریخ تېر درمل څومره زیان وررسولای شي.

# سرشمېرنه که سر غوڅونه؟

دا لیکنه هغه مهال شوې وه، چې په افغانستان کې د امتحاني احصایې بهیر پیل شوی و او د احصایې په اړه تاوده بحثونه او تشویشونه روان وو، په ځینو ولایتونو کې چې امتحاني سرشمېرنه اخیستل شوې وه، هلته هم د درغلۍ زیات احتمالات وو، وروسته بیا په ننگرهار کې موږ د سرشمېرنې په اړه یو علمي سیمینار هم جوړ کړ، چې گڼ شمېر افغان لیکوالو، څېړونکو، د احصایې د مرکزي ریاست لوړ پوړو چارواکو او همدارنگه د ځینو کورنیو او بهرنیو موسسو استازو په کې گډون کړی وو. په دې سیمینار کې موږ د مستندو دلایلو او شواهدو له مخې، دا امتحاني احصائیه نیمگړې او له درغلۍ ډکه ثابته کړه. چې دا مهال زموږ د ځینو څېړونکو لاسته ورغلي وو. په دې اړه زما نورې لیکنې هم شته چې هغه به یو ځل بیا خپرې کړم. دا لیکنه همغه مهال د هیلې د (۱۳۸۲ل) کال په (۱) گڼه کې چاپ شوې ده. درانه لوستونکي یو ځل بیا ددې حساسې موضوع په هکله ددې لیکنې لوستو ته رابولم.

د بن د توافقاتو له مخې د افغانستان د دولت یوه دنده دا گڼل شوې وه، چې په افغانستان کې به عمومي سرشمېرنه ترسره کوي، نړیوالې ټولنې ژمنه کړې وه، چې په دې کار او چار کې به له افغان دولت سره مرسته

کوي. د بن پرېکړې تقریباً له خپل وخت و مهال سره عملي کېږي، خو نه کټ مټ او سل په سلو کې، خو تراوسه چې څوک د بن د پرېکړو جاج اخلي، نو تر زیاته بریده یې عملي بڼه خپله کړې ده. البته د بن د پرېکړو په عملي برخه کې هم یو شمېر درغلۍ، تېروتنې او تېرویستنې شته او په راتلونکې کې یې هم اټکل کېدی شي.

د بن په توافقاتو کې پر سرشمېرنه زیات ټینگار ځکه کېده، چې دا نه یوازې د افغانستان د بیا رغونې، جوړونې او پرمختگ لپاره یو اساسي لامل و، بلکې د سیاسي چارو د سمون او رغون په لار کې یوه اساسي ستونزه هم گڼل کېږي، ربښتینې سرشمېرنه د سیاسي او قومي ډلو د سیاسي غوښتنو په کنترول، تثبیت او لاسته راوړنه کې اساسي رول لري. په افغانستان کې سرشمېرنه په تېره بیا د قومي ماهیت له مخې یوه ډېره حساسه سیاسي موضوع ده، د هرې مشروع او نا مشروع سیاسي، اقتصادي او بلې غوښتنې لپاره د قومونو کمیت وار له واره دمخه کېږي او د ستونزې د حل معیار او محک قومي شمېر گڼل کېږي.

څرنگه چې په افغانستان کې لا تر دې دمخه یوه ډېره دقیقه، کره، پوره او ټولو غاړو ته د منلو وړ سرشمېرنه نه شته، نو ځکه هره سیاسي او ټولنیزه ډله چې د قومي هویت او حقوقو تر چتر لاندې یې خپل ژوند تضمین کړی، په هېواد کې د سرشمېرنې له یوه اوږده ابهامه ناوړه گټه پورته کوي او د هغه قوم، چې دوی ورته منسوب دي، د شمېر کچه دومره لوړه ښیي، چې واقعیت نه لري، په دې ډول په افغانستان کې له قومي پلوه د سرشمېرنې په ښودنه کې زیاته مبالغه کېږي.

هغو سرشمېرنو چې د ځینو بهرنیو غرضي هېوادونو او کورنیو غرضي سرچینو له خوا ترسره شوي او پر واقعیت ولاړې نه دي، موضوع نوره هم پسې پېچلې کړې ده. د بېلگې په توگه ځینې سرچینې په افغانستان کې

زموږ د هزاره ورونو مجموعي شمېره په سلو کې (۳۰-۳۵) محاسبه کړې، که دا د یوې فرضیې په توگه همدومره وگڼو، نو همدومره یا تر دې زیات شمېر د تاجکو ورونو له موجودیت څخه هم هېڅوک سترگې نه شي پټولای، خو که موږ د فرضیې په توگه همدا (۳۰-۳۵) رقم محاسبه کړو، نو د دوو قومونو مجموعي شمېر به (٦۰-۷۰) فیصده شي، د افغانستان په قومي شمېرنه یا یادونه کې معمولاً ازبکان تر هزاه گانو وروسته یادېږي، نو که دا هم د پورتنۍ فرضیې له مخې له (۲۵-۳۰) فیصدو پورې اړکل شي، نو د درېیو قومونو مجموعي شمېر به (۸۰-۹۰) فیصدو پورې ورسېږي، پاتې (۱۰-۲۰) فیصده که دا نور قومونه لکه ترکمن، پشه یي، نورستاني، ایماق، قزلباش او نور محاسبه شي، نو سل په سلو کې پوره شول، په دې ډول نو په افغانستان کې د پښتنو د اکثریت خبره خو لا څه چې ښېخي یې د موجودیت پوښتنه راولاړېږي؟ داسې او دې ته ورته احصایې له واقعي او رښتیني حالت څخه د یوه لوري غوښتنه او تقاضا لوړوي او د بل لوري منفي غبرگون راولاړوي، څکه نو د سیاسي غوښتنو په طرح کولو کې له سرشمېرنې ناوړه گټه پورته کېږي. هغه وخت چې په افغانستان کې د تذکرې له مخې د نفوس ثبت او راجستر پیل شوی، نو دا هیله ډېره پیاوړې کېده، چې د وخت په تېرېدو سره به د نفوسو دقیق شمېر هم معلوم شي او بیا به دا مسئله د یوې سیاسي ستونزې په توگه نه مطرح کېږي، خو په افغانستان کې پرله پسې منفي بدلونونو او اوښتونونو نه یوازې دا هیله ټکنۍ او ځنډنۍ کړه، بلکې نورې ستونزې یې هم راولاړې کړې.

د ناوړه سیاسي بدلونونو ترڅنگ د احصایې د کارکوونکو لاسوهنه، درغلي، قومي او سیمه ییز لیدلوري هم ډېرې منفي اغېزې وشیندلې، له کومه وخت چې د تذکرو وېش پیل شوی نو ورسره سمه، قومي اړونه او

بدلونه هم پیل شوې، په انفرادي او ډله ییز ډول د یوه قوم هویت ختم شوی او په احصائیه کې یې په قصدي درغلي شوې ده. د دې کار یو غټ علت دا و چې د احصایې اکثره مامورین ناپښتانه وو. نه یوازې د پښتنو شمېر په کې کم و، بلکې د نورو قومونو لکه ازبک، پشه یانو، نورستانیو، بلوڅو او نورو شمېر هم په کې کم و، همدا علت و چې د نفوس په ثبت او راجستر کې دا ټول قومونه ډېر متضرر شوي دي. اکثرو تذکرو ته به تاسو پام کړی وي، د تذکرې متن پښتو، خو هغه ځایونه چې باید په قلم په کې څه ولیکل شي، هغه دري دی. زما په خپله تذکره کې یې د سن په کور کې لیکلي: (( چهارده ساله شصت)). ( پر شپېتم کال څوارلس کلن) د سترګو او وېښتانو رنګ او نورې ځانګړتیاوې خو پرېږده، له دې څخه ښکاري چې د احصایې اکثره مامورین پر پښتو نه پوهېدل.

په ټولیز ډول ډېرو کمو پښتنو تذکرې اخیستي، ددې یو علت دا و چې په افغانستان کې د تذکرې ترلاسه کول د ژوند یو ډېر مهم ضرورت نه ګڼل کېده، هغو کسانو چې تذکرې یې نه دي اخیستي، هغو خو د قومي هویت د بدلانه زیان نه دی زغملای او نه د احصایې مامورینو د درغلۍ ښکار شوي، خو هغه چا چې تذکرې اخیستي پر ګڼ شمېر یې دا څپه تېره شوې، هغه پښتانه چې نالوستي وو، هغوی ته چې د احصایې مامور صیب هر څه په تذکره کې لیکلي دا نو د هغه مهربانۍ پورې اړه درلوده، یو زیات شمېر دا ډول خلکو ته په تذکره کې د (پښتانه) پر ځای (تاجک) لیکل شوي، کلونه پس چې یې زامن لوستوال شوي او هغوی د خپل پلار تذکره کتلې، نو بیا دې نمیګړتیا او تېروتنې ته متوجه شوي چې نږه پښتانه ته تاجک لیکل شوي دي.

د ننګرهار د سره رود په ولسوالۍ کې څو تنه داسې وو، چې پر خپلې جبارخېلۍ او پښتونواله یې سرماتوه، خو کله چې یې خپلې تذکرې

وکتلې په تذکره کې یې ورته تاجک لیکل شوي وو، یو چا د سره رود له یوه جبارخېل سره ګپ لګاوه او ورته یې وویل: (( اینه بیادر خوب شد که در تاجک هم جبارخېل پیدا شد ما خو دیگم به اونها نزدیک شدیم، بری ما از پشتونولیت لاپ میزدی خوب شد که اخر بری ما خړ شدی )) جبارخېل وویل: ((ولا چه بګویم دیګه اونا نبشته کده.)) هغه مخکې ورځو کې د حصارک ولسوالۍ یوه مخور وویل: ((تاسې لا د سرخرود ولسوالۍ د جبارخېلو غم وړي یاست ان زموږ په ولسوالۍ کې جبارخېلو ته تاجک لیکل شوي دي.))

زما یو بل ملګری په جرمني کې اوسي او د کونړ زېږ پښتون دی، په پښتو او پښتونولۍ کې تر توريې هم تېره دی، په ټبر ساپی دی، هغه راته وویل: (( ... دا لاڅه کوې چې زما او د حاجي صاحب (مقصد یې خپل پلار و) په تذکره کې هم تاجک لیکل شوي دي.)) دې سره ټولو وخندل. د پښتنو یو شمېر سیمو کې څلور پینځه لسیزې مخکې کسبګرو ته چندان په ښه سترګه نه کتل کېدل. اکثره کسبګر له اقتصادي پلوه د وروستۍ طبقې خلک وو، نو دې کسبګرو به سره له دې چې ټول پښتانه وو، خو ځان به یې د نورو زورورو له وېرې کوم خاص قومي ګروپ پورې نه تړه، کله چې به د تذکرې د وېش وخت راغی، نو دوی خو به د احصایې مامور ته له وېرې خپل قوم نه ښوده، نو بیا خبره د احصایې د مامور ترحم ته پاتې کېده او د هغوی ترحم خو معلوم و.

یوه ورځ مې له خپل ملګري شېرعلم امله وال څخه پوښتنه وکړه چې په تېرو وختونو کې د تذکرو د وېش برخه کې دغسې درغلۍ شوي، تاسو پشه یانو کې خو به د چا په تذکره کې تاجک یا پښتون نه وي لیکل شوی؟ هغه وویل: (( دا عجیبه خبرې کوې ټول ده نور له تاجکو ډک دی، څومره چې دې په کار وي زه به یې سبا درته راوړم.)) ما ویل نه بابا داسې

به نه وي هغه وویل: (( دوه ورځې ماته وخت راکړه)) دوه درې ورځې وروسته یې ګڼ شمېر تذکرې راوړې هغه وویل دا یې نمونه ده، زه نه شم کولای ټولې تذکرې درته راټولې کړم. په ځینو تذکرو کې پشه یانو ته پښتانه خو په اکثرو تذکرو کې پشه یانو ته تاجک لیکل شوي وو، څو موده وروسته زه خپلې ولسوالۍ ( الینګار) ته لاړم، د اساسي قانون لپاره د عامه خبرونې یوه غونډه وه، د الینګار ولسوالۍ له بېلابېلو درو څخه د بېلابېلو قومونو له خوا استازي او مشران په کې ناست وو، د اساسي قانون پر ګټو، د افرادو پر حقوقو، ژبو، فرهنګ او د قومونو پر وروری خبرې وشوې، کله چې خبره د قومونو وروری ته راورسېده، نو یو تن پاڅېد او ویې ویل: (( زه د سالاو درې اوسېدونکی په قوم پشه یي یم، جهاد مې کړی او اوس د یوه مکتب مدیر یم، دا څنګه حقوق دي، زه به د خپلې درې د ټولو پشه یانو تذکرې درته راوړم چې څه یې په کې لیکلي؟)) موږ حیران شو، چې څه یې په کې لیکلي، ده یو ځل بیا ناستو خلکو ته وویل: ((زموږ د درې خلک په قوم څه دي؟)) ټولو ویل: (( پشه یان)) ده بیا وویل. (( دا نو ولې یې موږ ته په تذکرو کې لیکلي: تاجک.)) ده زیاته کړه: (( ورونو د تعصب له مخې دا خبره نه کومه، لغمان کې تاجک نه شته که وي هم ددې غرو سرو کې څه کوي؟ مقصد مې دادی چې اوس دا قانون جوړېږي، موږ یې ملاتړ کوو، خو سبا چې بیا تذکرې وېشل کېږي موږ سره داسې ټګي برګي ونه شي.))

تر الینګار وروسته موږ غربي نورستان ته لاړو، په غربي نورستان کې پشه یان، ګوجر، نورستانیان او پښتانه اوسېږي، هلته هم په یوه واړه خو د مخورو او قومي مشرانو په یوه مجلس کې دننګراج له یوه وکیل (غلام سخي) څخه چې په قوم پشه یي دی، پوښتنه وشوه چې د الینګار پشه یانو شکایت کاوه چې زموږ په تذکرو کې یې تاجک لیکلي، ستاسو په تذکرو

کې خو به چا ته داسې نه وي لیکل شوي، وکیل غلام سخي په خندا شو او ویې ویل: (( صیبه دا درې اکثره پښه یان دي، پورته بیا نور قومونه گوجر، وایگلي او وامایي دي. اوس خو دا شل کاله انقلاب کې تذکرې نه دي تقسیم شوي پخوا داودخانۍ اوظاهرخانۍ کې تذکرې وېشلې شوي، هغو اکثرو کې زموږ پښه یانو ته تاجک لیکل شوي، هغه وخت کې خلک ساده گان وو، په دې نه پوهېدل چې دا څه مانا؟ اوس هم چندان نه پوهېږي، خو که دا ځل تذکرې والا راغلل، نو زه به ورته وایم چې پښه یانو ته به پښه یان لیکي.))

د مرکزي نورستان وکیل گل اعظم خان او د غربي نورستان وکیل عطاء الله خان هم په دې مجلس کې ناست وو، هغوی وویل: ((په نورستان کې هم دا حال دی کومې تذکرې چې دوی هغه وخت په نورستان کې وېشلې دي په اکثرو کې یې نورستانیانو ته تاجک لیکلي دي.))

څه موده وروسته کابل ته لاړم، له معمول سره سم د پښتو د یو هڅاند خدایي خدمتگار (...) لیدو ته ورغلم هغه تر ستړي مشي وروسته سملاسي راته وویل: (( خبر شوې؟ ما ویل نه، څه شي نه، هغه وویل: (( د استاد رشاد لمسي ته یې په تذکره کې تاجک لیکلي)) ما ویل ظالمه زه دې وارخطا کړم دا خو وړه خبره ده، ما ویلې چې خپله یې استاد رشاد ته تاجک لیکلي... هغه یو دم رابرگ شو د استاد رشاد لمسي ته تاجک از برای خدا ډېر شرم دی ډېر بې غیرته قوم، پښتون ډېر ویده قوم دی. هغه بیا زیاته کړه چې استاد رشاد په دې خبره څومره خفه دی. (( ما هغه ته وویل تاته مې زموږ د یوه خپلوان د لغمان د الینگار د مولوي گلندر خبره نه ده کړې چې هغه په خپلو پیسو له پاکستان نه دخپل کلي جومات ته یو لوډسپیکر راوړ او خلکو ته به یې هر سهار، ماسپښین او مازیگر وړیا نصیحت او تبلیغ کاوه، خو هېچا هم ورته غوږ نه ایښووده او یو نیم به لا په

کې داهم ویل چې ددې (...) زوی ته لا گوره موږ باندې خپل یاسین پخوي، پلار به یې دکان کاوه اودی موږ ته وعظ او نصیحت کوي، ځه خپل پدري کسب دې کوه.

مولوي گلندر د خلکو دې بې تفاوتۍ ډېر په تنگ او بې ارزښته کړ، بلاخره د خپل لوډسپیکر مزي یې راټول او هغه یې د جومات له منارې څخه راکښته کړ. بله ورځ یې ماته وویل: (( یاره عزیزه دا پښتانه دا ددې ولس خلک دا د ابو جهل قوم دی والله په بالله که څوک یې اصلاح کړي، څو چې اسرافیل ورته په غوږ کې شپېلۍ ونه وهي والله که یې راویښ کړې، ماته یې دسر په کاسه کې اوبه راکړې او نور ما هم همداسې پرېښودل ځئ چې هر طرف ځئ.)

(...) ته مې وویل چې تا څخه هم مولوي گلندر جوړ شوی اخر به دخپل لوډسپیکر تنستې راټولې کړې، هغه په خندا شو یاره ښشکه چې دا د ابو جهل قوم دی دا نه اصلاح کېږي، ډېر بې غیرته دي او ښځ یې وباسې هی))

له کابله - جلال اباد ته راستون شوم، دفتر کې لا ناست نه وم چې یوځل بیا شېرعلم خان راننوت خوله یې له خندا ډکه وه او همدا یې ویل ( نوی انکشاف، نوی انکشاف) ما ویل څه اتوم دې کشف کړی که څنگه؟ هغه ویل اتوم نه هم بدتر. ما ویل څه دي؟ ده ویل: ((د پښتنو جوغه دار هم تاجک شو)) ما ویل دا څه وایې کوم جوغه دار؟ څوک یادوې؟ د پښتو جوغه دار څوک دی؟ خو همدا (...) درته یادوم چې کله د پښتو خبره راشي دده په مخکې څوک سڼ هم نه شي کولای او کله چاته د خبرو نوبت ورکوي، ما ویل هغه خو مې همغه ورځ ولید روغ او جوړ دی، څه خو یې نه دي کړي؟ امله وال وویل ته غوږ نیسه، که نه خبره داسې ده: (( ما غوښتل پر هغو مسایلو یوه مقاله ولیکم چې مخکې مو پرې

خبرې کړې وې)) ماویل کوم مسایل؟ هغه وویل: ((هېر دې شول هغه د تذکرو مسایل چې د خلکو قوم په کې بدل ښودل شوی دی)) ما ویل ښه ښه په یاد مې شو، ښه اوس کیسه کوه. امله وال وویل: (( د همدې ډول تذکرو د پیداکولو په لټه کې وم، هغه ورځ د روداتو بېرو ته هسې د یوه کار لپاره تللی وم، یوه چا راته یوه زړه قواله (قباله) راکړه دا قواله هغه ستا د ملګري (...) د نیکه په نامه وه، چې له دوو نورو کسانو څخه یې څه ځمکه اخیستې وه، قواله مې لوستله لوستله چې د (...) د نیکه په نامه مې سترګې ولګېدې چې ګورم په قواله کې یې ورته تاجک لیکلي)) ما ویل نه بابا دا ناممکنه ده، بېرو او تاجک دا هېڅ امکان نه لري هغه هم په خندا شو او ویې ویل: ((زه هم دې ته حیران یم چې هده او ګني، بېرو او تاجک.)) امله وال سبا ته قباله راوړه، په قباله کې یې یو طرف ته قوم تاجک، بل طرف ته مومند او بل طرف ته شینواری لیکلي وو. عجیبه خبره خو داده چې په قباله کې یې د یوه پلار دوو زامنو ( یوه ورور ته تاجک او بل ته مومند) لیکلي، قباله مې ښه وکتله ډېره پخوانۍ نه وه، د همغه مهال وه چې دري ژبو مرزایانو خلکو ته په شعوري او نا شعوري ډول په تذکرو کې د قومونو د اړولو لړۍ پیل کړې وه، ما امله وال ته وویل چې (...) دربان‌دې خبر نه شي چې پوټکی به دې وباسي، هغه ویل دا ټکه خو یوازې پر (...) نه ده رالوېدلې، ددې وطن پر زرګونو څه چې په لکونو خلکو رالوېدلې ده، زموږ د ډېرو خپلوانو همدا حال دی، دا انجنیر غني څومره شعوري او تکړه سړی دی، ته لاړ شه وګوره د هغه په تذکره کې هم تاجک لیکل شوي، ما ویل نه بابا!! ((امله وال ویل راځه شرط به وتړو)) امله وال زیاته کړه: ((انجنیر غني لا څه کوې دا څو نومیالي حاجیان صاحبان او داسې نور حاجیان صاحبان چې اوس ځانونه د ټولو پښه یانو مشران او لیډران ګڼي داسې اوازې او انګازې دي، چې د هغو په تذکرو

کې هم تاجک لیکل شوي، خو ما خپله شخصاً د هغوی تذکرې نه دي لیدلي او چک کول یې هم څه اسانه کار نه دی.)) ما ویل یه هکله امله واله زه دې والله پرځان شکي کړم هسې نه چې زما د پلار او نیکه په تذکره کې تاجک نه وي لیکل شوي. یو ځل باید زه خپل ځان هم چک کړم. لغمان کې خپل کور ته لاړم، زړه مې درب درب کاوه، دخپل پلار زاړه اسناد د دوبۍ، ایران او د حج سفر اسناد او پاسپورت مې پیدا کړل، په هېڅ ځای کې مې د قوم لپاره د تاجک کلمه ونه لیدله، خو بیا هم زړه مې پوره تسل ونه کړ، ما ویل هسې نه چې د (...) کانه درباندې وشي، د خپل نیکه (هدایت خان) د اسنادو د میندلو په لټه کې شوم، هېڅ پاڼه مې لاسته رانه وړه، له خپلې مور نه مې پوښتنه وکړه چې دنیکه مې کومه تذکره یا دهغه په نامه کوم اسناد پاتې که نه؟ هغې ویل: ((نه زویه نیکه دې ډېر پخوا مړشوی، ان هغه وخت چې پلار دې لا وړوکی هلک و، هغه وخت کې تذکرې مذکرې او نور شیان نه وو، عکس چا نه پېژانده.)) بیا مې زړه ولگېده.

دا خو په ختیزو ولایتونو کې دا حال و دا چې په لوگر و لویه پکتیا، غزني، لوی کندهار، هرات، بادغیس، بلخ، شمال ختیزو، مرکزي ولایتونو او خپله په کابل کې به څه تېر شوي وي ؟د ختیزو ولایتونو له دې څو بېلگو څخه یې پته لگي.

اوس دنړیوالې ټولنې په مالي ملاتړ د افغانستان د حکومت له خوا په هېواد کې عمومي سرشمېرنه پیل شوې، خو دا سرشمېرنه دومره مرموزه او پټه ده چې هېچا ته یې پته نه لگي او هېچا ته یې معیار معلوم نه دی، مطبوعات پرې هم چندان تبصرې نه کوي او دولت یې هم د پایلو په باب ولس ته معلومات نه ورکوي. ملگري ملتونه په دې لړۍ کې په مستقیم ډول گډون نه لري او نه یې چارې د هغوی له خوا سمبالېږي، ټول کار او

چار د احصايې د مامورينو په لاس کې دی او ددې سرشمېرنې پايله هم د احصايې د مامورينو په رښتينوالي او درغلۍ پورې تړلې ده، لکه څنګه چې مو په افغانستان کې د احصايې د مامورينو پر تېر چلند باندې لنډه رڼا واچوله، نو د تېرې تجربې له مخې ويلای شو، چې پر اوسنۍ سرشمېرنه هم د سرشمېرنې د مامورينو ليد لوری (نظر) او فکر پوره پوره اغېز لري، د مامورينو قومي، سيمه ييز او سياسي تړاو د احصايې پر رښتيني ثبت تاثير غورځوي.

د اوسنۍ احصايې اکثره لوړ رتبه مامورين د طالب نظام تر ړنګېدو وروسته مقرر شوي، د تقرر ددې پړاو اکثره اشخاص په يوه خاص تنظيم او ډلې پورې چې د دولت اکثره حساس پوستونه يې اشغال کړي، تړلي دي. دا ډول مامورين په شعوري ډلو هڅه کوي په احصائيه کې د خپلې سيمې او قوم خواته ډنډۍ وهي او کله چې د عمومي سرشمېرنې نتيجې اعلانېږي، نو دوی به ډېره ګټه کړې وي، په نړيواله ټولنه کې هم ځينې هېوادونه او ځينې خاصې سياسي ډلې او ډلګۍ دې سره مينه او لېوالتيا لري، چې په افغانستان کې عمومي سرشمېرنه په دقيق ډول تر سره نه شي، ځينو دا ډول کړيو په افغانستان کې دلړکيو د حقوقو شعار راپورته کړی او ځينو لا دا فرضيه هم وړاندې کړې چې په افغانستان کې هېڅ قوم اکثريت نه دی، ټول اکثريت دي يا په بله وينا ټول برابر دي، دا ډول کړۍ د کورنيو کړيو په مرسته غواړي، دې فرضيې ته عملي بڼه ورکړي او په افغانستان کې د اکثريت او اقليت واقعيت له منځه يوسي.

سره له دې چې په نورو هېوادونو کې سرشمېرنه د ټولنيزې پرمختيا، اقتصادي ښېرازۍ او د ژوند د نورو چارو د سمبالښت لپاره ترسره کېږي، خو په افغانستان کې د سرشمېرنې غټ ټکی همدا قومي ماهيت دی، چې په راتلونکي کې اکثره سياسي او اقتصادي امتيازونه ور پورې تړلي دي.

په هغو ولایتونو کې چې تراوسه په اصطلاح عمومي سرشمېرنه ترسره شوې، هغه د لاندې څو دلیلونو له مخې دقیقه نه ده.

۱- هر کلي ته د احصایې مامورین نه دي ورغلي.

۲- کوم کلي ته چې ورغلي هلته له ټولو خلکو څخه پوښتنه نه ده شوې.

۳- ځینو کلیو ته بېخي نه دي ورغلي، په احتمالي ډول یې احصائیه اخیستې.

٤- د احصایې هغو مامورینو چې په عملي ډول یې احصائیه اخیستې، هغوی اکثرو خپل فورمونه په پنسل ډک کړي، دا چې د کابل په مرکزي دفتر کې هغه پاڼې په قلم په بل شکل ډکې شوي، سپینې شوي، عوض شوي او ځینې حساس مسایل لکه قوم او ژبه په کې بدل شوي او که پر خپل ځای پاتې دي په دې باب هېڅ پته نه لګي.

٥- هغو ولایتونو کې چې احصائیه بشپړه شوې، د نویو ورغلیو مهاجرینو او داخلي بېځایه شویو سرشمېرنه به څنګه کېږي؟ که دوی د UNHCR ثبت شوي مهاجر په دې شمېرنه کې ورګډوي نو هغوی چې له UNHCR سره هېڅ ثبت نه دي، هغوی به څنګه کېږي؟

٦- ایا داسې کوم ارګان او تضمین شته چې که چېرې د احصایې مامورین د چا قومي او ژبني هویت بدل کړي، نو دا بدلون بېرته اصلاح شي او په ټولیز ډول د احصایې د مامورینو د درغلیو مخه ونیول شي؟

۷- څرنګه چې د احصایې اکثره مامورین دري ژبي دي، نو دوی چې هرې سیمې په تېره بیا پښتنو سیمو ته ځي نو څرنګه چې دوی په پښتو نه پوهېږي د سیمې له خلکو سره په دري خبرې کوي، هغوی چې ورسره په دري خبرې وکړي، نو دوی هغه ټوله سیمه په دري ژبو کې شمېري، د احصایې د مامورینو له خوا پر ډکې شوې فورمې باندې هېڅ کلیوال نه پوهېږي، چې ده ته یې په شمېر، قوم او ژبه کې څه لیکلي دي.

۸- اکثر مامورین له کابله راځي، د ولایتونو او ولسوالیو د احصایې مامورین په دې کار کې چندان ونډه نه لري، دوی له سیمې سره پوره بلد نه دي، هره هغه سیمه چې ددې مامورینو خوښه شي او د دوی لوکس ګاډی هلته ورتللی شي، هلته ورځي او له نورو سیمو سره سروکار نه لري.

۹- اکثرو ولایتونو کې لا پوره امن ټینګ نه دی، په دې ولایتونو کې داسې سیمې او ولسوالۍ هم شته چې د احصایې مامورین خو لا څه چې د دولت عادي مامورین هم نه شي ورتللای، دا په داسې حال کې ده چې د احصایې مرکزي دفتر اعلان کړی، چې په دې ولایتونو کې احصائیه بشپړه شوې ده، دا څنګه احصائیه ده له هوا څخه اخیستل کېږي که څنګه؟ د همدغو تشویشونو د رفع کولو لپاره د دولت له لومړۍ درجې واکمنو سره دوه ځله تماسونه ټینګ شول او دا ټولې اندېښنې ورته بیان شوې، خو تراوسه لا په دې اړه کومه پرېکړه نه ده شوې او دا لړۍ لا دوام لري. پوره باور دی هغه سرشمېرنه چې د درغلۍ له لارې ترسره شي په راتلونکي کې به د ټول هېواد په کچه سترې ستونزې او کړکېچونه رامنځته کړي، دلته به لومړی له غلطې احصایې څخه د څو احتمالي ستونزو یادونه وکړو او بیا به څو داسې ټکو ته د وړاندیز په ډول اشاره وکړو چې ددې ډول درغلیو مخه پرې نیول کېدی شي.

۱- له غلطې احصایې څخه به په هېواد کې یو لوی سیاسي کړکېچ رامنځته شي.

۲- اقتصادي پرمختیا او د پوهنې د ودې په برخه کې به هېواد کې د بېلابېلو سیمو او ولایتونو ترمنځ انډول له منځه لاړ شي.

۳- په عمومي انتخاباتو، ملي شورا (ولسي جرګه) او سیمه ییزو جرګو کې به سیاسي عدالت تامین نه شي، ځکه چې د ولسي جرګې د څوکیو شمېر به احتمالاً د نفوسو له مخې ترسره شي.

٤- د ټولنیز عدالت د تامین لاره به ډب شي.

٥- د بلې ربښتینې سرشمېرنې ضرورت به راوټوکوي، پر دویم ځل سرشمېرنه به بیا په لسگونو ملیونو ډالره لگښت وشي، که دا کار هم وشي، نو په مجموعي ډول به پر سرشمېرنو د خلکو باور له منځه لاړ شي.

٦- غلطه سرشمېرنه به د سیاسي او فرهنگي کړیو ترمنځ سخت بحثونه راوپاروي او دا کار به د قومي دښمنیو سبب شي.

٧- پر غلطه سرشمېرنه به ډېر زیات مالي لگښت وشي او نتیجه به یې هم منفي وي، ددې غلطۍ د اصلاح لپاره دوه برابره فکري او مالي لگښت ته اړتیا ده.

٨- د غلطې سرشمېرنې له مخې هغه امتیاز چې ځینو ډلو او سیمو ته ورکول کېږي، د هغو بېرته اخیستل د دښمنۍ معادل کار دی.

٩- غلطه سرشمېرنه کېدی شي د هېواد په اداري جوړښت کې د بدلانه سبب شي، ځکه ځینې سیمې او قومونه به د غلطې سرشمېرنې له مخې د زیاتو اداري واحدونو د جوړېدو غوښتنه وکړي.

١٠- په غلطه سرشمېرنه کې له قومي او مانیز پلوه له یو چا څخه سرغوڅېږي او پر بل باندې په مصنوعي ډول ایښودل کېږي، ناچل او مصنوعي سرونه د چلېدو وړ نه دي.

١١- په ټولیز ډول ناسمه سرشمېرنه په هېواد کې د لسگونو سیاسي، ټولنیزو او قومي ستونزو د ټوکېدو سبب کېدلای شي، چې د ټولو یادونه یې دلته ضرور نه گڼو.

د ناسمې سرشمېرنې د مخنیوي حل لاره:

١- تر ټولو دمخه باید په اوسنیو شرایطو کې سرشمېرنه بېخي ودرول شي.

۲- کله چې د جمهوري ریاست لپاره انتخابات ترسره شي او یو منتخب حکومت رامنځته شي، نو کېدی شي په هېواد کې ورسره سوله او ثبات هم ټینګ شي.

۳- د احصایې د ریاست په تشکیلاتي جوړښت کې دې پوره او چورلټ بدلون راشي، د هر قوم او هرې سیمې متناسبه استازي دې په کې تامین شي، چې هېچا ته د درغلۍ چانس برابر نه شي.

٤- په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې دې د احصایې دفترونه فعال، پرسونل دې مسلکي او پوره تخنیکي امکانات دې ورکړل شي.

٥- د مهاجرو بېرته راستنېدو ته دې انتظار وویستل شي.

٦- سرشمېرنه دې د ملګرو ملتونو او اسلامي کنفرانس او همدارنګه د یو شمېر ملي ګوندونو د استازو تر څارنې لاندې ترسره شي.

۷- تر هغه پورې چې دا ټول شرایط برابر شوي نه وي، په افغانستان کې احصائیه اخیستل په لوی لاس د ګڼو ستونزو د راپیداکولو په مانا ده او تر ګټې یې زیانونه څو ځله زیات دي دا سرشمېرنه نه، بلکې سر غوڅونه ده.

# راروانې ټاکنې غره توب، تدبیر او څو اټکلونه

**دا لیکنه ما د جمهوري ریاست تر عمومي ټولټاکنو دمخه کړې وه او گوربت مجلې پر (۱۳۸۵ل) کال د جمهوري ریاست ټولټاکنو د مخه چاپ کړه. هغه وړاندوینه چې په دې لیکنه کې شوې وه، دانتخاباتو د بهیر تر پایته رسېدو وروسته پر واقعیت بدل شو.**

د ژوندانه په ډېرو چارو کې خوش باوري یا غره توب په کار دی، خو په انتخاباتو او سیاست کې خوش باوري په کار نه ده، په تېره بیا په انتخاباتو کې، ځکه د انتخاباتو نتیجه یو انجام شوی عمل دی، چې بیا نه راگرځي. اکثره وخت هغه څوک ټاکنې بایلي چې پر ځان ډېر غره وي. د تدبیر پر ځای له تکبر او د هوش پر ځای له جوشه کار اخلي. هره رایه یې خپله گڼلې وي او خپل هر مخالف ته یې په نه سترگه کتلي وي. ټولې رایې یې د خپل ځان په گټه پوره محاسبه کړې وي او ضایعاتو ته یې هېڅ پام نه وي اړولای. پر هر چا یې باور کړی وي او د هر چا رایه یې خپله گڼلې وي. دا ډول خلک اکثره وخت په انتخاباتو کې ماتې خوري. وروسته بیا پر انتخاباتي کمیسیون، پر خپلو نږدې ملگرو، مخالفانو او اړوندو ادارو نیوکې کوي او په انتخاباتو کې د لاسوهنې او درغلۍ تور پورې کوي، خو هوښیار سیاستوال د وټونو دقیقه محاسبه کوي، ان د عرضې په

اندول د خپلې تقاضا کچه ټيټه ښيي. په انتخاباتو کې معمولاً درې ډوله رايې موجودې وي:

الف- پټې رايې: پټې رايې، هغو رايو ته وايي چې رايه اخېستونکي پرې سل په سلو کې باوري وي او رايه ورکوونکو هم ورسره په شفاهي يا ليکلي بڼه ژمنه کړې وي او يا ده ته په دويم يا درېيم لاس د هغو د رايې د ورکړې ډاډ ور رسېدلی وي. دا رايې د رايې اخيستونکي له نظره پټې دي، خو ايا د ټاکنو د متخصص او کارکوونکي له نظره هم پټې دي که نه؟ نه هېڅکله پټې نه دي. د ټاکنو د عملي کارکوونکو له نظره هغه رايې چې د پردې تر شا په پټه اچول کېږي، هغه هېڅکله هم پټې نه دي. په دې رايو کې د پنځوسو رايو داسې احتمال دی چې بلې خوا يا خواوو ته به ځي ځکه هغه رايه ورکوونکي چې له يوه رايه اخيستونکي سره د رايې ورکولو ژمنه کړې، له بل سره يې هم کړې، په تېره بيا په داسې حال کې چې د مالي ګټو او واک د ورکړې د امتياز خبره هم په کې مطرح وي، رايې ورکوونکي هم سل په سلو کې پر دې باوري وي چې د ده استعمال شوې رايې هم نه افشاء کېږي او رايه اخيستونکي ته هم هېڅ پته نه لګي، چې چا د چا په ګټه خپله رايه کارولې ده. په همدغو پټو رايو کې بيا په سلو کې د لسو رايو د غلط او ناسم استعمال اټکل هم شته، خصوصاً په وروسته پاتې ټولنو کې چې خلک نه پوره لوستوال دي او نه هم د انتخاباتو له پروسې سره اشنا دي. خلک په اسانۍ نه پوهېږي چې څنګه خپله رايه خپل مطلوب شخص ته واچوي، د انتخاباتو له تخنيکي امکاناتو، لکه وټ کارډ، د کانديد صندوق، وخت او عمل څخه په ښه ډول ګټه نه شي اخيستلای. يانې هغه کانديد چې سل په سلو کې يې خپلې رايې پټې ګڼلې، په واقعيت کې د هغه رايې په سلو کې ۳۰-۴۰ دي.

**ب – اټکلي یا احتمالي رایې:** دا هغه رایې دي چې په ولس کې شته خو کاندید یې په شخصي ډول له چا څخه ژمنه نه ده ترلاسه کړې، احتمالي رایې معمولاً د کاندیدانو د شمېر په تناسب وېشل کېږي. مثلاً په یوه سیمه کې څلور تنه کاندیدان دي، د اټکل له مخې یو کاندید کېدی شي له څلورو رایو څخه یوه رایه ترلاسه کړي، د احتمالي رایو اټکل هم احتمالي دی. هر څوک چې ددې احتمالي رایو پر بنسټ د رایو محاسبه د خپل ځان په ګټه کوي په حقیقت کې خپل ځان تېر باسي او کاندید له تدبیري امکاناتو لرې باسي.

**ج- مبهمې رایې:** ځینې رایې داسې هم وي چې نه یې شمېر معلوم وي او نه یې د چا په ګټه د استعمال احتمال، دا ډول رایې کېدی شي، بې تاثیره یا خنثی رایې وګڼل شي، خو نه سل په سلو کې بې اغېزې، خو د تاثیر څرنګوالي مشخصول یې ګران کار دی. په انتخاباتو کې د دوو نورو رایو په اندول ډېر رول نه لري. په انتخاباتو کې هغه کاندیدان همېشه بریمن دي، چې د رایو دقیقه محاسبه او د خپل ځان په ګټه د رایو ډېر ټیټ حد محاسبه کړي او د خوش باورۍ پرځای د رایو د زیاتولو پر عملي لارو چارو غور کوي، داسې لارې چارې لټوي چې د احتمالي او مبهمو رایو د راخپلولو سبب شي. اوس راځو دې ته چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست دا ګڼ شمېر کاندیدان څومره پخې، څومره احتمالي او څومره مبهمې رایې لري، د کاندیدانو د نفوذ او وټونو ساحې کومې کومې دي او هلته د وټونو احتمالي شمېر څومره دی؟

په افغانستان کې د جمهوري ریاست لپاره د دې دوه ویشتو کاندیدانو په جمله کې یې اکثره کاندیدان د شخصي عقدو، ځاني ګټو، د ځان د مطرح کولو او په اینده کې د امتیاز لپاره پر منتخب جمهور رئیس د فشار راوړلو او د ائتلافونو د جوړولو په نیت ولاړ دي. یوازې د ګوتو په شمار

کاندیدان شته چې په ولس کې له بېلابېلو لارو څخه یو څه رایې راخپلولای شي. ځینې داسې کاندیدان هم شته چې هغه ان د خپلې سیمې په کچه هم مطرح نه دي، پاتې خو لا د ټول افغانستان په کچه. له کرزي صیب څخه پرته چې په احتمالي ډول کولای شي د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه رایې راټولې کړي، نور اکثره کاندیدان یوازې د خپل ولایت او هغه قوم په دایره کې را ایسار دي، چې دوی ورپورې تړلي دي. د ډېرو کاندیدانو شتوالی یو لړ ښېګڼې او بدګڼې لري، چې دلته به ورته لږ شان اشاره وکړو:

۱- ښېګڼې: ښېګڼې یې دادي چې په هېواد کې به د ولسواکۍ تمثیل وکړي. که څه هم په هېواد کې اوسنۍ ولسواکۍ د برچې تر څوکې او د B۵۲ الوتکو تر وزرونو لاندې راټوکېدلې، خو بیا هم خلک د پخوا په انډول دا یو غنیمت ګڼي، اوسنۍ نړۍ د تصنع دنیا ده، هغوی هم که یو شی په حقیقي ډول نه وي، خو چې مقصد په تصنعي او تمثیلي ډول وړاندې شي، خصوصاً زموږ په شان یوې اختناق ځپلې ټولنه کې، دوی پرې اکتفا کوي. په هېواد کې به یو زیات شمېر سیاسي کدرونه د شهرت پوړۍ ته ورسېږي، پر ځان به باوري شي، ولس به د انتخاباتو له لارې د دېموکراسۍ تمرین وکړي، خلک به زړور او سرونه به یې خلاص شي او تر ټولو مهمه دا چې دې مظلوم ولس ته به خپل قدر معلوم شي، د یو زیات شمېر هغو کاندیدانو جیبونه به هم تش شي او پانګه به یې پر ولس تقسیم شي، چې غواړي د پیسو په زور رایې ترلاسه کړي. سیاستوال خصوصاً کاندیدان به دې ته اړ شي، چې د رایې ترلاسه کولو لپاره د ولس د عادي فرد درناوی هم وکړي او ځینې به لا دې ته هم اړ شي، چې د خپلو سیاسي مقاصدو د ترلاسه کولو لپاره ولس ته څه نا څه ټولنیز او ودانیز

خدمتونه هم ترسره کړي. د ډېرو کاندیدانو تر منځ به ولس ته هم ددې چانس زمینه برابره شي، چې تر ټولو غوره شخص ته رایه ورکړي.

**۲- بدګنې:** د ډېرو کاندیدانو د شتوالي بدګنې دا دي، چې انتخابات له تخنیکي پلوه ستونزمنوي، د صندوقونو زیاتوالی او یا هم په واحد ووټ کارډ کې د عکسونو زیاتوالی ددې سبب ګرځي، چې یو زیات شمېر خلک خپل ووټ په دقیق ډول استعمال نه کړای شي. په ووټ کارونه کې زیاته تېروتنه رامنځته کېږي. کله کله د کاندیدانو منفي رقابت خونړیو ټکرونو ته لاره برابروي او کله کله بیا کاندیدان د خپلو ځاني ګټو لپاره یو د بل پر ضد داسې ائتلافونه جوړوي، چې ملي ګټو ته زیان رسوي، کله کله داسې هم وي چې له ګټونکي سره د ائتلاف له لارې له هغه نه لوړ امتیاز ترلاسه کوي، په داسې حال کې چې په نورمالو شرایطو کې دوی هېڅکله د دې پوست لپاره وړ اشخاص نه دي. یانې په وروستۍ نتیجه کې منتخب حکومت بیا یو بل ډول ائتلافي شکل غوره کوي او ائتلافي حکومتونه ډېر کاواکه وي او همېشه د مصلحت او سازش پر ستنو ولاړ وي.

## اوس راځو په افغانستان کې د انتخاباتو احتمالي نتیجې

**ته:** که څه هم مخکې تر مخکې د ټاکنو د نتایجو ارزونه څه اسان کار نه دی او نه څوک په مطلق ډول حکم کولای شي چې دا شخص یا ډله به حتماً بری ترلاسه کوي، خو په انتخاباتو کې همېشه د (احتمال) پر بنسټ ارزونه کېږي او له بېلابېلو قرینو څخه سړی د نتیجې نسبي وړاندوینه کولای شي. د انتخاباتو نتیجه اساساً د سیاسي اکثریت له مخې ټاکل کېږي. د سیاسي اکثریت په ترلاسه کولو کې ډېر مسایل رول لري، لکه قومي، مذهبي اکثریت، هغو ته منسوب اشخاص او د کاندیدانو پراخه ستراتیژي، کدرونه، مالي امکانات، کورنی او بهرنی چاپېریال او نور. څوک یې مني که یې نه مني په افغانستان کې د اوسنیو انتخاباتو محور

(قومیت) دی. تاسې وګورئ د جمهوري ریاست هر کاندید دوو نورو قومونو ته منسوب اشخاص د مرستیال په توګه ټاکي، دا په دې مانا چې د هغه قوم رایې راخپلې کړي، نو که چېرې انتخابات د مسلک او سیاسي پوهې پر بنسټ وای، نو بیا دې ډول انتخاب ته اړتیا نه وه، اوس په دې کاندیدانو کې ګورو چې د چا د نفوذ ساحه پراخه ده؟

**لومړی- حامدکرزی:** د عیني واقعیتونو او د حامدکرزي د دوه نیم کلن عملي واک او سیاست د تجربې له مخې دی یو افغانستان شموله شخص دی، که څه هم پښتانه له ده څخه ګیلې مانې لري. د ده د واک پر وخت لږکیو ته ان تر خپل استحقاق زیات امتیاز ورکړل شو، هزاره او تاجک لږکیو ته ګڼ شمېر دولتي مقامونه او د دوو نویو ولایتونو امتیاز څه ساده خبره نه ده. دی کولای شي د دې دوو قومونو او نورو لږکیو نسبي ملاتړ ترلاسه کړي، د ده د دوو مرستیالانو ټاکنه هم پر دې برخه کې بې اغېزې نه ده. خو د کرزي د ووټونو اصلي ساحه پښتون مېشته ولایتونه دي. پښتانه به له ګیلو او مانو سره سره اکثره ځکه کرزي ته رایې ورکړي، چې په کاندیدانو کې د ده د جوګه بل پښتون کاندید نه شته، که چېرې د انتخاباتو کمیسیون په عادلانه ډول د کوچیانو او په پاکستان کې د افغان مهاجرو لپاره د راجسټر پروسه تضمین کړي، نو د کرزي د بریالیتوب احتمال په باور بدلېدلای شي. لنډه دا چې کرزی د افغانستان له هر قوم څخه یوه لازمه فیصدي رایې او د اکثریت پښتنو اکثریت رایې هم خپلولای شي. لنډه دا چې که انتخابات له تخنیکي پلوه واقعاً عادلانه وي او په ټول افغانستان کې رایې اچوونکو ته یو شان او اسانه شرایط مساعد وي، نو د کرزي د ګټلو احتمال زیات دی. خو که په پښتون مېشته ولایتونو کې د انتخاباتو لپاره ټول شرایط مساعد نه وي، د دې احتمال

شته چې کرزی د لومړي پړاو په انتخاباتو کې کامیاب نه شي او ټاکنې دویم پړاو ته ولوېږي.

**دویم- یونس قانوني:** د حامدکرزي د مخالفو کاندیدانو په جمله کې یونس قانوني تر نورو غښتلی دی. قانوني ښه ژبور او د سیاست په رموزونو پوه دی. دی د انتخاباتو لپاره پوره مالي امکانات لري، د نظار شورا او جمیعت تنظیم یوه غوښنه برخه یې ملاتړ کوي، له پوهنې وزارت څخه یې لامخکې تر مخکې یو سیاسي وزارت جوړ کړی او د خپلې ایډیا پلوي یو زیات شمېر اشخاص یې په حساسو پوستونو کې ځای پرځای کړي، دی هیله من دی چې دا کسان به په انتخاباتو کې د ده لاس قوي کړي. دغه راز د کورنیو چارو وزارت په اړوندو ارگانونو کې هم د ده په لاس مقرر شوي اشخاص لا پر خپل ځای دي. د تاجکانو په منځ کې په اوس وخت کې دی تر هر چا زیات محبوب دی. دغه ټول امتیازونه دی ددې جوگه کوي، چې د کرزي د مخالفو کاندیدانو په منځ کې قوي دریځ ترلاسه کړي، خو ایا دا ټول ددې لپاره کافي دي چې له کرزي څخه میدان وگټي؟ په څرگند ډول ویلای شو چې نه.

ښاغلی قانوني د پورتنیو برلاسیو تر څنگ یو زیات شمېر داسې نیمگړتیاوې هم لري، چې هغه د ناکامۍ کندې ته راکاږي: قانوني د جنگ د دورې محصول کدر دی چې نه ورسره د نړیوالې ټولنې دیموکراتیکه خوا موافقه ده او نه ورسره د افغان ولس اکثریت ؛ قانوني هغه شخص دی چې د کابل په تنظیمي جگړو کې یې د جمیعت او نظار شورا د یو جگ پوړي غړي په توگه فعاله ونډه اخیستې او که چېرې د کابل د ورانۍ حساب کتاب کېږي، نو قانوني هم له دغه قانوني حساب کتابه خلاصېدلای نه شي. د امریکایي پوځونو په مټ د طالبانو د سقوط پر مهال د جمیعت تنظیم د ملېشو له خوا د هېواد په شمال او نورو سیمو کې

یو زیات شمېر افغانان ځورول شوي، بې عزته شوي او جبراً مهاجرت ته اړ شوي دي. د دا ډول منفي هڅو سلسله هم قانوني او د جمیعت نورو مشرانو پورې تړل کېږي. په پوهنې وزارت کې هم د ده سیمه ییز او ژبنی تعصب څرګند و. د بېلګې په توګه د (معارف) جریده کې په سلو کې دوه برخې پښتو هم نه وه، د ده په وخت کې شپاړس نیم ملیونه ټوکه درسي کتابونه چاپ شول، چې له هغې جملې څخه یوازې څلور نیم ملیونه ټوکه په پښتو او نور ټول په دري ژبه وو او بس. له دې ټولو خبرو پرته د ښاغلي قانوني د ووټونو ساحه په لومړي ګام کې پنجشېر او نورې تاجک مېشته سیمې دي. د مسعودې جلال، عبدالحفیظ منصور، لطیف پدرام او ځینو نورو کاندیدانو د نفوذ ساحه هم تاجک مېشتې سیمې دي، سره له دې چې اټکل کېږي د دوی اکثره به د قانوني په ګټه تېر شي، خو که کوم یو تېر نه شي، نو بیا د قانوني پر رایو منفي تاثیر کولای شي.

دغه راز د احمدشاه مسعود د کورنۍ په استازیتوب احمدضیاء مسعود که له کرزي سره رښتیا هم ولاړ وي، نو په تاجک مېشتو سیمو کې د ښاغلي قانوني زیاتې رایې اوبه کولی شي. په پښتون مېشتې سیمو او د نورو لړکیو له سیمو څخه، د یاد وړ رایو په ترلاسه کولو کې د قانوني د بري اټکل کم دی.

خو دې ټولو بریاوو او نیمګړتیاوو سره سره قانوني تر بل هر کاندید زیات کرزي ته خطر دی، خصوصاً که انتخابات دویم پړاو ته ولوېږي او قانوني له دوستم او نورو لړه کیو سره ائتلاف وکړي، نو دا خوا نوره هم پیاوړې کېږي. د قانوني غټه اشتباه اوس داده چې د تاج محمد وردګ په شان یو شخص یې د ځان مرستیال وټاکه، وردګ نه یوازې په پښتون مېشته سیمو کې محبوبیت نه لري، بلکې ټول ورسره مخالف دي، قانوني که د تاج محمد وردګ پر ځای کوم با اعتباره پښتون مرستیال ټاکلی

وای، کولای یې شول یو زیات شمېر رایې راخپلې کړي، خو دې کې هم هېڅ شک نه شته چې هېڅ با اعتباره پښتون به قانوني سره دې معاملې ته حاضر نه شي.

دریم- جنرال عبدالرشید دوستم: د جنرال عبدالرشید دوستم د نفوذ ساحه یوازې ازبک لړکي دي، په هغو کې هم ډېر مخالفان لري، د ترکمنانو زیاته برخه یې هم مخالفه ده. د انتخاباتو له لارې د جنرال دوستم واکمني یو مهال کار دی، خو دوستم کولای شي نورو ډلو او اشخاصو سره د یوه ائتلاف له لارې هغه ډله نسبتاً غښتلې کړي، امتیاز هم ترلاسه کړي او خپل ځان په دې ډول په سیاست کې دخیل کړي.

څلورم- همایون شاه آصفي: همایون شاه آصفي د ملت بابا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سره خپلوي لري، که بابا پر همایون شاه آصفي د تایید لاس راکش کړي، نو ددې احتمال شته چې په پښتون مېشته سیمو کې یو څه یا ډېر شمېر رایې راخپلې او ښاغلي کرزي ته سخت زیان ورسوي، خو داسې اټکل کېږي چې د ملت بابا به د پخوا په شان د هېچا ملاتړ هم ونه کړي، که داسې وشي نو همایون شاه آصفي به د هغه تر خپل تصوره هم کښته رایې وګټي.

پینځم- سید اسحق ګیلاني: دې کې هېڅ شک نه شته چې د ګیلاني کورنۍ په زیاتو پښتون مېشته سیمو کې زیات محبوبیت او مریدان لري، خو دا محبوبیت تر ډېره کچه مذهبي دی نه سیاسي، خلک اوس تر ډېره حده دا تفکیک کولای شي چې مذهبي او سیاسي ارزښتونه سره بېل کړي. خو خپله سید اسحق ګیلاني د خپل مذهبي اغېز ترڅنګ په افغانستان کې خپل سیاسي نفوذ هم لري، خو دا دواړه اغېزې به یې هغه وخت لا زیاتې وای چې د ګیلاني کورنۍ په سیاست کې په یوه خوله وای. پیرسیداحمدګیلاني د کرزي د پلوۍ اعلان وکړ او دا کار د سید

اسحق ګیلاني د نفوذ ساحه ډېره راتنګوي نو په دې ډول سیداسحق ګیلاني د ډېرو رایو په ترلاسه کولو کې ازاد لاس نه لري، خو که سید اسحق ګیلاني هر څومره کمې رایې هم وګټي، د انتخاباتو په لومړي پړاو کې د دې ټول زیان حامد کرزي ته رسېږي.

د پورته یادو شویو غټو کاندیدانو ترڅنګ نور کاندیدان هم شته چې په افغانستان کې ډېر زیات نفوذ نه لري او د دې لیکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږو.

دا لیکنه په داسې وخت کې لیکل شوې، چې تراوسه لا ټول کاندیدان پر خپل دریځ ولاړ دي. د دې زیات اټکل دی چې د کاندیدانو شمېر تر دې راکم شي، یو له بل سره ائتلاف وکړي. د واک پر وېش معامله وکړي. نا اټکله پېښې رامنځته شي. انتخابات ټال شي، د کاندیدانو له جملې څخه څوک حذف شي او داسې نور ډېر اټکلونه چې هره ورځ یې امکان شته، خو تر دې دمه چې د کاندیدانو کوم جوړښت دی او پر هېواد کومه سیاسي فضا خوره ده او که دا فضا همداسې دوام ومومي، ددې ډېر زیات احتمال دی چې ښاغلی حامدکرزی به د جمهوري ریاست د ټاکنو ګټونکی وي.

# محمد گل خان مومند

## (د خوشال د دستار سړی)

دا لیکنه د هیلې مجلې د (۱۳۷٦ل) کال په (٤)مه گڼه کې خپره شوې ده.

لوی خان خوشال بابا په خپل مشهور اثر (دستارنامه) کې د یو ایډیال شخصیت، ټولنیز مشر او سیاستمدار لپاره ((شل هنرونه او شل خصلتونه)) ټاکلي دي. په دې شلو هنرونو او خصلتونو کې د ځان پېژندنې ، پوهې، شعر، سوداگرۍ، د نسب د څېړنې، د انځورگرۍ، د اولادونو د روزنې، د ښکار، د لیک او نور هنرونه او دمشورې، چوپتیا، نارینتوب، توکل، د عدل او انصاف، د ملک انتظام، د همت او نور خصلتونه شامل دي. د خوشال په نظر حمیده خصلتونه ډېر دي خو دا شل هنرونه او شل خصلتونه داسې دي لکه سترگې، چې د چا سواد وشي. نور هر کتاب په خپله لولي. دبابا په نظر که چېرې دا هنرونه په یوه شخص کې شته شي، نو (د دستار) د تړلو لایق گڼل کېدی شي، که نه هسې خو:

**چې دستار تړي هزار دي - د دستار سړي په شمار دي**

خوشال بابا د خپل ژوند په اوږدو کې د همداسې یو شخص په لټه کې و، خو هغه وخت لکه چې څوک د بابا د ایډیال او بشپړ شخصیت په تله پوره برابر نه شول، یوازې خپله خوشال بابا و، چې د انساني شخصیت دا پوړۍ یې وهلې وې.

وروسته بیا په پښتنو کې داسې شخصیتونه لکه میرویس نیکه(رح) او ستر احمد شاه بابا په پښتني ټاټوبي کې وټوکېدل چې نه یوازې د لوی خان

د مشرتابه د اصولو په تله برابر وو، بلکې ډېر هغه ارمانونه او هیلې چې د بابا په ژوند کې پوره نه شوې، هغه دوی پوره کړې.

په شلمه پېړۍ کې لوی څښتن تعالی پر پښتنو یو بل شخصیت چې د خوشال د ایډیالونو ممثل دی، ولوراوه، دا شخصیت محمد گل خان مومند دی، چې د خوشال د تورې او پښتونولۍ روح یې په اند، وینه او روح کې ځپې وهلې. دی یو څو گامه نور هم وړاندې لاړ او د هغه ستم ستونی یې ومروړه، چې پېړۍ پېړۍ یې زموږ ژبې ته زندۍ ور اچولې وه.

دی د خوشال غوندې هم تورزن و، هم یې پوهه لرله، هم شاعر و، هم ژبپوه و، هم ورته خپل اصل نسب معلوم و، هم د هېواد د نوي پښت پر ملي روزنه پوهېده، هم مېړنی و، هم یې د عدالت او انصاف تله په لاس کې وه، هم ډوډۍ مار و، هم یې پر خدای(ج) توکل و او هم د ملک د انتظام پر چارو پوهېده، دی نه یوازې د ځان په روحیاتي پېژندنه پوهېده، بلکې د خپل هېواد او قوم د قومي هویت او ځانگړتیاو د ساتنې او پالنې لپاره یې بې دریغه هلې ځلې هم کولې. ده ژبه د قوم پېژندنې اساسي لامل باله، نو ځکه یې په دې برخه کې داسې ستر کارونه وکړل،چې پښتانه یې تر عمره هېرولای نه شي، ده د وخت نا پښتو ژبي پښتانه واکمنان دې ته اړ کړل، چې د هېواد د ملي او رسمي ژبې په توگه د پښتو حقوق ومني، یو خوځنده ادبي بهیر یې جوړ کړ، چې د ژبې د پالنې او بډاینې لپاره یې اغېزمن کارونه وکړل، ان خبره یې تر دې را ورسوله چې پښتو ژبه له یو زر کلن ستم نه خلاصه او د نورو سیاله شي. ده د خپل ژوند تر وروستي بریده له پښتنو سره خپله دا مینه وپالـه او د ډېر سپین ږیر توب پر وخت او د ژوند په وروستیو کې یې هم، همدا ویل: " پښتو پښتو به وایم که وم وم که نه وم نه وم ". دی د همدې هیلې او

مبارزې په بهير کې سپين ږيری شو، بابا شو،خو پښتو يې ځوانه کړه ( ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم). دی بابا شو،خود پښتو بابا، ځکه يې نو اوس شعوري پښتانه د شلمې پېړۍ د ((پښتو بابا)) په نامه يادوي.

د يو ملي مشر لپاره د خوشال خان بابا د شلو خصلتونو په منځ کې يو هم د ملک د انتظام خصلت دی، د شلمې پېړۍ پښتو بابا د ملک په چارو، انتظام او سمبالښت کې تر هر چا زيات دقيق و، ده له نن څخه تقريباً شپږ لسيزې وړاندې د هغو زرگونو نيالگيو تر څنگ چې اوسپنيز افغان واکمن (امير عبدالرحمن خان) او ځينو نورو مشرانو له خوا د هېواد په هغو سيمو کې چې د پرديو له خوا ورته په راتلونکي کې خطرونه متوجه کېدی شول، نور زرگونه نيالگي کېنول او بيا يو وخت داسې هم راغی، چې شپېته کاله وروسته د بابا د لاس نيالگي ثمر او مېوې ته رسېدلي وو، لوی ښامار (شوروي اتحاد) له ډېرې پخوا، افغانستان ته سترگې نيولې وې، خو کله چې يې په ښکاره يرغل پيل کړ، نو ټول نيتونه يې رسوا شول، دوی لومړی د ټول افغانستان د نيولو خيال کړی و او د هندوکش غرونه يې خپله دفاعي کربښه گڼله. په همدې وجه روسانو د لس کلنې جگړې په ترڅ کې د جگړې زيات اورونه د افغانستان په شمال- ختيځ، جنوب، لويديځ او جنوب غرب سيمو کې بل کړي وو او ورو ورو يې په شمال کې د پښتنو د تضعيف او کمونې لپاره کار کاوه، ددې لپاره يې افغان ضد او ملي ضد عناصر هم وروزل،کله چې روسان په افغانستان کې پر خپلې ماتې باوري شول، نو خپل رول او نيت يې د ((اقليتونو حقوقو!)) تر شعار لاندې ځينو خاصو ډلو، ډلگيو او عناصرو ته وسپارل، هغوی هم د روسانو شعار او تبليغ او د هېواد د ټوټه کولو نيتونه څرگند کړل. خو ملي مفکرين او مشران پر د ې پوهېږي چې خپل هېواد څنگه له لرې او نږدې خطرونو وژغوري.

اوسپنيز واکمن امير عبدالرحمن خان او نور پر دې پوهېدل چې د روسانو د نيتونو سترګې خېرنې دي، نو ځکه يې د يو اوسپنيز مورچل په تو ګه له افغان قومونو يو دېوال جوړ کړ او په اکثرو هغو پوله ييزو سيمو کې چې له بهرنيو هېوادونو څخه خطر راولاړېدلای شو، ځای پر ځای کړل، پښتو بابا محمد ګل خان مومند د افغاني ټولنې د لا افغاني کولو لپاره د تېرو مشرانو هيلې لا پسې وغوړولې او افغان قومونه يې سره داسې واوبدل او واوډل چې اوس يې هېڅوک جلا کولای نه شي. په اوسني سياسي، پوځي بهير کې يو مطرح شخص په يوه خصوصي غونډه کې وويل: (( مونږ د شمال له پښتنو څخه ډېر خوشاله يو، ځکه دوی د هېواد د تجزيې مخه ونيوله)).

پښتو بابا نه يوازې د هېواد د جغرافيايي جوړښت په پام کې نيولو سره د قومي توازن د برابرولو په لار کې درنې کارنامې کړي، بلکې افغانان يې له ښاري ژوند او د سوداګرۍ له چارو سره هم ښه بلد کړي او کوم امکانات اوفکر چې هغه وخت د ده په واک کې وو، هغو ته يې ورکړي. د هېواد د اولادونو د روغې پالنې او روزنې په نيت يې هغوی ته په خپله ژبه ښوونځي جوړ کړل او په سلګونو نور علمي او ملي کارونه.

خوشال بابا همدغسې يو شخصيت د دستار لايق بولي چې خپلو خلکو او خپل هېواد ته همداسې ستر خدمتونه او سترې کارنامې وکړي، اوس له دې فاني نړۍ څخه د محمد ګل خان مومند د تګ ډېر کلونه کېږي، خو د هغه د کارنامو او لاس کېنولو نهالګيو مېوه او ثمر موږ، زموږ ژبې او زموږ هېواد ته رسېږي، نو لازمه ده چې دی د شلمې پېړۍ د پښتو بابا، ملي مفکر، غازي او د لوی خان خوشال بابا ايډيال شخصيت ( د دستار سړی) وبولو.

# د استاد رشاد سیاسي شخصیت

**دا لیکنه ما د مرحوم استاد اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د مړینې د څلوېښتې په درناوي کړې وه او بیا د استاد په یاد د مقالو په یوه راټوله شوې ټولگه کې چاپ شوې ده.**

کله چه موږ د پښتو اد بیادتو تاریخي بهیر او د افغاني ټولنې د ودې ا و تکامل بېلابېل پړاوونه گورو، نودلیکوالۍ او سیاستوالۍ او لیکوال او سیاستوال ترمنځ یو عجیب توازن او تناسب او یو پر بل باندي مقابل اغېزمو ترسترگو کېږي. امیر کروړ جهان پهلوان هم شاعر، لیکوال او سیاستوال و، پیر روښان هم لیکوال او سیاستوال و، ناز و انا او زرغونه انا هم لیکوالې او سیاستوالې وې، خوشال اود هغه ټوله کورنۍ لیکوال او سیاستوال وو. دمیرویس نیکه کورنۍهم دلیکوالۍ او سیاستوالۍ دا اصل پاللی، بي بي زینبې د یوې پخې شاعرې او سیاستوالې په توگه



لا تر اوسه د تاریخ حافظه تانده ساتلې ، احمد شاه بابا او د هغه کورنۍهم د سیاستوالۍ تر څنگ د شاعرۍ درنه پانگه لري، خپله احمد شاه بابا د دېوان خاوند و. لنډه داچې دا بهیر له امیرکروړه یا هم ان تر هغه دمخه

پیل شوی او دادی د پښتو معاصرو ادبیاتو په پیل سره لا هم نه تمېږي؛ سراج الاخبار جریدې کې اکثره خپاره شوي مطالب په هغولیکوالو پورې اړه نیسي چې هم لیکوال وو او هم سیاستوال، علامه محمود طرزي، عبدالهادي داوي، مولوي صالح محمد کندهاري او نور ټول، لیکوال او سیاستوال وو. په اماني دوره کې عبدالرحمن لودین او نورو د سیاستوالۍ او لیکوالۍ دا دود وغځوه او تر سقاوي اړو دوړ وروسته، محمد گل خان مومند د خوشال ددستار دسړي په شان د لیکوالۍ او سیاستوالۍ مزي لاپسې وپېیل او دسیاست په مټ یې پښتو ژبې او ادب ته داسې ستنې ودرولې چې تر هغه وروسته پرې زموږ د ملي ژبي اوادب ډېرې رنگینې ماڼۍ ودانې شوې، داعلیحضرت محمد ظاهر شاه په پېرکې بیا هم د لیکوالۍ او سیاستوالۍ مزي سره و نه شلیدل، د پښتو ادب پینځو ځلاندو ستورو دویښ زلمیانو د ملي سیاسي غورځنگ په جوړونه او پرمخبیونه کې اغېزمن رول ولوباوه او د ملي سیاسي افکارو په پنځونه او خورونه کې یې کارنده ونډه واخیسته.

استاد عبدالشکور رشاد هم دپښتو ادبیاتو د شپږم ستوري په توگه دویښ زلمیانو په ملي سیاسي غورځنگ کې د فعالې ونډې له امله همدا دود و پاله او دو لسواکۍ په لسیزه کې دملي مترقي دیموکرات گوند دنشراتي ارگان(مساوات) جریدې د امتیاز خاوند په توگه یې د عملي سیاست او لیکوالۍ ترمنځ اړیکي وساتل.

د پښتو د معاصرو ادبیاتو د ټول پېر په گډون ، له امیر کروړه رانیولې بیا تر ۱۳۵۲ تر ۱۳۵۷ کلونو پورې ټوله موده کې په عملي او نظري سیاست کې د لیکوالو گډون د ملي افکارو د خورونې ، د ملي ویاړونو د انځورونې او ملت جوړونې سبب شوي او پر یوه مستقیم خط یې همدغه ملي ارمانونه پاللي او تعقیب کړي دي.

یانې دا مهال سیاسي ملي وفادارۍ په اسانی سره د اختناق او امتیاز پر وړاندې خپل لوری نه بدلاوه.

ځکه نو که چا دا مهال سیاسي لیکوالي هم کړې، اکثره یې په ولس کې منښت او گرانښت لري. تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته چې په هېواد کې سیاسي بحران رامنځته شو، نو ورسره سم د سیاسي باور او سیاسي وفادارۍ د ادلون بدلون کړکېچ هم رامنځته شو . همدغه وخت سیاسي لیکوالۍ یا سیاستوالولیکوالو د اکثرو لیکنو تگلوری هم وخت پر وخت بدل شو .

همدا مهال د ولس پر ذهن د سیاسي لیکنو پر وړاندې د بې باورۍ فضا خوره شوه. د وخت غوښتنې، د نظامونو د اختناق او امتیاز فشارونو هم اکثراً مطرح لیکوال دې ته اړ وېستل، چې د یو او بل لوري په گټه لیکنې وکړي او هم ځان په مستقیم ډول له عملي پلوه د هغوی په لیکه کې ودروي.

خو استاد عبدالشکور رشاد د ویښ زلمیانو له پاخه ملي سیاسي تحریک څخه هغه پخه سټه وه چې دا مهال لا پر خپل ځای او خپل دریځ ولاړه وه. استاد نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې په کچه داسې یوه درنه علمي او اکاډیمیکه څېره وه، چې هر نظام ته د تائید سرخوځونه او اشاره یې هغه نظام ته د مشروعیت د ښنې مانا لرله. دا په داسې حال کې وه چې تر(۱۳۵۷ل) کال وروسته ټول نظامونه د مشروعیت له همداسې یو ستر چلینج سره مخامخ وو. خود هېڅ نظام واکمن پر دې بریالي نه شول چې د زور او زرو په مقابل کې د استاد له علمي او سیاسي وزن څخه د خپل نظام د مشروعیت لپاره گټه پورته کړي.هر نظام چې په کابل کې واکمن و، یو ځل یې ضرور مغرور مشرتابه د استاد د فقیر خانې ور ټکولای او په خپل نظام یې کې استاد ته د لوړ منصب دور کړې بلنه ورکړې.

خو هغه هېڅکله د امتیاز دې ډول خوړلنیو ته د خپل احساس سر ټیټ نه کړ. ان تر دې چې یو وخت استاد په علمي اواکاډیمیکو اداروکې د خپل پخواني ماموریت له دوام څخه هم ډډه وکړه او دکار دا ډول دوام یې هم دنظام مشروعیت او هغه ته د گټې رسونې په ما نا انگېره. یوه غوره بیلگه یې هم په شپېتمو کلونو کې د وخت د حکومت له خوا داکاډمیسین او کاندید اکاډمیسین علمي رتبو ورکړه وه، حکومت استاد لومړی علومو اکاډمی ته راوبوله، خو هغه دا بلنه ونه منله، بیایې ددې علمي رتبې لپاره دخپلو سوانحود ور لېږلو بلنه ورکړه، خواستاد بیاهم خپلې سوانح ور ونه لېږلې، نو د وخت حکومت مجبور شو، چې دهغه سوانح دهغه ماموریت له اسنادو څخه تر لاسه کړي او دا علمي رتبه کورته ورولېږي. دوخت حکومت دالورېینه د زړه له تله نه وه، د مجبوریت له مخې وه، ځکه چې دا مهال دټول هېواد په کچه تراستاد رشاد لوړه علمي سته نه وه، نو که حکومت استاد ته دا علمي پوړۍ نه وای ورکړې، نو تر هغه ټیټو کسانو ته د دا ډول علمي رتبوورکول په اتومات ډول خپل مشروعیت له لاسه ورکاوه.

دتنظیمي واکمنۍ پرمهال یو ځل بیا واکمنو داستاد احساس او ملي وزن دازموینې په تله کې واچوه، دامتیاز او اختناق له دواړو میتودونو څخه یې کار واخیست، خو استاد یې له خپل دریځه یوسانتي متر هم ونه خوځوه، همدا مهال، چې کابل په وینو او د اور په لمبو کې لمبول کېده، دملگرو ملتو او ځینو افغانانو له خوا به افغانستان ته دپخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهر شاه دبېرته راتگ یونیم غږ پورته کېده، اکثرو وسلوالوتنظیمونو په تېره بیا مغرورو بنسټپالو تنظیمونو به په یوه خوله دهغه دراتگ مخالفت کاوه، همدا مهال استاد دهمدې بنسټپالو ترټولو سرتمبه مشر ته یو لیك ولېږه او په هغه کې یې لیکلي وو، چې له اعلیحضرت سره

مخالفت نه ستا په گټه دی او نه دملت. داعلیحضرت په رد کې باید تاسو له ډېر تعقل څخه کارواخلئ، نه له احساساتي چلند څخه، استاد په دې لیك کې ددې تنظیمي مشر دمخالفت له امله اوږدو احتمالي ملي او قبیله یي جنگونو ته هم په پرده کې اشاره کړې وه، خو هغه وخت هغه تنظیمي مشر استاد په قبیله یي فکر او خولو کې ډوب وباله او ویې ویل چې ما فکر نه کاوه چې استاد رشاد به هم قومیت پالي. لس کاله وروسته بیا داسې وخت راغی، چې همدا بنسټپال دکابل هوایي ډگرته داعلیحضرت هر کلي لپاره ورغلل او بیا وروسته یې دهغه لپاره مجللې مېلمستیاوې هم وکړې. خو استاد بیا په دې هرکلي او مېلمستیاوو کې گډون ونه کړ. ترتنظیمي اختناق او اړو دوړ وروسته دیوه بل اختناق لړۍ پیل شوه، دطالبانو نظام پرکابل او دهېواد په زیاتو سیمو واکمن شو، دهېواد دملایي اوتحصیل کړي قشر ترمنځ یو غټ درز او تضاد رامنځته شو، هېڅ داسې څرك او څراغ نه لیدل کېده، چې له دې درز څخه هېواد ته دراپیدا کېدونکي خطر دمخنیوي لپاره هڅې وکړي او د طالبانو داغزن چاپېریال او چلند په مهارولو او کنټرول کې مرستندوی او دهغوی د فشار دکمولو سبب شي. طالبانو دا مهال دهېواد ټول روشنفکره او تحصیل کړی پاړ کی دنابودۍ له گواښ سره مخامخ کړی و، استاد په ډېر دقت سره ددې خطر مخنیوي ته راودانگل او د افغانستان په علومو اکاډمۍ کې یې دپخواني ماموریت د بیا ژوندي کولو له لارې وغوښتل د طالبانو او روشنفکره قشر ترمنځ دیوه پله حیثیت غوره کړي، استاد ددې ملي خطر دکمولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، خو کله چې یې ولیدل باران پر کاڼوباندې اثر نه کوي او طالبانو دخپل سپوره منطق له اسه نه کوزېږي، نو خپله لاره یې بېله کړه، طالبانوته داستاد ملي دریځ هغه وخت لاښه پسې څرگند شو، چې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې، دیو جوړ شوي سیمینار په ترخ کې، دیو

اغزن طالب چاروا کي له خوا دویښ زلمیانو په غورځنګ کې دګډون له امله پر استاد دګناه پېټی بار شو، خو استاد دهغه بحث په ترخ کې په ډېر افتخار او جرئت سره ورته وویل: "هو! زه ویښ زلمی وم، ویښ زلمی یم او ویښ زلمی به یم" دې خبرې سره دسیمینار طالب او ناطالب برخوال هك حیران شول او استاد له سیمیناره دکور پر لوري رهي شو. اوس چې د طالبانو د وهم او اختناق ښاماروژل شوی، کېدی شي ځینو خلکو ته دایوه معمولي خبره ښکاره شي، خو هغه چا چې دطالبانو په اغزنې واکمنی کې شپې ورځې تېرې کړي، هغوی ته داستاد دا حرکت دسیاسي او اخلاقي جرئت یوه شهکاره بېلګه ده.

کله چې دطالبانو مشر په هېواد کې دیو ستر فرهنګي جرم دسرته رسونې (دبامیانو دتاریخي بتانو دماتولو) فیصله وکړه، نو استاد په همغو شپو ورځو کې دطالبانو مشر ملا محمد عمر ته یو لیك ولېږه، په لیك کې په واضح ډول او په ټینګه غوښتنه شوې وه چې ددې تاریخي اثارو ړنګونه افغانستان ته یو نه جبرانېدونکی زیان دی او خپله طالبانو ته یې هم عواقب ښه نه دي. یو زورور واکمن ته دقدرت داوج پرمهال د دا ډول څرګند لیك لېږل، یوازې داستاد رشاد غوندې دپخې ارادې خاوند کولای شي او بس.

کله چې طالبان د قدرت له نیلي راوغورځول شول او یو ځل بیا یې زړو ازمایل شویو ځای ونیو، نو یو ځل بیا د استاد رشاد جونګړې ته دکورنیو او بهرنیو واکمنو بهیر ورمات شو. تر دې وروسته دلنډ مهالې ادارې له مشر نه نیولې بیا تر دویم او دریم لاس چارواکو ټولو له استاد څخه په دولت کې دګډون هیله وکړه، خو استاد بیا هم د قناعت پرتخت ناست و، څوکۍ او مقامونه ورته د بادبښکې ښکارېدل، همدا مهال دملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخداربراهیمي هم د استاد کورته، په حکومت او

روانه سیاسي پروسه کې، دهغه دګډون لپاره، هغه ته ځانګړې مراجعه وکړه، خو استاد دلخدار براهیمي بلنه ونه منله. دا د استاد دعملي سیاسي شخصیت څو بېلګې وې، چې په لنډېز سره ورته اشاره شوه، په نظري سیاست کې دهغه په بېلابېلو لیکنو خصوصاً په شعرونو کې دهغه د شخصیت انځور په ډېر ښه ډول لیدلای شو، که په عملي او نظري سیاست کې داستاد د برخې اخیستنې ټولې بېلګې موږ په دقت سره له نظره تېرې کړو، نو په څرګند ډول به راته جوته شي، چې استاد د خپلې لیکوالۍ یا فکري بلوغ له پیله بیا تر ابدي سفر پورې یو مستقیم ملي سیاسي خط تعقیب کړی او هېڅکله هم اختناق او امتیاز پردې نه دی برياللی شوی، چې دی له خپل ملي، هوډ، دریځ او لارې واړوي، او یا یې هم په سیاست کې پر منحني او منکسرې کربښې تګ ته مجبور کړي، دسیاسي شخصیتونو په ارزونه کې د زمان او مکان حالات، داختناق او امتیاز د فشار دوه غټ فکټورونه ډېر مهم دي، هر سیاسي یا فرهنګي شخص چې دوخت له حالاتو سره پر وخت مبارزه کړې، داختناق او امتیاز د فشار له دواړو حالاتو څخه بریمن راووځي، نو دا ډول شخصیتونه مثبت ګڼل کېږي او دعامه منښت او ګرانښت جوګه ګرځي او ان دروحانیت مرتبې ته رسېږي. زما په نظر استاد رشاد له سیاسې پلوه همداسې یو شخصیت و.

# د ښځو حقوق شعار دی که ضرورت؟

دا لیکنه د ناهید مجلې په لومړۍ ګڼه کې چې د (۱۳۸۱ل) کال لـه (زمري-تلې) سره سمون خوري، چاپ شوې ده.

په افغانستان کې داسې یو دود چې شعارونه یو ډول وي او عملونه بل ډول، نیتونه صفا وي، خو تدبیرونه کمزوري او نیمګړي، وینا خوږه وي خو عمل تریخ، لباسونه سپین وي خو زړونه او فکرونه تور او تیاره، داسې ډېر کم خلک او کمې سیاسي ډلې لیدل شوي، چې شعار او وینا یې له عمل سره سمون خوري، له همدې کبله اوس شعارونو خپل ارزښت له لاسه ورکړی او خلکو ته سترږیا پېښوي، پر سیاسي ډلو هم د خلکو باور کمزوری شوی، د خاین او خدمتګار مفاهیم هم کله کله یو د بل پرځای کارېږي. د اعتماد او باور په دغسې یو بحراني حالت کې که څوک ډېر ښکلي او شفاف (راڼه) شعارونه هم ورکړي او د عملي کولو لپاره یې هم د زړه له تله هڅه و هاند وکړي، نو بیا به هم د ډېرو خلکو باور ځکه راخپل نه کړای شي، چې تر دې دمخه د شعار او عمل د انطباق څېره رڼه نه ده تېره شوې. ((د ښځو حقوق)) اوس په افغانستان کې همدغسې یوه موضع ده. ښځې په افغانستان کې له کلونو څه چې له پېړیو راهیسې له خپلو اکثرو حقوقو څخه بې برخې وې او د طالبانو په واکمنۍ کې خو بیا د ښځو پر حقوقو داسې چاړه راکاږل شوه، چې هېڅ څانګې یې خپل سر نه شو پورته کولای، ددغه کرکجن او تاوجن اختناق تر ختمېدو وروسته یو دم د ښځو د حقوقو مسئله دومره ګرمه شوه، چې اوس د ښځو څه چې ان د جهادي ملایانو په خوله کې هم د ښځو د حقوقو مسئله اوري را اوري، روښنفکران او دیموکراتان خو لا پرځای پرېږده، هغوی خو وایي چې دا

خو زمونږ د مبارزې اساسي برخه ده، د طالبواکۍ تر ړنګېدو وروسته په هېواد کې یوه تر ټولو ګرمه مسئله همدا د ښځو د حقوقو موضوع ده، اوس د ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو او دفاع لپاره نه یوازې خپلواکې ټولنې جوړې شوي، بلکې ځینې انجیوګانې هم په دې برخه کې د شعار او عمل تر بریده کار کوي او دولت هم د ښځو د چارو لپاره یو ځانګړی وزارت جوړ کړی دی.

دا طبیعي خبره ده چې شعارونه ډېر شي، عملونه کمېږي، اوس یو ځل بیا د ازمون وخت رارسېدلی دی، اوس به معلومېږي هغه ټولنې، دولتي او نا دولتي موسسې چې د ښځو د حقوقو شعارونه پورته کوي عملاً یې د ښځو د ژوندانه د ښه والي لپاره څه کړي او څه کوي؟

ایا یو ځل بیا خو به تېره تجربه نه تکرارېږي، چې عملونه تر شعارونو قربان شي او یو ځل بیا د بې باورۍ فضا رامنځته شي.

دې کې هېڅ شک نه شته چې ښځه د ټولنې نیم بدن دی، هر کله چې په ټولنیز، سیاسي او عملي ډګر کې د ښځو فعال ګډون محسوس نه وي، نو دا ددې مانا لري چې نیمه ټولنه فلج او له فعالیته غورځېدلې ده.

ښځې له نارینه سره برابر حقوق لري او دواړه باید له خپلو ټولو حقوقو برخمن شي، که یو نارینه د ژوند، زده کړې او د بیان له ازادۍ څخه برخمن وي او د ټولنې د یو متمدن انسان په توګه وده وکړي، نو هغه هېڅکله د ښځو د حقوقو مخالفت نه کوي، که څوک غواړي په افغاني ټولنه کې په اسانۍ سره ښځې له خپلو حقوقو برخمنې کړي، نو ښه لاره یې داده چې د نارینه او ښځو حقوقو ته د وخت او ځای له پلوه په موازي ډول کار وکړي، ځکه که یوه خوا هم له خپلو حقوقو بې برخې

شي، پر بله خوا ناوړه اغېز کوي، اوس په ټولیز ډول د ټولو افغانانو او په تېره بیا د ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره د پخوا په اندول ډېر ښه شرایط برابر شوي، له دې حالاتو څخه باید ښه عملي او مثمره ګټه پورته شي.

د ښځو د حقوقو ترلاسه کول په واقعیت کې د ټولنې یو ستر ضرورت دی، دا اړتیا باید پوره شي او افغان مېرمنې له خپلو ټولو حقوقو څخه برخمنې شي، خو دې ټکي ته مو باید ژور پام وي، هسې نه چې ښځې په دې شعارونو کې ښکېل ورکې شي، یو ځل بیا تېرې تجربې تکرار شي او بیا هم په ټولنه کې د بې باورۍ فضا رامنځته شي.

# تهران په کابل کې

**دا ليکنه د طالبانو تر ړنګېدو وروسته په افغانستان کې د ايران زيات واک وځواک په باب د اندېښنې په توګه ليکل شوې وه، په هوسۍ او ښکلا مجلو کې چاپ شوې هم ده او دادی دلته يې يوځل بيا قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوو:**

هسې خو له پېړيو او په تېره بيا له لسګونو کلونو راهيسې پر افغانستان د ايران کلتوري تاثيرات موجود و، خو په کابل کې د اسلامي جمعيت او پر ځينو برخو د وحدت ګوند د نيمواکه واکمنيو په بهير کې دا تاثيرات لا پسې جوت او څرګند شول، د اسلامي جمعيت مشر خو په ايران کې افغانستان او ايران يو ژبي هېوادونه وګڼل او له ايران څخه يې د زيات فرهنګي او ژبني اغېز شيندني هيله وکړه، د وحدت ګوند بنسټ خو هسې هم په ايران کې ايښودل شوی، ريښې يې هم له هماغه ځايه خړوبېدلې او خړوبېږي، ځکه خو يې تر هرڅا زيات ځان د امام خميني د خط پيروان ګڼل او ايران پالنه يې خپله اصلي دنده شمېرله، د ايران فرهنګي، ژبني، مذهبي، اقتصادي او سياسي تاثيرات هغه وخت لا پسې زيات شول چې د طالبانو حکومت د امريکايي پوځونو په لاسو ړنګ او واك يو ځل بيا اسلامي جمعيت، ملي اسلامي جنبش او اسلامي وحدت ګوند، چې درېو واړو ته د ايران مرستو د نوش دارو حيثيت درلود، لاسته ورغی. لکه څنګه چې د افغان_شوروي په جګړه کې د جګړې درووند زيان شوروي اتحاد او په خپله افغانستان وزغمه، خو امتياز يې نورو هېوادونو په تېره بيا پاکستان واخيست. دغسې د طالبانو د سقوط بار د امريکا متحده ايالاتو او نورو

هېوادونو اوچت کړ، خو ګټه په کې تر هرچا زیاته ایران وکړه. د اسلامي جمیعت او وحدت ګوندونو ځواکونه چې کابل ته د طالبانو تر سقوط وروسته سم لاسي داخل شوي وو، د حکومت اکثره حساسي، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او تخنیکي څوکۍ یې اشغال کړې، آن د هېواد نږدې اکثره بهرني روابط او استازۍ هم د ایران پلوه ډلو تر کنټرول لاندې راغلل. د هېواد په غرب کې داسې ایران پلوه اشخاص یو ځل بیا واکمن شول، چې کلونه کلونه پرې ایران خپله پانګه لګولې وه، ایران په افغانستان کې د حکومت له دغه حالت نه د خپلو ملي او سیاسي ګټو لپاره اعظمي ګټه پورته کړه او په لسګونو ډوله قراردادونه یې له افغاني اړخ سره لاسلیك کړل، دا قراردادونه خصوصاً د فرهنګي ((همکارۍ)) قراردادونه داسې وو، چې د ایران په ګټه او په مجموع کې د افغانستان په زیان تمامېدلای شول.

ایران تر دې حده د افغانستان په کورنیو او ملي چارو کي دخیل شو چې د اسلامي جمیعت طرحه شوی سرود چې په افغانستان کې اوس په وچ زور د ((ملي سرود)) په نامه غږېږي، په ایران کې کمپوز شوی او موزیکال شوی دی. په فارسي ژبه د افغانستان په ملي سرود کي د ایران خاصه لېوالتیا ده، کله چې حامد کرزي ته د کورنیو چارو په وزارت کې د احمدشاه مسعود د لوی عکس تر چتر لاندې د قدرت د انتقال مراسم ترسره کېدل، نو د جمیعت سرود ته د احترام په خاطر ټول ګډونوال پورته کړای شول، د ایران د بهرنیو چارو وزیر هم د دې غونډې یو واکمن مېلمه او یو ویناوال و، ده د خپلو خبرو په ترڅ کې د دې سرود ډېر توصیف وکړ او ویې ویل چې دی یې تر ډېر تاثیر لاندې راووست، کله چې حامد کرزي ته واك ولېږدول شو، نو داسې تصور کېده چې د ایران واك او اغېز به د حکومت په دننه کي ورو ورو راکم شي، نه یوازې داسي و

نه شول، بلکې خبره نوره هم بدتره شوه، ایران د خپل اغېز مزي نور هم وغځول او داسي وخت هم راغی چې کرزي صیب د شېخ محمدآصف محسني پر وړاندیز او غوښتنه د کابل حبیبیې لېسې ته مخامخ یوه ساحه د یو لوی فرهنګي او علمي مرکز جوړېدو لپاره د ایران په واك کې ورکړه.

عجیبه خبره دا ده چې دا ساحه د خوشال بابا د لېسې ملکیت و، یانې لیلیه وه چې کلونه ترې افغانانو ګټه پورته کړې، پرته له دې چې د چا ملکیت او حقوقو ته پام وشي او یا هغه معوضه شي دا ملکیت د ایران پلوه ډلو په واك کي ورکړل شو، اوس ایران په دې سیمه کي د یو لوی کمپلیکس د جوړولو کار بشپړ کړی دی او په نږدې راتلونکي کې به د ګټي اخیستنې لپاره تیار شي.

دا به په افغانستان کي د شیعه ییزم د پراختیا او د مذهب تر پردې لاندې د ایران د پراختیا غوښتنې یو اساسي مرکز وي، چې هر کال به په سلګونو تنه د مشخصې مذهبي زدکړې تر څنګ د ټاکلې موخې په پام کي نیولو سره سیاسي زدکړي محصلین روزي، دا کار به په افغانستان کې نه یوازې قومي ستونزې راولاړې کړي، بلکې د مذهبونو ترمنځ به د ټکر یوه اساسي وسیله هم شي، د دې پر ځای چې د مذهبونو ترمنځ تفاهم او پوهاوی رامنځته شي او د اختلاف وړ ټکي په مذاکره او مناظره حل شي، اختلافات به نور هم ژور شي او بیا به ورو ورو فزیکي ټکر ته لاره اواره کړي، دا نه کنترولېدونکې احتمالي پېښې په داسې حالاتو کې رامنځته کېږي چې د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د حنفي مذهب او جعفري مذهب دواړو د رسمیت خبره هم په ابهام کي تېره شوې ده. په افغانستان کي د حنفي مذهب ژورې او عصري زدکړې نه شته او که څه هم دي، نو هغه په کلیوالو نا رسمي مدرسو کې له دودیزو کلتوري او

فتاوي مسایلو سره د امتزاج له مخې ترسره کېږي، چې د پاخه منطق ستنې نه لري. په هند، پاکستان او ځینې نورو اسلامي هېوادونو کې چې د احنافو مدرسې او پوهنتونونه دي، هغو ټولو ته د سني مذهبه افغان طالبانو لاس رسی نه شته، یوازې د پاکستان د احنافو په مدرسو کي افغان طالبانو ته د زدکړې یو څه نا څه امکانات شته، چې هغه هم په منظم او سیستماتیك ډول نه دي او له کوم ځنډ او خنډ پرته یې ځوک تر پایه پورې نه شي تعقیبولای. د افغانانو لپاره د پاکستان په دیني مدرسو کي یوه بله ستونزه هم شته او هغه دا چې هلته مذهبي زدکړي څه نا څه د داسې سیاسي اغېزو تر سیوري لاندې دي چې همېشه یې د افغانستان ملي ګټې زیانمنې کړي دي. نو که هلته ځوك مذهبي زدکړې ترسره هم کړي، له سیاسي پلوه د افغانستان د ملي ګټو د زیان په بیه تمامېږي. بله خوا چا چې د ایران په دیني مدارسو کي زدکړې کړي، هغه د شیعه ییزم تر څنګ د ایران پالنې روحیه هم پالي. اوس چې د ایران سیاسي لاسونه د هېواد تر زړه (کابل) پورې غځېدلي، نو په افغانستان کي د ایران پالنې او ایران خوښونې روحیه نوره هم پیاوړې کېږي. د ایران د سیاسي مذهبي اغېز ترڅنګ د هغوی بله اساسي جبهه هماغه ژبنۍ او فرهنګي هغه ده، چې د اوسني حکومت په دننه کې د واکمنو فرهنګي او سیاسي چارواکو په ملګرتیا پر مخ بیول کېږي، ځیني ازادې ملت ضد خپرونې چې له بهرنیو سرچینو څخه خړوبېږي، هم په دې بهیر کې د ایران پالنې روحیه تعقیبوي. د ایران په لمسه په خپله د دولتي او نا دولتي خپرونو له خوا د افغانستان پر دودیزې ملي ترمینالوژۍ (اصطلاحاتو) څرګند یرغل، خپله د افغانستان له اساسي قانون سره ډاګیز مخالفت دی. کله چې ځوك

د افغانستان دولتي ټلویزیون، افغان ټلویزیون، طلوع، آیینه ټلویزیون او نور ګوري، نو د ګڼو ایراني اصطلاحاتو په کارولو سره فکر کوي، چې دا د ایران محلي ټلویزیوني چینلونه دي. عجیبه ده داسې شپه هم راغلې چې له دې یادو څلورو ټلویزیوني خپرونو څخه یو وخت څلور بېلا بېل ایراني فلمونه خپاره شوي، نو هلته له خلکو سره دا پوښتنه پیدا کېدله چې دا ټلویزیونونه لکه چې ایرانیانو ټېکه کړي که څنګه؟ د افغانستان د اطلاعات او کلتور وزارت خو له خپل نامه څخه نیولې بیا تر خپلو امکاناتو پورې تر زیاته بریده په خپل قدرت، د ایران پالنې په چوپړ کې دی او د دې وزارت وزیر ښاغلي سید مخدوم رهین خو ان د افغانستان له ملي ترمینالوژۍ څخه هم منکر دی او ویل یې: ((موږ اصلاً ملي ترمینالوژي نه لرو)). ایران په داسې حال کې چې په افغانستان کې د کلتوري، مذهبي او سیاسي یرغلونو له لارې زیاتې بریاوې ترلاسه کړي، په اقتصادي برخه کې هم تر هر چا دمخه دی. افغانستان د ایراني شیانو، نفتو او نورو تولیداتو لپاره تر ټولو ښه مارکیټ دی او په دې برخه کې نږدې دی چې له پاکستان او چین څخه د افغانستان اقتصادي بازار خپل کړي. ایران نه یوازې د پاکستان په انډول د نسبتاً ښو شیانو د تولید له لارې د افغاني بازارونو د را خپلولو په حال کې دی، بلکې د حکومت په داخل کې د سیاسي نفوذ له لارې یې هم د دې زمینه ځان ته برابره کړې، چې ډېر اقتصادي قراردادونه د ځان په ګټه را خپل کړي. هوټلونه جوړ کړي، هوايي شرکتونه پرانیزي او د لوړ پوړو ودانیو د جوړولو قراردادونه وکړي. ایران په مجموعي ډول په افغانستان کې د لویو اقتصادي تاسیساتو د جوړونې مخالف دی، چې له هغې جملې له ترکمنستان څخه د افغانستان

له لارې پاکستان او بيا نورو هېوادونو ته د غازو او تېلو نلليکې غځول دي، ايران غواړي دا نلليکه د ايران له لارې تېره شي او اقتصادي ګټه يې ايران ته پاتې شي، په همدې وجه په افغانستان کې د مشخصو سياسي اتنيکي او پوځي ډلو ټپلو د تقويې له لارې د افغانستان سياسي وضعه بې ثباته ساتي. لنډه دا چې اوس ايران د افغانستان په چارو کي په هر اړخيز ډول دخيل دی او که د خلاصون يوه دقيقه لاره يې و نه لټول شي، نو د روسيې او پاکستان په شان به د افغانستان د تباهۍ سبب شي. د افغانستان دولت ته په کار ده مخکې تر دې چې خبره د بحران حد ته ورسېږي د ايران د مذهبي، کلتوري، سياسي او اقتصادي اغېز د کمولو لپاره يو دفاعي سيستم او حل لاره ولټوي او بيا هغه عملي کړي.


د سمون په لټه
(د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه)
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۴ لمریز کال

# د سمون په لټه

## (د سياسي او ټولنيزو ليکنو ټولگه)

محمد اسمعيل يون

۱۳۹۴ل کال




# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د سمون په لټه

لیکـــــوال: محمد اسمعیل یون

خـپرونـدی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنگي څانگه

وېـــبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: ضیاء الرحمن ضیاء

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چــاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چــاپـکـــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریک د خپرونو لړ: (۹۸)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۳)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸) مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

# د مظلوم اکثریت چغه

د ولسواکۍ له ټولو ستونزو سره سره، د هغې یو لوی ارزښت د بیان د ازادۍ ارزښت دی. دافغانستان د اساسي قانون پر اساس هر افغان د بیان حق لري، د پخواني ولسمشر (حامد کرزي) د حکومتولۍ د دورې تر ټولو ستره لاسته راوړنه د بیان د ازادۍ ساتل و. پــه دې مانــا چــې رسنیو ( چاپي، غږیزو او تصویري) ټولو تر یو حده د بیــان د ازادۍ لــه برکته، له سانسوره پرته د ولس د غږ د پورته کولو وړتیا پیداکړه.

د بیان د خپلواکۍ په برخه کې له ځینو بریاوو سره سره پــه هېــواد کې د اوږده سیاسي اختناق، په واقعي بڼه د ولسواکۍ نه عملي کېــدل او په پای کې د ملي مصلحتونو تر نامه لاندې د ملي خیانت د دسیســو برلاسی او داسې نورې ستونزې ددې سبب شوې چې لا هم ډېر مسایل د رسنیو له انعکاس او شخوند څخه پټ پاتې شي. که قدرمن او ویاړلي استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون صیب ورته ژ ور پام نه وای کړی، نو د خاموش اکثریت په زړه کې به ډېرې ناویلې خبرې همداسې پټې پاتې شوې وای.

استاد یون د تنظیمونو او طالبانو په دورو کې د ګڼو داسې مســایلو په باب چې د ولس درد او فریاد و، خو چا یې د اوچتولو جرئت نــه شــو کولای، په اخلاقي جرئت لاس پورې کړ او د هغوی فریاد یې د یوه ملي رسالت په توګه پورته کړ. تر هغه وروسته په تېره څه دپاسه یوه لسیزه کې استاد یون په لسګونو مقالې، مرکې او ویناوې په همدې پار ترســره کړې چې د مظلوم اکثریت غږ نړیوالو ورسوي.

قدرمن استاد د وهم چوپتیا ماته او د حق چیغه یې پورتــه کــړه او دادی نن له همدې شور او ځوږ ځخه د را پورته شویو مقالو یوه ښکلې ټولګه تاسو قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوي. ددې ټولګې ( د ســمون په لټه) ارزښت په دې کې دی، چې ګڼې داسې لیکنې په کې ځای پــر ځای شوي چې له تخنیکي او علمي پلوه به په راتلونکې کې هم د ورته غلطیو د سم سمکي او د نــورو غلطیــو د مخنیــوي لپــاره تــرې کــار واخیستل شي. ګڼو محصلینو ته به د تحقیق او شننې لپاره مواد برابر کړي او ګڼو مضرو احتیاط کارو ته به پر خولې سوک شــي چــې کــه د ولس غږ نه غبرګوي، دوی به هم له معقول غبرګون سره هرو مرو مخا مخ شي.

د ټاکنو ( ولسمشرۍ او ولسي جرګې ) په اړه پــه کــې ګــڼ شــمېر داسې حقایق په ګوته کړي چې هغه وخت په یو نه یو ډول تر سانســور لاندې راغلي وو، له ولسه پټ پاتې شوي وو، خو استاد یون په مېړانه د خپلو لیکنو له لارې هغه خپاره کړل، پخواني ولسمشر (حامدکرزي) ته د پرانیستي لیک محتــوا د چــوپ اکثریــت چیغــه ده چــې د وخــت ولسمشر یې دېته مجبور کړ، له استاد یون سره له نږدې وګوري، د کار او عمل لپاره یې میکانیزمونه جوړ کړي، چې د ورته ســتونزو د تکــرار مخه پرې ډب شي.

تر ټولو مهم غږ چې استاد یون په مېړانه په لومړي سر کې د لیکنــو په بڼه را غبرګ کړ او وروسته له دې غږه ولسي مبارزه راوټوکېــده او د تاریخي مسولیت په بڼه یې د ګڼو نورو مبارزو ځوانانو لــه خــوا ملاتــړ وشو، هغه د هویت د تذکرو په اړه د قدرمن استاد یون شننه وه. افغان دښمنه عناصرو زموږ ولس ته د ورکاوي داسې یوه توطیه جوړه کړې وه چې هم ترې ملي هویت تروړل کېده او هم اسلامي، خو د اســتاد یــون مبارزې او ددې مبارزې د ملاتړ په مټ عامه پوهاوي ولس دېته چمتــو

کړ، چې لارو کوڅو ته را ووځي او ګڼ نور ځوان مبارزین ورسره یوځای شي. همدا مبارزه وه چې افغاني روښانتیا تــه یــې لاره هــواره کــړه. د افغان هویت د ملاتړ او ذکر په اړه یــې (شــل) داســې دلایــل د وخــت حکومت ته وړاندې کړل، چې حکومت هم په مجبور شــو، د ولــس دې غوښتنو ته غوږ ونیسي، خو عملي کېدو ته یې لا هم لاره پاتې ده.

په لنډه توګه ( د سمون په لټه ) کتاب به له لوستونکو سره مرســته وکړي چې د ګڼو پټو خبرو، رازونو، او غړونو له شور او ځوړه خبر شــي، له ګڼو سره به د ژور تحقیق او څېړنې په برخه کــې مرســته وکــړي او ځینې به دېته وهڅوي چې حقیقت که هر څومره تریخ وي، باید چې د بیان هوډ یې وشي او له ولس سره شریک شي.
نور نو دا ټولګه خپله ستاسو مخې ته پرته ده، هره لیکنه یې مشــخص حالات او حوادث تشریح کوي، ددې ټولګې پر هــره لیکنــه، لیکنــه او لیکنې کېدلای شي، خو زه نه غواړم د لوستونکو او ددې ټولګې ترمنځ خنډ شم، ښه به وي چې هر څوک په خپله ژر ( د سمون په لټــه) کــې شي. دا هم تاسو او دا هم (د سمون په لټه) د څېړنیزو او شننیزو لیکنو دا ټولګه.

په درناوي

پوهنیار فیض محمد ځلاند

۲۰/۱۰/۱۳۹۴

کابل پوهنتون

# ولې د سمون په لټه؟

(د سمون په لټه) زما د هغــو بېلابېلــو لیکنــو ټولګــه ده چــې مــا تــر (۱۳۸۷ل) کال وروسته لیکلي دي. یوه نیمه لیکنــه بــه د یــاد کــال د وروستیو وختونو هم په کې وي، خو نورې لیکنې تر یاد کــال وروســته لیکل شوي دي. ددې لیکنو زیاته برخــه پــر خپــل وخــت د چــاپي او برېښنایي رسنیو له لارې خپره شوې ده او یو څو داسې لیکنې په کــې دي چې هغه لا تر دې دمه نه دي خپرې شوي او لومړی ځل به پــه دې اثر کې خپرې شي. دا لیکنې تر ډېره حده سیاسي او ټولنیز رنګ لــري او پر همدې موضوعاتو رڼا خپروي. البته ما تر دې د مخه هم یو شــمېر سیاسي او ټولنیزې لیکنې کړي چې هغه پر (۱۳۸۷ل) کال هغه مهــال چې ما د خپلې (۲۳) کلنې لیکوالۍ ټول راټول کړی کار سره منظم کړ چاپ شوې، تر هغه وروسته نو بیا داسې لیکنې او یا هم ځانګړی اثار نه وو چې هغه د تېر په شان د یوې بستې یا پیکېج په شکل وړاندې کړم، تر (۱۳۸۷ل) کال وروسته مې بیا وپتیله، کله هم د ځانګړو او متفرقــو اثارو او لیکنو شمېر زیات شي، نو بیا به یې د یوه پیکېج په بڼــه خپــل ولس ته ډالۍ کوم. اوس چې د (۱۳۹۴ل) کال مې وروستي وختونه دي، غواړم بیا خپل ولس ته خپل ځینې ځانګړي اثار او همدارنګه د بېلابېلو لیکنو ټولګې وړاندې کړم، البته پــر (۱۳۸۹ل) کــال مــې دوه عنوانــه مستقل اثار هم چاپ کړل، خو نور کارونــه لا روان وو. اوس بیــا خپــل

ولس یو ښه پیکېج ډالۍ کوم، په دې پکېج کې هم نږدې لــس عنوانــه بېلابېل اثار شامل دي چې دا ټولګه هم د همدې پیکېج یوه برخــه ده. دا د هغو سیاسي او ټولنیزو لیکنو یوه ټولګه ده چې تر (۱۳۸۷ل) کــال وروسته بیا د (۱۳۹۴ل) کال تر وروستیو پورې په بېلابېلو وختونو کــې، پر بېلابېلو موضوعګانو لیکل شوي دي. ددې لیکنو هــدف دادی چــې حقیقت بیان شي او د واقعیتونو د بیان په نتیجه کې رغاوی او ســمون رامنځته شي. په دې کې هم شک نه شته، چې له دې لیکنو ســره یــو شمېر خلکو مخالفت هم کړی او لا به یې نور حساسیت هم راوپارېږي، خو پر دې هم پوهېږم چې پر عام ولس ښې لګــي او د هغــوی د ټپونــو لپاره به یو تسکین وي، طبیعي خبره ده چــې د بلــې هــرې مظلــومې ټولنې په شان زموږ په ټولنه کې هم اکثریت مظلوم دی او ډېرو کمو ډلو او یا اشخاصو تر خپل استحقاقه زیات امتیاز ترلاسه کړی او دې لړۍ ته لا هم دوام ورکوي. دا ډول اشخاص طبعاً پر داسې لیکنو نــه یــوازې دا چې خوابدي کېږي، بلکې منفي غبرګون هم ښیي، خو که د یو لــوی او عظیم اکثریت لپاره یو څو محدودې ډلګۍ او اشخاص خفه هــم شــي، تورو برېښ هم وکړي ودې کړي.

په تېرو درېو څلورو لسیزو کې زه له ډېرو زیاتو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شوی یم، خو څوک چې ددې ډول خطرونو او ګواښونو د رفعې او دفعې اصلي واک ورسره دی، پر هغه مــې ډېره لګــولې. ((د خوشــال خټک تکیه پر ذوالجلال ده))، د ملکیار بابا خبــره ((څښــتن مــو مــل دی)) چې څښتن دې مل وي، نوره پر چا رایه مه وهه، پر لوی الله مــې

توکل کړی او خپل هوډ او تکل مې غښتلی کړی، نو ځکه مې دا دومره اوږد او ستونزمن مزل تر دې دمه رارسولی دی.

دا هره لیکنه د یوې خاصې موضوع پر چورلیز راڅرخي او دا موضوع یا پېښه بیا د خپل زمان او مکان د حالاتو او نورو حوادثو زېږنده ده. مـا د هرې پېښې په اړه پر خپـل وخـت غبرګـون ښـودلی دی. د لیکـوال غبرګون به څه وي؟ پرته له لیکنې! همدا مې په وس کې و، همـدا مـې کړي او اوس ډېر خوشاله یم چې دا هر څه مې لیکلي او ثبـت کـړي او که نه نو ډېر حالات او پېښې به همداسې د تاریخ له حافظې وتـې وي. یوازې دا لیکنې نه دي، نور ډېر مثبت شیان هم شته، ((دا خو ته ولوله په سترګو کې دي- نورې خبرې مـې پـه زړه پـاتې دي.)) یـو بـل (زر مخیزه) کتاب هم راروان دی چې اوس یې ډاګیزول نه دي په کار: ((نـه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي)) ډېر مرموز، پټ او نیمه ښـکاره شیان به تاسو په هغه اثر کې ولولئ، خو لږ وخت به غواړي، لږې زغـایي ته به منتظر شو، دومره زغایي ته چې لوستونکي یې د لوستلو پر مهـال په تکلیف نه شي.

لکه څنګه چې د مخه مو یادونه وکړه، دا لیکنې د خپل وخت او خپلـو شرایطو محصول دي او د همدې خپلو حالاتو انځورنه کوي، ماضي کې چې څه وو او راتلونکي کې چې څه پېښېږي؟ په هغو معیـارونو دېتـه نظر نه شي کېدی، البته ماضي، حال او راتلونکي یو بل سره ارګانیـک اړیکي لري، (پرون) د (نن) پلار او د (سبا) نیکه دی او (نـن) د (سـبا) پلار، خو په دې لیکنو کې یوازې د (نن) اړوند مسایل څېړل شوي دي. ځکه چې موږ په (نن) کې ټوکېدلي یو، (پرون) خپـل پښـت درلـود او

(سبا) خپل نسل لري، د هر لیکوال او اندیال دا دنده ده چې د خپل وخت د ناخوالو انځور وکاږي.

کاشکې دا لیکنې او په ټوله کې دېته ورته اثار د راتلونکي لپاره د ښه پیغام رسولو وسیله شي او یا لږ تر لږه راتلونکي ته خو د حال یو انځور ورکړي: ((شهیدو! تاسو نه که هلته چا پوښتنه وکړه-ورته به وایئ چې وطن کې بهېدلې اوښکې)) زه غواړم د همدغو اوښکو او اوسېلو انځور راتلونکي نسل ته ولېږدوم. دا چې ما به ددې ټولنیزو، سیاسي پېښو او ناخوالو په انځورنه کې څومره موثره هڅه کړې وي، دا قضاوت ددې اثر لوستونکو او راتلونکي پښت ته پرېږدم، خو کوم څه چې څرګند دي هغه دادي چې څه مې په وس کې وو هغه مې له خپل ولسه نه دي سپمولي. که نیوکه مې کړې، که مې د چا د خبرې تردید کړی او یا مې پر یوې خبرې ټینګار، یوازې په دې نیت و چې حقیقت څرګند شي او سمون رامنځته شي، د سمون په لټه کې وم او لا به دې مبارزې ته دوام ورکوم. نور نو تاسو او دا هم (د سمون په لټه)، تاسو پوهېږئ او (سمون) مو او زه به درنه د نور سمون په هیله (د سمون په لټه) کې شم.

په دېر درنښت

ستاسو سمونپالی (یون)

# په ولسي جرګه کې د یوه درېیم قوت د جوړولو اړتیا

**(دا لیکنه د ولسي جرګې د (۱۵) مې دورې د لومړي کال پر مهال شوې ده او د همغه وخت د حالاتو او غوښتنو انځورنه کوي.)**

په افغانستان کې د ولسي جرګې یا په عمومي ډول د اوسنۍ ملي شورا له عمر څخه یو کال تېرېږي. خو د شورا تر جوړېدو دمخه او د شورا د یو کلن ژوند په بهیر کې چې د ولس کومې هیلې او غوښتنې وې، هغه نه دي پوره شوي دا کار ددې سبب کېږي چې پر حکومت سربېره پر ولسې جرګه هم د خلکو باور کمزوری شي او په نتیجه کې د دولت او ولس ترمنځ د باور او اعتماد یو لوی بحران رامنځته شی. د داسې یو بحران د احتمالي راتګ یو عامل دادی چې ولي جرګې دحکومت او ولس ترمنځ د ارتباطي پل او د قانون او اصلاح د یوې سرچینې په توګه خپل رول ادا نه کړ.

ولسي جرګه د یو شمېر اشخاصو د شخصي او تنظیمي غوښتنو او د حکومت د سیاسي نفوذ پر میدان بدله شوه او په دې ډول په ولسي جرګه کې د مثبت خو متفرق اکثریت رول هم پیکه شو. د مثبت اکثریت مهمه ناروغي همدا وه چې په خپل منځ کې یې منظمه او سیستماتیکه همغږي نه لرله او د ګډ او مشترك فعالیت

پر محور راټول نه و. همدا وجه وه هغو اشخاصو چې پخوا یې هم د مشروعو او نا مشروعو ائتلافونو یوه اوږده او پخه تجربه لرله، له حکومت سره د مشروع او نا مشروع سازښت لاره ونیوله په دې ډول یې هم په حکومت کې خپل امتیاز خوندي کړ او هم یې په ولسي جرګه کې د حکومت پراخ نفوذ ته لاره اواره کړه. اوس چې موږ ولسي جرګې ته نظر کوو نو د حکومت پر وړاندې د یوه مثبت غوښتونکې او مشروع همکار اپوزیشن بڼه نه لري، بلکې په ولسي جرګه کې یو شمېر داسې اشخاص شته چې ظاهراً ځان د حکومت اپوزیشن ګڼي خو په حکومت کې یې تر ټولو زیات امتیازات ترلاسه کړي دي. که حالات همداسې روان وي نو موږ به د هېواد په کچه د اصلاحاتو کوم بهیر ونه وینو او تر دې دمه لاسته راغلي اصلاحات او بریالیتوبونه به هم له ستونزو او خنډونو سره مخ شي. نو ددې په خاطر چې موږ په هېواد کې تېر بریالیتوبونه هم خوندي ساتلي وي او د نویو اصلاحاتو لپاره مو هم لاره پرانیستې او اواره کړې وي، نو تر ټولو دمخه په کار دي چې د افغانستان ملي شورا په تېره بیا ولسي جرګه چې قانوناً د خلکو د ارادې ممثله ګڼل کېږي عملاً یې د خلکو د غوښتنو او ارادو د تمثیل پر مرکز بدله کړو، دا کار په ولسي جرګه کې د یوه مثبت اصلاح غوښتونکي ګروپ یا هم مثبت اپوزیشن د جوړېدو له لارې ممکن دي. څرګنده خبره ده چې په ولسي جرګه کې د امتیاز غوښتونکو وکیلانو په انډول اصلاح غوښتونکي وکیلان زیات دي. خو دا وکیلان څه ناڅه متفرق او تیت او پرک دي. ددې

ریفورمیست یا سمونپال اپوزیشن د جوړولو په اړه دلته څو نظرونو او وړاندیزونو یادونه کېږي چې کېدی شي نور نظرونه هم پرې ورزیات شي او دا طرحه لابنه شي:

۱- اکثرو وکیلانو سره دې مشوره وشي او د یوه مثبت اپوزیشن د جوړېدو ضرورت دې ور په ګوته شي.

۲- د نظر تر توافق وروسته دې یو اصلاحي ګروپ د تشکیلاتي جوړښت د څرنګوالي په باب نظریې راټولې کړي.

۳- له نظریو څخه دې مشترك ټکي راټول او هغه دې ډلبندي شي.

۴- که چېرې په تشکیلاتي جوړښت کې پر یوه واحد شخص د راټولېدو لپاره د نظریو پوره توافق نه وي، کېدی شي د مشرتابه هئیت ته دوراني بڼه ورکړل شي.

۵- د یوه مثبت اپوزیشن د جوړېدو ضرورت او اهداف دې په لیکلي بڼه د نورو د قناعت او د هغوی د نظریاتو د جذب په خاطر تیار او ترتیب شي.

۶- تر ټولو دمخه دې یو مشورتي ګروپ دنده پر غاړه واخلي او د ولسي جرګې له ټولو اصلاح غوښتونکو وکیلانو سره دې هر اړخیزې مشورې وکړي.

۷- طبیعي خبره ده چې د سلامشورو پر وخت دداسې یو اصلاحي اپوزیشن د جوړولو د ګټو او زیانونو په اړه ګڼې پوښتنې مطرح کېږي، دلته کېدی شي ددې اصلاحي ګروپ احتمالي ګټو او زیانونو ته اشاره وکړو:

۱- په ولسي جرګه کې د یوه رښتیني منظم، سیستماتیك او ځرګند اصلاحي اپوزیشن کمی دی دا خلا به ډکه شي.
۲- اوس چې ځینې کسان د اپوزیشن په توګه مطرح دي او له حکومت څخه نا مشروع امتیازات اخلي د هغو د نامشروع امتیازاتو مخه به ونیول شي.
۳- د هغو ډلو او اشخاصو مخه به هم ونیول شي چې هم په حکومت کې زیات واک و ځواك لري او هم په ولسي جرګه کې د اپوزیشن امتیازه تر لاسته کوي.
۴- د سالم او مثبت اپوزیشن له لارې به په حکومت کې د اصلاحاتو لړۍ پیاوړې شي او ولس ته په کې زیاته ګټه ورسېږي.
۵- د ملت د استازو او د قانون د یوې مرجعې په توګه به د ولسي جرګې باور او اعتبار زیات شي.
۶- متفرق او تیت و پرك مثبت وکیلان به پر یوه محور راټول شي او د یوه مثبت قوت په توګه به ځرګند شي.
۷- د قانون حاکمیت به د قانون له مرجعې څخه پیل شي.
۸- د یوه مثبت اپوزیشن له لارې کېدی شي د ولسي جرګې مشرتوب ترلاسه او یا هم په سالم ډول کنټرول شي.
ب- زیانونه: هره مثبته پدیده د خپلو ګټو ترڅنګ یو څه نیمګړتیاوې او زیانونه هم لري، د مثبت اپوزیشن د جوړېدو هڅه کېدی شي د خپلو ګڼو ګټو ترڅنګ یو څه ضمني زیانونه هم ولري چې دلته یې د ځینو احتمالي زیانونو یادونه کوو:

۱- که چېرې اوس د یوه مثبت اپوزیشن هڅه وشي او دا هڅه ناکامه شي نو اوسني امتیاز غوښتونکې اپوزیشن به لا پسې پیاوړی شي.
۲- که چېرې د یوه مثبت اپوزیشن دجوړېدو خطر محسوس شي نو د هغه مخالفین به له هر ډول مشروع او نا مشروع امکاناتو او مالي سرچینو ناوړه ګټه پورته وکړي د هغه مخه به ونیسي. دا کار به په ولسي جرګه کې د یوه ناسالم رقابت زمینه برابره کړي او یو شمېر ضعیف النفسه وکیلان به د پیسو په زور وخت پر وخت خپل سیاسي لوری رد وبدل کړي.
۳- که سالم اپوزیشن جوړ او وروسته بیا ناکام یا رنګ شي نو دا به داسې وانګیرل شي چې په افغانستان کې د مثبتو پدیدو په اندول د منفي پدیدو د کامیابۍ چانس زیات دی او دا کار به د مخالفینو روحیه پیاوړې کړي. خو په هر ترتیب که د مثبت اپوزیشن مثبتې او منفي نتیجې سره پرتله کړو، منفي یې د مثبتو هغو په اندول د نشت برابر دي.

# د افغانستان اوسني حالات څېړنه او ارزونه

دا تحلیلي لیکنه او ارزونه د (۱۳۸۷ل)کال په وروستیو کې شوې وه، جمهور رییس، نورو مطرح شخصیتونو او اړوندو ارګانونو ته ورلېږل شوې، خو چا پرې سر ونه ګراوه، دادی دلته یې دهغه وخت د حالاتو د یوه تحلیل او ارزونې پــه توګه وړاندې کوم.

## الف- امنیتي حالات:

په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو په پوځي زور د طالبانو د نظــام تر ړنګېدو وروسته امنیتي حالات پر دغو درېو برخو وېشلای شو:

۱- د طالبانو تر سقوط وروسته پړاو: دا هغه مرحله وه چې طالبــان د امریکایانو په زیات پوځي زور او د هغو د کورنیو متحدینو (شمالټلوالې) په مرسته له نظامي پلوه مات او ړنــګ شــول، د طالبــانو او القاعــدې نیټورک زیانمن او دوی د افغانستان په کلیو، باندو، لرې پرتو ســیمو او تر ډېورنډ کرښې اخوا په قبایلو سیمو کې تیت و پرک او پټ شــول. دا هغه مهال و چې طالبانو له بهرنیو ځواکونو او د هغوی د متحدو کورنیو وسلوالو ډلو پر وړاندې جګړه نه شوه کولای. دې پــړاو نــږدې دوه دوه نیم کاله دوام وکړ، دا همغه وخت و چې اضطراري لویه جرګه، اساســي قانون لویه جرګه، د جمهوري ریاست او ملي شــورا انتخابــات ترســره شول.

۲- د طالبانو د دفاعي حالت پړاو: د جمهوري ریاست تــر انتخابــاتو وروسته حکومت بیــاهم ائتلافــي بڼــه غــوره کــړه، اداري فســاد او د

جنګسالارانو واک په حکومت کې لا زيات شو، د خلکو رايو او نظريو ته چندان ارزښت ور نه کړل شو، همدغه و چې د خلکو او حکومت ترمنځ فاصله زياته شوه، له دې خلا څخه طالبانو ګټه پورته کـړه، بېرتـه يـې ځانونه منظم کړل او په ډېرو ساحو کې يې د دولتـي ځواکونـو او ان د بهرنيو ځواکونو پر ضد د دفاع او خرپ او ترپ جنګ تـوان پيـدا کـړ، طالبانو او د هغوی بهرنيو ملاتړ کوونکو ته دا وخت، د دولتي او بهرنيـو ځواکونو نيمګړتياوې او جنګي ظرفيت هم معلوم شو.

۳- د طالبانو د تعرضي حالت پړاو: څومره چې دولـت پـه اداري او مالي فساد کــې غرقېـده او د دولـت جـوړونکي بېلابېـل او مختلـف تنظيمونه او اشخاص په حکومت کې پر امتيازاتو ورانېدل، نو همغـومره طالبانو ته د تنفس او ودې زمينه برابرېده، دا مهال طالبانو خپل بهرني روابط هم سره منظم کړل او له ځينو ګاونډيو هېوادونو په تېره بيـا لـه ايران او پاکستان څخه يې وسلې هم واخيسـتې او د وسـلو د هغـو دولتي او نادولتي قاچاق وړونکو له لارې يې هم وسلې ترلاسـه کـړې چې د افغانستان له شمال څخه تر جنوبه د وسلو پر قاچاق بوخـت وو. طالبانو ددې وس پيدا کړ چې د ځان وژونکو حملو او ګوريلايي جنګونو تر څنګ پر منظمو جبهه يي جنګونو هم لاس پورې کړي او له حکومت څخه د ولسواليو په ګډون پراخې سيمې لاندې کړي. د نړيوالو رپوټونو پر اساس اوس د افغانستان حکومت د افغانستان په سلو کې يوازې پر (دېرش) برخې خاورې حاکميت لري اوکه په دې پاتې برخه کې د دولت د دولتي مخالفو قوتونو د واک وېش سره محاسبه کړو، نو دا حاکميـت لاپسې متلاشي کېږي، ځکه چې دا واک هم د بېلابېلو جنګسالارانو او تنظيمونو ترمنځ وېشل شوی دی.

۴- اوسني امنيتي حالات: اوسني امنيتي حالات په تېرو اوو کلونــو کې تر بل هر وخت څخه ډېر خراب شوي، په ښارونو کې اختطاف، وېره او تښتونه عامه شوې او له لويــو ښــارونو د پــانګوالو فــرار روان دی. روښنفکران او د قلم خاوندان هم ځــان مصــئون نــه ګڼــي، نــادولتي موسسې او بهرني وګړي ټول ځان په خطر کې احساسوي.

د دولتي پوليسو او ملکي مامورينو تلفات زيات شوي او د ملي پــوځ د سرتېرو د مرګ ژوبلې کچه هم اوچتــه شــوې، ددې ترڅنــګ نړيوالــو پوځي ځواکونو،ملکي وګړو او همدارنګه د مخالفو طالبانو ټولو د مــرګ کچه اوچته شوې ده. دا ددې مانا ورکوي چې د جګړې ســاحه پراخــه شوې، جګړه درنه شوې او لا د درنېدو په حال کې ده.

## ب- راتلونکي حالات او پرمختګونه:

د راتلونکو حالاتو په اړه مخکې تر مخکې خبرې او وړاندوينــه کېــدی شي پوره دقيقه نه وي، خو هغه څه چې د اوسنيو حالاتو له مخې يــې احتمال کېدی شي، حالات په مجموعي ډول د ښه والي پر لــوري روان نه دي. د راتلونکو حالاتو پر وړاندې دا ستر سياسي چيلنجونــه پراتــه دي:

۱- د جمهوري رياست انتخابات: ځينې سياسي ډلې لکه پخوانی شمال ائيتلاف او نور د ۱۳۸۸ ل کال د جــوزا پــر مياشــت د انتخابــاتو ترسره کېدل غواړي، خو حکومت د ميزان پر مياشــت او ان تــر هغــه وروسته د انتخاباتو ترسره کېدل غواړي، پــه دې ډول دا يــو سياســي بحران دی، امنيتي وضعه هم داسې ده چې د عادلانه انتخاباتو ترســره کېدل ناشوني کوي. که په داسې حالت کې انتخابات ترسره هم شي، نو

دهېواد اکثریت (پښتانه) به په کې ګډون ونه کړای شــي، د پښــتنو د نشتوالي په حالت کې به انتخابات مشروعیت ونه لري.

**۲- که انتخابات ترسره نه شي:** که انتخابات ترسره نه شي نو بیــا به هم هېواد له یو سیاسي بحران سره مخامخ شي، د حل یو ضمني او نسبي لاره (لویه جرګه) ده چې نوی زعامت ټاکلای شي، خو پـر لویــه جرګه هم کېدلای شي ځینې کورنۍ او بهرنۍ موثره ســرچینې خپــل اغېز وشیندي او په ښه او عادلانه ډول پرېکړه ونه کړای شي.

په هر حال افغانستان ته په راتلــونکي کــې د یــو سیاســي بحــران د وړپېښېدو قوي وېره شته.

**ج- د افغانستان د اوسنیو سیاسي او پوځي ځواکونو تناسب:**

په رسمي ډول خو په افغانستان کې له عــدلیې وزارت ســره تــر (۹۷) زیات سیاسي ګوندونه ثبت دي او یو زیات شمېر لا تراوسه ثبت شــوي هم نه دي، خو فعالیت کوي، دا ټول ثبت او ناثبت شوي ګوندونه او ډلې له یوې مخې ولسي، سیاسي او پوځي قوت نه لري، مــوږ دلتــه یــوازې هغو ډلو ته لنډه اشاره کوو چې سیاسي، قومي، مذهبي، ولسي، پوځي او اقتصادي قوت یې محسوس دی.

**۱- طالبان:** یوه مذهبي او نظامي ډله ده چې اوس د دولتي او نړیوالــو ځواکونو پر وړاندې ستر چیلنج دی، که چېرې نړیوال ځواکونه نــه وي، نو نورې دولتي او نا دولتي سیاسي ډلې د طالبانو د نظامي زور او قــوت تاب نه لري، د نړیوالو ځواکونو د نشتوالي په حالت کــې کېــدی شــي اوسنی حکومت د څو ورځو په بهیر کې د طالبانو له خوا ړنګ شــي. د یادونې وړ ده چې طالبان مــذهب پلــوه ډلــه ده، سیاســي تفکــر یــې

کمزوری او نظامي فعالیت یې زیات دی، قومي تفکر نه لري، خو د دوی مخالفین (پخوانی شمالټلواله) دوی پر قــومي او قبیلــه یــي تمــایلاتو تورنوي.

۲- اوسنی ملي جبهه (پخوانی شمالټلواله): د برهان الدین ربــاني اسلامي جمعیت ددې جبهې اصلي محرکه قوه او د ثقل مرکز دی، له نا متجانسو سیاسي ډلو جوړه ده، هره شېبه یې د وېشل کېدو امکانــات شته، دا ائتلاف اساساً قومي تمایلات لري، خو ظاهراً ملــي او اســلامي رنګ لري، د افغانستان د دولت اساسي رګونه د همدې ائتلاف په لاس کې دي، دا ائتلاف پراخې کورنۍ او بهرنــۍ مــالي ســرچینې لــري او د افغانستان د ازادې میډیا درنه برخه یې په لاس کې ده، په ځینو سیمو کې رسمي او په ځینو کې نا رسمي ملېشې لري او همدارنګه قانوني او نا قانونه وسلې، د حکومت په داخل کې تر دې ډلې بله قــوي ډلــه نــه شته، دې ائتلاف پخوا هم له روسیې او ایران ســره اړیکــي درلــودل او اوس یې هم لري.

۳- شیعه ګوندونه: د خلیلي په مشرۍ د افغانستان اسلامي وحــدت ګوند، د محقق په مشرۍ د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت ګوند، د مصطفی کاظمي د ورور په مشرۍ د ملي اقتدار ګوند، د محسني پــه مشرۍ د اسلامي حرکت او د صادق مدبر په مشــرۍ د ملــي انســجام ګوندونه، د شیعه ګانو غــټ ګوندونــه دي چــې مــذهبي، سیاســي او اقتصادي قوت لري، ددې ګوندونو تفکر اساساً پــر قــومي، مــذهبي او ژبنیو ګټو راڅرخي.

۴- د حکمتیار اسلامي حزب او د انوارالحق احدي افغان ملت:
دحکمتیار حزب اوس هم یو سیاسي، مذهبي او نظامي قوت دی چې د دولت او بهرنیو ځواکونو پر وړاندې جنګېږي، ځینې پخواني غړي یې په حکومت کې هم شتته، خو له اقتصادي پلوه کمزوری شوی، که چېرې بهرني قوتونه نه وي، نو تر طالبانو وروسته کېدی شي د دویمې سیاسي، پوځي او مذهبي ډلې په توګه څرګند شي.
افغان ملت یو دیموکرات ګوند دی چې ملي افکار لري، نظامي ډله نه ده، یوه سیاسي ډله ده چې په حکومت او تر حکومته بهر یې یو شمېر غړي فعال دي. ددې ډلو ترڅنګ نورې لویې وړې ډلې هم شته چې افکار یې همدې ډلو ته ورته دي او د هېواد په سیاسي ډګر کې یې اغېز ډېر زیات نه دی، نو ځکه د ټولو له یادونو تېرېږو.
د پورتنیو ستونزو د یادونې ترڅنګ د افغانستان دولت له ځینو نورو ستونزو سره هم مخ دی چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو:
۱. **دولتي اپوزیسیون:** د دولت په داخل کې پر مهمو پوستونو کار کوي، د دولت امتیازات اخلي، امکانات یې کاروي او بېرته د دولت د ریفورمونو مخالفت کوي. ملي جبهه د هغې بېلابېل غړي، د جمهور رئیس لومړی مرستیال، ځینې وزیران. د امنیتي سکتور ځینې مهم غړي ددې اپوزیسیون برخه ده.
۲. **نا دولتي اپوزیسیون:** په دولت کې کار نه کوي، خو تر دولته بهر د دولت مخالفت کوي لکه طالبان ، د حکمتیار اسلامي حزب ، یو شمېر پخواني جهادي قومندانان او داسې نور... تر نا دولتي اپوزیسیون څخه دولت ته دولتي اپوزیسیون ډېر خطرناک دی.

۳. دولت د سیاسي انحاصر پـه منګولـو کـې : کـه څـه هـم د دولت مشرتابه (جمهـور رئـیس) د خلکـو لـه خـوا ټاکـل شـوی، خـو لـه جمهوري ریاسـت پرتـه نـورې اکـثره څـوکۍ او مهـم دولتـي پوسـتونه د اسـلامي جمعیـت پـه لاس کـې دي او پـه اسـانۍ سره نـو رڅـوک نشي‌زغملای.

٤. قومي انحصار: دا دولت که څه هم د دیموکرات دولت په نامـه یادېږي، خو پر دولت د یوې قومي ډلې(تاجکانو) زیـات انحصـار نـورې قومي ډلې خفه کړي او پـه دې ډول د دولـت او خلکـو تـر مـنځ واټـن رامنځته شوی دی. د اوسني دولت په مهمو پوستونو کـې ٦٦,٦% (شـېږ شپېته اعشاریه شپږ سلنه) تاجک، ۲٥,۳% پښتانه، ٤,۳% هزاره او پاتې نور قومونه ونډه لري. دا په داسې حال کې ده، یو شمېر رسنۍ چې ګنـې د تاجکانو ننګه کـوي، هغـوی پـر دې سهم هـم قـانع نـه دي او کـرزی پـر ((فاشیزم)) تورنوي، خو دې خوا بیا پښتانه د خپل کمیـت لـه مخـې پـه دې حکومت له خپلې کمې ونډې څخه نا راضه دي.

٥. امنیتي سکتور: امنیتـي سـکتور هـم تـر ډېـره حـده د اسـلامي جمعیت په لاس کې دی، دا تنظیم نه غواړي د افغانستان په ډېرو سـیمو په تېره بیا په جنوب، جنوب غرب او شرق کـې امـن وي، ځکـه کـه هلتـه امن راشي نو په کابل کې ددې ډلې انحصار ختمېږي او نور خلک هـم په حکومت کې شاملېږي.

٦. اداري فساد: د حکومت پر وړاندې بل غټ چلنج اداري فسـاد دی، چې اکثره لوړ او ټیټ رتبه مامورین پرې ککړ دي.

۷. امنیتـي حالـت: د خلکـو او دولـت غـټ سـتونزه دا ده چـې دهېواد په اکثرو سیمو کې امنیـت ورځ پـر ورځ خرابېـږي، پـه ملکـي او

امنيتي ارګانونو کې د يو شمېر بې کفايته او د دولت د دولتي مخالفو سياسي ډلو واک ددې سبب کېږي، چې امنيت لا پسې خراب شي.

۸. **د ګاونډيو هېوادونو مداخله:** ايران او پاکستان په افغانستان کې تر هر چا زياته مداخله کوي، په تېره بيا ايران. اوسمهال چې ايران په افغانستان کې څومره واک او ځواک لري د نړۍ هېڅ هېواد يې نه لري، ايران له يوې خوا د حکومت په داخل کې خپل پلويان تقويه کوي او بل پلو ته دولت مخالفو طالبانو ته هم وسايل او پيسې ورکوي او په دې ډول غواړي ناامني دوام وکړي. د ايران لپاره دا يو طلايي چانس دی، چې له خپلو پخوانيو مخالفينو(طالبانو) څخه د امريکا پر ضد ګټه پورته کړي. که طالبان وژل کېږي هم ايران ته يې ګټه رسي، که امريکايان وژل کېږي هم دوی ګټه اخلي او که سيمه ورانېږي هم د پښتنو سيمه ده، چې له مذهبي او ژبني پلوه د ايران مخالفه ده.

۹. **منفي ميډيا:** د افغانستان د اوسنۍ ازادې ميډيا زياته برخه د ايران له خوا کنترول او تمولېږي، د افغانستان د پېښو په منفي ښودلو کې ددې ميډيا نقش زيات دی، دا ميډيا په افغانستان کې د مثبتو پرمختياوو په انډول منفي پېښې زياتې ښيي.

# د کاندیدانو مارکېټ

یادښت: دا لیکنه پر (۱۳۸۸ل) کال د جمهوري ریاست د ټـاکنو لپـاره د نوملیکنې د بهیر د بشپړېدو پر مهال لیکـل شـوې وه او د همغـه وخـت د سیاسي انتخاباتي بهیر انځورنه کوي.

ټاکل شوې ده، د روان (۱۳۸۸ل) کال په بهیر کــې د افغانســتان د جمهوري ریاست لپاره عمومي ټولټاکنې ترسره شــي. طبعـاً د هــرو دا ډول ټولټاکنو پر وړاندې ستونزې پرتې وي. د هېواد امنیتــي حــالات، رقابتونه، ګډوډي، درغلي، د زر و زور استعمال، یو پر بل د تورونو پورې کول، د سپکو او سپورو الفاظو کارول، له انتخاباتو نه د ځینو کاندیدانو بایکاټ، په زور، چل او هنر د ځینو کاندیدانو ګوښــه کــول، د ټــاکنو د نتیجو نه منل، د ځینو کاندیدانو چغې و فریاد، د کاندیــدانو د پلویــانو ترمنځ حق و ناحق جنجالونه، نادرۍ او داسې نور ګڼ مسایل د ټاکنو د بهیر طبیعي ځانګړنې دي.

خو زه په دې لیکنه کې دې پورتنیو ځانګړنو یوې ته هم نغوتــه نــه کوم، یوازې غواړم د افغانستان د جمهوري ریاست د راتلونکــو ټــاکنو لپاره د کاندیدانو ظرفیت، کفایت او اخلاقي جرئت ته د لوستونکو پــام را واړوم او دېته اشاره وکړم، چې ددې ګڼ شمېر کاندیــدانو د کمښــت

لارې چارې هم شته او که نه؟ نو تر ټولو لومړۍ دا پوښتنه مطرح کوم، چې څوک کاندیدان دي او څوک نور کاندیدېږي؟

# سریزه:

په مجموعي ډول د هر چا ذوق او شوق چې پارېدلی، احساس یې په څپو راغلی، نو پرته له دې چې له عقل سره مشوره وکړي او ځان یو ځل د خپل وجدان په تله وتلي، ځان یې کاندید کړی، کومې نمونې چې اوس یې ځانونه نوماند کړي، پر دې نمونو سربېره نورې څېرې او نمونې هم په راټوکېدو دي، چې په نږدې راتلونکي کې به یې شاهدان یو، که هغه نمونې مو ولیدلې، نو پر دې اوسنیو به شکر وکاږئ! ښه به وي، چې دلته ددې کاندیدانو پر ډلبندۍ لږه رڼا واچوو:

## ۱- د کور و کلي کاندیدان:

دا هغه ډول کاندیدان دي، چې ان د خپلې مېرمنې او د کور د نورو غړو خبره هم پرې بره ده، د هغو څواب هم نه شي ویلی، خپل کلي کې یې هم څوک نه پېژني، سیمه، ولسوالۍ او ولایت خو لا څه کوې. دده لپاره، نو دا تر ټولو ښه وسیله ده، چې ځان کاذب شهرت ته ورسوي، لومړۍ خپلې مېرمنې ته خپل حیثیت اوچت کړي، چې دا دی زه خو هم دومره یم، چې ځان مې ان د افغانستان جمهوري ریاست ته کاندید کړ، بیا به په خپلې ټولنې، کلي او ولس کې هم په پنځو کې یاد شي، غم، ښادي، واده، خیرات او فاتحې کې به د ګډون جوګه شي او دشهرت په دې وړیا وسیلې به دکاذب شهرت پوړیو ته ورسېږي.

## ۲- سیمه ییز کاندیدان:

یو شمېر کاندیدان په کې داسې دي، چې یوازې د یوې سیمې یانې د یوې ولسوالۍ د یوې برخې یو څه کسان پېژني او یو شمېر کسان دی پېژني، دوی فکر کوي، چې ټول افغانستان همدا دی، ځکه چې دومره خلک دی پېژني. ددې ډول کاندیدانو د فکر دایره ډېره تنګه وي، دوی افغانستان په همدې دایره کې ګوري. اصلاً د خپل هېواد له جغرافیایي، سیاسي او ملي جوړښت څخه ناخبره دي. یو وخت زموږ په کلي کې یو نداف و، خورا خدمتګاره او صادقه سړی و، خو په خپل ټول عمر کې له کلي لرې چېرته نه و تللی. د اعلیحضرت محمدظاهرشاه وخت و، یوه ورځ د کلي مشر یا خان ځان سره (الینګار) ولسوالۍ ته بوته، دا لومړی ځل و، چې ده الینګار ولسوالۍ لیدله، نو لومړی ځل یې د ولسوالۍ پر پنځه لس تنو عسکرو سترګې ولګېدې، چې د دېوال غاړې ته منظم ناست وو او سپینې خولۍ یې پر سرو وې. دا د ټولې ولسوالۍ عسکر وو، چې ((قوهٔ- ضربه)) یې ورته ویله. ده چې دا دومره عسکر ولیدل، نو خپل مشر ته یې وویل: ((او باداره عسکر ګوره عسکر دا چې ما سره وای، نو ما پاچاهي نیوله...))

نو پر دې سیمه ییز کاندیدانو هم همغه کانه شوې، چې په څو عسکرو ټوله پاچاهي نیسي، دوی د خپلې سیمې په حساب، ټول افغانستان محاسبه کوي.

## ۳- د ولسي جرګې په ټاکنو کې ناکام کاندیدان:

د جمهوري ریاست ټاکنو ته یو شمېر داسې کسانو هم ځانونه کاندید کړي، چې د ولسي جرګې لپاره په تېرو انتخاباتو کې یې ولایتي څوکۍ هم نه ده ګټلې، چې ورته وواېي هغه دې ونه ګټله، نو دا به

ځنګه وګڼې؟ نو سم له لاسه ځواب درکړي، والله نــو هلتــه خــو ډېــره درغلي وشوه، اوس خو حالاتو هم تغیر کړی، کرزي نه هم ټــول خلــک خفه دي، نو ځکه مو ځان کاندید کړی، نو چې ورته ووایې: کــرزي نــه چې خفه دي، نو له تا څخه خوشاله دي که څنګه؟ نو بیــا وایــي چــې انتخاباتو کې د ځان کاندیدي د هر چا حق دی، مورږ هم له همدې حقه ګټه اخلو او داسې نور دلایل به بیان کړي.

## ۴- د ولسي جرګې په ټاکنو کې بریالي کاندیدان:

د اوسنیو کاندیدانو په ډله کې بیا یو شمېر داسې هم دي، چې اوس د ولسي جرګې غړي دي، له هرې لارې چې تللي، خــو تللــي او اوس د ولسي جرګې غړیتوب لري. دوی هم ځانونه کاندید کړي، ددې یوعلت دادی، چې د ولسي جرګې لپاره په راتلونکو ټاکنو کې پــه هــېڅ وجــه خپل سیټ نه شي ترلاسه کولای، نو په همدې پلمه ځــان جمهــوري ریاست ته کاندیدوي، که سبا څوک ورته ووایي چــې ولــې دې ولســي جرګې ته ځان کاندید نه کړ؟ نو دی به ورته ووایي، چې دا نو زما لپاره شرم دی، چې ځان ولسي جرګې ته کاندید کــړم، ځکــه چــې زه خــو جمهوري ریاست ته کاندید وم. په همدې کسانو کې زه داسې یو څوک پېژنم، چې د ولسي جرګې په انتخاباتو کې یې نــږدې (۸) لکــه ډالــره مصرف کړل، چې ایله (۸) زره شاوخواو کې رایې پرې پوره کړي، یــانې ټول مصرف شوي ډالر تقسیم دده پر وټرانو، هر وټر ته (سل امریکــایي ډالره) رسېدل. اوس یې نو بیا ځــان د جمهــوري ریاســت څــوکۍ تــه کاندید کړی دی، دې ښاغلي، د ولسي جرګې د کار په بهیــر کــې څــو نامشروع قراردادونه ترلاسه کړل او یو څه پیسې یې اوس زېرمه کــړي،

غواړي په هغو د خلکو ضمیرونه واخلي، خو له دې ناخبره چې که یوه رایه (سل ډالره) رانیسي، نو یو لک رایې چې د مجموعي رایو له جملې څخه په سلو کې یوه هم نه جوړوي، مجموعي لګښت یې لس ملیونه ډالره کېږي، خو خدای دې دا وطن دومره نه ذلیلوي، چې یو لک ضمیر پلوري په کې پیدا شي. د ولسي جرګې اوسني غړي چې د جمهوري ریاست کاندیدان دي، نور ډېر ګڼ شمېر مرضونه او غرضونه هم لري، چې د لیکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه ډډه کوم.

## ۵- د لفظي ملي ګوندونو نا ملي کاندیدان:

یو شمېر ګوندونو، چې په ځان پورې د ((ملي)) روستاړی تړلی و، له هغو څخه هم ځینې کاندیدان ودرېدلي دي، خو نه ګڼې د ګوندونو په استازی، بلکې په مستقل ډول او د ((ملي کاندید)) په توګه. دلته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې که دا ښاغلي کاندیدان رښتیا هم ((ملي)) وي، نو بیا یې په هغو ګوندونو کې غړیتوب او مشرتوب ته څه حاجت و، چې لا ((ملي)) شوي نه دي، خو تش لفظاً ملي دي، بله خبره دا چې که چېرې ددوی ګوندونه ((ملي)) وي، نو بیا خو دې د خپلو ګوندونو له خوا ځان کاندید کړي او که چېرې یې ګوندونه ((ملي)) نه وي، نو بیا دې ترې د ((ملي)) روستاړی یا اصطلاح لرې کړي. عجیب منطق دی، ګوندونه یې ملي دي، خو کاندیدان یې ملي نه دي، یا کاندیدان یې ملي دي، خو ګوندونه یې ملي نه دي، خو په الفاظو کې هر ځای ((ملت)) او ((ملي)) لفظ او اصطلاح نه ګټه پورته کوي. دا کاندیدان هم په واقعیت کې هېڅ نه دي، هسې په اصطلاح سترګې تورول کوي، دوی اکثره پر دې پوهېږي، چې په هېڅ ډول، انتخابات نه شي ګټلای،

خو غواړي په انتخاباتو کې د شهرت له لارې ځان او خپله ډله مطـــرح کړي او بیا د تېر حکومت په شان، چې د مضر مصلحت منفور دود پرې واکمن و، یو ځل بیا خپل ځان او بیا خپله ډله له امتیازه برخمن کړي.

## ۶- بهر مېشتي افغان کاندیدان:

یو شمېر بهر مېشتو افغانانو هم د کاندیدۍ شوق کړی، په دې کـــې په الحادي او جهادي ډلو پورې تړلي اشخاص هــم شــته او همدارنګــه ناپېیلي اشخاص هم، په دې کې بیا یو شمېر داسې دي، چې هسې نوم یې په پنځو کې یاد شي، هم ورته کفایت کوي، په لویــدیزو او متمــدنو ټولنو کې، خو د جمهوري ریاست یو کاندید، بریالی وي که ناکام، خاص موقف لري، نو دوی غواړي که ناکام هم شي، نو په افغاني ټولنه کې خو هسې هم ژوند نه کوي او خپله دویمه ټولنه یې چې ده، په هغو کې خو به خپل موقف مستحکم کړي، په مجلسونو کې خو به یـــې کلــه کلــه یادونه کېږي، چې: ((پلانکـــی خـــان د افغانســـتان جمهـــوري ریاســـت پخوانی کاندید...)) په دې کې بیا بله کټه ګورۍ هغه کاندیدان دي، چې په تېرو حکومتونو کې هم د ښه شان و شوکت او دبدبې خاونـــدان وو، خو له بېلابېلو وجو یې په حکومت کې د کار دوام تضمین نه شو، دا ډله په ولس کې هم یو څه وزن لري، د هغې یو علت دا دی: یو زیات شـــمېر خلک فکر کوي، چې د دوی تر شا امریکا ولاړه ده، که دا فرضیه رښتیا وي، نو کېدی شي دوی د حامدکرزي پر وړاندې قوي کاندیدان وګڼــل شي، خو که چېرې د دوی پر سر، رښتیا هم د امریکا د لورېینې سیوری نه وي او ولس هم پر دې پوه شو، چې دوی یوازې په خپل سر راغلـــي، نو بیا خو د دوی په خپلو اوسنیو کمپاینرانو کې هم په اصطلاح یو سل

و اتیا درجې بدلون راتللای شي. د دوی مثال عیناً لکــه د عبدالســتار سیرت په شان دی، چې له خپل علمیت او سرېتوب سره ســره یــې د جمهوري ریاست پــه تېــرو ټــاکنو کــې د ((لــوی عــالم او د ودانــۍ د سمبول))(!) (جنرال دوستم) پر وړانــدې ســخته ماتــه وخــوړه او لــه سیاسي پلوه یې ((سیرت)) ته سخت زیان ورسید. زموږ په ټولنه کې یو اوسنی ناعادلانه واقعیت دادی، چې اکثره خلک هغه چا پســې ځــي، چې زر و زور ولري، شان و شوکت ولري او خلکو ته همدا اوس د یو څه د ورکړې توان ولري. یوازې علمیت زموږ د ټولنې په اوســنیو شــرایطو کې د قدرت معیار نه دی، د سرېتوب معیار به وي، خو د قدرت معیــار نه دی.

## ۷- تنظیمي کاندیدان:

تنظیمونو بیا اندېوخر جوړ کــړی، خپــل خپــل کاندیــدان یــې هــم ودرولي، خو له نورو قوي کاندیدانو ســره هــم غــوږ جنګــوي، د ارګ دروازې یې هم سترې کړي او بیا لکه د غنمو راشه چې وېشي، د وېش تله یې په لاسو کې ده. دوی کې هم داسې د تورې سړی او کاندید نــه شته، خو مقصد اورېدلي یې دي چې: ((زیارت کې بنداره ده خورې تــه هم په کې راځه...)) نو دې حالت ته چې سړی ګوري، یوه خوا پــه تلــه کې دي کاندیدانو خپل ضمیرونه ایښي او بله خوا امتیازونه، نو د تېــرو تجربو په رڼا کې چې موږ ګورو، د امتیاز په مقابل کې دا ډول ضــمیرونه همېشه مات شوي دي.

## ۸- جبهه يي کانديدان:

نظار شورا،اسلامي جمعيت او پخوانۍ شـــمالټلواله چــې اوس ورتــه ((متحده ملي جبهه)) وايي. په واقعيت کې نه متحده ده او نــه ملــي، دوی تر نورو ټولو کانديدانو، د کانديداتورۍ مارکيټ زيات ګــرم کــړی دی، له نورو کانديدانو څخه يې توپير دادی، چې نــورو اکثــرو ضــعيفو کانديدانو د يوه، دوه يا درېو قوي کانديدانو دروازې ټکولي، خو دوی د ټولو دروازې سترې کړي دي. دوی له هر چا سره دي، خو له هېچا سره نه دي، لکه ازادۍ راډيو کې چې کله کله وايي: ((ازادي راډيو د هر چــا ده، خو د هېچا نه ده.)) او يا هم د ديني متنونو ملايي ژباړه چــې کلــه کله وايي: ((انسان نه دی پيداشوی مګر پيدا شوی دی...)) نو دوی هم، ((له هېچا سره نه دي، خو له هر چا سره دي، يا هم له هرچا ســره دي، خو له هېچا سره نه دي.)) د جبهې منګۍ خو لا هغــه وخــت تصــنعي ښکارېده، چې د بېلابېلو ماتو شويو ډلو او اشخاصو کودړي يې سره په مصنوعي پتري ټينګ کړل او د ((متحدې ملي جبهــې)) پــه نــوم يــې يوسست منګۍ جوړ کړ، چې د يوه ګوزار تاب هم نه لــري. د جبهــې د منګي د ماتېدنې د همدغې وېرې له امله جبهه تراوسه پــر دې نــه ده بريالۍ شوې، چې يو واحد کانديد وړاندې کړي، سره له دې چې له دوو کلونو راهيسې يې په وارو وارو ويلي نن او سبا به خپل کانديد معرفي کړو، خو (( دا نن او سبا)) تر(ننه) راونه رسېدل.

جبهه يان د هغو مداريانو په شان دي، چې له ســهاره تــر غرمــې پورې، خلک ځان سره په دې پلمــه مصــروف ســاتي، چــې زه، مــار او موشخورما په جنګ اچوو، خو په پای کې خپل څادر او کڅوړې راټــول

کړي، خپل مار په کې ورواچوي او خلکو ته وايي: ((خو څه لېونی نه یم، چې دا په جنګ واچوم، زما ګټه خو همــدا ده، چــې تاســې مصــروف وساتم، پیسې درنه راټولې کړم، که دا په جنګ واچوم، نو یو خو ضرور له منځه ځي، نو زه به بله ورځ څــه کــوم؟)) نــو دا جبهــه یــان هــم همداسې دي. دوی وېره لري، پر کومه ورځ چې خپل کاندیــد معرفــي کړي، نو جبهه چې له پخوا څخه هم چندان متحده نــه وه، یــو دم بــه وپاشل شي او خلک به یې له اصلي ماهیته خبر شي، نــو ځکــه خــو متفرق او ځینې ځواکمن غړي یې د هر قوي کاندید په دروازو کې ولاړ دي او د لومړي مرستیال د څوکۍ پر تجارت بوخت دي. په واقعیت کې د جبهې څو مطرحو غړو ټولو همدا مزي ځغلولي دي. کېدی شــي یــو څوک وروسته د جبهې د کاندید په نامه معرفي شي، خو هغــه بــه پــه واقعیت کې د نظار شورا او یا هم اسلامي جمعیت کاندیــد وي؛ پــه دې جبهه کې نورې راټاله شوې نامتجانسې ډلې او افراد به یې ونه مني.

## ۹- متفرقه کاندیدان:

د پورتنیو ډول ډول کاندیدانو ترڅنګ یو شمېر نور کاندیــدان هــم شته، چې د جنس، مذهب او نورو نومونو په شعارولو سره یــې ځانونــه کاندید کړي او یا یې کاندیدوي. دا ټول د کــاذب شــهرت او نامشــروع امتیاز په لټه کې دي، د قوي کاندیدانو په ډله کې نــه راځــي، خــو پــر انتخاباتي فضا پرازیت خپرولای شي.

## ۱۰- اوسنی ولسمشر حامدکرزی:

که حالات همداسې روان وي، د اساسي او قوي کاندیدانو له جملې څخه یو هم اوسنی ولسمشر حامــدکرزی دی. دده تېــرې اووه کلنــۍ

واکمنۍ که څه هم ډېرې نیمګړتیاوې لرلې، خو بریاوې یې هم ډېرې زیاتې وې. د جمهور رئیس په توګه دده د واک دوام هم د انتخاباتو په معادله کې دده وزن زیاتوي. یو تریخ او نا عدالته واقعیت چې اوس زموږ د ټولنې د سیاسي ژوندانه یو منفي دود ګرځېدلی، هغه له مشروع، نامشروع ډلو او اشخاصو سره مثبت یا منفي ایتلاف دی، چې په افغاني ټولنه کې د سیاست لوري ته بدلون ورکولای شي. حامدکرزی په دې ډول ایتلافونو او سازشونو کې تر نورو اوسنیو مطرح کاندیدانو زیاته تجربه لري. دی د نورو کاندیدانو په انډول خپلو ایتلافي ملګرو ته تر حده زیات امتیاز ورکوي، دا کار هم ددې سبب کېدی شي چې د نورو کاندیدانو پر وړاندې دده مټ غښتلی کړي، دا پورته ایتلافونه طبعاً د عدالت پر بنسټ ولاړ نه دي، خو د ټولنې د یوه منفي واقعیت په توګه یې په پام کې نه نیول، د انتخاباتي بهیر نا سمه ارزونه ده.

د پورتنیو مختلف الشکله او متضادو ایتلافونو او ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالي، ولس ته ګڼ شمېر اندېښنې پیدا کړې دي. تر ټولو ستره اندېښنه د همدې ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالی دی، چې د ولس د ذهني پاشنې اونارامۍ سبب ګرځي او هغوی نه شي کولای، تر ټولو غوره کاندید په اسانۍ سره په نښه کړي.

د ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالی به ددې سبب شي، چې ټاکنې احتمالاً دویم پړاو ته وغځول شي او په دې حالت کې به افغانستان له سختو قومي، شخړو، بحرانونو او ملت ضد ایتلافونو سره مخامخ شي، د ګاونډیو هېوادونو لاس به لا را اوږد شي، په ایتلافونو کې به د پیسو نقش او امتیاز لا زیات شي او په نتیجه کې به د ولس رایې په ډول ډول

امتيازونو، رشوتونو او مهارتونو وتروړل شي، داسې يو حکومت به رامنځته شي، چې د ولس به خوښ نه وي، خو د ولس خوښي نظام نوم به ورکول کېږي. دغو تشويشونو ته د حل کومه لاره او يا لارې شته که نه؟

زه فکر کوم چې طبعاً هره ستونزه يوه يا څو حل لارې لري. دا اوسنۍ ستونزه هم حل لارې لري، دلته به يې ځينو ته نغوته وکړم:

## ۱- د اساسي قانون محتويات:

اساسي قانون په خپله دوه شپېتمه ماده کې له محتوايي پلوه، جمهوري رياست ته د کانديد دغه لاندې ځانګړنې په ګوته کړي دي:

((۱- د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونه لري.

۲- د کانديدۍ پر ورځ يې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.

۳- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي...))

دا مشخصات طبعاً اکثره کانديدان او ان عادي افغانان پوره کولای شي. خو ددې مادې دربيمه فقره د غور وړ ده. ايا يو څوک چې: ((د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوي وي..)) هغه به ازاد ګرځي که په زندان کې به وي؟ که چېرې د محکمې په حکم له محکوميت سره سره يو څوک ازاد وګرځي بيا خو دلته نه قانون شته نه حکومت، نو ايا په داسې يوه قانوني خلا کې ، هغه هم ((قانوني ټاکنې)) شوني دي؟ بلـه خبره داده، چې د رواني درې لسيزې سياسي جګړې په بهير کې کوم

غټ جنایتکاران، محکمې په همداسې کوم حکم محکوم کړي؟ له دې څخه معلومېږي، چې دلته هېڅ مجرم او جنایتکار نه شته، نو دا کابل بیا ((پرښتو)) وران کړی او دومره خلکو خپله ځانونه وژلي دي؟ ستره محکمه باید ددې مادې په رڼا کې د کاندیدانو دوسیې وڅېړي او تر هغه وروسته، چې هر کاندید سپین شو، د انتخاباتو کمیسیون ته دې وړاندې کړي.

یوه عجیبه انتیکه خو دا وه، چې د جمهوري ریاست په تېرو ټاکنو کې، چا چې د سترې محکمې ودانۍ په درنو وسلو غلبېل غلبېل کړې وه، نه یوازې قاضي القضات، بلکې عادي قاضیان هم په منظم ډول خپلو دندو ته، د جګړه مارو او جګړو له وېرې نه شو ورتللای، بیا همدې سترې محکمې له همغو ښاغلو څخه سپینې او بېګناه کوترې جوړې کړې او په ټاکنو کې یې ورته د ګډون حق ورکړ. که چېرې ستره محکمه جنایتکارانو ته بیا د ګډون سپین سند ورکړي، نو دا به د افغان ولس پر وړاندې ستره جفا وي او د سترې محکمې رنګ او ماهیت ته به ډېر زیات زیان واړوي. که چېرې د دوه شپېتمې مادې محتوا تطبیق شي، نه د هغې پروسیجر یا کاغذي بهیر، نو پوره باور دی، چې یو شمېر کاندیدان به همدلته راکم شي، که ستره محکمه جرئت وکړي، نو یو شمېر کسان به اصلاً هېڅ ځان کاندید نه کړي. ستره محکمه باید ددې کاندیدانو پر وړاندې، د خلکو له خوا مستندو شواهدو او اسنادو ته هم پام وکړي او کاندیدان تر کاندیدۍ مخکې د خلکو د سمو او ناسمو ادعاوو له مخې وارزوي.

## ۲- د انتخاباتو قانون کې د تخنیکي معیارونو اوچتول:

د انتخاباتو قانون چې په دیارلسو څپرکو کې ولسي جرګې ته وړاندې شوی، تراوسه لا ولسي جرګې تصویب کړی نه دی. په دې قانون کې دې تخنیکي معیارونه یو ځل بیا وارزول شي. دلته کېدی شي دغه څو وړاندیزونه موثر واقع شي.

### الف- د باور کارتونو یا لاسلیکونو د معیار لوړاوی:

د جمهوري ریاست په تېرو انتخاباتو کې د هر کاندید لپاره (لس زره کارتونه) په کار وو، چې کاندید یې باید راټول کړي او د اعتبار په توګه یې د نوماندۍ لپاره وکاروي او هم (پنځوس زره افغانۍ) د تضمین لپاره وې.

د کارتونو شمېر او د پانګې تضمین او د هغو د کچې لوړاوی او ټیټاوی، د اساسي قانون له محتوا سره هېڅ ټکر نه کوي، دا د انتخاباتو د قانون په جزئیاتو کې راځي، د انتخاباتو خپلواک کمیسیون کولای شي دا رقم زیات او کم کړي. اوس چې د کاندیدانو ګڼه او ګونه جوړه ده، نو نه یوازې یې ولس ته ګڼ شمېر ستونزې راولاړې کړي، بلکې خپله د انتخاباتو کمیسیون ته یې هم ستر مشکلات راټوکولي دي. نو که د انتخاباتو کمیسیون، د انتخاباتو په قانون کې یوازې همدغه تضمیني معیارونه لوړ کړي، په یودم به د سلګونو کاندیدانو شمېر لسګونو ته راټیټ شي او له لسګونو به لسو ته او تر هغه به د ګوتو شمار کسانو ته راټیټ شي. دا کار به نه یوازې د انتخاباتو کمیسیون ته کار اسانه کړي، بلکې د ټاکنو په لګښت کې به هم زیات کمی راشي او ولس ته به هم د انتخاب او غوراوي شرایط ډېر اسانه کړي. د یاد وړ

خبره داده، چې د انتخاباتو قانون تراوسه پورې د ملي شورا له خوا هم پاس شوی نه دی، نو دوی کولای شي د تخنیکي معیارونو په برخه کې هر ډول تغیر راولي. د ساري په توګه که چېرې پخوانی معیار (لـس زره کارته) پر ( دوه لکه کارته) واړوي، نو مشکل به سلو کې لسو ته راټیـټ شي، تراوسه پورې د پخوانیو او اوسنیو وټرانو د کارتونو شـمېر پنځـه لس ملیونه کسان اټکل شوی، نو که موږ یې اوسط محاسبه کړو (لـس ملیونه کارته) به شي. (دوه لکه کارته) ددې لسو ملیونو کارتونو په سلو کې ( دوه برخې) جوړوي، نو یو څوک چې له سلو څخه دوه برخې تش باورکارتونه نه شي ترلاسه کولای، نو بیا به (په سلو کې پنځوس جمـع یو) رایې څنګه ترلاسه کړي؟ د باورکارتونو ترلاسه کول ډېر اسانه دي، ځکه چې یو کاندید مخامخ له یو چا څخه کـارت اخلـي او بېرتـه یـې ورکوي. مخامخ څوک، څوک نه خفه کوي، نو که یو څوک چاته د ډېـر کم احترام وړ هم وي، کارت ورکوي، خو رایه بیا بل شـی دی. هلتـه د وټر ضمیر او د کاندید کیفیت او نور ګڼ مسایل رول لري. نو یـو څـوک چې په سلو کې دوه کارته نه شي تر لاسه کولای، نو بیا به په سلو کـې (پنځوس جمع یو) وټونه څنګه ترلاسه کړي؟ دا کـار بـه د ټولـو هغـو کاندیدانو مخه ونیسي، چې څوک دې څوکۍ تـه د نومانـدۍ لیاقـت، ظرفیت او کفایت نـه لـري، یـوازې د ځـاني او دروغجـن شـهرت او نامشروع امتیازونو په لټه کې دي، غواړي له دې انتخاباتي بهیر څخـه ناوړه ګټه پورته کړي او ځان په پنځو کې حساب کړي.

**ب– د مالي تضمین د معیار لوړاوی:** په تېـرو انتخابـاتو کـې د جمهوري ریاست لپاره (پنځوس زره افغانۍ) د تضمین په توګـه ټاکـل

شوې وې. د ولسي جرګې د هر کاندید لپاره (لـس زره افغـانۍ) ټاکـل شوې وې. شرط داو:که د ولسي جرګې هر کاندید د همغـه ولایـت پـه ټاکنوکې د ټولو استعمال شویو رایو له جملې ځخه، په سـلو کـې (دوه رایه) ترلاسه نه کړي، نو لس زره افغانۍ یې ببرته نه ورکول کېږي.

د جمهوري ریاست راتلونکو انتخاباتو کې هم په کار دي، چې داسې یو شرط کېښودل شي. د ساري په توګه: که هر کاندید د ټولو استعمال شویو رایو له مجموعي شمېر ځخه په سلو کې (۵ رایـې) ترلاسـه نـه کړي، نو د انتخاباتو ټول لګښت تقسیم پر ټولو ولاړو کاندیـدانو، د هـر کاندید لپاره چې ځومره لګښت راغی، دا کاندید به یې پرېکوي او یا هم لږ تر لږه هغه لګښت چې له نورمال حالـت پرتـه د زیـاتو کاندیـدانو د ودربېدو له امله پیدا شوی دی، همدا لګښت دې پر کاندیـدانو تقسـیم شي او هر کاندید چې معیار پوره نه کړ، د خپلې برخـې لګښـت بایـد وزغمي.

دلته بیا کېدی شي، د کاذب شهرت او د نورو ډول ډول امتیـازونو غوښتونکي کاندیدان له دې نظر سره مخالفت وکړي او ووایي:(( غریب کاندیدان ددې وس نه لري او دا د ولسواکۍ د اصل مخالف کار دی)) د بشر حقوقو تش په نامه سازمانونه هم کېدی شي له دې طرحـې سـره مخالفت وکړي او د تش په نامه سیاسي او ملي ګوندونو، بې کفایته او نا ملي کاندیدان هم ورسره سخت مخالفـت ښـیي. ددې ډول احتمـالي مخالفتونو پر وړاندې باید وویـل شـي: دا ښـاغلي کاندیـدان، چـې د انتخاباتو د لګښت د لوړاوي سبب ګرځي او په پای کې دا بار د ولس پر اوږو پرېوزي، نو بایده دي، چې د لګښت د ټیټاوي سبب هم شـي. بلـه خبره داده، چې اوس یو ځوک دومره کمزوری دی، چې پـه سـلو کـې

(پنځه) رایې نه شي اخیستلای، نو بیا ولې ټاکنو ته ودرېږي؟ د خپل ځاني شهرت لپاره د ولس د وخت د ضایع کېدو او د انتخاباتو د لګښت لوړاوي سبب ګرځي؟ که چېرې د کاندیدانو دا بهیر سم او مهار نه شي، نو شمېر یې کېدی شي ان تر سلو تنو پورې ورسي او که پورتني وړاندیزونه عملي شي، کېدی شي کاندیدان تر لسو تنو هم زیات نه شي. په دې حالت کې د ووټ کارت لګښت له سلمې برخې څخه لسمې ته راټیټېږي، د صندوقو شمېر، د ټرانسپورت لګښت، د کارت کاروني او کارت شمېر وخت، همدارنګه نور ګڼ لګښتونه تقریباً په سلو کې (۹۰) راټیټېږي، خو که دا خبره عملي نه شوه، پر پورتنیو لګښتونو سربېره د مامورینو د شمېر زیاتون ته هم اړتیا ده او تر ټولو بده یې لا دا چې زموږ لوستو، کم لوستو او نا لوستو خلکو ته به ډېره ګرانه وي، چې په دومره ګڼ شمېر کاندیدانو کې د خپلې خوښې کاندید غوره کړي او تېروتنه په کې ونه کړي. ددغو ټولو ستونزو اصلي مسولین همغه کاندیدان دي، چې څوک یې په کلي کې نه پېژني، خو دی د ټول هېواد د مشرتوب دعوه کوي. بل په مالي تضمین کې خو څه حقوقي نقیصه ځکه نه شته، چې دا د چا دکاندیدۍ حقوق نه سلبوي، که چېرې کاندید په سلو کې تر پنځو زیاتې رایې وګټلې نو مالي تضمین خو یې هسې هم نه سوزي، نو بیا یې مخالفت ته څه حاجت دی؟ که هر څوک له دې طرحې سره مخالفت کوي، نو له ورایه معلومېږي، چې دی پر ځان باوري نه دی، چې په سلو کې پنځمه برخه رایې به وګټي او که ګټلای یې شي، نو بیا خو یې طبعاً مخالفت هم نه کوي. ددې مالي تضمین ترڅنګ نور تضمینونه هم کېدی شي په دې برخه کې موثر

تمام شي، خو دا دوه تضمینه: یو د (دوه لکو کارتونو) راټولول او پر هــر شوي کاندید کېدونکی انتخاباتي لګښت، ډېر ځرګند دي.

۳- د مخورو او پوهانو منځګړتوب: د کاندیدانو د کمولو یوه بله لاره چاره داده، چې یو شمېر نېک، ناپېیلي مخور اشــخاص او پوهــان سره په خپل منځ کې جرګه شي او له بېلابېلو کاندیدانو سره وګوري او دسلا مشورې له لارې ځینې یې له خپل کاندیدی تېــر کــړي، دا کــار کېدی شي یو څه تاثیر ولري، خو ډېر تاثیر به ځکه نه لــري، چــې تــر اوسه لا اکثره کاندیدان د خپل غرور پر نیلي سواره دي. کــه څــه هــم همدا اوس یو شمېر لیکوال او پوهان له ځینو کاندیدانوسره پــر خبــر اترو بوخت دي، چې هغوی له خپلې کاندیدی منصرف کړي، خو هر یو سره چې ناست دي، ټول من دي، نیم منی په کې نه شته، هر یو همدا خبره کوي: چې ما شا وخوا وکتل، داسې د کار سړی مې ونه لیــد، نــو ځکه مجبور شوم، ځان مې کاندید کړ، زه پر نورو یو څــه خــوبی لــرم، عقل و پوهه لرم، بهرنیان مې پېژني، داخل کې محبوبیت لرم، قربــاني مې ورکړې، سیاسي پوهه لرم، تر نورو یو څه زیات پوهېږم، له هر قــوم سره تماس لرم او سل نورې ځانګړنې به ځان پــورې وتــړي، دې ســره سره وایي: خوبیا هم زه ستاسو مخورو پوهانو خبرې شاته نه غورځوم، تاسې لاړ شئ! نورو کاندیدانو سره هم خبرې وکړئ، که تر ما مــو بــل غوره ، پوه، هوښیار او لایقه کاندید پیدا کړ، داسې کاندید، چې داخــل او خارج کې یې خلک ملاتړ وکړي، نو بیا به زه هغــه تــه، ستاســو پــه غوښتنه تېر شم،خو که تر نورو زه هوښیار او په سیاسي مســایلو پــوه یم، بهر او داخل کې هم ملاتړ لرم، نو به بیا دا ډېره بې انصافي وي، چې تاسې ماته وایئ، چې ته تېر شه او هغه ته وایئ چې مه تېرېږه!

په دې باب ماته يوه کيسه رایاده شوه: د ولسي جرګې لپاره په تېرو ټاکنو کې په یو ولایت کې همداسې یو څوک کاندید و، چــې د زور پــر اس سور و،خو له عقل او منطقه پلی و، د لیک لوست له نعمت سره یې هم جوړه نه وه، پر خلکو یې د خپلې واکمنۍ یوه توره او جاهلانه دوره هم تېره کړې وه. د کمپاین پر وخت  یې د خپلې سیمې او خپل ټبر ګڼ خلک  هم راټول کړي وو، ډېر پسونه یې حلال کړي وو او خلکو ته یــې ښه ډوډۍ تیاره کړې وه، کله چې د سټیج سر ته پورته شو، نو خلکو ته یې وویل: (( او خلکو تاسو ته وایم، ښه پوه شئ، زه کاندید یم پارلمــان ته! نو اوس تاسې ته وایم دلته هر سړی ولاړ دی، تاسې خــو پــوهېږئ، چې زه هم مجاهد یم، قومي سړی هم یم، تر نورو هم زیات پــوهېږم، دا ځایونه ټول راته معلوم دي، تر نورو هوښیار هم یم، خو بیا هم که تاسو تر ما دلته بل هوښیار پیدا کړ، چې هم مجاهد وي، هم ښه ســړی وي، هم تر ما هوښیار وي، نو تاسې هغه ته رایه ورکړئ او که نه، چې زه خــو هم مجاهدیم او ستاسې خپل سړی یم، هم پوهېږم، نو بیا خو  باید ماته رایه راکړئ!)) د غونډې په برخوالو کې یو سپین ږیري مخــور لــه یــوه ګوټه  ګوته ورته کړه،  ویې ویل: (( حاجي صېب قومانــدان صــېب!  دا خبره خو مور نه شو کولای، چې په دې ولایت کې به تر تا بل هوښــیار سړی وي، خو خدای دې بیخ د هغه سړي وباسي، چې  پــه دې ولایــت کې  اوسېږي او تر تا کم عقل وي))، نو دې کاندیــدانو اکثــرو تــه هــم دغسې ځواب په کار دی: خو په هر ترتیب،د ټاکنو کمیســیون کــولای

شي، نورې متبادلې لارې هم وڅېړي چې د کانديدانو شمېر راکم کړي او زموږ ولس د دروغجنو کانديدانو له دې غالمغــال او جنجــال څخــه خلاص کړي. د ګڼو کانديدانو شتوالی نه يوازې ولس او عامه شتمنۍ ته يو ستر جنجال دی، بلکې د قوي کانديدانو رنګه هــم پيکــه کــوي، د هغوی مخې ته هم تيرې تولوي، رسنۍ هم په خپلو الفــاظو ککــړوي، د ښه او بد، قوي او ضعيف کانديد توپير ګرانــوي، دا ډول کانديــدان کــه چېرې په وروستيو شېبو د کوم قوي کانديد په ګټــه تېرېــږي، نــو لــه هغوی څخه هم بيا ډېــر نــاوړه نامشــروع امتيازونــه غــواړي. د قــوي کانديدانو د ناکامۍ په حالت کې به قــوي کانديــدان د هغــوی شــوي اقتصادي لګښتونه پرې کوي او د برياليتوب په حالت کې به له بريــالي کانديد څخه د زياتو هغو دولتي پوستونو ورکــړه غــواړي، چــې قــوي کانديد ته به يې هم ورکړه په ګرانه او د ولس د حق د ســلبېدوپه بيــه تمامېږي.

په هر حال د ګڼو کانديدانو شتوالی په هېڅ ډول هېواد ته په ګټه نه دی، د ولسواکۍ تمثيل نه دی، بلکې پر ولســواکۍ يــو ډول ريشــخند وهل دي. دا کار د ولس د ذهني انارشۍ سبب ګرځي، په ســيمه ييــزه کچه د دښمنۍ او نفاق يو لامل کېږي، د انتخاباتو لګښت څــو برابــره لوړوي. بل پړاو ته د ټاکنو د وړلو سبب ګرځــي او پــه لســګونو نــورې ناروغۍ راټوکوي. همدغو ستونزو ته په پام سره داسې ګڼ شمېر دلايل، چې هغه وڅېړل شي او تخنيکي دلايلو اونورو قانوني لارو چــارو پــر

بنسټ پرې د نوماندانو شمېر راکم شي، تر دې حده چې په یو مناسب او واړه کارت کې ټول قوي کاندیدان ولس ته وړاندې شي. په دې لـړۍ کې کېدی شي نورې ګنې لیکنې هم وشي، زه هیلــه مــن یــم د نظـر خاوندان او ملتپال افغانان زما دا وړاندیز پوره او کره کــړي او پــه هــر اړخیز ډول یې وڅېړي. د انتخاباتو له خپلواک کمیسیون څخه هیلــه لرم، چې د رښو، عادلانه انتخاباتو د ترسره کولو لپاره هلې ځلې وکړي او د ګڼو کاندیدانو له اسارته او ناوړه مهارته هم خپل ځــان او هــم زمــوږ ولس وژغوري او د کاندیدانو پر دې اوسني ګرم مارکیټ د منطق سړې اوبه تویې کړي.

# مقابله که مفاهمه؟

# مناظره که محاسبه؟

دا لیکنه د جمهوري ریاست د ټاکنو پر مهال د ښاغلي (حامدکرزي) او ښاغلي (ډاکټر اشرف غني احمدزي) د یووالي په باب لیکل شوې ده.

له هغې ورځې چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست د ټاکنو موضوع مطرح شوه، نو ګڼ شمېر ملتپالو افغانانو سره د کاندیدانو د تعدد او ډېرښت په باب اندېښنه پیدا شوه او اوس هم دا اندېښنه شته، ما هم خپله اندېښنه او د نوماندانو له تعدد څخه راټوکېدونکي خطرونه، اقتصادي او ټولنیز زیانونه په نورو لیکنو کې په ګوته کړي، نه غواړم بیا پرې بحث وکړم. هره سیاسي او ټولنیزه لیکنه د خپل زمان، مکان او شرایطو محصول ده. اوس چې کومه لیکنه کوم تر ټاکنو وروسته خپل دا اوسنی ارزښت له لاسه ورکوي.

( د کاندیدانو مارکیټ) لیکنه کې زما هدف دا و، چې د کاندیدانو د تعدد مخه ونیسو او (لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم) لیکنه کې مې موخه دا وه، له هرې ممکنې لارې چې وي، باید ښاغلی کرزی په دې قانع کړو، چې د مرستیال په توګه د ښاغلي فهیم خان غوراوی خپله ده او زموږ ټول ملت ته په تاوان دی، خو زموږ مخامخ خبرو، لیکنو او ویناوو د هغه خطر مخه ونه شوه نیولای او نږدې شل ورځې وروسته کرزي صیب له هرې وجې چې وه خپله پرېکړه وکړه. ما د یو افغان په

توګه خپله وروستۍ وسه وکړه او خپل وجداني مسئولیت مې رفع کړ او اوس روحاً ځکه ارام یم، څه چې مې په وس کې و هغه مې تر وروستي بریده استعمال کړل. تر هغه وروسته په دې فکر کې وم چې ددې اوسني ترکیب پر وړاندې بل ( ښه او ګټونکی) بدیل کوم دی؟ (ښه او ګټونکی بدیل) په دې خاطر قیدوم چې که یو بدیل (ښه) هم وي، خو چې د ګټلو قابلیت ونه لري، له سیاسي محاسبې وځي. په همدې سوچ کې وم، له ډېرو نیمګړتیاوو سره سره یو نسبتاً (ښه بدیل) پیدا شو، خو د ګټنې چانس یې ډېر کم او یا هم په نشت حساب و، پر همدې وخت یو بل خطرناک بدیل څرګند شو؛ شمالټلواله او د هغې اساسي زړي (نظار شورا) چې د فهیم خان په وجود کې یې د جمهور رئیس د لومړي معاونیت پوست تضمین او له دې لارې یې خپل سیاسي حیات خوندي کړ،تر دې لا د لوړ امتیاز په لټه کې شوه. د ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله په وجود کې یې یو نوی ترکیب جوړ او د جمهوري ریاست لپاره یې کاندید کړ. د اسلامي جمعیت، نظار شورا، ټول ماهیت او محتوا او همدارنګه د ستم او پرچم ډلې اساسي ارکان یې تر شا ودرېدل. پر دې وخت بیا یوې دقیقې محاسبې ته اړ شو، چې اوس څه کول په کار دي؟ درې حالته وو: تر اوسني حالته د ښه حالت د بریالیتوب چانس ډېر کم دی، اوسني حالت ته دوام ورکوو؟ که تر دې بدتر حالت ته غاړه ږدو؟ په دې درېو حالتونو کې بیاهم همدا دوه او اساسي حالتونه ډېر مطرح وو او اساسي مقابله هم د همدې دوو ترمنځ وه.

یو ځل مې بیا د افغانستان ټولې لاسلرې احصایې، د تېرو انتخاباتو نتیجې، په هر ولایت کې د وټرانو شمېر، د انتخاباتو کمیسیون وروستۍ

شمېرنې، نا امنه ولسوالۍ، له حکومته د ګڼ شمېر خلکو نا رضایي، پــه انتخاباتو کې د حکومت د معــادلې رول، پــه دې ټــاکنو کــې د افغــان مهاجرینو نه ګډون، اوسنۍ خپلپاله او پردیپالــه میــډیا، د کاندیــدانو اقتصادي او تخنیکي امکانات، له انتخاباتو سره د یو شمېر پښتنو بــې تفاوتي، په پښتنو کې د یو منظم سیاسي سیستم نشتوالی، پښتنو تــه د ګاونډیو هېوادونو نیتونــه، د کاندیــدانو اوســېله، منطــق، د پښــتنو کاندیدانو د شمېر زیاتون، د حامدکرزي پر وړاندې د کــورنۍ او بهرنــۍ میډیا چلند، د پردې پر مخ او د پردې ترشا د بهرنیو سیاســي اســتازو نظرونه او نور ګڼ شمېر عوامل او دلایل مې یو یو د ریاضي او اجتماعي منطق او اوسني سیاسي واقعیت په فورمولونو کې واچول، ښه مې چاڼ کړل، نتیجه همدا شوه چې اوس هم موږ ددې وس نه لرو چې یــو ښــه ایډیال حالت او یا لږ تر لږه تر دې اوسني حالت ښــه حالــت، بــري تــه ورسوو، خو که لږ تر لږه همدا حالت هم وساتو تر هغه بل لوی خطره به مو ولس بچ کړی وي، چې تراوسه لا راغلی نه دی او که مخه یــې ونــه نیول شي، نو د بري ټینګ احتمال یــې شــته. خپلــه ډاکتــر عبــدالله عبدالله او د هغه تر شا چې کوم ټیم او سیستم کار کوي، هغوی د وینــا او عمل له مخې په افغانستان کې د اساسي بدلون غوښتونکي دي. په نظام کې د ((اساسي تغیراتو)) په مانا هغه څوک ښه پوهېږي چې شــل کاله یې د نظار شورا او ستم ګروپ پر ضد مخــامخ او شــعوري مبــارزه کړې وي. که ډاکتر عبدالله د انتخاباتو تر چتر او ماسک لاندې پــر دې ولس واکمن شو، نو هغه لوبې به پر دې ولس او په تېره بیا پــر پښــتنو وکړي، چې تېر تاریخ کې، شوي جنایتونه به هم درته د حیرت ګوته په غاښ کړي. هغه ډله چې د افغان او افغانستان له نامه سره حساســیت

لري، د هغې د حاکمیت تصویر به څه ډول وي؟ ددې ډلې هدفونــه پــه ترتیب سره دادي: لومړی پر پارلماني نظام د ریاستي نظام بدلون، دویم پړاو کې له پارلماني نظام څخه د فدرالي نظام پر لــوري حرکــت او پــه وروستۍ نتیجه کې د افغانستان تجزیه. ددې ډلې د نېتونو او عملونــو په باب ډېر اوږده بحثونه کېدی شي، خــو دې لیکنــه کــې ټــول هغــه مسایل نه شي راټولېدلای. اوس راځو دې ته چې د ښاغلي کــرزي لــه خوا ښاغلي فهیم خان ته له دومره غټ امتیاز سره سره بیا هم ډاکتــر عبدالله ولې ځان کاندید کړ؟ دې خبرې ته مې مخکې هم اشاره وکــړه، خو ددوی محاسبه داده، چې په یو شمېر پښتون مېشــته ولایتونــو او زیات شمېر ولسوالیو کې جګړه روانه ده، نو دا کــار پــه ټــاکنو کــې د پښتنو طبیعي اکثریت زیانمنوي، د پښتون نسبه کاندیدانو شمېر هــم ددې سبب کېږي، چې د پښتنو رایې ووېشل شي، په انتخابــاتو کــې د کلتوري ستونزو له امله د پښتنو ښځو کم ګډون هــم دوی تــه هیلــه پیداکوي. په ځینو سیمو کې د پیسو بې دریغــه اســتعمال، پــه ځینــو سیمو کې په ټاکنو کې درغلي او په ځینــو نــورو کــې د زور اســتعمال ددوی هوسونو ته هوا ورکوي. همدارنګه په ټاکنو کې لــه دوی ســره د ایران، پاکستان او ځینو نورو هېوادونو پټې او ښکاره مرستې د دوی په فکر، ددې سبب کېږي چې دوی به ټاکنې وګټي. فهیم خان او نور هغه جمعیتیان چې په حکومت کې دي دوی ټول خپل منځ کې تفاهم لري، ددې زیات شواهد شته چې  اکثریت دولتي جمعیتیان همــدا اوس پــه زغرده ډاکترعبدالله ته کمپاین کوي. فهیم خان تراوسه پورې یوه خبره هم د ډاکترعبدالله پر ضد نه ده کړې، دوی فکر کوي چې کــه چېــرې کرزی صیب بریالی شو، بیا به اکثریــت جمعیتیــان او نظــار شــورا والا

دفهیم خان د زور له امله په حکومت کې خوندي پــاتې شــي او فهــیم خان به هم په دې پلمه نور جمعیتیان او د خپلــې ســیمې خلــک پــه حکومت کې ځای پر ځای کړي، چې ده خــو ګنــې کــرزي صــیب تــه کمپاین کړی او ډاکتر عبدالله به د زیاتو رایو په لرلو سره د اپوزېشــن د مشر په توګه د مخالف د ((حیثیت او محتوا)) د ممثل په توګــه خپــل ځان تثبیت کړي. په دې ډول به د تېرو پنځو کلونو په شان د حاکمیت زیاته برخه او هم څرګند سیاسي اپوزېشن د دوی لاس ته ورشي او لــه دواړو امتیازونو څخه به برخمن شي. دا هغه حالت دی چې دوی بــه د ((مبارزینو)) په توګه څرګند شي او هېڅ ډول زیان به ورته نه رسېږي، یانې په اصطلاح په ژوندوني به هم غازیان وي هم به شهیدان او هم به ژوندي ګرځي؛ له ښو امتیازاتو به برخمن وي. که چېرې ډاکتر عبــدالله بریالی شو، نو فهیم خان به ورسره د یو ستر مشاور او یا هم د دفــاع د وزیر په توګه په لوړ مقام کې ځای ولري او ټول به په ګډه هغــه پلانونــه تطبیقوي، چې په زړونو کې یې ګرځي. دوی ټول ددې وس لري چې له سهاره تر مازیګره خپلې ټولې تاکتیکي خوابدۍ سره هېــرې او تېــرې کړي، دوی که نه خلکي شته نه ستمي، نه اخواني شته، نه پرچمي، نــه طالب شته او نه دا او نه هغه، خو اوس خپل حال ته ګورو چې مــوږ پــر څومره ډول ډول ناروغیو اخته یو: هم ((حاکم)) یو هم محکوم یو، هــم ((قاتل)) یو، هم مقتول او سل نور مرضونه چې ضرور نه دي ټــول یــې دلته یاد کړو. د دوی روښنفکر او لیکوال به هېڅکله د ډاکتر عبدالله، رباني، مسعود او ان ببرک کارمل سپکه ونه وایي، خو زموږ ((لیکوالو)) د دې هېواد تر ټولو هغو شعوري شخصیتونو پسې قلمونه تېره کــړي او هغه څه ورپسې لیکي چې که دوی ته ووایې مهرباني وکــړه، همدغــه

لیکنه دې په یو محفل کې په خپله خوله ولوله، نو دی به یې خپله هم د سپوره او کرکجنو الفاظو له امله ونه شي لوستلای، نو په دغسې یو حالت کې چې له هرې خوا د تیارو د غشو بارانونه وي، د رڼا پر لوري د لارې ایستل اسانه کار نه دی. څو څو ځله مې جمهور رئیس ته دا مفهوم د خبرو او لیکنو له لارې ورسولای، چې تېره تجربه باید تکرار نه شي، د جمهوري ریاست معاونیتونه باید د قومیت د اصل له مخې ونه وېشل شي، لیاقت باید په پام کې ونیول شي او که احیاناً قومیت په پام کې نیول کېږي، نو لیاقت او کفایت دې هم ورسره مل شي او حتمي نه ده، چې همدا قراردادي څېرې او سیمې چې کلیشه شوي دي، همدا دې وي. دا داسې څېرې دي چې هم یې تاسو او هم یې ستاسو پلویان دې ولس ته سپینولای نه شي. ما دا خبره هم ورسولې چې پرته له هغې هم په هلمند، کندهار او ځینو نورو ولایتونو کې تر لسو زیاتې ولسوالۍ د حکومت په ولکه کې نه دي، یو پنجشېر دې هم نه وي، ددې سیمې ټول نفوس د ټول هېواد په کچه (۰،۳) دی چې دا پر انتخاباتو کوم خاص اغېز نه لري، که ته ترې څوک د مرستیال په توګه هم راولې، بیایې هم رایه خپل بل کاندید ته ځي، ځکه دوی سره داسې یو فکر دی، چې څه معاونیت خو خوندي شو، اوس راځه د جمهوري ریاست لپاره کار وکړه، خو زما وړاندیزونه یوازې د یو نظر او وړاندیز په توګه پاتې شول.

زه د هغو کسانو له جملې څخه نه یم چې یوه فرضیه یوازې له یوه اړخه مطالعه کوي او یا یوازې د یوه بدیل په فکر کې وي او که هغه ونه شو، نو بیا لاس تر زنې کېني. اوس زما وړاندوینه داده، چې که چېرې ټاکنې ترسره شي او له ټاکنو پرته پر کوم بل بدیل غور ونه شي، نو دوه

کاندیدان به سرته وځي: یو (ښاغلی حامدکرزی) او بل (ښاغلی ډاکتـر عبدالله عبدالله) دی. یا به ټاکنې لومړي پړاو کې نتیجه ورکړي او یا بـه هم دویم پړاو ته ځي، په دې دواړو حالتونو کې به همدا دوه کاندیـدان مطرح وي. دا چې ولې دا دواړه کاندیدان تر نورو زیـات مطـرح دي، د نورو علتونو ترڅنګ ددې یو علت دادی چې دواړه په حکومت او دولت کې شریک دي. واقعیت خو دادی چې د ټول حکومت نیمایي برخـه د ښاغلي کرزي او د هغه د پلویانو پـه لاس کـې ده او د حکومـت نـوره نیمایي برخه چې قهریه قوه هم په کې شامله ده، د اسلامي جمعیت او د ډاکتر عبدالله د پلویانو په لاس کې ده.

ټاکنو کې دولتي، اقتصادي او قـومي عنصـر ډېـر رول لـري، دواړه کاندیدان له دې عناصرو برخمن دي. د ایران د بې دریغه مرستو له امله د ډاکتر عبدالله اقتصادي بېلانس د کرزي صیب په اندول قوي دی، خو د ډاکتر عبدالله ډېره بده پخوانۍ سابقه په عامه افغاني ټولنه کې د هغه د بریالیتوب کمزوری کوي؛ یو زیات شمېر پښتانه لـه ډاکتـر عبـدالله څخه د هغه د پخواني چلند له امله یا پـه خپلـه خوښـه او یـا هـم د مجبوریت له مخې د ښاغلي کرزي ملاتړ کوي، یو شمېر نورو اقلیتونـو ته د زیاتو امتیازاتو د ورکړې له امله، هغوی هم د کرزي ننګـه کـوي او که دا وفاداري یې تر پایه پاتې شوه، نو په لومړي پـړاو کـې د کـرزي د ګټنې چانس ممکنوي. په مقابل کې ډاکتر عبدالله په پښـتون مېشـته سیمو کې له نارامیو څخه خوند اخلي او ګټه پورتـه کـوي، د کـرزي د ووټ په طبیعي ساحه کې دا ستونزې د هغه رایې راکموي. د اسـلامي جمعیت ځینې قانوني او نا قانونـه وسـله وال ګروپونـه پـه پښـتون مېشته سیمو کې نارامیو ته په شعوري ډول لمن وهي او ځینو اشخاصو

ته د پیسو د ورکړې له لارې غواړي د کرزي رایې راکمې کـړي. د نظـار شورا ټوله پاملرنه اوس کرزي ته متوجه ده، له ښـاغلي ډاکتـر اشـرف غني سره اوس کار نه لري، ان د هغه له قوت او مرکو څخه خوند اخلي، ځکه چې خپل اصلي رقیب یې نه ګڼي، خو که احیاناً د ښاغلي ډاکتـر اشرف غني احتمال تر کرزي صیب زیات وای، نو بیا یې ټـول کمپـاین همغې خواته متوجه کاوه، دوی یو ځل بیا له هغه چلند څخه کار اخلي چې طالبان یې د اسلامي حزب پر وړاندې تقویه کول. کله چې طالبـانو اسلامي حزب له چهاراسیاب څخه پورته کړ، نو دوی بیا پر طالبانو برید وکړ، هلته د طالبانو عقل سرته راغی چې نه اساسي دښمن بل څـوک دی. اوس که نظار شورا اشرف غني سره کوم مستقیم کومک نه کوي، خو د اشرف غني له هغه قوت، قهر، مهارت او لیاقت څخه چې د کرزي پر وړاندې یې څرګندوي، سخت خوند اخلي او دواړه د یوه ګډ رقیب پر وړاندې په ((مناظره)) کې د ګډون لېوالتیا لري. په داسې حال کې چې همدا نظار شورا او اسلامي جمعیت وو چې پر کـرزي د زیـات ناقانونـه فشار له امله، له سیاسي او دولتي ډګر څخه د ډاکتـر اشـرف غنـي د ګوښه کولو سبب شول، ځکه اشرف غني ددې عامل ګرځېدلی و، چې په دولت کې د نظار شورا په خاص ډول د ((مارشـال)) فهـیم خـان د ناقانونه مالي امتیازاتو او غوښتنو مخنیوی وکړي. هغه وخت مـا د یـو افغان په توګه، هم د یوې ځانګړې لیکنې او هم د بي بي سـي او نـورو راډیوګانو له لارې خپل غږ اوچت کړ او ومې ویل چـې ښـاغلی ډاکتـر اشرف غني (( د خپـل لیاقـت قربـاني شـو)) او دی مـې یـو ((سـتر ریفورمیست)) وګاڼه، سره له دې چې نه هغه وخت زه د ډاکتر اشـرف غني د سیاسي او اجتماعي کرکتر پلوي وم او نه هم اوس یم. خـو دده

د خپل لیاقت او کفایت له مخې او په هېواد کې د اقتصادي سمون لــه امله ورته هر وخت درناوی لرم. زه پر دې هم پوهېږم چې نظار شــورا او نورې افغان دښمنې ډلې د ښاغلي کرزي په انډول ډاکتر اشرف غني ته په ډېر کرکجن نظر ګوري، خو څرنګه چې د واک د اوسنۍ معــادلې لــه مخې په اوسنیو ټاکنو کې د کرزي په انــډول د ډاکتــر اشــرف غنــي د بریالیتوب احتمال کم دی، نو ځکه یې اوس د خپل لومړي رقیــب پــه توګه نه محاسبه کوي. خو له دې ټولو ویلو او نا ویلو ستونزو، کړلېچونو او ابهاماتو سره سره ایا د ملي او شعوري مبــارزې د بــري لپــاره کــوم چانس او څرک هم شته که نه لاس تر زنې کېناستل په کار دي؟

زه خو فکر کم چې ربښتیني او شعوري مبارزین همغه دي، چــې پــه سختو حالاتو او ابهاماتو کې د سمې لارې څرک پیدا کــړي. اوس هــم حل لارې شته چې که دقت ورته وکړو او په ټینګه ورته مبارزه وکړو، نو خپل ولس له دې بحرانه راایستلای شو. زما په نظر کېدی شي څو حل لارې یې دا وي:

۱- که انتخابات وشي، نو د اوسنیو امکاناتو، شواهدو او محاسبو لــه مخې د ښاغلي حامدکرزي او د ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله له جملې څخه به یو د ټاکنو په اول یا هم په دویم پړاو کې بریالی کېږي.

۲- که ډاکتر عبدالله بریالی شي، نو د زیان اټکل یې همدا اوس مــوږ کولای شو، په تېره بیا پښتنو ته، نو په کار دي، چې په هــر ترتیــب وي مخه یې ونیول شي.

ځینې کسان کله کله په خپلو خبرو کې وایي، چې تر کرزي عبــدالله ځکه ښه دی چې مخامخ دښمن دی چې څه کوي مقابلــه بــه ورســره کوو، دی بیا زموږ حقوق نه شي خوړلای! دا هغــه ضــعیفه منطــق دی،

چې باید ژر یې علاج وشي، دې ښاغلو ته باید وویل شي، هغــه وخــت چې دوی په واک کې وو، تاسې یې څه مخه ونیولــه چــې بیــا بــه یــې ونیسئ، هغه وخت لا د دوی پر وړاندې ځینو نورو مخــالفو تنظیمونــو سره وسله هم وه، جګړه پیل شوه، دوی یې د خپلو پلانونو تطبیق تــه پرېنښودل، خو بیا هم یې دې ملت ته دومره زیان واړوه چې بیا جوړونه یې کلونه کلونه وخت غواړي.

بله خبره داده چې یو ځل دوی د انتخاباتو د قانونیت تر چتر لانــدې بریالي شول، بیا خو دوی په پنځو کلونو کې په اقتصــادي، سیاســي او کلتوري برخه کې دومره ځان رسوي، چې بیا یې د لسیزو په اوږدو کې هم مقابله نه شي کولای. هغه مهال که په پښــتنو کــې څــوک د دوی وسلوال مخالفت تــه هــم راودانګــي، نــو دوی دا مخــالفین د بهرنیــو ځواکونو په زور ځپي او که پښتانه روښــنفکران یــې مخالفــت کــوي، هغوی به د ډیموکراسۍ د اصولو خلاف ګڼــي، ځکــه چــې د انتخــابي حکومت پر وړاندې ودرېدلي، یو نیم بل مخالف لیکوال او روښنفکر بــه په کلي ولس کې د نشنلیست او افغان ملتي په نوم په خپله د پښــتنو مذهبي ډلو له خوا له منځه وړي، ځکــه چــې پــر دې حکومــت بــه د مجاهدینو د حکومت ماسک هم غوړېدلی وي. پښتون لیکوال بــه پــه (مستعار) نامه د لیکنې جرئت هم له لاسه ورکړي، ځکه چــې کــه بــل ((پښتون لیکوال)) ته یې پیسې  ورکړې، نو هغه به یې د مستعار نامــه کیلي او رمز ور خلاصوي او ورته وایي به چې دا لیکنې پلانکــي کــړي، ګورئ ورته ښه ویښ شئ! موږ ټول پښتانه خو داسې نه یو!! دا یــو څــو تنه دي چې دې ((تعصب)) ته لمن وهي. دا هغه تجربې دي چې پخــوا تېرې شوي او بیا باید ورته زمینه برابره نه کړو.

۳- که کرزی صیب بریالی شو، نو درې احتماله دي: ۱- یا به پښتانه په همدې حالت کې وي، ۲- یا به تر دې لږ ښه شي ۳- او یا به تر دې لږ نور هم خراب شي. خو په ټــولیز ډول سیاســي واک هغــه حالــت تــه هېڅکله نه ځي، چې د ډاکتر عبدالله د واکمنۍ پــر مهــال یــې اټکــل کېږي. خو ایا د کرزي صیب د واکمنۍ دا درې حالته پر یو ښــه حالــت بدلېدی شي که نه؟ دا هغه پوښتنه ده چې ســم ځوابونــه بایــد ورتــه ورکړل شي، یو څو ځوابونه یې دادي:

۴- د ښاغلي حامدکرزي او ښاغلي ډاکتر اشرف غني مفاهمــه: کــه چېرې په اوسنیو انتخاباتو کې مقابله یوازې د ښاغلي کرزي او ښاغلي غني ترمنځ وای او درېیمګړي قوت ته په کې د بریــالیتوب چــانس نــه وای، نو بیا نو موږ هېڅ ډول تشویش نه درلود، کېدی شي زما شخصــي دریځ هم بل ډول وای. سره له دې چې پر کاندیدانو او د هغو پر پلویانو دا خبره د غشي په شان سخته لګېږي، چې د واقعیت له مخــې ورتــه ووایي چې ستا رایې د هغه بل په انډول کمې دي، خو زه او زما په شان نور افغانان چې د ملي ګټو پر وړاندې د کاندیدانو خیال نه ساتو، د ګڼو دلایلو له مخې وایم چې د ښاغلي کرزي او ښاغلي عبدالله په انــډول د ښاغلي غني رایې کمې دي. د رایو په باب زما محاســبه همداســې ده، خو د لیاقت او کفایت په باب زما قضاوت بیا معکوس دی. څرنګه چــې په ټاکنو کې رایې تلل کېږي او محاسبه کېږي، نه لیاقــت. لیاقــت یــو کیفیت دی او د رایو شمېر یو کمیت دی. ټاکنې داسې یــو حالــت دی چې کمیت په کې ګټونکی ګڼل کېږي، که څه هم دا کمیــت ناعادلانــه وي، ښه حالت هماغه دی چې کیفیت او کمیت دواړو بریالی شــي، نــو ځکه زموږ وړاندیز دا دی چې ښاغلی غني باید ښــاغلي کــرزي ســره

بشپړ تفاهم ته ورسېږي. دلته یو پوښتنه مطرح کېږي، چې په دې تفاهم کې دې کرزی د غني او که غني د کرزي په ګټه تېر شي؟ لکه څنګه چې دمخه مو وویل د قدرت په اوسنۍ معادله کې د دولت ځواک اساسي نقش لري او دولت هم پنځوس په سلو کې د کرزي صیب او پنځوس په سل کې د هغه د نورو مخالفو ائیتلافینو په تېره بیا د اسلامي جمعیت په لاس کې دی، چې نېغ په نېغه د ډاکتر عبدالله ملاتړ کوي. نو که کرزی صیب د غني صیب په ګټه تېر هم شي، ډېره ګټه به یې ډاکتر عبدالله ته ورسي، ځکه چې ددې پاتې دولتي ځواک اکثره برخه به هم د خپلو مقامونو د خوندیتابه لپاره د ډاکتر عبدالله پلوي وکړي، په دې ډول به د دولت ډېره زیاته برخه د ډاکتر عبدالله پلویان شي او دا کار به د اشرف غني د بري چانس چې اوس له دولتي ځواکه او نورو زیاتو اقتصادي امکاناتو بې برخې دی، لا پسې کمزوری کړي. هغه ډلې ټپلې به هم د ډاکتر عبدالله خواته تمایل پیدا کړي، چې عادلانه نه دي، خو موثرې دي او کرزي صیب د زیاتو امتیازاتو په ورکړه له ځان سره مل کړې دي، هغوی د اشرف غني له قاطع کرکتر سره هېڅکله روغه جوړه نه شي کولای. دغه راز کرزی صیب به هم د دولتي مقام په پام کې نیولو سره هغه وخت د دې وس پیدا نه کړي چې له داسې مقام څخه د یوه مشخص کاندید په ګټه علني کمپاین وکړي، که په پښتون مېشته ولایتونو کې امن وای، بیا هم د اشرف غني د بري چانس لوړېده او یا هم نړیوال په بشپړ او څرګند ډول د غني صیب تر شا ولاړ وای. د ښاغلي غني یو شمېر پلویان هغه ته داسې انتباع ورکوي، چې کېدی شي، ټاکنې دویم پړاو ته پاتې شي، په دې پړاو کې به اشرف غني حتمي مطرح وي، بل کاندید به یا کرزی

صیب وي یا ډاکټر صیب عبدالله ، له دی دوو به یو وي، نو پــه دې ډول به د اشرف غني د ګټنې چانس برابر شي. د دوی پټ او څرګند منطــق دا دی، چې له کرزي صیب څخه یو زیات شمېر پښتانه خوابــدي دي، که د کرزي صیب او اشرف غني مقابله وي، نو زیات شمېر پښتانه بــه ډاکټر اشرف غني ته رایه وکړي او یا که همدارنګه د ډاکټراشرف غنــي او ډاکټر عبدالله مقابله وي، نو ټول پښتانه بــه اشــرف غنــي تــه رایــه ورکړي او عبدالله به ماتې وخوري. دا د هغو کســانو د روحیــې تقــویې لپاره چې په ټاکنو کې برخه اخلي یوه ښه هیله ده، خو دوی باید د دې مقابل حالت هم محاسبه کړي. زه نه غــواړم د هغــه دردېــدلي حالــت جزیات بیان کړم، چې اوس زموږ متفرق اکثریت له کومو رنځونو ســره مخ دی. دا پورته تصور د یوې فرضیې په توګه ســم دی، خــو د عملــي کېدو احتمال یې کم دی. اوس نو دا فرضیه پــاتې کېــږي؛ کــه ډاکتــر اشرف غني د کرزي په ګټه تېر شي، څه به وشي؟ دا کار به پــه لــومړي ګام کې ښاغلي غني ته د هغه د توند مــزاج لــه املــه ګــران وي، خــو وروسته به یې مېوه بده نه وي.

د اشرف غني او حامدکرزي د مفاهمې شرایط بایــد پــر اصــولو ولاړ وي.د ډاکتر اشرف غني حیثیت باید خوندي شي او داســې یــو مهــم مقام ورته وسپارل شي چې اجرایي ځواک ولري او دی پرې پــه دولــت کې رشوت او فساد مهار کړي. که چېرې ډاکتر اشــرف غنــي لــه یــوه مناسب ځواک سره په حکومت کې وي، نو هغه وېره چې پــه حکومــت کې د فهیم خان په راتګ سره د اداري فساد او د ځمکو د غصــب لــه وجې احساسېږي، هغه به تر ډېره حده راکمه او یا بــه لــه منځــه ولاړه شي. د اشرف غني غوندې یو کس کــولای شــي د کــرزي صــیب پــه

حکومت کې د فساد مخه تر ډېره بریده ونیسي او دا هغـه حالـت دی چې هم د کرزي صیب حیثیت ته په ګټه دی او هم ملت ته او خپلــه د اشرف غني حیثیت ډېر اوچتوي.

نه یوازې له کرزي صیب سره باید د ډاکتر اشــرف غنــي د خبــرو او مفاهمې لار اواره شي، بلکې ښاغلی پروفیسور علي احمــد جلالــي او ډاکتر انوارالحق احدي ته که په هر ترتیب ســره امنیتــي ســکتور او د بهرني سیاست چارې وسپارل شي، نو د حکومت اساســي ســتنې بــه ټینګې شي او دې حالت سره به د یو قوي مرکزي حکومت لمن پراخــه شي، نه یوازې دا اشخاص، بلکې نور مهم او موثر شخصیتونه هم بایــد په حکومت کې راټاله شي. که چېرې اشرف غني، جلالي، احدي او نــور موثر او ملي شخصیتونه د کابینې په غونډه کې ناست وي، نو هېڅکله به د ښاغلي محقق په شان خلک له کلي څخه د ولسوالۍ، له ولسوالۍ څخه د ولایت او په پای کې له ولایت څخه د مملکت د جوړولو دعــوه او غوښتنه ونه کړي او که میدان ورته همداسې شغالی وي، نو بیا خــو به ډېر هغه څه وکړي چې تراوسه یې لا په زړونو کــې دي. کــه چېــرې کرزي صیب او غني صیب او د هغوی پلویان یې هر یــو ځانتــه ډنګوي، نو بیا ټول مسولیت د همدغو کاندیــدانو او د هغــو د اوســنیو پلویانو پر غاړه دی. که چېرې د مفاهمې لاره رامنځته نه شي نو بیا خو نور نور اټکلونه کېدی شي چې هر یو په خپل وار دې ټولنې او همــدې کاندیدانو ته په زیان دي:

۱- کېدی شي د ډاکتر اشرف غني له پخلاینې پرتــه کــرزی بریــالی شي، په دې حالت کې به هغه ډلې ټپلې ډېر امتیازات واخلي، چې اوس د کرزي صیب صادقانه او یا هم فریبانه ملاتړ کوي. دوی به په دې پلمه

چې ګنې موږ کرزی بریالی کړی ، ډېر ناقانونه امتیازات واخلي. یو زیات شمېر پښتانه به د اشرف غني د کمپاینرانو او یا هم پلویانو په نامه په حکومت کې له دندو محروم شي او یو شمېر نور چې په حکومت کې د خپل لیاقت له مخې کار کوي، هغوی ته به هم تــوطیې جــوړې او لــه حکومته به یې په ډېر مهــارت بهــر کــړي، پــه دې ډول بــه دوی پــه راتلونکو پنځو کلونو کې د حکومت اکثره اساسي څوکۍ ونیسي او بیــا به ترې بله دوره کې، که حالات همداسې روان وو، انتخابات ګټــل هــم اسانه نه وي.

۲- دویم احتمال دادی چې کرزی صیب یــې بــایلي، ډاکتــر صــیب عبدالله یې وګټي، د ډاکتر عبدالله د واکمنۍ د حالت وړاندوینه خو مــو مخکې هم کړې چې څه به کېږي. په دې حالت کې به ښــاغلی کــرزی ناکام وي، هغه به خپل غږ نه شي پورته کولای، ځکــه د ناکــام ســړي معقول اواز هم څوک نه اوري. پر میډیا هم پوهېږو چې د چــا پــه لاس کې ده، د نړیوالې ټولنې او ګاونډیو هېوادونو حالات هم مــوږ تــه ښــه معلوم دي. ډاکتر اشرف غني به مایوسه وي ځکه چې ولس به ده تــه د خپل لیاقت پــه انــډول کمــې رایــې ورکــړي وي. خپــل ورور، خپلــو کمپاینرانو او نورو ته به په قهر وي، چې ولې یې ده ته غوره مالي کړې، واقعیت یې ورته نه دی ویلای او دده تقاضا یې ولې ببځایه پورته کــړې ده. د داسې یو سړي لپاره چې په لوړ کفایت او لوړو مقامونو کې یې کار کړی وي، د ناکامۍ زغمل د زړه د حملې تر بریده خطر لــري، ښــاغلی غني به له ډېرې مایوسۍ سره بېرته امریکا او یا کوم بهرني هېــواد تــه ځي، دی به ځان سره دا فکر کوي، هغه ټولنه چې د باکفایته خلکو پــر ارزښت نه پوهېږي، هغو ته کار کول څه ګټه نه لري. ښاغلی میــرویس

یاسیني به په انتخاباتو کې د خپلو مالي زیانونو د جبران په لټه کې وي، یا به په حکومت کې ځان ځایوي یا به ازاد کاروبار کوي او یا به هــم لــه انګرېزي او نورو امریکــایي کمپنیــو ســره د ســاختماني شــرکتونو د معاملاتو له لارې، د خپل اقتصادي زیان جبیره کوي. زموږ ملــت بــه د تېرو ناخوالو په تعقیب له داسې یو حالت سره مخامخ وي، چې لاس به مروړي، څه به لاس ته نه ورځي او د تېر هغه نیمګړي حالت په ارمان به وي.

لیکوال به یو بل سره پر ناندریو بوخت وي، څوک به یو ملامتــوي او څوک به بل، څوک به دا وایي چې تا ولې هغه پسې په خپل نامه مقالــه ولیکله او څوک به وایي چې تا ولې په بدل نامه دې اور ته لمن ووهلــه. په انټرنیټ کې د بدل نامه مبارزین به لا ډېر ملامت وي چې ولې یې یو بل پسې د سپکو سپورو خبرو پر خپرولو لاس پورې کړی دی. زه ددې لیکنې په دې برخه کې په زغرده وایم، چې ما د یو افغان په توګه د هغو ضرورتونو له مخې چې مخکې مې ورته اشاره وکــړه، د کــرزي صــیب مشروطه پلوي کړې. سمون راوستل اسانه کار نه دی، هر واکمن خپــل خپل مجبوریتونه لري، ځینې مجبوریتونه ډېر ناعادلانه وي، تــر کومــه ځایه چې ما د یو افغان په توګه وس درلود هغه مې تر سره کړ، خو زه او زما په شان نور ملتپال افغانان په دې بریالي نه شو چې له کرزي صیب سره د معاونیت په پوست کې د فهیم خان مخه ونیسو، که دا کار چاته اسانه برېښي، نو ټول لیکوال، ((د انټرنیټ مبارزین))، د اشــرف غنــي خواخوږي او نور دې راټول شي، د اشرف غني له څنګــه دې ښــاغلی حشمت غني لرې کړي، څومره چې فهیم خان د کرزي رنګه بده کړې، همدومره حشمت غني د اشرف غني حیثیت ته زیان رسـولی دی. تــر

انتخاباتو وروسته که کرزی صیب بریالی شو، طبعاً به زما او زما په شان د نورو افغانانو مبارزه د هغه چا پر وړاندې وي، چې هغــه د افغانســتان ملي ګټو ته زیان رسوي، د فساد سبب ګرځي او عدالت تر پښو لانــدې کوي، که هغه فهیم خان وي، که استاد رباني، که محقق وي که رحــیم وردګ، که کرزی صیب وي که غني صیب او یا هم نور نور صــاحبان او ناصاحبان. په لنډه موده کې زما نظر همدادی چې د جمهوري ریاست د څوکۍ د خوندیتوب لپاره باید د وراثت اصل خوندي وساتل شــي او د هغې ډلې د تېرې واکمنۍ مخه ونیول شي، چې په نظر او عمل، ماهیت او کیفیت کې د افغانستان د ملي ګټو مخــالف دي. د کــرزي صــیب او اشرف غني په شمول له ټولو ملي او ملي رنګه کاندیــدانو او د هغــو د پلویانو څخه مې هیله ده چې په خپلو تشو لاپو شاپو، عقدو او کینــو د کاندیدانو ترمنځ واټن دومره مه زیاتوئ، چې د هغوی د پخلاینــې تــول پلونه ونړوئ او د ببرته راتګ ټولې لارې یې بندې کړئ.

په انټرنېټ کې له ښکاره نومو، پټنومو، بېنومو، ښځنومو او څونومــو لیکوالو او نالیکوالو څخه مې هیله ده چې ډېر په احتیــاط ګــام پورتــه کړي، د خپلو کاندیدانو په پلوي د فرهنګیانو ترمنځ د کینې زهــر مــه شیندئ، کاندیدان موسمي دي، که ټاکنې وشي څو ورځې وروسته یې د بریالي او ناکامو کاندیدانو ټولو دوسیه ترل کېږي. ددې (اوو درجنــو) کاندیدانو کوم یو نوم که چېرې یاد شي، خو هغه څوک چــې د زړه پــه وینو ددې ولس کلتور ته کار کوي، هغه به بیا هم وي، په همدې ټولنــه کې به اوسېږي، تاسې باید هغه خلک هم وپېژنئ چې چــا سیاســت د فرهنګي خدمت لپاره استخدام کړی او څوک د لیکوالو او ژورنالیستانو د ټولنې په نوم خپل جیبونه ډکوي.

موږ هغه (ښځنومي) لیکوال یا ژورنالیستان هم پېژنو چې په درباروونو کې د سندرو، کمپوز او نڅاوو تر بریده د واکمنو په خدمت کې دي، خو داسې لیکوال هم پېژنو چې سرکښه جهادي قوماندانان او زورور واکمن یې دې ته رامات کړل چې فرهنګي خدمت ته ملا وتړي او خپله پانګه پر لیکوالو ولګوي، ددې دوو کټګوریو لیکوالو ترمنځ باید توپیر وشي، د یوه په خوله کې دومره لاړې وي چې د زورورو په توصیف یې په خوله کې وچې شي، د بل په زړه کې دومره اور او په خوله کې دومره زور وي چې زورور دېته لېوال کړي چې د کمزوري احترام وکړي او د بېوسو لیکوالو اثار چاپ کړي، علمي مرکزونه جوړ کړي او رښتیني لیکوال ته د درناوي او مرستې لاس ورکړي.

دېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ

واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

د هوښیارو او پوه لیکوالو کار همدا دی چې په ټولنه کې شته ظرفیتونه د خپلې ټولنې د خدمت مسیر ته سوق کړي، په تېرو دېرشو کلونو کې، هر لیکوال او سیاستوال، هر ژورنالیست او په نامه ژورنالیست ټولو ځان څرګند کړی، چې چا څه کړي او څه کوي؟ موږ هیله لرو چې زموږ لیکوال تر سیاستوالو څو ګامه دمخه وي، لیکوال باید ددې وس ولري، چې سیاستوال د فرهنګیانو د پالنې او فرهنګي خدمت لپاره استخدام کړي، نه دا چې خبره معکوس کړي. اوس مې له ټولو پښتنو لیکوالو څخه هیله داده، له هرې ممکنې لارې چې وي د ملتپالو کاندیدانو د پیوستون لپاره کوښښ وکړي، د رښتینو او غوړه مالو اشخاصو چې یو د تضاد واټن له منځه وړي او بل تضاد زیاتوي، ددې دواړو توپیر باید وشي.

په پای کې د پخوا په څېر یو ځل بیا خپلو معقولو او سرغندویو پلویانو او ټولو رښتینو افغانانو ته ډاډ ورکوم، چې زه به هېڅکله داسې کار ونه کړم، چې هغه د افغانستان ملي هویت او د افغانانو ملي ګټو ته زیان ورسوي، له خپلو ټولو ملتپالو او د ملي شعور په ګانه سمبال لیکوالو نه مننه کوم،چې په زغرده یې زما دملي ارمانونو او ملي ایډیالونو ننګه کړې، زه پر دوی ډاډه یم او د دوی دې پر ما ډاډه وي. دا خبره هم د یادونې وړ ده چې کېدی شي په (۴۱) کاندیدانو کې اکثریت یاټول پر سیاسي او علمي مسایلو تر ما ډېر پوهېږي،خو پر دې ویاړم چې د حامد کرزي او ډاکټر اشرف غني په شمول هر یو کاندید، تر خپل ملي درک او احساسه لوړ نه بولم. پټونومو، بېنومو او ښځنومو ((لیکوالو)) او ((ژورنالیستانو)) ټولو ته مې دا چلېنج دی، چې ددې هېواد په هره رسنۍ، هر علمي ډګر، هره محکمه او هر ځای کې چې د هر کورني او بهرني جنایتکار پر ضد، په خوله، په قلم، په لاس، په منطق او هرې وسیلې، مبارزې ته حاضر وي، دا ګز او دا میدان.

په هېواد کې د اوسني بحران د ختمېدو، د یوه ملي حکومت د جوړېدو او ملي فرهنګ د غوړېدو په هیله.

# اوسنۍ پارلماني ټاکنې= نوی سیاسي سرطان

دا لیکنه د (۱۳۸۹ل کال) د ولسي جرګې د ټاکنو د نتیجو تر اعلان وروسته شوې ده، هغه وخت چې یادې ټاکنې له زیاتو اعتراضونو سره مخ شوې، ما هڅه وکړه چې ولسمشر کرزی ددې ناعادلانه ټاکنو پر عواقبو ښه خبر کړم، هغه یې د سمون ژمنه هم وکړه، خو په پای کې هېڅ سمون رانغی او زه یې پر هغه مهال دغه یادښت لیکلو ته مجبور کړم.

د افغانستان د اساسي قانون د (۸۳) یمې مادې د یوې فقرې له مخې: (( د انتخاباتو په قانون کې باید داسې تدبیرونه ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تامین کړي.)) په دې ماده کې د (عدالت) عنصر لا هغه وخت تر پښنو لاندې شو چې د اساسي قانون د روحیې له مخې د نفوسو په انډول د پارلماني څوکیو وېش مطرح کېده. د ولسي جرګې د (۲۴۹) څوکیو د وېش پر وخت پښتون مېشتو ولایتونو ته تر اصلي استحقاقه (۱۲) څوکۍ کمې ورکړل شوې او (۵) څوکۍ هم د کوچیانو د نفوسو په انډول د هغوی له اصلي حقه راکمې شوې، په بدل کې پنجشېر، پروان او ځینو نورو سیمو ته د خپل نفوس په انډول زیات امتیاز ورکړل شو.

د ولسي جرګې د څوکیو د وېش د دې څرګند ظلم تر څنګ د مشرانو جرګې د انتصابي څوکیو په برخه کې هم، ولسمشر د اکثریت پر وړاندې خپله بې تفاوتي او د اقلیتونو پر وړاندې خپله مهرباني په

زبات ورسوله، یانې په قصدي او سیاسي ډول د ملـــي شـــورا پـــه دواړو جرګو کې د پښتنو سیاسي حقوق تر پښو لاندې شول. له پورتني ظلم او نورو ناخوالو سره سره بیا هم پښتنو خپل زغم ته دوام ورکـــړ او پـــه دې هیله چې په هېواد کې د سولې او ثبات په حالت کې به هر څـــوک خپلو حقه حقوقو ته ورسېږي، چوپتیا غوره کړه، خو دا هیله هغه وخت لا پسې په نهیلۍ بدله شوه او پر عدالت باندې لا نور ګوزارونـــه وشـــول چې د جمهور رئیس او څو تش په نامـــه جهـــادي مشـــرانو لـــه خـــوا د پنجشېر اوسېدونکی اسلامي جمعیت او نظار شـــورا تـــه یـــو منســـوب شخص د انتخاباتو د مستقل کمیسیون د رئیس په توګه وټاکل شو. دې کار د هغه ماین حیثیت درلود چې جمهور رئیس په خپله د افغانستان د یوې ډیموکراتیکې پروسې تر پښو لاندې کېښود. له دې سره جوخت د ټاکنو خپلواک کمیسیون بیا د خپلواکۍ مفهوم لـــه لاســـه ورکـــړ، د تنظیمواکۍ او  نظار شورا د فاشیستي افکارو  پر یو مرکز بـــدل شـــو. د فضل احمد معنوي په انتصاب سره ټـــول هغـــه مـــاتې خـــوړلي ســـتمي کاندیدان، چې په څو تېرو انتخاباتو کې یې ماتې خوړلې وه، بیا له سره وغوړېدل او له ښاغلي معنوي سره په هماهنګۍ یـــې ځانونـــه ولســـي جرګې ته کاندیدان کړل.

د معنوي پر انتصاب سربېره د جمهور رئیس بله غټه اشـــتباه دا وه، چې د شکایتونو د اورېدو کمیسیون یې هم د همدې  ډول اشخاصو په لاس کې ورکړ، احمدضیا رفعت چې د پښتنو پر وړاندې یې تعصب لـــه هېچا پټ نه دی او د څو کلونو په بهیر کې یـــې د اســـلامي جمعیـــت د سکې د بل مخ (ملي متحدې شورا) د نـــوبتي رئـــیس پـــه توګـــه دنـــده اجراکوله او هزاره توکمی سلطان شاه عـــاکفي دواړه یـــې د انتخابـــاتي شکایتونو د اورېدو د کمېسون غړي کړل، دوه تنـــه بهرنیـــان چـــې لـــه پښتنو سره یې تعصب څرګند دی هم د کمیسیون غړي شول او یو تن

تش په نامه پښتون (قاضي شريفي) يې هم ورســره د مشــروعيت پــه خاطر يو ځای کړ چې هغه نو بيا هېڅ ډول اجتماعي او ملي فکر نه لري او يوازې د يوه مامورګي حيثيت لري. پــه دې ډول د دوو کميســيونونو اصلي واک د داسې اشخاصو لاس ته ورغی، چې نــه يــوازې د هېــواد اکثريت پښتنو سره حساسيت او تعصب لري، بلکې د ټول هېواد د ملي هويت او يووالي پر وړاندې هم ترخه سابقه لري. د ټاکنيزو کميسيونونو د دې ډول ترکيب په شتوالي کې د عادلانه انتخاباتو ترسره کول خپله يوه ناعقلانه او جاهلانه هيله وه. د انتخابــاتي کميســيونونو ددې ډول ترکيب جوړول د افغانستان د ملي يووالي، عدالت او ولسواکۍ پر ضــد يو مضر حرکت و. له دې حرکت څخه دا هيله نه کېده چې افغانســتان کې دې ګلان وکري، ملتپالو افغانانو له همغه پيله جمهــور رئــيس او د هغه درباري غوړه مالانو ته ددې حرکت د منفي نتايجو پيغام ور رسولی و، خو هغوی لکه د نورو مهمو مسايلو په شان دې مسئلې تــه هــم پــه مصلحتي او سرسري سترګه کتل. يو افغان ليکوال جمهور رئــيس تــه ليکلي وو: ((هغه ماين چې دې په خپلو لاسو کېښود، کېدی شــي تــر ټولو لومړی پر تاسو انفجار وکړي.)) څرګنده خبــره ده چــې د پــاړوګر مرګ له ماره او د ماين پال يا ماين ايښودونکي مــرګ اکثــره د خپلــو ماينونو له لاسه وي. که چېرې د انتخاباتو ددې تنظيمي کميســيون دا لومړنۍ نتيجې او يا وروسته د شکايتونو د کميسيون نورې پښتون ضد هڅې، توطيې او تصفيې ومنل شي، نو څه عواقب، خطرونه او ضــررونه به پېښ شي؟ دې احتمالي خطرونو ته به په لنډ ډول اشاره وکړو:

**د اکثريت محروميت:** په دې ټاکنو کې اکثريــت قصــداً لــه سياسي حقوقو محروم شو، دا محروميت همداســې چــوپ نــه پــاتې کېږي، په يو نه يو ډول غبرګون ښيي، دا غبرګون، د سياسي او نظامي

پېښو سبب کېږي او د حقوقو د ترلاسه کولو په دې بهیر کـې طبعـاً د ټولو لپاره د زیان د پېښېدو اټکل شته.

**سیاسي بې ثباتي:** د دوو اقلیتونو د ناقانونه او نـاطبیعي واک په دې پروسه کې د هېواد سیاسي ثبات لـه منځـه ځـي او د دولـت مخالفینو او ځینو نورو ګاونډیو هېوادو ته ددې زمینه برابرېږي چـې د محرومیت له دې حالت څخه ناوړه ګټه پورته کړي او په افغانستان کې کورني جنګ ته لمن ووهي.

**د هویت خطر:** په دې ټاکنوکې داسې اشخاصو ته د بریالیتوب امکانات برابر کړای شول چې هغوی د افغانستان د هویـت مخـالفین دي، هغوی به په پارلمان کې عام ولس ته د خـدماتو د وړانـدې کولـو پرځای د افغانستان د هویت د له منځه وړلو لپاره هڅه او هاند کـوي، په لومړي ګام کې دوی کېدی شي دغو لاندې مسایلو ته لمن ووهي:

**الف**– پښتو نومونه او اصطلاحات دې د حکومـت لـه ادارو څخـه لرې شي.

**ب**– بانکنوټونه ولې په پښتو ژبه دي، په دري ولې نه چاپېږي؟ ولې پرې د احمدشاه مسعود او نورو تنظیمواکانو عکسونه نه شته؟

**ج**– د افغانستان اساسي قانون ځینې مادې نه منو، ولې په اساسي قانون کې پښتو لومړی او دري دویمه ژبه ده؟

**د**– افغان، د دوی په نظر د یوه قوم نوم دی، په لومړي ګام کې بـه وړاندیز کوي چې د افغان پر ځای دې (افغانستاني) اصـطلاح وکـارول شي او بیا به هڅه کوي چې دا نوم چورلټ لرې او د ملـت د هـر فـرد لپاره دې رانه شي او تر هغه وروسته به کوښښ کوي چې د افغانستان نوم پر (خراسان) یا هم کوم بل څه واړوي.

هــ- دوی به هڅه وکړي بیرغ او ملي سرود بدل کــړي، د دوی پــه نظر بیرغ یوه قوم ته منسوببېږي او سرود هم په پښتو ژبه دی.

ط- دابه هم ووایي چې ولې کوچیانو ته د انتخاباتو په قــانون کـې لس څوکۍ بېلې شوي، دا باید له منځه لاړ شي لکه مخکې چې یې هم دا هڅه کړې وه او دې ته ورته ځینې نور مسایل چې ملي حساسیتونه راپاروي.

**په حکومت کې بشپړ واک:** یو شمېر حکومتي چــارواکي او د پارلمان دا احتمالي ترکیبي متعصبه ډله به هڅه وکړي چې د خپل منځي ائتلافونو له لارې لومړی هغه وزیران بریالي کړي چې د دوی لــه فکر سره همغاړي وي، په پښتنو کې به ځینو هغــو وزیرانــو تــه رایــه ورکوي، چې په خټه پښتانه وي خو پښتو یې زده نه وي او یا له پښتنو سره کومه خواخوږي نه لري. دا به په حکومت کې د پښتنو ونډه نــوره هم صفر ته نږدې کړي.

**ولایتي شوراګانې:** دوی به په لومړي ګام کې هڅه وکــړي، د ولایتي شوراګانو واک زیات کړي او والیان د ولایتي شوراګانو لــه لارې جمهور رئیس ته وړاندې او هغه یې بیا یوازې د تقــرر لپــاره لاســلیک کړي.

**پارلماني نظام:** د ولایتي شوراګانو د واک د زیاتونې لــه لارې به دوی د پارلماني نظام لپاره لاره اواره کړي، دا به د دوی په نظــر یــوه لومړنۍ تجربه وي او بیا به د فدرالي او وروسته بــه بیــا د افغانســتان تجزیې ته زمینه برابره کړي.

**د اداري واحدونو زیاتول:** دوی به هڅــه وکــړي د محلــي ارګانونو د اداري په قوانینو کې داسې بدلون راولي چې د هغو له مخې

د خپلو سيمو اداري واحدونه زيات او د پښتون مېشـــتو ســـيمو راکـــم کړي.

**لويه جرګه:** دا ډله به کوښښ وکړي پــه پارلمــان کـــې د خپـــل تصنعي او جعلي اکثريت له لارې جمهور رئيس تر ډېـر فشـــار لانـــدې راولي چې د دوی هر ډول غوښتنې ومني، د دوی د غوښتنو په حالــت کې هم، افغانستان د بشپړ بحران خواته ځي او د نه منلو په حالت کې به هم دوی په پارلمان کې په دوو ثلثو ملت ضد قوانين تصويبوي او هم کولای شي لويه جرګه دعوت کړي، د جمهور رئيس د محاکمــه کولـــو وس هم پيداکوي او په يوه عادي پلمــه کـــولای شــــي جمهـــور رئـــيس محاکمې ته راکاږي، د سترې محکمې رئيس او لوی څارنوال هم طبعاً د دوی په مزاج برابر اشخاص راځي، نو که جمهور رئيس د دوی د هيلـــو مخالفت کوي د محاکمې له انجام سره به مخامخېږي او که نه يې کوي د يو عادي سمبول حيثيت به لري او د خپلې دورې تر ختمېدو پـــورې به يې، افغانستان د تباهۍ لور ته لاړ شي.

**حل لاره څه ده؟** که جمهور رئيس د وروستي چـــانس پـــه توګه غواړي چې ځان او افغانستان وژغوري، نو حل لاره داده چــې دا پارلماني ټاکنې په بشپړ ډول ملغی اعلان کړي. د ملغی کېدو لپاره پـــه لسګونو څه چې په سلګونو داسې قانوني او حقوقي دلايل موجود دي چې د هغو له مخې دا ټاکنې باطلې او ملغی کېدی شي. يو څو دليلونه به يې دلته د بېلګې په توګه راوړو.

د اساسي قانون د (۸۳) يمې مادې حکم چې په ټاکنو کې د خلکـــو پر عادلانه ګډون ټينګار کوي او دا د ټاکنو د کميسيون دنده بولي چې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه اســـتازيتوب تـــامين کړي، د قانون دا حکم په بشپړ ډول تر پښو لاندې شوی دی.

ــ ټاکنې په ټول افغانستان کې رڼې او شـفافې نـه وې، لـه پـوره درغلیو ډکې وې.
ــ د انتخاباتو د کمیسیون اساسي چارواکي تنظیمي افراد وو، چې د خپل قوم، سیمې، ژبې او سمت لپاره یې قصداً کار کړی، د دوی دغه چلند انتخابات منحرف کړي او د قانون خلاف اجرائت ګڼل کېږي.
ــ د انتخاباتو د کمیسیون یو زیات شمېر غړي په تېره بیا د مرکزي کمیسیون مشر په خپله په درغلیو ککړ وو.
ــ د هېواد په کچه اکثریت قوم د جګړې په پلمه او هم پـه قصـدي ډول په ټاکنو کې له ګډون څخه بې برخې شوی.
ــ د انتخاباتو تر لومړنۍ شمېرنې وروسته هم پـه قصـدي توګـه د هېواد د اکثرو پښتنو کاندیدانو رایې قرنطین او یا باطلې شوې دي.
ــ که د ټولو په اصطلاح ګټونکو او بایلونکو کاندیدانو د رایو شـمېر سره پرتله کړو، نو د ګټونکو هغو کېدی شي په سلو کـې لـه (۱۵-۲۰) پورې وي، نورې په سلو کې (۸۰-۸۵) رایې د بایلونکو کاندیـدانو دي، په دې کې که بیا هم د همدې ګټونکو کاندیدانو پاکې رایې لـه ناپـاکو هغو جلا کړو، نو کېدی شي په سلو کې لس رایې پاتې شي، ایا په سـلو کې د (لس) رایو په خاطر څوک ددې حق لري چې په سلو کـې د (۹۰) خلکو حق تر پښو لاندې کړي.
ــ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر او نورو چارواکو پـه مسـتقیم ډول د قانون خلاف د رایې په شمېرنه کې لاسوهنه کـړې او د خپلـې خوښې کاندیدان یې بریالي کړي.
ــ د شمېرنې ټوله پروسه له پیله تر پایه شفافه نـه وه، د قسـمي او ابتدایي نتایجو د اعلان پر وخـت هـم پـه ډېټـابېس کـې شخصـاً د کمیسیون رئیس او نورو چارواکو ګوتې وهلې.

ــ د ابتدايي نتايجو تر اعلان وروسته، د شکايتونو کميسيون له خوا هم همغه ظلم او قصدي عمل بيا تکرار شوی او يو شــمېر نــور برېــالي کانديدان د هغوی د ظلم ښکار شوي چې هغه هم اکثره پښتانه دي.

ــ د ټولو استعمال شويو رايو په اړه د انتخاباتو د لومړۍ ورځــې او د لومړنيو نتايجو د اعلان ترمنځ د رايو تفاوت (يــو مليــون رايــې) ګڼــل شوی، دا د نړۍ د انتخاباتو په تاريخ کې هغه دروغ دي چې ســاری نــه لري، د يو مليون کسانو د شمېر په انډول د يو مليــون نــورو درغليــو احتمال هم هېڅکله ردېدلی نه شي.

نو ښه لاره دا ده تر هغه چې په افغانستان کې په بشپړ ډول ســوله او ثبات نه وي ټينګ شوي، پارلماني ټاکنې دې نه کېږي.

همدا زړه ولسي جرګه او نوې مشرانو جرګه دې قانوني خــلا ډکــه کړي. خو که چېرې د اوسنيو ټاکنو دا تقلبي نتيجې ومنل شي نو دا به افغان ولس، افغانستان او دې خاورې سره داسې يو لــوی خيانــت وي، چې جبيره به يې هېڅ ممکنه نه ښکاري.

# په ننگرهار کې د ولسي جرگې د ټاکنو د نتيجو يو احتمالي انځور

دا ليکنه پر (۱۳۸۹ ل) کال د ولسي جرگې د ټاکنو د لومړنيو نتيجو تر اعلان د مخه شوې وه.

د افغانستان د نورو سيمو په شان په ننگرهار کې هم ټاکنې ترسره شوې، لکه څنگه چې د هېواد په هره سيمه کې د ټاکنو په باب د درغليو غږونه پورته شوي، ننگرهار هم له دې حالته مستثنی نه دی، دا چې په ټاکنو کې شوې پاکي او ناپاکي به سره بېلېږي او که نه دا نو د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون کار دی، وخت ته به منتظر شو، دا احتمال هم شته چې د شکاياتو د کميسيون له خوا د سياسي موخو لپاره د درغليو په نامه نورې درغلۍ هم وشي، خو زه نه غواړم پر دې ټولو جزياتو دلته وغږېږم، يوازې غواړم دلته تر ټاکنو وروسته پر رامنځته شوي کميت لنډه رڼا واچوم:

ما خپله په ننگرهار کې په ټاکنو کې گډون کړی او د يوه څارونکي دنده مې هم اجرا کړې ده، گڼ شمېر مرکزونه مې کتلي او د نږدې اتو مطرح کانديدانو غتې رايې مې هم له نظره تېرې کړي، د هغو کمپاينرانو او ناظرينو سره مې هم کتلي او د نتايجو يو پاموړ شمېر هغه پاڼې مې هم کتلي چې له بېلابېلو کانديدانو سره موجودې وې. په دې

وجه په دې لیکنه کې د ټاکنو د څرنګوالي او څومره والي په باب داسې یو اټکل کولای شم چې په (سلو) کې (اویا) واقعیت ته نږدې وي.

هغه ارقام چې اوس د بېلابېلو کاندیدانو په لاس کې دي او په لویه کچه د هغو د خپلو ناظرینو له خوا هغو ته ورکړل شوي، په دې ارقـامو کې نیم په نیمه د مبالغې اټکل شته، په همدې خاطر ننګرهار کې ګـڼ شمېر کاندیدان ځان بریالي ګڼي. د ارقامو د لوړتیـا علتونـه ډېـر دي، دلته پرې بحث نه کوم، دلته غواړم په ترتیب سره د هغـو کاندیـدانو د رایو اټکل وکړم چې د هر معقول، نامعقول، مشروع او نامشروع علت له وجې یې تر نورو زیاتې رایې ګټلې دي.

## الف- نرینه نوماندان:

**۱- حاجي عبدالظاهر قدیر:** د حاجي ظاهر پلویان د هغـه د رایو شمېر له (۳۰-۴۰) زرو پورې اټکلوي، خو واقعیت دادی چې کېدی شي حاجي ظاهر له (۹-۱۱) زرو پـورې رایـې ګټلـې وي. د ووټ غټـه ساحه یې حصارک، سور رود، جلال اباد ښـار، د شـینوارو بېلابېلـې ولسوالۍ دي او د ننګرهار په نورو سیمو کې یې هم پاموړ شمېر متفرقه رایې اخیستي دي.

**۲- حاجي حضرت علي:** د حاجي حضرت علي ووټ شـمېر هم کېدی شي حاجي ظاهر ته ورته وي، د ووټ غټه ساحه یې دره نور، ښېوه، د جلال اباد ښار مربوطـات او شـینواري دي، د ننګرهـار نـورو سیمو کې یې هم متفرقه ووټ اخیستی دی، کېدی شي په ننګرهار کې حاجي ظاهر یا حاجي حضرت علي په لومړي او دویم مقام کې راشي. د یادونې وړ ده چې حاجي ظاهر او حضرت علي په ننګرهار کې د قـوم، زور او زر له درېواړو امکاناتو برخمن دي.

**۳- حاجي امیرخان یار:** د ننګرهار په محلي سیاســت کــې نوې څېره ده چې پراخ اقتصادي او ټولنیز امکانات یې کارولي او په لنډ وخت کې یې ځان ډېر مشهور کړ، د رایو شمېر یې له (۸-۹) زرو پــورې اټکل کېدی شي، د ووټ غټه ساحه یې د کامې او بټي کوټ ولســوالۍ او د جلال اباد ښار دي، له شینوارو او نورو سیمو څخه یې هم متفرقــه رایې اخیستې دي.

**۴- انجنیر سید اکرام:** انجنیــر ســید اکــرام د ننګرهــار پــه سیاست کې بله نوې څېره ده چې دی هم په ډېر لنډ وخــت کــې ډېــر زیات مطرح شو. انجنیر اکرام هم د امیرخان یار په شان پراخ اقتصادي، اداري او تر یوه حده ټولنیز امکانات کارولي. دده رایه هــم د (۸-۹) زرو په شاوخوا کې اټکلېدی شي. کېدی شي په دې دوو کسانو کې یــو پــه دربیم او بل په څلورم مقام کې راشي. انجنیر سید اکرام په جلال ابــاد ښار او د سره رود په مربوطاتو کې ډېره رایه اخیستې ده، خو بهسودو، روداتو، شینوارو او نورو سیمو کې یې هم پاموړ رایه اخیستې ده.

**۵- میرویس یاسیني:** میرویس یاسیني بیا هــم پــراخ مــالي امکانات کارولي، پخوانی شهرت،مالي امکانات او تر یوه حده سمه ییــز اغېز یې ددې سبب شوي چې دی هم په ننګرهار کې ډېره رایه ترلاسه کړي. د ده رایې هم کېدی شي د امیرخان یار او انجنیــر ســیداکرام د رایو په حدودو (۸-۹) زرو پورې اټکل شي، ددې اټکل هــم شــته چــې کېدی شي یاسیني یا تر دې دوو دمخه او یا وروسته مقام کې راشي.

**۶- فریدون مومند:** فریدون مومند سره له دې چــې د ټــول ننګرهار په کچه مطرح نه دی او په تېر پارلمان کې یې متواتر غیابــت د هغه شخصیت او رایو ته سخت زیان اړولی، خو څرنګه چې یــو نســبي خان او دروند سړی دی، په خپله ولسوالۍ، سیمه او قوم کې لا هم تــر

ده څوک محبوب او غښتلی نه شته، نو ځکه یې یو ځل بیا خپل قــوم ورته په زغرده رایه ورکړه. فریدون مومند زور او زر دواړه نه دي کارولي او یا هم کېدی شي ډېر کم یې کارولي وي، دده د رایو شمېر لــه (۷-۸) زرو پورې اټکل شوی. د رایو غټه ساحه یــې ګوشــتې، لعــل پــورې او مومندرې ولسوالۍ دي، خو د ننګرهار په نورو سیمو کې یې هم متفرقه ووټ اخیستی دی.

**۷- ډاکتر حبیب الله زاخېلوال:** ډاکتر حبیب الله زاخېلوال زور نه دی کارولی، خو د پیسو په کارونه کې یې بیا لاســنیوی نــه دی کړی. زاخېلوال کېدی شي له (۷۰۰-۷۵۰۰)رایو پورې ګټلې وي. د ووټ غټه ساحه یې روداتو ولسوالۍ ده چې ډېرې رایې ورڅخه اخیســتي، د روداتو له ګاونډیو ولسوالیو او نورو سیمو څخــه یــې هــم پــاموړ رایــه اخیستې ده.

**۸- انجنیر عبدالغفار:** د اســلامي حــزب پخــوانی غښــتلی قومندان و، اوس یې له زور څخه چندان کار وانخیست، خو د پیسو په استعمال کې یې صرفه ونه کړه، په بهسودو، ښېوه او دره نور کې یې تر نورو سیمو زیاتې رایې اخیستې دي، خو په جلال اباد ښار او نورو سیمو کې یې هم متفرقه رایه اخیستې ده.

د رایو عمومي شمېر یې له (۶۰۰۰-۷۰۰۰) پورې اټکل کېدلای شي.

**۹- فاروق مېرنی:** د زر و زور خاوند نه دی، خو په خپــل قــوم (خوګیانو) او د ننګرهار په روښنفکره قشر کې محبوبیت لري، څرنګــه چې خوګیانو کې اکثره سایتونه وتړل شول، نو دې کار د مېرني ووټ ته سخت زیان ورسوه، خو دې سره سره یې په خوګیانو کې دومــره ووټ واخیست چې د خوګیانیو په کچه په دویم یا درېیم مقام کې راځي. خو دا ووټ دومره زیات نه دی. له جلال اباد ښار او د ننګرهار لــه بېلابېلــو

ولسوالیو څخه یې هم ووټ اخیستی دی، د ووټ مجموعي شمېر یې له (۶۰۰۰-۶۵۰۰) پورې اټکل کېدی شي.

**۱۰- ملک نظیر:** ولسي سړی دی، ملک دی، خو وسله هم ګرځوي، پیسې یې هم کارولې خو کمې، په خپله ولسوالۍ (پچیر او اګام) کې یې تر ټولو زیاته رایه ګټلې ده، په خالص فامیلو او د جلال اباد ښار په ځینو نورو سیمو کې یې هم متفرقه رایه اخیستې، د رایو مجموعي شمېر یې کېدی شي له (۵۰۰۰-۶۰۰۰)پورې اټکل شي.

**۱۱- پیربخش ګردیوال:** د حاجي پیرمحمد ګردیوال زوی دی، حاجي پیرمحمد په خپله سیمه کې د خاص نفوذ خاوند دی. پیر بخش د شمال ټلوالې پخوانی او اوسنی غړی دی، د ننګرهار په نورو سیمو کې هېڅ محبوبیت نه لري، خو په خپله سیمه کې یې د پیسو او زور په استعمال رایه اخیستې، ډېره زیاته پیسه یې کارولې، په (مومندره ګردي غوث) ، لالپوره او ګوشته کې یې ډېره رایه اخیستې، د رایو عمومي شمېر یې له (۵۵۰۰-۶۰۰۰)پورې اټکل کېدی شي.

**۱۲- عبدالظاهر ملک بابا:** په (دره نور) کې په یوې مشهورې او نسبي کورنۍ پورې اړه لري، له حاجي حضرت علي سره یې سخت رقابت دی. په دره نور کې به یې رایې له حاجي حضرت علي سره یا برابرې او یا لږ څه زیاتې یا کمې وي، یو څه رایه یې له ښېوې او جلال اباد ښار څخه هم اخیستې، لږ څه نوره متفرقه رایه هم لري، د رایو مجموعي شمېر یې کېدی شي له (۵۰۰۰-۵۵۰۰) پورې وي. د یادونې وړ ده چې کېدی شي د پیربخش او ملک بابا رایې د مېړني او ملک نظیر له رایو سره هم مساوي شي.

تر دې وروسته کته ګورۍ کې اټکل کېږي چې عبدالرحمن شمس، ډاکتر عصمت شینواري، امان خیري، سیدهاشم پولاد، فضل مولا لټون، عزت الله حلیمي، رحمن الله دولتزی، زرخان خارن،

شېربهادر همت، معلم عاشق الله او فاروق نديم تر پاتې نورو کانديـدانو يوڅه زياتې رايې اخيستې وي.

## ب- ښځينه نوماندې:

**۱- مېرمن ارين يون:** ارين يون پـه ننګرهـار کـې د فکـري، سياسي، ټولنيز او اخلاقي نفوذ خاونده ده. د ولسي جرګـې پـه تېـرو ټاکنو کې هم د ننګرهار خلکو د خپلې استازې په توګه وټاکله او دا ځل يې هم په ننګرهار کې د ښځينه وکيلانو په ډله کې تر ټولو زياتې رايـې اخيستي. ارين يون په ښېوې ولسوالۍ کې تر ډېـرو زورورو کانديـدانو زياتې رايې ګټلي، د جلال اباد ښار، بهسودو، غني خېلـو، بټـي کـوټ، روداتو، کامې، اچين، مومندرې او کوټ کې هم پاموړ رايې اخيستي. له خوګيانو، سره رود، حصارک، پچير او اګام، لعلپورې، ګوشتې او دره نور څخه يې هم يو شمېر رايې ترلاسه کړي دي.  په مجمـوعي ډول يـې د ننګرهار هرې سيمې څخه يې څه نا څه رايې ترلاسه کړي. د ارين يون د رايو شمېر له (۶۰۰۰-۷۰۰۰)پورې اټکلېدی شي. ارين يون کېدی شي د ټول ننګرهار په کچه په اووم يا اتم پوزېشن کې راشـي او د ښـځينه کانديدانو په ډله کې په لومړي مقام کې.

**۲- مېرمن صفيه صديقي:** صفيه صديقي د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې د ښځينه وکيلانو په ډله کې تر ټولو زياتې رايې اخيستې وې، خو هغسې چې د ننګرهار د خلکو هيله وه، دې د هغو غوښتنو ته ځواب ونه شو ويلای، اکثره خلک تـرې خوابـدي وو، حتـی پخوانيـو کمپاينرانو يې هم ورسره سخت مخالفت وکړ او نورو کانديـدانو سـره ملګري شول. صفيه صديقي به کاميابه شي، خو د پخوا په انـډول پـه ډېرو کمو رايو. د رايو شمېر يې د (۱۵۰۰-۲۰۰۰) شاوخوا کـې اټکلېـدی شي. د ووټ غټه ساحه يې د سره رود ولسوالۍ، جلال اباد ښار و او يـو شمېر کمې رايې يې له نورو سيمو څخه هم ترلاسه کړي دي.

**۳- مېرمن فرشته انوري:** په جلال اباد کې یوه نـوې څېـره ده، چې پخوا یې د محلي ارګانونو اداره کې د سکرترۍ په توګـه دنـده اجرا کوله. د محلي ارګانونو د لومړي لاس چارواکو په مسـتقیم کمـک ننګرهار کې کاندیده شوه. د جلال اباد ښـاروال ورتـه پـه څرګنـده او ښکاره ډول کمپاین کاوه، دکمپاین په بهیر کې یې خپل زیات عکسونه چاپ کړل او له ټکس پرته یې د ښار په حساسو ځایونو کې نصب کړل، بې کچه پیسې یې ولګولې ځینې کتونکي یې مالي لګښـت لـه (۱۵۰) زرو څخه تر (۲۰۰) زرو امریکایي ډالرو پورې اټکلـوي.. اوازه وه چـې د محلي ارګانونو د ادارې له خوا پر محلي ښاروالانو او ولسـوالانو فشـار راوړل شوی چې هر ولسوال باید ورته لږ تر لږه (۲۰۰) رایې برابرې کړي. داسې اټکل و چې فرشته انوري به په ننګرهار کې تر ښځینه کاندیدانو څه چې تر نارینه وو هم جګه رایـه یوسـي، خـو د انتخابـاتو پـر ورځ عکسونو، فشارونو او لګښتونو هغسې نتیجه ور نه کړه. چې اټکل یـې کېده د. په جلال اباد ښار او د خپل خاوند په پلرنـۍ سـیمه (هسـکه مېنه) کې یې یو څه رایې واخیستلې او نورې یې له ځینو نـورو سـیمو څخه په متفرقه ډول ترلاسه کړې. د ټولو رایو شمېر یې د (۱۸۰۰)پورته اټکلېدی شي. د فرشتې د کامیابۍ چانس شته، خو نه په هغومره رایـو چې اټکل یې کېده.

**۴- سایمه خوګیانۍ:** د ولسي جرګې په تېرو انتخاباتو کې یې پاموړ شمېر رایې ګټلې وې، خو ولس ته د پاملرنې پرځـای یـې خپـل شخصي ژوند ته ډېره زیاته توجه وکړه، نو ځکه خو ولس تـرې سـخت خوابدی و. زیات اټکل و چې سایمه خوګیانۍ به په مطلق ډول ناکامـه شي، خو خاوند یې ورته یو ځل بیا مټ ورکړ او په خپله پلرنـۍ سـیمه (کوټ) ولسوالۍ کې یې ورته په ډېر مهارت په یوه مرکز کې نـږدې (۵-۶) سوه رایې ور برابرې کړې. ځینې رایې له خوګیانو او یو شمېر نـورې

یې له جلال اباد ښار څخه ترلاسه کړې او یو کم شمېر نـورې متفرقـه رايې یې له نورو سیمو. په دې وجـه اوس د سـايمې خوګیـانۍ د بیـا کامیابېدو اټکل هم کېدلای شي.

**۵- مېرمن نجیبه سـاپۍ:** د ننګرهـار د ښـېوې ولسـوالۍ اوسېدونکې ده، یوه درنه او باعزته مېرمن ښکاري، کمپـاین یـې ډېـر مناسب و، باعزته تصویرونه یې چاپ کړي وو، یوې درنې او روښـنفکره کورنۍ پورې اړه لري، د خپلې سـيمې (نوجـو) پـه نرينـه او ښـځینه سنټرونو کې یې پاموړ شمېر رايې اخیستې دي. په جلال ابـاد ښـار او ځینو نورو سیمو کې یې هم متفرقه رايې اخیستي، د ټولو رایـو شـمېر یې د همدې (۱۲۰۰-۱۵۰۰) حدودو کې اټکلېدی شي.

**۶- مېرمن لیلما حکمي:** مېرمن حکمي د ننګرهـار د سـره رود اوسېدونکې ده، په ننګرهار کې نوې څېره ده، دومره شـهرت نـه لري، په کمپاین کې هم ډېره ښه ونـه ځلېـده، د ننګرهـار د خلکـو د وکالت لپاره ولاړه ده، خو په پښتو سمې خبرې نه شي کولای، کمپاین یې د خپل خاوند له خوا، چې د کلیو د پراختیا رئـیس دی، د نسـب او نفوذ خاوند دی، پرمخ وړل کېده، د ملي پیوستون د ځینو شوراګانو په مرسته یې ځینې رايې ترلاسه کړې دي. کېدی شي د ټولو رایو شـمېر تر (۱۲۰۰-۱۵۰۰) واوړي.

له ارین یون پرته چې د ښځو لومړنی سیټ یـې خپـل ځـان تـه خوندي کړی، نور پاتې درې سیټونه: صفیې صدیقي، فرشـتې انـوري، سایمې خوګیانۍ، نجیبې ساپۍ او لیلما حکمي تـه پـاتې دي، لـه دې پنځو مېرمنو څخه به درې تنه نور پاتې درې سیټونه راخپلوي. تـر دې پورته مېرمنو وروسته نادره ولي، نورزيه (پخوانۍ نورزیه اتمر)، ډاکتـره رمزیه محمدي او حسیبه سادات هغه مېرمنې دي چې ویل کېـږي تـر

نورو پاتې مېرمنو به یې رایې لږ څه زیاتې وي، خو د بریالیتوب چـانس یې کم ښکاري.

که د انتخاباتو د کمیسیون او یا د شکایتونو کمیسیون له خوا پـه ننګرهار کې د کوم یو یا څو کاندیـدانو رایـې قـرنتین شـي او یـا لـه محاسبې ووځي، نو په هغه حالت کې کېدی شي پورتنی اټکل بله بڼـه خپله کړي، خو که رایې لکه څنګه چې کاربـدلي همداسـې وشـمېرل شي، نو په سلو کې (۷۰) اټکل کېږي چې پورتنی اټکل له واقعیت سره سمون وخوري. ددې امکان هم شته چې د پورتنیو کاندیدانو د رایو په یاد شمېر کې څه ناڅه بدلون راشي خو دا بدلون به هم متناسب وي، د یو،دوه یا دربو تنو په تغیر سره کېدی شي بریالي کسان بـه همـدا وي چې پورته یې یادونه وشوه.

# پښتانه او د هالبروک تعبیر

**دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال هغه مهال شوې وه چې (ریچرد هالبروک) د پښتنو په اړه یو ناسم نظر څرګند کړ، دا لیکنه په کابل کې د امریکا سفارت کلتوري برخې ته د برېښنا لیک له لارې ورولېږل شوه. سفارت ډېر ژر د امریکا د حکومت رسمي نظر څرګند کړ، د (هالبروک) خبرې یې د هغه شخصي نظر وباله، نه د امریکا د حکومت رسمي نظر**

د افغانستان لپاره په امریکایي سیاستوالو کې (هالبروک) هغه څېره ده، چې د خپل ماموریت له پیله یې له یوې عقدې او کینې سره کار پیل کړ. هالبروک او د هغه بل ملګری (ګالبریټ) چې په ځینو هېوادونو کې د هغو د طبعي سیاسي جوړښت د بدلولو قهرجنه تجربه لري، غوښتل یې په افغانستان کې هم دا تجربه تکرار کړي. په افغانستان کې د دوی هڅې له څو کلونو راهیسې روانې وې، خو څرکونه یې هغه وخت لاپسې ولګېدل چې د جمهوري ریاست ټاکنې پیل شوې. هالبروک او ګالبریټ به په ساعتونو ساعتونو له (ډاکتر عبدالله) سره پر مجلسونو تېرول او لکه د یوې کورنۍ د غړو په څېر به یې یو بل سره مجلسونه کول. هالبروک او ګالبریټ تر دې دمخه په یوګوسلاویا او عراق کې د بحرانونو، قومي او مذهبي شخړو لامل ګرځېدلي وو او

ګالبریټ خو د عراق د اختتام لپاره لومړنی ذهني نقشه هم انځور کړې وه. هغه کتاب (the end of Iraq) (د عراق خاتمه) چې د ګالبریټ په قلم لیکل شوی، پر ټولو ملتپالو عراقیانو د ناسور ټپ په شان لګېږي، پـه همدې خاطر خو یې په عراق کې دده د ماموریـت کمپلـه ټولـه کـړه. ګالبریټ څو موده دمخه د بي بي سي د نړیوال سرویس په یوه مناظره کې چې په (دوحه) کې جوړه شوې وه او په ژوندۍ بڼه له بي بـي سـي ټلویزیون څخه خپرېدله، یو ځل بیا څرګنـده کـړه؛ تـر څـو چـې پـه افغانستان کې د نظام بڼه بدله نه شي، هلته ثبات نه راځي، د ده په نظر د نظام د بڼې بدلون هغه مانا ورکوي چې په ډېرې اسانۍ او مهارت سره د واک طبعي جوړښتونه خپل واک مصنوعي سرچینو ته پرېږدي، یانې د وسایلو او امکاناتو ماهرانه استعمال ددې سبب کېږي، چې سیاسـي واک په اسانۍ سره له اکثریت څخه اقلیت ته ولېـږدي، هغـه هـم پـه داسې شرایطو کې چې په افغانستان کې د اقلیتونو د حقوقو د سـاتنې په پلمه د کورنیو او بهرنیو مدعیانو غوا لنګه ده. هالبروک د جمهـوري ریاست د ټاکنو پر دویمه ورځ چې د رایې شمېرنې اساسي بهیر لا پیـل شوی نه و، د افغانستان د جمهوري ریاست په مانۍ کې پر کرزي نیوکه وکړه، چې په پښتون مېشتو سیمو کې درغلي شوې ده. ده په ځانګړي ډول (ننګرهار) ته ګوته ونیوله، دده په نظر په ننګرهار کې اصلاً دومـره نفوس نه شته، نو ولې دومره خلک رایه واچوي؟ هالبروک هغه وخت د ډاکټر عبدالله، نظار شورا او نورو هېواد دښمنو عناصـرو تـر تبلیغـاتو لاندې دومره کوچنی شـوی و، چـې اصـلاً د افغانسـتان لـوی او واړه ولایتونه، ګڼ مېشتې سیمې او نور ټول یې له یاده وتي وو، ما چې هغه وخت د هالبروک منطق ته وکتل چې ولې یو لوی او ګڼ مېشته ولایت

په کم نفوسه ولایت کې حسابوي، هغه وخت مې اندېښــنه نــوره هــم زیاته شوه، چې نه والله ددې سرې پــه ذهــن کــې نــورې خبــرې دي. ګالبریټ په خپله مخه لاړ، خو هالبروک لا بیا هم د افغانستان لپاره په امریکایي ماموریت کې د واک و ځواک څښتن دی. ویل کېــږي چــې د جمهوري ریاست تر ټاکنو دمخه پر ښاغلي کرزي د هــالبروک او نــورو امریکایي سیاستوالو یو شرط دا و چې یو به (لویه جرګه) نه راغواړي او بل به له طالبانو سره د سولې خبرې نه کوي.

له رښتینې لویې جرګې څخه د دوی وېره دا وه چې کېــدی شــي دا جرګه د امریکا د پوځي شتوالي د قانونیت خبــره راولاړه کــړي او لــه طالبانو سره د خبرو د پیلېدو وېره دا وه چې کېدی شي په دې کار سره سوله راشي، بیا به د دوی اوږدمهالي پاتې کېدو ته پلمه پاتې نه شي او هغه ستراتیژیک هدفونه چې دوی یې لري، هغو ته به زیان ورســېږي. خیر په هر ترتیب، سره له دې چې نه پر دې وخــت د رښــتینې لــویې جرګې د جوړېدو امکان و او نه هم په داسې شرایطو کې چې د دولــت ټول حساس امنیتي ارګانونه د شمالټلوالې په واک کې دي، له طالبــانو سره د رښتینو خبرو پیلول عملي بڼه لري. شمالټلواله په هېڅ قیمــت دېته حاضره نه ده چې د سولې او عدالت په بدل کې خپــل نامشــروع واک له لاسه ورکړي، خو په هر ډول امریکایانو وېره احساسوله.

د ښاغلي هالبروک او ښاغلي کرزي ترمنځ نورې ډېرې داسې ترخې خبرې تبادله شوې چې لاتراوسه د رسنیو مخ ته نه دي راوتلي، خو په هر ډول له دې ټولو خبرو څخه داسې اســتنباط کېــږي، چــې امریکــا غواړي په سیمه کې د خپلو هدفونو د بري تر وخته پاتې شي او تر هغه وخته د جګړې غځول د دوی یوه اړتیا ده. دا چې لر او بر پښتون ولــې

ددې جګړې قرباني دی، ددې یو علت دا دی چې د روسانو تـر یرغـل وروسته د پښتنو سیاسي او قومي اډانه کمزورې شوه، دا قوم د سیمې او نړۍ په کچه داسې کوم دوست نه لري چې د دوی اواز نړۍ ته پورته کړي، سیاسي، علمي کدرونه یې هم کم دي، نړیـوال روابـط یـې هـم کمزوري دي، ټول ګاونډي هېوادونـه یـې دښـمنان دي، جګـړې یـې اقتصاد ډېر کمزوری کړی، له پوهې او عصري زده کړې هم محروم پاتې شوي، نو ځکه خو هر کورني او بهرني یرغلګر، کس او نـاکس تـه ددې لاره اواره ده چې پر پښتنو بلوسه وکړي.

د همدې تسلسل په لړ کې ښاغلي هالبروک یو ځل بیا څه نوي زهر وشیندل د پښتنو په باب یې یو ناوړه تعبیر وړاندې کړ او یو ځل بیا یې خپله پټه کینه څرګنده کړه. ښاغلي هـالبروک د خپلـې کینـې پـه څرګندولو سره دومره مخې ته لاړ چې ان روسانو هم د خپـل لسـکلن اشغال په کلونو کې د پښتنو پر وړاندې دومره سـپین سـترګي نـه وه کړې او دومره ستغ الفاظ یې نه وو کارولي. هغوی سره لـه دې چـې د پښتنو نږدې دوه ملیونه کورونه ړنګ، په ملیونونو یې مهاجرت ته اړ او په ملیونونو نور یې شهیدان کړل، خو بیا یې هم هېڅکلـه دومـره پـه زغرده خپله کینه د رسنیو پرمخ نه وه څرګنده کړې. د (ګلوبل پوسټ) د راپور له مخې ښاغلي هالبروک د مارچ پر ۵ نېټه (هاروارډ فوروم) ته په خپله وینا کې څرګنده کړې چې: ((امریکا د افغانسـتان د سـولې او ملي پخلاینې په پروسه کې شامله نـه ده، طالبـان د پښـتني ټـولنې زېږنده دي او په هره کورنۍ کې داسې څوک شته چې له طالبانو سـره تړاو لري، افغان ولسمشر حامدکرزی هم پښتون دی، ځکه خو نوموړی غواړي له طالبانو سره سوله وکړي.))

په پورته څرګندونو کې هالبروک د سولې بهیر ردوي، جګړې ته ترجیح ورکوي، پښتانه طالبان بولي او لازیاتوي چې: ((طالبان او پښتانه لکه د غالیو د تارونو په شان یو بل سره اوبدل شوي دي...)) او کرزی ځکه له طالبانو سره د سولې بهیر تعقیبوي چې ګنې پښتون دی. دلته غواړم ښاغلي هالبروک ته د افغاني په تېره بیا د پښتني ټولنې د طبعي جوړښت په باب څو ټکي څرګند کړم: لومړی دا چې پښتانه اساساً افراطي خلک نه دي، غبرګه یې پراخه او اوسېله یې د امریکا تر دنګو ماڼیو هم لوړه ده. افراطیت، اخوانیزم او طالبیزم ستاسو د سیاستونو نتیجه وه، چې دلته خواره شول. اخوانیت او افراطیت مو د روسانو پر ضد د جګړې لپاره د یوې وسیلې په توګه پیاوړی کړ او طالبانیزم مو د خپلو اقتصادي ګټو په خاطر له سعودي عربستان او پاکستان سره په تفاهم کې رامنځته کړ او په دواړو حرکتونو مو زموږ د ټولنې طبعي جوړښت او مسیر ته زیان ورسوه؛ د واک طبعي سرچینې مو زیانمنې او تصنعي سرچینې مو رامنځته کړې. دا چې ستاسو خپله رامنځته کړې پدیده ټول عمر ستاسو په ګټه نه تمامېږي، دې کې زموږ د مظلوم ملت ګناه نه شته، دا ستاسو خپله اشتباه ده. اسامه او نور ستاسو د حرکتونو په نتیجه کې پر افغانستان رانازل شوي وو، کله چې پښتنو د همدې جهادي تنظیمونو تر سیوري لاندې د روسانو پر وړاندې جګړه کوله، نو د اتلولۍ فلمونه به یې تاسې په سینماګانو کې نندارې ته وړاندې کول، مهرباني وکړه خپل سینمایي ارشیف ته مراجعه وکړه. اسامه هم ستاسو په لارښوونه د روس پر ضد جګړه کې د یو لوبغاړي په توګه مطرح شو. پښتون بېچاره خو د جګړې په سیند کې ډوب و، هغه میډیا نه لرله چې خپلې اتلولي وځلوي، همدا تاسې

وئ چې د هرې پردې رنګ ته مو بل رنګ ورکولای شو. د روس د تپــل شوې جګړې داستان چې ختم شو، نو تاسې د شــوروي لــه احتمــالي يرغله بې غمه او پر ارام خوب ويده شوئ، خو زموږ ملت تــه مــو ددې مجال ور نه کړ چې خپل زخمونه بېرته وګنډي او خپل شلېدلی ګرېوان راټول کړي، بيا مو د جهاد په نامه (اوه سري) او (اته ســري) ښــاماران پرې رانازل کړل، هره ورځ به يې ددې وطن په سلګونو پېغلې او ځوانان تر ستوني تېرول. بيا چې کله د(يونيکال) او (بريډاس) کمپنيو ســيالۍ پيل شوې، په سپين لباس کې مو تور ذهنيت بيا پر دې ټولنــه واکمــن کړ، خو کله چې ستاسو په اند يې زيان تــر تاســو در ورســېد، نــو بيــا درباندې ځمکه سره شوه، پرته له دې چې لږ له تعقل او زغم څخه کــار واخلئ د هوا تر څپو مو هم تېز پر افغانستان راودانګل. دلته مو بيا هغه مړه او نيم ژواندي لړمان، ماران او ښاماران بيا راژوندي کړل چې تر دې دمه لا طالبانو دا ولس ترې ببغمه کړی و، ټول په ځمځو کې ننــوتي وو. تاسو بيا هغه راژوندي کړل، څه مو د الوتکو تر وزرونو لاندې او څه مو د خپلو ټانکونو پر سرونو باندې تر کابله را ورسول. په (بن) کــې مــو يــو تصنعي کنفرانس چې زموږ د ولس د چوپ اکثريت اکثره قاتلين په کې ناست وو، جوړ او د سياسي واک اساســي کيلــي مــو د هغــو پــه لاس ورکړه. هغوی ته مو وويل چې موږ مو تر شا ولاړ يو، واک چلوئ، د خپلو پيسو سيلاو مو پرې را خور کړ، خو دوی ددې پرځای چې په دې پيسو زموږ د  ولس زخمونه درمل کړي، خپل ځانونه يــې پــرې وپړســول؛ د ولسواکۍ په نامه يې دکانونه او مارکيټونه خلاص کړل، نوې ډلې ټپلــې يې جوړې کړې، هر چا ببرته خپلې هغه پخوانۍ يارانې راتــازه کــړې؛ د روس ګوډاګيان د روس، د ايران د ايران او نور د نورو د خــواوو تــه لاړل.

هغه وخت دوی ټولو په پټه ستاسو پر ساده ګۍ خندل او په هره خصوصي غونډه کې به یې ویل: (( یاره موږ به فکر کاوه چې دا امریکایان به ډېر هوښیار وي دا خو ډېر ساده خلک دي، پیسې د دوی دي او کارونه زموږ خپل دي...)) خپلو اصلي بادارانو به یې ویل: ((ښه طلایي چانس دی؛ امریکا په افغانستان کې زموږ د هدفونو د پلي کولو لپاره پیسې لګوي...)) تاسې کله هم دا موضوع درک کړې چې په افغانستان کې تاسې د ځمکې پرمخ کار کوئ، خو ایران او روسیه تر ځمکې لاندې؟ ایا دا دې کله درک کړې چې د افغانستان په دولتي ادارو په تېره بیا په کابل کې له هرو پنځو کسانو څخه یو یا دوه یې ایران ته ژمن دي؟ ایا ته پر دې پوهېږې چې ستاسو د پیسو په زور په اصطلاح ازاده افغاني میډیا کې ایراني مفکوره ځلېږي؟ تا څخه یې ذهن دومره اخیستی چې پر دې اصلي خطرونو نه پوهېږې، خو همدا وایي چې: ((د هر پښتون په کور کې یو طالب شته)) او بل کرزی ولې یادوې؟ ته نه پوهېږې چې هغه څومره واک لري؟ او پښتنو ته یې څه ورکړي؟ د پښتنو له زړه خو کرزي ته وینې څاڅي، د کرزي خو یوازې په انتخاباتو کې پښتانه یادېږي، د واک پر وخت یې نه یادېږي، تاسې خو تل داسې کړي چې د کرزي پر وړاندې داسې یو څوک ودروئ چې زموږ ولس له مجبوریت او ناچارۍ څخه کرزي ته رایه ورکړي. ستاسو په خپلو رسنیو کې اعلان وکړ چې د ملي پوځ په سلو کې (۲) عسکر پښتانه دي، څه فکر کوئ هغه پوځ چې په سلو کې یې (۲) عسکر پښتانه وي، نو چې په ټېټه کچه دا حال وي په پورته پوړیو کې به څه حال وي؟ ایا پښتون چې په خپل هېواد کې له دغسې یو محرومیت سره مخامخ وي، څه فکر کوئ چې دا حالت به د نفرت کوم پړاو ته

رسېږي؟ له ښاغلي هالبروک څخه مو خو په دې ګيله نه ده چې ولې مو وژني، ولې مو کورونه بمباروي، ولې مو د طالب په نامه ګوانتانامو ته بيايي، ځکه موږ خو هسې هم له دې ډول غمونو او تراژيديو سره عادت يو؛ يتيم هسې هم په ژړا پوخ وي، له روسانو څخه مو کله ګيلـه وکـړه چې اوس به يې د (هالبروک) په شان امريکايانو څخه وکړو، خو لـه ده ښاغلي څخه مو په دې ګيله ده؛ هغه څوک چې زما نه دي نو ولې يـې زما په نامه يادوې او يا ولې ما د هغو په نامه يادوې؟ طالبان د پښتنو په سيمه کې ښوونځي سېزي، پلونه نړوي، ښوونکي وژني او پوهنځي لـه منځه وړي او پښتانه له سلګونو محروميتونو سره مخـامخوي، د ژونـد ټول اساسي امکانات ورڅخه واخلي، خـو تاسـې بيـا هغـه د پښـتنو استازي بولئ او يا د پښتنې ټولنې زېږنده پديده. ايا که امريکا کې کوم ګوند، ډله يا د سرزورو يو ګـروپ ستاسـو ښـوونځی يـا پـوهنځی او درملځی در وسېزي او موږ بيا په نړيواله کچه هغه د امريکايانو په نامـه ياد کړو چې دا د امريکايانو استازي کوي، نو تاته به څومره زور درکړي؟

جمهور رئيس کرزی ولې يادوې؟ يو زيات شمېر پښتانه په دې نظـر دي چې د ده په واکمنۍ کې خو پښتانه دومـره وځپـل شـول چـې د چنګېزخان په عصر کې هم نه دي ځپل شوي، نو د هغه دا سـمبوليک واک بيا ولې د پښتون په نامه محاسبه کوې؟ يانې تاسو په خپل هېواد کې د کوم داسې انتخابي ولسمشر چې د خپلې واکمنۍ پر مهال يې د هغو سيمو يا ښارونو خلک چې تر ټولو زياتـه رايـه يـې ولسمشـر تـه ورکړې وي، خو تر ټولو زيات هغوی په حکومت کې لـه خپلـو حقوقـو محروم شوي وي، بېلګه لرئ؟ پوره باور دی چې نه يې لرئ، نو چې نـه

يې لرئ دا ډول ولسمشران هم بايد د پښتنو د استحقاق په جـــم كـــې محاسبه نه شي.

ښاغلی (هالبروک)! بله خبره: تاسو چې وايئ: ((د هر پښتون په کور کې يو طالب دی))، نو ايا ستا دا نيت دی، خو دا مانا نه ورکوي جګړه تر وروستي افغانه پورې وغځېږي؟ ځکه که ستا په وينا؛ په هــره پښـــتنه کورنۍ کې يو طالب وي، نو پښتانه خو اوس د ځمکې پر مخ تر شـــپېتو مليونو تنو پورې رسېږي او تاته خو به زموږ کلتـــور معلـــوم وي، چـــې د کورنۍ هر غړی په بل سر ورکوي، نو بيا خو ته يوازې له طالبانو سره نه جنګېږې، بلکې شپېتو مليونو پښتنو سره جنګېږې، ايا تاســـو دومـــره زورور ياست او يا دې له لوی خدای(ج) څخه کوم فرمان راوړی، چې دا شپېته مليونه خلک به ټول وژنئ، که ددې نيت لرئ نو بيا خـــو داســـې عام وژنه نه هېټلر کړې، نه چنګېز او نه د نړۍ پرمخ کوم بل چا. نو بيـــا به دې ته هم د بشري حقونو د تامين او ديموکراسۍ الفاظ کاروې؟

ښاغلی هالبروک! تاسې اوس پر همغه خطرناکه لار روان ياست چې تر تاسو شل کاله مخکې روسان پـــرې روان وو. هغـــوی هـــم دلتـــه لـــه اکثريت پښتنو سره دښمني پيل کړه، کورونه او کلي يې ور وران كـــړل او تاسو هم همغه کارونه پيل کړي، هغوی هم يوه محدوده ډله او لړکي واک ته ورسول او تاسې هم همغه مسير تعقيبوئ، د هغوی نتيجه خـــو هغه شوه چې پښتانه يې هم تباه کړل او خپله امپراتوري يې هم ړنګـــه کړه، تاسې هم کېدی شي پر همغه برخليک اخته شـــئ! هيلـــه ده پـــه افغانستان کې د شوروي لښکرو د ټولو قطعـــاتو د مشـــر ســـتر جنـــرال الکساندر مايوروف ليکلی اثر: ((په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل؟)) په دقت سره ولولئ، هغه ليکلي وو: (( د افغانستان جګړې زموږ لپاره د

هغه خښ شوي ماین حیثیت درلود، چې یوې لـویې امپراتـورۍ پـرې پښه کېښوده او په پای کې دړې وړې شوه.)) نو مخکـې تـر دې چـې ستاسو امپراتوري د شوروي امپراتورۍ پر برخلیک اخته شي، ښـه بـه وي چې په خپلو خبرو، ویناوو او عمل کې پوره دقت وکړئ، د یوه ملت د تباهۍ اسباب مه برابروئ چې ستاسو د تباهۍ اسباب برابر نه شـي. مه پښتنو ته غمونه کره او مه خپل هېواد ته!

کوهي مه کنه د بـل سـړي په لار کې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
رحمان بابا

# افغانستان او عربي متحده امارات ګډې وجې او مشترکې ګټې

**دا ليکنه پر (۱۳۸۵ل) کال شوې وه، هغه وخت مې په کابل کې د اماراتو سفارت اړوندو کارکوونکو ته ورولېږله، خو چا پرې سر ونه ګراوه.**

افغانستان او عربي متحده امارات هغه دوه اسلامي هېوادونه دي چې د ګډ کار، تفاهم او ګډو ګټو ډېر زيات مشترك ټکي لري. که د دواړو هېوادونو د سياستوالو له خوا يوه پراخه، دقيقه او هر اړخيزه ستراتيژي جوړه شي، نه يوازې به ددې دواړو هېوادونو ملي ګټې تامين او غښتلې شي، بلکې د منطقې سياسي ثبات ته به هم ډېره ګټه ورسېږي. څرنګه چې د افغانستان په دولت کې له ګاونډيو او اسلامي هېوادونو سره د مناسب چلند په باب يوه دقيقه او ملي ستراتيژي نه شته نو ځکه لکه څنګه چې لازمه ده، د عربي هېوادونو په تېره بيا د عربي متحده اماراتو له سياسي، مذهبي او اقتصادي قوت څخه د افغانستان په بيا رغونه او پرمختګ کې لکه څنګه چې لازمه وه، ډېره ګټه نه ده پورته شوې. ددې دواړو هېوادونو ترمنځ ډېر مشترك ټکي شته چې که پاملرنه ورته وشي دواړو هېوادونو ته يې ګټه او خير رسېدلای شي. دلته به د ځينو هغو ټکو چې د

دوارو هېوادونو ملي ګټو ته زیان پېښوي او هم ځینو هغو ټکو ته چې دواړه هېوادونه سره وصلوي په لنډیز سره نغوته وکړو:

**۱- په سیمه کې د ایران ناکنتروله قوت:** ایران داسې یو هېواد دی چې اوس په سیمه کې د سیاسي، اقتصادي او پوځي قوت په توګه مطرح کېږي. د ایران ناکنتروله قوت طبعاً نه یوازي غربي نړۍ، بلکې د ایران ګاونډیو هېوادونو له هغې جملې څخه افغانستان او عربي متحده اماراتو ته غټ ګواښ دی. ایران غواړي د سیمې ګاونډیو هېوادونو ته د شیعه مذهب، فارسي ژبې او ایراني فرهنګ له لارې نفوذ وکړي، افغانستان کې دوی اوس فوق العاده، مذهبي، کلتوري، سیاسي او پوځي مداخله کوي، عربي هېوادونه هم په اینده کې له دې مداخلې څخه خوندي پاتې کېدی نه شي، خصوصاً له مذهبي مداخلې څخه، نو که افغانستان او عربي نړۍ په تېره بیا د عربي متحده ایالاتو سیاستوال په دې برخه کې یوه اوږد مهالې ستراتیژي جوړه کړي نو د ایران د مداخلې او مضر قوت په مخنیوي کې به مهم رول ولوبوي. د افغانستان او عربي متحده اماراتو لپاره یو ښه طلایي چانس دادی چې اوس د نړۍ اکثره ځواکمن هېوادونه، په تېره بیا غربي نړۍ د ایران مخالفان دي، د هغوی له ملاتړ او پاملرنې څخه هم په دې برخه کې ښه مرسته اخیستل کېدلای شي.

**۲- د پاکستان پوځي قوت او د پراختیا غوښتنې سیاست:** یو شمېر عربي هېوادونه، پاکستان سره د " اسلامي اخوت" له مخې ښه مناسبات لري او پاکستان هغوی ته ځان داسې معرفي کوي چې د اسلامي نړۍ یو قوت او طاقت دی. خو پاکستان د عربي نړۍ له اسلامي روحیې څخه د خپل ځان د

تقویې او ګاونډیو هېوادونو کې د پراختیا غوښتنې سیاست د پرمخبیولو لپاره کار اخلي. دوی د افغانستان تضعیف غواړي او بیا له دې لارې د منځنۍ اسیا سرچینو ته ځان رسوي. پاکستان په خپله اینده ستراتیژۍ کې دا هم غواړي چې د چین په مرسته " ګوادر بندر" جوړ کړي او دا بندر د دوبۍ په شان د یوه ازاد بازار او مارکیټ شکل غوره کړي او په دې ډول د منځنۍ او سویلي اسیا اقتصادي مارکیټ راخپل او کنترول کړي. دا کار به اینده کې ددې سبب شي چې له پاکستان څخه یو غټ اقتصادي قوت جوړ شي او له دې قوت څخه به د افغانستان د کمزورۍ لپاره لازیاته ګټه پورته کړي. د " ګوادر بندر" نه یوازې د پاکستان د اقتصادي تقویې سبب ګرځي، بلکې ددې عامل هم ګرځي چې د (دوبۍ) او د اماراتو د نورو بندرونو اقتصادي ارزښت کمزوری کړي او په اوږده مهال کې هغو ته ډېر زیان واړوي. نو پاکستان او ایران دواړه افغانستان او عربي متحده اماراتو ته په اوږده موده کې پراته خطرونه دي چې مخکې تر مخکې ددې خطرونو علاج په کار دی.

۳- د افغانستان او عربي متحده اماراتو مذهبي پیوستون: افغانستان هغه سني مذهبه مسلمان هېواد دی چې له مذهبي پلوه له عربي نړۍ او عربي متحده اماراتو سره پیوستون لري. که څه هم ایران غواړي په افغانستان کې د شیعه اقلیت د تقویې له لارې د افغانستان د سني مذهبه ټولنې رنګ بدل کړي او له مذهب نه د یوې سیاسي وسیلې او د خپلې پراختیا غوښتنې سیاست د یوې الې په توګه ګټه پورته کړي، خو اوس هم د افغانستان څرګند اکثریت له عربي نړۍ او عربي متحده اماراتو سره خپل مذهبي او پخوانی دودیز پیوستون

غواړي او عربي نړۍ د خپلو مذهبي لاربنوونو لپاره د تقليد مرجع ګڼي. سږ کال په کابل کې په دوو بېلابېلو ورځو کې د شيعه او سني مذهب پر بنسټ دلوی اختر او نورو ورځو لمانځل د ایران د مذهبي مداخلې او پرمختګ بل غټ ثبوت دی. عربي متحده امارات چې اوس په عربي، اسلامي او ټوله نړۍ کې د ښه لوړ موقف او ښه اقتصاد خاوند هېواد دی او له سیاسي پلوه با اهمیته ملك ګڼل کېږي، له افغانانو سره په افغانستان کې د ایران د مذهبي – سیاسي نفوذ د مخنیوي په لاره کې ډېره مرسته او هم نورې نړۍ ته د دپلوماتیکو چینلونو له لارې د ایران دمداخلې او د افغانانو د مظلومیت حالت ور په ګوته کولای شي.

۴- ژبني او کلتوري روابط: افغانستان او د عربي متحده امارات او ټوله عربي نړۍ پر مذهبي پیوستون سربېره ژبني او کلتوري روابط هم لري. افغانستان کې د نړدې ټولو مقدسو مذهبي ځایونو، شخصیتونو او مسجدونو نومونه، دهمغو نومیالیو دي چې عربي نړۍ پورې اړه لري او د اسلام د مقدس دین په خپراوي کې یې ډېر زیات زیار ګاللی دی، عربي ژبه نه یوازې د ټولې اسلامي نړۍ د پیوستون ژبه ده، د افغانانو لومړۍ مذهبي ژبه هم ده او د افغانانو هر کور او کلي ته یې لاره پیدا کړې. ایران غواړي په افغانستان کې د اکثریت ژبې ( پښتو) او د اسلامي نړۍ د ژبې (عربي) دواړو پر ضد هڅې پیل کړي، په مذهبي برخه کې یې د لسګونو مدرسو ترڅنګ د لسګونو ملیونو ډالرو په لګښت د شیخ محمداصف محسني تر چتر لاندې د " جامعه خاتم النبین" په نامه یوه لویه مدرسه جوړه کړه او د خپلې فارسي ژبې د پراختیا لپاره پر لسګونو اخبارونو سربېره، د یو

شمېر تلویزیونو له لارې غواړي خپله ایرانۍ ترمینالوژي او ایراني فارسي په ټول افغانستان کې مروجه کړي.

ایران هر کال په لسګونو ملیونه ډالره د خپل کلتوري سیاست د پراختیا او تطبیق لپاره په افغانستان کې مصرفوي. نو داسې یو هېواد چې په نورو اسلامي هېوادونو کې د ناوړه مداخلې او پراختیا غوښتنې نیت لري، د هغه پر وړاندې د ګډې مبارزې ترسره کول پر ټولو اسلامي هېوادونو په تېره بیا پر افغانستان او متحده عرب اماراتو لازم دي.

**۵- د افغانستان په دولت او سیاسي ډلو کې د عربي نړۍ مخالفین:** د افغانستان په دولت کې او تر دولته بهر یو شمېر داسې اشخاص، کړۍ او ګروپونه شته چې هغه هم د افغانستان د ملي ګټو، هم د هېواد له اکثریت پښتنو او هم له عربي نړۍ سره سخت مخالفت لري. دا کسان اکثره د ایران، روسیې او ځینو نورو ګاونډیو هېوادونو له خوا تمویلېږي، او هغوی یې سیاسي او اقتصادي ملاتړ کوي، مرکزي دولت دېته نه پرېږدي چې پر ټول هېواد واکمن شي، د افغانستان بهرنی سیاست د ایران، روسیې او ځینو نورو له خوا څارل کېږي او نه غواړي چې عربي نړۍ سره د افغانستان روابط ډېر ښه او پیاوړي شي. ایران په دې برخه کې دومره بریالی شوی چې د خپلو افغاني شبکو، ګروپونو یا تنظیمونو پواسطه یې غربي نړۍ هم د اکثریت پښتنو او عربي نړۍ پرضد له ځان سره ملګرې کړې ده. دوی داسې یوه فضا رامنځته کړې او غربي نړۍ ته یې هم دا تصور ورکړی چې هر (پښتون) یا هر (عرب) مانا (طالب) او یا (القاعده) دی. د تروریزم له دغې ناوړه ټاپې څخه اوس تر ډېره حده ایران او په هغه پورې ځینې تړلې افغاني ډلې ګټې پورته کوي، افغانستان

او عربي متحده امارات باید داسې مشترکې هلې ځلې وکړي چې هم د غربي نړۍ ذهنیت بدل کړي او هم هغه ناوړه ګټه چې ایران یې له دې حالت څخه اخلي، ددې ناوړه ګټو مخنیوی وکړي.
که په افغانستان کې د ایران او روسیې د پټو او ښکاره مداخلو د مخنیوي لپاره د افغانستان دولت د خپلو ملي ګټو او عربي هېوادونه، په تېره بیا عربي متحده امارات د خپلو ملي ګټو پر بنسټ چې دا دواړه له یوې واحدې مرجعې څخه تهدیدیږي، د یوې اوږدې، ژورې او واقعي ستراتیژۍ د جوړولو له لارې هڅې ونه کړي، نو نه یوازې به افغانستان د ایران تر سخت سیاست، کلتوري او مذهبي نفوذ لاندې راشي، بلکې عربي نړۍ ته به هم سخت ګواښونه او خطرونه پېښ کړي.
موږ دلته څو مهمو ټکو ته اشاره وکړه چې دواړو هېوادونو ته د وړپېښو خطرونو پر بنسټ په ګوته شوي دي ، د افغانستان او عربي متحده اماراتو ترمنځ د ښو همکاریو او نېکو روابطو ډېرې خواوې شته چې کېدی شي د عمومي ستراتیژۍ دیوې برخې په توګه نورو جزئیاتو ته هم اشاره وشي، خو دلته یوازې څو مهمو ټکو ته اشاره وشوه.

# د طالبانو له مشرتابه څخه څو هيلې

دا ليکنه پر (۱۳۸۸ل) کال هغه مهال وشوه چې يو پخواني ټيټ پوړی طالب چارواکی له زابل څخه کابل ته راغلی و، ما سره يې وکتل، شونډې يې وچې، رنګ يې الوتی او تور ژېړي نيولی و، سخت ناروغه و، طالبي يې پرې ايښې وه، په خپل کور کې اوسېده، ما ترې د پخوانيو لوړ پوړو چارواکو پوښتنه وکړه، هغه وويل، اکثره يې ژوندي دي، زياتره يې په کوټه کې دولتي خو له داخل سره هم تماس لري، که کوم پيغام لرې د بېلابېلو اشخاصو په لاس يې ورسولای شم. ما دغه ليک ورته ورکړ چې متن يې دلته کټ مټ وړاندې کوم.

د طالبانو مشرانو ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده افغانستان له يو لړ داسې مشکلاتو سره مخامخ دی، چې ټول افغانان بايد د هغو په حل کې يو بل ته لاسونه سره ورکړي. افغانان که په هر نظر وي خو چې د لويو مشکلاتو په حل کې يو بل سره همکاري ونه کړي، هېواد يې له لا ورانۍ او ويجاړۍ سره مخامخېږي. ځينې مشکلات داسې دي چې طالبان او د هغو مشران يې په حل کې مرسته کولای شي، نو ځکه خو د طالبانو او د هغو د مشرانو پام دې لاندې مشکلاتو ته را اړوو او هيله ورڅخه کوو، چې د هغوی په حل کې خپل اسلامي او ملي مسوليت ادا کړي:

**۱- د قومي مشرانو وژنه:** د افغانستان په يو شمېر سيمو کې چې هلته طالبان هم حضور لري، د قومي مشرانو د وژنې سيستماتيکه

لړۍ روانه ده، که چېرې دا کار د طالبانو له خوا کېږي، نو د طالبانو لــه مشرانو څخه هیله کوو چې دا لړۍ ژر تر ژره بنده کړي، ځکه د قــومي مشرانو وژنه هېواد له سخت بحران سره مخــامخوي او کــه چېــرې د طالبانو په نامه د نورو کړیو له خوا دا ډول عمل ترسره کېږي، نو طالبان او د طالبانو مشران یې باید مخنیوی وکړي او په دې اړه دې خپل نظــر په ډاګه څرګند کړي.

**۲- د ښوونځیو سوځونه:** د ښوونځیو سوځونه او تړنه د هېــواد لویه تباهي ده. له طالبانو څخه هیله کوو چې په جدي ډول د ښوونځیو د ړنګولو او سوځولو مخه ونیسي.

**۳- د ماینونو ایښودل:** په ځینو سیمو کې په زراعتــي ځمکــو، لارو، کوڅو او نورو استوګنو سیمو کې ماینونه ایښودل کېږي، مــاین د انسان د دایمي او پټ دښمن په توګه پاتې کېږي، هیله ده طالبان ددې ډول کارونو مخه هم ونیسي.

**۴- د امریکایانو پوځي اډې:** که چېرې طالبان په افغانستان کې د امریکا د پوځي اډو مخالفت وکــړي، نــو امریکایــان بــه د طالبــانو د پخوانیو مخالفینو په مرسته او همدارنګه د ګاونــډیو هېــوادو د ځینــو کړیو په ګډو هلو ځلو دا کار وکړي، نو په داسې یو حالت کې به دا کار د افغانانو لپاره په ډېر زیات زیان تمام شي، خــو کــه طالبــان ددې کــار مخالفت ونه کړي او یا ځان غلی کړي، نو کېدی شي دا کار افغانســتان ته په ګټه تمام شي.هدف دادی چې د طالبانو د مخالفــت ګټــه بایــد د طالبانو او افغانستان مخالفینو ته لاړه نه شي. که د امریکایانو تر پــاتې

کېدو وروسته طالبان وروسته بیا د اډو مخالفت کوي پر هغه مهال بیـــا مخالفینو ته ډېره ګټه نه رسېږي.

**۵- افغانستان کې د سعودي او ترکیې رول:** سعودي عربستان او ترکیه ستر اسلامي هېوادونه دي، د سولې په برخه کـــې د دوی رول د افغانستان په خیر دی، طالبان که دې هېوادونو ته په درنــه ســترګه وګوري، نو دا کار افغانستان ته په ګټه دی.

**۶- نوی پارلمان:** افغانستان کې د نوي پارلمان له جوړېـدو ســره نوې ستونزې راټوکېږي، یو شمېر کړۍ شته چې افغانستان د فدرالیزم خواته بیایي، طالبان باید دې ډول لویو خطرونو ته متوجه وي.

په درناوي

محمد اسمعیل یون

# یو تریخ او خوږ لیک

یادښت: د غبرګولي پر اتمه نېټه؛ د شنبې ورځ د غرمې ډوډۍ پرمهال خبر شوم، چې جمهور رئیس له ځینو ډلمشرانو سره تر سلامشورو وروسته پرېکړه کړې، چې ښاغلی برهان الدین ربـاني د سـولې د ملـي مشـورتي جرګې د رئیس په توګه انتصابوي، ددې خبر په اورېدو سره د غرمې ډوډۍ راباندې ډېره ترخه شوه، سملاسي مې دا لیک ولیکه، جمهور رئیس ته مې پر همغه ورځ د ځو تنو هغو اشخاصو په لاس ولېږه، چې هغه ته هر وخت د ورتګ لاسرسی لري، له نېکه مرغه جمهور رئیس ته پر همغه ورځ دا لیـک ورسېد او ښه خبره لا دا چې ولسمشر په خپل کور کې دا لیک له پیله تـر پایه لوستلی و، ماښام راته د ټلېفون په ذریعه خبر راکړ شـو، چـې رئـیس صیب ډېر په قهر دی او سبا (یکشنبې ورځ غرمه) یې غوښتی یې.

د یکشنبې ورځ غرمه له ښاغلي سرمحقق زلمي هېواد مل سره یوځای ورغلم. د توقع خلاف جمهور رئیس ماسره دومره نېک او صـمیمي چلنـد وکړ، چې ما یې هېڅ هیله نه لرله، له اخلاصه ډکه غېږه یې راکړه او په غوږ کې یې راته وویل: (( ډېر ګلالی لیک دې راته رالېږلی و، اوس نو راځه چـې زه درته خپله کیسه بیان کړم)). ولسمشر ډېرې اوږدې او دردونکې خبرې وکړې، خپل مجبوریتونه یې یو په بل پسې بیـان کـړل، کـورنۍ او بهرنـۍ توطیې، خپل امکانات او ځواک یې ټول موږ تـه څرګنـد کـړل. د جمهـور رئیس مجبوریتونه او د افغان ولس پرضد د پټو توطیو څرنګـوالی یـو بېـل بحث دی چې بیان یې بېل زمان او مکان غواړي، د کتنې وروستي ټکـي دا

وو، چې ولسمشر خپلو مجبوریتونو ته ګوته نیوله او ما د عدالت د تطبیق غوښتنه کوله، د ظالمانه او ناعادلانه مجبوریت او سالم عدالت ترمنځ ډېر واټن او تضاد موجود و. یوه نیمه بجه د جمهور رئیس له دفتره راووتم او د سولې ملي مشورتي جرګې د دفتر پر لوري لاړم، ټوله ورځ راباندې غمېدلې تېره شوه.

د دوشنبې ورځ د لویې جرګې کېږدۍ ته یو زیات شمېر راغلي استازي له دې احتمالي پرېکړې خبر شول، ټولو سخت تشویش څرګند کړ او دا کار یې جرګې ته یو ستر ګواښ وباله.

د چار شنبې ورځ د ملي مشورتي جرګې لومړۍ پرانیستونکې ورځ ده، که چېرې جمهور رئیس د استاد رباني په باب خپلې احتمالي پرېکړې ته عملي بڼه ورکړي، نو پوهېږم چې زیات تشویشونه او اندېښنې به راوټوکوي. ما خپله اندېښنه لا وار دمخه د خپل لیک او کتنې له لارې جمهور رئیس ته څرګنده کړې ده. غواړم خپل ملت سره هم په دې اړه خپل درد شریک کړم او په دې ډول د یوه عادي افغان په توګه تر خپل وروستي وسه خپل مسولیت ادا کړم. دا دی دا لیک له دې یادښت سره یوځای ستاسو مخې ته ږدم.))

# یو تریخ او خوږ لیک

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت قدرمن جمهور رئیس ته!**

**تر ټولو دمخه سلامونه او نېکې هیلې!**

له بېلابېلو سرچینو څخه خبر شوي یو، چې ستاسو له خوا، ښاغلی پروفیسور برهان الدین رباني د سولې د ملي مشورتي جرګې لپاره د رئیس په توګه انتصابېږي. که دا خبره واقعیت ولري، نو دا کار

به نه یوازې د سولې د ملي مشورتي جرګې ارزښت له صفر سره ضرب کړي، بلکې د جرګې د کار دوام به هم ناممکن کړي، داسې یو شخص چې د کابل په ورانۍ او د افغانستان په تباهۍ کې پوره پوره لاس لري، د جرګې د رئیس په توګه د هغه انتصاب، خپله د جرګې لــه ارزښــت، عنعنې او ماهیت سره سل په سلو کې تضاد لري.

دې جرګې ته د ((سولې ملي مشورتي جرګې)) نوم ورکړل شــوی، دا تنظیمي جرګه نه ده چې کوم تنظیم سالار او جنګســالار یــې پــه راس کې واقع شي. د جرګې د رئیس په توګه د رباني انتصــاب بــه د مخالفینو او نړیوالې ټولنې هغه منطق لاپسې قوي کړي، چــې وایــي: ((ستاسو حکومت د ځو تنو فسادګرو او جنګســالارانو پــه لاس کــې دی.)) طالبان او د اسلامي جمعیت نور پخواني او اوسني مخالفین به په ډېر پیاوړي دریځ کې راشي او دا جرګه به هسې د باد بنګه وبولي، ټول پښتون قوم به چې هسې هم ستاسو په اته نیم کلن حکومت کې د محکومیت د اور بټۍ ته لوېدلی، د جرګــې پــه راس کــې د ربــاني غوندې د یوه متنازعه شخص انتصاب  پر خپلو حقوقو یو بــل تېــری وګڼي او نور به هم  په سیاسي انزوا کې راشي. ستاسې پــه حکومــت کې تراوسه پورې درې مهمې جرګې ( بېړنۍ لویه جرګــه، د اساســي قانون لویه جرګه او امن ګــډه جرګــه) تېــرې شــوي، ددې درې واړو جرګو مشري له پښتنو څخه واخیستل شوه، دا ددې مانا ورکوي چې پښتانه د افغانستان په سیاسي صحنه کې د فعال حضور حق نه لري. د قوم په نوم اسلامي جمعیت او ځینو نورو اقلیتونــو تــه چــې کــوم امتیازات ستاسو د واک په اته نیم کلنه دوره کــې ورکــړل شــوي، د افغانستان څه چې د نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري، ستاسو معاونین

چې د جمهوري رياست په دواړو دورو کې ستاسو تر وزرونو لانــدې د پښتنو په رايو راغلل، پر هره تنګه او سخته ورځ ستاسو پـر وړانــدې ودرېدلي، خو پښتون قوم چې يوازې په انتخاباتو کې تاسو ته د رايــو اچونې پر وخت تر بل هر چا زيات ظاهرېږي، په حکومت کې يې ونډه په واقعي مانا د بل هر چا په تناسب کمه ده، حتی ټوله نړيواله ټولنــه هم پر دې اعتراف کوي، چې د جګړې يو علــت پــه حکومــت کــې د پښتنو محروميت دی. دا حالت نور په هېڅ وجه د زغملو نه دی، چې مخالفين دې ستاسو په حکومت او سياست کې دومره امتياز واخلي، چې هم ستاسو مخالفت وکړي او هم د افغانستان ملي ګټــو او ملــي يووالي ته زيان واړوي، تر ټولو دردوونکې خبــره بيــا لا داده؛ دا ټــول امتيازات ستاسو له خوا ستاسو په قلم او ګوتو هغوی ته ډالۍ کېــږي، هغوی له دې سياسي، اقتصادي او پوځي امتياز څخه ګټه اخلي، خپل موقف قوي کوي او بېرته ستاسو او ټول ملت د ملي ګټو پــر وړانــدې ودرېږي. که رباني، محقق، اکبري، انوري، عطامحمــد او نــور ستاســو خپلېدلی، نو په تېرو اتو کلونو کې به دې په دې بې شمېره امتيــازاتو راخپل کړي وای، ستاسو په لاس د افغانستان دې ډول مخالفينو تــه په ورکړل شويو امتيازاتو کې د ټول ملت حق دی، هيله ده دا امتيــاز پر ملت ووېشل شي، نه پر څو تنو جنګسالارانو او تنظــيم ســالارانو، چې تلويزيونونه يې د نورو په پيسو او دسيسو چلېږي او افکار هم په کې د نورو خپرېږي.

دا يو بل تريخ حقيقت هم بايد درته په ډاګه کړم: کوم پښتانه چې ستاسو په حکومت کې دي او د ملي شعور خاوندان دي، هغــوی هــم ځان په دې حکومت کې دومره محروم احساسوي چې حد او بريد نه

لري، هيله ده د هغو رايه وركوونكو د حيثيت اعادې ته هـم لـږ پـام وكړئ چې د جمهوري رياست د دواړو دورو په ټاكنو كې په سـرومال تاسو سره ودرېدل، خو ستاسو په حكومت كې د همدې جنګسالارانو د زياتې وندې له امله يې اوس نه سر خوندي دی او نه مال، عجيبـه خبره داده: همغه جنګسالاران او تنظيم سالاران، چې په هره مهمـه سياسي او اداري غونډه كې يې تاسو حضور حتمي بولئ، سـهارنۍ او غرمنۍ هم درسره يو ځای خوري او ستاسو پر دسترخوان راټول دي، همغوی تر هر چا زيات په خپلو رسنيو كې ستاسو پر ضد نيوكې كوي او هغه ډول الفاظ درته كاروي چې قلم يې له ليكلو شرمېږي، خو دې سره سره هره ورځ بيا هم په دربار، امتياز او كاروبار كې ډېـر محتـرم دي. زه د هغو كسانو په جمله كې يم چې په تېرو اتو كلونو كې مـې د خپل وس تر وروستي بريده په هېواد كې د سياسي عدالت د تـامين په خاطر منډې تړړې كړي او اوس لا ستاسو په حكومـت كـې د يـو ((ماموركي)) په توګه ستاسو (ترڅنګ) خو تر تا (ډېر لرې) كار كـوم، دا ماموريت دې ماته زهر شي چې زه به يې د افغانستان د ملي ګټـو خلاف كاروم او خپلو شخصي ګټو ته به ترجيح وركوم، زه حاضـر يـم چې لومړی ما د دربار له دې عذابه خلاص كړې او بيا ورپسې متصـل ټول جنګسالاران، تنظيم سالاران، فسادګر او د اووګونو، اته ګونـو او نورو لسګونو تنظيمونو پنډتان او سياسي سوداګر، په چټكۍ سره لـه دې حكومته رخصت كړې، چې خلك په ارامه فضا كې تنفس وكړي او د سوكالۍ ورمه پرې ولګېږي. اوس د افغانستان پنځه ويشت مليونـه وګړي، نږدې دوه زره زورواكو، رسمي او نارسـمي ټوپكوالـو يرغمـل كړي، ددې دوه زره كسانو زياترو د همدې حكومت په امكانـاتو ددې

ولس پر ستوني پښه ایښې ده، که دوی سره د حکومت امکانــات نــه وي، نو ولس په ډېره اسانۍ سره د دوی سابه په مالګه کولای شي.

وخت کم و، د تنظیم سالارانو غوندې وخت پر وخت ستا د ملاقات زمینه موږ ته نه میسرېږي، نو ځکه مې درته دا (تریخ) خو (خوږ) لیک ولیکه، هیله ده لومړی د سولې ملي مشورتي جرګه له ربــاني، ربــاني خېلو او نورو تنظیم سالارانو وژغورئ او بیا نور ټول افغانستان.

په ډېر درنښت

محمد اسمعیل یون

د ګران او خوږ افغانستان یو خواخوږی

۱۳۸۹ل کال د غبرګولي ۸ مه

# بېنوا او ټول افغان

دا لیکنه د (۱۳۸۹ل) کال په بهیر کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د (بېنوا) او (ټول افغان) د وېبپاڼو د بندولو په اړه شوې او پـر همغـه مهـال ولسمشر کرزي ته ورلېږل شوې وه.

## د افغانستان محترم جمهور رئیس ته!

ټاکل شوې ده د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر له خـوا، پـه دې پلمه چې (بېنوا) او (ټول افغان) وېبپاڼو یو ناسم خبر خپـور کـړی، دا سایټونه وتړل شي. که دا نیت او هیله عملي شي، نو دا به نه یـوازې د ربنتینو او ازادو رسنیو پر فعالیت یو دروند ګوزار وي، بلکې د قـومي او ژبني تبعیض داسې یوه څرګنده بېلګه به وي، چې هېڅوک به پرې بیا پرده ونه شي غوړولای. عجیبه خبره داده چې (بېنوا) او (ټول افغـان) سایټونه په دې پلمه تړل کېږي چې یو ((ناسم خبر)) یې خپور کړی، که څه هم همغه خبر بېرته همدې سایټونو اصلاح کړی هم دی. خو بیا یې هم د دې سایټونو د تړلو پرېکړه کړې ده. د دې سایټونو د بندولو خبـر په داسې حال کې خپرېږي چې په دې بله خوا کـې بیـا هـره ورځ پـه لسګونو راډیوګانې، چاپي خپرونې، شخصي ټلویزیونونه او وېبسـایټونه د افغانستان د هویت د تخریب، د هېواد د تجزیې او ملي شخصیتونو د

سپکاوي په باب خپرونې کوي، هغو ته هېڅ نه ويل کېږي. دا نــو بيــا د تبعيض داسې يوه بېلګه ده چې په جنوبي افريقا کې يې هم سارى نــه دى ليدل شوى. که چېرې ددې وېبسايټونو د بندولو په باب د اطلاعاتو او کلتور وزير دا نېت يا پرېکړه عملــي شــي، نــو د هېــواد د اکثريــت فرهنګيانو او قلموالو غوڅ غبرګون به راوپارېږي، په هغه حالت کې بــه يې ټول مسوليت د څو زورواکو او څو پرديپالو فرهنګــي چــارواکو پــر غاړه وي.

وما علينا اللبلاغ

محمد اسمعيل يون

د افغاني فرهنګ

يو مينوال او لېوال

# د انتخاباتو کمیسیون او درغلي

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د ولسي جرګې تر ټاکنو وروسته شوې او په یادو ټاکنو کې د ټاکنو د کمیسیون درغلیو ته نغوته کوي.

۱- استعمال شوې رایې هغومره نه دي چې دوی ویلي دي.

۲- د هر ولایت مجموعي استعمال شوې رایه، په هغو کې باطله، قرنطین شوې او پاکه رایه له یو بل څخه نه ده تفکیک شوې، د پاکو رایو مجموعي شمېر هم نه دی معلوم او د ټولو رایو مجموعي شمېر هم.

۳- که له سره په هر ولایت کې د ټولې استعمالو شویو رایو شمېر قید شوی وای، کېدی شي د درغلیو مخه تر یوه حده په دې نیول شوی وای، چې د انتخاباتو کمیسیون د خپلې خوښې کاندید ته په اسانۍ رایه نه نه شوه زیاتولای، دا کار به ورته ډېر مشکل و، خو اوس ورته لاره خلاصه ده.

۴- د انتخاباتو د کمیسیون د لومړۍ او وروستۍ ورځې ارقامو ترمنځ یو ملیون تفاوت او د کابل د رایو په شمېر کې هم جوت توپیر ښکاري.

۵- ډېټابېس له تخنیکي پلوه نیمګړی دی، د ډېټابېس دویم سرور د جمهوري ریاست د رایو مرکزونو او رایو محلونو په حساب برابر شوی، خو اوس چې په پارلماني ټاکنو کې په رایو محلونو کې یو څه تغیر

راغلی، د ډېټابېس لومړی سرور ټول محلونه جذبوي، خو دویــم همغــه محلونه جذبوي چې په ډېټابېس کې قونسل (ځایگی) یا خونه لري.

۶- یوازې د څو لومړنیو ورځو په بهیر کې د (T.B) فورمو سکېن شوې بڼه په انټرنېټ وېښودل شوه، چې هغه هم په ډېر تکلیف ډاونلوډ کېدله او په ټول افغانستان کې د (فیفا) په شمول چا ددې امکان نــه درلــود چې د (T.B) فورمو دا بڼه ځانته پرنټ کړي او بیا یې له اعلان شویو رایو سره پرتله کړي. ان خپله د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیون مســولین هم ددې وس نه لري چې له خپل دفتره بهر د T.B فورمو اصلي بڼه لــه اعلان شویو رایو سره پرتله کړي.

۷- د انتخاباتو کمیسیون په تېره بیا په مرکزي دفتر کې په سلو کــې (۷۵) کارکوونکي د تنظیمي او قومي ملاحظاتو پر بنسټ غوره شــوي، چې دا برخه یې اکثره د نظار شورا، جمعیت فکري خط تعقیبوي چــې اوس یې ډاکتر عبدالله عبدالله په یوه نوې بڼه استازي کوي.

۸- د انتخاباتو کمیسیون د انتخاباتو د قانون د محتویاتو خــلاف پــه اکثرو مهمو پوستونو کې خپل خپلوان، خپــل تنظیمیــان او د خپلــې سیمې خلک مقرر کړي چې دلته یې یو څو د بېلگې په توگه یادوو:

- د IT سرپرست رئیس، شفیق احمد د کاپیسا له ولایت څخه.
- محمد سمیع، د ډېټاسنټر کواردیناتور یا مسول له پنجشــېر څخه.
- ډاکتر کامران، د ډېټــابېس ډېــولفر، چــې د شــفیق احمــد خپلوان او د کاپیسا ولایت دی.

د یادونې وړ ده چې دا درېواړه موقتي کارمندان دي، په داسې حــال کې چې دا حساس پوستونه د اداري اصلاحاتو د کمیســیون لــه خــوا

مقررېږي، خو ښاغلي فضل احمد معنوي دا له دې پروسیجر پرتــه پــه خپل زور مقرر کړي دي.

- د معنوي حقوقي مشاور، سریر برمک له پنجشېر څخه.
- امنیتي مشاور، له پنجشېر څخه.
- بشیر فاروق یو بل چارواکی، له پنجشېر څخه
- امنیتي یاور، مبین خیرخواه، له پنجشېر څخه
- حفیظ هاشمي، د دفتر رئیس له پنجشېر څخه.

په مجموعي ډول یوازې په ډېټا انټري کې د ښــاغلي معنــوي خپــل خپلوان او د پنجشېر سیمه وال تر پنځوسو کسانو پورې رسېږي.

- ډاکتر مهدي چې پنجشېر څخه دی تېر ځل یــې لــه کابــل څخه ځان کاندید کړی و او د معنوي نږدې خپلــوان دی، دا ځل یې د معنوي په ملاتړ له بغلان ولایت څخه ځان کاندیــد کړ، د ډاکتر مهدي یو ورور (امان الله تجلــي) د شــکایتونو د اورېدو کمیسیون د تحقیق د رئیس په توګه مقرر شو، چې د ډاکتر مهدي پر درغلیو پرده وغوړوي.

۹- لومړني نتایج د ورځې تر ماښامه تکمیل شول، ځینې کاندیــدان چې په دې لست کې شامل وو، په انتخاباتو کې د ځینو مامورینو له خوا ورته خبر راغی چې سبا لست اعلانېږي، خو لست کې د شپې یــوولس بجې تغیر راوړل شو او سبا اعلان شوي لست بله بڼه غوره کړې وه.

۱۰- حفیظ منصور د معنوي سیمه وال او د یــوه تنظــیم خلــک دي، زیات اسناد موجود دي چې هغه رایــې نــه درلــودلې، خــو معنــوي د ((مارشال)) فهیم او نظار شورا د نورو مشــرانو پــه مخکنــي تفــاهم او غوښتنه هغه په وچ زور په بریالیو کاندیدانو کې راوړ.

۱۱- د سیدحسین انوري په اړه د لوی څارنوال رسمي غوښتنلیک د معنوي له خوا رد شو، لوی څارنوال غوښــتي وو چــې انــوري ناقانونـه وسلې لري، تر هغه چې دا وسلې تسلیم نه کړي، په ټاکنو کې د ګــډون حق نه لري، خو معنوي د هغه ملاتړ له امله چې انوري له ډاکتر عبدالله څخه په تېرو ټاکنو کې کړی و، انوري له لیسته حذف نه کړ او هم یې په ټاکنو کې هغه سره ډېره مرسته وکړه.

۱۲- په ګڼ شمېر ولایتونو کې د اکثریت پښتنو پر وړانــدې رهبــري شوي حرکتونه ترسره شوي، د هغو رایه په قصدي ډول لــه محاســبې وتې، د اکثریت پښتنو ترڅنګ د ازبکو، ترکمنو، بلوڅو او ځینــو نــورو قومي لږکیو پر وړاندې هم له تعصب څخه کــار اخیســتل شــوی. یــوه انتخاباتي حقوقي پروسه پر یوه منظم سیاسي جریان بدله شوې ده.

۱۳- لکه څنګه چې د انتخاباتو کمیســیون د سیاســي او تنظیمــي اشخاصو په منګولو کې پرېوت، دغسې د شکایتونو کمیسیون هــم لــه سیاسي غرضنو او مرضونو خوندي پاتې نه شو. ښاغلی احمدضیا رفعت ددې کمیسیون د غړي او ویاند په توګه خپل سیاسي غــرض او مــرض پټ نه شو کړای، رفعت مخکــې تــر دې د (ملــي متحــدې شــورا) پــه اصطلاح نوبتي رئیس و. دا شورا د حفیظ منصور، ډاکتر مهدي او ځینو نورو له خوا جوړه شوې ده، احمدضیا رفعت د معنــوي ترڅنــګ د دې کسانو په ناقانونه کامیابۍ کې لوی لاس درلود. رفعت پــه هــرات او د افغانستان په نورو سیمو کې د تقلب په نامه په لوی لاس او د تبعیض له مخې یو شمېر بریالي کاندیدان ناکام او د یــو شــمېر نــورو ملتپــالو د بریالیتوب مخه ونیوله.

۱۴- د انتخاباتو ټوله پروسه په تېره بیا د انتخاباتو تر ورځې وروسته چې د انتخاباتو واک له ولس څخه د انتخاباتو د کمیسیون لاس ته ورغی د دوو میاشتو په بهیر کې ډېره زیاته درغلي وشوه، د یوه کاندید د بریالي کېدو قیمت تر (۴) لکو ډالرو پورې ورسېده، په شهزاده سرای او دوبۍ کې معاملې شوې، په شهزاده سرای کې (( خدمات پولي عقاب تابان)) کې چې د پنجشېریانو یوه صرافي ده، له لسګونو کاندیدانو سره پټې معاملې وشوې.

## یادښت:

### د رایو غټ توپیرونه:

- لومړۍ ورځ مجموعي: (۵۷۷۲۱۰۵)
- څو ورځې وروسته: (۴۳۳۲۸۷۱)
- لومړۍ ورځ: (۷۲۲) محلونه قرنطین وګڼل شو
- لږ وروسته: ( ۵۴۲ ) محله
- د غزني د ابتدايي رایو په شمول اوسنۍ با اعتباره رایې:(۳۹۵۵۸۴۹)
- په نهایي نتیجه کې باطلې شوې رایې: (۱۸۶۲۸۵)
- له باطلو رایو پرته د نهایي او ابتدايي رایو توپیر:(۲۰۵۲۵۶)
- د باطلو رایو په ګډون د نهایي او ابتدايي رایو ترمنځ توپیر: (۱۸۹۷۱)
- د ناکامو کاندیدانو د ټولو رایو مجموعه: (۲۵۷۴۴۳۳)
- د بریالي ګڼل شویو کاندیدانو د ټولو رایو مجموعه: (۱۴۰۶۵۸۶)
- د ناکامو او بریالیو ګڼل شویو کاندیدانو د رایو ترمنځ توپیر: (۱۲۰۹۷۳۹)

- د لومړۍ ورځې د ټولو اعلان شویو رایــو او د بریــالي ګنـل شــویو کاندیدانو د ټولو رایو ترمنځ توپیر: (۴۳۳۲۸۷۱)

په مجموعي ډول د لومړۍ ورځې د اعلان شویو او د دویمې ورځې د اعلان شویو رایو ترمنځ ځرګند توپیر لیدل کېږي، له دې پرته د دویمې ورځې د اعلان شویو رایو او همدارنګه د وروستیو با اعتباره رایو ترمنځ هم ډېر توپیر موجود دی.

او داسې نورې ګڼې نیمګړتیاوې او درغلۍ چې هره برخه یــې پــوره څېړنه غواړي، خو که دا هر څه په ډاګه هم ثابت شي څه نتیجه ځکــه نه ورکوي چې د کمیسیون مشر له داسې سیاسي ملاتړه بــرخمن دی چې په هر حکومتي او سیاسي کار کې د ویتو حق لري.

# راځئ چې حقیقتونه بیان کړو!

پر (۱۳۹۰ل) کال ما له (افغان جرمن انلاین) وېبپاڼې سره یوه ځانګړې مرکه کړې وه، ددې مرکې ځوابونه تر یوه حده د لیکنې بڼه لري. دلتــه یې کټ مټ وړاندې کوم.

پوښتنه: تاسو په یوه لیکنه کې د رسنیو تنظیمي امپراتورۍ تــه اشاره کړې، دغه امپراتوري څومره پیــاوړې ده؟ د بیــان د ازادۍ لپاره څومره ګواښ جوړوي او کوم ډول سیاسي یا تنظیمي ډلې په کې ګډون لري؟

ځواب: د طالبانو نظام تر ړنګولو وروسته په مطلق ډول هغه اشخاص او ډلې واک ته ورسول شول، چې د طالبــانو مخــالفین او د امریکــایي ائیتلاف کورني غړي وو، دوی مخکې تر مخکــې د پښــتنو د سیاســي، ټولنیزې او کلتوري کمزورۍ لپــاره کــار کــاوه او یــو شــمېر ګاونــډي هېوادونه یې تر شا ولاړ وو. د (طالب) له نامه او (امریکایي) ځواکه یــې ناوړه ګټه پورته کړه او د پښتنو د ځورولو، کړولو او کډوالولو لپاره یې تر وروستي بریده کار وکړ، دوی پخوا هم له رسنیز ځواک او تبلیغاتو څخه ډېره ګټه اخیستله او دا ځل نو سیاسي او پوځي واک هم ورسره مل و، لکه د نورو  واردو شویو شیانو په څېر یې لــه وارد شــوې ډیموکراســۍ

څخه هم اعظمي ګټه پورته کړه او د رسنیو ډګر یې هم راخپل کړ. څو ډوله رسنۍ په دې ترڅ کې راوټوکېدې: حکومتي رسنۍ، انجویزې رسنۍ، ازادې رسنۍ، د ازادو رسنیو په نوم نا ازادې رسنۍ او تنظیمي رسنۍ. له شکلي پلوه اورېدنۍ رسنۍ، لیدنۍ رسنۍ، چاپي رسنۍ او کتنۍ یا انټرنټي رسنۍ وې. تنظیمي او حکومتي رسنۍ خو هسې هم د دوی خپلې وې، ځکه چې په همدې شمال ټلوالې کې راټاله تنظیمونه په حکومت کې د اساسي واک خاوندان شول، انجویزې رسنیو خو هسې هم ډېر سیاسي فعالیت نه درلود او که درلود یې هم د خپلو ګټو د خوندیتابه په خاطر یې له تنظیمواکانو سره ټکر نه کاوه، اکثره همغه انجیوګانې فعالې وې چې له همدې تنظیمونو سره یې قومي تړاو درلود، ازادې رسنۍ هم داسې وې چې اکثره په همدې ډلو پورې د فکري تمایلاتو لرونکو اشخاصو له خوا رامنځته شوې وې. دا مهال داسې یوه فضا حاکمه وه چې یوازې همدې ډلو او اشخاصو ته زمینه برابره وه، یو کم شمېر واقعي رسنۍ هم رامنځته شوې چې ځینې حقیقتونه یې بیانول، خو د حاکم جبر د افشا جرئت یې نه کاوه، نورو ازادو رسنیو د ټولو شیانو د بیان صلاحیت درلود، خو د حاکمو ډلو د مصنوعي اتلانو، د هغو د ظلمونو او غداریو، نه یوازې دا چې غندنه یې نه کوله، بلکې د تنظیمي رسنیو ترڅنګ یې اوږه په اوږه د هغو ستاینه هم کوله.

بله ډله رسنۍ بیا هغه وې چې د ازادو رسنیو په نامه خپرېدلې او یا یې په دې نامه جواز ترلاسه کړی و، خو په واقعیت او حقیقت کې همغه تنظیمي رسنۍ وې چې ځینو تنظیمي اشخاصو نه غوښتل په تنظیمي نامه فعالیت وکړي او یا یې په دې نامه فعالیت موثر نه ګاڼه، نو د ازادو

رسنیو په نامه رامنځته شوې. په ټولیز ډول په تېرو اتو نهو کلونو کې رسنۍ دولتي وې که ازادې او یا د ازادو په نامه نا ازادې، اکثره یې د څو تنظیمونو، په تېره بیا د جمعیت او په جمعیت کې هم د نظار شورا په انحصار کې وې. ددې رسنیو مالي ملاتړ بیا بله موضوع ده چې دلته یې ټول بیان ممکن نه دی. په عمومي ډول ددې رسنیو مالي لګښت د ایران او د امریکا متحده ایالتونو له خوا ورکول شوی، نورې سرچینې یې هم وې، خو په لویه کې دا دوه هېوادونه وو، ټول پوهېږو چې له سیاسي او کلتوري پلوه دا دوه هېوادونه د چا تر شا ولاړ وو. دا په تېرو اته نهو کلونو کې د رسنیو یو عمومي تصویر و. په لنډیز سره ویلای شو په دې تېر بهیر کې اکثرو رسنیو؛ ازادې وې که تړلې، د دې جرئت ونه کړ چې په کابل کې د نظار شورا، اسلامي جمعیت او اسلامي وحدت ډلو د اوسنیو او تېرو ظلمونو لږ تر لږه یو داستان بیان کړي، خو همدې رسنیو بیا ددې توان درلود چې د ښاغلي کرزي په شمول د بل هر چا د مچ وزر قدر ته عیب د غر په شان غټ کړي. یوه ډله وغندي او بله ډله د اتلانو په څېر وستایي، دې سره سره بیا هم یو شمېر رسنیو خپل ټولنیز مسولیت او رسالت ترسره کړی، خو ددې رسنیو شمېر خورا کم دی.

دلته نه شو کولای د رسنیو ټول حالت په یوه لیکنه کې بیان کړو. ما د خپلې ماسترۍ دورې تېزس د همدې رسنیو په اړه لیکلی دی. درانه لوستونکي کولای شي د زیاتو معلوماتو لپاره (د افغانستان اوسنۍ رسنۍ (۱۳۸۰-۱۳۸۷) ولولي.

**پوښتنه: څرنګه کېدی شي رسنۍ له دغه فاشیست او متعصب تنظیمي انحصار څخه ووځي، څوک او څه ډول فعالیتونه ددغه فاشیست خوځښت مخه نیولای شي؟**

ځواب: ددې انحصار د ماتېدو لارې چارې شته. سره له دې چې له محتوايي او فکري پلوه زموږ زياتې رسنۍ لا هم په انحصار کې دي، خو یو شمېر رسنۍ داسې هم شته چې خپل مسولیت یې ترسره کړی دی. لکه څنګه چې دمخه مې وویل؛ ددې رسنیو شمېر زیات نه دی خو اوس ورځ پر ورځ په زیاتېدو دی.

پر رسنیو د تنظیمي انحصار د ماتېدو لپاره یو اخلاقي، سیاسي او علمي جرئت په کار دی، د تېرو څو کلونو پرمهال په بېلابېلو برخو کې ځینو اشخاصو دا جرئت وکړ، یو څه ازادي رامنځته شوه، هغه کسان چې د انتقاد وړ وو، خو له انتقاده معاف وو، پر هغوی هم نیوکې وشوې، د معافیت کلتور تر یوه حده مخ په ړنګېدو شو. زه کولای شم دلته له ټولو هغو اشخاصو مننه وکړم چې ددې انحصار د ماتېدو لپاره یې په یو نه یو ډول هڅه کړې، خو زه خپله تجربه دلته بیانوم: {د تېرو څو کلونو په بهیر کې د اسلامي جمعیت او نظار شورا او یا په مجموع کې د شمال ټلوالې سیاسي، فرهنګي او ټولنیز مبصرین او ((مفکرین)) کابل کې پر میډیا حاکم وو. هېڅوک داسې نه و چې د دوی خبره ورتاوه کړي او دوی ته مستقیم ځواب ورکړي، دې خلا دوی دومره زړور کړي وو چې هر څه یې خپل حق ګاڼه او د خبرې د منطق وړاندې وروسته حالت ته یې هم نه کتل، لومړی سړی چې ما یې خبره ورتاوه کړه، هغه ښاغلی

صالح محمد رېګستانی و، چې د طلوع ټلويزيون په يوه ګـرم سياســي بحث کې ورسره برابر شوم. ښاغلی ريګستانی نه حق په جانب و او نــه يې هم منطق قوي و، په داسې يو مرحله کې چې ته د حق پلوی يــې او د منطق وسله هم درسره وي، د مقابل لوري ماتول يا قانع کول اســانه خبره ده. هغه بحث (يو د څلورو په مقابل کې) و، بحث د حقيقــت پــه ګټه پايته ورسېد. کله چې بحث خلاص شو، نو زه پوه شوم چې دوی نه غواړي دا بحث نشر شي. ما (طلوعوالو) ته وويل چې بحث بايد حتمــي نشر شي، هغوی وعده راکړه. د (ګفتمان) دا پروګرام د اوونۍ پر ټــاکلې نېټه نشرېږي. ماته پته ولګېده چې ښاغلی رېګســتانی نــه غــواړي دا بحث نشر شي، د کابل طلوعوالو ته مې بيا وويل، هغوی وويل: ((موږ تر سياسي فشار لاندې يو، زموږ مشر، محسني صيب په دوبــۍ کــې دی، هغه سره تماس ونيسه)) هغه ته مې ټلېفون وکړ، هغه دا مهال اسټراليا ته روان و، خو په پای کې مې ورسره اړيکي ټينګ کــړل، هغــه وعــده راکړه چې بحث به نشرېږي، خپل پرسونل ته يې برېښناليک وليکه چې بحث نشر کړي. بيا دا وېره راسره وه چې له بحث څخــه زمــا اساســي خبرې غوڅې نه کړي، زما په ډېر ټينګار په خبرو کې کمی رانغی، بحث دوه اوونۍ وروسته نشر شو، خلکو به خپل قضاوت کړی وي، له هغــې راهيسې ښاغلی رېګستانی بياددې څو کلونو په بهير کې ما ســره پــه بحث کې ناست نه دی او يا سره برابر شوي نه يو. هغه بحث چې (يــو د څلورو په مقابل کې) وي او بيا هم دوی د بحــث د سانســور غوښــتنه کوي، د رسنيو واقعي تصوير له همدې څخه څرګندېږي. د څو کلونو په بهير کې زه همېشه په يوه ناانډوله بحث کې د تنظيميانو پــر وړانــدې ودرېدلی يم. هغه څوک چې ډېر زيات په همدې رسنيو کې مطــرح دي

له هغو اکثرو سره زه مخامخ شوی یم. ما له (ښاغلي رېګستاني، ببــژن، فهیم دشتي، حفیظ منصــور، واقــف حکیمــي، ســردارمحمد رحمــان اوغلي، انجنیر عاصم، جارالله منصوري، احمد بهزاد، رهنــورد زریــاب، پرتو نادري، احمدضیا رفعت، صدیق چکري، منیژه بــاختري) او ځینــو نورو سره په بحثونو کې ګډون کړی، دا چې ما ځــه ویلــي او دوی ځــه ویلي دا قضاوت خلکو ته پرېږدم او خلکو به هم خپل قضاوت کړی وي، خو یو شی چې درنو لوستونکو ته وایم هغه دادی چې ما د دوی خبــره بې ځوابه نه ده پرې ایښې. همــدې حرکتونــو پــر رســنیو د تنظیمــي انحصار د ماتېدلو لړی پیل کړه، خو د تنظیمي انحصار ماتېدا د یو تن او یا ځو تنو کار نه دی، دا ډېر کار، ډېر وخت او داسې ډلــه ییــز کــار تــه ضرورت لري چې د فکر او امکانــاتو لــه دواړو وســایلو بــرخمن وي، د متبادلو رښتینو ازادو رسنیو رامنځته کــول، د زیــاتو کــدرونو روزل، د اخلاقي او سیاسي جرئت کارول، د دولتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونــو قانع کول، ټول هغه عوامل دي چې کولای شي زموږ رسنۍ رښتیا هم د ازادو رسنیو لور ته سوق کړي. تراوسه چې کومه مبــارزه شــوې د دې زیاته برخه بیا هم په شعوري ډول، د همغو رسنیو له لارې شــوې چــې اکثره تنظیم پلوه وې، تنظیم پلوه رســنیو پــه دې خــاطر چــې د ازادو رسنیو تمثیل وکړي د ځو تنظیمپالو اشخاصو ترڅنګ به یــې یــوه ازاد شخص ته هم بلنه ورکوله چې راشي او بحث کې ګډون وکړي. پر ما ځو ځله د هغو اشخاصو له خوا نیوکه وشوه چې نه خپله کار کوي او نه بل کار ته پرېږدي، د هغوی انتقاد دا و چې (طلــوع) او دېتــه ورتــه نــورې رسنۍ افغانستان کې ملي نفاق ته لمن وهي، هغوی بحث هسې هم پــه خپله ګټه جوړوي، ستاسو ګډون هلته پرتــه لــه دې چــې هغــوی تــه

مشروعیت ورکړي، نوره ګټه نه لري؟ زما ځواب ورته دا و: ((تر هغه چې رښتینې ازادې رسنۍ رامنځته کېږي، دا هم یوه وسیله ده چې خپل پیغام خلکو ته ولېږدو، دا چې (یو د څلورو په مقابل کې) په بحث کې ګډون وي، خلک خپله پرې پوهېږي، که زموږ پیغام کې حقانیت وي، نو خلک به سم قضاوت وکړي. زموږ وظیفه د حقیقت بیان دی او قضاوت د خلکو کار دی)) } اوس وایم موږ باید د سیاسي، علمي او کلتوري کدرونو یو نسل وروزو چې هغوی د افغانستان د ملي ګټو او ملي ارزښتونو ټینګ ملاتړ وکړي، دا اشخاص باید فوق العاده علمي او اخلاقي جرئت ولري، د رښتینو ازادو رسنیو شمېر باید زیات شي او دوی باید د هغو رسنیو هر اړخیزه مقابله وکړي چې ازادې نه دي، خو د ازادو رسنیو په نامه فعالیت کوي. د ازادو رسنیو یو عنصر د هغو د مالي سرچینو شفافیت دی، د ساري په توګه که د رسنیو مالي سرچینې څرګندې شي، نو د ښاغلي شیخ محسني ( تمدن) ټلویزیون به په څو ورځو کې له فعالیته وغورځي، همداسې ځینې نور یې هم در واخله.

پوښتنه: تاسو په حکومت کې د تنظیمي برخې یادونه کړې، کېدی شي  وواياست دغه ډله تر ټولو ډېره د حکومت پر کومو برخو واکمنه ده او څوک دي؟

ځواب: د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته په یو ځایي ډول د شمالټلوالې وسلوال او ناوسلوال پر کابل راخواره کړای شول. د دولت له واړه ماموریته بیا تر جمهوري ریاسته ټول د دوی لاس ته ورغلل، ښاغلی برهان الدین رباني چې نږدې پنځه کاله یې د کابل مخ نه و لیدلی، یو ځل بیاد ((جمهور رئیس)) په توګه راڅرګند شو، د یوه

فرمان په ترڅ کې یې هغو کسانو ته چې د دوی پــه اصــطلاح یــې پــه ((مقاومت)) کې ګډون کړی و، د غیابت پنځه کلن امتیازات وروبښــل، دا داسې یوه مرحله وه چې رباني باید همدا سبا په اصطلاح واک نــوي موقت رئیس ته لېږدولای وای. کله چې د بن د توافقاتو پر اساس موقت حکومت جوړ شو، بیا هم په کې نظار شورا ته مطلق واک ورکړل شو، د کورنیو، بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو، د ملي امنیت ریاست او جمهوري ریاست معاونیت او نور مهم پوستونه نظار شورا او یا هم پنجشــېر درې ته ورکړل شول. په موقته اداره کې یــوازې (۱۶-۱۷) تنــه مســلکي او دیموکرات افغانان له حکومت سره یو ځای شول، دوی یوازې د افــرادو په توګه مطرح وو، نه د یوه سیستم او د ټولنې د کوم قشر د استازو په توګه. په دې ډول که دوی د کومې ادارې په راس کــې هــم وو، لانــدې نورې چلوونکې او اساسي ادارې د همدې اسلامي جمعیت تنظــیم پــه لاس کې وې. د همدې موقتې  ادارې په بهیر کې د ملګرو ملتــو د یــوه کارکوونکي وینا (هیلې مجلې) همغه وخت رانقل کــړې او د هغــه لــه خولې یې لیکلي وو چې یوازې په کابل کې د حکومت د (۱۱۰۰) حساسو پوستونو له جملې (۸۳۲) یې د نظار شورا یــا د پنجشــېر ولســوالۍ د وګړو په لاس کې دي.

په ببړنۍ لویه جرګه کې یو شمېر هېوادپالو افغانانو هڅه وکړه چې دا تنظیمي انحصار ختم کړي، یو څه پرمختګ وشو، خو د قناعت وړ نه و، تر هغه وروسته په انتقالي دوره کې یو شمېر روښنفکران په حکومــت کې داخل شول، خو بیا هم د عدالت د تامین لپاره لا ډېر واټن پــاتې و. په انتخابي اداره کې ټولو فکر کاوه چې د تنظیمي انحصــار د ختمېــدو وخت راغلی، خو د خلکو د هیلو خلاف د دولت مشرتابه بیا هم د مضر

مصلحت عنصر ته ترجیح ورکړه، بیا هم تنظیمي او قومي انحصار په حکومت کې په قوت پاتې شو. د جمهوري ریاست د دویمې دورې تر ټاکنو وروسته بیا هم د دې تنظیمي عنصر پر وړاندې هر اړخیزه مبارزه ونه شوه، که څه هم د پخوا په اندول تنظیمي انحصار یو څه کمزوری شو، خو ختم شوی لا نه دی، اوس هم په حکومت کې د بل هر قومي او سیاسي ګروپ په پرتله د خپل نفوس او سیاسي اغېز په اندول، د اسلامي جمعیت ونډه زیاته ده.

پوښتنه: په افغانستان کې د اسلامي جمعیت یا نظار شورا یو شمېر غړي همېشه وایي موږ د حکومت سیاسي اپوزېشن یو، دا اپوزېشن څه مانا او څومره واقعیت لري؟

ځواب: په افغانستان کې اپوزېشن په مروجه مانا او عملي ډول نه شته. د دولت هر مخالف د سیاسي او حقوقي مخالف په توګه نه شي انګېرل کېدلای. په نورو ټولنو کې اپوزېشن د حکومت په مقابل کې یو فعال سیاسي جریان ته ویل کېږي، چې د دولت پر نیمګړتیاوو نیوکه کوي او د سمون لاره ورښيي، خو په خپله د حاکمیت برخه نه وي او نه له حاکمیت څخه د انتقاد په مقابل کې د واک امتیاز اخلي، کله چې بیا اپوزېشن واک ترلاسه کړي، نو حاکمیت بیا د اپوزېشن دریځ ته راځي، خو په افغانستان کې هغه څوک چې د اپوزېشن په نامه ځانونه مطرح کوي، هغه د اپوزېشن رول نه اجرا کوي. دلته حکومت څو ډوله مخالفین لري: یو هغه وسلوال ګروپونه دي چې د حکومت وسلوال مخالفین دي او په حکومت کې څه خاص امتیاز نه لري، لکه طالبان، د

حکمتيار د اسلامي حزب وسلواله برخه او ځينې نــور. بلــه هغــه ډول مخالفين دي چې هم پټې او ښکاره وسلې لري، هم په حکومت کې دي او هم يې يوه برخه تر حکومته بهر ده. اسلامي جمعيت، وحدت حــزب او يو شمېر نور ګروپونه شته چې هم له حکومتي امتيازاتو تر هــر چــا زياته ګټه اخلي او هم په ميډيا کې د همدې ګروپونو يوه برخه تر هر چا زيات د دولت مخالفت کوي، دا په حقيقت کــې د حکومــت حکــومتي مخالفين دي دې ډول اپوزېشن ته زه حکومتي اپوزېشن وايم. دا ډلې يا اشخاص تر يوه وخته د حکومت توند مخالفت کوي، خو کله چــې بيــا ورته کوم مقام ورکړل شي، له مخالفته لاس اخلي، بيا د همدې ډلې بل ګروپ يا نور اشخاص مخالفت ته رادانګي، يانې دا ډلې ډبــل رول اجــرا کوي؛ نه حکومت پرېږدي او نه مخالفت. دا يو ډول امتياز غوښــتونکی اپوزېشن دی، چې اکثره د دولت په دننه او يا د هغه ترڅنــګ فعاليــت لري. په خواشينۍ سره بايد ووايو دې ډول اپوزېشن چې رسنيز ځواک هم ورسره دی، د اصلي ســمونپال اپوزېشــن مخــه ډب کــړې، دوی د خلکو او نړيوالې ټولنې په سترګو کې خاورې شيندي او پــه دې ډول د کاذب دريځ له لارې له نړيوالې ټولنې څخه سياسي امتياز هم ترلاســه کوي. د نظار شورا غټ غړي ددې اپوزېشن ښکاره بېلګې دي. ما په يوه مناظره کې چې ښاغلي ډاکتر اشرف غني، ډاکتر احدي، ډاکتر ســپنتا او ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله ټولو په کــې ګــډون کــړی و، ښــاغلي ډاکتر عبدالله ته ددې امتياز غوښتونکي اپوزېشن څرنګــوالی تشــريح کړ، زما خبرې پر هغه ښې ونه لګېدې. ما ورته وويل: ((هغه څوک چــې په دولت کې د ولسمشر مرستيال ولري، وزيران ولــري، پارلمــان کــې مشرتوب ولري، د امنيتي سکتور غټه برخه يې هم پــه لاس کــې وي،

والیان، ولسوالان، قومندانان، سفیران او نور مهم پوستونه ولــري، نــو هلته اپوزېشن څه مانا؟))

ښاغلي ډاکتر عبدالله په داسې حال کې چې ددې کار ټولــه پــړه پــر کرزي اچوله، د اپوزېشن ټول حق یې ځانته خوندي وبالــه. د ښــاغلي عبدالله د ظاهري دلیل له مخې سره له دې چــې ښــاغلی کــرزی پــه مسولیت کې پوره شریک ګڼل کېږي، خو اصــلي محتــوا چــې عملــي واقعیت لري، په هغې کې هم کرزی خپل خپل مسولیت لري او هــم دا په اصطلاح اوسنی اپوزېشن د اپوزېشن په دریځ کې خپله مانا له لاسه ورکوي. د نظار شورا ظاهري مهارت په دې کې دی چې غواړي هم پــه حکومت کې خپل حضور وساتي او هم د مخالفت له لارې نور امتیازات راخپل کړي. له کرزي سره د دوی ډاګیز مخالفت له هغــه ډاړ او قــوت څخه الهام اخلي، چې دوی یې په حکومت کــې لــري. د بریــالیتوب او ناکامۍ په دواړو حالتونو کې دوی ځانونه خوندي ګڼي. که چېرې په هر ډول ټاکنو کې ناکام شي، نو بیا هم د دولت دویمــه څــوکۍ د دوی پــه لاس کې ده، بیا دوی اکثره د همغه مقام پر محور راټولېږي، هغوی یــې بیا په اصطلاح د خپل سهم له لارې په حکومت کې په حساسو ځایونو کې ځایوي او یو څو تنه بیا د اپوزېشن چیغې پورته کوي او که چېــرې احتمالي بریالیتوب یې په نصیب شو هغه خو نو بیا نور اعلی نور، بیا نو هغه څوک چې حکومت یا کرزي سره ظاهراً ملګري وو، هغوی به بیا نو د دستوري اشخاصو په توګه په اتومات ډول پــه اصــطلاح لــه همــدې اپوزېشن سره یوځای کېږي. ما شخصاً د یوه افغان په توګه د تېرو اتــو کلونو په بهیر کې هم د میډیا او هم د حکومت د ولسواکې برخــې لــه لارې، د اسلامي جمعیت او ځینو نورو تنظیمونو او اشخاصو د دغه ډول

رول د رسواکولو او ختمولو لپاره تر وروستي بریده مبارزه کړې، یو څه نتیجه یې هم ورکړې ده. په همدې خاطر په یوه مناظره کې ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله د اپوزېشن ددې ډول رول په هکله زما د نظر د تردید په هکله شدیده لهجه وکاروله: (( خبر داریم این گپها را هر روز در گوش اقای کرزی پوف میکنی)). د ښاغلي کرزي کتنې ته خو هر وخت زموږ لاسرسی نه شته، خو کله چې مو ورسره کتلي، نو رښتیا هم چې همدا خبره مې ورته کړې ده. د ښاغلي کرزي په تېره دوره کې زما د یوې مرکې پر وړاندې چې د جمهور رئیس پر لومړي او دویم مرستیال نیوکه شوې وه، د جمهور رئیس دواړو مرستیالانو شدید غبرګون وښود. سهار وختي جمهور رئیس خپل دفتر ته وغوښتلم، په تونده لهجه یې وویل: (( ته د دولت مامور یې، ته حق نه لرې چې زما د معاونانو پر ضد انتقادونه وکړې، د دولت یو مامور حق نه لري د بل مامور په ضد دا ډول نیوکې وکړي.)) ما وویل: ((رئیس صاحب که دا فورمول رښتیا وي، نو ستا مرستیالان خو هم د دولت لوړ رتبه مامورین دي، دوی ولې یو په مخالفه جبهه کې ناست دی او بل هم وخت پر وخت ستاسو پر وړاندې نیوکې کوي؟)) همدې سره هغه بحث پایته ورسېد. لنډه دا چې ددې ډول کاذب اپوزېشن پر وړاندې چې د یوه تنظیم غړي دي ډېل ډول رول کاروي او په دواړو لوریو کې دې امتیاز اخلي، ما د یوه افغان په توګه خپل غږ پورته کړی او لا به دې لړۍ ته دوام ورکوم.

**پوښتنه: لکه څنګه چې ويل کېږي، کېدی شي نړيوال يا امريکايي ځواکونه له افغانستانه ووځي، که دا کار وشي، عواقب به يې څه وي؟**

ځواب: پر افغانستان د يرغل پر مهال هم امريکايانو له ډېرې بېړې کار واخيست، دا د دوی د هغه وخت غټه اشتباه وه. مخکې تر دې چې د طالبانو نظام  د سقوط لپاره يوه عادلانه سياسي بديل جوړ کړي، دوی عجله وکړه او پر همغو جنګي جنګسالارانو يې ډډه ولګوله، چې طالبانو تر کولابه رسولي وو او د افغانانو ورسره تر وروستي بريده نفرت درلود. د همدې جنايتکارانو بيا واک ته رسول، په افغانستان کې د عدالت او ښې حکومتوالۍ پروسه په پوره ډول زيانمنه کړه او دا لړۍ لا تراوسه روانه ده. که په داسې ترينګلو حالاتو کې امريکايي يا په مجموع کې نړيوال ځواکونه افغانستان پرېږدي، نو دلته به د نويمو کلونو جګړې يو ځل بيا تکرار شي. کومه ابادي او پرمختګ چې د تېرو څو کلونو په بهير کې رامنځته شوي، ټول به له خاورو سره برابر شي. افغانستان به په لومړي ګام کې د پاکستان او ايران د سياليو ډګر شي او نور نږدې او لرې هېوادونه به هم د خپلو اجنيسو له لارې په يو نه يو ډول بيا په جګړه کې راټاله شي. مذهبي افراط به بيا اوج ته ورسي، نه يوازې افغاني جغرافيه به راونغاړي، بلکې تر دې حده به هم واوړي، د متمدنې اروپا او امريکا وزرونه به هم وسېزي. اوس نړۍ د يوه کلي حيثيت لري، چې اور لګېدنه په کې له يو ګوټه بل ته په اسانۍ سره سرايت کولای شي. لکه څنګه چې افغانستان ته د امريکايانو په بېړه

راتګ یوه ستره اشتباه وه، دغسې یې په بېړه تګ هم یوه لویه اشـــتباه ده. تر هغه پورې چې په افغانستان کې یو واقعي عادلانــه، مســـتحکم مرکزي او قوي حکومت نه وي رامنځته شوی او د افغانستان د ګاونډیو د مداخلو ټول ډولونه نه وي کنټرول شوي، لــه افغانســـتانه د نړیـــوالې ټولنې وتل داسې یوه اشتباه ده چې افغانستان او نړیواله ټولنه به ټـــول په کې پوره پوره زیانمن شي.

پوښتنه: ستاسو په وینا، ستاسو د حقیقتونو د لټون او بیان یوه لړۍ پیل کړې ده. لطفاً پــه دې هکلــه معلومــات راکــړئ چـــې د حقیقتونو د لټون او بیان لړۍ یانې څه؟ فردي که ډله ییز کار دی؟ موخه یې په دقیقه توګه څه ده؟ د کومې کړنلارې پر بنسټ پرمخ ځي؟

ځواب: پر خپل وخت د حقیقتونو بیان اسانه خبـــره نـــه ده، قربـــاني غواړي، د طالبانو تر سقوط وروسته پر افغاني میډیا د جنګسالارانو او د هغو د اړوندو ویندویانو د وهم سیوری خور و. د کاذبو فاتحینو د کاذب منطق ماتول یوه افغاني او انساني جرئت ته اړتیا لرله، څو تنو ملتپـــالو افغانانو دا جرئت وکړ، ما هم تر خپله وسه خپله ونډه په کې واخیسته، اوس د هغو د تکبر دېو په ګونډو شوی، یو نوی نسل په زرغونېـــدو دی، چې د حقیقت له لټون او بیان سره مینه لري. موږ هیلــه لـــرو چـــې دا نسل د منطق او جرئت په وسله سمبال شي. د دې کـــار د سمبالښـــت لپاره یو فعال رسنیز مرکز ته اړتیا ده، داسې رسنیز مرکز چې د میـــډیا له اوسنیو عصري امکاناتو برخمن وي. له ورځپاڼې نیـــولې، تـــر راډیـــو،

ټلويزيون، وېبسايټ، اژانس او نورو پورې ټول په کې شامل وي. دا مرکز کولای شي، په بېلابېلو ډګرونو کې په زرګونو افغــان کدرونــه وروزي. د داسې يو مرکز له لارې موږ کولای شو خپل ملتپال پيغامونــه پــه څــو دقيقو کې خپل ملت ته ورسوو. ميډيا اوس يو موثر قوت دی، بېلابېــل تنظيم سالاران او جنګسالاران اوس له دې قوت څخه د خپل ځــان د بقا او د ملت د کمزورۍ لپاره کار اخلي، خو ملتپال افغانــان لا تراوســه پورې له داسې يو موثر قوت څخه برخمن نه دي. موږ په ډله ييز ډول د داسې يو موثر رسنيز مرکز د جوړولو نيت کړی، کــه لــوی رب يــې پــر جوړولو بريالي کړو، نو بيا به د حقيقتونو په لټون پسې لا څراغونه بلوو او حقيقتونه به روښانوو.

پوښــتنه: د افغانســتان دښــمنان او دوســتان څــوک دي؟ د دښمنانو د دسيسو د مخنيوي په خاطر بايد څه وشي؟

ځواب: افغانستان په سيمه او نــړۍ کــې ډېــر دښــمنان لــري، خــو خواخوږي هم لري. د ټولو سپړل او يادول يې ډېر وخــت غــواړي. پــه ګاونــډيو هېوادونــو کــې د پاکســتان او ايــران د پراختيــا غوښــتنې ستراتيژۍ افغانستان ته ډېــرې خطرنــاکې دي. ددې هېوادونــو پټــې اجنسۍ روغ رمټ افغان ملت او سوکال افغانستان نه شــي زغمــلای، ددې ترڅنګ پخواني شوروي اتحاد افغانستان کې ډېرې قومي تفرقــې ته لمن ووهله، ايران او پاکستان هم همغه لــړۍ پــه بېلابېلــو رنګونــو تعقيب کړه، ددې لړۍ کــورني تعقيبــوونکي او پــالونکي د افغانســتان کورني دښمنان دي، دوی په ډېره سپين سترګۍ سره په رسنيو کــې د افغانستان پر ملي وحدت، جوړښت او ملي هويت پــه زغــرده ملنــډې

وهي، دا کورنۍ ډلې او اشخاص له بهره الهام اخلي. زه هیله لــرم چــې رښتیني افغانان به ان شاالله د وخت په تېرېــدو ســره ددې وس پیــدا کړي چې خپلو نړیوالو خواخوږو سره د تفاهم له لارې خپــل دوســتان نور هم زیات او د یوې ملي ستراتیژۍ له لارې خپل مغــرض ګاونــډیان مهار کړي. کورني تاليځتي کېدی شي د اصولي منطق او یا هم په نړۍ کې د یوه هېواد د کورنیو مخالفینو د مهارولو د دودیز منطق لــه لارې اصلاح او کنټرول شي.

پوښتنه: د خپلو فرهنګي فعالیتونو په باب لږه رڼا واچوه؟

ځواب: خپلو فرهنګي کارونو ته مې ډېر پام دی، په داسې یو دفتر کې کار کوم چې خپله ډېره پاملرنه مې همدې برخې تــه ده، پــه سیاســي مسایلو کې خو ځکه په اصطلاح ډېر مطرح او راښکېل شوی یم، چې زه د یو محسوس او نامحسوس سیاسي ظلم پر وړاندې ژر غبرګون ښیم، سیاسي مرکې او د حقیقت بیان د وخت یو ضرورت او د خپل مظلــوم ولس یو حق ګنم. دا غبرګون کله کله د یو سیاسي فعالیــت پــه توګــه انګېرل کېږي، که نه نو نور نه په کوم سیاسي ګوند کــې وم او نــه اوس یم، د ملي ګټو پالونکي سیاسي ګوندونه ډېر فعال نه دي، نــو ځکــه د هغوی د مسولیت پېټی هم د ازادو ملتپالو افغانانو پــر اوږو بــار دی. دا ډول سیاسي- فرهنګي فعالیت د خپل هېواد د هویت د خوندیتابــه او د فرهنګ د بډاینې په خاطر ترسره کوم، غواړم سیاست د فرهنګ پــه خدمت کې شي، نه فرهنګ د سیاست په چوپړ کې. کله چــې مــو پــه شعوري ډول په ارګ کې وظیفه واخیسته، نو یو شمېر تنګنظرو او لنــډ فکرو په ماپسې پټ او ښکار تبلیغ پیل کړ، ځینو به د زیــار صــیب پــه

اصطلاح ((سوی تبسم)) هم وکړ: همدا به یې ویل: (( والله نو خلک خو درباریان شول، موږ خو سیاست نه کوو فرهنګ ته کار کوو...))

خو ما د فرهنګي کار لپاره ځان سره پټ پلان جوړ کـړی و. د نـږدې درې کلونو په ترڅ کې مې شلکلن فرهنګي کار او ثمر سره مـنظم کـړ؛ (۳۳) عنوانه کتابونه مې یوځل چاپ کړل. نږدې (۳۵) زره مخه ایډېټ مې وکړ، پر دې ټولو کتابونو نږدې (پینځه ملیونه افغانۍ) لګښت راغی، چې اکثره زما د فرهنګي او فرهنګپالو دوستانو له خوا ورکـړل شـو او یوه برخه یې زما د څو کلونو معاشـونو زېرمـه کـړې پیسـې وې چـې سختې ورځې ته مې ساتلې وې، په دې ټولو د کتابونو لګښت پرې شو. دا ټول کتابونه مې د افغانستان ګوټ ګوټ ته، د روزنځیـو، ښـوونځیو، پوهنځیو او نورو علمي مرکزونو کتابتونونو ته په وړیا ډول ورکړل، سي ډیانې مې هم ترې جوړې کړې او انټرنېټ ته مې هم پورته کړل، دا کـار د هغو کسانو پرمخ یوه درنه څپېړه وه چې پښتانه یې نالوسـتي او بـې کلتوره ګڼل او هم د هغو تنګنظرانو پر وړاندې چې هېڅ کار یې له واکه نه کېږي او خپله ټوله انرژي د نورو پـر تخریـب لګـوي؛ پـه اصـطلاح شفاهي لیکوال دي. اوس هم د خپلو او نورو دوستانو د فرهنګي کارونو لپاره یو پلان لرم خو افشا کوم یې نه، کله چې دا پلان ثمر ته ورسـېد، دوستان به خپله ترې خبر شي.

پوښتنه: د وروستۍ پوښتنې په توګه خپلـې لـویې او کـوچنۍ هیلې راته بیان کړه!

ځواب: لویې هیلې خو لویې وي، هغه ایډیالونه وي، مهمه نه ده چـې پر یوه ورځ، کال، لسیزه او یا سلیزه کې دې پوره شي. لویې هیلې مـې

دا دي چې افغاني واکمنۍ خپلو طبيعي سرحدونو (لــه امــو څخــه تــر اټکه) ته ورسېږي، دې سره به د (اقليت) او (اکثريــت) مقــولې خپــل اوسنی کرېدونکی مفهوم له لاسه ورکړي. بلــه هيلــه مــې داده چــې طبيعي اکثريت پر طبيعي کيفيت بدل شي. تر هغه چې پــه اوســني او راتلونکي هيله من لوی افغانستان کــې طبيعــي اکثريــت پــر طبيعــي کيفيت بدل نه شي، په ټولنه کې ماهر اقليت کولای شي ټولنه اخــلال او د اکثريت حقوق ولوټي.

د يو داسې لوی، مستحکم، غښتلي او پرمختللي افغانستان جوړېدنه مې لويه هيله ده، چې عدالت په کې واکمن وي، فردي خپلواکي په کې تضمين وي، سرېتوب او لياقت د ژوندانه معيار وي، نړۍ ســره ســيال وي، نه د چا په چارو کې مداخله وکړي او نه بل چاته په خپلو چارو کې د مداخلې حق ورکړي. کوچنۍ هيله مې داده چې خپلــې مېرمنــې او ځلورو ګلاليو ماشومانو او خپلې مور سره په مينــه او صــميميت ژونــد وکړم، کور کې دې خدای کوم غم نه راکوي چې د ملت او هېواد کارونو ته وخت او ځواک پيدا کړم.

يون صيب ستاسو له دې اوږدې او هر اړخيزې مرکې ډېره مننه.

د افغان جرمن انلاين له وېبپاڼې هم ډېره مننه چې د واقعيتونو په بيان کې يې وخت پر وخت خپل مخکښ رول ادا کړی، ټولو کارکوونکو ته يې کور وداني وايم. مننه

ستاسو ټولو يون

# خپلو هېوادوالو ته یو ډاډ

# ( د حقیقت په لټه)

دا لیکنه د کابل کنفرانس د جوړېدو پر مهال (۱۳۸۹ل) کال شوې او د یوې ټلوېزیوني مرکې په پای کې د یوې پېښې انځورنه کوي.

د ټلویزیوني بحثونو په لړ کې څو موده دمخه (اریانا) خصوصي ټلویزیون د کابل کنفرانس په اړه یو ګردی مېز جوړ کړی و. زه له نږدې څلورو پنځه میاشتو راهیسې ټلویزیوني بحثونو ته نه وم تللی. که څه هم په دې موده کې په لسګونو ځله او په ډېر ټینګار سره بېلابېلو خصوصي ټلویزیونونو بللی یم، خو نه مې غوښتل په ټلویزیونونو کې ډېر څرګند شم. اریانا ټلویزیون په دې ترڅ کې څو څو ځله بلنه راکړې وه، خو ما خپل عذر وړاندې کړی و. دا ځل د اریانا ټلویزیون یو ویاند ښاغلي (لطیف محمود) په ډېر ټینګار راته وویل او د ښاغلي احسان الله ارینزي سپارښتنه یې هم راته وکړه، راته یې وویل چې ښاغلی (فاضل سانچارکی) د ((اپوزېشن)) او ښاغلی (وحید عمر) د دولت په استازې او تاسې د پوهنتون د یوه استاد په توګه په دې ګردي مېز کې ګډون کوئ. که څه هم ما ښاغلي لطیف محمود ته وویل چې زه جلال اباد ته په سفر یم خو هغه ډېر ټینګار وکړ او هیله یې څرګنده کړه. لنډه دا چې اریانا ټلویزیون ته لاړم، زه (یون) او ښاغلی سانچارکی تر ټاکلي

وخت لږ دمخه ورسېدو. تر بحث وړاندې مو پر فرهنګي مسايلو يو څه شخصي بحث وکړ، ګردي مېز تــه لا لــږ وخــت پــاتې و چــې ښــاغلی (عبدالحفيظ منصور) هم ستوډيو ته راننوت، که څه هم ښاغلي محمود ماته د منصور په اړه نه وو ويلي، خو ما ځکه په بحث کــې ګــډون وکــړ چې بيا دا ښاغلي فکر ونه کړي چې دی (يون) ګڼې زموږ د ځــواب نــه دی. تر دې دمخه ما له ښاغلي منصور سره دوه بحثونه يو په (اريانا) او بل په (طلوع) ټلويزيون کې تېر کړي وو، هلته ماته د ښاغلي منصور د منطق وزن معلوم و چې په کومه کچه دی. هغه دواړه بحثونه د منطق، زغم، استدلال او سياسي پرنسيپ له مخې دې ښاغلي بايلولي وو. هغه وخت ماته د منصور منطق او اوسپله ښه معلوم شوي وو؛ هر ځل چــې بحث پای ته رسېدلی، نو ده له خدای پامانۍ پرته يو څو ترخې خبــرې خوشې کړي او بيا همداسې په منډه له ستوډيو څخه وتلی دی. يو ځل يې په اريانا ټلويزيون کې تر بحث وروسته په ډېره ترخه او مسخره ييزه لهجه وويل: (( او يک کتاب شما را خواندم)). ما ورته وويل: ((ما هــم او دوکتاب تانرا خوانديم)) ده وويل: (( ما خو هشت کتاب نوشته کــردم، تو کدام اش خوانده ايد؟)) ما ورته وويل: (( ما سی و سه عنوان کتــاب نوشته کرديم تو کدام اش خواندی؟)) همدې سره پــه ډېــره بيــړه لــه ستوډيو څخه ووت.

په طلوع ټلويزيون کې د ( صد روز نخســت) پروګــرام کــې هــم لــه سختې ماتې سره مخامخ شو، هلته هم کله چې بحث خلاص شــو لــه خدای پامانۍ پرته له ستوډيو څخه ووت، په تلو تلو کې همداسې ځــان سره ګړبېده. خدای حاضر دی چې دا دواړه ځله زه تصادفاً له ده ســره

مخامخ شوی یم، کېدی شي دی دمخه خبر و، خــو زه خبــر نــه وم، دا دريیم ځل هم همداسې و.

کله چې د بحث وخت نږدې شو، نــو د پروګــرام چلــوونکي ښــاغلي (نصیر احمد فیاض) ښاغلي لطیف محمود تــه وویــل: ((څنګــه شــو د دولت نماینده؟)) هغه وویل: ((راروان دی)) څو دقیقې وروسته ښاغلی (رفیع فردوس) چې د حکومت د رسنیو مشاور دی، راننوت، بحث پیل شو، دا بحث کېدی شي اکثرو لیدونکو لیدلی وي، قضاوت به یــې هــم پرې کړی وي، زه نه غواړم هغه خپرې شوې خبرې بیا تکرار کړم، خــو زه غواړم هغه څه چې سانسور شول او نشر نه شول او دا چې تر بحــث وروسته څه پېښ شول؟ پر هغو لنډه رڼا واچوم:

## لومړی سانسور شوې برخې ته راځم:

ما د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: ((حکومت په عمومي ډول لــه دوو کته ګوریو خلکو جوړ دی: یوه تنظیمي برخه ده او بلــه د روښــنفکرانو برخه، تنظیمي برخه د تنظیمي ملاحظاتو او روښنفکره برخــه د خپــل ظرفیت او کفایت له مخې په حکومت کې ونډه لري.)) کله چې ښاغلي منصور ته بل ځل نوبت ورسېد، نو ویې ویل: (( اگر جامعــه جهــانی در افغانستان حکومت درست میخواست چرا یک شخص (کرزی) بیسواد سر مردم تحمیل کرد)) و اینها (یون) که از روشنفکران نام میبرد، این روشنفکران را ما (دزدان کمپیوتری) میگویم)).

ده نورې هم ډېرې خبرې وکړې چې اکثره هغه نشــر شــوي، خــو دا پورته دوه غټې خبرې یې نشر نه شوې، زما هم ډېرې خبرې نشر شوي، خو دده د دې پورته دوو خبــرو ((بیســواد)) او ((دزدان کمپیــوتری))

ځواب يې نشر کړ. ددې دوو سپوره الفاظو په باب زما ځواب داسې و: ((سواد په دوه ډوله دی: یوه ته رسمي سواد وايي او بل ته نارسمي، رسمي هغه ته وايي چې يو څوک له لومړي ټولګي څخه بيا تر فاکولتې پورې پروسه طی کړي او نا رسمي هغه ته وايي چې يو څوک له خپلې ټولنې څخه سم برداشت ولري او هغه سمه تحليل کړي، مهمه نه ده چې دی دې رسمي سواد ولري. اوس خو ټوله دنيا پوهېږي چې کرزی د سواد دا دواړه ډولونه لري، دا چې ته يو باسواده سړي ته بېسواده وايې، زما ستا پر سواد شک پيدا شو چې ته سواد لرې که نه؟ هو کرزی دا سواد نه لري چې کعبه کې قسم وخوري او بيا يې تر پښو لاندې کړي، که دا د سواد برخه وي نو تاسې بيا په دې کې اول ياستئ. دا چې ته د هېواد روښنفکرانو ته، چې خپل فکر او ټول توان د هېواد د ابادۍ لپاره لګوي ((دزدان کمپيوتری) وايې دا نو ستا د اخلاقو نمايندګي کوي. پاتې شوه اصلي موضوع، نننۍ موضوع کابل کنفرانس ته ځانګړې شوې ده، حاشيې ته بايد لاړ نه شو، پر اصلي موضوع بايد بحث وکړو...))

کله چې مې د شپې (اريانا) ټلويزيون تعقيب کړ، زما د خبرو پر پورتنۍ برخې سربېره يې زما د خبرو يوه بله اساسي برخه هم سانسور کړې وه. د شپې مې لطيف محمود، نصيراحمد فياض، حاجي صيب اسمعيل (د اريانا ټلويزيون سرپرست) او احسان الله ارينزي صيب ته چې دا مهال په هالنډ کې وو، ټلېفونونه وکړل، حاجي صيب اسمعيل وويل: ((مور ته ټلېفون وشو چې دا بحث بايد قطع کړو.)) دا چې چا ټلېفون کړی و، معلوم نه شو، زما په ډېر ټينګار يې بحث سهار لس بجې بيا کېښود، زما د ځوابونو يوه برخه يې ورسره کېښودله، خو هغه برخه

چې پورته مې ورته اشاره وکړه او ځینې نورې بیا هم ترې کــټ شــوې وې.
اریانا ټلویزیون بیا د بهر لپاره دا مرکه نوره هم کټ کــړې وه او هغــه برخه چې اوس (You Tube) ته پورته شوې، هغــه هــم نیمگــړې ده. د اریانا ټلویزیون سرپرست ښاغلي حاجي اسمعیل په دې پلمه چې هغــه (منصور) جمهور رئیس ته سپکې سپورې کړې وې او دا زموږ پالیســي نه ده چې دا ډول کنځلې نشر کړو. د مرکې د مهمې برخې د قطع کېدو علت وگانه. ما ورته وویل: ((تر دې دمخه هم همدې ښاغلي منصــور د همدې اریانا ټلویزیون له لارې تر دې ډېرې سپوره کلمې، هم ښــاغلي کرزي او هم خپلو نورو مخالفانو ته کارولي، هغه تاسې نشر کړي، خو دا ځل یې چې منطقي ځواب ویل شوی، هغه نه نشروئ؟.
زما دلایل که هر څومره پرځای وو، خو د سانسور مخه یې ونــه شــوه نیولای.

## اوس راځم دویمې برخې ته!

کله چې بحث خلاص شو، ما له خپلې کورتۍ څخه میک خلاصوه، زه پر څوکۍ ناست وم، دا وخت منصور ودرېد، په ډېره قهرجنه لهجه یــې وویل: ((تو وجدان داری؟)) ما وویل: ((مشکل دې څه دی؟)) دی نــور هم گرم شو (( به خدا می کشم ات)) ما وویل: ((اعصاب دې پرځای دي که نه؟)) بیا یې ما ته وویل: (( تو انسان هستی؟)) ما ورته وویل: ((زموږ او ستاسې اختلاف تر دې مېزه پورې و، ته چې بحث ته راځــې بایــد د بحث اوسېله ولرې، د یوه افغان په شان، د یوه انسان په شان او د یــوه مسلمان په شان باید خبرې وکړې!)) دی نور هم گرم شو، له خولې یې لاړې بادبېدلې، ویې ویل: (( گوش کو! من افغان نیستم، کسی کــه مــرا

افغان میگوید، بد میکند.)) ما وویل: ((خیـر کــه افغــان نیســتی مــا همرایت هیچ مشکل ندارم ما خو همــرای پاکســتانی و ایرانــی گــپ نمیزنم، تو که افغان نیستی خیر چرا یکبار خود را به ریاست جمهوری انتخاب کردی و دوبار هم به پارلمان؟ قانون اساسی افغانستان میگوید کسی که افغان باشد حق دارد رایه بگیرد و رایه بدهد، به خــارجی هــا این حق را نداده)). دې سره نور هم په جوش شــو، رابــرگ شــو، زمــا کورتۍ ته یې لاس راوړ، ما ورته وویل: ((چې منطق درسره نــه وي او د بحث اوسېله نه لرې هېڅ بحث ته مه راځه، اول خپل کور کې مشــوره وکړه بیا بحث ته راشه او که ته رښتیا هم د منطق خاوند یې لــه اریانــا ټلویزیون څخه به لایف وخت واخلو، دواړه به ازاد بحث وکړو.)) ده نور هم خپل کنټرول له لاسه ورکړ، غوښتل یې زما غاړې ته لاس راوړي، ما یې لاس ونیو، دا مهال په ستوډیو کې ولاړ کسان (فیاض، ســانچارکی، محمود، فردوس او څو تنه نور ترمنځه شول، سره جلا یــې کــړو، دی د دېوال خواته دوو تنو له لاسونو نیولی و او زه هم دوه تنو نیولی وم. دی که څه هم دوه تنو نیولی و خو خوله یې تړلې نه وه، د یــوه کوڅــه ډب شخص په توگه یې چې څه خولې ته ورتلــل، هغــه یــې بــادول، هغــه کنځلې چې ده کولې د کاغذ پرمخ یې لا تراوسه د لیکلو کلتور نه شته، یو ځل یې بیا کنځلې تکرار کړې او غوښتل یې پر ما گوزار وکــړي، دې کې نو زه هم پرځان پوه شوی نه یم چې څنگه مې ځان له دې دوو تنو خلاص کړی، زما یوه لغته خدای پاک دده پر سینه ور برابره کړه، جــک یې نارې کړ او دی دېوال سره وموښت.

گوره حمزه خوله په خوله چې نه شې لــــه رقیب سره

تــــاتــــه دې ښــــکاره چـــــې د سړو خــبرې نورې دې.

دې کې خلکو سره خلاص کړو، دی له ستوډیو څخه په وتو شو، خــو تر اخره یې کنځلې کولې، ما ورته وویل: ((ستا کرکټر ستا له دې خولې

ځخه معلومېږي)) ښاغلي سانچارکي ته مې وویل: ((دغه دي ستاسې د جبهه یانو اخلاق، کله چې د بحث اوسېله نــه لــرئ ولــې بحــث تــه راځئ؟)) ستوډیو کې ټول اته نهه کســان وو، پــر ټولــو مــې غــږ کــړ: ((وګورئ اخلاقو ته یې، په دې به هم سبا ځوک ملامت وي چې خولــه یې ورسموي، تاسې ټول د دې شاهدان یاست چې نــن ده دلتــه کــوم الفاظ استعمال کړل؟)) لطیف محمود ته مې وویل: ((زه دوه غوښــتنې لرم: یو دا چې دا شوی بحث به کټ مټ نشروئ او بل تر بحث وروسته چې ده کوم حرکت کړی ددې فلم به ماته راکوئ!)) هغه وویل: ((بحــث خو کټ مټ نشروو، خو تر بحث وروسته جریان نــه دی ثبــت شــوی، ځکه چې موږ خپلې کمرې ګل کړې وې.)) ما ورته بیا وویل: ((هسې نه چې سبا خپله دا ملامتي پر بل چا وانه چوي؛ دوی همداسې دي.))

په دې کې ده نورې هم ځینې سپوره ترخې خبرې باد کړې خو غــټ ټکي یې همدا وو. دا چې ولې ښاغلی منصور د انفجار دې مرحلــې تــه ورسېد، اوس راځم دې خبرې ته: ددې کار یو علت شــاید دا وي چــې کېدی شي د هغه کرکټر او اخلاق همداســې وي؛ د یــوه منطقــي دوه اړخیز بحث اوسېله نه لري، بل علت دادی چې د اوو اتو کلونو په بهیــر کــې د نظــار شــورا او اســلامي جمعیت،ویــندویانو، خبرلوځــو او ((مفکرینو)) د ازادې میډیا تر چتــر لانــدې د رســنیو یــوه تنظیمــي امپراتوري جوړه کړې وه، یوازې دوی د خبرو فاتحین وو، په هــر بحــث کې به هم ځانته او هم جوړه جوړه راځرګندېدل او چا یې خبره ورتــاوه کړې نه وه.

د تېرو درې ځلورو کلونو په ترځ کې ځو تنو ملتپــالو افغانــانو خپــل هېواد او ملت سره د مینې او پر لوی الله(ج) د توکل په قوت د دوی دا امپراتوري ونړوله، دا چې ددې نامشروع رسنیزې امپراتورۍ پــه نړولــو کې چا اساسي نقش درلود، دا قضاوت لوستونکو ته پرېــږدم؛ کاغــذي

فیلان او کاغذي اتلان نور د حقیقت د ویندویانو پر وړاندې د منطقــي بحث د تداوم جوګه نه دي، نو ځکه دوی دې ډول عمل ته لاس اچوي. هر کله چې ته یو څوک د منطق په توره مات کړې، نو د ماتې خــوړلي لومړی حرکت به بې ځایه احساسات وي، دویمه مرحله به یې کنځاوې او سپوره خبرې وي او دریيم حالت یې همدا فزیکي لاس اچونه ده. پــر ښاغلي منصور او د نظار شورا پر نورو ((بلبلانو)) دا درې پړاوونــه اوس اوس د تېرېدو په حال کې دي، د دوی غټه وسله چې نور به یې پرې په اصطلاح لاځوابه کول هغه (جهاد) و، ما له ده سره په یــوه ټلویزیــوني بحث کې د جهاد له اصلي او فرعي، حقیقي او جعلــي یــا پروتوکــولي څېرو څخه پرده پورته کړه، نور دوی هغه وسله د دې مجاهد ولس پــر ضد نه شــي اســتعمالولای، همداســې د ((مقاومــت))، ((اپوزېشــن))، ((دیموکراسي)) او نورو اصطلاحاتو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې ټــولې لارې مې پرې وتړلې، نو کله چې پر دوی د منطــق ټــولې لارې بنــدې شوې، نو ځکه یې دې ډول عمل ته لاس واچوه.

ښاغلي منصور هلته په سپکو سپورو بسنه ونه کړه، تر هغه وروســته بیا د ښاغلي رفیع فردوس په وینا، هغه ته یــې هــم ســپکې ســپورې وکړې، تر هغه وروسته یې بیا خپلو تنظیمي انډیوالانو ته هم ځــان ور رسولای و، غوښتي یې وو، دې پېښې ته بله بڼه ور کړي. دې ښاغلي د جمهوري ریاست او په تېرو پارلماني انتخاباتو کې تر ناکامۍ وروسته یو ځل بیا له کابل څخه ځان ولسي جرګې ته کاندید کړی دی، غواړي پــه دې ډول یوه ماجرا پیدا کړي او خپل ځان په کې د پخوا په څېر کــاذب شهرت ته ورسوي. ما نه غوښــتل د وړو اشخاصــو دا ډول چلندونــه د رسنیو مخ ته راوباسم، خو څرنګه چې دوی له دې حالــت څخــه هــم ناوړه ګټه پورته کوي او پېښې ته بل ډول رنګ ورکوي، نو ځکه مــې دا لیک ولیکه. اکثره ملتپال افغانان هم د وخت د نزاکت په پام کې نیولو

سره د سیاسي چارو د کارپوهانو په بنه د ځینو جنګسالارانو چلنــدونو ته په ژوره توګه متوجه دي، هغوی ته د وضاحت او ډاډ په خاطر مې هم دا کار غوره وباله.

واقعیت دادی چې افغانستان کې د اوسنیو ازادو رسنیو اکثره برخــه په مستقیم او نامستقیم ډول د یــوه فاشیســت او متعصــب تنظیمــي انحصار په منګولو کې راګیر ده. دوی غواړي خپل دې ډول انحصار تــه دوام ورکړي، نو که یو څوک له یوې وړې کړکۍ څخه هم ددې نامعقول تنظیمي انحصار د ختمولو او د هېواد د ملي ګټو د خوندیتابه لپاره کار کوي، د دوی له خوا به له ډول ډول ګواښونو سره مخــامخېږي، ان پــه مستقیم او نامستقیم ډول به د ځینو رسنیو له خوا هم ټکول کېږي. زه خپلو مظلومو هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې نور نو د منطق په ډګر کې د افغانستان د ملي هویت د مخالفینو زور اوبه شوی، یوازې د پردیــو تــر سیوري لاندې یې خپل څه ناڅه جنګسالاریز قوت او خصلت ســاتلی، هغه به هم د لوی رب په فضل یو وخت د باد بنګه شي. موږ د حقیقتونو د لټون او بیان لړۍ پیل کــړې، هیلــه ده دا حقیقتونــه یــو وخــت پــر واقعیتونو بدل شي. د افغانستان د لا سرلوړۍ او د هغه د دښمنانو د لا سرټیټۍ په هیله.

ستاسو ټولو

یون

# د افغانستان او پاکستان پارلمانونه او ګډه غونډه

په کابل کې د افغانستان او پاکستان د امن تړون جوړېدو (۱۳۹۱ل) ل کال نږدې دوه کاله وروسته د هېواد ملي شورا ځینو وکیلانو د مدني ټولنو او ازادو رسنیو استازو د یوه هیئت په ترکیب کې د پاکستان اسلام اباد ته سفر وکړ او هلته یې په یو علمي کنفرانس کې ګډون وکړ، ما په دغه کنفرانس کې لنډه وینا وکړه، چې لیکلی متن یې دا دی دلته وړاندې کوم.

تر هر څه دمخه د افغانستان او پاکستان د پارلمانونو د غړو، مدني ټولنو او د رسنیو د استازو ددې مهم کنفرانس برخوالو ته سلامونه او احترامونه وړاندې کوم. هیله لرم، دا کنفرانس او علمي او مشورتي غونډه د نورو دا ډول غونډو ښه پیلامه شي. دا ډول غونډې د دواړو هېوادونو د مخورو، سیاستوالو او قلموالو د خلوص ښکارندوی کوي، نن چې اسلام اباد ددې پرتمینې غونډې کوربه دی، موږ هیله من یو چې بل وخت کابل او د افغانستان نور لوی ښارونه د دا ډول غونډو کوربه شي. دا راشه درشه طبعاً د زیاتې مینې او خلوص سبب کېږي. زموږ د ادبیاتو یوه ښېلګه ده وایي: مینه په تلو راتلو زیاتېږي --- کله راځه کله به زه درځم مینه

له نن څخه نږدې دوه کاله دمخه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د امن ګډه جرګه جوړه شوه، د دواړو ولسونو تاریخ کې یـې د وروری یـو نوی باب پرانیست، ولسونو ثابته کړه چې که د حکومتونو ترمنځ وخت ناوخت سیاسي اختلافونه هم وي، خو هغه ولسونه چـې د ګـډ دیـن، مذهب خاوندان دي او تر ډېره حده کلتوري مشترکات لري، سیاســي اختلافات او د نظریاتو توپیر د ولسونو طبیعي پیوســتون او وروري لـه منځه نه شي وړلای ولسونه چې کوم پیوستون وکړي، نـو حکومتونـه هم مجبور دي چې هغو پرېکړو ته غاړه کېږدي. خوشال بابا فرمایي:

ولسونه چې سند یو بله وکا      بادشاهان ورله سجود کاندي افتاد

د افغانستان او پاکستان د امن ګډهٔ جرګه هم د دواړو ولسونو د نظریاتو د پیوستون او توافق ښکاردنوی وه، د یادې جرګې په پرېکړه لیک کې ګڼې پرېکړې هم راغستلي چې هر یوه یې د دواړو هېوادونو د ولســونو لپاره د سوکالۍ زېری لري. ددغو پرېکړو په جمله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ پارلماني روابط، په بېلابېلو کلتوري، علمي، اقتصادي، تجــارتي، صحي او نورو ډګرونو کې د هئیتونو تبادله شامله ده. ننـنـۍ غونـډه د همغې لویې غونډې د هیلې او پرېکړې د عملي تطبیق یــوه بېلګــه ده، خو په خواشینۍ سره بایدوویل شي چې د امــن ګــډې جرګــې ډېــرې پرېکړې لا تراوسه پورې عملي شوې نه دي.

که څه هم د افغانستان خوا د امن ګډې جرګې د پرېکــړو تطبیــق تــه تیاره ده او په دې برخه کې یې ددې جرګې د پرېکړو مطابق د جرګه‌ګۍ لپاره کمیسیون هم جوړ کړي، خو په پاکستان کې حالات داسې راغلل چې دا خوا ددې جرګې د پرکېړو د تطبیق په لار کې ستونزې لري. کــه څه هم دې خوا د جرګه ګۍ لپاره خپل کسان معرفــي کــړي، خــو پــه

پاکستان کې لا هم د دويمې جرګې د جوړېدو پر وړاندې لپاره ستونزې شته.
موږ هيله من يو چې افغانستان او پاکستان دواړه په دې هېوادونو کـــې پر پرتو جګړه ييزو ستونزو او نورو ډول مشکلاتو لاسبرى پيدا کړي.
نه يوازې په پاکستان کې د افغانستان او پاکستان د امن جرګــه جــوړه شي، بلکې د دا ډول نورو کنفرانسونو، علمي او مشترکو غونډو جوګــه هم شي.

د همدې ورځې په ارمان

# امریکایان او پښتانه تـقـابـل او تـفـاهـــم

**دا تحلیل پر (۱۳۹۲ل = ۲۰۱۳م) کال لیکل شوی و، ځینو سیاستوالو ته مې هم ورکړ او همدارنګه مې ځینو هغو افغانـانو تـه چـې امریکـایي تابعیت یې درلود، هدف مې دا و چې که امریکایي مقامـاتو تـه یـې ور ورسولای شي. دا چې چا به دا نظرونه اړوندو مسولینو ته وررسولي وي که نه، په درک یې پوه نه شوم.**

امریکا په نړۍ کې د یو ستر ځواک او پښتانه په سیمه کـې د یـو لـوی قوم په توګه ډېرې ګډې ګټې لري، یو بل ته زیات ضرورتونه او یو له بل سره د همکارۍ او ملګرتیا ښه فرصتونه، خو په تېرو لسو کلونو کې نـه یوازې له دغو ګډو فرصتونو، ضروروتونو ښځه مثبته او لازمه ګټه نه ده پورته شوې، بلکې د امریکا د متحـده ایـالتونو او پښـتنو د نړیوالـو او سیمه ییزو غلیمانو له خوا، په پټه او ښکاره، قصدي او شعوري توګه له هر ډول توطیو ښځه کار اخیستل شوی، چې د نړۍ او سـیمې دا سـتر پوتنسیال او ځواک یو د بل په مقابل کې وکاروي. په نتیجه کـې دواړو ته زیان واړوي، دواړه کمزوري شي، امریکا له سیمې ښځه وتلو تـه اړه کړي او د پښتنو د کمزوري کېدو له وجې دوی پـه سـیمه کـې خپلـه واکمني ټینګه او خپل ستراتیژیک هدفونه تعقیب کړي.

د پورته سریزې هدف دادی چې د یوه نړیوال قوت او یــو ســیمه ییــز بشري ځواک ترمنځ باید مفاهمه، همکاري او همغږي رامنځته شــي. دا همکاري باید د دواړو خواوو ترمنځ د دوه اړخیزو ګټو پر بنســټ وي او یو بل په دقیقه او سالمه توګه درک کړي. زموږ په نظر پښتانه په سیمه کې د امریکا متحده ایالتونو طبیعي دوستان دي او دواړه په سیمه کې مشترک رقیبان او سیالان لري. دلته کېدی شي د پښتنو او امریکایانو د ګډو سیالانو او نورو مشترکاتو په باب یو څو مهمو ټکو ته اشاره وکړو:

## الف- د سیمې هېوادونه:

**۱- روسیه:** روسیه یا پخوانی شوروي په نړۍ کې د امریکا پخوانی او ان اوسنی سیال دی.  د روسیې په استخباراتو، دولتي کړیو او سیاسي ډلو ټپلو کې اوس هم داسې اشخاص شــته چــې غــواړي امریکــا پــه افغانستان کې ماته شي او په دې ډول په افغانستان کې له امریکا څخه خپل غچ واخلي. روسان پر دې پوهېږي چې په افغانستان کې د دوی د ماتې ستر علت، د پښتنو سرســختانه مقاومــت او د امریکــا او غربــي هېوادونو بې دریغه مرستې وې. سره له دې چې د روسانو په ماتې کــې ټولو افغانانو خپله ونډه اخیستې، خو د پښتنو افغانانو ونډه په کــې تــر ټولو زیاته او ټاکونکې وه. روسان غواړي په یوه نه یــو ډول پښــتانه لــه سیاسي صحنې څخه ګوښه کړي او خپلو پلویانو تــه، چــې د منځنــۍ اسیا له قومیتونو سره قومي اړیکي لري او له څو لسیزو راهیســې پــه افغانستان کې د دوی د ګټو پلوي کوي، د واک زمینه برابره کــړي. پــه سیاسي او اقتصادي صحنه کې د پښتنو حذف، په افغانستان کې د بې

ثباتۍ سبب ګرځي، دا بې ثباتي امریکا او افغانستان دواړو ته ستونزې راولاړوي.

**۲- چین:** په سیمه کې بل ځواکمن هېواد دی، سره له دې چې په افغانستان کې يې سیاسي لاسوهنه ډېره پراخه نه ده، خو په افغانستان کې يې د امریکا حضور په هېڅ وجه پر زړه نه اوارېږي. چین په تېرو لسیزو کې له هغو سیاسي ډلو ټپلو سره اړیکي درلودل چې اکثره ناپښتانه وو او چپي افکار يې درلودل. چین د پاکستان د ګټو په پام کې نیولو سره نه غواړي له پښتنو سره ډېر نږدې اړیکي وساتي.

**۳- ایران:** ایران په سیمه کې یو بل ځواکمن او امریکا دښمنه هېواد دی. لکه څنګه چې د ایران رژیم په تېرو دوه دېرشو کلونو کې له امریکا سره خپله دښمني نه ده پټه کړې، دغسې يې د پښتنو پر وړاندې هم هر وخت خپله دښمني په ډاګه ثابته کړې ده. له امریکا سره د ایران د دښمنۍ تاریخ ایله دوه دېرشو کلونو ته رسېږي، خو له افغانستان او په تېره بیا له سني مذهبه پښتنو سره يې دښمني سوونو کلونو ته رسېږي. له پښتنو څخه کرکه او د تاریخ په اوږدو کې له هغوی سره متواتره دښمني اوس د ایران د تاریخ او تفکر یوه برخه ګرځېدلې ده. ایران په هېڅ وجه په افغانستان کې یو سني مذهبه او ملي افغاني حکومت نه شي زغملی، په همدې خاطر په افغانستان کې هغو قومي، مذهبي او ژبنیو ګروپونو ته وده ورکوي، چې د ایران پلویان دي. ایران اوس غواړي، د افغانستان د دولت او امریکایانو مخالف ځواکونه وسلوال کړي، جګړه د پښتنو سیمې کې جاري وساتي، په دې ډول که یو سني مذهبه پښتون افغان وژل کېږي هم د ایران په ګټه ده، که

پښتون مېشته سيمې ورانېږي نو هم د ايران په ګټه ده او که امريکايي عسکر وژل کېږي نو هم د ايران په ګټه ده، په افغانستان کــې اوســنۍ روانه جګړه په واقعيت کې د ايران لپاره يو طلايي مثلث دی چې ايران يې له هرې ضلعې ګټه او خوند اخلــي او زيــات زيــان يــې پښــتنو او امريکايانو ته دی.

**۴- پاکستان:** کله چې پخوانی شوروي ژوندی و او په تېــره بيــا د افغانستان د اشغال پر وخت، هغه وخت پاکستان، امريکا او غربي نــړۍ ته خاص ارزښت درلود، په همدې خاطر يې پاکستان سره ډېرې زيــاتې مرستې وکړې. د پخواني شوروي له خوا د افغانستان د اشغال پر وخت، پاکستان ته ددې لاره اواره شوه چې د امريکا او غربي نړۍ لــه پراخــو مرستو څخه ګټه پورته کړي او افغانستان کې خپل ستراتيژيک اهداف تعقيب کړي. د پاکستان د پوځيــانو پــه ذهــن کــې د اســتعمار نشــه وګرځېده او افغانستان کې يې پراخه لاسوهنه پيل کړه. د سپټمبر تــر (۱۱) نېټې وروسته حالات بدل شول، امريکايان خپلــه افغانســتان تــه راغلل، نور نو پاکستان هغه پخوانی ارزښت او رول نه لري، چې امريکــا او غربي نړۍ ته يې پخوا درلود. پاکستان لکه څنګــه چــې د پخــواني شوروي پرضد يې په افغانستان کې د جګړې پخه تجربه ترلاسه کــړې وه، د همغې تجربې په رڼا کې يې د امريکايانو پر ضد هم په مهارت سره جګړه پيل کړه. طالبان يې په بېلابېلو پلمو وسلوال کړل، دا جګړه يــې ټوله په پښتون مېشتو سيمو کې متمرکزه کړه، له دې څخه د پاکستان هدف دا دی چې يو خو نړيوالو ته وښيي چــې پښتــانه (د طالبــانو پــه لباس کې) د نړۍ د پوځي حضور مخالف دي او له بلې خوا يــې اصــلي

هدف دادی چې ددې سیمې خلک دومره کمزوري شي چې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته، د ځان د انسجام او عصري دولتمندۍ ټول ځواک له لاسه ورکړي، نو یو ځل بیا به د دوی تر مستقیم او نامستقیم واک لاندې راشي. د پاکستان د پراختیا غوښتنې سیاستوال او نظامیان فکر کوي چې که په افغانستان کې پښتانه سوکاله وي او د سیاسي واک خاوندان وي، نو په افغانستان کې ثبات د افغاني ټولنې د سوکالۍ او پرمختیا سبب کېږي، کله چې د ډیورنډ تر کرښې اخوا، د پاکستان تر واک لاندې سیمو کې پښتون مېشتې سیمې د افغانستان د پښتنو سوکالي وګوري، نو په اتومات ډول په هغو کې له افغانستان سره د پیوستون انګېزه پیاوړې کېږي او یا هم د پښتونستان داعیه بیا راژوندۍ کېږي، نو پاکستان غواړي د پښتونستان د داعیې د له منځه وړلو لپاره همېشه په افغانستان کې پښتانه کمزوري وساتي. دوی نه یوازې په افغانستان کې د پښتنو کمزوري غواړي، بلکې د پاکستان تر چتر لاندې پښتانه یې هم نه خوښېږي، هغوی په پاکستان کې د لاس د اضافي ګوتې په توګه ګڼي. هلته یې هم د تروریزم په نامه جګړه د پښتنو په سیمو کې ګرمه ساتلې، علت یې دادی چې دوی غواړي په دایمي ډول پښتانه د ژوند له اساسي اسانتیاوو بې برخې وي. دا څه تصادفي خبره نه ده چې په پاکستان کې د ټولو مذهبي ګوندونو مشران له قومي پلوه پښتانه دي، د سیکولرو او نورو ګوندونو مشران ناپښتانه، د پاکستان استخبارات غواړي، په پښتنو کې مذهبي افراط تر وروستي حده پورته کړي، داسې افراط چې د ژوند د هر ډول پرمختګ مخه ونیسي، پښتانه د مذهب د دفاع په نامه په جنګ اخته کړي او د دوی د ژوند لاره خپله کړي. پښتانه لر دي او که بر په

مجموعي ډول د پاکستان له پنجابي واکمنو او استخباراتي کړیو سره مشکل لري. د پاکستان همدا استخباراتي کړۍ دي چې امریکا او ټولې نړۍ ته یې سردرد پیدا کړی دی.

## تېروتنې:

دلته غواړم ځینو هغو نیمګړتیاوو، تېروتنو او ناسم پوهاوي ته هم اشاره وکړم چې په دې تېرو دریو لسیزو او په تېره بیا په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې پېښ شوي دي.

**لومړۍ تېروتنه:** د غربي نړۍ او په تېره بیا د امریکایانو لویه تېروتنه دا وه چې د پخواني شوروي تر ماتې وروسته یې افغانستان یوازې پرېښود او دا کار د سیمې هېوادونو په تېره بیا ایران او پاکستان ته لار اواره کړه چې افغانستان کې پراخه مداخله وکړي.

**دویمه تېروتنه:** مخکې تر دې چې پر طالبانو برید وکړي، بدیل حکومت یې جوړ نه کړ او په ډېره عاجله توګه یې د طالبانو نظام ړنګ کړ، دې کار ددې زمینه برابره کړه چې د طالبانو پخواني وسلوال مخالفان (شمال ټلواله) چې تر طالبانو یې هم د افغانستان خلکو ته بدرنګه ماضي درلودله، یو ځل بیا واک ته ورسېږي، شمال ټلواله اساساً د روسیې او ایران طبیعي دوستان وو او د امریکا له واک و ځواک څخه یې د خپل واک لپاره ناوړه ګټه پورته کړه. په دې ډول مخکې تر دې چې د (بن لومړی نړیوال کنفرانس) جوړ شي، شمال ټلواله عملاً په واک وه، په دې مانا چې د افغانستان واک په نامستقیم ډول د روسیې او ایران لاس ته لوېدلی و. امریکایانو ته د سپټمبر د یوولسمې نېټې د

پېښې له امله سخت درد ور رسېدلی و، نو له هرې هغې ډلې ملاتړ یـې کاوه چې د طالبانو مخالف وو، که څه هم دا ډله جنایتکاره وه، یا یې له روسیې او ایران سره نږدې اړیکي درلودل. په دې ډول نظامي پروسه تر سیاسي هغې نږدې دوه میاشتې دمخه شوه او دې کار افغانستان کـې سیاسي عدالت سخت زیانمن کړ.

**درېیمه تېروتنه:** درېیمه تېروتنه بن کنفرانس کې وشـوه؛ هغـه دا چې واک په کې په عادلانه ډول ونه وېشل شو، هغه نظامي ډلـې چـې یوازې په سلو کې پر پینځه برخې خاورې یې واک درلود، د واک اکثـره برخه ورکړه شوه، دا هغه ډلې تېلې وې چې د افغانســتان پـه کورنیـو جګړو کې یې لاس درلود او د بشر حقونو ناقضین ګڼل کېدل، خو فقط په دې خاطر نامعقول امتیاز ورکړای شو چې د طالبانو پر ضد یې جنګ کې برخه اخیستې وه. د ساري په توګه د پنجشېر ولسوالۍ زورواکـانو ته هغه وخت د جمهوري ریاست مرستیالي، کورنیو، دفاع، بهرنیو چارو وزارتونه، د ملي امنیت ریاست او نور مهم پوستونه ورکړای شول، دا په داسې حال کې وه چې په مرکز کابل کې ددې ولسوالۍ کسـانو (۸۳۲) نور مهم ریاستونه هم نیولي وو. ددې ولسوالۍ وګړي د ټول هېواد پـه کچه (۰،۳) سلنه کېږي، خـو پـه بـن کنفـرانس کـې د دوی واک پـه ناکنټروله ډول زیات شو او په عملي ډګر کې یې د واک کچـه تـر (۸۵) سلنې هم زیاته وه.

**څلورمه تېروتنه:** څلورمه تېروتنه دا وه چې کلـه موقـت حکومـت پایته ورسېد، باید انتقالي حکومت ته جنګسالارانو لاره نـه وای پیـدا

کړی، خو دوی بیا هم لاره پیدا کړه، دا کار په حکومــت کــې د فســاد سبب شو.

**پینځمه تېروتنه:** پینځمه تېروتنه، چې هم د افغانستان د حکومت، په تېره بیا د جمهور رئیس له خوا او هم تر یوه حده نړیوالې ټولنې لــه خوا ترسره شوه، هغه دا وه چې په تېر لس کلن بهیر کې یې په حکومت کې د پښتنو متناسبه استازي تضمین نه کړای شوه. اوس د افغانستان په ټول حکومت کې د پښتنو ونډه په مهمو پوستونو کې په ســلو کــې (۲۵.۳) ده، د تاجکو (۶۶.۶) او د هزاره ګــانو (۴.۴) ده، پــه ملــي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت کې د پښتنو ونډه تر دې هــم کمــه ده، یــو شمېر هغه پښتانه چې د دولت په حساسو پوســتونو کــې کــار کــوي، هغوی هم له سیاسي پلوه له شمال ټلوالې سره تړلي دي او یا د هغو له خوا یې د تقرر اجازه ورکړی شوې ده. په دې ډول په اوسني حکومــت کې د جمهور رئیس په شمول پښتانه سمبولیکه ونډه لري.

**حل لارې:** پورته مو یو شمېر سیمه ییزو، کورنیو او نړیوالو ستونزو او تېروتنو ته اشاره وکړه، خو اوس راځــو دېتــه چــې څنګــه د پخوانیــو تېروتنو د تکرار مخنیوی وکړو او څنګه مثبت پرمختګ وکړو.

**مفاهمه:** پښتانه د جرګې او مرکې خلک دي، هــره پېچلــې مســئله دوی په جرګه او مرکه حلوي، جرګه، مفاهمه او مذاکره په حقیقت کــې په افغاني- پښتني ټولنه کې د ستونزو او ټولنیزو لانجو د حل اجتماعي فورمول دی، خو څوک چې غواړي لــه پښــتنو ســره د مفــاهمې لاره خلاصه کړي، باید د مفاهمې په ژبه پوه شي. هر څومره چې څــوک دې قوم سره په نرمه او ملایمه ژبه وړاندې لاړ شي، همغومره زیات امتیــاز

ترلاسه کوي او څومره چې د زور خبره مطرح کېږي، همغومره مسـله ستونزمنېږي. امریکایان چې له څومره زور او طاقت څخه کار اخلي، که د همغې انرژۍ په سلو کې (دوه) برخې پر سوله ییزو لارو چارو ولګوي، نو ډېره ګټه به یې ترلاسه کړې وي. له دې خبرې څخه هدف دادی چې که امریکایان له پښتنو سره د تقابل لاره ونیسي، نو دا کار د روسانو په شان دوی هم له سترې ماتې سره مخامخ شي.

**طالبان:** طالبان په افغاني ټولنه کې د ټولنیز موقف له مخې په لومړۍ کتګورۍ کې نه راځي، یوازې په تېرو (۳۰) کلنو جنګونو او په تېره بیا په تېرو (۲۰) کلنو جګړو کې د یو سیاسي او نظامي قوت په توګه مطرح شول. طالبانو د پښتنو اجتماعي جوړښت ته زیان ورساوه، د پښتنو په سوونو قومي مشران یې ووژل، نږدې دوه ملیونه پښتانه ماشومان یې د زده کړې له نعمت څخه بې برخې کړل او پښتانه یې د تمدن له کاروانه شاته پرېښودل. ځینو نړیوالو سره داسې یو تصور دی چې پښتانه مانـا طالبان او طالبان مانا پښتانه. پر اکثرو پښتنو دا تعبیر ډېر بد لګېږي او وایي هغه څوک چې د پښتنو ماشـومان ښـوونځي تــه نــه پرېــږدي، ښوونکي یې وژني، پر نجونو یې تېزاب شیندي؛ هغه د پښتنو د استازو په توګه یادوي، دا نو له پښتنو سره غټه بې انصـافي ده. طالبــان یــو مذهبي قشر دی او په کار ده چې په خپله د طالبانو په نامه یاد شي.

که امریکایان غواړي له پښتنو سره د تقابل مخه ونیسي او یا ورسره د دایمي ملګرتیا نیت ولري، نو مذهبي او نظامي ډلې باید له پښتنو څخه ببلې کړي او په جلا جلا ډول یې مطالعه کړي.

**اوسني واکمن سیاسي مشران:** په اوسني حکومت کې اکثره سیاسي مشران د پښتنو استازولي نه شي کولای، د دوی یو شمېر هغه کسان دي چې خپلو سیمو ته هم نه شي تللی، د اوسني حکومت په مهمو پوستونو کې د پښتنو ونډه په سلو کې (۲۵،۳) د تاجکو (۶۶،۶) د هزاره (۴،۴) او پاتې د نورو قومونو ده. د پوځ په درېواړو ارګانونو کې د پښتنو ونډه تر دې حده هم کمه ده، کوم پښتانه چې د حکومت په مهمو پوستونو کې کار کوي، هغوی هم له سیاسي پلوه له شمال ټلوالې سره تړلي؛ تر څو چې د شمال ټلوالې تائید نه وي، دوی پر هغو پوستونو نه شي مقررېدلای. دې کار ددې زمینه برابره کړه چې د اکثره پښتون مېشتو سیمو رابطه له مرکزي حکومت سره کمزورې شي، دې کار په سیمه کې د قدرت خلا رامنځته کړه او طالبانو یو ځل بیا له دې خلا څخه ګټه پورته کړه. طالبان د پاکستان په لمسون او شمال ټلواله په کابل کې د خپل زیات واک د بقا په خاطر دواړه غواړي، پښتون مېشته سیمې نارامه او پښتانه د پرمختګ له کاروانه شاته پاتې شي. نو که امریکا غواړي، په سیمه کې ثبات ټینګ شي، باید د مرکزي حکومت په امنیتي سکتور کې د عدالت پر بنسټ فوق العاده مثبت تغیرات راشي، د افغانستان پوځ په بشپړ ډول ناتنظیمي او له سیاسي عناصرو خلاص شي، د پښتون مېشتو سیمو په ګډون په ټول افغانستان کې د متوازنې ترقۍ لپاره کار وشي.

**رسنۍ:** له پښتنو سره د تفاهم یوه لاره داده چې پښتنې ازادې رسنۍ باید پیاوړې شي. رسنۍ دي چې هم د حکومت او هم نړیوالې ټولنې مثبت پیغام پښتون مېشتو سیمو ته رسوي او هم د پښتون

مېشتو سیمو له مشکلاتو څخه حکومت خبروي. د افغانستان اوسنۍ ازاده(!) میډیا اکثره د ایران په کنټرول کې ده. دا میډیا اکثره په فارسي ژبه ده، دا رسنۍ نه یوازې په پښتون مېشته سیمو کې ګټورې نه دي، بلکې زیان رسوونکې هم دي. پښتنو ته په خپله ژبه د رسنیزو خدمتونو وړاندې کول د خلکو د ذهنیت په روښانتیا کې ډېره مرسته کولای شي، که امریکا غواړي د ایران پالې میډیا د تبلیغاتو مخه ونیسي، باید پښتني ازاده میډیا او په مجموعي ډول ټوله ازاده میډیا پیاوړې کړي.

**د پښتنو مشرانو سراسري جرګه:** امریکایان کولای شي له پښتنو سره د ښه تفاهم په خاطر د پښتنو د رښتینو مشرانو؛ هغو مشرانو چې په ولس کې یې خبره وزن لري، یوه سراسري جرګه راوبولي، که د داسې یوې جرګې جوړېدل ممکن نه وي، کېدی شي له بېلابېلو مطرح قومي مشرانو او هغو روښنفکرانو سره، چې د افغانستان حالات ورته په ښه ډول معلوم دي؛ په جلا جلا ډول په انفرادي توګه وګوري، د هغوی نظریات او وړاندیزونه واخلي. دا کار هم کېدی شي د سولې او ثبات په راوستو کې مرستندوی شي.

داسې نورې ډېرې لارې او وړاندیزونه شته چې د دوو لوریو (امریکایانو او پښتنو) ترمنځ مناسبات ښه کولای اود اوږدې مودې لپاره د یو بل ګټې تضمینولای شي، خو موږ یې یوازې څوو ته اشاره وکړه.

که حالات همداسې روان او د تفاهم پرځای د تقابل تله درنه وي، نو دا کار امریکایانو ته هم په درانه زیان تمامېږي او پښتنو ته هم. پښتانه په نړیواله کچه یو ځواکمن ملګري ته اړتیا لري، د داسې یو ملګري په شتوالي کې پښتانه کولای شي له سیمه ییزو مارانو او لړمانو څخه ځان وژغوري او امریکا هم په سیمه کې یو باثباته او ځواکمن سیمه ییز پارټنر ته. که په دې دوو قومونو پورې اړوند سیاستوال له سیاسي ځیرکۍ څخه کار واخلي، نو کولای شي د یوه بل ځواک څخه د ځان په ګټه کار واخلي او له هغې پرته د حالاتو اوسنی بهیر دواړو لوریو ته ګټور نه برېښي.

# افغانستان او د ایران لاسوهنه

**دا یو لنډ تحلیل دی چې پر (۱۳۸۸) ل کال لیکلی شوی او په افغانستان کې د ایران د ډول ډول لاسوهنو یو انځور وړاندې کوي.**

ایران په افغانستان کې اوږده او ستراتیژیك هدفونه لري، دې هدفونو ته د لاسرسي لپاره دوی ډول ډول پلانونه لري او مختلفې ډلې ، ګوندونه او اشخاص یې د هغو د تطبیق لپاره ګومارلي او هر ډول ملاتړ یې کوي. دلته به په لنډیز سره د دوی د ځینو پلانونو او لاسوهنو یادونه وکړو:

۱- **په سیاسي برخه کې** : د جهاد په کلونو کې د ایران رژیم ته ښه موقع په لاس ورغله چې په ایران کې افغاني شیعه ګوندونه وروزي او ملاتړ یې وکړي، افغانستان ته یې راولېږلي او تر خپل کنټرول او تاثیر لاندې یې راولي. نو ځکه خو یې لومړۍ په ایران کې ((اته ګوني)) شیعه ګوند جوړ کړل او وروسته یې بیا دوی د عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د ((حزب وحدت اسلامی افغانستان)) په نامه یوه واحد شیعه ګوند کې راټول کړل. په نوییمو کلونو کې دې ګوندونو د کابل په ورانۍ ،تنظیمي جنګونو، ائتلافونو او لوټمارۍ کې غټه ونډه لرله.

۲- **مذهبي برخه کې** : ایران غواړي د شیعه مذهب د تبلیغ او افغاني شیعه ګانو د تقویې او انسجام له لارې افغانستان ته د

یوه شیعه هېواد رنګ ورکړي، یا لږ تر لږه په افغانستان کې د شیعه ګانو رول او اغېز دومره زیات کړي چې د ایران ګټې او غوښتنې د دوی له لارې په افغانستان کې خوندي شي. له همدې کبله دوی د جعلي احصائیو له مخې غواړي په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېر پورته وښیي، په ایران کې د ځینو چاپ شویو کتابونو او اثارو له مخې یې په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېر تر **۳۵%**فیصدو پورې پورته کړ، خو د نورو رښتینو سرشمېرنو له مخې په افغانستان کې دشیعه مذهب د پلویانو شمېر تر ۸% نه پورته کېږي. ایران غواړي په افغانستان کې د حنیفي مذهب او احنافو دودیز واك کمزوری او د شیعه مذهب اوشیعه ګانو رول غښتلی کړي، له همدې کبله هڅه کوي چې په تعلیمي نصاب او یا هم د افغانستان په قضایي سیستم کې د جعفري فقهې د ځایونې له لارې دې هدف ته ورسېږي. سربېره پر دې دوی د بېلابېلو مدرسو له لارې چې مستقیماً د ایران له خوا جوړې شوي او جوړېږي غواړي د شیعه مذهب لمن پراخه کړي، غوره بېلګه یې د شیخ محمد اصف محسني تر چتر لاندې د ((حوزه علمیه خاتم النبین)) په نامه د یوې مدرسې جوړېدل دي چې په یوه وخت کې به تر لس زرو زیات زده کوونکي په کې د شیعه مذهب او جعفري فقهې زده کړه کوي، مدرسین به یې اکثره افغاني شیعه ګان او لارښوونکي یا مشاورین به یې ایراني شیعه ګان وي. پر دې مدرسې د ایران له خوا تر پنځوس میلونو ډالرو زیات لګښت راغلی دی.

۳- **کلتوري او ژبني برخه کې**: پر مذهبي او سیاسي لاسوهنو سربېره ایران په افغانستان کې ډېره کلتوري او ژبني مداخله کوي. دوی په مذهبي او ژبني برخه کې د افغانستان د

شیعه ګانو ملاتړ کوي خو په کلتوري برخه کې دوی د افغانستان د نورو فارسي ژبو لکه ځینو تاجکو، قزلباشو او ایماقو ملاتړ هم کوي، هغه ګوندونه لکه جمعیت اسلامي او نور چې له ژبني او کلتوري پلوه د فارسي ژبې او کلتور سخت پلویان دي د هغوی ملاتړ هم کوي. دوی د افغانستان د تاجکانو یا فارسي ژبو له لارې غواړي تاجکستان او د منځنۍ اسیا نورو ورو فارسي ژبو سیمو ته لاره پیدا کړي، لومړی هلته خپله ژبه او کلتور عام کړي او تر څنګ یې د شیعه مذهب د تبلیغ لپاره لاره اواره کړي. په همدې خاطر دوی د ((فارسي ژبو تلویزیون)) په نامه یو تلویزیوني چینل جوړوي چې تاجکستان، افغانستان او ایران به یې په ګډه چلوي خو د لګښت او واك اصلي چارې به د ایران له خوا سمبالېږي. که څه هم افغانستان اساساً فارسي ژبی هېواد نه دی خو د افغانستان د بهرنیو چارو مخلوع وزیر له ایران سره د خپل ژبني پیوستون او تمایلاتو له امله دا تړون لاسلیك کړی او د افغانستان نور قانوني مراجعو لکه وزیرانو شورا، ملي شورا او سترې محکمې لا دا تړون نه دی تائید کړی، دغه راز تر لسو زیات داسې تلویزوني چینلونه او تر (۴۰) زیاتې داسې چاپي خپرونې شته چې په مستقیم او نا مستقیم ډول د ایران له خوا ورسره مرسته کېږي. له هغې جملې څخه یې د ((تمدن)) په نامه د شیخ محمد اصف تلویزیون ټول لګښت د ایران له خوا ورکړل شوی او نږدې سل کسان یې د ایران له خوا روزل شوي دي.

۴- **په اقتصادي برخه کې**: ایراني شرکتونه د افغانستان په دولت کې د خپلو پلوي افرادو په مرسته غواړي په افغانستان کې پر تجارتي مارکیټ خپل کنټرول حاصل کړي، له ښاروالیو سره د اعلاناتو له قراردادونو نیولي بیا د ځینو ساختماني چارو

په برخه کې پانګه لګوي، ایران د خپلې پانګې لپاره د زمینې برابرولو ترڅنګ غواړي د افغاني سوداګرو ، پانګوالو او د نورې نړۍ د پانګې اچونې مخه هم ونیسي. څو موده وړاندې د ایران ځینو پټو شبکو له خوا په هرات کې ځینو افغان پانګوالو ته وړاندیز وشو چې په هرات کې خپلې جوړې شوې فابریکې بندې او د اسلام‌کلا تر بندر اخوا د پنځه شپېتو کیلومترو په واټن یې د ایران په خاوره کې جوړې کړي او ایران به د دوی د لګښتونو په سلو کې د (۲۵) برخې سبسایډي ومني. که چېرې دا کار عملي شي نو په هرات کې به پر یوه وخت تر سلو زیاتې فابریکې سقوط شي، دغه راز ایران هڅه کوي د نفتو او ګاز نلیکې هغه لویه پروژه له ناکامۍ سره مخ کړي چې ټاکل شوې له ترکمنستان څخه د هغه هېواد نفت او ګاز د افغانستان له لارې پاکستان ، هند او نورې نړۍ ته ولېږدوي. ددې پروژې له لارې افغانستان ته ډېره اقتصادي ګټه رسېږي خو ایران د افغانستان دا ګټه نه شي زغملای.

۵- **په نظامي برخه کې:** په نظامي برخه کې د ایران پالیسي دا ده چې په افغانستان کې وضعه بې ثباته کړي، یو وخت یې له شیعه ګوندونو سره زیاته او مستقیمه مرسته کوله، بیا کله چې طالبان واك ته ورسېدل نو دوی ټولو طالب مخالفو ډلو په تېره بیا شیعه ګوندونو او اسلامي جمعیت سره زیاته مرسته کوله، خو اوس چې طالبان له واکه غورځېدلي، دوی له طالبانو سره پوځي مرسته کوي. د دې مرستې هدف دادی چې له یوې خوا امریکایانو ته زیانونه واړوي او غربي نړۍ دلته مصروفه کړي، له بلې خوا که طالبان هم زیان ګوري، د دوی په

ګټه تمامېږي او که سیمه هم ورانېږي دوی ترې ګټه پورته کوي.
دا سیمې په مطلق ډول سني مذهبه پښتون مېشتې سیمې دي
چې له مذهبي پلوه او هم له قومي پلوه د ایران له ستراتیژۍ او
پراختیا غوښتنې سره مخالفې دي، نو ایران په دې سیمو کې د
جنګ دوام د خپلو ګټو د تضمین لپاره یوه ښه طلایي چانس
ګڼي نو ځکه غواړي په مستقیم او نامستقیم ډول دولت مخالفو
وسلوالو ډلو ته پوځي امکانات ورلېږي. هرات، نیمروز، فراه او
دایکنډي کې دایران پوځي لاسوهنو ځرګندې بېلګې لیدل
شوي.د ایران پوځي کړۍ په تېره بیا ((سپاه پاسداران)) په دې
ساحه کې زیات فعال دي.

**۶- د ملکیتونو د رانیولو په برخه کې** : د ایران یوه بله
پالیسي دا ده چې خپلو پلوي مذهبي اوسیاسي ډلو ته پیسې او
مالي امکانات برابر کړي چې د افغانستان د ځینو مهمو
ښارونو مرکزونه او حساسې ستراتیژیکې جغرافیایي سیمې
ونیسي، د ایران په مالي امکاناتو او سیاسي ملاتړ د تېرو پنځه
لسو کلونو په بهیر کې په لسګونو زره شیعه مذهبي له بامیانو
او نورو هزاره مېشتو سیمو څخه مزار شریف ښار ته راوړل شول
او هلته میشته کړای شول، مزار شریف چې تر دې دمخه یو
سني مذهبه ښار ګڼل کېده که په همدې حالت روان وي نو یو
وخت به پر یو شیعه مذهبه ښار بدل شي. د داسې لویو پروژو
پلي کول د ایران له مستقیم مالي ، نظامي او سیاسي ملاتړ پرته
ممکن نه دي، دغه راز ایران غواړي د بامیانو، غور له لارې تر

هراته یوه مذهبي او قومي لیکه وغځوي او بیا یې په هرات کې له شیعه مذهبو لړکیو سره وصل او وروسته بیا دا لیکه د ایران تر پولې وغځوي، دغه راز دوی غواړي دلته بیا دا لیکه د بامیانو له لارې له میدان وردګو او بیا له کابل سره وصل کړي، په دې ډول به ایران له خپلې پولې بیا د افغانستان تر مرکزه یو مصئون مذهبي، کلتوري او قومي تونل ځان ته خلاص کړی وي. ایران دغه راز غواړي د افغانستان له هرات څخه نه تر شمال غرب او بیا له شمال غرب نه شمال شرق ته د یوه کلتوري او ژبني تونل له لارې د افغانستان له شمال شرق سره وصل شي او بیا له هغه ځایه سني مذهبي خو فارسي ژبي تاجکستان سره وصل شي، په دې ډول به دوی دا سیمې د مذهبي او ژبنیو عناصرو په کارولو سره تر خپل اغېز لاندې راولي. سید حسین انوري په هرات کې ددې پروژې یوه برخه عملاً پیل کړې او د نویو ښارګوټو د وېش او نورو څمکو د رانیولو له لارې په لسګونوزره شیعه ګان په هرات کې مېشت کړي. حاجي محمد محقق او نورو لا دمخه په مزار شریف کې ددې پروژې یوه برخه عملي کړې او کریم خلیلي په کابل کې د خپلو ورونو او نورو له لارې د نویو ښارګوټو د جوړولو له لارې غواړي دا پروژه عملي کړي. کریم خلیلي د خپل ورور حاجي نبي تر چتر لاندې د کابل په غرب کې د یو نوي شیعه میشتې ښارګوټي د جوړونې کار پیل کړی چې لږ تر لږه د پنځه لس زره کورونو د جوړونې ظرفیت لري او همدا اوس پرې کار روان دی. کریم خلیلي او دهغه ورور (حاجي‌نبي) غواړي

ددې ښار ګوټې نورې شا او خوا سیمې هم را خپلې کړي. دا ښار ګوټی د کابل د لویدیځ په داسې یو ځای کې موقعیت لري چې نیم کابل يې تر سینې لاندې دی، د سولې پر وخت د سوکالۍ ځای او د جنګ پر مهال د مصئونیت او نور ښار ته د تهدید ظرفیت لري.

ایران په کابل کې د (کمیته امداد خمینی) په نامه یو بنسټ هم لري چې له دې لارې خپلو پلویانو سره ډول ډول مرستې کوي.

**۷- د دولتي پوستونو د اشغال په برخه کې** : د ایران د پالیسۍ یوه برخه دا ده چې د افغانستان د حکومت په مهمو پوستونو کې خپل پلوي مذهبي او سیاسي اشخاص ځای پر ځای کړي، څوك د ژبې او څوك د مذهبي اړیکو پر بنسټ د افغانستان په اساسي قانون کې د شیعه مذهب ځایول، له رایو پرته د جمهو رئیس د دویم مرستیال څوکۍ نیول، د عدلیې د وزارت او ځینو نورو مهمو وزارتو د پوستونو تر لاسه کول، د ایران پلوه ډلو لوی بری دی. دا بری د هغه مقیاس په تناسب چې سونې مذهبي مسلمانان يې په ایران کې لري، ربښتیا هم د ایران لپاره لویه لاسته راوړنه ده. پر دې هم ټول پوهېږي که د ایران مستقیم ملاتړ نه وي نو دې ډول ډلو او اشخاصو هېڅکله هم تر خپل استحقاقه پورته دومره امتیاز نه شو اخیستلای. د دولت په وړو پوستونو کې حالت نور هم خراب دی. ایراني غواړي یو شمېر خلك له ژبني پلوه او یو شمېر خلك له مذهبي پلوه په حکومت کې ځای پر ځای کړي، په حکومت کې د ایران پلوه اشخاصو

شمېر زرګونو څه چې لسګونو زرو کسانو ته رسېږي، همدا وجه ده چې تر اوسه پورې دولتي او نا دولتي میډیا د ایران د مداخلو یادونه نه ده کړې.

رسنیزه برخه کې:

لکه څنګه چې د مخه مو یادونه وکړه ایران افغانستان کې په رسنیز ډګر کې تر هر چا زیات فعال دی.

ځینې رسنۍ یې په بشپړ ډول ستر واک لاندې او ځینې په نیمه ډول او ځینې نورې تر یوه بریده تر کنټرول لاندې دي. تمدن ټلوېزیون په مستقیم ډول د دوی له خوا جوړ شوی، راه فردا سره یې هم تخنیکي او مالي مرستې کړې دي، خبر ګذاری فارس، پریس ټلوېزیون، صدا و لیما جمهوري اسلامي ایران او د ایران نورې رسنیزې ادارې په افغانستان کې فعالیت لري او له دې لارې به د افغانستان خپلې پلوې رسنۍ تقویه کوي. ګڼ شمېر چاپي رسنیو سره هم مرسته کوي.

# په تراژیدۍ کې ژوندی قوم

دا د هغې وینا لیکنۍ بڼه ده چې (پښتون په تراژیدۍ کې) تر نامه لاندې په هغه نړیوال علمي سیمینار کې اورول شوې وه چې د افغانستان د ملي تحریک له خوا پر (۱۳۹۲ل) کال په کابل کې جوړ شوی و.

## بسم الله الرحمن الرحیم

درنو او قدرمنو حاضرینو، د سیمینار قدرمنو ګډونوالو، د هېواد له بېلابېلو سیمو او له هېواده بهر راغلو مېلمنو، درنو پښتنو، ښاغلو او اغلو ټولو ته تر هر څه دمخه د افغانستان ملي تحریک په استازۍ سلامونه، درناوی او احترامونه وړاندې کوم.

هر کله راشئ، په خیر راغلئ!

درنو مشرانو، لیکوالو، پوهانو او ددې پرتمین او فکري سیمینار ګډونوالو!

تاسو تر هر چا زیات پوهېږئ،پوره درې نیمې لسیزې کېږي، چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه لویه تراژیدۍ کې راګیر دی. دې غمیزې کې د پښتون ولس ایسارېدل، څه تصادفي، او

ناقصدي خبره نه ده. په دې تراژیدۍ کې په سیمه او نـړۍ کـې د پښتنو لرې او نږدې ټول دښمنان او رقیبان شامل دي. دا داسـې لویه تراژیدي ده چې نه یوازې پښتون په کې د رقیبـانو لـه خـوا ټکول کېږي، بلکې خپله پښتون یې هم د خپل ځان دښمن کړی دی. قاتل او مقتول دواړه له یوه قوم څخه دي. د پښتنو هغه متل دی چې هم مړ یم هم پړ یم.

پر پښتنو دا راغلې غمیزه دومره څو اړخیزه ده چې څوک په کـې پښتنو ته د زګېروي او فریاد ایستلو مجال هم نه ورکوي. که هـر شعوري، بادرده او با احساسه پښتون افغان له دې غمیزې څخه د راوتلو فریاد پورته کوي، نو نه یوازې د پښتنو د شعوري دښـمنانو او سیالانو له خوا ګواښل کېږي، د نشنلستانو او فاشیستانو ټاپې پرې لګول کېږي، بلکې په خپله د یو شمېر ځانپلورو، ورځچـارو، ځانساتو، ځان خوښو او ځانګټو پښتنو له خوا هم پرې په دې پلمه تورونه پورې کېږي چې دا خلک حساسیتونه راپاروي او د دوی په اصطلاح ملي تفرقې ته لمن وهي. دا ډول پښتانه د بې غیرتـۍ او مضر احتیاط په وروستي حالت کـې ژونـد کـوي او د پښـتنو د ناپښتنو مخالفینو تبر ته لاستي جوړوي.

په هر حالت! همدغو نا انډوله کارونو پښتون قام دې غمیـزې تـه ټېلوهلی او په دې تراژیدۍ کې یې دا دومره موده ساتلی دی.

د افغانستان ملي تحریک چې له ډېرو شعوري، هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو او سمونپالو افغانانو څخه رغېدلی دی. پر پښتون ولس

او ټول افغان ملت كه لر دی او كه بـر، هـېڅ ډول څرګنـد او نـا څرګند ظلم كه له خپل لوري وي كه د بل، نه شي زغملای او تـر دې زياته ورته ددې تراژيدۍ غځېدل په هېڅ ډول د زغـم وړ نـه دي. په همدې خاطر يې (پښتون په تراژيدۍ كې او د ژغورنې لار) دا علمي سيمينار جوړ كړ، ددې سيمينار هدف همدا دی چې پـه علمي ډول له دې اوږدې غميزې څخه د ژغورنې لارې چارې پـه ګوته او بيا يې د يوې تګلارې په توګه پښتنو سياستوالو او واكوالو ته په لاس كې وركړي. كه چېرې پښتانه سياستوال ددې تګلارې د پلي كېدو لپاره هڅې وكړي، نو كېدی شی له دې غميزې څخه ددې قوم د ژغورنې هيله پيدا شي.

د افغانستان ملي تحريک څـو مـوده وړانـدې ددې سـيمينار د جوړونې وعده كړې وه، دا دی نن يې خپله دا وعده پوره كړه، ملي تحريک په ډېره كمه موده كې د هېواد په كچه ډېـر مهـم پـاموړ كارونه ترسره كړي دي. په سروبي ولسوالۍ كې سېلابځپلو تـه د مرستو رسول او نورو مرستو ته د خلكو هڅـول، د پښتونسـتان واټ د نوم تازه كول، بېوزلو او اړمنو هېوادوالو ته د وينې ډالـۍ، د زمري د (۲۸) جشن نمانځل او ځينې نور كارونه، چې نه غـواړم د ټولو تفصيل دلته وړاندې كړم. د افغانستان ملي تحريـک د يـوه منظم سيستماتيک او شعوري حركت په توګه خپـل مياشـتنۍ، درې مياشتنۍ، شپږ مياشتني او كلني پلانونه لري، چې د همغـو په رڼا كې حركت كوي. د افغانستان ملي تحريک په پام كې لري د

سنبلې پر (۹) مه نېټه له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ یا د پښتونستان جشن هم په شاندارو مراسمو سره ونمانځي او یــو ځل بیا لرې او نږدې رقیبانو او سیالانو ته دا په ډاګه کړي چــې دا قوم په تراژیدۍ کې هم ژوندی دی او لا هم خپل ارزښتونه پالي او د مرګ له ګوابښه نه وېرېږي.

نور مو ډېر وخت نه نیسم، د لوی، اباد او سوکاله افغانستان د

جوړېدو په هیله

په درناوي

# ډيورنډ مړ دی، کرښه يې مړه ده

# (ابې مړه تبه شلېدلې)

دا د هغې وينا ليکنۍ بڼه ده چې ما د ملي تحريک او ژوندون ټلوېزيون له خوا پر (۱۳۹۲ل) کال له پښتنو او بلوڅو سره د پيوستون د ورځې په وياړ په جوړه شوې غونډه کې اورولې وه.

بسم الله الرحمن الرحيم

ټول عمر درنــه ده ســپکېدو تــه يــې چــې پــرې نــه ږدئ
خــاوره پښــتنه ده او پــردو تــه يــې چــې پــرې نــه ږدئ
بيا مې د خوشال تــوره چــې تــاو هــوس د شــرنگ لــري
تاوه په شرنگ ښه ده چوپېدو ته يــې چــې پــرې نــه ږدئ

(اسحق ننگيال)

قدرمنو مشرانو، پوهانو، ليکوالو، ځوانانو، د مدني او سياسي ټولنو غړو او ددې پرتيمنې غونډې ټولو گډونوالو ته تر هر څه وړانــدې ســلامونه، درناوی، نېکې هيلې او د زړه له تله خپلې پېرزوينې وړاندې کــوم، هــر کله راشئ!

الله(ج) مو په ټول ژوند کې اباد، سوکال او ښاد لره.

درنو حاضرینو! نننۍ غونډه د یوه لوی مقصد لپاره رابلل شوې. دا مقصد زموږ د ملي ارزښتونو پالل، ساتل او ځلول دي.

دا د هر باشعوره، باخبره او بادرده افغان دنده ده چې پر خپلو ملي ویاړونو وویاړي او هغه وپالي، که څه هم (۳۵) کلنې غمیزې، د هغې بهرنیو عواملو او کورنیو رزایلو زموږ ټولو ټولنیزو، ولسي، مدني او ملي ارزښتونو ته پوره زیانونه اړولي او لا یې هم لور په لاس کې دی او مثمر ښاخونه یې رېبي، خو دې سره سره لا هم په هېواد کې داسې افغانان شته چې غرونو سره سر جنګوي، خپل تندي ماتوي، خو چا ته یې ټیټوي نه:

دا سر ربه مات شوی دی ټیټ شوی چاته نه دی

خو تاته یې پنځه وخته محراب کې راولم.

داسې سرونه لا ډېر ژوندي دي او داسې سرونه به لا نور هم را وټوکېږي. دې وطن کې لا اوس هم هغه څلي ولاړ دي، چې نه پرې د سکندر زور ورسېد، نه هم د کروش، نه هم د انګرېز، نه هم د روس، نه هم د پنجابیانو او نه هم د صفویانو!

هر کله چې پردیو په مستقیم ډول ددې هېواد پر څلو او نرخونو زور نه دی رسېدلی، نو بیا یې د یو شمېر کورنیو تالیخټو په زور، په نامستقیم ډول له دې ملته خپل غچ اخیستی دی. د غچ اخیستنې دا لړۍ لا تر دې دمه روانه ده.

خو پښتون ولس او په ټولیز ډول ټول افغان ملت د لویې اوسېلې خاوند دی که څوک پرې بلوسېدلی هم دی، نو ده ورته اوسېله کړې، دا ځکه

چې پښتون د یوه مستحکم تهذیب او کلتور خاوند دی، پښتون د شرم او حیا پرتوګ او د شرم پوزه لري.

ورځ دوه مخکې د هند د کشمیر د پښتنو یو خان، (ثناالله خان لالا) له ژوندون سره په یوه مرکه کې وویل: ((د پښتون د کلتور یوه غټه نښه داده، چې پښتون د شرم پرتوګ لري، هغه څوک چې د پښتنو پخواني او اوسني مخالفین دي، تاسې ورته وګورئ، هغوی اکثره پرتوګونه نه لري او یا یې ناغوندي.)) ددې خبرې محتوا او فزیکي واقعیت رښتیا هم حیرانوونکی دی. هغه قومونه چې د پښتنو په شان او یا د پښتنو په پیروۍ پرتوګ لري، هغوی هم له حیا څخه ډک دي او د پښتنو په کلتوري محتوا کې خوندي شوي دي.

باچا خان، فخر افغان ته یو ماشوم وویل: ((بابا، پوزه دې ډېره غټه او جګه ده!)) بابا ورته موسکی شو، ویې ویل: ((بچیه ولې به غټه او جګه نه وي، دا د ټول پښتانه پوزه ده.))

خو نن په پښتنو پسې هغه څوک ډېرې سپکې سپورې وایي او دا طبیعي سوله ییز قوم د ((ترهګر او وحشي)) په نامه یادوي چې نه د شرم پرتوګ لري او نه هم د شرم پوزه. نن چې موږ کومه غونډه جوړه کړې ده یو پیغام یې همدا دی، چې ځینو کسانو ته د شرم د جوهر ځلا ور انتقال کړو.

د بې شمېره پښتون ضد او افغان ضد کړیو له جملې څخه یوه ډله هم (ډیورنډ خېل) دي، دا هغه ډله او اشخاص دي چې د ډیورنډ د مسلې په باب له انګرېزه او پنجابه دوی زیات ګرم دي او لکه راساً چې ډیورنډ سره جنسي اړیکي لري، تر دېګه خمڅۍ ډېره ګرمه ده. دوی دا څو کاله په رسنیو کې داسې اوتې بوتې ولې، چې ژر تر ژره باید دا کرښه رسمي شي. دوی غواړي،پاکستان او انګرېزان خوشاله شي. دوی وایي

دا مهمه نه ده چې موږ ازاد يو، خو دا مهمه ده چې موږ اباد يو. د ډيورنډ خپلو مثالونه ډېر دي، خو زه به يې دلته يوازې د يوه تن نوم واخلم. (ښاغلی حاجي محمد محقق)، ده څو موده وړاندې اسلام اباد ته په جلا جلا سفرونو کې د تور پنجاب سپينې پۍ ورودلې، کله چې مستۍ واخيست، نو په واز کومي يې وويل: ((موږ له پاکستان سره د ډيورنډ د کرښې پر سر څه مشکل نه لرو، موږ حق نه لرو چې دا مسايل ياد کړو او يا د هغې دعوه وکړو.

دا ډول ښاغلي خو له هېڅ خارجي سره مشکل نه لري، اکثرو ته يې لبيک او مرحبا ويلي، مشکل خو زموږ دی، ډيورنډ واحد پښتون بدن پر دوو ټوټو وېشلې، د ظلم ددې قمچينې داغونه د پښتون پر ملا لګېدلي، نه پر محقق، محقق خپلو او ډيورنډ خپلو. ښاغلي محقق ته بايد وويل شي چې که ښاغلی کريم خليلي، ډاکتر صيب صادق مدبر، حاجي صيب عبده، فاطمه نظري، ډاکتر صيب مهدوي او نور درنه څوک په زوره او د برچې په زور جلا کړي، يا هم د باميانو او دايکندۍ ترمنځ پوله راکاږي او تا ورته له وېزې او اجازې پرته پرې نه ږدي، بيا به هم ورسره مشکل ونه لرې که څنګه؟ او که دا تاته مشکل نه ښکاري، نو راځه دا عمليه پرځان تطبيق کړه. بيا به د دوو ورونو د جبري بېلتون پته درته ولګي!

نو موږ وايو چې نه ډيورنډ شته او نه يې کرښه، ډيورنډ يو انګرېز و، لاړ مړ شو او خړ شو، کرښه يې هم مړه شوه. (ابۍ مړه تبه يې شلېدلې) او که احياناً څوک ځان ته د ډيورنډ وارثان، لمسيان او يا ډيورنډ خپل وايي، د هغه لاره تعقيبوي، نو د هغه د وارثت سند دې راوړي، چې موږ ورسره خپل نور حسابونه هم تصفيه کړو.

اوس راځم دويمې مسئلې ته!

## هغه د افغانستان د جهاد مسئله ده.

پر دې خبره ټول افغان ملت متفق دی، چې د افغانستان جهاد د ټولې نړۍ په کچه یو بې سارې حماسه وه، چې په شلمه پېړۍ کې د مسلمان افغان ولس له خوا رامنځته شوه او ټول ملت په دې حماسه کې شریک و، خو دا چې دا جهاد چا کړی؟ کوم شخص، کوم تنظیم او کومې سیمې؟ او چا زیات کړی چا کم؟ په دې کې د نظر اختلاف موجود دی؟ خو دا په دې مانا نه دی چې د رښتینو مجاهدینو د تثبیت لپار ه هېڅ فورمول نه شته!

زموږ او زموږ په شان د نورو افغانانو په نظر هغه څوک مجاهد دی، چې د روس د یرغل له پیله بیا تر پایه یې له روسانو سره هېڅ ډول پټه معامله او اوربند ونه کړ او تر اخره پورې په نره وجنګېدل. دا رښتیني مجاهدین دي او هغوی چې اوربند وکړ او روسان یې خوشاله کړل، دا نه مجاهدین دي او نه هم رښتیني افغانان، دا د روس ګوډاګیان دي او د جهاد بربادوونکي. ددې فرضیې دویمه برخه دا ده چې د روسانو تر وتلو وروسته چې چا وسله پر ځمکه کېښوده او خپل نفس یې تذکیه کړ، نه یې په کورنیو جګړو کې ونډه واخیسته او نه هم په فساد کې دا هم واقعي مجاهدین دي او هغوی چې پر تنظیمي جګړو او فساد اخته شول، هغوی بیا هم د جهاد بدناموونکي او د هېواد بربادوونکي دي.

خو اوس د افسوس خبره داده، هغه څوک د جهاد د وراثت چغې وهي، چې د جهاد په وخت کې یا ماشومان وو او یا هم تر جهاد وروسته د پخوانیو مجاهدینو له کوم ټولګي سره یوځای شول. هغه د چا خبره (جنګ سوړ شو، میری تود شو).

یوازې دوه کسان به د بېلګې په توګه یاد کړم:

ښاغلی امرالله صالح: دا ښاغلی د جهاد په شپو او ورځو کې ماشوم و، د روسانو تر راتګ وروسته (۳۵) کاله او تر وتلو وروسته یې (۲۵) کـال تېرېږي. د نوموړي سن وارزوئ چې هغه وخت کې څو کلن راته؟

خو په سیاسي غونډو او میټنګونو کې دا او دېته ورته ښاغلي د جهاد د وراثت دعوه کوي.

ښاغلی ډاکتر عبدالله عبدالله: پر (۱۳۶۷ل) کال له پوهنتون څخه فارغ شو، همدا کال و چې روسان له افغانستانه وایستل شول، دې ښـاغلي لکه چې تر جهاد وروسته جهاد پیل کړ؟

دا او دېته ورته څېرې هغه کسان دي چې د یو نیم ملیون شهیدانو پـر حماسې یې خېټه اچولې ده.

زموږ په نظر جهاد حکمتیار کړی، جهاد مولوي محمد نبي کړی، جهـاد حاجی عبدالقدیر کړی، جهاد حاجي عبدالحق کړی، جهـاد اسـمعیل خان کړی، جهاد تورن امان الله کړی، جهاد کریم کره باغ کړی، جهـاد انور خان هردم شهید کړی، جهاد عبدالسلام راکټي کړی، جهاد شـیخ محمد اصف محسني کړی، جهاد عبدالرب رسول سیاف کـړی، جهـاد ملا نسیم اخوندزاده کړی، جهاد کشمیر خان کړی، جهاد بشیر بغلاني کړی، جهاد احمدشاه احمدزي کړی، جهاد جمعه خان همدرد کـړی او جهاد ټول مظلوم افغان ولس کړی، نه دې څو غوړ سرو او ښوی سرو.

اوس چې د څلوېښتو نامسلمانو هېوادونو لښکرې دلتـه پرتـې دي او څوک ځانته مجاهد وایي، دې ډول اشخاصو ته که څوک احمـق ونـه وایي، نو ساده ګان خو به ورته ضرور وایي:

## درېيمه مسئله د ټلوالو ملوالو او چلوالو يادوم:

پرون راته يو بادرکه افغان ووېل: موږ تېره شلکلنه دوره پر څلورو برخو وېشلې ده:

۱- د شر او فساد دوره، دا هغه دوره ده چې د اســتاد ربــاني ګرځنــده حکومت په کې راځي.

۲- د رنځ و عذاب دوره، چې د طالبانو د واکمنۍ دوره رانغاړي.

۳- لوټ او تالان دوره، چې د حامد کرزي (۱۲) کلنه دوره په کې راځي.

۴- د حساب او کتاب دوره، چې تر دې وروسته ورته سترګې په لار يو.

زه هم د همدې وروستۍ هيله منتيا له مخې له دې ټلوالو ملوالو ســره غواړم يو څه حساب کتاب وکړم.

ددې اوسنيو ائتلافونو اصلي زړی، د پنجشېر په دره کې د نظــار شــورا پخوانۍ ډله ده، چې په تېرو (۱۲) کلونو کې يې تــر (۱۲) زيــاتو عنوانــو لاندې کار کړی، خو ماهيت کې يې کوم تغير نه دی راغلی، ملي جبهه، تغير و اميد، جريان سبز، افغانستان نوين، نهضت ملي، ائــتلاف ملــي، شورای متحد ملي او نور نومونه.

پنجشېر دره کې ټول وګړي د افغانستان د ټــول نفــوس (۰،۳) ســلنه جوړوي او جغرافيايي حدود يې تر دې هم کم وي، خو په حکومت کــې مطلق واک لري او د تصنعي ابوزېشن سرليکونه هم د همدې درې لــه وګړو څخه دي.

تر (۱۸۰۰) زيات جنرالان، (۱۷) معينيتونه، (۳) وزارتونه، تر (۱۰۰۰) زيات مهم رياستونه، د جمهوري رياســت مرســتيالي، مارشــالي، (۸) اداري واحدونه، په بهر کې د افغانستان ګڼ شمېر سفارتونه او په زرګونو واړه

ریاستونه او مدیریتونه. له همدې (۰،۳) سلنه خلکـو څخـه د همـدې شمېر ښاغلو په لاس کې دي.

د نړۍ په هېڅ هېواد او هېڅ حکومت کې د واک داسـې نـا انډولـه او ناقانونه وېش نه دی رامنځته شوی، خو په اصطلاح سیاسي اپوزېشـن هم له همدوی سره دی، ښـاغلی قـانوني، عبـدالله، امـرالله، منصـور، احمدضیا مسعود، احمدولي مسعود، عتیق الله بریالی او نور په اصطلاح اپوزېشن کې دي. فهیم خان، بسم الله خان، دین محمد جرئت، حسام الدین خان، شریفي او نور په سلګونو بیاپه پوزېشن کـې، اپوزېشـن او پوزېشن دواړو په یوه محدوده جغرافیي دایره کې، یـونس قـانوني پـه اپوزېشن کې، ورور یې شریفي صیب په پوزېشن کې، یو وخت یې خسر په اپوزېشن کې و، زوم یې په حکومت کې، بیا یې خسر حکومت ته لاړ، زوم یې اپوزېشن ته!

د نا انډوله واک په دې دایره کې بیا هم نورې وړې دایرې دي، په دایـره کې بله دایره ده.

له دغسې یو وړې ذهني، جغرافیایي، تنظیمي، سـمتي، قـومي او لـه تعصبي چلنده چې هر څه راوټوکېږي، نه د ملت په خیر دي او نـه هـم دوام مومي.

د ((انتخاباتي اتحاد)) په نامه چې کوم نوی ائتلاف جوړ شـوی، دا هـم هغه اومغلن ماشوم ته ورته دی، چې اول خو دا ژوندی نه پاتې کېږي او که پاتې هم شي تر اخره به معیوب وي.

دا هغه ډول اپوزېشنونه دي، چې امتیازاتو ته منتظر دي، یـوازې دوړې ولي او کوم واقعي قوت نه دی، دوی د ولسمشر کرزي د ضعف پر ټکـي تر هر چا ښه پوهېږي، کله چې خپلې سـینې وډبـوي، چغـې او نـارې

سورې پورته کړي، نو کرزی صیب پرې پۍ پرېږدي، سملاسي ځوکۍ ورکړي، دا ډله بیا غلي شي، بیا بله ډله پیدا شي.

هغوی هم د خپلې درې همغه خلک راپورته کړي، بیا بل امتیاز واخلي، بیا بل مخالف شي، همدا دوړې کوي، کرزي صیب ته لاس وروړي او ګوړې راباسي، خو کرزی او د هغه په شان نور چارواکي لا په (۱۲) کلونو کې د دې ټلوالې پر اصلي ماهیت او قوت خبر نه شول، چې څوک څوک دي، څومره دي او څه کوي؟

کله کله سړی مجبورېږي دې خلکو ته ځینې داسې مثالونه وړاندې کړي چې دوی سره مناسب دي، خو په پرده کې نه دي. د ډاکټر صیب اشرف غني په اصطلاح چارچوب یې ډېر ښه نه دی، خو د هغو اشخاصو لپاره چې خپله هم چوکاټونه ماتوي، د دې ډول مثالونو راوړل یوه مجبوري وي.

دوی یو ډول خلک تیار ساتلي کله یو له حکومته خفه شي، همغه خلک راوباسي، بیا چې پرې امتیاز واخلي بل بیا همدا خلک راوباسي، دا چې تغذیه شي، بیا بل همدا خلک راوباسي، خو هېڅوک پیدا نه شول چې ورته ووایي په یوه دره کې د (۱۰) جبهو او (۱۰) ګوندونو مشرانو! مهرباني وکړئ پر یوه ورځ غونډه جوړه کړئ، چې د هر چا خپل خلک معلوم شي، چې کوم یو څومره خلک لري او څومره درباندې رسېږي؟ یو سړی (۱۲) ځله مه خرڅوئ!

تصنعي او کاغذي زمریان هېڅکله د اصلي هغو په شان نه دي، که دوی هر څومره ائتلافونه او د اوسپنې کلاګانې ځانته تاوې کړي، خو بیا هم وېره یې په زړه کې ده او د حامدکرزي په شان طلایي مرغه بیا په لاس نه ورځي.

دا ائتلافونه هغه د چرسي او ملا کیسې ته ورته دي چې ملا هر تازه اودس د اوسپنې یوه کلا ګنله، خو چرسي بیا ویل چې دا ټولې کلاګانې په یوه باد الوزي. نو د دوی ائتلافونه هم په یوه باد ختمېدی شي.

اوس به راشو ددې نوي ائتلاف یوازې (۳) څېرو ته:

**۱- ښاغلی حاجي محمد محقق:** په (۱۲) کلونو کې تر (۱۲) ځله زیات خپل موقف بدل کړی، پوزېشن او اپوزېشن دواړه یې خوړلي، محقق (۸۰) باډیګاردان لري، په تېرو (۱۲) کلونو کې یې لږ تر لږه (۱۴۴) ملیونه افغانۍ یوازې د باډیګاردانو معاش شوی، خو اپوزېشن کې هم دی.

**۲- ښاغلی جنرال دوستم:** د ټول وسلوال پوځ درستیزوال یا رئیس ارکان دی، په تېرو لسو کلونو کې یې یوه ورځ هم حاضري نه ده ورکړې، (۳۵۶۰) ورځې غیرحاضر دی، خو معاش یې هم حواله دی او هره میاشت د (۱۴۰۰) ساتونکو په نامه معاش هم ترلاسه کوي. له قانوني پلوه د سیاسي فعالیت حق نه لري، خو هغه ځان نه پېژني نو قانون به څنګه وپېژني.

**۳- ښاغلی احمدضیاء مسعود:** د (۳۳۷) رایو په مقابل کې (۵) کاله د جمهور رئیس مرستیال و. د لوی خدای په فضل دده په پنځه کلنه موده کې په حکومت کې هېڅ ډول فساد او تالان نه و، تر دې دمخه دوه کاله ډاکتر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو، یونس قانوني د کورنیو چارو، پوهنې وزیران، انجنیر عارف سروري او امرالله صالح د امنیت رئیسان وو.

دې دوره کې هم حکومت د زمزم د اوبو په شان پاک و او هېڅ غلا او درغلي په کې نه وه. اوس چې د (۵) کلونو لپاره ښاغلی فهیم خان

مرستیال دی، بیا هم د لوی خدای په فضل او د پرښتو پــه برکــت پــه حکومت کې هېڅ غلا نه شته.

ښاغلی ضیا مسعود چې د احمدشاه مسعود پر مســند ناســت دی او د هغه په نوم چلېږي، تر ټولو لومړی یې د خپــل ورور د نظریــاتو خــلاف ګامونه پورته کړل. قومندان احمدشاه مسعود به د جنګونو پــر مهــال ویل، عبدالعلي مزاري له ایران او دوستم له ازبکستان سره تړلي او لــه همغو ځایونو څروبېږي او ددې دواړو ښاغلو پر ضد تر وروســتي حــده وجنګېده، خو ښاغلی ضیا مسعود، بیا مزاري یو اتل او جنرال دوســتم خپل پوخ انډیوال ګڼي، نو په دې ډول تر هر چا لومړی ده خپله د خپل ورور د نظریاتو پر وړاندې ګامونه پورته کړل.

دا هغه ډول اپوزېشنونه دي، چې په ټاکنو کــې مخالفــت او تــر ټــاکنو وروسته په حاکمیت کې خپل واک ته دوام ورکوي. ښاغلی عطامحمــد نور یې بله نمونه ده.

هغه یوه مشهوره کیسه ده چې بارانونه چا ودرول او غوبلونه پــه کــې څوک کوي؟ انتخابات چا وګټل او واک په کې څوک چلوي؟

## څلورمه او وروستۍ برخه:

د ملي شخصیتونو یادونه باید تازه وساتل شي.

د څو محــدودو اشخاصــو د نمــانځلو لپــاره دې د ملــت بودجــه نــه مصرفېږي.

په تېرو (۱۲) کلونو کې تر (۱۵) ملیونو ډالرو زیــاتې پیســې د یــو څــو محدودو کسانو په نمانځلو مصرف شوي او لا هم مصرفېږي، که دا د چا شخصي پیسې وي، هېڅوک د اعتراض حق نه لــري، خــو کــه د بیــت

المال په پیسو تنظیمي اشخاص نمانځل کېږي دا له دې ملت سره لویه جفا ده.

د نظار شورا، ستمي ډلو او یو شمېر نورو په اصطلاح کارپوهانو له خوا مو په سلګونو ځله په راډیو ټلوېزیونونو کې اورېدلي چې (ما یک ملت نیستم) نو کله چې موږ کوم ملت نه یو، نو بیا خو ملي قهرمان څه مانا؟

ملت نه شته او قهرمان یې شته؟ امت نه شته او پیغمبر یې شته؟

نو موږ له ټولو هېوادوالو غواړو چې د خپل ملت ملي ګټې وپالي، څو سرزورو جګړه مارو ته تسلیم نه شي او (۳۰) ملیونه وګړي د یو نیم زر ټوپکوالو، جنګسالارانو له منګولو وژغوري.

پر دې هم پوهېږو چې د ملت چوپتیا د بې تفاوتۍ مانا نه لري، د ملت مجبوریت د زورواکو او غلو لپاره یو امتحان دی. که موږ نن د یوه ملت په توګه غلي یو، نو غلي نه یو. ځینې بهرني جبري مجبوریتونه دي:

چې یې ولیدم مجبور په لار کې پروت

له څپلو سره مې هر یو پر سر خوت

ما په لار کې و ځان دې ته غورځولی

په دې چل مې د یارانو ایمان کوت

په درنښت

د لوی افغانستان د جوړېدو په هیله

# شل دلایل

کله چې پر (۱۳۹۲ل) کال یو شمېر چارواکو په چل او فرېب پــه ملــي شورا کې د هویت په تذکرو کې د ملت او دین ســتون د لیکلــو مخــه ونیوله، نو همغه وخت ملتپالو افغانانو غبرګون وښود، ما هغــوی تــه د ملت او افغان د کلمو لیکلو لپاره دا لاندې شل دلایل ولیکل.

۱. **ملي شورا:** کله چې ملت نه وي نو ملي څه مانا؟ ملي شــورا بیــا څه مانا؟ د کوم ملت شورا؟

۲. **د ملت کور:** شورا خپل مقر ته د ملت کور وایي. د کوم ملت کور؟ د ایراني، پاکستاني، عرب، روس، هندو کوم یو؟ دا د کوم ملت کور دی؟ که د افغان وي، نو ولې یې نوم نه لیکئ!

۳. **د ملت نوم:** که دا ښاغلي د ملت له نوم سره حساسیت لري، نــو بیا یې په شورا کې ولې ناست دي؟

۴- **دین:** د دین، جهاد او اسلام په نامه راغلو اشخاصو، اوس (دیــن) هم له تذکرې لرې کړ، اوس به موږ (بې دینه) تــذکرې پــه جیــب کــې ګرځوو.

۵- **ملت:** تذکره د یوه شخص د عقیدې او ملي هویت څرګندویه ده، کله چې د یو چا دین او ملیت نه وي څرګند، نو تر دې لوړ ارزښــتونه او ځانګړتیاوې کومې دي چې یوځوک پرې تشخیص شي؟

**۶- تخلص:** د یوه شخص فردي تشخص د همغې ټولنې له ورتــه بــل شخص څخه پر همدې تخلص سره کېږي، نو چې تخلص دې هم خــتم کړ، ملت او دین هم، نو بیا یې یوازې خپل نوم پاتې شو، درې مشخصې له منځه لاړې یوه پاتې شوه.

**۷- ملي:** کله چې د ملت له مفهوم سره حساسیت ښودل کېږي، نــو بیا خو (ملي) کلمه چې ملت ته یې نسبت دی، هم باید لــه منځــه لاړه شي، ځکه چې اصلي ریښه یې نه شته، نو بیا خــو ملــي دفــاع، ملــي امنیت، ملي اردو او په ټوله کې امنیتي سکتور ته هېڅ اړتیا نه شته.

**۸- دفاع:** کله چې په یوه هېواد کې ملت نه وي، نو د نورو ملتونو لــه یرغل څخه یې دفاع ته څه اړتیا ده؟ خلاصه دروازه ده هر څــوک چــې ځي او راځي، دروازه ورته خلاصه ده، مدافع یې هم معلوم نــه دی، نــو بیا د ملي دفاع وزارت څه مانا؟

**۹- د ملت استازی:** د کوم ملت استازی؟ د همغه ملت چې دی یې په مقابل کې ولاړ دی؟ هم یې استازیتوب کوي، هم یې هویت ختموي؟ عجیبه استازیتوب، ایا که یو بل څــوک د همــدې اســتازو همداشــان استازیتوب وکړي، نو دوی به یې ومني؟

**۱۰- هویت:** یوه شخص ته تذکره ددې لپاره ورکول کېږي چې هویت یې مشخص شي، نو کله چې په تذکره کې د یو چــا اعتقــادي او ملــي هویت پټېږي، نو بیا تذکرې ته څه اړتیا ده؟ هــر څــوک دې همداســې ګرځي.

**۱۱- قومیت**: (ملیت) د قومیت قرباني شو، ایا همدا قومونــه نــه دي چې ملت ترې جوړېږي؟ یو شمېر سمتپالو او قومپالو چې د پردیــو پــه اشاره یې دې مسلې ته لمن وهله، د فکر دایره یې څــومره وړه ده. پــه خپلو خبرو کې د لویو ملتونو یادونه کوي، خو په عمل کې د قوم دایره د ملت پر دایرې لوړه ګڼي. ښه خو دا وه چې دوی د لویو خلکو په شان لوی فکر کړی وای:

څو دې توان رسي په لوی دریاب ګرځه

په ویاله کې دې زوال وینـــم نهنګـــه

**۱۲- افغانستان**: افغانستان له (افغان) څخــه رغبــدلی نــوم دی، د افغان مکان نوم (افغانستان) دی. کله چې یو څوک د (افغان) له کلمې سره حساسیت لري، په حقیقت کې له افغانستان سره هم حساســیت لري، نن یې د پردیو په مرسته او د یو شمېر کورنیو نافکرانو په ملګرتیا د افغان د کلمې پر ضد هڅه وکړه، ډېر ژر به د (افغانستان) کلمــې تــه هم پورته شي.

**۱۳- اسلامي**: د (اسلامي) کلمې نســبت (اســلام) تــه دی. (ي) تــه نسبتي (ي) وایي چې له ماقبل سره د یو مابعد شي نسبت ښیي، خــو کله چې ماقبل نفې شوی وي، مابعد څه مانا؟ دې ښاغلو چې له تذکرې څخه د دین کلمه حذف کړه، د دین توضیح لپاره به ضرور په سلو کــې نهه نوي اعشاریه نهه نوي (اسلام) لیکل کېده، نو (اسلامي) بیا چاتــه نسبت کېږي؟ دا دا مانا لري چې یوڅوک ووایي: زه مسلمان نه یم، خو اسلامي که راته وویل شي پروا نه کوي.

**۱۴- یو نیم ملیون شهیدان:** مونږ هره ورځ وایو چې زمونږ ملــت د اسلام او افغانستان لپاره یونیم ملیون شهیدان ورکړي، ایا دا شهادتونه د همدې لپاره وو چې د شهیدانو په ارمان؛ اســلامیت او افغانیــت دې ملنډې ووهل شي او دا دواړه ستر معنوي ارزښتونه دې حتی د هغــوی په پېژند پاڼه کې رانه شي.

**۱۵- لوری:** تش په نامه د ملت استازو(؟) نه یوازې له مظلوم او هر دم شهید ملت څخه لوری او تګلوری ورک کړی، بلکې د هویت په تــذکره کې هم یې له خلکو لوری ورک کړ. په نړیوالو تړونونو کــې بــه راتلــل: افغان لوری، جرمن لوری، قزاق یا ازبک لوری، افغان لوری، پاکســتانی، هندي یا امریکایي لوری. اوس چې له (افغان) کلمې ســره حساســیت ښودل کېږي، افغان لوري ته به څه استعمالېږي؟ افغاني او یا د دوی په اصطلاح (افغانستاني) کلمې خو هم له همدې ریښې سره تړلې دي. بیا به څه کېږي؟

**۱۶- جنجال ختموو:** یو شمېر ډارن، ورځچاري او ځانساتي وکیلان او یا هم دولتي چارواکي وایي، مونږ جنجــال ختمــوو. د دوی پــه نظــر جنجال په (افغان) کلمه کې دی، نه په هغو خلکــو کــې چــې جنجــال راټوکوي، دوی جنجال په (هویت) کې ګڼي نه په بې (هویتۍ) کې.

**۱۷- ملي وحدت:** یو شمېر ډارن او مضر احتیاط کاري بیا وایي: مونږ باید د (ملي وحدت) لپاره له ډېرو شیانو تېر شــو، اوســبله وکــړو. دې ښاغلو ته باید وویل شي، چې تاسو د (ملي غفلت) او (ملــي وحــدت) ترمنځ فرق نه شئ کولای. ملي وحدت دې ته وایي چې د یو هېواد ټول

وګړي، په عادلانه او مساویانه توګه د خپل هېواد په برخلیک کې شامل شي، نه دا چې ډېر تر لږو قرباني شي او یا د کمو، خو سپین سترګو او جنجالي اشخاصو خبره ومنل شي. زموږ په نظر د نامعقولو جنجالونو او نامشروع غوښتنو د ختمولو له لارې ملي وحدت تامینېږي، نه د ناروا امتیازاتو د ورکړې له لارې.

**۱۸- قوانین که جنجال:** د ملي شورا دنده داده چې قوانین تصویب کړي او د ولس ګټې خوندي کړي، د اساسي قانون په یو اتیایمه ماده کې راغلي: ((د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت ملي شورا د ستر تقنیني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګي کوي. د شورا هر غړی د رایې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او سترې ګټې د خپل قضاوت محور ګڼي.)) اوس ګورو چې د خلکو کومه اراده دوی تمثیل کړې؟ همدا د ولس اراده ده چې ملي او اسلامي ارزښتونه یې تر پښو لاندې شي؟ او شورا ولس ته نوي جنجالونه پیدا کړي؟

**۱۹- خدمات که تخریبات:** د قوانینو د تصویب او اسانۍ ترڅنګ د شورا بله دنده داده چې حکومت اړ کړي، ولس ته خدمات ورسوي، د شورا پریپالي غړي اوس پر دې مصروف دي چې په ملت کې د نفاق نوي تخمونه وکري، کله چې اساسي قانون حکم کوي: د (افغان) کلمه ددې ملت پر هر فرد اطلاقېږي، نو بیا پر دې خبره بحث په کار نه دی، خو د شورا پردیپالي غړي نه یوازې دا چې د قانون او ملت طبیعي مسیر او هویت نه مني، بلکې ملت ته لا زیاتې ستونزې ټوکوي.

**۲۰- له خيره مو توبه شر مه رسوه:** ملي شورا ددې پرځای چې د ملت د يووالي او استحکام لپاره هڅه وکـړي، پخـواني ارزښـتونه او هډونه لاپسې کوشېر کړي، ملت ته نوې ګتـې ورسـوي، هېـواد تـه د تجزيې احتمالي خطرونه رفع او دفع کړي، سرکښه زورواکي چـارواکي مهار او د فساد جرړې وباسي، د ګاونډيو پټې او ښکاره توطيې خنثـی کړي، د جګړې ختمولو لپاره لاره چاره پيدا کړي، دې هېواد او ملت ته نوي غمونه ټوکوي او له ګاونډيو څخه نـوي رالېـږل شـوي تعريفونـه وړاندې کوي.

په ملي شورا کې د ملتپالو، هېوادپالو او اسلامپالو استازو شمېر هم کم نه دی او رښتيا هم ددې مظلوم ولس رښتيني استازي دي، خو څرنګه چې ملت مظلوم دی دا استازي هم مظلومين دي، دوی هم د ملت پـه شان نه زر لري او نه زور چې په شـورا کـې يـې وکـاروي او د تقلبـي، ايرانپالو او پاکستانپالو په اصطلاح وکيلانو د غرضونو او مرضـونو مخـه ډب کړي.

موږ اوس په شورا کې له همدغو مظلومو خو باغروره او باعزته و کيلانو څخه هيله کوو چې خپل تيت و پرک حالت ته د پای ټکـی کېـږدي. د محدودو، خو منظمو، زورواکو او پرديپالو تش په نامه وکيلانو پر ضد يو ګډ حرکت، تګلاره او انسجام رامنځته کړي، په شورا کـې راټوکېـدلي زهر په خپله له منځه يوسي او د پرديپالو او هېوادپالو وکيلانو ليکه يوه له بله جلا کړي. له اسکېرلي باغيرته ملت څخه مو هيله ده لکه څنګه چې مو له چنګېزه تر هلاکو، له هلاکو تر انګرېزه او له انګرېـزه بيـا تـر روسه او له روسه بيا تر دې نورو ډول ډول انګرېزانو پورې، د هر بهرنـي

پرضد ښکاره مبارزه او جهاد کړی ، دغسې یوځل بیا خپل ملي غــرور، عزت او وحدت لا پسې غښتلی کړئ، د هر ګاونډي په تېره بیا د ایران او پاکستان د ښکاره او پټو توطیو او د هغوی د کورنیو تالي څټو پرضد خپله شعوري، ملي او اسلامي مبارزه او جهاد ترسره کړئ! په پای کـــې کې وایم، دې ډول کورنیو او بهرنیو خاینونو ته د دې خبرې یادول هــم په کار دي چې:

لا تـــــراوسه یـــې مــاغزه په کرار نه دي

چا چې ما سره وهلی سر په څنګ دی

ooo

ټیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه

زه پــه دې افــتادګۍ کې لوی ګــړنګ یــم

# ژوندون ټلوېزیون او لویه ښارنوالي

د(۱۳۹۲ل) کال د لیندۍ میاشتې په دویمه اوونۍ کې خبر شوم چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر (سید مخدوم رهین) له لویې ښارنوالۍ څخــه د ژوندون ټلوېزیون د بندولو امر یا هم د نشراتو د تعلیق غوښــتنه کــړې ده. ما هم لوی ښارنوال سره کتنه وکړه او خپلې غوښتنې مــې مطــرح کړې.

ددې کتنې جزیات به په لاندې لیکنې متن کې وګورئ!

کله چې زه لوی ښارنوال سره کېناستم، نو هغه هېڅ داسې دلایـل نــه درلودل چې ماته یې وړاندې کړي، زه یې حق په جانب ګڼلم، بیــا هغــه زه خپلو مرستیالانو ته ورمعرفي کړم، مرستیالانو یې یــو هیئــت جــوړ کړی و، هغوی سره مې تفصیلي بحث وکړ، هغوی هم زما د دلایلــو پــر وړاندې څه خاص دلیل نه درلود، زموږ دلایل یې مقنع وګڼل، زه بېرتــه ټلوېزیون ته راغلم، خو ورځ وروسته لویې ښارنوالۍ د سیاسي فشارونو له امله د (سید مخدوم رهین) غوښتنې منلې وې او پــه ناقانونــه ډول یې د ژوندون د تعلیق حکم کــړی و، دلتــه غــواړم درانــه لوســتونکي لومړی همدا متن او بیا وروسته د ژوندون په څپو زمــا د وینــا لیکنــی متن ولولي او بیا تر هغه وروسته د ملت د حماسې له امله له ملت څخه د مننې متن په ځیرتیا سره ولولي.

ژوندون راډیو تلوېزیون لویې ځارنوالۍ ته  دافغانیت، اسلامیت، افغان او افغانستان ضد اشخاصو، رسنیو او کړیو د تــوطیې  پــر وړانــدې خپــل غوښتنلیک وړاندې کړ.
په هغه کتنه کې چې نن سهار ما (یون) له لوی  ځارنوال ښاغلي (محمد اسحاق الکو) سره درلودله، له لوی ځارنوال څخه وغوښتل هغــه ملــي حرکت چې د افغان، افغانیت، اسلام او اسلامیت د خوندیتابــه لپــاره د مدني ټولنو، افغانپالو او اسلامپالو خوځښتونو له خوا پیل شوی، قانوني او حقوقي ملاتړ وکړي او یو شمېر ایرانپالې کړۍ او رسنۍ پرې نــه ږدي چې د هېواد ملي هویت مسخه کړي.
ما له لوی ځارنوال څخه وغوښتل چې ملتپالو افغانــانو دغــه عادلانــه غوښتنې د قانون په چوکاټ کې وڅېړي. لوی ځارنوال زمــا غوښــتنې هغه  موظف هیئت ته راجع کړې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر (سید مخدوم رهین) او د یو شمېر نورو کړیو د غوښتنې له املــه جــوړ شوی دی. دا کمیسون د سید مخدوم رهین په غوښتنه چې پــه هغــه کې د ژوندون ټلوېزیون او یوې بلې چــاپي رســنۍ د تعلیــق غوښــتنه شوې وه، غور کوي. ما دې موظف کمیسون ته  خپل وضــاحت وکــړ او ددې یادونه مې وکړه چې ښاغلی رهین، د مشرانو جرګې مرستیال او د فرهنګي او دیني چارو د کمېسون مشر له ژوندون ټلوېزیــون ســره سیاسي ستونزې لري او د سیاسي انګېزي له مخې د ژوندون ټلوېزیون پر وړاندې دا حرکت کوي. د رسنیو د سرغړونو کمیسیون هم د ښاغلي رهین تر فشار لاندې دی او ان د عطا محمد نور فشار هم په دې برخه کې احساسېږي.

نو ځکه خو دا مکتوب او نظرونه او دا ډول اشــخاص سیاســي انګېــزه لري، ژوندون ټلوېزیون ته ددې ډول اشخاصو نظر د منلو وړ نه دی او نه هم قانوني بنه لري.

له لوی ځارنوال څخه مې د (ضمیر) د قاضي کولو غوښتنه هــم وکــړه، ومې ویل مخکې تر دې چې موږ پر یو چا بانــدې د کاغــذي او فزیکــي اسنادو خبره وړاندې کړو، ضمیر باید قاضي کړو. زه هم پر دې پوهېږم، ته هم، ولسمشر هم او ټول افغانان هم چې د محسني صیب مدرسه او تمدن ټلویزیون له ایرانه خړوبېږي،ددې په مقابل کې چوپ پاتې کېدل له ستر افغان او مسلمان ولس سره ستره جفا ده.

مالوی ځارنوال ته وویل چې د ښاغلي رهین پرېکړه شخصي، سیاسي او له قومي تعصبه ډکه ده او هېڅ ډول قانوني بنسټ نه لري، د رســنیو د سرغړونو د کمیسیون په نامه یې خپله ذهني پرېکړه رالېږلې ده او یوه بله کوچنی چاپي رسنۍ یې ځکه له دې مسلې سره یو ځای کړې چــې له ژوندون ټلوېزیون سره خپل پخوانی او اوسنی تعصب پټ کړي.

هغه غوښتنلیک چې ما د ژوندو ن ټلوېزیون په استازۍ لویې ځارنوالۍ ته وسپاره، په دې ډول دی:

د افغانستان اسلامي جمهوریت د لویې ځارنوالۍ محترم مقام ته!

په دې ورځو کې د یو شمېر پردیپالو، ایرانپالو، افغان ضد، اسلام ضد او هېواد ضد کړیو له خوا د افغان، افغانیت، اسلام او ا ســلامیت پــر ضــد پټې او ښکاره هڅې زیاتې شوي، یو شمېر پردیپالې رسنۍ هم پــه دې ناوړه هڅو کې شاملې دي.

ژوندون داسې یو ټلوېزیون دی چې د افغانانو په مالي پانګه، بســپنو او مرستو جوړ شوی او د خپل فعالیت له پیله یې بیا تردې دمه د افغان او

افغانيت، اسلام او اسلاميت او هېواد د ملي ګټو لپاره تر خپل وروستي وسه کار کړی دی.
ژوندون راډيو تلويزيون په دې وروستيو کې د يو شمېر ايرانپالو او پنجابپالو کړيو او رسنيو تر پراخ يرغل لاندې دی. دوی غواړي د هېواد ددې ملي او رسنيز مرکز پر وړاندې خنډونه پيدا کړي، په حکومت کې له تنظيمي کړيو، تنګنظرو او هغو اشخاصو څخه هم کار اخلي چې نه غواړي افغان ملت د ځلانده هويت او قوت خاوند شي، نو ځکه خو د ټولو د فشار تمرکز پر ژوندون راډيو ټلويزيون باندې دی. ژوندون راډيو ټلويزيون د هغو هېواد پالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانانو غږ په ښه ډول منعکس کړ چې غوښتل يې د هويت د تذکرې پر لومړي مخ د اساسي قانون له حکم سره سم د اسلام او افغان کليمې وليکل شي، دې خبرې د يو شمېر ايرانپالو، پنجابپالو او نورو پرديپالو حساسيتونه راوپارول، نو ځکه خو يې له هغو دولتي ارګانونو څخه چې په يو نه ډول يې ځينې اشخاص د افغان ملت له ملي هويت سره حساسيت لري، ناوړه ګټه پورته کړه او د ژوندون ټلويزيون پر ضد يې عرايض وړاندې کړل. دا ډلې غواړي له دې ملي موضوع څخه د خلکو پام قومي موضوعګانو ته واړوي.
موږ د افغانستان له لويې څارنوالۍ څخه دغه لاندې غوښتنې لرو:
۱ -له لسو کلونو راهيسې دې ټولې رسنۍ وارزول شي چې څومره نشرات يې د هېواد د ملي ګټو لپاره کړي او څومره نوريې د ملت، اسلام او افغانيت پر ضد دي.
۲ -د ټولو رسنيو د تمويل سرچينې او پرسونل دې په هر اړخيز ډول وارزول شي، هره نا مشروع سرچينه دې رڼه شي او هغو رسنيو چې له

ایران، پاکستان او یا نورو نا مشروع سرچینو څخه پیسې تر لاسه کړي، باید عدلیي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.
۳ -د ملي او قومي رسنیو تر منځ دې سره کرښه راکاږل شي: څوک، افغان، افغانستان، اسلام او د هېواد ملي ګټې غواړي او څوک قومي مسایل خپروي. قومپالي اوس دومره سپین سترګي دي چې هم قومي تفرقه اچوي او هم یې پړه پر بل باروي.
۴ -څوک چې په ټلوېزیونونو کې د افغانستان ملي سرود او ملي بیرغ پر ځای نور سرودونه خپروي او نور بیرغونه خپروي، له هغوی سره دې قانوني چلند وشي.
۵ -پر ځانګړي ډول د ژوندون، تمدن او یو شمېر نورو ټلوېزیونونو په اړه یادونه کوو چې لویه څارنوالي دې یو بشپړ، ناپیېلی، مسلکي هیئت وټاکي، په دې هیئت کې دې د تمدن ټلوېزیون او ژوندون غړي هم شامل وي. د دواړو ټلوېزیونو او همدارنګه د ښاغلي محسني د مدرسې مالي سرچینې دې وپلټي، هره مالي سرچینه چې ایرانۍ او پاکستانۍ وه، قانوني چلند دې ورسره وشي.
۶ -لویه څارنوالي دې هغه اشخاص چې په ډاګه د افغان ، افغانستان پر ضد شعار ورکوي او د افغان ملي هویت پر ځای پر قومي هویت ټینګار کوي، هغوی دې هم محاکمې ته راکاږي، که هغه په دې دولت کې په هره کچه وي، که وکیل وي، که وزیر، که والي او که بل هر څوک.
۷ -لویه څارنوالي دې هغه ګوندونه او ډلې هم تر څار لاندې ونیسي چې د اساسي قانون د روحیې خلاف یې ټول کړه وړه د قوم، سیمې او ژبې پر محور راڅرخي.

ژوندون ټلوېزيون ټول افغان ملت او ددې هېواد رښتينو بچيانو تــه ډاډ ورکوي چې دخپل فعاليت او ژوند تر وروستۍ ســلګۍ بــه اســلاميت، افغانيت او انسانيت پالي، د ايرانپالو، سمتپالو، پنجابپالو، فســاد ګــرو، ناقانونه زورواکو، هر ډول پرديپالو او نورو مکروبونو پر ضــد بــه خپــل رسنيز جهاد ته دوام ورکوي او په دې لاره کــې بــه د هــر ډول خنــډ، مشکل او زور په مقابل کې په نره ودرېږي.

ژوندی او پياوړی دې وي افغان ملت

مړه او سپېره دې وي د افغانستان دښمنان

رپانده او ځلانده دې وي په سيمه او نړۍ کې

د افغانستان او اسلام بيرغ

په درناوي

پوهنوال محمد اسمعيل يون

د ژوندون راډيو ټلوېزيون د امتياز خاوند

# یوه ناقانونه پرېکړه او زموږ مدني غبرگون

د (۱۳۹۲)ل کال د لیندۍ میاشتې په نیمایي کې د اطلاعــاتو او کلتــور وزیر (سید محدوم رهین) او لوی څــارنوال (محمــد اســحق الکــو) د ژوندون ټلوېزیون د نشراتو د تعلیق په هکله ناقانونه پرېکړه وکړه، مــا (یون) د ژوندون ټلوېزیون په استازۍ د یادو اشخاصو ددې پرېکړې پــر وړاندې غبرگون وښود، هغه مې په کلکو ټکو وغندله، زما دا وینا همغه مهال د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپره شوه چې دادی دلته یې لیکنۍ بڼه وړاندې کېږي.

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی، مهربانه، لورونکي او بښونکي څښتن تعالی په نامه

هغه ځوان چې د وطن په درد سوځېږي
که سل ځــله پــرمخ لوېږي پورته کېږي
ماتــرې ســل ځله قربان او صدقه کړې
چې د مرگ په پوله ناست وي لا خوځېږي

خپل نجیب، ویاړمن، پرتمین، غښتلي، پیاوړي او سرلوړي ملت تــه تــر هرځه وړاندې د زړه له کومې سلامونه او احترامونه وړاندې کوم.

غواړم د ظلم او استبداد، جبر او اختناق د عواملو، د ایران د شنه او د پنجاب د تور استعمار د پټو او ښکاره افغان ضــد عملونــو او د هغــو د

کورنیو تالیفټو د وروستیو توطیو په باب ستاسو پاملرنه څو مهمو ټکو ته راواړوم:

۱ -له هغې ورځې چې په افغانستان کې ژوندون ټلوېزیون خپل نشرات پیل کړي او په هېواد کې نویو، شعوري او ځوانو مدني خوځښتونو سر راپورته کړی، له همغه وخته راهیسې د ژوندون ټلوېزیون پر ضد توطیې روانې دي. هېڅ بل ټلوېزیون ته پردیپالي، ایرانپالي او پنجابپالي دومره د خطر په سترګه نه ګوري، لکه ژوندون ته چې ګوري.

۲ -کله چې ژوندون ټلوېزیون د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت د لارویانو او رښتینو افغانانو غږ پورته کړ او د هویت د تذکرو پر لومړي مخ یې ددې سترو ارزښتونو د تثبیت غوښتنه وکړه، نو پردیپالو عناصرو ددې داعیې پر وړاندې دومره تېز غبرګون وښود چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی.

۳ -روس پلوه او ایرانپلوه ډلې چې له پخوا څخه د حکومت په داخل او بهر کې فعالې دي، په ژوندون ټلوېزیون کې د افغانیت او اسلامیت د خوندیتابه بحث، له قومي تعصبونو سره غوټه کړ او د یوه شخص یوه کلیمه یې دهېواد ځینو وګړو ته په ناسم ډلو تعبیر کړه.

۴ -ایرانپالو او پردیپالو رسنیو د ژوندون ټلوېزیون د ژورلیدونو خپرونې یو بحث چې د (اسلام)، (افغان) او (اسلامیت) او (افغانیت) د خوندیتابه لپاره ځانګړی شوی و، کاپي او په هغه کې یې ځینې جملې وړاندې وروسته کړې، مانا یې ورته کړه کړه او بیا یې له خپلو رسنیو څخه خپور کړ او هڅه یې وکړه له دې لارې قومي حساسیتونه راوپاروي او تر شا یې خپل شوم افغان ضد هدفونه پر ملي او اسلامي داعیې واکمن کړي.

۵ -دې ایرانپلوه تنظیمي کړیو په مشرانو جرگه کې یو شخص چې تــر دې وړاندې یې د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلیمو د لیکنې پر ضد کارت پورته کړی و، د یوې همفکره وسیلې په توگه وکاروه، هغه له اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه د ژوندون ټلوېزیون د نشراتو د تعلیق غوښتنه وکړه، اطلاعاتو او کلتور وزیر ښاغلی (سید مخدوم رهین) هم چې له پخوا څخه د همدې ډلو ټپلو تر اغېز لاندې دی، ژر تــر ژره یــې لویې ځارنوالۍ ته مکتوب ولیکه، له ژوندون ټلوېزیون سره یې د خپــل تعصب د پټونې په خاطر د یوې بلې نومورکې چاپي خپرونــې د تعلیــق غوښتنه هم وکړه. حقیقت دادی چې د ژوندون ټلوېزیون مقابل طرف تمدن ټلوېزیون، محسني مدرسه او نورې ایرانپلوه رسنۍ دي، نه یــوه لاسپانه او نومورکې چاپي خپرونه.

۶ -د اطلاعاتو کلتور وزارت په تېر لس کلن تاریخ کې هېڅکله داســې پرېکړه نه ده کړې چې پر یوه ورځ، په یوه گړۍ کې دې هر څه فیصــله کړي. رهین صیب ددې پرځای چې د رسنیو د ســرغړونې کمېســیون خبر کړي او یا د هغه کمېسیون غونډه جوړه کړي چې هغوی خپل نظر ورکړي او یا مقابل لوری خبر کړي، په ډېرې چټکۍ سره ځــارنوالۍ تــه مکتوب ورولېږه. ښاغلي وزیر پــه ډېــر څرگنــد ډول پــه خپلــه هغــه کمېسیون چې دوی به له خلکو غوښتل، هغه ته شکایتونه وکړي، پــه خپل دې عمل، لغوه، پیکه او بې ارزښته کړ.

۷ -لوی ځارنوال، ښاغلي (اسحق الکو) هم ددې پرځای چې د خپــل ټاکلي هئیت څېړنو ته منتظر شي، لکه قرطاسیه چې حوالــه کــوې، د ښاغلي رهین پر وړاندیز ولیکل: ((متن پیشنهاد منظــور اســت.)) پــه افغانستان کې پــه زرگونــو خلــک وژل شــوي، افغــان ملــي هویــت،

افغانستان، اسلامي مقدساتو، ملي اتلانو، اکثریت هېوادوالو او ټولو بشري ارزښتونو ته سپکې سپورې ویل شوي، خو نه (رهین صاحب) او نه هم (الکو صیب) سر څه چې غوږ پرې هم نه دی ګرولی، خو څرنګه چې ژوندون ټلوېزیون د ټولو هېوادپالو افغانانو یوه رښتینې رسنۍ ده، ددې پرضد دومره چټک غبرګون او له دولتي امکاناتو څخه د ملي رسنۍ د خپه کولو هڅه څه مانا لري؟

ددې لپاره چې خبرې ډېرې اوږدې نه شي، موږ غواړو په دې برخه کې خپل نظر او خپل عقلي، منطقي اصولي، حقوقي او دفاعي دلایل وړاندې کړو:

۱ -در سنیو په قانون کې له رسنیو څخه د سرغړونې کمېسیون تثبیت شوی، ولسي جرګې هم دا کمېسیون تائید کړی، له ژوندون سره د پردیپالو عناصرو په دې قضیه کې اصلاً دا کمېسیون چا خبر کړی هم نه دی. کوم وزیر او یا هم کوم شخص ددې صلاحیت لري چې ددې کمېسیون له پرېکړې او مصوبې پرته د یوې رسنۍ په باب داسې حکم وکړي؟ که چېرې دا د یو اصل په توګه ومنل شي، نو ښه داده چې د رسنیو دا کمېسیون ژر ختم شي او ټول صلاحیتونه یې ځانګړو اشخاصو ته حواله شي.

۲ -دولت چې کوم ارګان تاسیس کړی وي، ولسي جرګې هم تائید کړی وي، ایا کوم شخص دا حق لري چې تر قانون پورته عمل وکړي او هغه ارګان ته ورکړل شوي صلاحیتونه ځان ته مختص کړي؟

۳ -پر کومه ورځ چې ښاغلي رهین خپل دا غوښتنلیک لاسلیک کړی، پر همغه ورځ یې ځان پر یو بهرني سفر مصروف کړی، ځکه چې ځان له دې قانوني تېروتنې وژغوري.

۴ -د اطلاعاتو او کلتور وزارت پرته له دې چې د قضیې ادعا شوی لوری خبر کړي، د یو تنظیمي شخص مکتوب ته یې هرکلی ویلی او څارنوالۍ هم مخکې تر دې چې له ژوندون ټلوېزیون څخه وضاحت وغواړي، یوه اړخیزه پرېکړه کړې ده.

۵ -د رسنیو تعلیق د شخص د وظیفې تعلیق نه دی، چې بېرته جبران او معاش یې ور حواله شي. رسنۍ په هره ثانیه کې خپل لګښتونه او خپلې مادي او معنوي ګټې لري، که یوه رسنۍ د محکمې له حکم پرته زیانمنه شي او تر تعلیق وروسته بېرته اصلي حالت ته وګرځي، برائت هم واخلي، نو کوم اورګان د خسارې د جبران تضمین کولای شي؟ د زیان کچه به څوک تثبیتوي؟ د ادعاوو او واقعیت ترمنځ به عدالت او انصاف څنګه په ګوته کېږي؟

۶ -ایا قوانین ددې اجازه ورکوي چې یوه حقوقي، رسنیزه او یا اعتراضي موضوع دې ژر تر ژره سیاسي شي او چارواکي دې په کې ناقانونه مداخله وکړي؟ په دې پرېکړه کې موږ د ولسمشر د مرستیالانو سیاسي فشار او په خپله د ولسمشر همېشنی مضر مصلحت او ځینې خاصو کړیو ته د تېرو سیاسي امتیازاتو د ورکړې په تعقیب، د نورو امتیازاتو او خوړلنیو د ورکړې عنصر دخیل ګڼو.

۷ -هغه ډلې چې مستقیماً له ایرانه خړوبېږي، پر حکومت او په خپله پر ولسمشر خاص اغېز لري، د هغو ټولو اغېزې په دې ناقانونه بېړنۍ پرېکړه کې دخیلې دي.

۸ -ایا تر دې دمخه د داسې پرېکړو بېلګې شته چې ددې پرېکړې د عملي کېدو لپاره لاره پرانیزي؟ که د یوه کارپوه یوه خبره چې په خپله

کارپوه يې د پوره وضاحت ورکولـو جوګـه دی ایـا ددې ډول پرېکـړې ایجاب کوي؟
۹ -که د یو چا یوه خبره د یوې رسنۍ پر وړاندې دومره چټک غبرګون ته دلایل برابروي، نو بیا خو په افغانسـتان کـې بېلابېلـو اشخاصـو او رسنیو په دې برخه کې دومره څه استعمال کړي، چــې د ژونــدون پــر څپو يې د (جنرال طاقت) خبره په خروار کې د مثقال تر مثاله هــم وړه ده. د هغوی پر وړاندې په دې تېرو لسو کلونو کې هم د لویې څــارنوالۍ او هم د اطلاعاتو کلتور وزارت د چارواکو چوپه خوله پاتې کېدل کومې ماناوې لري؟ ایا له هغوی سره د همغږۍ، همفکرۍ، یا بې تفاوتۍ په مانا ده او که نورې مانا لري؟ ښه به وي چې په دې برخه کــې د یــو شــمېر اشخاصو او رسنیو نومونه هم واخلو: دولتي ښــاغلي دې پــر حــافظې فشار راوړي، د ښاغلي لطیــف پــدرام، عطامحمــد نــور، عبــدالحفیظ منصور، انور سادات، حاجي محمد محقق او نورو څرګندونې دې هم را په یاد کړي. د طلوع ټلوېزیون، نور، نورین، تمــدن، راه فــردا، ائینــه او همدارنګه د نورو ګڼو چاپي رسنیو نشرات دې هم له نظره تېر کړي.
۱۰ -هغه پرېکړه چې له دولتي چارواکو پرته، نه په کې نه عارض معلوم وي، نه په کې مقابل طرف او نه هــم د قضــیې ټــولې خــواوې، خپلــه غوښتنلیک والا هم پېښې له میدانه سپکې کړې وي، ایا لــه قانونــه او منطقه د تېښتې په مانا نه ده؟
۱۱ -خپله لوی څارنوال، د اطلاعاتو او کلتور وزیر او نور ټول اشخاص پر دې پوهېږي، چې پرېکړه يې قانوني اساس نه لري. د لوی څــارنوال تــر حکم وروسته ما له لوی څارنوال سره تر (۵۰) ځلو زیات ټلېفوني تماس

ونیو، خو زه چې ددوی په نظر د قضیې یو اړخ ګڼل کېږم، له ما څخه ځان پټونه کوم حقیقت پټوي؟

۱۲ -لویې څارنوالۍ او بل هیڅ اورګان د ژوندون له خوا د جنرال طاقت د خبرو اصلي سي ډي (CD) له هغو سي ډي ګانو سره پرتله نه کړه چې د ژوندون د مخالفینو لخوا برابره شوې وه. جملې په کې وړاندې وروسته شوې وې او مانا په کې بدله شوې وه.

۱۳ -کله چې له یوې رسنۍ څخه د یوه شخص یوه خبره چې هغه هم یوه بل شخص په ځانګړي ډول (لطیف پدرام) چې غازي امان الله خان ته ې کنځلې کړې وې، راجع وه، خو پردیپالي بیا دا د پلمې په توګه قوم ته منسوبوي او د ځینو ناسم تعبیر راپاروي او بیا هغه شخص په همغه رسنۍ کې د خپلې خبرې وضاحت کوي، نو د دې ډول رسنۍ په اړه چې د پردیپالو پخوانی ذهنیت له کینې ډک نه وي، نو ددې رسنۍ په باب بیا چټک غبرګون له ایرانپالنې او پردیپالنې بله څه مانا لري؟

۱۴ -پر دې هم پوهېږو چې که ټول افغان ولس یوه خوا وي، جنګسالاران او تنظیمسالاران په تېره بیا ایران پورې تړلي اخوندان بله خوا، نو ولسمشر ته دا دوه وروستي عناصر ډېر محترم دي، له ولس سره د ولسمشر ددې جفا په مقابل کې به د قیامت پر ورځ د ولس لاس او د ولسمشر کرزي ګرېوان وي او دا به هغه وخت وي چې د جبران لپاره به هېڅ مجال پاتې نه وي.

۱۵ -د هېواد د ټولو عدلي قضایي اورګانونو، دولتي چارواکو، ځانساتو او څوکۍ پالو اشخاصو پر وړاندې دا پوښتنه هم ږدم چې د (۱۴۰) افغانانو قاتل (حکیم شجاعي) او د ملي اردو او ملي پولیسو وژونکي

(امیر ګل) او (کمین) چېرته دي او ولې تر قانونه پورته ګرځي او لا هــم تر عدالت لرې خوندي ژوند تېروي.

۱۶ -ایا د (۶۵) زره کابل ښاریانو قاتلان په همدې نظــام کــې تــر ټولــو محترم، مقدم او واکمن نه دي؟

۱۷ -کله چې د ملي شورا مخې ته د افغان ضد کړیو له خوا لــه قــومي تعصب ډکه مظاهره وشوه او ځینو یې د ایرانپلــوه ډلــو پــه لمســون د افغانستان پر ضد او (ما افغان نیســتم) شــعارونه ورکــړل، دا ښــاغلي چېرته وو؟ ددې پرځای چې دې ډول اشخاصو او محرکینو ته یې ســزا ورکړي. اوس یې څارنوال صیب او وزیرصیب غوښتنو ته هرکلی وایــي. اوس راځم خپل مسلمان با ایمانه، باوجدانه غیرتي افغان ملت ته!

زه د یوه افغان او مسلمان په توګه د لوی خدای (ج) پر نصرت او د خپل ملت پر غیرت پوره ډاډه یم. په دې پوره باوري یم چې د واحــد افغــان ملت ټولې څانګې او ګلونه چې د هېواد له هرې سیمې، هر قوم، هر ټبر او هرې ژبې سره تړاو لري او له ملي او اسلامي هویت، اسلام او افغــان سره مینه لري، په نره د ژوندون ټلوېزیون ملاتړ کوي او هــر ایرانپــالي، پنجابپالي او پردیپالي ته مناسب ځواب ورکوي.

خو زه د یوه متمدن انسان، افغان او مسلمان په توګه د خپلې ملــي او اسلامي برحقې داعیې د ترلاسه کولو لپاره له تشــدد، خشــونت او زور څخه کار اخیســتل نــه تائیــدوم او نــه یــې پلــوي کــوم. زمــوږ او د جنګسالارانو او ناقانونه ایرانپالو کړیو تر منځ د توپیر سره کرښه همــدا ده چې موږ اسلامیت، افغانیت او انسانیت غواړو او د افغانستان کورني او بهرني مخالفین، وحشت، خشونت او لا قانونیت.

پر دي خبرې بيا ټينګار کوم چې د هويت په تذکرو کـې لـه اسـلام او افغانه تېرېدونکي نه یو او دا اوسنۍ قرباني هم د همغو ارزښتونو لپاره ده.

د ژوندون ټلوېزيون په مليونونو هېوادپالو مينوالو څخه په ډېر درنښت هيله کوم، چې په پوره زغم، اوسېلې او سړې سينې خپلو مشـروعو او قانوني داعيو ته دوام ورکـړي. د ژونـدون ټلوېزيـون د ملاتـړ لپـاره د سرېتوب داسې يوه بېلګه وړاندې کړي چې هېوادپلورو، کلتورپلورو، او پردیپالو ته يو بې سارې سبق شي.

موږ د لويې څارنوالۍ په ګډون د هيواد هرې قانوني سرچينې ته تر هغه وخته د قدر په سترګه ګورو چـې د قـانون د تطبيـق لپـاره عادلانـه پرېکړې وکړي. دا چې په ځينو عدلي، تقنيني او قضايي اورګانونو کـې ځينې اشخاص د سياسي اغېز تر فشار لاندې قانون تـر پښـو لانـدې کوي، ددې کفاره او جبيره به خپله ورکوي.

زه د يوه افغان په توګه ځانته دا حق ورکوم چې د يوه مدني انسان پـه حيث د پرديپالو پر ضد خپله ملي او انساني مبارزه جاري وساتم، هـر کلي، هر مسجد، هرې باندې او هـرې تپـې تـه لاړ شـم او د ظلـم او استبداد په مقابل کې خپل غږ پورته کړم.

زه حق لرم د ايرانپالو ډلو د سياسي فشارونو له امله د لويې څـارنوالۍ ددې پرېکړې پر وړاندې سترې محکمې ته خپل غوښتنليک وړاندې او ژوندون ته د رسېدونکي زيان د جبران غوښتنه وکړم. که احياناً ستره محکمه هم د لويې څارنوالۍ په شان د مضر او نامشروع مصـلحت پـر رنځ اخته شي، نو د خپل ملت عدالت او د نړۍ هر بل عدلي اورګان تـه به عريضه کوم او د دې ظلم په مقابل کې به ودرېږم.

د خدای نصرت او د ملت همت مې همېشنی ملګری دی او په دې لاره کې د څو تنګه سرو، ځان پلورو، ضمیر پلورو پروا نه لرم، له خپل ولسه د ژوندون د تېر ملاتړ له امله هم مننروی یم او پر راتلونکي ملاتـړ یـې هم پوره ډاډه یم.

زه له هغو زرګونو او لکونو افغانانو هـم مننــه کـوم یـم چـې د لـویې څارنوالۍ د ناقانونه حکم د تطبیق په حالت کې یې موږ ته ډاډ راکـړی چې د دوی له رسنیو، راډیوګانو، ټلوېزیونونو، ټولنیزو خپرونو او د تبلیغ له نورو زرایعو څخه پوره پوره ګټه پورته کولای شو.

خپل ملت ته د یو څو نورو راتلونکو احتمالي خطرونو وړاندوینــه هــم کوم. د افغان کلمې تر حــذف وروســته، د پردیپــالو دویــم یرغــل پــر (افغانۍ) دی، چې زموږ د پولي او ملي هویت ښکارندویي کـوي او تـر هغه وروسته وروستی یرغل او جګړه د خوږ افغانستان د نامه د بدلولو لپاره ده. هېوادپال افغانان دې ټول خبر وي. ځانساتي، ورځچاري به بیا هغه وخت لکه د مچانو په څېر لاسونه مروړي، خو اوبه بــه لــه ورخــه تېرې وي، ملت به د مملکت د نامه پرسر پر جنجال اخته وي او د ولس د سوکالۍ لپاره به د خدماتو رسولو ته د چا پام نه وي.

په پای کې وایم چې:

نه مې د چا مال خوړلی نه مــې څــوک وژلــي دي
نه مې چاته ورک شه یا ګــم شــو کلــه ویلــي دي
نوره ګناه نــه لــرم پــه دې ګنــاه مــې مــه نیســه
زړه کې چې مې پټ ظالم ته بد غوندې کتلــي دي
وخــت د اعتــراف دی ګنــاه خپلــه درتــه وایمــه
نــه یمــه منکــر پــه مظلومــانو مــې ژړلــي دي
نه ومــه خبــر پــرده مــې لــرې ځنــې پورتــه کــړه
نــه دي د ویلــو هغــه څــه چــې مــا لیــدلي دي
رسي لــوړ مقــام تــه چــې بوټونــه پــاکوي د بــل
دېــر پــه دغــه شــغل ریاســت تــه رســېدلي دي

ژوندی او سرلوړی، متحد او غښتلی دې وي افغانستان
سوکاله، ارام او بریالی دې وي افغان ملت
مړه دې وي د افغانستان پټ او ښکاره دښمنان

ومن الله التوفیق

# د ملت حماسه

د (۱۳۹۲)ل کال د لیندۍ پر (۲۳)مه نېټه د ژوندون ټلوېزیون د بندولو په اړه د لویې څارنوالۍ او اطلاعاتو کلتور وزارت د پرېکړې خلاف ولس لویې مظاهرې ته راووت او د سترې محکمې مخې ته راټول شو، خپل مدني اعتراض یې وکړ، سترې محکمې هم د ولس غوښتنه ومنله او د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق په اړه یې د لویې څارنوالۍ ناقانونه پرېکړه ملغی کړه. ما پر همغه ماښام د ولس د پراخ ملاتړ له امله له خپل ولس څخه مننه وکړه، دا وینا د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپره شوه چې دلته یې لیکنی متن وړاندې کوم.

## بسم الله الرحمن الرحیم

د کایناتو د هغه لوی څښتن تعالی په نامه

چې د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی

## خپل ولس ته د مننې پیغام

## د ملت حماسې ته درناوی

مرګ زما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی

له عزت سره چې نه وي زیست روزګار

ولسونه چې سند یو بله وکا

پادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

داسې یو حالت کې چې ملت د ویاړ او پرتم، تورې او قلم، جنګ او فرهنګ یوه ستره تاریخي او مدني حماسه وټوکوي، سړی نه پـوهېږي چې له کومې جملې یې پیل کړي، له چا څخه لومړی مننه وکړي؟ چاته د ستاینې ګلونه او د مننې اوښکې ډالۍ کړي؟ خو ښه بـه وي چـې د مننو او ستاینو د معمول خلاف، زه د ټولو ژوندونوالو، ټولو اسلامپالو او ټولو هېوادپالو افغانانو په استازۍ له هغو میندو د مننې لړۍ پیل کـړم چې مورې ته یې په پنځه وخته لمانځه کې د دعا لاسونه لپه کړل، مورې ته یې د دعا لښکرې راولېږلې، له هغو خویندو به یې پیل کړم چې نه یـې په دعاګانو کې هېر کړو، نه یې په عملي ملاتړ کې، د همـدې اسـکېرلو خو غیرتي خویندو له خوا په سوونو ټلیفونونه راغلـل، د مظلومیـت د څپو، په ژړغوني، خو له ډېر عزت، عفت او همت نه په ډک اواز یې زمونږ ملاتړ وکړ او همدا به یې ویل: که له زلمو نه پوره نه شوه... له هغو سپین ږیرو مشرانو او مخورو به یې پیل کړم چې د عمر اوږده برخه یـې ددې وطن په غم او درد کې تېره کړې، خو لا هم په سپېرو او دود وهلو خونو کې اوسي او هر یو به همدا ویل:

پام چې وار دې خطا نه شي

مـــا مـــنـــلي غرغـرې دي

له هغو ماشومانو به یې پیل کړم چې له تندي یې سـپینې تـوټې تاوې کړې وې او پرې لیکل شوي وو: اسلامیت غواړو، افغانیت غواړو او ژوندون غواړو، ښکلو ماشومانو، لکه د پغمان د سرو مڼو پـه شـان پـر خپلو ښکلو اننګیو د افغانستان ښکلی درې رنګه بیرغ رسم کـړی و او مخونه یې دومره ښکلي ښکارېدل، لکه د بوډۍ ټال. د رنګونو په شان.

دې امتیازاج او ښکلا ته هېڅ با احساسه افغان د خپلو اوښکو سـېلاب نه شي ټینګولای.

له هغو مسافرو افغانانو به یې پیل کړم چې د نړۍ پـه (پنځوسـو) هېوادونو کې مېشت دي او هره ورځ د وطن د لیدو په هیلـه اوښـکې تویوي، د هغو افغانانو د دعاګانو برکت و چې په مکه معظمه، د خـدای په کور کې یې موږ ته د دعا لاسونه لپه کړل.

له هغو ځوانانو به یې پیل کړم چې له سرونو یې سـپین کفنونـه تړلي وو او د خپلو سترو ایډیالونو اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره یې د ظلم او استبداد په مقابل کې سر په لاس کې نیولی و.

له هغو میندو او پلرونو به یې پیل کړم چې د خپل ځیګـر ټـوټې یې، سره له دې چې د ظلم او استبداد له خوا هر ډول خطرونـه ورتـه متوجه وو، خو بیا یې هم د عدالت د تـامین لپـاره د مبـارزې لـومړۍ کرښې ته راولېږلې. په نړۍ کې به د قربانۍ داسې ببلګـه څـوک پیـدا کړي چې خپل منصور اولادونه په داسې حال کې د جګـړې ډګـر تـه ولېږي، چې نه توپ لري او نه ټوپک او په تش لاس د ظلم او اسـتبداد په مقابل کې ودرېږي؟

له خپلو قدرمنو علمای کرامو به یې پیل کړم چې  په نـره یـې د شریعت د منطق په ژبه د اسلامیت او افغانیت ملاتړ ته راودانګل.

د هغو ولایتونو له ځوانانو به یې پیل کړم چې په کابل کې یې تـر لویې مظاهرې ځان د مخه کړ، خپله لاس په کار شول، پرته له دې چې د  چا منفي نظر، فرمایش او یا زور ته سر ټیټ کړي، په خپل تفکـر یـې پر لویو لاریونونو لاس پورې کړ.

له هغو زنداني ورونو به یې پیل کړم چې د زندان د تورو تمبــو تــر شا یې موږ ته د ملاتړ پیغامونه راولېږل. زندانیانو خپل ملاتــړ د غــذایي اعتصاب له ګواښ سره وصل کړ او ویې ویل چې که چېرې د ژوندون د تعلیق پرېکړه بېرته وانخیستل شي، نو دوی به پر لوی غذایي اعتصاب لاس پورې کړي.

له هغو ځوانــو خوځښــتونو، مــدني ټولنــو، سیاســي ګونــدونو، حرکتونو، صنفي اتحادیو او قومي شوراګانو به یې په پیل کړم چــې پــه پوره یووالي یې په لاریون کې ګډون وکړ.

له هغو ټولو هېواد والو به یې پیل کړم چې په پراخه اوسېله یې په مظاهره کې ګډون وکړ، له سهاره تر مازیګره یې له خوراک او څښــاک پرته د خپلې برحقې داعیې لپاره چغه پورته کړه.

له هغو ځوانو څارندویانو او د مظاهرې له منتظمینو به یــې پیــل کړم چې په ډېره سړه سینه یــې د مظــاهرې نظــم خونــدي کــړ، ډېــر فشارونه پرې راغلل، خو خپله اوسېله یې په هېڅ ډول له لاســه ورنــه کړه.

د مظاهرې له ټولو ګډونوالو څخه به یې پیل کړم چې له ډېرو لوړو کلتوري اخلاقو، سړې سینې او پوره زغم څخه یې کار واخیست او یــو ځل بیا یې د یوه متمدن، با کلتوره او غیور ملت په توګه نړۍ تــه ځــان ثابت کړ.

د سترې محکمې له عالي شورا به یې پیل کــړم چــې د ژونــدون ټلوېزیون د تعلیق په اړه یې د لوی څــارنوال او اطلاعــاتو کلتــور وزیــر ناقانونه پرېکړه ژر تر ژره ملغی کړه او د لاریونوالــو د نــورو غوښــتنو د څېړنو ژمنه یې وکړه.

له خپلو ملي پولیسو به یې پیل کړم چې په پوره نظم، دقت او عزت یې د امنیت په خوندیتابه کې خپله مرسته او همکاري وکړه.

د هېواد له درېو نسلونو څخه به یې پیل کړم چې هم په کې کشر شامل و، هم په کې ځوان او هم په کې د نوي کلونو د عمر خاوندان. د هېواد د سپین ږیرو، مخورو ، ځوانانو او تنکیو ځوانانو د درېواړو نسلونو یووالی زموږ د هېواد والو د اوچت ملي شعور ښکارندوی کوي.

له خپلو ټولو هغو هېوادوالو، خویندو، میندو، پلرونو، ځوانانو، مساپرو او نورو څخه به یې پیل کړم چې د مظاهرې تر بریا او کتنې وروسته یې له ډېرې خوشالۍ په سترګو کې اوښکې ګرځېدلې او په سلګو سلګو یې د بریا مبارکي وویله.

د ژوندون ټلوېزیون له ټولو کارکوونکو به یې پیل کړم چې دا څو پر له پسې اوونۍ یې شپه ورځ پر ځان یوه کړې او د خپل مظلو م ولس په خدمت کې دي.

له ټولو پورتنیو ښاغلو او اغلو څخه تر مننې او ستاینې وروسته غواړم، له ټول افغان ملت څخه مننه وکړم چې په خپله لمن کې یې داسې ګلالي غمي او سرې روزلي چې د غره په شان خویونه لري؛ هر څه یې په لاس کې دي، خو څوک نه ازاروي، هر څوک ویشلی شي، خو څوک نه ولي:

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم
په عادتونو کې دا یو عادت د غره لرمه

زما ملت یو ځل بیا پردیپالو او نورو رقیبانو ته په ډاګه کړه چې د څومره لوېې اوسېلې خاوند دی، د تاترې په شان، د سپین غره او

شمشاد په شان او د پامیر او هندوکش په شان زغم او اوسېله لري، که خپل ناهله زامن يې پر سپينې لمن داغونه هم ږدي، نو تر یــوه وختــه ورته اوسېله کوي، خو یو مهال بیا سبق هم ورکوي.

## زما قدرمن او غیرتي ملته!

پردیپالو او ځینو تالیخټو غوښتل، یو ځل بیا ددې ولــس ټــولنیز، ملي، اسلامي او هېوادنی شعور امتحان کړي. زموږ ولس چې د ســختو ازموینو له ډګره تل بریمن او پتمن وتی، یو ځل بیا له دې ستر ازمېښته پتمن او بریمن راووت. په دې وطن کې خو ځینې مظاهرې د قدرت پــر سر وي، د څوکیو پر سر وي، د غوړو او چربو پر سر وي، خو زموږ د ملت مظاهره، د معنوي ارزښتونو پر سر وه او ددې ارزښتونو د ښکلا او ځــلا په خاطر وه، د اسلامیت او افغانیت پر سر وه د ژوندون پر ســر وه. زمــا ملت شعار ورکړ چې اسلامیت غواړو، افغانیت غــواړو، ژونــدون غــواړو اوقانون غواړو. په مقابل کې يې ایرانپالو شعار ورکړی و، چې نه افغانیت غواړو، نه اسلامیت غواړو نه قانون او نــه ژونــدون: وګــورئ ددې دوو شعارونو د څرنګوالي تر منځ څومره توپیر دی، څوک څه کوي؟

### ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ
### واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

ددې مظاهرې پیغام دا و چې سیمې او نړۍ ته په ډاګه کړي چــې افغان ولس یو متمدن، فرهنګپالی او توریالی ملــت دی، هغــه ډلــې او اشخاص چې ددې هېواد پر مظلوم اکثریت کله کله د بې کلتورۍ تــور داغ پورې کوي، اوس دې راشــي او ودې ګــوري چــې څــوک د لــوړو

کلتوري او معنوي ارزښتونو لرونکــی دی؟ او څــوک د نــورو د کلتــور دسمالونه پر غاړه ګرځوي؟

دښمنانو غوښتل چې زمونږ د ملت چغه خپه کړي، فریاد یــې وچ کړي او ژبه یې غوڅه کړي، خو هغوی په دې کار کې لاندې راغلل:

کــه ظالم مــې ژبه غــوڅه کړه تېره شــوه
توره څومره چې تېره شوه لا خـــورږه شوه
اوس که نر یې نو غورځونه دې خپل پرې کا
چې زما نغمه سره نــه شوله ســره شــوه

ددې لاریون بل پیغام دا و چې افغان ضد ډلو ته دا وښیي چــې دا مظلوم خو غیرتي ولس له ګڼو ناخوالو او ستونزو ســره ســره لا هــم د خپلو سترو معنویاتو د حفاظت په خاطر په خپــل مــنځ کــې وحــدت، یووالی او پیوستون لري او که چېرې وغواړي هر پټ او ښکاره پردیپالی د نابودۍ په سیند کې ډوبولای شي.

د مظاهرې بل پیغام دا و چې مخالفین او نور مذبذب اشخاص که غواړي په اینده کې سوله ییز لاریون وکړي او د ســړیتوب لاره خپلــه کړي، نو له دغسې مظاهرې دې عبرت او پند واخلي.

ددې ستر بریمن لاریون بل پیغام دا و چې ځانســاتو، ورځپــاڼو، دولتي او نادولتي مامورینو او مامورګیو ته دا په ډاګه کړي چې ستاســو له مرستې، همغږۍ، فکر، نظر او ملګرتیا پرته او ان لــه مخالفــت ســره سره بیا هم دا ولس ددې زور او ځواک لري چــې خپــل برخلیــک او د خپل ژوند تګلوری په خپله وټاکي.

ددې مظاهرې بل ستر پیغام دا و چې اسلامیت او افغانیت داسې سره غاړه غړۍ شول او داسې سره واوبدل شول چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی، همدا دوه ستر مشالونه دي چې موږ له تیارو څخه ژغوري، د لومړي ځل لپاره مسجد او هوجره، ملا او معلم، ښوونځی او مدرسه، کشر او مشر پر یوه لاره روان وو او یو بل ته یې د ورورۍ لاسونه سره ورکړي وو، دا په هېواد کې د ملي یووالي تر ټولو ښه سمبول و.

نو اوس د خپل ولس دغه درایت، کفایت، ایمان، هوډ، تکل، فکر او لرلید ته په کتو او له هغو څخه په الهام اخیستو سره، راتلونکي ته ډېره هیله لرلای شو. د همدغه قوت موثریت ته په پام سره موږ په دې ډاډه یو چې ګام پر ګام به خپلو ملي او اسلامي هدفونو ته رسېږو، د هویت د تذکرې پر لومړي مخ به سل په سلو کې د اسلام او افغان کلیمو د تثبیت په خاطر د (دین) او (ملت) ستون لیکل کېږي، ددې هدف د عملي تطبیق لپاره به لومړی د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د ګډ کمیسیون پرېکړې ته انتظار باسو، که بیا هم دا دوه ایډیالونه پکې ونه لیکل شول او یا یې له دې څخه یو ولیکه، یو یې حذف کړ، نو بیا هم ملت ته د منلو وړ نه دي، په دې حالت کې به مظلوم اکثریت، دا ځل د (پښتونستان واټ) ته راټولېږي او مخکې تر دې چې ولسمشر د ملي شورا دا ناقانونه مصوبه لاسلیک او توشیح کړي. په یاد واټ کې به د یوې لویې مظاهرې په ترڅ کې له ولسمشره وغواړي چې هېڅکله باید زموږ پر ملي او اسلامي هویت خاورې وانه ړوي. ولسمشر باید دا قانون رد او د سمون لپاره یې کورنیو چارو وزارت ته ولېږي، هغوی باید د

افغان او اسلام د تثبیت په خاطر لــه ســره، نــوی کــارت ډیــزاین او د تصویب لپاره يې قانوني مراجعو ته واستوي.

ولس له ولسمشره غواړي چې د څو محدود فسادګرو، غلو، داړه مارو او جنګسالارانو د لوټ او تالان له امله د افغانستان نوم په نړۍ کې د فساد په لومړۍ لیکه کې راغلی، حقیقت خو دا دی چې افغانستان یو سپېڅلی نوم دی چې له فساد سره هېڅ اړیکه نه لري، دا خو فســادګر دي چې فساد يې کړی، نه افغانستان، نو په کار خو دادي، هغه کســان چې د افغانستان سپېڅلی او نېک نوم يې بد کړی، د هغوی نومونه دې د رسنیو له لارې افشا شي چې زموږ د سپېڅلي هېواد نوم لــه فســاد ګرو جلا شي.

له ولسمشر څخه غواړو په تېــرو (۱۲) کلونــو کــې ټــول دولتــي تشکیلات د رسنیو پر مخ خواره کړي، چې ولس ته پته ولګي، څوک په کې څومره دي؟ چا د کوم لیاقت پر اساس کومې څوکۍ اخیستي، چــا قومي او سیمه ییزو مسایلو ته لمن وهلې ؟ د ساري په توګه دې ژر تــر ژره یوازې د هغې ولسوالۍ لســت خپــور کــړي چــې د (پوزېشــن) او (اپوزېشن) دواړه پوستونه يې اشغال کړي، هم ورسره حاکمیــت دی او هم تر ټولو زیات د مظلومیت چغې وهي.

له ولسمشر څخه، دده له دفتره نیولې بیا تــر وروســتۍ دولتــي اداري پورې، په ټولو کې، د اساسي قانون له محتویاتو سره سم د بشپړ ژبني عدالت تامینول غواړو.

ولسمشر څخه دا هم غواړو چې د یوه ناپېیلي هئیت د توظیف له لارې دې د تمدن ټلوېزیون او شیخ محمداصف محسني مرکز په ګډون ټولې هغه رسنۍ چې په تېره یوه لسیزه کې يې رســنیز فعالیــت لرلــی

دی. ددې ټولو رسنیو مالي سرچینې او د پرسونل څرنګوالی باید وڅېړل شي او نتیجه يې ولس ته اعلان شي.

د اساسي قانون د ساتندوی او پالندوی په توګه له ولسمشر څخه دا هم غواړو، هغه ټلوېزيونونه چې د هېواد د ملي بیرغ پرځای، نور بیرغونه رپوي او د ملي سرود پرځای نور سرودونه خپروي او همدارنګه د اساسي قانون د (۲۰،۱۹،۱۶،۴،۳، ۲۲، ۳۴) او نورو مادو د محتویاتو خلاف نشرات کوي، له قانون سره سم سزا ورته ورکړي.

موږ ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې زموږ مبارزه د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او په هېواد کې د ټولو افغانانو د ملي وحدت او برابرۍ لپاره ده، موږ د قومونو د تساوي شعار نه ورکوو، ځکه چې دلته د تساوي د کلیمې په عملي تطبیق کې اصلاً تساوي نه ښکاري، موږ د ټولو افغانانو ترمنځ تساوي غواړو او دې رښتیني بشري اصل ته د زړه له کومي کار کوو.

موږ په افغانستان کې هر ټبر، هر قوم او هر ټولنیز ټولي ته ډاډ ورکوو چې د قومي او جنګي ټوپکوالو له اسارت څخه د دوی د خلاصون لپاره هم په ټینګه مبارزه کوو. موږ خپلو هزاره افغان ورونو ته ډاډ ورکوو چې د څو جنګسالارانو له اسارته مو ژغورو، موږ تاجک افغان ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یوې محدودې درې د جنګسالارانو له منګولو څخه ددې قوم د ژغورنې لپاره هلې ځلې کوو.

موږ ازبکو ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یو یا څو محدودو جنګسالارانو له ظلمه مو ژغورو.

موږ د هېواد د هر ټبر هر قوم، هر خېل او هرې ژبې افغان وګړي ته وایو چې له مظلومیت څخه د خلاصون لپاره مو هلې ځلې کوو.

موږ د هغې ورځې په ارمان یو، هغه زوروا‌کي چـې د قـوم، ژبـې، سمت، مذهب او نورو شعارونو تر چتر لاندې يې ناکنټروله او بې شمېره نامشروع پانګه پیدا کړې، داسې ورځ به راشـي چـې لـه مشـروع او قانوني لارې به ددې پانګې رڼاوی کېږي.

موږ له ولسمشر څخه هيله کوو چې په تېرو لسو کلونو کې د هغو لسو ملیاردرانو پانګه ملي اعلان کړي او د بیت المال برخه يې وګرځوي چې له نامشروع لارې يې پيدا کړې ده.

موږ له خپل مومن، مسلمان او مجاهد ملت څخه هيله کـوو لکـه څنګه چې د جهاد پر مهال، په ملیونونو افغانانو له اسلامیت او افغانیت څخه خپل سرونه قربان کړل، اوس دې يـو ځـل بيـا د خپـل ملـي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره په ټينګه راودانګي.

## درنو او قدرمنو هېوادوالو!

په تېرو څو اوونيو کې په زرګونو، په لکونو او ملیونونو هېوادوالو د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او ژوندون ټلوېزیون پـراخ ملاتـړ وکړ، په دې کې په لسګونو مدني ټولنـو، ځوانـو خوځښـتونو، قـومي شوراګانو، سیاسي ګوندونو، د علمـاوو شـوراګانو، فرهنګـي ټولنـو او زرګونو مخورو شخصیتونو ډېر مخکښ رول درلود، داسې شخصـیتونه هم وو چې د نوم له يادونې پرته يې په نومورکي ډول په دې ملي مبارزه کې ډېره فعاله ونډه واخيسته، موږ کوښښ کاوه چې پـه ترتيـب سـره ددې ټولو بنسټونو او ښاغلو نومونه واخلو، مننه ورڅخـه وکـړو، خـو څرنګه چې له دې ټولو نومونو او بنسټونو څخـه داسـې اوږد لسـت جوړېده چې بيان يې پوره ورځ غوښته او ددې خطر احتمال هم و چې

هم د ځینو مستحقو قدرمنو نومونه به بیا هم له یادونې پاتې شي، نو ځکه مو له ټولو څخه په یوځایي ډول مننه غوره وبلله.

**ګران او قدرمن ولسه!** په تېرو څو اوونیو کې په ملیونونو افغانانو که هغو د بهرنیو مساپرو افغانانو په بڼه وو، یا په ولایتونو کې د بېلابېلو لاریونونو په بڼه، یا هم په ژوندون کې د لسګونو غونډو په شکل، یا هم د لوی لاریون په ترڅ کې او یا هم د بېلابېلو لویو شخصیتونو له خوا، ماته بېلابېل القاب: لکه خالد بن ولید، سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه، لوی احمدشاه‌بابا، خوشال بابا، افغان بابا، اسلامیون، افغان یون او نور راکړل شول، زه ددې تر څنګ چې ځان د خپل ولس د احسان پور وړی ګڼم، د خپل ولس ددې پراخه او بې کچې مینې، لوریېنې، پېرزوینې او ستاینې مننه کوم، خو ددې خبرې یادول هم ضروري ګڼم چې زه په هېڅ ډول ددې ډول القابو او ستاینو مستحق نه یم . زه ددې ټولنې داسې یو وروستی فرد یم چې تر هغه زیات پر کوچني واحد نه تجزیه کېږي، زه د هېواد د یادو سترو او نورو اتلانو د پښو ګرد ته هم نه شم رسېدلای.

زه درې کاله مخکې د هندوستان (پاني پت) ته په دې خاطر لاړم چې د لوی احمد شاه بابا دمېړانې، تورې او سرېتوب ځلی وګورم او تر هغې ونې لاندې ودرېدم چې (۲۴۷) کاله وړاندې ترې احمد شاه بابا لاندې ولاړ و او تر همدې ونې لاندې یې د جنګ قومنده ورکړې وه. هلته ماته داسې یو ارمان راغی چې کاشکې زه هم د هغه وخت افغان او د احمد شاه بابا د لښکرو یو قلموال وای، چې ما د بابا د تورې،

مېړانې او سرېتوب کیسې ټکي په ټکي لیکلې وای او د تاریخ حافظې ته مې سپارلې وای.

زموږ د اتلانو کیسې نورو موږ ته لیکلي او هغه یې اکثره تر یوه مضر فلتر وروسته موږ ته رارسولي دي. احمد شاه بابا د نړۍ په (۷) امپراتورانو کې هغه شخصیت دی چې هم یې توره وهلې، هم یې قلم چلولی او هم یې په مفتوحو سیمو کې خپل رایت او عزت ساتلی دی، دا خصلتونه بیا په دې نورو اوو امپراتورانو کې نه وو.

زه نه غواړم چې د شهرت په داسې څپو کې ډوب شم چې وړ نه یې یم، کارونه رانه پاتې شي او دا کار په ما کې د ځانپالنې، ځان غوښتنې غریزه وټوکوي او نورو ته د تنګنظرۍ پلمه په لاس ورکړم، له خپل ولس څخه مې هیله ده چې زما او د خپلو ارمانونو ملاتړ وکړي، زه که د پورته یاد شویو او نورو اتلانو د لارې په لارویانو کې حساب شم نو دا به زما لپاره د لوی ویاړ ځای وي، زه ځان د هېڅ ډول القابو او ویاړنو مستحق نه ګڼم.

خو د خپل ولس د یوه خدمتګار په توګه د تل لپاره د خپل مظلوم ملت خدمت ته چمتو یم، د خپلو مشرانو له خوا به امر وي او زموږ له خوا به چټک ګامونه.

## درنو هېوادوالو او د رسنیو د بیان پلویانو!

زموږ په اوسنۍ مبارزه کې دا په ډاګه شوه چې کومې رسنۍ هېوادپالې دي، کومې پردیپالې او کومې تنظیم پالې؟ پردیپالو رسنیو د ملت ددې سترې حماسې پر وړاندې تبلیغات وکړل، خو له شرمه یې تصویرونه نشر نه کړای شول. ان ملي ټلوېزیون چې په کار وه د ټول

ملت ټلوېزیون وای، یوازې د اسلامي جمعیت او په هغه کې هم د نظـار شورا د ډلګۍ د یوې انحصاري رسنۍ په ګوته یې خپله څېره څرګنــده کړه. د ژوندون ټلوېزیون پر ضد یې ډېرې وړې مظاهرې هم نشر کــړې، خو د ژوندون، اسلامیت او افغانیت په ملاتړ یې د ډېــرو لویــو مظــاهرو خبر هم خپور نه کړ. د خپل مظلوم ولس په استازۍ له ملتپالو رســنیو مننه کوم او د تنظیمپالو او پردیپالو رســنیو غندنــه کــوم، د هغــو پــر وړاندې به زموږ مبارزه دوام لري.

درنو هېوادوالو!

یو ځل بیا له خپل ټــول مظلــوم، غیرتــي، بااحساســه، بادرکــه، بادرده، بانظمه، مفکر، مدبر، اوسېله ناک، صــابر، بــاکلتوره، باشــهامته ملت څخه د زړه له کومي مننه کوم، مننه مننه مننه او بیا هم مننــه، د خپلو میندو، خویندو، علمای کرامو، مساپرو، کورمېشتو او بهرمېشتو افغانانو د دعاګانو او ملاتړ په هیله.

ژوندی دې وي افغانستان

سر لوړی دې وي افغان ملت

رپانده دې وي د افغانستان درې رنګه ملي بیرغ

تل دې وي اسلامیت او افغانیت

مړه او سپېره دې وي د افغان او افغانیت

اسلام او اسلامیت پټ او ښکاره دښمنان

مړه دې وي پردیپال

ژوندي دې وي هېواد پال

# بيا هم افغانيت او ملي هويت

دا ليکنه په واقعيت کې يوه وينا ده او تر هغه يوازې يوه شپه وروسته د ژوندون ټلوېزيون پر څپو خپره شوه چې ښاغلي ډاکټر اشرف غني تر خپل حاکميت وروسته په پټو سترګو په رسمي جريده کې د نفوسو د احوالو ناقانونه مصوبې د خپرېدو امر ورکړ. په دې کې د بې هويته تذکرې مسئله هم راغلې وه.

د کايناتو د هغه ستر رب په نامه چې د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی، نه له چا پيدا دی او نه ترې څوک پيدا دي، خو لکه څنګه چې يې دا ټول موجودات پيدا کړي د سترګو په رپ کې يې فنا کولای شي، له امير څخه فقير، له فقير څخه امير، له غريب څخه غني او له غني څخه غريب جوړولای شي، هغه چې د غرور په نيلي سپور وي او د پاچاهۍ نشې يې د عقل وزرونه تړلي وي، خو دی ددې توان لري چې:

په يوه ګردښت يې پرېباسي له برمه
نه يې غشی نه لېندۍ وي نه يې سپار

ګرانو هېوادوالو! زه نن نه د کومې ډلې، نه د کوم ګوند، نه د کوم تنظيم، نه د کوم ولايت، نه د کوم سمت، نه د کوم رسنيز مرکز او نه هم د کوم زور او کومو زرو له ادرسه او نه هم د کوم چا په استازۍ تاسې ته

مخاطب یم، زه یو عادي افغان یم او پر دې ویاړم چې د خپل عمــر پــه نږدې (۴۷) کلن بهیر کې مې نه د چا مال خوړلای او نه مې څوک وژلي دي، نه مې چاته ورک شه یا ګم  شو کله ویلي دي، خو وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وایمه، نه یمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي.

**ګرانو او خوږو افغانانو!** له هغې ورځې چې د پخواني شوروي اتحاد لښکرو زموږ پر هېواد یرغل وکړ، نو نو له همغې ورځې راهیســې هــېڅ افغان ښه ورځ نه ده لیدلې، د روسانو په یرغل کې نه یوازې زموږ هېواد ته درانه زیانونه ورسېدل، بلکې ستر معنوي او کلتوري زیانونه یې هــم واړول. د کلتوري او ملي زیانونو په لړ کې زموږ ملي هویت ته هم سخت زیان ورسول شو. روسانو او د هغو کورنیو تالیخثو د ملي هویت او واحد افغان ملت  لپاره نوي، متضاد او بېلابېل تعریفونه وړاندې کړل، خو هغه هېواد پال افغانان چې د روسانو پر غرضو او مرضونونو پوهېدل، پر خپل وخت یې د روس پلوه ډلو د شومو حرکتونو پر وړاندې مبارزه وکړه، کله چې شوروي لښکرې ماتې شوې، نو بیا یې ځای د فارس او پنجاب نویو راټوکېدلو قوتونو او عربي شبخانو ونیو او روس غچ اخیستونکي ورسره یو ځل بیا ملګري شول او بیا هم زموږ پر ملي هویت او ملي وحدت لــه څو خواوو  یرغلونه پیل شول. ددې مثلث او مربع لمبې لا سړې شــوې نه وې چې د طالبانو د ترخه نظــام او نړیوالــو اړیکــي د اور لیکــې تــه ورسېدل او یو ځل بیا هېوادوال  د اور پر تبۍ کېنول شــول، د بــن پــه کنفرانس کې یوې محدودې سیمې، یوې ولسوالۍ او یوه روس پلــوه او ایران پلوه متعصب ګروپ ته  سیاسي واک وسپارل شــو، د ولســواکۍ انګازې او اوازې هرې خواته خپرې شوې، خو په نظــام کــې د واکمنــو

جنګسالارانو پر خلاف چا د نیوکې چغه نه شوه پورته کولای، یو تــن د ولس په اصلي رایو نږدې درې ځله ولسمشر شو، خو (ولس) شاته پاتې شو او (مشــر) د ارګ د دېوالونــو دننــه د جنګســالارانو پــه ډول ډول ناقانونه معاملو پوره دیارلس کاله تېر کــړل، هــر ملتپــال او هېوادپــال شخص چې په دې بهیر کې د عدالت چغه پورته کوله او په نظام کــې د واکمن فساد او سیکتاریزم پر وړاندې به ودرېده، هغه بــه پــه بېلابېلــو فاشیستي او نشنیلستي تورونو تورنېده او د فعالیــت ســاحه بــه یــې محدودېدله. په (۱۳) کلونو کــې د پخــواني فــارس او اوســني ایــران، فاشیستي مکروب دومره د دولت په رګونو کې ننوت چې نږدې هر رګ یې د ایران د هیلو تمثیل کاوه، له هرې خوا پر افغاني هویــت بلوســې رواني وې، د پنجاب فاشیستي کړیو چې لا له نیمې پېړۍ راهیسې یې له افغاني هویت او ملي وحدت سره اساسي کینه لرله، د ایران له خاینو کړیو سره هماهنګ عمل ته راودانګل. ایرانپالې رسنۍ په حکومت کــې دومره فعالې وې چې معاش او مادي امتیازات یې له نړیوالو ټــولنې پــه تېره بیا له غربي نړۍ څخه ترلاسه کول، خو فکر، انګېزه او عقیده یې د ایران اخوندانو پالــله. د هېواد اکثریت چې د طالبانو د افــراط قربــاني شوی و، په قصدي ډول حاشیې ته راکــاږل شــو او پــه هېــواد کــې د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي هویت د حفاظت لپاره دوراثت خلا رامنځته شوه، له دې خلا څخه ایرانپالو او پنجابپالو کړیو په سرعت ســره ګټــه پورته کړه او د یادو شویو کړیو د نفوذ لپاره یې پراخه زمینه برابره کړه، پر ملي ترمینالوژي او نومونو د ایران د فارس ژبنۍ یرغل پیل شو او پــه زره بین یې هغه کلمه یا لغت څارل چې له کلونو کلونو دلته دود وو او د افغانیت رنګ یې لاره، نو اتومات به یې ورته ایراني لغت د متبــادل پــه

توګه غوره کړ او ایرانپالو رسنیو به یې پر تبلیغ لاس پورې کړ. په تېرو دیارلسو کلونو کې تر (۵) زیات ټلوېزیوني چینلونه او تر (۲۰) زیاتې چاپي رسنۍ په مستقیم ډول د ایران له خوا وچلېدل او لا هم چلېږي، د دغسې یو حالت په مقابل کې چې هر مسلمان او هېوادپال افغان سر پورته کړی، نو هغه ته د سر تر وېښتانو زیات دښمنان راټوکول شوي دي. زه د هغو افغانانو له جملې څخه یم چې له تېرو (۳۰) کلونو او په تېره بیا د تېرو (۱۳) کلونو په بهیر کې د روس، ایران او پاکستان دې شیطان مثلث ته ښه په ځېر سره متوجه وم او څه چې مې له واکه شوي، هغه مې د هېواد د ملي ګټو او ملي هویت د خوندیتابه لپاره کارولي دي.

کله کله داسې هم شوي چې زموږ د ملي، اسلامي او انساني مبارزې پر وړاندې موږ ته خپل خلک لمسول شوي، تطمیع شوي، سپکې او سپورې یې راته ویلي، په سلو نومونو یې یاد کړي یو، خو موږ خپله اوسېله او زغم له لاسه نه دي ورکړي.

له هغې ورځې چې په افغانستان کې د هویت د تذکرو یا الکترونیکي تذکرو د جوړښت او وېش خبره مطرح شوې ، نو له همغې ورځې ایران او ایرانپالې کړۍ په هڅه کې دي چې هم د هویت د تذکرو په بڼه او ژبه کې تغیر راوړي او هم یې په محتوا کې، د دوی د شومو هڅو پر وړاندې له همغه پیله ما او موږ هم خپلې ملتپالې هڅې پیل کړي، هره دروازه، هر ور مو ټکولی، د هر ملتپال، هېوادپال چارواکي، زورواکي، کمواکي، کورواکي، ډېرواکي، مفکر او نا مفکر زنې او لاسونه مو نیولي، عذر ونه مو ورته کړي چې د خدای لپاره لږ متوجه شئ، د ملت پر هویت یو سېلاب راروان دی. پخواني ولسمشر حامد کرزي ته شپږ میاشتې

منتظر شوم چې د هویت د تذکرو په باب ورته خپل نظر ووایم، سره له دې چې دده د دفتر په لس متری کې مې دفتر و، خو وخت یــې را نــه کړ، بیا مې ورته لیک ولیکه، ویل یې هېڅکله به داسې نه کېــږي چــې هویت ته زیان ورسېږي، خو اخر یې هغه څه وکړل چې هیله تــرې نــه کېده، د نفوس د احوال ثبت قانون په داسې یوه بڼه ملي شورا تــه لاړ چې د وزیرانو شورا او عدلیې وزارت تر منځ هم په متنونو کې تــوپیر و! وزیرانو شورا یو متن تصویب کړی و او عدلیې وزارت بل څه لېږلــي وو، ملي شورا کې ایرانپالي او پردیپالي ګروپونــه لــه بېلابېلــو لارو، چــل، فریب، مهارت، توطیې، تطمیع او دولتي زور څخه په ګټې اخیســتنې د (دین) او (ملت) د دواړو کلمو په مخنیوي کې بریالي شول، دې خبرې نو هغه وخت زور واخیست چې په شمال کــې یــو میلیــاردر زورواکــي چارواکي پښې ودربولې چې د هویت په تذکرو کې دې د (افغــان) پــر ځای د هر چا (قومیت) ولیکل شي، نــو پــه کابــل کــې د ســمبولیک ولسمشر زړه هم سست شو. کله چې په ولسي جرګه کــې یــو شــمېر ماهرو پردیپالو منافقینو په چل او فرېب د ملي شــورا اکثریــت هېــواد پال، خو کم کفایته او بې کفایته وکیلان غافلګیر کړل او د هویــت لــه تذکرې یې د (دین) او (ملت) دواړه ارزښتونه حذف کړل او د یوې (بــې دینه) او (بې ملته) تذکرې د وړاندې کولو هڅه یې وکړه، نو یــو زیــات شمېر هېوادپالو او ملتپالو، اسلامپالو افغانانو د هغوی پر وړاندې لاریون وکړ. کله چې ایرانپالو کړیو د ولس د غبرګون زور ولیــد، نــو بیــا یــې ژوندون ټلوېزیون ته پلمې جوړې کړې او په دې کړۍ کې ټولې ایرانپالې او پنجابپالې کړۍ سره راټاله شوې، خو د لوی خدای (ج) په فضــل او د خپل ولس په ملاتړ ژوندون لکه څنګه چې ازاد و، هماغسې ازاد پــاتې

شو، سترې محکمې لاریونوالو سره ژمنه وکړه چې کله هم حکومــت دا قانون سترې محکمې ته محــول کــړي، نــو د هېوادوالــو دې قــانوني غوښتنو ته به قانوني جامه ور واغوندي. کله چې ملي شورا د هېوادوالو غبرګون ولید، نو په خپل ګډ کمیسیون کې یې پرېکــړه وکــړه چــې د (دین) ستون دې ولیکل شي او په مقابل کــې دې ټولــو تــه (اســلام) ولیکل شي خو پر (ملت) یانې (افغان) یې بیا خاورې واړولې. مــوږ بیــا سترې محکمې ته لاړو، قاضي القضات وویل جې ستاسو داعیه قانوني ده، خو ولسمشر باید موږ ته دا قانون راولېږي چې له اساســي قــانون سره یې تطابق وڅېړو، ټولې هڅې مو وکارولې چې ولسمشر کرزي سره باید وګورو، خو هغه، هغه مهال موږ ته وخت راکړ چې ولسمشر ته ددې قانون د مصوبې پنځه لسمه ورځ وه، دا چې پر دې ورځ څه تېر شول او څوک په دې مجلس کې شامل وو، دلته یې کټ مــټ د ټــولې ناســتې راپور وړاندې کوم. دا ناسته د ۱۳۹۲ ل کال، د دلوې میاشتې پر (۶)مــه نېټه شوې وه.

# ملي هويت او ولسمشر

## (له ولسمشر حامد كرزي سره د اسلاميت او افغانيت په باب د ځانګړې كتنې جزيات)

((مخكې تر دې چې ولسمشر حامد كرزي سره د افغانيت او اسلاميت په باب د ځانګړې كتنې جزئياتو ته راشم، مجبور يم، لږ لنډې تېرې ماضي ته ورستون شم.

له تېرو څو مياشتو راهيسې د ملي هويت يا د تابعيت د تذكرو پر سر جنجال روان دی. خبره ان تر مظاهرو، خوابديو او ډېرو زړه بداويو پورې هم ورسېده. په دې بهير كې رښتيني، اسلامپال، هېوادپال او ملتپال افغانان هم معلوم شول. ورځچاري، ځانساتي، ځان ګټي او افغان ضد اشخاص او ډلګۍ هم ټول په ډاګه شول. خبره له شف شف څخه شفتالو ته راووته!

د افغانستان ملي تحريک په ګډون ګڼ شمېر مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو او مدني حركتونو يوځل د ملي شورا او بيا د سترې محكمې مخې ته لويې مظاهرې وكړې. دا مظاهرې كه څه هم پر ځينو پرديپالو او ځانساتو ښې ونه لګېدې، خو د ولس روحيه يې تر دې حده پياوړې كړه چې سړی ورته يو نسبي، فرهنګي، مدني او حقوقي وړوكي اوښتون ويلای شي. دې مظاهرو د ټولو هېوادوالو په تېره بيا د مظلوم

اکثریت ولوله راوپاروله او روحیه یـې ورتـه دومـره قـوي کـړه چـې هېوادوال یې د لا لویو مظاهرو لپاره جوګه شول.
د لاریونوالو غټ هدفونه همدا وو چې د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) ستون ولیکل شي او په دې ډول دې د اسلام او افغان د تثبیـت لپاره له اساسي قانون او ټولو بشري او مدني قوانینو سره سم اقـدام وشي. ددې دوو ارزښتونو پټو او ځینو څرګندو مخالفینو هڅه وکړه پـر (ژوندون ټلوېزیون) او شخصاً پر ما (محمداسمعیل یـون) فشـار راوړي چې له دې سترو ارزښتونو او ایډیالونو څخه لاس په سر شـم، چـې د ملي داعیې دا خبره همداسې ګونګه پاتې شي. پر ژوندون ټلوېزیون له فشار راوړلو څخه هدف همدا و چې ددې رسنۍ له لارې د خلکو پیغام رسول کېږي او د ولس غږ پورته کېږي، که دا رسنۍ ټکنۍ او یـا وتـړل شي، نو پر اوسني وخت دا کار د افغانیت او اسلامیت د داعیې د تړلو او یا هم ددې ایډیالونو د ټکني کولو په مانا ګڼل کېږي. د دوی بل هدف دا و چې د خلکو ذهنیت له اصلي موضوع (اسلامیت او افغانیـت) څخـه څنګزني موضوع (ژوندون ټلوېزیون) او د هغه تعلیق تـه راواړوي. خـو زموږ باغیرته ملت د شعوري هڅو او لاریونونو په ترڅ کې هم د ژوندون د تعلیق او تړلو خطر ډېر ژر دفع کړ او هم د خپلو ایډیالونو د بریا په لټه کې شو. د ولس رښتینو بچیانو د مشرانو او ولسي جرګې له مشـرانو او بېلابېلو غړو سره د خپلو کتنو په ترڅ کې هغو ته په ډاګـه کـړې او دا خبره یـې تعقیـب کـړې وه چـې دوی لـه دې دوو ارزښـتونو څخـه تېرېدونکي نه دي. سترې محکمې ته یې د خپل (۱۳) ماده یي پرېکـړه لیک په ترڅ کې هم دا په ډاګه کړې وه چې د اساسي قانون د دریېمـې او څلورمې او نورو مادو له محتویاتو سره سم دوی سل په سـلو کـې د

(اسلام) او (افغان) د کلیمو لیکل غــواړي. د ګرانــو هېوادوالــو د ګڼــو فشارونو له امله د مشرانو او ولسي جرګې ګډ کمېسیون پرېکړه وکــړه چې د هویت په تذکرو کې دې د نــوم ترڅنــګ (تخلــص) او د (دیــن) ستون زیات شي، خو د ملت په نامه راغلو په اصطلاح استازو یوځل بیا د (ملت) ستون ته شا واړوله، خو زموږ ګرانــو هېوادوالــو، تحریکوالــو، ژوندونوالو، لیکوالو او نورو مخورو پر دې فشاري پرمختګ بســنه ونــه کړه، دوی وویل که څه هم دا یو پرمختتګ دی خو لا هم په ســلو کــې پنځوس برخې مزل پاتې دی، موږ نه غواړو د یوه ارزښت په لیکلو سره بل له منځه یوسو؛ اسلام ولیکو، ملت هېر او نفې کړو او یا ملت ولیکــو اسلام له سره تېر کړو، موږ دا دواړو ایډیالونه غواړو او دواړه د تــذکرې پر لومړي مخ غواړو.
تحریکوالو، ژوندونوالو، مدني او فرهنګي ټولنو او ځوانو خوځښتونو یو ځل بیا د بېلابېلو غونډو او متواترو اعلامیو له لارې له ولسمشر، سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون څخه وغوښــتل چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون دا نیمګړې او ناقانونه پرېکــړه رد او د تعدیل لپاره یې پرېکړه وکړي.
زه (یون) په خپله د افغانستان ملي تحریک او ګڼو فرهنګي ټولنــو پــه استازۍ سترې محکمې ته عارض شوم او د بېلابېلو ټولنو ګډه اعلامیه او غوښتنه مې د سترې محکمې سرپرست (قاضــي القضــات پوهانــد عبدالسلام عظیمي) ته ورسوله له هغه ســره مــې پــه دې اړه رســمي ملاقات وکړ او د ټولو هېوادوالو غوښتنه او اندېښنه مې ورسره شریکه کړه، ما له قاضي القضات صیب څخه وغوښتل څرنګه چې د ملي شورا وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې له پنځمې فقرې سره

په تضاد کې ده، ستره محکمه باید د نفوسو د احوالو د ثبت دا مصوبه د اساسي قانون له محتویاتو سره وڅېړي چې سمون ورسره لر ي که پــه ټکر کې ده؟ او په دې باب خپله پرېکړه ولسمشر ته صادره کړي، قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي ماته وویل ((ستاسو خبره سمه ده د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د محتویــاتو او پــه تېــره بیــا لــه څلورمې مادې سره سمون نه لري مور له اساسي قانون ســره د نــورو قوانینو مطابقت څېړو، په دې شرط چې حکومت یــې لــه مــوږ څخــه وغواړي، نه په خپل سر د قوانینو مطابقت څېړو او نه هم له دولــت یــا حکومت پرته د نورو نــادولتي، سیاســي، ټــولنیزو او نــورو ټولنــو پــه غوښتنه د قوانینو مطابقت مطالعــه کــوو))، پوهانــد عظیمــي چــې د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون غړی هم و، دا هم وویل: ((کله چې اساسي قانون جوړېده، نو فکر وشو چې که د هر چا په غوښتنه له نورو قوانینو سره د اساسي قانون د تطابق څېړنه مطرح شي، نو له ســترې محکمې څخه به خپل ټول اساسي کارونه پاتې وي، همدا قــوانین بــه څېړي، نو ځکه ددې غوښتنې اعمال حکومت ته محول شو.)) پوهاند عظیمي بیا قانون ته لاس کړ په دې باب یې یوه مــاده ولوســتله چــې ستره محکمه د حکومت په غوښتنه له اساســي قــانون ســره د نــورو قوانینو مطابقت څېړي. پوهاند عظیمي وویل: ((که تاسې غواړئ چې د ملي شورا دا پرېکړه له اساسي قانون سره په مطابقت کې وڅېړل شي، باید حکومت ته خپل عرایض وړاندې کړئ چې هغه یې موږ ته راولېږي او موږ به بیا دا موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په غونــډه کــې مطرح کړو.)) کله چې زه د قاضي القضات له دفتره راوتلم، نو پر همغــه ورځ مو جمهوري ریاست ته د همغې اعلامیې د متن یوه کاپي ورولېږله:

یوه کاپي مې د ولسمشر فرهنګي چارو مشاور ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) او بله مې  هم د ولسمشر د دفتر رئیس ښاغلي (کریم خرم) ته ،چې دوی یې ولسمشر ته ورسوي ددې اعلامیې په متن کې راغلــي وو: ((تر هغه پورې چې جمهور رئیس له ســترې محکمــې، د اساســي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون او نور حقوقپوهانو سره سلا مشــوره نه وي کړې، باید د ملي شورا ناقانونه مصوبه توشیح نه کړي)) له نېکه مرغه چې اعلامیه ولسمشر ته رسېدلې وه، یوه ورځ وروســته ورتــه د توشیح لپاره د ملي شورا مصوبه هم راغله، ولسمشر د اعلامیې د متن منطق ته په کتو سره د ملي شورا مصوبه معطل او له توشیح څخه یــې ډډه وکړه. خو د هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو بنسټونو اعلامیه ســاعت په ساعت د (ژوندون ټلوېزیون) پر څپو خپرېدله او هېڅ وقفه په کې نه راتلله. دې سره موږ جوخت له بېلابېلو لارو او اشخاصو، لکــه ښــاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل)، (کریم خرم)، (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، (ډاکتر صادق مدبر) او نورو اشخاصو له لارې هره شپېه او پرلــه پســې ډول هڅه کوله چې له ولسمشر سره لیدنه وکړو او د بې هــویتۍ ددې سترې غمیزې په باب ورته خپل دلایل ووایو، خو په خواشــینۍ ســره چې بریالي نه شو، یوه اوونۍ وروسته ولسمشر د عدلي او قضایي چارو کمېسیون په غونډه کې دا موضوع مطرح کړه. په دې غونډه کې قاضي القضات (عبدالسلام عظیمي)، د عدلي او قضایي چــارو د  کمېســیون غړي نصرالله ستانیکزی، د عدلیې وزیــر (حبیــب الله غالــب)، د ملــي امنیت شورا سلاکار (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، د جمهور ریس دفتــر رئیس (کریم خرم)، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رئــیس (ګل رحمن قاضي) او ځینې نور اشخاص شامل وو. په دې غونــډه کــې

هم د هویت پر تذکرو بحث وشو، داکتر سپنتا او نصرالله ســتانیکزي د هویت په تذکرو کې د (افغان) کلیمې پر لیکلو ټینګار کړی و او پــه دې برخه کې یې ګڼ شمېر دلایل راوړي وو، خو غونډې کومه پایله نه لرله، یوه خبره په کې دا شوې وه چې د (سردار محمد داودخــان) د وخــت تذکره دې په بام کې ونیول شي، همغه تذکره یې غونډې تــه راوړې وه. څرنګه چې هغه وخت (ملت) نه و لیکل شوی، نــو د (ملــت) د کلمــې مخالفینو ته دا یو غټه پلمه په لاس ورغله، د غونډې عمومي په تېره بیا د ولسمشر روحیه دا وه چې همدا تذکره ښه ده. کله چې موږ خبر شــو نو بیا له کریم خرم، ډاکتر سپنتا او هېوادمل صیب سره په تماس کــې شو او ورته ومو ویل چې په هېڅ وجه دا خبره د منلو وړ نه ده، تاسې د داودخان د وخت په تذکره کې یوازې همدا د (ملت) د یوې کلمــې نــه لیکل معیار نیسئ او که ټوله تــذکره؟ مــا لــه ښــاغلي کــریم خــرم او هېوادمل صیب سره ډېر تېزې خو له ډاکټر سپنتا سره پــه تــول تللــې خبرې وکړې:

کریم خرم راته وویل: ((د داودخان د وخت تذکره څنګه ده؟ هلته خــو ملت نه شته؟)) ما ورته وویل: ((د داودخان د وخت په تذکره کــې خــو نورې ژبې هم نه شته، هغه کاغذي وه، دا الکترونیکي، هغه ټوله پښــتو وه، دا په څو ژبو ده؟ ایا دا حکومــت هــم د داودخــان د حکومــت پــه معیارونو برابر دی؟ د داودخان په وخت کې کوم والي له افغانیته انکــار کولای شو؟ شورا ددې جرئت درلود چــې افغــان ضــد او اســلام ضــد حرکت وکړي، داودخان خو قومي او سیمه ییز تخلصونه هم په همــدې خاطر لغوه کړي وو چې واحد ملت جوړ او قــوي شــي، اوس خــو ټــول حکومت پر سیمو او قومي ډلو وېشل شوی، کوم کار مو د داودخــان د

حکومت پر معیار برابر دی، چې یوازې هلته د (ملت) کلمې له نشتوالي څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږي، که د داودخان تذکره معیار وي، نو بیا ټوله تذکره معیار کړئ، نه یوازې یوه کلمه. په هغه تذکره کې خو (دین) هم ذکر و، خو د اوسني حکومت په طرحه کې خو نه (دین) و او نه (ملت).

له ښاغلي هېوادمل سره مې همدا خبرې وکړې، ډاکتر سپنتا راته په ټلېفون کې د قضایي کمېسیون د غونډې په باب وویل چې زما نظر له پخوا څخه په دې باب معلوم دی، زه د افغان د کلیمې پلوی یم (افغان) زموږ ملي او سیاسي هویت دی، تاسې کولای شئ له ښاغلي کریم خرم څخه چې په هغه جلسه کې ناست و، خو په جلسه کې یې هېڅ خبرې ونه کړې، زما د نظر په باب وپوښتئ. سپنتا وویل: (( باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، مسله قوم برایم مطرح نیست اما باید یک هویت داشته باشیم ان هویت ملي افغان است، صرف نظر از اینکه بعضی ها از کلمه افغان تعبیر دوګانه دارد، بعضی ها افغان به معنی پشتون تلقی میکند، اما ما افغان نه به معنی پشتون، بلکه به معنی هویت ملی و سیاسی ومدرن ان تلقی مینمایم. ما درجلسه قضایی به رئیس جمهور ګفتم که در فرانسه (۳۵) درصد (فرانس) زندګی میکنند اما همه باشنده ګان فرانسه (فرانس) را به حیث هویت ملی خویش قبول کردند، در افغانستان هم کدام مشکلی وجود ندارد که افغان را به حیث هویت ملی خود قبول نمایم.)) سپنتا زیاته کړه: ((په دې مسله کې زه تاسره هم نظره یم، سره له دې چې په ډېرو برخو کې زما او ستا د نظرونو ترمنځ اختلاف و او شته. خو په دې مسله کې زه ستا د نظر پلوی یم)) البته ډاکتر سپنتا د (دین) په انډول د (ملت) پر عنصر زیاته

تبصره وکړه او پر همدې توکي يې ټينګار کاوه، ځکه بحث هم د (ملت) پر کليمې و.
له ډاکتر سپنتا، سرمحقق زلمي هېوادمل او کريم خرم سره زما ټلېفوني ارتباطات له دې امله وو چې همدا کسان جمهور رئيس ته لاسرسی لري.
ددې خبرې يادول هم ضروري دي چې نصرالله ستانيکزي هم ډېر زيات معقول حقوقي دلايل وړاندې کړي وو، خو چا ورته څه خاص ارزښت نه و ورکړی. موږ چې د جمهوري رياست دې حالت ته پام وکړ؛ نو خواشيني شو، د ملي تحريک په ګډون مو د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ځوانو خوځښتونو او فرهنګي ټولنو مطرح اشخاصو ته بلنه ورکړه ، له هغوی سره مو مشوره وکړه او د يوې بلې لويې مظاهرې په لټه کې شو، يو شمېر ولايتونو کې هم له مطرح شخصيتونو سره په تماس کې شو او پر يوه وخت مو په ګڼو ولايتونو کې د لويو مظاهرو د جوړولو تکل وکړ. د مظاهرې لپاره مو د تدارک کمېسيون هم په پام کې ونيو، خو يو شمېر ملګرو وويل: ((يوځل بيا به له ولسمشر سره تماس ونيسو، که نتيجه يې ور نه کړه، نو بيا به خپل وروستی زور په مظاهرو کې راټولوو او څرګندوو)) بيا بيا مو کوښښ وکړ، خو زموږ د څو ځلي او پرله پسې هڅو سره سره له ولسمشر سره پر ملاقات بريالي نه شو. يوه اوونۍ وړاندې راته هېوادمل صيب زنګ وواهه چې رئيس صيب وايي تاسې د ملاقات لپاره خپل لېست راولېږئ، رئيس صيب ماته ويلي چې ملاقات برابر کړه. ما ويل څومره کسان؟ هغه ويل، لس پنځلس متخصص او پوه کسان چې له هر قومه وي، ما د (۲۲) کسانو لېست وربرابر کړ، چې د بېلابېلو سيمو او بېلابېلو قومونو مخور شخصيتونه

پکې وو، لېست مې ورولېږه، دوه ورځې وروسته له جمهوري ریاسته رنګ راغی، ستاسو لېست ډېر اوږد دی، رئیس صیب وایي، د (یون) په شمول یوازې پنځه تنه. بیا مې په لېست کې کمښت راوړ: یو (شېرعلم امله وال) چې په قوم پشه یي او ښه لیکوال دی، بل (جنرال غلام حسین هزاره)، د سیاسي چارو کارپوه، بل (عبدالحکیم تورسن)، په قوم تاجک او د سیاسي چارو کارپوه دی، څلورم شخص (چرند سنګ) د خوست د افغان سکانو له جملې څخه دی، او پنځم زه خپله وم، دا لست مې ورکړ، د دلوې پر (شپږمه) د یکشنبې پر ورځ مازیګر څلورنیمې بجې ملاقات برابر شو. کله چې په ګلخانې ماڼۍ کې د ملاقات ځای ته ورسېدو، نو لوی څارنوال (اسحاق الکو)، قاضي القضات (پوهاند عظیمي) ، ډاکتر مدبر، ډاکتر سپنتا، کریم خرم، او نور هم راغلي وو، پوه شو چې دوی هم دې غونډې ته راغلي دي، ولسمشر هم تشریف راوړ، تر سترې مشي وروسته یې ټول د کابینې د غونډو خونې ته دعوت کړو.

ولسمشر پر خپله څوکۍ او نورو په مشترک ډول دواړو خواوو ته کېناستو، د غونډې ټول ترکیب په دې ډول و:

۱- ولسمشر حامدکرزی

۲- قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي

۳- لوی څارنوال محمداسحق الکو

۴- عبدلیې وزیر حبیب الله غالب

۵- د علماوو شورا رئیس مولانا قیام الدین کشاف

۶- د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر رنګین دادفر سپنتا

۷- د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رئیس ګل رحمن قاضي

۸- د چارو د اداري لوی رئيس ډاکتر صادق مدبر
۹- د ولسمشر د دفتر رئيس کريم خرم
۱۰- پوهنوال محمد اسمعيل يون
۱۱- جنرال غلام حسين هزاره
۱۲- شېرعلم امله وال
۱۳- عبدالحکيم تورسن
۱۴- چرند سنګ

غونډه ولسمشر په دې ډول پيل کړه: ((بسم الله الرحمن الرحيم)).
ورونو دا غونډه يوه غير رسمي مشورتي غونډه ده، چې د يوې خاصې موضوع يانې د تذکرو په باب جوړه شوې ده.
يو شمېر ورونه چې د بېلابېلو فرهنګي، مدني ټولنو نمايندګي کوي (همداسې ده که نه؟ (ماته يې وويل، ما وويل هو) ماته عارض شوي وو او خپلې پاڼې يې رالېږلې وې، په هغو کې يې له ما غوښتي وو چې په تذکره کې دې د (دين) او (ملت) يا (اسلام) او (افغان) کلمې وليکل شي، دا ورونه اوس راغلي د دوی دلايل به واورو چې دوی څه وايي، بيا به په دې موضوع غور وکړو)).
ماته يې وويل: ((شروع يې کړه،!)) ما وويل: ((زه يې پيل کړم؟ ده وويل: ((هو!)) ما خپلې خبرې په دې ډول پيل کړې: (( بسم الله الرحمن الرحيم. د قدرمن ولسمشر، قاضي القضات صيب او نورو ټولو قدرمنو مشرانو او د غونډې د برخوالو په اجازه!... ماسره د هويت په تذکره کې د (دين) او (ملت) يا (اسلام) او (افغان) کليمو د ليکلو لپاره ډېر زيات دلايل شته، خو نه غواړم دلته ټول بيان کړم، نه وخت ددې ايجاب کوي او نه دلته داسې خلک ناست دي چې هغوی پر دې موضوع او يا

ددې موضوع پر باریکۍ نه پوهېږي، بلکې دلته ټول داسې خلک دي چې پر دې موضوع او د دې موضوع پر حساسیت، نزاکت او ضرورت ډېر زیات او ښه پوهېږي، نو ضرورت نه شته چې ډېر زیات توضیحات ورکړل شي. خو غتو ټکو ته مجبور یم اشاره وکړم: زموږ لرې ماضي، نږدې تېرې ماضي او حال ته په کتو سره (افغان) او (اسلام) داسې ارزښتونه دي چې دا ملت ورڅخه په هېڅ وجه تېرېدونکی نه دی، دې ملت پرې قرباني ورکړې، دا دواړه ارزښتونه نه د رایګرۍ موضوع ده، نه په رایګرۍ راغلي، نه پرې بحث او نظر غوښتنه کېدی شي. او نه څوک ددې حق لري چې پر هغو بحث وکړي. ټول بشري او زموږ انساني قانون ددې حق راکوي چې دا ارزښتونه خوندي وساتو، د افغانستان اساسي قانون (قانون مې وروښود) د څلورمې مادې پنځمه فقره او نورې مادې واضح کوي چې ددې ملت پر هر وګړي د (افغان) کلیمه اطلاقېږي او تذکره موږ فرد ته ورکوو، د هر فرد هویت (افغان) دی، هېڅ قانون، هېڅ شخص حق نه لري چې له ماڅخه په چل او فرېب او یا د قوانینو د دوران له لارې دا حق سلب کړي. افغانستان کې هېڅ قانون د اساسي قانون له محتویاتو سره په ټکر کې وضع کېدی نه شي. کوم قانون چې اوس ملي شورا له بېلابېلو لارو او یا هم د څو اشخاصو او کړیو د چالاکۍ او فرېب له لارې تاسو ته رالېږلی، دا د همدغه اساسي قانون د محتویاتو مخالف دی، نو ځکه مردود دی. د افغانستان نورو تېرو تذکرو ته په پام سره چې هلته په اکثرو کې (دین) او (ملت) راغلي، د اسلام او افغان کلیمې یې تسجیل کړي دي، د همدې اوسني حکومت په تذکره کې هم د (دین) او (ملت) کلیمې لیکل شوي، ریس صیب! تاسو په خپله غالباً پر ۱۳۸۲ ل کال یو فرمان صادر کړ چې د

هویت په تذکرو کې دې د ټولو لپاره افغان کلیمه ولیکل شي))، پــر دې مهال ولسمشر وویل ((بې شکه، ما په همدې خاطر دا کار وکړ چې ملي وحدت تامین شي)) ما ورته وویل: ((نو دا څوک و چې هم یې (دین) له تذکرې څخه وویست او هم (ملت)؟)) ما ورتــه ټــولې تېــرې تــذکرې ورښکاره کړې. ((بله خبره داده چې د نــړۍ نــورو مطــرح هېوادونــو د هویت تذکرې که هم وګورئ، اکثرو په کې خپل ملي هویت درج کــړی دی))، د لسو هېوادونو لکه قطر، کویټ، نایجریا، المان، برېتانیا او ځینو نورو هېوادونو تذکرې مې هم ورته ښکاره کړې، مخکې تر دې چــې زه تذکرې وښیم، ولسمشر وویل، ((نور هېوادونه څنګه دي؟)) مــا ورتــه وویل ((د اکثرو هېوادونو په تذکرو کې نشنیلټي ذکــر ده)) ده وویــل: ((پاسپورت مه یادونه، تذکره راښیه، ما ورته د لسو هېوادونــو تــذکرې راوړې وې، هغه مې ورته لاس په لاس مخې ته کېښودې، د المــان هــم په کې وه په نشنیلټي کې یې لیکل شوي وو (ډوچ) او د نورو هېوادونو هم، ولسمشر وویل: (سپنتا ته یــې ورښــکاره کــړه) ډاکټــر ســپنتا د ولسمشر ښي لاس ته په وروستۍ لیکه کې ناست و. هغه ته یې لاس په لاس ورکړې. هغه چې تذکرې وکتلې، د تائید سر یې وخوځوه.

جمهور رئیس د داودخان د وخت تذکره په لاس کې ونیوه، ویې ویــل: ((دادی دلته خو یې ملت نه دی لیکلی؟ څو ورځــې مخکــې مــوږ پــه جلسه کې همدا د داودخان د وخت تذکره معیار ونیوله، څرنګــه چــې هلته ملت نه و، نو موږ وویل چې دلته هم ورته ضرورت نه شته)).

ما ورته وویل: ((رئیس صیب د داود خان په تذکره کې مو همدا یو معیار په پام کې نیولی، چې ملت په کې نه شته که څنګه؟ هلته خــو (دیــن) هم شته، تاسو ولې دین کښلی و، ایا د اوسنۍ تذکرې بڼه هــم د هغــې

تذکرې په شان ده؟ شکل، ژبه او محتوا یې ټول په همغه شان دي؟ بله خبره داده چې د داودخان په وخت کې خو ملت ته هېڅ خطر نه و او نه چا ددې جرئت کولای شو چې د ملت پر وړاندې ودرېږي، د داودخــان په تذکره کې (دین) معیار نه نیسئ، خو (ملت) چې په کې نه شته بیــا همغه راټینګوئ؟)) دې وخت کې یوځل عدلیې وزیر غالب صــیب غــږ کړ، ((در تذکره ما دین بود)) ما ورته وویل: ((نه و، چېرته؟ نه دین و، نه ملت، دین بیا دویم ځل د مولوي صیب تره خېــل پــه وړانــدیز ولســي جرګې تصویب او په تذکره کې یې ځای کړ، د مشرانو جرګې په مصــوبه کې نه دین شته نه ملت)) غالب صیب بیا ټینګار وکړ، مــا وویــل: ((زه دوه ځله نورو ملګرو سره شورا ته په همدې خاطر لاړو چې تذکره کــې نه (دین) و نه (ملت).)) غالب صیب بیا ټینګار وکړ: ((دین بود تو خبــر نداری)) ما وویل: ((لاړ به شو د ولسي او مشرانو جرګې لومړیو بحثونــو او تائید شویو طرحو ته)) دې وخت کې پوهاند صیب عظیمي د غالــب صیب د نظر په باب وویل: (دین و، خو په ارشیف کې پــاتې شــوی)) دا چې د ارشیف مانا دلته څه ده؟ په دې پوه نه شوم، خو څه ناڅــه پتــه ولګېده، هغه طرحه چې وزیرانو شورا پاس کــړې وه، پــه هغــې کــې د (دین) کلیمه وه، خو کومه طرحه چې د عدلیې وزارت له خوا شورا تــه لېږل شوې، په هغې کې د (دین) کلیمه نه شته او یا هــم ددې خبــرې یادونه نه ده شوې چې د تذکرې پر لومړي مخ دې (دین) ولیکل شي.

دې وخت کې ولسمشر بیا وویــل: ((نــو چــې پورتــه لیکــل شــوي د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، نو بیا خو دواړه په کــې راغلل، افغانستان او اسلامي، نو بیا (ملت) او (دین) ته څه اړتیــا ده؟)) ما وویل: ((رئیس صیب د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت عنوان

او رسمي نوم دی، نه د (ملت) نوم دی، نه د (دین). دا عنوان وخت پـر وخت بدلیږي، خو زموږ (دین) او (ملت) نه بدلیږي، (اسلام) او (افغان) نه بدلیږي. یو وخت دلته د افغانستان شاهي دولت و، بیـا جمهوریـت، شو، بیا دموکراتیک جمهوریت شو، بیا اسـلامي دولـت، بیـا اسـلامي امارت، بیا موقته اداره، انتقالي اداره او دادی اوس اسلامي جمهوریـت دی، یو څو فیصده ددې احتمال هم شته چې سبا ته بیا اسلامي امارت شي. د دولتونو عنوانونه بدلیږي، خو(ملت) او (دین) نه بدلیږي. زمـوږ (دین) اسلام او (ملت) مو (افغان) دی، دا د دولت په عنوانونو پورې نـه تړل کیږي. بله خبره داده چې دې ته د ملي هویت تذکره هم وایي، نـو چې زما ملي هویت په کې معلوم نه وي نو د څه شي تـذکره ده؟ هغـه تذکره چې ستا ملي او عقیده یي هویت نه شي څرګندولای، هغه نـو د څه شي تذکره ده؟ څه ارزښت لري؟ لنډه دا چې موږ (بې دینه) او (بې ملته) تذکره نه غواړو او نه یې زغملای شو. دلته یو دولت په دې پلمـه سقوط شو چې په تذکره کې یې د (دین) ستون نه و لیکل شوی، اوس به یو حکومت په دې پلمه سقوط کیږي چې په تذکره کې یې د (ملـت) ستون نه دی لیکل شوی، نن چې یې د (افغـان) کلیمـه لـه تـذکرې وویستله سبا ته به یې له پاسپورته باسي، بل سبا بیا د افغانستان کلمه هم نه مني، پر هغې به هم راسره بحث کوي. بل په دې کې تـاوان څـه دی، که ولیکل شي؟)) جمهور رئیس وویل: ((هېڅ تاوان نه لري، بلکې ګټه لري، اته نوي فیصده ګټه لري.)) دې وخت کې یې عدلیې وزیر تـه مخ ورواړوه، ویې وویل: ((شما بګوید!)) هغه وویل: ((او جا ګفتـه شـد که جمهوری اسلامی افغانستان امده، دیګر ضـرورت نیسـت، همـین افغانستان ملت ما است دیګر ضرورت نیست که ملت نوشته شود یا نه

شود، همانجا همین فیصله شد.)) دا چې چا چېرې او څنګه دا فیصـــله وکړه موږ ته پته ونه لګېده، خو دومره اخیستنه مو وکړه چې د کابینې تر غونډې وروسته نور خلک هم شته چې ځانګړې پرېکړې کولای شي او (ملت) د خصوصي اشخاصو کار دی چې راوړي يې او که نه، دا خلک معلومېږي نه خو کارونه کولای شي. ما سملاسي وزیر صیب ته وویــل: ((افغانستان زموږ د هېواد نوم دی، د ملت نوم مو (افغان) دی، موږ باید د ملت او هېواد ترمنځ فرق وکړو. افغانستان رغېدلی له افغانه دی، نــو ځوک چې (افغان) نه مني (افغانستان) خو اتومات نه مني)).

ما وویل: ((زه نور دلایل هم لرم که وخت و، وروسته به يې ووایم، خــو اوس خپلو ملګرو ته نوبت ورکوم.)) جمهور رئیس، (حکیم تورسن) تــه اشاره وکړه چې خبرې پیل کړي! تورسن صیب وویل: ((به اجازه رئیس صاحب جمهور و تمام حاضرین محترم در این مجلــس، مــا میخــواهم گفته های خود را در چند کلمه مختصر عــرض بــدارم، تنهــا در مــورد همین موضوع، شخص سری تــذکره تابعیــت بحــث میکــنم گــر چــه موضوعات دیگر نیز وجود دارد که فعلاً وقت اش نیست، اکثــر رئــیس صاحب لازم دید، در یک فرصت مناسب دیگر باز بحث میکنم، رئــیس صاحب محترم! باید عرض شود که در طول ســی، ســی و پــنج ســال بسیاری ارزشهای مهم به این و ان عنوان از ما گرفته شد، تنها افتخــار که مانده، همین افغان و افغانیت ما و شما است، که تمام ملت را وصــل کرده، کلمه افغان به همه اقوام، خورد و کلان و هر فرد ایــن مملکــت اطلاق میشود، این مشخص به یک قوم نیست، افغان افتخــار ماســت، این افتخار از ما گرفته شود، دیگر خو چیز نه مانده، که گرفتــه شــود، همین هویت ملی ما (افغان) و (افغانیت) مانده اگر این هم گرفته شود،

دیگر چیزی نمی ماند، حالا که خارج میروم، همــه مــا بــه افغــان یــاد میشویم، اگر تاجک و ازبک، پښتون و اینها نوشته شود در خارج برای ما چه بگوید، تاجک کجا استی؟، تاجک تاجکستان، ازبک ازبکســتان، پشتون پاکستان، ما قرغیز هم داریم، تاتار هم دارم، اینها را چه بگوید؟ قرغیز قرغزستان یا قرغیز افغانستان، تاتار روسیه یا تاتار افغانســتان، در روسیه چندین قوم زندگی میکند ولی همه انها را روس میگوید، در تذکره هویت شان برای همه شان روس گفته میشود. همین هندو های افغان ما، اینقدر وطنپرست هستند، که ما هندوستان رفته بودیم، یک هندو افغان مارا تابعیت هندوستان میداد، یک شرط برایش مانده بود، که فقط جای تولد تانرا افغانستان نوشته نکو، هندو افغان مــا بــرایش گفت، ما در افغانستان تولد شدم، ما افغان هستم، افغان و افغانســتان افتخار ما ست، به خدا قسم که او هندو ما خاص از خاطر نــام افغــان و افغانستان تابعیت هندوستان را قبول نکرد، این وطن خانه مشترک ما است ما به هیچ وجه از افغان و افغانیت تیر شدنی نیستم و این افتخار باید از ما گرفته نه شود ونه ما به کسی به شمول شخص خــود شــما را حق میدهم، که هویت ملی ما از ما سلب شود، یک مورد دیگــر را نیــز میخواهم جناب رئیس جمهور به شما بگــویم، کــه شــما همیشــه در مبارزه جاری تان به خارجیها ازدیدکوچــه اهنگــری انتقــاد مینمایــد، خوب است که از کوچه اهنگری به کوچه زرگــری هــم قــدم بزنیــد از زرگران هم مشوره بگیرید، زرگران مشوره بسیار باریــک و ظریفانــه را میدهد، خوب است، کارشناسان و افراد چیز هم را نیز وقت بــه وقــت دعوت نماید و از انها نیز مشوره بگیرید!)) د تورسن صیب په خبرو کې د (کوچه اهنگری) کلیمې جمهور رئیس ته ډېر خوند ورکړ، ویې ویــل:

(( چون جنګ جنګ اهنګری است، از این خــاطر از کوچــه اهنګــری داخل میشم))

تورسن صیب وویل: ((ما ګپهای دیګر رانیز دارم خو فعلاً وقتش نیست که همه شان رابیان کنیم، فعلاً به همین ګپهای خود اکتفــا مینمــایم، تشکر از توجه شما!))

د تورسن صیب په خبرو پسې بیا جمهور رئــیس خبــرې پیــل کــړې: ((ګپهای تورسن صیب راست است، ما یک وقت در (شمله) بــودیم، در شمله هندوستان، یک روز در یک کوچه بازار پیاده میــرفتم، یــک دو سه تا طفل پشت ما می امد، خیرات میخواست، ما به یکی از انها یــک چند روپیه دادم، فکر کردم که هر سه اش از یک فامیل اســت، چنــد قدم دیګر که رفتم از همین سه طفل یک دختر پشت ما میدوه، به اواز بلند میګوید که به او پیسه دادی برای ما هم بدهید، ما پیســه نــدادم، در اخر به اواز بلند دوزدن شروع کرد، عجیب این که دشنام زدنش به پشتو بود، داسې ترخې کنځلې یې کولې چې ای ستا پلان او مدان چې هېڅ د یادولو نه دي، زه حیران شوم چې دا جلۍ څنګه پښــتو وایــي، دلته دا جلۍ او پښتو؟ بیا مې ورپسې ورمنډه کــړه چــې ویــې نیســم، پیسې ورته ورکړم، دې راڅخه منډه کړه، ما هم دویدم اینــا هــم، خــو ګیرش نه کردم، طفل دیګر که همرایش بود و از او کرده کمی خورد بود او را ګیر کردم، همداسې رپېده له ډاره، ما ویل مه ډارېږه، وهم دې نــه، دا راته ووایه چې تاسې دلته څه کوئ او دا پښتو دې څنګه زده کــړې؟ ده راته وویل چې موږ خو پښتانه یو، دلته اوسېږو موږ کور کــې پښــتو وایو، هغه بله مې خور وه، ټول کور کې پښتو وایو، بیا مې د هلک پر سر لاس تېر کړ. این هــا پشــتونهای بودنــد کــه ســابق از پاکســتان بــه

هندوستان رفته بودند و در شمله در نزدیک کوه های همالیه زنــدگی میکرد، پشتو را یاد داشت اما کلی انها خود را هنــدی میگفتنــد، و در تذکره شان (انډین) نوشته بود، به همــه هنــدی هــا انــډین (اطــلاق) میشود، همین (سلمان خورشید) که فعلاً وزیــر خارجــه هندوســتان است از لحاظ قومی پشتون است و در پشتون اپریدی است، در اپریدی هم کوکخیل است، مگر فعلاً نمیگه که پشتون هستم، اپریدی هستم یا کوکخیل هستم، بلکی میگه که هندی یا انډین هستم. در هندوســتان صدها قوم و صدها مذهب هستند، به همه شان انډین اطلاق میشــود، حتی مسلمانان هندوستان هم نشنلیتي خود را (انډین) میگوید. پس گپ های تورسن صیب راست که هندوهای افغان ما، در هر جای دنیــا که باشد، خود را افغان میگوید و به افغان بودن خود افتخار میکند.))

ولسمشر بیا جنرال غلام حسین هزاره ته نوبت ورکــړ، جنــرال هــزاره خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((به اجازه رئیس صاحب جمهور و همــه محترمین حاضر در این جلسه ما کمکی مــلا هســتم ملایــی صــحبت میکنیم، الله(ج) در قران عظیم الشان می فرماید: بســم الله الــرحمن الرحیم، يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ...

هدف ما ازین ایه کریمه اینبود که خداوند(ج) ما را شعبه شعبه افریده، برای تعارف یکدیگر مگر به نزد خداوند(ج) مکرم کسی است که تقــوا داشته باشد. وقتیکه ما برای تعارف خویش یک هویت نداشته باشیم، مردم ما را به نام چی و از کجا میشناسد؟ افغان و افغانســتان افتخــار ماست، ما سر افغان بودن خویش افتخار میکنم، یک تعداد اشخاص که انها نه نمایندگی از کدام قوم میکند. نه از کدام زبان و سمت گپ انهــا

جدا است، هیچکس حق ندارد افغانیت ما را از پیش ما بگیــرد، از ایــن خاطر ما تائید میکنم، اسلامیت و افغانیت باید در تذکره ذکر گردد. مــا از گپهای برادر خود اقای یون پشتیبانی میکنم و طرفدار ایــن هســتم که (دین) و (ملت) (اسلام) و (افغان) در تذکره ذکر گــردد کــه هویــت ملی ما مستحکم گردد.

گپ دیگر من به رئیس جمهور این است که ما خو این طرف و ان طرف در تلویزیونهای گپ میزنم، دولت را گوشتزد میکنم، کاستیها، نواقص و کامیابیها را برجسته میسازیم، خوب است کــه رئــیس صــاحب وقــت ناوقت این کارشناسان، اهل خبره و دیگران را دعوت نماید، از اینها در مورد مسایل کلان مملکت مشوره بگیرد، تنها سر چنــد نفرکــه ایــن طرف و ان طرف رئیس جمهور حلقه زده بــه اینهــا مملکــت جــور نــه میشود، به هر حال در بعضی مسایل از عملکردها و نظر رئیس جمهــور به خصوص در مورد عقد قرارداد امنیتی پشتیبانی مینمایم و در بعضی مسایل گیله ها و انتقاد های رانیز دارم. در اخر یک بار دیگــر گپهــای برادران خود را تائید مینمایم، و خواهان ذکر کلیمه (اسلام) و (افغــان) در تذکره هستم.))

جمهور رئیس د جنرال هزاره تر خبرو وروسته وویل: (( جنــرال صــیب گپهای ته در تلویزیونها میشنویم از همه چیــز خبــر دارم.)) بیــا یــې شېرعلم امله وال ته د خبرو نوبت ورکړ! شېرعلم املــه وال وویــل: ((د جمهور رئیس او ټولو قدرمنو مشرانو په اجازه، زما نوم شــېرعلم املــه وال دی، په قوم پشه یي یم، په پشه یي، پښتو او دري ژبو درېواړو ښې خبرې کولای شم او په همدې درېواړو ژبو لیکنې کوم. تراوسه مې څــو عنوانه کتابونه چاپ شوي چې دلته مې راوړي هم دي، رئیس صــاحب

تاسو ته به يې وروسته درکړم، په پوهنتون کې استاد يم، د حقوقــو او سیاسي علومو مضمون تدریسوم، لکه څنګه چې مې مخکې په خبــرو کې يادونه وکړه، زه په قوم پشه یي يم، خو ملت مــې افغــان دی او پــر افغان وياړم، افغان زما ملي هويت دی او د ټولو افغانانو ملي هويت دی، دا وياړ تقريباً زر کاله وړاندې موږ ته راکړل شوی په دې جغرافيــه کــې ټول اوسېدونکي افغانان دي. موږ هېڅا ته، حتی رئيس صیب تاسو تــه هم اجازه نه درکوو، چې زموږ د ملي هويت پر وړاندې ودرېږئ. رئــيس صاحب تاسو چې له امريکا سره د امنيتــي تــړون پــه بــاب دا دومــره جنجالونه جوړ کړي او دومره نانداری وهئ، دا په دې خاطر چې افغــان ملت ته ګټه ورسوئ، دا ولس سوکاله کړئ، کــه دا هــدف نــه وي، نــو دومره جنجالونو ته څه اړتيا ده؟ رئيس صاحب تاسو په دې تېرو دولسو کلونو کې د ملي وحدت د ټينګښت لپاره ډېر کارونه کړي دي، د خپلې واکمنۍ په دې وروستيو شپو ورځو کې دا بل ګام هــم پورتــه کــړه، دا قانوني کار دی، تاسې د اساسي قــانون ســاتونکي او عملــي کــوونکی یاست که چېرې تاسو دا کار ونه کړئ نو اينده کې به پر تاسو سخت تور پورې شي او ګټلی نوم به مو له خاورو سره خاورې شي.
نو زموږ غوښتنه ده چې قانون تعديل او د اساسي قــانون لــه روحيــې سره سم د افغان او اسلام کلمه د هويــت پــه تــذکرو کــې راوړئ، تــر اسلاميت او افغانيت نور پورته ارزښتونه موږ نه لرو، هېڅوک حــق نــه لري چې له موږ څخه دا ارزښتونه واخلي. موږ هر ډول قربانۍ ته حاضر يو، که د وينې تويېدنې تر بريده هم ورسېږي، لــه تاســې څخــه د يــو روشنفکره افغان په توګه هيله کوم، چې اساسي قانون تطبيــق کــړئ، ستاسې اساسي دنده هم د اساسي قانون تطبيق او ساتنه ده.)).

د شېرعلم امله وال تر خبرو وروسته ولسمشر (چرندسنګ) ته چې د افغان سکانو له جملې څخه دی، نوبت ورکړ. ولسمشر وویل: ((چرن سنګ اوس ستا نوبت دی وایه)) چرند سنګ وویل: د ریس صاحب او ټولو په اجازه، زه افغان یم او پر افغانیت ویاړم، البته (دین) مې له نورو افغانانو جلا دی، خو افغانیت کې ټولو سره شریک یم او ملت مې افغان دی، موږ پخوا هم په تذکره کې د (دین) او (ملت) د لیکلو غوښتنه کړې وه، اوس چې دین په کې ذکر شو، ښه شوه، څوک چې مسلمانان دي، هغه ته به د (دین) ستون په مقابل کې (اسلام) لیکي او څوک چې هندو وي، هغه ته به هندو لیکي، هندو خو زموږ مذهب یا دین شو، نو دا ملت مې څه شو؟ که زه یو بل ملک ته لاړ شم، نو هغه به ماته څه وایي؟ د کوم ځای هندو یې؟ د هندوستان هندو یې که د بل ځای؟ ملت دې څه شی دی، نو زه به ورته څه ووایم؟ څه موده وړاندې د (قاضي نذیر حنیفي) په نامه یووکیل په ولسي جرګه کې وویل: هندوان او سکان دې موږ ته دا ثابته کړي چې دوی څه وخت له هندوستان څخه افغانستان ته راغلي دي؟ دې ښاغلي ته باید وویل شي چې هندوان او سکان له هندوستانه افغانستان ته نه دي راغلي، بلکې دوی له دې ځایه هندوستان ته تللي دوی ددې وطن اصلي اوسېدونکي دي)).

دې وخت کې جمهور ریس وویل: ((بې شکه، بې شکه چې ددې وطن اصلي اوسېدونکي دي، ښه یې نه دي کړي چې ویلي یې دي، دوی له هندوستانه راغلي دي، دوی ددې وطن اوسېدونکي دي.)) چرند سنګ زیاته کړه: ((دا زه افغان یم، ددې وطن ټول هندوان او سکان ځان افغانان بولي، پر افغانیت ویاړو، موږ چې د دنیا هر ملک ته لاړ شو،

ځان ته افغان وایو، په هندوستان کې هم موږ ځان ته افغانان وایو، پــر افغان ویاړو، هلته زموږ عزت هم په همدې کېږي چې افغانان یــو، مــوږ غواړو چې دا افتخار له موږ څخه ښوک وانخلي، زموږ او د هندوستان د هندوانو او سکانو خو فرق په همدې افغانیت کېږي، که نه مذهب خــو مو له هغو سره یوشان دی، خو ملت مو توپیر لري، اوس چې ښوک موږ څخه دا ملي هویت اخلي، دا د هېڅا حق نه دی، نو رئیس صــاحب پــه پای کې بیا وایم چې په تذکره کې د (ملــت) او (دیــن) کلیمــې لیکــل حتمي او ضروري دي، د ملت په مقابل کې دې ټولو تــه افغــان ولیکــل شي او د (دین) په مقابل کې ښوک چې مسلمان وي، هغه ته (اســلام) او ښوک چې هندو مذهبی وي، هغه ته دې (هندو) ولیکل شي، دا زمــا نظر و چې تاسې ته مې وړاندې کړ.))

د چرند سنګ په خبرو پسې ولسمشر د امنیتي چارو ســلاکار (ډاکتــر رنګین دادفر سپنتا) ته نوبت ورکړ، چې خپلې خبــرې وکــړې. ډاکتــر سپنتا وویل: (( به اجازه همه دوستان! اول باید ما متذکر شویم که مــا در بسیاری مورد با همکار سابق خویش اقای یون اختلاف نظر داشتم و دارم ولی در این مورد ما نظر اینها راتائید مینمایم.

باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، قومم معلوم نیست که از کدام قوم هستم، ونه خود ما به قوم متعقد هستم، مادر مــا مربــوط قــوم طاهری است و در خانه ما اخرین کسیکه پشتو حرف میزد پدرم بــود، ما به قوم عقیده ندارم، ولی فارسی زبان هستم و زبان فارسی ما بعد از استاد واصف باختری خوب است، جناب رئیس صاحب من در این مورد بار ها به شما صحبت کردم و در جلسه اخری نیز سر موقف خود دوباره تاکید کردم. در این جلسه یک بار دیگر یاد اور می شوم که مــن یــک

افغان هستم، و افغان یک هویت ملی و سیاسي ما ست، صرف نظـر از ان که بعضی ها افغان را تعبیر دوگانه میدهد، بـرای مـا افغـان بـودن هویت ملی است، در هر مملکت چنـدین قـوم زنـدگی مینمایـد، مـا نمیتوانیم، به هر قوم خورد و کلان یک هویت علیحده ملی بدهیم مـا این مثال را چند بار یاد اور شدم، یک بار دیگر تکرار میکنم کـه یـک جامعه یا ملت مانند یک کور یا پوش پیاز است، که پرده اخری یا پـوش کلان تمام پرده های انرا پوشانده، حالا ما نمیتوانیم که به هر پـرده ان نام علیحده بدهم، کلش به نام پیاز یاد میگردد، افغانستان هم کشوری است که در ان اقوام گوناگون زندگی میکند ولی همه اینهـا در پـوش افغان گنجانیده میشود، و پرده افغان همه اینها را افاده میکند. تمـام جوامع بشري، کشورهای پیشرفته این مشکل را حل نموده، بطور مثال فرانسه، در فرانسه سی و پنج در صد (فـرانس) هســتند، ولــی همــه باشندگان ان کشور (فرانس) رابه حیث هویت ملی خود قبول کرده.))

ډاکتر سپنتا د المان په باب وویل: ((در المان به همــه المانیهـا (دوچ) نوشته میکند، هفت سال پیش ما پاسپورت المان داشتم، شــما خبـر داشتید که ما او را پــس تســلیم دادم، فعــلاً پاســپورت نــدارم، ولــی اولادهای ما پاسپورت المانی دارد، در پاســپورت انهـا (دوچ- افغـان) نوشته است. مثال های زیادی وجود دارد، رئیس صاحب مـا از روز اول برای تان گفتم، که افغان هویت ملی ماست و حــالا نیـز مـا نظریـات برادرها را درین مورد تائید مینمایم. اگر ستون (ملیت) ذکر گـردد و در مقابل اش به همه (افغان) نوشته شود کاری درستی است.))

تر ډاکتر سپنتا وروسته (استاد نصرالله ستانیکزي) ته نوبـت ورسـېد. هغه خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((د محترم رئـیس صـاحب او ټولـو

دوستانو په اجازه، زه نه غواړم ډېرې خبــرې وکــړم، اکثــرو دوســتانو خبرې وکړې، زه د دوستانو خبرې تائیدوم، منتها د داودخان د وخت د تذکرو په باب یوه یادونه کوم، په تېره جلسه کې هم دا تذکره یاده شوه چې (ملت) په کې نه دی یاد شوی، هلته هم ما خپل دلایــل درلــودل، اوس یو ځل بیا د هغې تذکرې په باب خپل دلایــل وایــم. د داودخــان تذکره د (۱۳۵۳ل) کال په بهیر کې وویشل شوه، دا هغه وخت و چې د مدني حقوقو قانون نه و تصویب شــوی، پــر (۱۳۵۵ل) کــال د مــدني حقوقو قانون تصویب شو. په دې قانون کې راغلي چې فــردي او ملــي هویت د یوه هېواد د هر تبع حق دی او دا قانون هــم د داودخــان پــه وخت کې تصویب شوی، که داودخان دویم ځــل تــذکرې وېشــلې نــو ضرور یې په کې د ملت ستون زیاتوه، ځکه چــې د هویــت یــا تابعیــت تذکرې له دې قانون سره په مخالفت کې نه شوې تقســیمېدلای، خــو داودخان وخت پیدا نه کړ او نور مشکلات تاســې خپلــه ولیــدل چــې رامنځته شول. ددې لپاره چې دا مشکل حل شي ډاکتر صیب سپنتا د افغان د تثبیت لپاره د (ملیت) کلمه پیشنهاد کړه، خو زه د (ملیت) پــر ځای (ملت) د کلیمې وړاندیز کوم، ځکه چې له (ملیت) کلیمــې ځخــه روسانو خلکو ته بل ډول ذهنیت ورکړی، هغوی (ملیــت) د (قومیــت) لپاره کاراوه، نه د نشنیلتۍ یا (ملت) د تعبیر په مانا.)) دې وخــت کــې ډاکتر سپنتا وویل: (( منظور ما همان نشــنیلتي اســت نــه قومیــت)) ستانیکزي زیاته کړه، ددې په خاطر چې له یوې واحدې کلیمې ځخــه دغه دوه ګونی تعبیر له منځه لاړ شي نو ښه ده چې د (ملــت) ســتون زیات شي او په مقابل کې یې ټولو ته (افغــان) کلیمــه ولیکــل شــي.)) ولسمشر هم د (ملیت) د کلیمې د دوو ګوني تعبیر په باب سر وخوځوه

او ویې ویل: ((دا د روسانو تعبیر و، ملیت همدا نشنیلتي ده)). دې وخت کې ما (یون) وویل ددې لپاره چې ټول ناسم تعبیرونه له منځه لاړ شي همدا د (ملت) کلیمه سمه ده، اوسنۍ تذکره کې چې همدا اوس تقسیمېږي هم همدا د (ملت) کلیمه لیکل کېږي او په مقابل کې یې ټولو ته افغان.

تر دې وروسته د علماوو شورا رئیس مولانا قیام الدین کشاف خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((اسلامیت) او (افغانیت) او (اسلام) او (افغان) داسې حقیقتونه دي چې د لمر په شان روښانه دي، دا داسې دي چې یوڅوک ووایي زه شپه ورځ، تور او سپین نه منم او له هغو څخه انکار کوم. زه افسوس کوم د هغو خلکو په حال چې ځانته نه مسلمان وایي، نه افغان، ماته یو زیات شمېر علما راغلل راته یې وویل، چې مورږ باید په دې برخه کې یوه فتوا صادره کړو، چې ولې د هویت په تذکرو کې (دین) نه دی راغلی، ما څو ځله دا خبره کړې چې افغانستان له اسلام پرته تش کالبد دی، داسې چې په تن کې روح نه وي، ما علماوو ته وویل چې دې برخه کې صبر کوو، نو اوس زه وایم، رئیس صاحب چې دا دواړه کلیمې (دین) او (ملت) دې په تذکرو کې راشي، که نه له دې څخه غټ جنجال جوړېږي، دا څه مانا ورکوي چې تذکره کې دې نه (دین) وي نه (ملت) نو دا تذکره د څه لپاره ده؟ افغانستان یو اسلامي هېواد دی، دلته باید دې مسلې ته ډېر پام وشي، د خلکو احساسات ونه پارول شي.))

دې وخت کې عدلیې وزیر وویل: ((دین است چرا نیست!)) ما بیا وویل: رئیس صیب د حکومت په طرحه کې نه دین شته نه ملت، دا چې د حکومت کومو مامورینو له کومې لارې او څنګه دا کار کړی، دا بېله

خبره ده، خو حقیقت دادی، چې حکومت کومه طرحه لېږلې وه په هغه کې نه (دین) شته نه (ملت).)) ولسمشر وویل: ((ولې نه شته؟ مورږ خو دا مسله لېږلې وه.)) دلته عدلیې وزیر بیا وویــل: ((دیــن اســت))، دې وخت کې بیا پوهاند صیب عظیمي وویل: ((دا په ارشیف کې شــته)). د ارشیف مانا همغه مانا ده چې ما ورته مخکې اشاره وکړه. یــانې دا چــې که دلته په وزیرانو شورا یا هم عدلي او قضایي کمېسیون کې پرې بحث هم شوی، هلته نه ده لېږل شوې. ما وویل: ((دا خو د ولــس زور و چــې (دین) یې د ښامار له ستوني راوویست او د تذکرې پر لومړي مــخ یــې ځای کړ، اوس باید ملت هم ددې ښامار له ستوني راوځي.))

ما وویل: (( رئیس صاحب اصلي خبره داده چې په ملي شورا کې خلکو داسې فکر وکړ چې ځه دین او ملت خو حکومت په تذکره کــې راوړي، یو شمېر خلکو د تذکرې پر لومړي مخ د قومیت د لیکلو غوښتنه کوله، د ولسي جرګې اکثرو غړو پرېکړه وکړه چې د تذکرې پر لــومړي مــخ د قومیت ذکر ته اړتیا نه شته، دا کار واحد ملت پر قومونو وېشي، نو ټولو ته (افغان) لیکل سم دي. قومیت لکه څنګه چې په ډېټــابېس کــې و، ډېټا بېس کې پاتې شو، خو ملت نه په ډېټابېس کې و نه د حکومت پــه وړاندیز کې، نو ځکه هم له ډېټا ووت هم د تذکرې لــه لــومړي مخــه او کومو وکیلانو چې په شفاهي ډول د ملت یا افغان پر لیکلو ټینګار کاوه، د هغوی تصور دا و چې په متن کې شته، نو قومیت چې پر لومړي مــخ رد شو نو خپله یوازې ملت پاتې کېږي، خو ویل کېږي چې د (ملت) په باب د وکیلانو شفاهي تصویب هم له ارشیف څخه ایستل شوی، نو پــه لیکلي متن کې خو غیر له هغې هم نه و، نو ځکه (ملت) هم د تــذکرې له لومړي مخ او هم له ډېټا څخه ووت، ولسي جرګه وروســته متوجــه

شوه، چې (دین) هم پاتې شو، وروسته یې په بله غونډه کــې د مولــوي صیب تره خېل په وړاندیز هغه پاس او بیا یې مشرانو جرګې ته ولېــږه. مشرانو جرګې د (تخلص) په زیاتولو د حکومت طــرح تائیــد او ولســي جرګې د (دین) د ستون په زیاتولو سره قانون مشترک کمېســیون تــه حواله کړ، ګډ کمېسیون پر اختلافي مسایلو بحث وکړ (ملت) د توطیو، دسیسیو او ابهاماتو قرباني شو.)) پر دې وخت عدلي وزیر یوځــل بیــا وویل: ((کلمه افغان در دیتا است)) ما ورته وویــل: ((نــه شــته، ریــس صاحب نه په ډېټا کې شته نه د تذکرې پر لومړي مخ.))

ولسمشر ما ته مخ راواړوه: ((دا کار خو موږ کاوه، څه ضرورت و مظاهرو ته، دومره غالمغال او ټلوېزیوني بحثونو ته!)) ما ورتــه وویــل: ((ریــس صیب اجازه راکړه، یو دوه درې معترضې جملې ووایــم!)) هغــه وویــل: ((ووایه! ما وویل: ((یو نیم کال د مخه مې احــوال درولېــږه چــې ماتــه وخت راکړه د هویت د تذکرو په باب درسره ګورم، دا حساسه مســئله ده، یو شمېر کړی شته چې غواړي ملي هویت ته زیان ورسوي، مــا تــه چا وخت رانه کړ، تا وویل چې هېواد مل صاحب سره تماس ونیسه، مــا هغه ته وحت پر وخت خپل نظریات ورکړي، کېدی شي هغــه تــا ســره شریک کړي وي، خو د یو نیم کال په بهیر کې موږ پردې بریالي نه شــو چې تاسو وګورو، کله چې ما استعفی ورکړه، دنــده مــې پرېښــودله او تاسو سره مې ملاقات درلود، بیا مې یادونه وکــړه چــې کــه چېــرې د ولسي جرګې انتخابات عادلانه شوي وای نو نن به په ولسي جرګه کــې افغان ضد عناصرو د ملي هویت پر ضد کارتونه نه پورته کول، د افغــان له کلیمې سره به یې حساسیت نه ښود، تا وویل چــې دا څــو محــدود کسان دي، هغه ده بایې لوله، تاسې سره دا تصور و چې اکثرو د (ملت)

کلیمه تایید او تصویب کړه، خو نتیجه دا وه چې هرڅه د ملت ضد عناصرو په ګټه پای ته ورسېدل.
کله چې له حکومته اشتباه وشوه یا مامورینو درغلي وکړه، افغان او اسلام یې حذف کړل، ولسي جرګې هم اسلام او افغان ذکر نه کړل، مشرانو جرګه هم له اسلام او افغانه لاس پر سر شوه، نو خبره نوره خلاصه وه ، یوازې خبره توشېح ته پاتې وه، دا خو د ولس د مظاهرو برکت و چې ولسي جرګه او مشرانو جرګه یې خپلو نیمګړتیاو ته متوجه کړې، په نتیجه کې اسلام بېرته ځای پر ځای شو، نو چې نه دې حکومت عرض اوري، نه مشرانو، نه ولسي جرګه او نه هم کوم بل اورګان، له مظاهرې او هغه هم له اصولي مظاهرې پرته بله کومه لاره پاتې ده؟)) ولسمشر وویل: ((ما خو توشیح نه کړ دا دی پر مېز راته پروت دی)) قانون یې ښکاره کړ، ما وویل: ((ریس صیب دا د همغو مظاهرو برکت دی چې تاسو دا قانون توشیح نه کړ، موږ نه یوازې دا غواړو چې دا قانون باید توشیح نه شي، بلکې غواړو چې په دې کې تعدیل راشي، که تاسو یې توشیح هم نه کړئ، هغه خپله پر قانون بدلېږي، موږ خو ډېره هڅه وکړه چې ددې قانون د توشیح د معیاد تر پوره کېدو دمخه تاسو سره وګورو، خو چا زموږ غوښتنو ته غوږ ونه نیوه، که موږ مظاهرې نه وای کړې، نو دا خبره هم له حکومته او هم له شورا څخه تېره وه (اسلام) او (افغان) دواړه قرباني شوي وو)) ولسمشر بیا وویل:(( نه تاسې نور حساس کړل)) ما وویل: ((ولې حساس شي؟ موږ خو اسلامیت او افغانیت غوښتی، ددې په مقابل کې ولې ځینې اشخاص حساس شي؟ بیا چې حساس شي، شي دې، ((نو پر دې وخت ډاکټر سپنتا وویل: ((حساسیت طرف مقابل را هم باید در نظر ګیرم))

هغو کسانو ته یې اشاره وه چې ویل یې (افغان نیستم)، مـا وویـل: پـه سلو کې (۹۹) افغانان افغانیت او اسلامیت غواړي یو کم شمېر اشخاص او کړۍ چې له افغانیت او اسلامیت سره دښمني لري، د هغوی خبرو ته اوس ترجیح ورکول کېږي او (۹۹) په سلو کې خلک له نظره لـویېږي؟ ددې لوی اکثریت حساسیت ته پام نه کېږي خو د محـدودو اشخاصـو حساسیت ته پاملرنه کېږي.

بله خبره دا ده چې اوس د هویت په تذکرو کې د افغان کلیمې پـر نـه لیکلو ټینګار او پر لیکلو یې بې تفاوتۍ، له (ملـت) او (دیـن) سـره د مخالفت په مانا ده او بله وروستۍ خبره دا کوم چې که (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) په تذکره کې ذکر شي، ددې تاوان څه دی؟ تذکره پرې سېزل کېږي؟ مصارف پرې زیاتېږي؟ د چا پر اوږو بار پرېـوزي کـه څنګه؟ ګټه یې ډېره ده که زیان؟)) ولسمشر بیا وویل: ((نـه ګټـه یـې ډېره ده)) ما وویل: ((چې ګټه یې ډېره ده نو ویې لیکه، فرمان ورکړه)) ده وویل: ((جوړوم یې خو تاسو موږ خپل کار ته پرېږدئ))

تر دې وروسته جمهور رئیس د نتیجې او جمع بندۍ پـه توګـه وویـل: ((ورونو موږ دلته شورا هم لرو، د هغوی نظر ته به هم ګورو، ښـه پـوره بحث وشو اکثریت په دې نظر دي چې په قانون کې باید تعدیل راشي)) (ډاکټر مدبر) ته یې غږ کړ د قانون د توشیح وخت تېر شوی که پـاتې؟ ډاکټر مدبر او نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((پنځلس ورځې یـې پـوره شوي، تېره سه شنبه یې وخت پوره شو، هغه اوس د قانون بڼـه خپلـه کړې. دې وخت کې ولسمشر وویل: ((خیر نو حل لاره د قانون تعـدیل دی؟)) نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((هو د حل لاره یې همدا ده)) بیـا ولسمشر وویل: ((ښه ده په دې به غور وکړو)) مـا بیـا وویـل: ((ریـس

صیب مورږ ته دې مشخص ونه ویل څه وخت به دا کار تر سره شي؟ بیـا خبره مبهمه پاتې شوه، هسې نه چې د تېر په شان بیا پاتې شي؟ مـورږ غواړو وخت رافکس کړې چې مورږ ملت ته ډاډ ورکـړو)) ده بیـا وویـل: ((درجوړوو یې نور نو ستاسو کار نه دی دا د حکومـت کـار دی، مـورږ خپل کار ته پرېږدئ، کوو یې خو تاسې به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوئ)) ما بیا وویل: ((ریس صیب مو به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوو خو تاسو به مورږ ته ددې کار د عملـي کولـو تضـمین راکـوئ او وخت به راته ټاکئ چې تر دغه وخته دا مشکل حلېږي؟)) ده بیا وویل: ((دا بس کوو په دې ورځو کې به یې خلاص کړو، نـور ډېـرو بحثونـو او جنجالونو ته حاجت نه شته ، حکومت خپل کار ته پرېږدئ!)).

په همدې جملو جلسه ختمه شوه ولسمشر بلې خونې ته د بل ملاقات لپاره لاړ.

په دې جلسه کې لوی څارنوال محمد اسحق الکو هم ناسـت و، زمـورږ خبرو ته یې د تائید سر خوځاوه، خو خپله یې څه ونه ویل. (کریم خرم) او (ډاکټر صادق مدبر) هم خبرې ونه کړې. د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون مشر (ګل رحمن قاضي) چې ددې غونډې بل برخوال و او لازمه وه چې خبرې یې کړې وې، تر اخره غلی و، هېڅ خبره یې ونـه کړه.

تر ملاقات وروسته ما ته ډاکټر صیب صادق مدبر وویل: ((کلمـه افغـان در دیتا وجود ندارد)) هغه د قانون هغې مصوبې ته لاس ونیو چــې ده سره وه او ملي شورا ورته رالېږلي وه.

ددې دومره جزیاتو له یادونې او د غونډې د (مینوټ) له لیکلـو څخـه مې هدف دا و چې د ملي او عقیده یي هویت مسله یوه ډېره حساسـه

مسله ده، زه اوس هم د ولسمشر پر ژمنې سل په سلو کې باوري نه یم، موږ له جمهور رئیس سره ژمنه وکړه چې ددې قانون تر تعدیل پورې به نه ټلوېزیوني بحثونه کوو او نه مظاهرې، خو که چیرې په یو معین وخت کې د ملت دا قانوني غوښتنې ونه منل شوې، نو بیا خو مجبور یو، هــم به لاریون کوو هم به ټلوېزیوني بحثونه او هم به ټولې هغه قانوني لارې کاروو چې ددې برحقې داعیې لپاره په کار دي.

ددې تفصیلي لیکنې بل هدف او پیغام دادی چې راتلونکی پښت ته دا په ډاګه کړو چې تاسو چا د هویت له بحرانه ژغورلي یاست او چا درته د هویت پر ضد توطیې جوړې کړې دي؟

ولسمشر حامد کرزي نږدې یو کال پر موږ په صبر او انتظار کې تېر کــړ، همدا یې ویل نن د سمون فرمان ورکوم او سبا یې ورکوم، په دې کې د ولسمشرۍ ټاکنې راورسېدې، خو ولسمشر دمضر احتیاط لــه دایــرې راونه ووت، خو بیا یې هم (نــه) ونــه ویلــې، کلــه چــې د ولسمشــرۍ نوماندانو د ملاتړ خبره راغله، نو موږ له ښــاغلي ډاکتــر اشــرف غنــي احمدزي څخه د ملاتړ پرېکړه وکړه، خو له یو لړ وړاندیزونو او شــرایطو سره، په دې کې یوویشت وړاندیزونه او شرایط شامل وو، چې له نــورو څخه تېرېږو یوازې (دولسمه) ماده یا برخه یې راخلم :

**ملي هویت:** په تېرو (۳۵) کلونو کې د افغانســتان او افغــان ولــس د ملي هویت او ملي وحدت پر ضد زیاتې هڅې شوې. ځینې ډلې غواړي په افغانستان کې د ملي وحدت او هویت لپاره نوي او تصنعي تعریفونه وړاندې کړي، ان د (افغان) کلمه هم مسخه کوي او شکلي بــدلون پــه کې راولي.

که چېرې اوسني دولت د هويت پــه تــذکرو کــې د (ديــن) او (ملــت) ستونونه ونه ليکل او د دين د ستون په مقابل کــې يــې هــر مســلمان افغان ته د (اسلام) او د دې هېواد د هر وګړي لپاره د (افغان) کلمه ونه ليکله، نو له راتلونکي دولته غواړو چې هم د هويت پــه تــذکرو کــې د اساسي قانون له محتوياتو او احکامو ســره ســم ضــرور د (اســلام) او (افغان) د تثبيت لپاره د (دين) او (ملت) ستونونه وليکي او په دې ډول خپل اسلامي او ملي مسوليت ادا کړي او هم د افغان ضد او ملت ضــد ډلو ټپلو او اشخاصو پر وړاندې ټينګ ګامونه پورته کړي).

ډاکټر اشرف غني دا او نورې شل مادې راسره ومنلې او د بريالیتوب په حالت کې يې راسره دهغو د تطبيق ژمنه وکړه.

موږ په داسې زغرده کمپاين وکړ چې ساری يې د ده پر شاوخوا د ټولــو راټولو شويو اشخاصو ګوندونو، ډلو او نورو غوړه مالانو د کمپاين په ټول بهير کې نه و ليدل شوی، منطقي، اصولي او شعوري کمپاين. کله چــې دده د بريالیتوب څرکونه ولګېدل، نو په سازشونو، ناوړه احتياط او نورو معاملو يې لاس پورې کړ، هر څومره چې دا ناقانونه معاملې غځېــدلې، زموږ او ډاکټر صيب اشرف غني احمدزي تر منځ د اصــولو پــر بنســټ غځېدلی تار سستېده، نه نور هغه ډاکټر اشرف غني احمدزی و، نه يــې هغه پخوانی تفکر او نه هم ولس ته اړ مجبوريتونه، په نامه کې يې هــم تغير راغی، په چلند کې هم، د ماضي خبرې هېرې او تېرې شــوې او د وخت د تقاضا مطابق نوي ياران او نوي ماران راپيــدا شــول، پخوانيــو مخالفينو د موافقينو او موافقينو د مخالفينو رنــګ واخيســت. زمــوږ توافق چې له سره د اصولو پر منطق ولاړ و، نود حکومت د جوړښت پر څرنګوالي مو چندان سر نه ګراوه چې احمد راځي که محمــود، خــو دا

راته پته وه چې له څو تنو پاکو انسانانو پرته به نور همغه د بنګالې ټګان وي، همغه ښاماران، ټوپکسالاران، جنګسالاران او یا هم د هغوی دویم او درېیم نسل،خو د معنوي ارزښتونو د ساتلو لپاره مو لا هم هیلــه وه، ددې ارزښتونو له جملې څخــه یــو ارزښــت هــم پــه کــې همدغــه د (افغانیت) او بل هم (اسلامیت) د خوندیتابه ارزښــت و، چــې لــه تېــر ولسمشر څخه زخمي او ټکنی اوسني دولت مشر ته راورسېد او هیلــه وه چې دی پرې د مرحم پټۍ ولګوي، نه دا چې مالګې پــرې ودوړوي. د حج په مراسمو کې وم، د لوی خدای (ج) دربار ته مې په لسګونو ځلــه ددعا لاسونه پورته کړي چې یا ربه دغه دوه ستر ارزښتونه (اسلامیت) او (افغانیت) راته خوندي وساتي. په همدې خاطر مې پر یــوه ورځ نهــه طوافونه وکړل او (۶۳) ځله د لوی څښتن له کوره راوګرځېدم، پر همغه وخت مې د لس دقیقه یي دمې پر مهال کابل کې بېلابېلو وزیرانــو تــه زنګونه ووهل، چې ډاکټر صیب ته ووایي د هویت په تذکره کــې یــې د دوو ارزښتونو ځایونې ته جدي پام وکړي او هغه غبن چې د یو شــمېر پردیپالو کړیو له خوا شوی، هغه ته متوجه شــي او د ملــي شــورا پــه اصطلاح مصوبه لاسلیک نه کړي، پخواني ولسمشر چې له خپلــو ګڼــو مضرو مصلحتونو سره هغه لاسلیک نه کړه، نو دی خو یو مفکر ســړی ګڼل کېږي، دی خو باید په هېڅ وجه دا کار ونه کړي.

کله چې کابل ته راغلم، نو په سلګونو څه چې په زرګونو ځله مو د نوي ولسمشر حقیقي او تصنعي یارانو ته زنګونه ووهل چې یا موږ ته وخــت راکړي چې ډاکتر صیب ته دا موضوع تشریح کړو، یــا دې خپلــه فکــر وکړي او یا دې حقوقي مشاورین راوغواړي، ساړه دېوالونه هم تــر دوی ښه وو. له دېوال څخه خو د سوال د ځواب انګازې راځي، خو د ارګ له

نویو بې روحو واکمنو څخه د (هو) او (نــه) ځــواب رانغــی، د ارګ لــه چپېراسي څخه نیولې، تر مشاور، اعلی او ادنا وزیرانو ټولــو پــورې مــې خپل غږ ورسوه او شېبه هه په شېبه مې موضوع تعقیبلوه، خو د غرور او تکبر په نشه مست، له خپل ولسه لرې نویو لویــو او وړو چــارواکو د دې ملي غږ د اورېدو اوسېله نه لرله، د پټو پردو شاته بیا پټــه معاملــه وشوه او د شپې د ټلوېزیون پر رڼه پرده تــوره امضــا راڅرګنــده شــوه، دملي شورا یو کلنه رنځېدلې مکروبي مصوبه په ناقانونه ډول لاسلیک شوه، عیناً لکه چا چې د ګندمک او یا هم ډیورنډ معاهده په پټو سترګو لاسلیک کړې وي، په هغو معاهدو کې خو د افغانســتان یــوه فزیکــي برخه او شتمني بل ته پرېښودل شوه، خو په دې تور لاسلیک پر ملــي هویت خاورې واړول شوې، یو تورې لیکــې د افغــان ســپینه کلمــه د برېښنایي تذکرو له مخه لرې کړه.

ښاغلي (غني) د خپلې (غنا) له خزانې څخه د افغان هویت مخــالفینو ته دومره نا مشروع امتیاز ورکړ چــې نــه یــوازې یــې دهغــوی هغــې غوښتنې ته لبیک ووایه چې ځان افغان نه بولي، خو د افغانستان ټوله شیره زبېښې، بلکې ملتپال افغانان یې هم له خپله حق محــروم کــړل چې تاسې هم حق نه لرئ چې ځان ته د هویت په تــذکره کــې افغــان ولیکئ! دې ته وایي دملي وحدت! دحکومت مشر، د هویت پــه تــذکره کې د (ملت) کلمه له منځه وړي خو د ملي وحدت حکومت جوړوي؟

نن کېدی شي د قدرت دهوسونو په دریاب کې مست نهنګان ددې کار راتلونکي خطرناک عواقب سم حس نه شي کړای، خو کاشــکې د دوی بل نسل یا درېیم پښت په خپل هېواد کې اوســېدلای چــې بیــا یــې

راتلونکي بحرانونه کتلي وای او د خپلو نیکونو پر قبرونو یې لاړې تو کړې وای او که نه مخ خو به یې ضرور ترې اړولی وای.
اوس نو ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي ته زه د یوه افغان په حیث د افغانانو ولسمشر خطاب نه شم کولای، ځکه چې دده ناقانونه لاسلیک یو ناقانونه بهیر ته د قانوني بڼې ورکولو لپاره استعمال شو، یوازې مشر به ورته وایو، ځکه چې ولس له ارګه بهر پاتې شو او مشر یې په ارګ کې او یا هم کېدی شي د یو سپین ږیري خطاب ورته وکړو.
دا چې یو جمهور رییس او حکومت د افغان کلمه، چې هېڅ لګښت پرې نه راځي او هېڅ خوله پرې نه تویېږي، هغه په هویت پاڼه کې نه شي لیکلی، نو که افغان ولس او افغان خاوره د ایران او پاکستان تر بریده لاندې راشي اوهلته خو طبعاً ګڼو قربانیو ته اړتیا ده، هلته به دا جمهور رییس او دا ګډوله حکومت څه توره وکړي؟
یو حکومت مشر چې د خپلې کابینې ټاکنه (۹۰) ورځو ته غځوي، نو هغه به د هېواد نور چارې څنګه سمبال کړي؟ خیر په هر ډول په دې برخه کې لا قضاوت تر وخته د مخه دی، خو کوم څه چې اوس څرګند دي، هغه د افغانیت پر ستوني د پردیو په لاس د هغې تېرې چړې تېرول دي. چې جوړه شوې بله چېرته وه، خو لاستی ورته دې اوسني دولتمشر ورکړ.
وېره خو لا داده چې ښاغلی غني به تر دې هم وړاندې لاړ شي، د یو شمېر تنظیمي عناصرو د فشار له امله به په افغاني بانکونو کې هم د هغو غوښتنې ومني یا به د هغو د مشرانو عکسونه او یا یې د قبرونو عکسونه پر پیسو چاپ کړي، د پیسو ژبه او بڼه به هم بدله شي.

ګرانو هېوادوالو او قدرمن افغان ولسه! ضرور به ستاسو په ذهن کې دا خبره راګرځي چې خیر نو اوس به څه چل کېږي؟ مظاهرې به کېږي؟ لارې به بندېږي؟ ګډ وډي به جوړېږي؟ تذکرې به اخیستل کېږي او که نه نور څه به کېږي؟ غواړم دې هرې پوښتنې او تشویش ته لږ تم شم.

دا حکومت هسې هم چینجن او وروست حکومت دی، جوړښت یې د اضدادو مجموعه ده، په خپله دبحران زېږنده ده او په خپله یې بحران ټوکولای، نه د ولس زور لري، نه د وسلوالو مخالفینو او نه هم د مدني حرکتونو،مظاهرو او لاریونونو!

نو که هر ډول مظاهرې او مدني حرکتونه وشي او بیا وضعه د بحران خواته لاړه شي، نو بیا خو به دا دواړه حکومت مشران؛ ډاکټر صاحبان وایي، چې موږ خو له دې وطن څخه ګلشن جوړوه! خو چا پرې نه ښودو، دا دی دوی په یوه تذکره باندې مظاهرې پیل کړې،ملک یې بحران ته بوته! په دې خاطر چې د واک د مجنونانو دا پلمه ختمه شي او د دوی اصلي جوهر ولس ته څرګند شي، تر هغه پورې چې ددې نوي حکومت، سترې محکمې اودولت نورې اجزاوې بشپړېږي،مظاهرو ته باید انتظار وباسو او په دې باب هر اړخیزه مشوره وکړو او بله خبره داده چې مظاهرې چاته وشي، هغه چاته چې باید عرض وړاندې شي هغه خپله د شخړې یو عنصر دی، نو ځکه خو وایو چې درې څلورو میاشتو کې د ولس له مظاهرو څخه د افغان ضد اشخاصو دناوړه ګټې اوچتولو امکان شته، نو ځکه خو دمظاهرو پر ځای په لومړي ګام کې دنورو تدبیرونو دلټون هڅه په کار ده. ولس سره پراخه مشوره او تر مشورې وروسته مظاهرې او یا هم بل کوم غوڅ عمل .

له حل لارو څخه یوه لاره دا هم ده مخکې تر دې چې خبره بحران ته لاړه شي ښاغلی غني دې خپل فرمان بېرته مسترد کړي او دا مسله دې سترې محکمې ته محول کړې.

لارې بندول هم اصلي لار ځکه نه ده چې خپله حکومت پــه ســلګونو ځایه لارې بندې کړي، نو که په لارې بندولو اصلاح راتلای، نو په دوی به راغلې وای، هره ګډوډي هم دولس په زیان ده اودهمغو چارواکو پــه ګټه یې ګڼو چې له ګډوډۍ څخه یې ګټه اخیستې او ځان یې واک تــه رسولی دی.
تذکرې سره بایکاټ اونه اخیستل هــم حــل لاره نــه ده اودا کــار تــر ټولوزیات خطرناک دی، اصلاً د افغانستان دښــمنان غــواړي، اکثریــت افغانان مایوسه او نهیلي کړي چې تذکرې وانه خلــي او یــوازې د دوی لاسپوڅي تنظیمونه او د هغو پلویان برېښنایی تذکرې ترلاســه کــړي، دې سره به هغوی په راتلونکو ډول ډول ټاکنو کــې د خپلــې خوښــې اشخاص بریالي کړي او بیا به خدای مه کړه د افغانستان د نوم د ورکولو لپاره هم له همدغه (دام) څخه کار واخلي چې د ولسمشر کــرزي پــه واکمنۍ کې یې غوړولی و اود دولت مشر اشرف غنــي نــړدې شــپېته ورځنۍ نیم واکه واکمنۍ کې یې ترې هدف ترلاسه کړ، نو که موږ غواړو د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو توطیې شنډې کړو، نــو بایــد زوړ، ځوان، صغیر او کبیر، ښځه او نر د تذکرو د اخیستلو هڅه وکړو، که څه هم په دې تذکرو کې واکمن ښامار زموږ ګران او ملي هویت (افغان) تــر ستوني تېر کړ، خو هر افغان زلمی باید مومن خان شي او د هر ښامار له ستوني د خپل هویت جوهر بېرته راوباسي او دا کار هله کېدلای شــي چې موږ همدا بې هویته تذکرې واخلو؟ د جبري زهرو د یــو ګــوټ پــه شان یې تر ستوني تېر کړو. او بیا وروسته د منطق پــر ژبــه همــدا بــې هویته تذکرې د ملي هویت پر تذکرو بدلې کړو. کله چې مــو راتلونکــو ټاکنو کې د ولسوالۍ له شورا نیولې تر ولسمشرۍ پورې خپل رښتیني استازي وټاکل، نو بیا به له قانوني لارو څخه له عادي لاسپوڅي وکیلــه

نیولې، تر دولت مشره او حکومت مشره پورې ټولو سره حساب اوکتاب کېږي.
زه خپله ولس ته ډاډ ورکوم چې هېڅکله  به له خپل ملـــي او اســلامي هویته تېر نه شم، تر هغه پــورې چـــې زمــا ملــت پــه دې برخــه کـــې خپلوورورستیو ارمانونو ته رسېږي، نو زه د یــوه افغــان پــه توګــه ددې داعیې د ژوندی ساتلو هڅه کوم، له دولت مشر څخه نیولې تر حکومت مشره پورې او بیا له هغه څخه  نیولې د هغوی تر واړه تنخوا خور پورې، ټولو ته حاضر یم چې علني مناظره ورسره وکړم او خپله ملـــي داعیــه ثابته کړم.  هغوی چې تل به یې نورو ته د مناظرو بلنه ورکوله، نــه ده چې اوس مور هغو ته د مناظرې او مباحثې بلنه ورکړو، چې ولـــې دې د ملي هویت دا دومره ستره مسله، لکه په ملي شورا کې د شوي غبن په شان په غبن کې تېره کړه.

تل دې وي ملي یووالی
سر لوړی دې وي افغان ملت

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي
تل  به دا افغانستان وي
تل  به دا افغانستان وي

# د اختر نوي کالي دې مبارک!

## ناکامي دې مبارک!

## (د نړۍ ستر مفکر دې په غور ولولي)

[دا لیکنه هغه وخت شوې وه چې د ټاکنو وروستۍ نتیجې پاکې او ناپاکې رایې رامعلومې نه وې، خو ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټر عبدالله عبدالله یو بل سره په مساویانه ډول د حکومت د شریکولو پروتوکول وکړ، دا د ټول هېواد په کچه لومړۍ لیکنه یا لومړی غبرګون و چې د اشرف غني ددې عمل پر وړاندې څرګند شو، نور لوستونکي د لیکنې تر لوستلو وروسته قضاوت کولای شي.]

ښاغلی ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی! له سریزې او تصنعي خبرو به تېر شم، پر اصلي مطلب به پیل وکړم، دلته خو دود دی چې څوک واک ته ورسېږي، خلک یې مبارکۍ ته ورځي او هغوی چې نه شي ورتلای، نو مبارکي ورلېږي، خوشالۍ کوي، اتڼونه کوي، څنې غوړوي او د بریالي شخص پر وړاندې تبسم او تظاهر کوي، خو زه ستا د بریالیتوب له امله تاسو ته ستا د ماتې مبارکي وایم. د بریالیتوب په لومړیو شېبو کې چې ولس لا تر اوسه د خپل تندي خوله نه ده وچه کړې او ستا د بریالیتوب د شکرانې لمونځ یې نه دی ادا کړی، نو ستا د ماتې ځرک ولګېده. ستا ماته هغه وخت پیل شوه چې د ملت د دښمنانو او توطیه ګرو پر وړاندې دې د ملت د رایو ملاتړ ونه کړای شو، نه دې خپله دې ملاتړ ته

ورودانګل، نه دي مذبذب او نامتجانس ټیم، نه دې د ولس خواخوږي په دي پلمه دفاع ته پرېښودل چې کرکېچ رامنځته کېږي او نــه دې هــم خپله ولس ته لار خلاصه کړه چې له خپلو رایو په خپله ملاتړ وکــړي. د کړکېچ په پلمه د بحران زامنو، بحران نور هم پسې اوږد کړ او کله چــې هم ستاسو پر سیاسي جرئت او هېوادني تدبیر پوه شــول، نــو خپلــې غوښتنې یې لا پسې وغځولې، ان تر هغه پورې چې د امریکا او نړیوالې ټولنې پښه یې هم په کې داسې دخیله کړه چې تــر احتمــالي بریــالي، احتمالي ناکام ته په کې زیات امتیازات ورکړل شوي دي. له بابا ادمه تر دې دمه چې د ولسواکۍ کومې تجربې په نړۍ کې تکرار شوي، په هغو کې له هېڅ مفکر او هېڅ نا فکره سره داسې لوبه نه ده شوې چې یو چا دې هم ټاکنې ګټلې وي او هم دې ملامت وي، هم دې غلی وي او هــم دې نتلی وي، مخالف لوری چې په واقعیت کې ملامــت دی، هغــه دې سلامت وي. هم دې د اپوزېشن امتیاز واخلي او هم دې په پوزېشن کې تر نیمایي زیات واک ولري. صلاحیت دې ولري، خو مســؤلیت دې ونــه لري، هم دې امتیاز اخلي، هم دې انتقاد کوي. افسوس د هغه ملت پــر حال چې مشران یې د مضر مصلحت پر نري رنځ اخته وي.

خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو

خرځویې رهبران په ســوداګـــــــــرو

موږ خبر نه وو چې مشران مو کوم لوري ته بیایي، هسې پــه اتڼونــو او نارو سر وو او نه مو د شاعر دې بیت ته پام و:

څه خبر یې چې په کوم لوري دې بیایي؟

چې روان یــې پــه ګډا او پــه ســنــدرو!

دا منم چې تاسو به ولسمشر شئ، په نړۍ کې اوس هم یاد یاست، نــور به هم یاد او ښاد شئ، خو ولس به لا پسې برباد شي، ته به مخکــې لاړ شې خو قافله په شا راغله.

منم رهبر پــه خپلـــه مخکــې لاړو
خــو قــافــلــه خــو یې په شا راوسته

هر چا چې دې مظلوم ملت ته په کمه سترګه کتلي او پر جنګســالارانو یې ډډه لګولې، برخلیک یې ډېر ذلیل دی. ډاکتــر نجیــب الله هــم پــر همدې ډول اشخاصو ډډه ولګوله، برخلیک یې هغه شان شو، ولسمشر کرزی هم د ولس په رایو ولسمشر شو، خو خواره یې جنګسالارانو تــه ورکړل او تاسو چې تر هر چا د فساد او زورواکی پر ضد خبرې کولې، تر ټولو ژر دې د جنګسالارانو ګواښونو ته اوږه ټیته کړه. تاسو خو تر ډېرو تاریخ زیات لوستی دی، ایا دا ولس ډېر زور لري که پنځه جنګسالارن؟ او که یو ځل بیا د ولسمشر کرزي د مضر احتیاط د فورمــول او تجربــې تکرار دی چې د مصلحت او ملي ګټو تر نامه لاندې یې هم ملــي ګټــې زیانمنې کړې او هم یې پر مصلحت ریشخند وواهه. مصلحت خو هغــه مرحله ده چې د عدالت او واقعیت تر منځ انډول برابر شي، نه دا چــې پر ولس داسې یو منفي واقعیت وتپل شي چې هر ځل تجربې یې ولس له ګڼو زیانونو سره مخ کړی دی، دا ولس ډېر صابر او صبور ولــس دی. دې ملت ستا تر څنګ جنګســالاران، فســادګر، غــوړه مــالان او نــور ورځچاري یوازې په دې خاطر تحمل کړل چې ستاسو ماضي وینا ته په کتو سره یې پر تا باور درلود، خو دا باور تر (تحول او تداوم) د مخــه نــا باوره شو. درد ځپلي، سپین زړي پښتانه او نور ملتپــال افغانــان ټــول

درپسې ودرېدل، روښنفکر، ملا، لوستی، نالوستی، پېغله، ځوان، سپین ږیری او مخور ټول په دې خاطر په یوه لیکه کې ودرېدل چې د شــر او فساد د اصلي عواملو له رنځ او عذاب څخه وژغورل شي. خو اوس چې شر او فساد په خپله له تحول او تداوم سره غاړه غړۍ شول، نو د ولس قافله مجبوره ده چې په خپله د ځان غم وخوري:

قافله دې هم منزل نه ځان خبر کړي

کله کلــه رهــنــمــا نــه لار خــطا شي

فکر کوم چې د افغانستان شخړه دومره پېچلې ده چې د ((نړۍ مفکر)) څخه هم لار خطا شوې ده، د لانجې رسۍ لکه چې د بل چــا پــه لاس کې ده، یوازې ممثلین یې افغانان دي، یو شاعر لا پخوا ویلي وو:

څومره چې زه یم خبر له ملکه

د مشورې سر دی بهر له ملکه

زه ډېره ښښنه غواړم که زما (کم فکره) خبرې دې پر (مفکر) ذهن ښــې نه لګي، خو زه ځکه ځانته دا حق ورکوم چې تر تا وروسته، تاته مــا تــر هر چا زیات کمپاین کړی دی، که ستا غوره مالان او یا ځینې دوه رولــه کمپاینران یې مني که نه، خو مخــالفین او عــام افغــان ولــس پــر دې واقعیت متعرف دی چې زه (یون)، زما مېرمن (اریون یــون)، (ژونــدون ټلوېزیون) او (د افغانستان ملي تحریک) په سوونه ځوانان تر هــر چــا زیات ستا په کمپاین کې ستړي شولو. ان ستاسو پر ضد مظــاهره کــې هم مخالفینو ستاسو پر ځای د (ژوندون) پــر ضــد د مــرګ شــعارونه ورکول، عجیبه وه! د مرګ پلویانو پر (ژوندون) مرګ وایه، دا په دې مانا نه وه چې ګنې ستاسو شخصیت یا ملي حیثیت ته یــې د احتــرام پــه

خاطر ستاسو نوم نه اخیست، هسې خو یې په خپلو نورو تبلیغاتو کې د اسلام له دایرې څخه هم ایستلی وې، خو هغــوی د ((ژونــدون)) نــوم ځکه زیات یاداوه چې همدې ټلوېزیون ورته سرخوږی جــوړ کــړی و او ولس ته یې یو فکري لید لوری ورکړی و، خو ستا غوړه مالانو او ځینــو کمپاینرانو (ژوندون) ته هم په همغه سترګه کتل، لکه د ((اصلاحاتو او همپالنې)) ټیم چې ورته کتل. خو بیا هم موږ ستا له ملاتړه لاس وانــه خیست او نه مو د ((ستر مفکر او ستر جنګسالار)) اوسنۍ ملګرتیــا او تېرې ماضي ته د تصویر په ژبه اشاره وکړه. دا په دې خاطر چې د ملــي ګټو لپاره د زهرو ګوټ تېرولو ته هم تیار وو. تاسو هم په دې خاطر لــه ژوندون ټلوېزین او ما څخه واټن ونیوه چې تــر څنــګ دې یــو شــمېر متعصبین، تنګنظره او مخالف ګروپونه، د خپــل فاشــیزم او تعصــب د پټونې په خاطر دربادې د (فاشیست) او (نیشنلست) ټاپه ونه لګــوي، موږ ستا تر څنګ فسادګر، جنګسالاران او غوړه مالان وزغمل، خو تــا زموږ مشروع مبارزې،د حــق، عــدالت او ســړیتوب چغــې، افغانیــت، اسلامیت او انسانیت ته هېڅکله هم هر کلــی ونــه وایــه. اوس خلــک خبرې نه تلي، عمل تلي:

د عمل د خاوندانو په حضور کې
د وینا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

تاسو ته چې خلکو رایه درکړه، په دې خاطر چې فکر یې کاوه د ډاکتــر اشرف غني وینا او عمل برابر دي، غوڅ، قاطع او پــاک ســړی دی، لــه ناپاکو خلکو یې کرکه ده او له وطن څخه به دا تېره شل کلنه ګنــدګي ورکه کړي، خلک د حامد کرزي له مضر مصلحت او ناوړه احتیاط څخه

سترې شوي وو، خلکو سره یو احساس و، عاطفه وه، خلکو د سیاسي سوداګرۍ په باب هېڅ فکر نه کاوه، خبر نه وو چې:

سوداګر خلک د احساس نزاکت څه پېژني
معیار یې وزن دی او تول دی ساه مې بنده شوله

زه د هغو میلونونو افغانانو له جملې څخه یم چې ستا د بریالیتوب لپاره مې په سر او مال مبارزه کړې، خو هغه خلک چې په کلیو او باندو کې اوسي، ستا مینوال وو، نه تاته لاسرسی لري او نه هم د لیک او لوست له نعمته برخمن دي، د هغوی په زړه کې به څه سرې سکروټې بادېږي، زه خو ښه یم، د زړه غوټه د قلم په نوکه خلاصوم، خو هغوی چې دا وسیله نه لري، څومره اور به زغمي، زه هیله لرم چې زما دا لیک د همغو میلیونونو افغانانو د زړه د داغونو انځور هم وګڼې، د خلکو نظر، رایو او هیلو ته درناوی وکړې، د قانون حاکمیت پلی کړې، د مصلحت پر ځای قانونیت او د سیمه ییز نا مشروع جوړ جاړي پر ځای د افغانیت د پراخې مفکورې حاکمیت ته لاره اواره کړې. پاچاهان ځي او راځي، مري، ړنګېږي، خو ولسونه ژوندي وي، ولس نه مري، تسلسل لري، همدا ولسونه دي چې یو څوک پر تخت کېنوي او یو څوک له تخته پرېباسي.

ولسونه چې سند یو بله وکا
پادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

تاسو د کمپاین په شپو او ورځو کې ویلي وو، چې زه تاسو ته د خپل حکومت په سلو (۱۰۰) ورځو کې امتحان درکوم. که پارچه مې خرابه وه، ناکام مې کړئ. اوس خو تاسو د ګډې اعلامیې تر لاسلیک وروسته

فیصله کړې چې په امنیتي سکتور او ځینو نورو برخو کې بــه تــر (۹۰) ورځو پورې تغیر نه راځي، دا خو دا مانا لري کوم فساد، بې عــدالتي نــا سم کارونه چې په دې ارګانونو کې له پخوا څخه موجود دي، هغه به لا پر خپل ځای وي. اوس به نو د امتحان او پارچې خبره وکړو: پوره (۲۳) کاله کېږي چې زه په پوهنتون کې استاد یم او تاسو هم کلونه کلونه په بهر کې استادي کړې، راځه چې د استادۍ یوه محاسـبه سـره وکــړو! اوس نو که تاسو په هرو (سلو ورځو) کې سل په سلو کې کار وکــړئ او زه هره ورځ یوه یوه نومره درکړم هغه هم چې ټول سوالونه دې درست وي، نو پوره سل نومرې شوې، خو څرنګه اوس چې تا د امنیتي سکتور د امتحان پارچه کې (۹۰) ورځې ضایع کړي، دا که د ازمویني هــر ډول سستم وي، ته مطلق محروم یې، په دې مضمون کې هــېڅ د امتحــان مستحق نه ګرځې او بل که په امتحان کې شــامل هــم شــې، نــو (۹۰) نومرې خو دې له لاسه ورکړې، که په پاتې (لسو ورځو) کې پوره (لــس نومرې) هم یوسې، نو ته له سلو څخه په (۱۰) نومرو مطلق ناکام ګڼــل کېږې، دا د واقعي امتحان نتیجه ده.

دا چې امنیتي سکتور، پر اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او نورو ټولو برخو مستقیماً اغېز لري، نو په ټولــو مضــامینو کــې دې نــومرې ټیټېږي، نتیجه دا راوځي چې په مجموعي نیمایي (نصف مجموع) کــې پاتې راځې او هر شاګرد چې د (نصف مجموعې) له خطر سـره مخــامخ شي، هغه د حل هېڅ بله لاره نه لري او ناکام ګڼل کېږي.

نو ښاغلیه ډاکټر صیب او راتلونکی احتمالي ولسمشــره! دا ولــس کــه غریب دی، خو حساب او کتاب ورسره شته، موږ چې ټولو ستا د ملاتــړ لپاره ودانګل، په تا کې مو یو کیفیت او یو ظرفیت لیده، که نه په کمیت

او لباس کې خو کېدی شي تر تا، ستاسو نور رقیبان غښـــتلی وو، مــوږ حسابي خلک یو، خبرې په حساب کوو، د الفت صیب په وینا: [(۹) په کیفیت کې تر (۱) غټ دی، خو د عدد له مخې دواړه عددونــه دي، کــه موږ یو (۱) تر نهو (۹) د مخه ولیکو، نولس (۱۹) کېږي خــو شــل (۲۰) کېږي نه، خو که نهه (۹) تر یوه (۱) د مخــه ولیکــو نــو یــو نــوي (۹۱) ورڅخه جوړېږي، خبره ان سلو (۱۰۰) ته رسېږي].موږ ځکه ته مخکــې کړې چې کیفیت او ظرفیت دواړه درکې وو. په ټاکنو کې چې مــوږ، تــه پنځه (۵) تر ډاکټر عبدالله عبدالله یو (۱) غوره بللې او د مخه کولې مو، د همدې کیفیت له امله و، ځکه په دې حالت کې پنځوس + یو (۱+۵۰) پوره کېدل، خبره قانوني حد ته رسېدله، خو که یو (۱) درڅخه دمخــه شوی وای، خبره پنځه لسو (۱۵)ته رسېدله، شل(۲۰) کېدلــه نــه، خــو ولس سره اوس اندېښنه ده چې تاسو ډاکټر عبــدالله عبــدالله پــه نــا مستقیم ډول تر ځان د مخه کړ، نو ځکه خو دې خبره شــل نــه کــړه. اوس یو ځل بیا وایم چې دا کیفیت او ظرفیت د مضر سیاسي مصلحت له امله مه قربانوه، خپله ماضي مه بدرنګوه. ستا تریخ ولسي او ټــولنیز چلند هم پر ولس ځکه ښه لګېده چې خلکو فکر کاوه، په وطن کــې د حاکمې ناپاکۍ د پاکولو لپاره همدغسې یو ترخه شخصیت ته اړتیــا ده که نه خو دا ولس د هېڅا دومره ترخه او تروه ژبه نه شي زغملای، خــو داسې ښکاري چې دا تریخوالی یوازې د هغو کســانو پــه مقابــل کــې استعمالېږي چې خپل پلویان دې دي، مخالفینو سره خوږ او موافقینــو سره تریخ چلند تر ډېره وخته پورې هېڅا ته د زغــم وړ نــه دی. کــه د ښاغلي عبدالله عبدالله د ټیم د پرله پسې غوښتنو پر وړاندې ستاسو د ټیم له خوا هم پرله پسې، خو معقولې غوښتنې مطرح شــوې وای، نــو

خبره دې یو طرفه افراطي حد ته نه رسېده او نن به نړیوالو منځګړو د دواړو خواوو په معتدلو او معقولو غوښتنو کې منځنی حد ټاکلی و، هم به تاسو او هم به ولس ته په ګټه و، خو څرګنده خبره ده چې ستاسو په استازۍ غالباً هغه کسان په مذاکراتو کې ګډون کوي چې نه قوي ولسي بېز او بنسټ لري، نه قوي سیاسي جرئت او نه هم فرهنګي مهارت، دا ډول اشخاص اکثره د پخوانۍ شمالټلوالې پاتې شوني او د هغو ټپسارې دي، داسې څوک ما ونه لیدل چې مقابل ټیم سره د مخالفت پخوانۍ (سره کرښه) ولري چې یو بل تر هغې وانه وړي او هر یو خپل برید وپېژني، ځکه خو یې په اعلامیه کې د ((مقاومت)) اصطلاح هم په خاص مهارت تېره کړې ده. ستاسو له سیاسي تجربې، علمي او سیاسي تفکر څخه دا هیله نه کېده، هغه الفاظ او یا اصطلاحات دې د ارزښتونو او درناوي په توګه ومنل شي چې لا هم ترې د وینو بوی راځي. تاسو پوهېږئ چې د ((مقاومت)) د اصطلاح تر چتر لاندې یوه خاصه ډله، سیمه او یو خاص ګروپ له دې ملت څخه ناوړه باج اخلي او دا د خپلو سیاسي او بشري جنایتونو د پټونې لپاره یوه وسیله ګڼي. کله چې د پنځه (۵) سلنه خلکو ((مقاومت)) د یو اصل په توګه منل کېږي، د پنځه نوي (۹۵) سلنه خلکو ارزښتونه بیا کوم دي؟. د (جهاد) له مقدس نامه څخه هم ځینې روس پلوه پرتوکولیان خپله سیاسي ګټه پورته کوي، جهادچې د ټول افغان ولس حماسه ګڼل کېږي، اوس څو محدودو جنګسالارانو یرغمل کړی او د جهادي ارزښتونو پر ضد ترې ګټه اخلي. کله چې د افغانستان اساسي قانون د ټولو وګړو تر منځ دتساوي اصل او اسلامي ارزښتونه معیار ګڼي، نو بیا هېڅ، اړتیا نه شته چې په دې منځ کې دې هغه تنظیمي

اصطلاحات چې د نفرت بوی ورڅخه راځي پر خلکو پــه زوره تحمیــل شي، دا له طالبانو او نورو جمعیت ضد ډلو ســره د پخلاینــې بهیــر تــه څرګند زیان رسوي او جګړه لا پسې غځوي. د جهاد له مقدس ارزښت پرته چې د ټول ملت مشترکه حماسه ګڼــل کیــږي، نــورو هــیڅ ډول تنظیمي اصطلاحاتو ته اړتیــا نــه وه، ددې ډول اصــطلاح کــارول ددې څرګندونه کوي چې ستاسو ټیم کې لا هم د نظار شورا د فکــري خــط پلویان خپل اغېز لري. اوس چې په اوبو ورګډ شوی یې، نــو د ډوبېــدو احتمال دې زیات دی، هر څوک چې بې ګــودره اوبــو تــه ورګــډېږي، کښتۍ به یې ضرور ډوبېږي.

مانو اخر به دې کښتۍ په سمندر ډوبه شي

چې بې ګــودره ورګـــــډېږې دا مې یاده لره

په دې خاطر چې ته اوس مانو یې او ټول ملت تا سره په دې کښتۍ کې سور دی، نو د ملت د نجات لپاره هڅه وکړه، د ملت د ژغورنې یوه حل لاره دا ده چې کله د ټاکنو نتیجې رڼې او ټولو تائید کړې او ته سپین باز شوې، بیانو پر لوړ غره کېنه، خپل ملت او نړیوالو ته خپلو پیغــام واوره، ووایه چې ما د څوکۍ او مقام لپاره مبارزه نــه وه کــړې، مــا د ملــت د سوکالۍ لپاره دا ټولې هلې ځلې کړي، زما ملت لــه جنجــالي ائتلافــي حکومت او د هغه له ماهیت څخه ښه خاطره نه لري، لــه هغــه څخــه کرکه کوي، که دا ائتلافي حکومت په هر نامه وي، د (ملــي وحــدت) د حکومت په نامــه، د (اســلامي دولــت)، (اســلامي امــارت)، (اســلامي جمهوریت) (دیموکراتیک جمهوریت) او یا تر بل کوم نامه لاندې، خــو چې ماهیت یې ائتلافي وي، نه دوام کوي او نه یې خلک مني، ښه لاره

خو داده چې ډاکتر صیب عبدالله عبدالله دې د ټاکنو له قانون سره سم تاسو د ولسمشر په توګه ومني او خپله دې د (اپوزېشن) مشر شـي او ته په مقابل کې خلکو ته ډاډ ورکړه او ژمنه وکړه چې زه پـه حکومـت کې د افغانانو تر منځ له هر ډول تبعیض پرته د لیاقت پر اساس د ټولو افغانانو استازیتوب تضمینوم او خپل ولس ته مسؤل یم.
که چېرې نړیوالې ټولنې او ډاکټر عبـدالله بیـا هـم د (ملـي وحدت) د حکومت په نامه پر ګډ حکومت ټینګار کاوه، نو یـو اخلاقـي جرئت وکړه، ټول حکومت ډاکتر عبدالله ته پرېږده، ته او پـه ټـیم کـې چې دې څه وفادار خلک دي، هغه دې اپوزېشن ته لاړشي او ووایه چې د انتخاباتو له ګټلو سره سره زه د څوکۍ شوق نه لرم، عبدالله ته لکـه څنګه چې وایې، ووایه زما ورور دی، دا حکومت دې دی وکړي، هغه نو بیا د ډاکټر صیب عبدالله عبدالله کار دی چې څنګه حکومت کوي او د نړیوالې ټولنې کار دی چې څنګه ورته دوام ورکوي. درېیمه لار هم شته چې تاسو او ډاکټر صیب عبدالله دواړه موافقه وکړئ او ووایئ چې موږ په ګډه د ملي وحدت حکومت جوړوو، خو اساسي شرط به یـې دا وي چې نه د ډاکټر عبداله عبدالله او نه هم ستاسو د انتخاباتي ټیم یو غړی به هم د حکومت په عادي او لوړ پوړي پوست کـې دنـده نـه اخلـي. حکومت دې د ولس د پراخو پرګنو له منځه له داسې باکفایته اشخاصو څخه جوړ شي چې هم لیاقت ولري او هم دې له دې دواړو ټیمونو، یوه سره هم اړیکي ونه لري. د دواړو انتخاباتي ټیمونو اشخاص دې په ګـډه د اپوزېشن یوه کمېټه جوړه کړي، بایلونکی نوماند دې په راس کې وي، هر هغه کار چې دې ناپییلي حکومت کاوه او نیمګړتیا په کـې وه، پـر هغه دې نیوکه کوي او ولسمشر به هغه اصـلاح کـوي. کـه دا ټیمونـه

رښتیا هم هېواد ته وفادار وي او څوکۍ نه غواړي، نوښه لاره یې داده چې څوکۍ نورو هېوادوالو ته د خدماتو لپاره پرېږدي او دوی دې د خدماتو د سر ته رسولو څار وکړي او که د څوکۍ خبره نه وي، نور خو هېڅ مشکل نه شته، کله چې د دواړو ټیمونو مکس شوې تګلاره تطبقېږي، نو نوره په کې څه ستونزه پاتې کېږي؟

زه د یوه افغان او ستاسو د یوه نا رسمي کمپاینر او د هغه چا په توګه چې ستا په کمپاین کې تر ټولو زیات ستړی شوی او متضرر شوی، حاضر یم چې ستاسو په حکومت کې هېڅ ډول دنده وانه خلم او تر ځان بل مستحق ته ځای پرېږدم، نو ستاسو هر کمپاینر باید د هېواد د ګټو لپاره دې حالت ته حاضر وي.

خو له اوسني تصنعي او فشاري جوړ جاړي څخه داسې ښکاري چې دا لاره ډېره اغزنه ده. په دې ترکیب کې د نړۍ یو مفکر څه چې سل مفکران هم راشي، حکومت یې دوام نه کوي، یو (علي بابا) او (څلوېښت) غله نه چلېږي. او بیا خو چې د دواړو ټیمونو غله او فساد ګر سره یو ځای شي، نو بیا به یې ښه جوړه کړې، د اپوزېشن مشر به هم د خپل اجرائیه رییس او نیم حکومت په زور وضعه اخلالوي او ولسمشر به کار ته نه پرېږدي، هم به مسؤلیت نه لري، هم به سپینه کوتره وي، ولسمشر به هم کړېدلی وي، هم به شرمېدلی، د عوامو ښځو په اصطلاح هم به بوره وي، هم بدنامه، مزې به اپوزېشن کوي، کنځلې به په اصطلاح پوزېشن خوري، د ولسمشر کرزي د واکمنۍ دوره به بیا تکرار شي تر هغې څخه هم څو ځله په متبذله بڼه، خلک به ولسمشر کرزي ته د دعا په ارمان شي، او د ((تحول او اصلاحاتو)) او ((تداوم او همګرایي)) له یو ځای کېدو څخه به داسې یو ((شرم)) وزېږي چې

پخواني شرمونه به ټول ورته له حیرته ګوته پــه غــابن شــي. د (ملــي وحدت) د حکومت تر نامه د سهامي شرکت جوړول همدا اوس عملاً د هېواد قوانین، انتخاباتي بنسټونه او نور اورګانونه پیکــه او نــا اعتبــاره کړل، پر ټاکنو د خلکو باور له منځه لاړ او افغانستان کــې د ټــاکنو تــر چتر لاندې د ائتلافونو یوه نوې متبذله لړۍ پیل شوه. نو که د نړۍ ستر مفکر صیب دا حالت همداسې غواړي، مهرباني دې وکــړي ورځــي دې پرې، حکومت یې غیر له هغې هم په دې حالت کې تر لویې جرګې نــه رسېږي، موږ ورته سر له همدا اوسه د ماتې مبارکي وایو.

وما علینا الاالبلاغ

# غوځ سړي او پخ کارونه

## (د ډاکټر غني د واکمنۍ یو کال)

[دا لیکنه د ډاکټر اشرف غني پر مشرۍ د ملی وحـدت د حکومـت د قانون له مخې د یو کلنۍ په مناسبت شوې وه]

د (۱۳۹۴ل) کال د غبرګولي یا جوزا پر(لومړۍ) نېټه د ډاکتـر غنـي د واکمنۍ یو کال پوره شو.، د اساسي قانون د (۶۱)مې مادې د حکـم لـه مخې ((د جمهور رییس وظیفه تر انتخابـاتو وروسـته د پـنځم کـال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي.

د جمهور رییس د کار تر پای ته رسېدو د مخه د نوي جمهور ریـیس د ټاکلو لپاره انتخابات، له دېرشو تـر شـپېتو ورځـو پـورې، مـوده کـې کېږي.))

که د اساسي قانون همدا حکم، رڼا او محتوا په پام کـې ونیسـو، نـو د ولسمشر ډاکټر اشرف غني دنده او کاري موده دده د واکمنۍ د پـنځم کال د غبرګولي پر لومړۍ نېټه پای ته رسي او د غبرګولي لـه اوسـنۍ لومړۍ نېټې څخه د مخه زمانه یې چې محاسبه کړو، نو دده له واکمنۍ څخه پوره یو کال او یا هم (۳۶۵) ورځې وخت تېر شوی، البته له عملي پلوه دده له واکمنۍ (د ۱۳۹۳ل کال د تلې یا میزان له (۷) نېټې د یـا د سوګند یادولو له ورځې څخه اته میاشتې یا (۲۴۳)ورځې تېرې شـوي، خو قانون دا وخت نه محاسبه کوي، د قانون حسـاب قـانوني دی او د سیاستوالو مجبوریتونه او سازشونه د هغوی په خپل کفایت پـورې اړه

لري. قانون چا ته وخت نه ببښي او نه هم چا سره خپلـوي او دښـمني لري اوس نو ډاکټر غني د خپلې واکمنـۍ لپـاره ټـول (۴) کلونـه یـا (1,460)ورځې نور وخت لري. اوس ټول ضایع شوی یا تېر شوی وخـت دده د ټولې قانوني واکمنۍ شل (۲۰) سلنه مهال جوړوي، یانې دا چـې (شل) په سلو کې وخت ضایع شوی، خو (دوه) په سلو کې کارونــه نــه دي ترسره شوي، که له پاتې یو زرو څلور سوه او شپېتو (1,460) ورځـو څخه د جمعې او پنجشنبې ورځې، د متفرقه رخصتیو ورځې، د بهرنیو سفرونو مهال، ببړني وختونه، د ناروغۍ مهال او نور داسې وختونه چې اټکل یې نه کېږي، له یاد وخت څخه وباسو، نو ډاکټر غني ته بــه ایلــه (۹۰۰) کاري ورځې پاتې شي او که په دې مهال کې حکومت په همـدې سرعت روان وي، نو په سلو کې (شل) سلنه کارونه هم نه شي ترسـره کولای.

اوس نو که زه د یوه افغان او مسلمان په توګه، له قانوني پلوه د ډاکټـر اشرف غني تېره یوه کلنه دوره ونه ارزوم، حقیقـت بیـان او واقعیـت څرګند نه کړم، نو د خدای (ج) او د خپل مظلوم ملت پر وړاندې به مې غاړه بنده وي، دلته غواړم تېر یو کال کـې شـویو او ناشـویو کـارونو، نیمګړتیاوو او ستونزو ته لنډه نغوته وکړم:

**ژمنې**:پخواني نوماند او اوسني ولسمشر (ډاکټـر اشـرف غنــي) دوه ډوله ژمنې کړې دي، تر ټاکنو وړاندې او تر ټاکنو وروســته ژمنــې، تــر ټاکنو وړاندې ژمنې نه یوازې دا چې عملي نه شوې، بلکې تر ډېره حده د هغو خلاف عمل هم وشو. طبیعي خبره ده چې تر ټاکنو وړاندې ژمنې له عملي تطبیق سره پوره سمون نه شي لرلای او پــه نــړۍ کــې بــه د

ولسمشرۍ داسې لړ نوماندان پیدا شي چې خپلې ټولې کـړې ژمنــې ټکی په ټکی او سل په سلو کې عملي کړي، خو داسې مثالونه هم ډېــر کم پیدا کېږي چې یو کاندید دې د خپلو کړیو ژمنو مخالف لوری غوره کړي.:((ائیتلافي حکومت نــه جــوړوم، ســهامي شــرکت نــه جــوړوم، زورواکي له منځه وړم، قانون واکمنوم، د فساد جرړې باسم، د خلکو په دسترخوان کې تغیر راوړم، عادلانه نظــام جــوړوم، خلکــو تــه شــغل ایجادوم، دا کوم او دا... او که چېرې دا کارونه مې ونه کړل، نو امتحــان راڅخه واخلئ، د سلو ورځو امتحان درکوم، که پارچه مــې ســپینه وه، ناکام مې کړئ)) او داسې نورې په لسګونو ژمنې.

دا تر ټاکنو د مخه ژمنې وې، تر ټاکنو وروسته ژمنې؛ په دوو اونیو کــې کابینه جوړوم، په دوو میاشتو کې یې جوړوم، خبره نیم کال ته ووتــه، بیا هم پوره نه شوه، ښوونکو ته په شپږو میاشتو کــې د کورونــو لپــاره نومرې ورکوم، دا کار په (۳۰) ورځو کې کوم، دا بل کار په شپېتو ورځــو کې کوم، د قاچاق مخه نیسم، ایران ته د هرات د قیمتي ډبرو مخنیوی کوم، نن سرپرستي ختموم، سبا یې ختموم، خبره کال ته نږدې شــوه، خو سرپرستي ختمه نه شوه. د طالبانو تر حاکمیت وروسته چې په نامه سرپرست وزیران وو، خو پوره واک یې درلود، د نړۍ په تاریخ کې دا یو بې مثاله اداره ده چې دومره عمر یې په ناقانونه سرپرستۍ کې تېر کــړ. ولسمشر داسې یو دریځ کې دی چې چارواکي ګوښه کولای شي، خــو مقررولای یې نه شي، د پوځ اعلی سر قومنــدان دی، خــو د ولســوالۍ امنیه قومندان نه شي مقررولای، نه یوازې په تقرر کــې پــوره واک نــه لري، بلکې دده په حکم مقرر شوي کسان هم د ((اجراییه رییس)) لــه خوا له کاره ګوښه کېدی شي، ښه بېلګــه یــې د انتخابــاتو د ســمون

کمېسیون لپاره د(شکریې بارکزۍ) او د ستري محکمې د اجراییه مقام لپاره د ښاغلي (حلیمي) تقرر و، چې د دندې تـر اشـغال وړانـدې لـه دندې لرې کړای شول او داسې نور ګڼ مثالونه.

د فساد پر ضد مبارزه کې یو څه پرمختګ شوی، هغه هم د غنـي تـر واکمنۍ وړاندې فساد په برخه کې، لکه د (کابل بانک) د دوسـیې بیـا سپړنه او دفاع وزارت کې د قراردادونو ارزونه، خو عـام فسـاد چـې د دولت په رګونو کې له پخوا راروان دی او اوس یې په دې دوره کې هم د نامسؤلیتۍ او سرپرستۍ له امله ببلا ببلې بڼې خپلې کړي، ددې فساد په مخنیوي کې نه یوازې مثبت پرمختګ نه دی شـوی، بلکـې فسـاد خپلې ریښې لاپسې غځولې دي.

**قانون**: په افغانستان کې دا یو سیاسي دود ګرځېدلی، څوک چې کوم شعار ورکوي، تر ټولو د مخه دی په خپله د همغـه شـعار پـر وړانـدې ودرېږي، ډاکټر اشرف غني هم تر هر چا زیات د قانون د حاکمیت شعار ورکاوه، خو تر هر چا وړاندې ده د قانون ډډ ته تبـر ونیـوه. کلـه چـې ډاکټر اشرف غني احمدزي د ولسمشر په توګه سـوګند یـاداوه، نـو د ستري محکمې رییس ورته په اساسي قانون کې د مندرج سوګند لـه مخې قسم ورکړ، دا لوړه یا سوګند په دې ډول دی: ((د لوی خـدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم، د اساسي قانون او نورو قوانینـو رعایـت او د تطبیـق څارنـه وکـړم. د افغانستان د خپلـواکۍ، ملـي واکمنـۍ، زمکنـۍ بشـپړتیا سـاتنه او افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای(ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتـړ د افغانسـتان د خلکـو

پرمختګ او هوسایۍ په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم.)) تر پنځه لسو یا شلو دقیقو وروسته یې خپل دا کړی قسم هېر ، اساسي قانون یې تر پښو لاندې او د ډاکټر عبدالله لپاره یې له مخکینې ناقانونه تړون سره سم اجراییه پوست رامنځته کړ. دا ډول پوست په اساسي قانون کې نه شته. ځینې ښاغلي کېدی شي ووایي چې دا خو دده یو مجبوریت و، د مجبوریتونو بحث جلا دی او د قانون بحث جلا. دلته دواړو ډاکټرانو، یو د ځان لپاره د ناقانونه اجراییه پوست په غوښتلو او بل یې په منظورولو سره قانون تر پښو لاندې کړی دی. همدغه اساسي قانون چې څو دقیقې وړاندې پرې دې دواړو ښاغلو قسمونه وخوړل، دواړو په ګډه تر پښو لاندې کړ. په تېرو (۳۶۵) ورځو کې تر (۳۶۵) ځلو زیات اساسي قانون او د هېواد نور قوانین تر پښو لاندې شوي دي. عجیبه خبره خو لا داده چې د همدې قانون ناقضین بیا کله کله طالبانو ته د سولې لپاره د همدې اساسي قانون رعایت د یوې سرې کرښې په توګه یادوي، په داسې حال کې چې دوی تر بل هر شخص او سیاسي جریان زیات همدا اساسي قانون تر پښو لاندې کړی او بې باوره کړی دی.

**امنیت**: ولسمشر د خپل حاکمیت په پیل کې وویل، چې ډېره پاملرنه یې پر امنیتي چارو راڅرخي، کله چې دده له پاملرنې سره سره امنیت لا پسې خراب شو، نو بیا یې وویل چې په لومړنیو شپږو میاشتو کې مې ټوله پاملرنه بهرنیو اړیکو ته وه. امنیت تر دې بریده خراب شو، چې طالبان او یا په ټوله کې مخالفین له چریکي جګړو څخه منظمو جبهه یي جګړو ته راووتل، د امنیتي ځواکونو او ولسي وګړو مرګ ژوبله هم د

پخوا په انډول څو ځله زیاته شوه. اوس لږ تر لږه د هېواد (۴۰) لـوی او واړه ښارونه تر شدید تهدید لاندې دي.

**اقتصاد**: د ډاکتر اشرف غني د کمپاین تر ټولو مرکــزي ټکــی همــدا اقتصادي ښېرازي او اقتصادي ستراتیژي وه، سره له دې چې په چـاپ شوي منشور کې یې دا برخه نه ښکارېده، خو په خبرو کې یــې ډېـره یادېدله، خلکو هم ده ته د یوه اقتصاد پوه په توګه کتل او دده له ژمنــو سره سم یې فکر کاوه چې رښتیا به یې پــه دســترخوان کــې بــدلون راشي. بدلون راغی، خو منفي بدلون، ډاکټر غني تر بریالیتوب وروسته هېڅکله هم نه نظري اقتصادي طرحه وړاندې کړه او نه یې کوم عملــي ګټور اقتصادي ګام پورته کړ، د پانګې تېښته لا هــم روانــه ده، بهرنــۍ مرستې ورځ تر بلې کمېږي، یوازې چین او امریکا ته په دوو سفرونو کې د مرستې ژمنې وشوې، خو عملي بڼه یې لا نه ده خپله کړې. اوســنی حکومت په تېر نظام کې د ترسره شویو پروژو لــه املــه هــم د ځینــو شرکتونو چې نږدې پنځه سوه (۵۰۰) میلیونه ډالر اټکلېــږي، پــوروړی دی او د بودیجې کسر هم لري. افغانۍ هم د ډالرو په مقابل کې په سلو کې نږدې پنځــه (۵) ســلنه خپــل ارزښــت لــه لاســه ورکــړی دی. د افغانستان بانک د د اوه اعشاریه پنځه (۷،۵) ملیاردو ډالرو له زېرمــې څخه د یوه کال په بهیر کې اته سوه (۸۰۰) ملیونــه ډالــره د افغــانیو د ثبات پر ساتلو لګول شوي، خو دا ثبات لا تراوسه ټینګ شوی نه دی.

**اشتغال**: د اشتغال په برخه کې هم ډاکټر اشرف غني ژمنه کــړې وه چې لږ تر لږه (یو میلیون شغلونه) به رامنځته کړي، نه یــوازې دا چــې نوي شغلونه رامنځته نه شول، بلکې تر (سلو زرو) زیاتو افغانــانو خپــل

کارونه له لاسه ورکړل. ان دولتي ادارو کې چې تر (ځلـورو زرو) زیـات پوستونه خالي وو، هغو ته هم د خپلمنځي اختلافاتو لـه املـه څـوک جذب نه شول. د بېکارۍ لړۍ په چټکۍ سره مخ په بره روانــه ده او دا لړۍ به پر افغاني ټولنې خورا منفي اغېزه ولري.

**نړیوال اړیکي**: سره له دې چې ډاکټر اشرف غني وویل، په شـپږو میاشتو کې یې زیات تمرکز پر نړیوالو اړیکـو و او تـر دې وروسـته بـه کورنیو چارو ته ډېره پاملرنه کوي، خو دا اړیکي هغومره موثر نه وو چې افغانستان ته عملاً اقتصادي ګټه راوړي او یا هم د مرستو بهیر رامـات کړي. پاکستان سره ناسنجول شوي او ناباوره اړیکي هـم ددې لامـل شول چې د افغانستان یو شمېر طبیعي متحدین ځان په حاشـیه کـې احساس کړي.

**طبیعي متحدین**: د تېر یو کال په تېره بیا د ولسمشر په توګه تر سوګند یادولو وروسته موده کې اشرف غني خپـل یـو زیـات شـمېر طبیعي متحدین له لاسه ورکړل، ځای یـې یـو شـمېر غـوړه مـالو او بېلابېلو تنظیمي اشخاصو ونیو، دا کار ددې سبب شو چې دی د خپـل دولتي سیال پر وړاندې خپل پخوانی قوي دریځ له لاسه ورکړي او هغه هم دده پر دې نیمګړتیا او کمزورتیا پوه شي او په حکومت کې خپلـې ریښې لا پسې وځغلوي. دا کار ددې سبب هم شو چې حکومت کـې د واک دوه سیاسي سرچینې رامنځته شـي. یـوه سـرچینه پـه خپلـه ولسمشر اشرف غني دی چې قانوني واک ورسره دی، خو عملـي واک یې کمزوری دی او یا یې دی د تعمیل وړتیـا نـه لـري. بلـه سـرچینه اجراییه رییس (ډاکټر عبدالله) دی چې قانوني واک نه لري، خو عملـي

واک ورسره دی؛ د ویتو صلاحیت هم لـري او د ډاکټـر اشـرف غنـي قانوني صلاحیتونه یې فلج کړي دي. په تېره موده کــې د دولـت او یـا حکومت عملي او قانوني سرچینې دواړه په ټکر کې وې، نو ځکــه یــې ولس ته څه پاموړ خدمتونه وړاندې نه کړای شول.

**ټولنیز چلند**: ډاکټر اشرف غني خپل یو زیات شمېر طبیعي او نـا طبیعي متحدین، کاري مامورین د خپل ترخه ټولنیز چلند له امله هــم له لاسه ورکړل، دده ذاتي، ټولنیز او شخصي چلند زموږ په ټولنه کې له واکمنو ټولنیزو، اسلامي ارزښتونو او اخلاقي معیارونو سره سمون نــه خوري. ډاکټر اشرف غني یوازې او یوازې د دولتي مقام لــه مخــې تــر نورو لوړ رتبه او ټیټ رتبه دولتي چارواکو او مــامورینو قــانوني لوړتیـا لري، خو د انساني او افغاني معیارونو له مخې او دده د خپل شعار پــه مصداق ((هېڅ افغان تر بل افغانه برتر نه دی او هېڅ افغان تر بل افغانه کمتر نه دی))، دی هم پر بل هېڅ افغان کومه ځانګړې لوړتیا نه لــري. خو دده عملي ورځنی او کاري چلند داسې دی؛ یوازې هغه مامورین به ورسره ګوزاره وکړای شي چې څوکۍ او مقام ته تر خپل حیثیته زیـات اهمیت ورکوي. یو شمېر خلکو ورځخه د همدغه چلند له امله خپلــه لاره جلا کړې او دا لړۍ به نوره هم پسې دوام پیدا کوي.

**مایکرو منېجمنټ**: د ولسمشر غني ډېر وخت پر وړو وړو خبرو ضایع کېږي. خپل لومړی فعالیت یا کار یې له خپــل اشــپز ســره لــه جنجاله پیل کړ، همداسې د ارګ د وړو مامورینو د ســهار د چــای تــر څرنګوالي او نورو وړو خبرو پورې وغځېداو همداسې تر ولایتي کچــې پورې یې وړې وړې خبرې تعقیب کړې، دا کــار ددې ســبب شــو چــې

ولسمشر د کم ارزښته کاغذونو پر لوستو مصروف شي او د هېواد لــوی لوی او مهم کارونه ترې پاتې شي، له ملازم څخه نیولې تر وزیره پــورې، له ټولو افرادو څخه امتحان اخیســتل د ولسمشــر د وخــت او کــاري منبجمنټ څرنګوالی په ډاګه کوي، چې په نورو هېوادونو کې ساری نه لري او نه هم شونی دی.

**طرحې او ازموینه:** ډاکټر اشرف غني ژمنــه کــړې وه چــې زه د هېواد د پرمختیا لپاره طرحې لرم، ((د عادلانه نظام لار)) راته معلومــه ده، د هېواد د پرمختګ ((منشور)) مې برابر کړی او که چېــرې دا مــې عملي نه کړل، نو په (سلو) ورځو کې راڅخه امتحان واخلئ او که پارچه مې خرابه وه، ناکام مې کړئ، خو اشرف غني هېڅکله په (سلو) ورځــو او ان په درې سوه پنځه شپېته (۳۶۵) ورځو کې حاضر نه شو چې کوم ناپېیلي ښوونکي ته د امتحان د پارچې لپاره کېني او نه یې هم د هېواد لپاره کومه لیکلې طرحه وړاندې کــړه، اوس لــه نــورو خلکــو طرحــې غواړي، له ملازمه نیولې تر وزیره پورې هر څــوک چــې مقررېــږي، دی ورته وایي طرحه دې راوړه! له دې څخه معلومېږي چې نه اشرف غني، نه یې اجراییه رییس او نه هم د اوسنۍ اداري اړوندې متضــادې ډلــې کومه طرحه لري چې وزیر، معین، رییس او ملازم ته یې وړانــدې کــړي چې دغه زموږ پنځه کلن پلان دی، راته عملي یې کړه! نــورو هېوادونــو کې چې کوم نوماند بریالی شي له خپلې طرحې ســره ســم ژر د نظــام چارې سمبال کړي، دلته د نظام مشران له مامورینو طرحې غــواړي او بیا څوک دی چې دومره طرحې ولولي او بېرته یې لیکونکي تــه د رد او یا تائید ځواب ورکړي. دا ډول پلمې لور په لوټه اچول او د وخت ضایع

کول دي، هېڅوک نه شته چې اوس له ده څخه پوښتنه وکړي او ورتــه ووايي چې هغه ستا طرحه څه شوه؟ همغه راکړه چې عملي يې کړو!

**سهامي شرکت**: د اشرف غني له خولې د سهامي شــرکت خبــره زموږ په ولس کې اوس ډېره عامه ده، په تېره ياده موده کې خبــره تــر سهامي شرکت هم واوښته، سهامي شرکت کې خو خبــره د ونــډې د څومره والي په مقياس وي، يو څوک په سلو کــې لــس سـلنه پيســې ورکوي، په شرکت کې يې ونډه هم همدومره وي. خو دا سهامي شرکت چې اوسمهال له اوو (۷) ونډه والو جوړ دی، په ټاکنو کــې د چــا ونــډه زياته، د چا کمه او د چا هم په صفر حساب وه، خــو اوس يــې د واک د څومره والي کچه معلومه نه ده. که احمدضيا مسعود له پنجشېر څخــه يوازې څو د ګوتو په شمار رايې راوړي دي، بيا يې هم د خوست، پکتيا، پکتيکا تر ميليونونو رايو پــه حکومــت کــې د ونــډې وزن زيــات دی. پنجشېر دره او پخوانۍ نظار شورا بيا له څو لارو په نظام کــې د زيــات امتياز څښتنه شوه؛ (د ټولو نيمه نيمه د ابۍ شوه يوه نيمه) يــو زيــات شمېر يې له پخوا څخه په حکومت کې پر غوښنو څوکيو ناست وو، يو شمېر نورو يې د احمد ضيامسعود له لارې، ځينــو نــورو يــې د ډاکتــر عبدالله له لارې او يو شمېر نورو يې د ښاغلي ((مفکر)) د ((ملي تفکر)) له امله په حکومت کې پر تېر امتياز سربېره نورې ونــډې او امتيــازات واخيستل. دا ډول بې عدالتي د تېرې بې عدالتۍ تداوم دی، دې کار د سهامي شرکت مفهوم نور هم د خلکو په ذهن کې څرګند کړ. اوس دې حکومت يا سهامي شرکت ته خلک اووه (۷) سرې حکومت او ځينــې ورته (اوه سرې ښامار) وايي چې د مظلوم ولس پر ستوني ناست دی.

**سرپرستي**: د سرپرستۍ په باب مو دمخه هم یادونــه وکــړه؛ اوږده سرپرستي ددې سبب شوه چې هېڅ دولتي چــارواکی پــه ښــه ډول د کارونو اجرا ته زړه ښه نه کړي، ځینو له یوې مخې پر فساد لاس پــورې کړ او فکر یې وکړ چې هسې هم له دندې لرې کېږي. لــه ځینــو نــورو څخه د مسؤلیت احساس لاړ او ځینو نورو بیا د مخالفو ځواکونو پر ضد له مبارزې لاس واخیست، په ټولیز ډول ټول دولتــي سیســتم، د بــې احساسۍ او بې مسؤلیتۍ پر رنځ اخته شو، په لسګونو زره کارونه معلق پاتې شول او کله چې سرپرستي پسې وغځېدله او حکومتي لوړ پــوړي او ټیټ پوړي چارواکي پوه شول چې ولسمشر په یــو اړخیــز واټ کــې روان دی، یوازې د انفکاک او سرپرستۍ صلاحیت لري او د نــوي تقــرر لپاره له خنډونو سره مخ دی، نو خبره لا پسې خرابه شوه.

**کرکټرونه**: که ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله هر څومره د ((ملي وحدت حکومت))، د صمیمیت، همغږۍ او یووالي خبرې کوي، واقعیت خو دادی چې دا له دوو تنو او د هغوی له متضادو ټیمونــو څخــه جــوړ حکومت دی او بیا هر یو ټیم یې په خپل منځ کې هــم د اضــدادو یــوه مجموعه ده. خو ددې ترڅنګه د عبدالله ټــیم پــر پخــوانۍ اډیــالوژۍ سربېره د وخت له تقاضا سره سم ځــان اعیــارولی شــي، زړور، مــاهر، چالاک، زورواکي او ډول ډول اشخاص په کې شته، لــه منفــي جرئــت څخه هم برخمن دي، خو د غني په استازۍ چې څوک مقررېږي اکثــره یې مړخولي، پخ خولي، ټېساري، مړاوي، ګوزڼ وهلي او داسې اشخاص دي چې د مقابل طرف د ځواب ویلو جوګه نه دي. دده په شــمول دده په ټول ټیم کې داسې څوک نه تر سترګو کېږي چې د قومنــدان عطــا

محمد نور د سپوره خبرو پر وړاندې ودرېږي او هغه ته قـانوني ځـواب ووايي.

**انډول**: دې کې هېڅ شک نه شته چې د اجراييـه پوسـت رامنځتـه کول د اساسي قانون يو څرګند مخالف عمل و او په حکومت کې مقابل لوري ته د پنځوس سلنې ونډې ورکول هم د قانون خلاف کار و او هم د ملي يووالي پر ضد هڅه وه. دا حکومت که څه هـم ((د ملـي يـووالي حکومت)) په نامه نومول شوی، ياني د (حکومت) کليمه په کـې قيـد ده، نه د (دولت) خو د ډاکټر غني سيال اوس په ټول دولـت کـې: پـه قضا، څارنوالۍ، خپلواکو ادارو او د مشرانو جرګې په انتصابي غړو کـې هم همدومره ونډه غواړي. د ډاکټر غني له لوري هېڅوک نه شته چـې ورته ووايي د همدې ناقانونه تړون محتوياتو ته دې مراجعه وشي.
کله چې د دواړو سيالانو تر منځ په حکومت کې په سلو کـې پنځـوس ونډه ومنل شوه، نو هر طرف بايد حکومت ته خپل خپل نـوي پلويـان معرفي کړي وای. دا وېش په داسې حال کې و چې ډاکټر عبدالله لا وار د مخه په حکومت کې په سلو کې اويا (۷۰) ونډه لرله. ډاکټر غني نــه د هغوی د لرې کولو وس پيدا کړ او نه يې په تېره موده کې د خپلو پلويانو د چټک تقرر امکان. کوم ځای کې چې دا امکان پيدا شو، په هغه کـې هم تېروتنې وشوې، د ساري په توګه د دفاع وزير تقرر د غني صلاحيت و، ده چې هر څوک غوښتل بايد راوستی يې وای، دده محاسبه دومـره کمزورې وه؛ لوی درستيز چې تيار پر خپلې څوکۍ ناست و، ده د هغـه سيټ تش او لوی درستيز يې د دفاع وزير په توګه ونوماوه، بيا يـې پـه ولسي جرګه کې بريالی هم نه کړای شو، هم دفاع وزارت او هم د لوی درستيز څوکۍ ترې لاړې، د درانه پوځي کرکتر ښـاغلي شـېر محمـد کريمي شخصيت ته يې هم زيان واړاوه، په دويم تفاهم کـې عبـدالله د لوی درستيز څوکۍ ونيوله او دفاع وزير بېرته غني ته پاتې شو، دا چې

بريالی کولای يې شي که نه دا به وروسته څرګنده شي. په حکومت کې د غني سهم بيا هم پر (دانش)، (دوستم)، (احمد ضيا مسعود) او نورو اشخاصو وېشل کېږي او په وروستۍ نتيجه کې ده ته ډېر څه نه پاتې کېږي، د عبدالله ونډه هم دېته ورته ده، خو دده په انډول په خپل منځ کې همغږي لري او په حکومت کې پخوانی شتوالی يې خو لا سرباری دی، نو اوس د حکومت په داخل کې پوره بحران دی، عدالت او انډول دواړه په کې نه ليدل کېږي. د ډاکټر اشرف غني همدا پرله پسې تېروتنې وې چې له يوه غوڅ او قاطع سړي څخه يې يو سست او پڅ شخص جوړ کړ، داسې يو شخص چې ورځ په ورځ په ټولنه کې خپل حيثيت او باور له لاسه ورکوي.

اوس راځم دېته که موږ هر څومره ددې حکومت پر نيمګړتياوو وغږېږو، بيا به هم ډېرې نيمګړتياوې همداسې ناسپړلې پاتې شي، هر ځای کې يوه نيمګړتيا شته، د عوامو په اصطلاح ((ابۍ ټوله بۍ ده))، خو راځو حل لارو ته!

**څو حل لارې او څو وړانديزونه:** دې کې هېڅ شک نه شته چې دا حکومت خورا متزلزل او کمزوری دی، د ګڼو اعتراضونو او درنو مظاهرو او نورو ولسي پاڅونونو تاب نه لري، هڅه بايد وشي چې دې حکومت ته لاس ورکړل شي چې له دې لړزانده حالته ووځي. دا مهال بل ښه بديل هم نه ليدل کېږي، تر يوه (نه) حکومته، کمزوری او نيمګړی حکومت هم غنيمت دی، موږ د بې حکومتۍ تجربه هم ليدلې، هغه تجربه بايد بيا تکرار نه شي، هڅه بايد وشي چې له ټولو ممکنو لارو همدا متزلزل او کمزوری حکومت پر ټينګ او غښتلي حکومت بدل کړو.

ولسمشر غني او اجراييه رييس که څه هم تر دې دمه ډېر ناقانونه کارونه کړي، بايد دواړه دې ته ژمن شي چې تر دې زيات ناقانونه کارونه

ونه کړي، دواړه باید د ناپېیلو او مسلکي اشخاصو پر ګومارنې، په تېـره بیا په امنیتي، قضایي، انتخاباتي او عدلي ارګانونو کې له یـو بـل سـره توافق وکړي.
ولسمشر باید خپل ټولنیز او شخصي چلند له افغاني کلتـور، اسـلامي اخلاقي معیارونو، او زمونږ د ټولنې له ټولنیز جوړښت سره اعیار کـړي، خپل ولس او خپل کاري متحدین په غبرګ کې ونیسي، د قانون حاکمیت له ځانه نیولې تر واړه ماموره پورې، پر ټولو باندې یو شان عملي کـړي، په حکومت او نورو سیاسي چارو کې د ولس موثر شخصـیتونه شـامل کړي، دولت ته انجیوي بڼه ورنه کړي. انجیوي جوړښت له حکومته بهر وساتي، خپل وخت پر وړو خبرو او جزیاتو ونه لګوي. له خپل اجراییـه رییس سره یو ځای د بهرنیو مرستو د راجلبولو په لټه کې شي، د نظام د بدلولو پر ځای د نظام استحکام ته پاملرنه وکړي. د سولې شورا کـې بشپړ اصلاحات راولي، د ټاکنو کمیسیون او امنیتي سکتور پـه واقعـي مانا ناپییلی کړي او له تنظیمي مکروبه یې وژغوري، د جنګسـالارانو د هر ډول ګواښونو مخه ونیسي، د هغو د دویم نسل په ګومارنه کې پوره احتیاط وکړي، په حکومت کې د حکومتي زورواکۍ مخه ونیسي.
دا او دېته ورته نور وړاندیزونونه کولای شي د اوسني سست ائتلافـي، سهامي او اوه سري حکومت له سمون او بیا وروسته لـه تـداوم سـره مرسته وکړي او که چېرې اوسنی حکومت په همـدې بڼـه او همـدې محتوا روان وي، نو ډېر کم امکان دی چې داحکومـت دې خپـل عمـر پوره کړي.

وما علینا الاالبلاغ

# هوډ، تکل او خپلواکي

دا د هغې وینا لیکنۍ بڼه ده چې ما (یون) په ژوندون ټلوېزیـون کــې د (۱۳۹۴ل) کال د اسد پر (۲۸)مه نېټه د هېواد د خپلــواکۍ د (۹۶)مــې کالیزې په ویاړ جوړه شوې غونډه کې اورولې وه.

## د لوی څښتن تعالی په نامه

## چې د ټولو کائیناتو د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی

قدرمنو مشرانو، مخورو، د ملت د بېلابېلو انتخـابي بنسـټونو اسـتازو، ځوانانو، دیني عالمانو، پوهانو او ددې پرتمیني غونډې ټولو ګډونوالو ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وایم، هر کله راشئ، په خیـر راشـئ، شپې او ورځې مو نېکمرغه، خدای مو د غمونو له سیوري لرې لره.

نن د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو (۹۶)یمه کلیزه ده، زه د افغانستان ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون په اسـتازۍ ددې پرتمینــې غونــډې برخوالو، ټولو هېوادمېشتو او بهر مېشــتو افغانـانو تــه ددې ویــاړلې، پرتمیني او مبارکې ورځې له امله د زړه له تلــه مبــارکي وایــم او هغــو مېړنیو افغانانو ته د زړه له تله د دعا لاسونه لپه کوم چې د خپلو سرونو په نذرانه یې موږ ته خپلواکۍ راګټلې ده.

درنو هېوادوالو! د زماني په تېرېدو سره یو شمېر ارزښتونه خپل رنګ او ماهیت بدلوي او یو شمېر ارزښــتونه بیـا داســې دي چــې د زمــانې د توپانونو زور پرې نه رسېږي، ملي او عقیــده یــي ارزښــتونه د همــدې

تلپاتې ارزښتونو له جملې څخه دي. خو په تېرو درې څلورو لسیزو او په تېره بیا په تېره یوه نیمه لسیزه کې چې هېواد د مثبتو او منفي ارزښتونو د ټکر پر یوه ډګر بدل شوی و، بهرنیو سرچینو او د هغوی د کورنیو تالیځتو له خوا هڅه وشوه چې زموږ ملي او عقیده یي ارزښتونه هم تر ګواښ لاندې راولي. د ملي ورځو پر ځای تنظیمي ورځې او د ملي شخصیتونو پر ځای د تنظیمي اشخاصو، قومندانانو او جنګسالارانو د نمانځلو لړۍ پیل شوه، دولتي امکانات هم د تصنعي اتلانو د ځلا لپاره وکارول شول، دولتي رسنیو د تنظیمي رسنیو بڼه خپله کړه او تنظیمي رسنۍ چې د تعصب او کینې بوی یې له ورایه محسوسېده د ملي رسنیو په نامه ډګر ته راووتې، د بیت المال په پیسو چلېدونکو دولتي رسنیو او ټلوېزیونونو د خپلواکۍ ورځې ته په کال کې دوه ساعته وخت هم نه ورکاوه، خو داسې وخت هم راغلی چې د متنازعه تنظیمي شخصیتونو لپاره یې د یوې میاشتې (۲۷) ورځې هم ځانګړې کړې وې.

دې ډول هڅو نو د ملت پر زخمونو د مالګې دوړولو مانا درلوده. په داسې حال کې چې تېرو (پنځه لسو) کلونو کې ټوله دولتي دستګاه په سلو کې (۸۵) سلنه د یوې مشخصې ډلې او سیمې په لاس کې وه، د خپل مظلومیت مظاهره یې هم کوله او د اپوزېشن د تمساح اوښکې یې هم تویولې، دې ډلو له دولتي امکاناتو څخه په ناوړه ګټه اخیستنې هم ملي شخصیتونه او هم ملي ارزښتونه ګواښل او هم یې د هغوی پر ځلا خاورې وراړولې، دوی له همدې امکاناتو څخه د خپلو کاذبو شخصیتونو د جبري لوړاوي لپاره هم کار اخیسته.

همدې ډلو ټپلو دا مهال زمـوږ پـر پخوانیـو ملـي ارزښـتونو او ملـي شخصیتونو پسې ډول ډول منفي کمپاینونه پیل کړل، په رسـمي او نـا رسمي غونډو کې به یې په قصدي او نا قصـدي ډول ویـل چـې ((دې پخوانیو نو موږ ته څه کړي، کوم اورګاډی یې راته جوړ کړی؟ ټلیفون یې راته جوړ کړی؟ کمپیوټر او نور څه؟ تر دې خو همغه انګریز او روس ښه وو، یو شی خو یې راکول، زموږ نیکونو غیر له جنګونو څه کړي؟ تر دې خو یې چې هغوی ته پرې ایښې وای، هالا زندګی ارام میداشتم، مرا به ازادی چی)) او داسې نورې پټې او ښکاره قصدي او نا قصدي هڅـې. د دوی د قضاوت له مخې دوی له میرویس نیکه څخه د اورګاړي د پټلـۍ د تېرولو هیله کوله او له احمد شاه بابا څخه د موبایل ټلېفون د جوړولو طمع. دوی په اوسنیو معیـارونو او پرمختګونـو دوه نـیم سـوه کالـه وړاندې دوره ارزوله، خو دا یې نه ویل چې افغانستان هغه وخت کې تر کومه سیاله کم و؟ هم یې ازادي لرله، هم ژوند، نه یوازې یې د دښـمن مقابله کوله، بلکې پر دښمن برلاسی هم و. دا خو د وروسـتیو نسـلونو دنده وه چې تېرې بریاوې وساتي او د زمانې له پرمختیاوو سره ځانونـه همغاړي کړي، لکه اوس چې موږ څه نه شو کولای او ټوله پـړه پـر تېـر پښت وراچوو. د روحي، رواني، رسـنیز، تنظیمـي، کـورني او بهرنـي تبلیغاتي جنګ او د ارزښتونو د ټکر پر داسې یوه مهال ډېره سخته وه، چې یو څوک دې راولاړ شي او د حاکم منفي جریان په مقابل کـې دې خپل سر پورته او خپله سینه دې د منطق په زغرو هغوی ته سپر کړي. له هغې ورځې چې ژوندون ټلوېزیون جوړ شو او ورپسې د افغانسـتان ملي تحریک، لومړی کار تکل او هـوډ یـې دا و چـې دغسـې سـختې مبارزې ته باید په شعوري ډول ورودانګي چې تر دې دمه هېڅا د هغـو

پر وړاندې بغاوت نه و کړی، سرټيټو، ځانساتو او ورځچارو ورته لا خپل سرونه ټيټ کړي وو. ژوندون ټلوېزيون تر هر څه وړاندې د جنگسالارانو د خپل سيرت او صورت، خپلې وينا او عمل له مخې (تصوير خبرې كوي) پروگرام کې له کومې تبصرې پرته د هغوی واقعي څېره د هېوادوالو مخې ته کېښوده، دې کار د جنگسالارانو او د هغوی د غوړه مالانو غوصه راوپاروله او ان خبره پر ژوندون د برید تر کچې ورسېده، ولس له خپل ژوندونه ملاتړ وکړ او ژوندون د رښتيا ويلو لړۍ لا پسې وغځوله، کله چې ملي تحريک جوړ شو، نو د ملي شخصيتونو، ملي ورځو او ملي ارزښتونو د نمانځنې لړۍ پيل شوه، ژوندون ټلوېزيون، ملي تحريک او نورو كلتوري، مدني ټولنو او ملي خوځښتونو په گډه هڅه پيل کړه چې د ملي ورځو او ملي شخصيتونو د نمانځنې لړۍ دې پيل شي. درې كاله مخكې مو پر همدې ورځ، په همدغه ځای کې د خپلواکۍ د نمانځنې غونډه جوړه کړه، دا داسې مهال و چې د تېر ائتلافي حکومت مشرتابه په ټوله حکومتي کچه ددې جرئت نه درلود چې د خپلواکۍ ورځ په شاندارو مراسمو سره ونمانځي. یو کال وروسته د حکومت په ځانساتو چارواکو او ځينو نورو رسنيو کې هم لږ ساه وغوړېده او د خپلواکۍ ورځې ته يې يو څه پام وکړ، خو بله ملي ورځ د سنبلې (۹)مه نېټه (له پښتنو او بلوڅو سره د پيوستون ورځ) لکه څنگه چې په كار وه، نه نمانځل كېده، نه حکومت او نه هم نورو رسنيو په دې برخه کې کوم با جرئته گام اوچت کړ، ملي تحريک تر پنځوس كلن ځنډ وروسته (پښتونستان واټ) کې د هغه له استحقاق سره سم د هغه لپاره لوحې جوړې او پر خپل ځای يې نصب کړې او همدارنگه د هېواد په يو شمېر نورو سيمو کې يې د هغو له قانوني او رسمي نومونو

سره سم یې د هغو لپاره سرلوحې جوړې کړې. دا مهال نو که تنګنظرو، پردیپالو، ملت ضد عناصرو، ځانساتو او د مېړي پر مزله روانو احتیاط کارو هر څومره پر موږ پسې بدو رد وویل، خو موږ د حقانیت لمن نیولې وه، خپلې ملي مبارزې ته مو دوام ورکړ، پر خپله ټولنه مو ناروا، نا مشروع او ناقانونه حاکم جریان مات کړ او د ملي ارزښتونو د ځلولو لپاره مو یوه دریځه ښېرته کړه.

نن د لوی خدای (ج) په فضل اکثره هېواد مېشتي او بهر مېشتي افغانان د حالاتو د ترینګلتیا او د ستونزو له زیاتېدنې سره سره، په ډېر جوش او خروش سره د هېواد د خپلواکۍ ورځ په شاندارو مراسمو سره نمانځي، حکومت کې هم یوازې په دې برخه کې څه ناڅه د سرېتوب څرک پیدا شوی، سږ کال نه یوازې په ولسي کچه بلکې په حکومتي کچه هم د دې ورځې د نمانځنې لپاره ښه ترتیبات نیول شوي دي. په کابل، ننګرهار، خوست، لوګر، بلخ، هرات، پکتیا، کندهار، لغمان او اکثرو ولایتونو کې ترتیبات په دې ډول دي چې په (تېرو پنځه لسو) کلونو کې یې ساری نه دی لیدل شوی، موږ د حکومت دا کار ستایو او له ولس څخه هیله کوو چې حکومت ته نورې هم د جرئت ګولۍ ورکړي او د ډار د رد تعویذونه ورته غاړه کې واچوي چې د ملي ارزښتونو د ځلولو په برخه کې له هېچا څخه ونه ډار شي، خو حکومت ته لا ډېر کارونه هم په مخ کې پراته دي، چې دنده او مسؤلیت یې ګڼل کېږي او دا د دې مانا نه ورکوي چې دا نمانځنه به د هغو نورو ارزښتونو د مخنیوي سبب کېږي او یا به هغو ته پاملرنه نه کېږي. دلته غواړم د همدې مهمو کارونو له جملې څخه د ځینو یې لنډه یادونه وکړم.

**۱- برېښنايي تذکرې:** له هغې ورځې چې د برېښنايي يا د هويت د تذکرو د جوړښت، چاپ او وېش موضوع مطرح شوې، نو لـه همغـې ورځې زموږ ټولو هېوادپالو او اسلامپالو هېوادوالو د هويت په تذکره کې د اسلاميت او افغانيت د تثبيت غوښـتنه کـړې، لاريونونـه، غونـډې، احتجاجونه، له اړوندو چارواکو سره کتنې، قانوني لارې چـارې او ټـول ممکنه امکانات چې د ولس د خواخوږو لاس کې وو، هغه ټول وکـارول شول. د ولس د رښتينو بچيو همدې هلو ځلو زموږ عقيده يي هويـت (اسلام) د توطيو د ښامار له ستوني راوويست او د هويت په تذکره کې يې ځای کړ، خو ملي هويت مو د پخوانيو چارواکو د بې کفـايتۍ، مضـر احتياط او د اوسنيو چارواکو د بې جرئتۍ، ډار او مضر مصلحت له املـه لا هم خپل حقوقي مقام ته نه دی رسېدلی. که څه هم اوسنيو چارواکو د ژمنو يوه اوږده لړۍ تېره کړې، خو پر خپل تعهد يې وفا نه ده کـړې، موږ له همدې ځايه اوسنيو چارواکو، مفکرينو او نا مفکرينو، ځان ساتو او پرديساتو او ټولو اړوندو چارواکو ته اخطار ورکوو او ورته وايو چـې د هويت په تذکره کې اسلاميت او افغانيت زموږ سره کرښـه ده، لـه دې ځخه په هېڅ وجه تېرېدلای نه شو، په ډاګـه يـې د نـړۍ اول، دويـم، دريېم او څلورم مفکر ته وايو چې په دې برخه کې ژور فکر وکـړي، ژر تر ژره دې له اساسي قانون سره سم د هويت په تـذکره کـې د افغـان کلمه ذکر کړي او که نه نو ددې سست او پخ حکومـت تخـت او بخـت چپه کول، خو دې غيور ملت ته هېڅ هم نه دي. د عوامو خبـره ((يـوه کپه نسوار هم نه دي)).

**۲- د انتخاباتي اصلاحاتو کمیسیون:** د انتخاباتي اصلاحاتو کمیسیون یو ناقانونه کمیسیون دی، هېڅ قانوني اساس نه لري، د دوو هغو کاندیدانو په خوښه جوړ شوی، چې دواړو پر یو بل باندې د بې کچې درغلیو تورونه پورې کړي، نو له هغو اشخاصو څخه چې په انتخاباتو کې د درغلیو تور ورپورې تړل شوی، له هغوی څخه څنګه هیله کېدی شي چې هغوی دې د یو بل ناعادلانه، نا انډولیز او نا مسلکي کمیسیون له لارې قانوني او عادلانه ټاکنو ته لاره اواره کړي. که د سمون خبره مطرح وي، نو ښه خو داده چې په اوسنیو انتخاباتي کمیسیونو کې سمون راشي، نه دا چې د یو ناقانونه کمیسیون له لارې د قانوني اصلاحاتو په پلمه ناقانونه هڅو ته لاره اواره شي. د اوسني کمیسیون ترکیب ته چې سړی ګوري، نو هلته سړي ته د مفکر او نورو مفکرانو د فکر په باب ډول ډول فکرونه پیدا کېږي چې دا څنګه مفکر دی چې دې حساسې مسلې ته یې فکر نه دی کړی.

**۳- جهاد او فساد:** جهاد د ټولو افغانانو ویاړ او افتخار دی، د ملت تقدس دی، دولت ته په کار دي چې د مجاهد او فسادګر تر منځ سره کرښه راکاږي، لعل او کوټي لعل سره جلا کړي، د جهاد رښتینې څېرې او د جهاد ټیکه داران سره بېل کړي د رښتینو مجاهدینو عزت او قدر باید وشي او د سوداګرو مخه باید ډب شي. هغوی چې جهاد کې یې سرونه نذرانه کړل، د هغوی نه نوم معلوم دی نه یې نښان، نه یې قبر شته، نه څلی، خو هغوی چې د جهاد په کلونو کې یې غاښونه نه وو شنه کړي، څوک په ورني کې وو، څوک په سوځوني کې، څوک په

زانګو او څوک په خاپوړو کې، هغوی اوس د جهاد پر معنــوي او مــادي امتیازاتو خبټه اچولې ده. د دغه ډول سوداګرو مخه باید ونیول شي.

**۴- مقاومـــت او دیموکراســـي:** د مقاومـــت او ولســـواکی لـــه اصطلاحاتو هم ناوړه ګټه پورته کېږي، ځینې د خپل خیانت او جنایت د پټونې لپاره د (مقاومت) اصطلاح تر تقدس او ان تر جهاده هــم پورتــه مقام ته رسولې، ددې کلمې تر شا په کتلوي ډول د جنګســالارانو یــوه کتله پټه ده، یو خاص تنظیم او خاصه ډله له دې کلیمې څخه ناوړه ګټه پورته کوي، د دوو جګړه مارو تنظیمونو تر منځ د یوې خوا جګړې تــه د (مقاومت) او بلې خوا ته د (ملامت) نوم ورکول د عدالت د مسیر خلاف حرکت دی، تنظیمي جګړې ته هېڅ ډول توجیح نه شي پیــدا کېــدی، حکومت باید له اساسي قانون سره سم د اتباعو دتســاوي اصــل تــه پاملرنه وکړي، عبادات له معاملاتو سره معامله نه کړي.

د دیموکراسی اصطلاح هم همدا ډول ده، په دوو پخوانیو جهادي څېرو کې یو یې تروریست او بل یې د دیموکراسی مخکښ معرفي کېږي، کــه پخوا یې د خلکو په سرونو کې مېخونه هم ټکوهل، خــو اوس د بشــر د حقوقو، د ښځو د حقوقو او د بیان د ازادی پتی په همدغو ښاغلو پــرې کېږي او د غونډو، خــوږه هــم دوی تقســیموي. د دغســې جعلــي او تصنعي، څو روله څېرو مخه باید ډب شي.

نورې خبرې هم ډېرې دي، خو نه غواړم خپلې خبرې اوږدې کــړم، پــه پای کې په لنډیز سره وایم چې موږ هم د حکومت اصلاح غواړو او هــم تداوم ، د حکومت د سمون، غښتلتیا او پیاوړتیا په لټه او فکر کې یــو، حکومت هم باید د خپلې بقا او بیا وړتیا لپاره کار وکړي، خپلې ژمنــې

عملي او خپل ملي هويت خوندي کړي، اقتصادي پلانونه جوړ او پلي کړي، په خپل سياست کې انحصاري حالت له منځه يوسي. پوځ، انتخاباتي بنسټونه ، عدلي او قضايي ارګانونه په بشپړ ډول بېطرفه کړي، خپل شخصي قهر او غوصه په عملي کار او تفکر بدله کړي، سهامي شرکت ته د پای ټکی کېږدي، باغي واليان او جنګسالاران دې د دولت د قوانينو تابع کړي، د سولې د بهير د تضمين لپاره دې په حکومت کې اصلاحات راولي، پاکستان او نورو ګاونډيو سره دې د واضح سياست له مخې پر مخ لاړ شي. د نړيوالو مرستې دې راجلب کړي، اسلامي هېوادونو په تېره بيا عربي نړۍ سره دې خپل اړيکې ټينګ کړي، لومړی دې قانون پر خپل ځان او بيا پر خپلو ليکو عملي کړي، د تنظيمي او سهامي وېش له مخې دې د بې کفايته مشاورينو لست راکم کړي او خپلو وړ مشاورينو ته د مشورې وخت او صلاحيت ورکړي.

ولسمشر بايد له جزياتو ځخه کلياتو ته راشي او داسې نور مهم کارونه بايد تر سره کړي او که دا ونه کړي نو بې ځايه او تېزې منډې دې نه وهي چې لار ډېره کنډ و کپر ده، پښې، غاښونه او سرونه ټول په کې ماتېږي، بيا يې د رغېدو امکان نه شته. خپلو رښتينو انډيوالانو سره دې هم په راستۍ وچلېږي که نه نو د هغوی راستي به يې ووهي بيا به ارمان کوي او ګوتې به مروړي او وايي به چې: ((د رغېدو امېد مې نه شته، زه د اشنا روغې راستۍ وهلی يمه)).

په پای کې غواړم د غازي امان الله خان د مقبرې د جوړولو لپاره ځانګړی وړانديز وکړم. د افغانستان ټول مطرح انجنيران دې سره جرګه شي، د امان الله خان د مقبرې لپاره دې داسې يوه طرحه جوړه

کړي چې مسجد، کتابتون، موزیم او نورې ټول اړتیا وړ ودانۍ دې ولري او ترڅنګ دې غازي امان الله خان بڼ زرغونتیا او ښکلا ته هم زیاته پاملرنه وشي. لومړی له حکومت او بیا له ملي سوداګرو څخه هیله لرو چې د غازي امان الله خان د مقبرې د نقشې تر بشپړاوي وروسته د هغې د ودانولو عملي چارې پیل کړي. ددې ترڅنګ دې د سراج العمارت ودانۍ بشپړه ورغوي، د ملي ګالرۍ، ملي موزیم او ملي ارشیف بنه دې ورکړي.

ددې غونډې د جوړولو په چارو کې پرځان لازم بولم چې له ښاغلي هاشم هاشمي، احسان الله کامه وال، حاجي عبدالقیوم پردېس، حاجي زلمي، ښاغلي غلام نبي فراهي، حاجي مطیع الله، څېړنې هدایي او نورو دوستانو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له موږ څخه یې خپله مادي او معنوي مرسته ونه سپموله.

د ملي او اسلامي هویت د ځلا او بریا

او د افغان ولس د بشپړې خپلواکۍ او سوکالۍ په هیله

# په تراژیدی کې لمانځنه او یادونه

د (۱۳۹۴ل) کال د سنبلې پر (۹)مه نېټه د ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون له خوا له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون د ورځې په ویاړ په ژوندون ټلوېزیون کې یوه درنه غونډه جوړه شوې وه، ما دې غونډې ته وینا وکړه چې لیکنی متن یې دلته وړاندې کېږي.

## بسم الله الرحمن الرحیم

تر هرڅه وړاندې ټولو قدرمنو مشرانو، ځوانانو، دولتي چارواکو د لر او بر افغان مخورو شخصیتونو ته درناوی او د زړه له تله سلامونه او احترامونه!

په تېره بیا له مقبوضه افغانستان څخه راغلو قدرمنو مشرانو! اورنګزېب کاسی صیب، امان الله امان، ریاض بنګښ صیب، ریاض مروت صیب، طارق رحیم صیب، حسینه ګل تنها خور، نایاب صیب، ناښاد صیب، قدرمن ورور صادق ژړک، اتمانخېل صیب او نورو دوستانو ته ځانګړي سلامونه!

غواړم په مستقیم ډول اصلي موضوعګانو ته راشم او ستاسو قدرمنو په شتوالي کې څو مهمې مسلې وړاندې کړم.

ددې ورځې یادونه او نمانځنه څه مانا؟: ځینو خلکو ته دا خبره بابیزه، بې تفاوته او کم ارزښته ښکاري چې څوک خپل ملي ارزښتونه پالي، د خپل هېواد تېر او هېر تاریخ ژوندی کوي او اصل ته د کتنې پر ارزښت ټینګار کوي، دوی وايي، والله نو موږ په څه غم کې یو، دوی په څه غم کې دي. دوی ته خپل غم، غم ښکاري او د نورو په غم غمجن نه دي، له سترو انساني ارزښتونو سره ددې ډول اشخاصو ډېره نه لګي.

زړه يې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی

په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

د بې تفاوتۍ، تنګنظرۍ، ډار، پردیپالنې او نورو ناروغیو په دغسې یو ګرداب کې چې هرڅوک سترې هېوادنۍ مبارزې ته وردانګي، نو هغوی به طبعاً له ډېرو ستونزو سره مخامخېږي. په یوه انسان کې د مانا او مفهوم توپیر همدغلته څرګندېږي.

ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ

واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

موږ درې کاله وړاندې د بې تفاوتۍ او بې جرئتۍ همدغه سکوت مات کړ، هم مو په پښتونستان واټ کې د پښتونستان لوحې نصب کړې او هم مو د هېواد د خپلواکۍ د ورځې ترڅنګ له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ ونمانځله او دادی د اوږده وهم په ماتولو سره دې لړۍ ته دوام ورکوو. اوس زموږ ملي جرئت

او حرکت قوت موندلی، خو دا حرکت لا هم نور قوت او انسجام ته اړتیا لري.

**د تراژیدۍ تداوم:** نړدې څلوېښت کاله کېږي چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه څو اړخیزه تراژیدۍ کې راګیر دی. پښتون په قصدي ډول سیاسي انزوا ته ټېلوهل کېږي، له اقتصادي فقر سره مخامخېږي، د تعلیم له نعمته بې برخې کېږي او له نورې نړۍ سره یې قصداً د ټکر زمینه برابرېږي. دا ټول د یوې اوږدې ستراتیژۍ برخه ده، پښتنو سیاستوالو ته په کار دي، ددې اوږدې تراژیدۍ د ستراتیژۍ ژورتیاوو ته پام وکړي او د هرې غمیزې د مخنیوي لپاره خپل خپل پلان ترتیب کړي، د تراژیدۍ په بهیر کې د ملي روحیې پیاوړتیا هغه درملنه ده چې وخت پر وخت یې کارول په کار دي.

**د کار سرونه:** هر کار ته د کار سړي په کار دي. زموږ دښمن دې ټکي ته زیات متوجه دی، غواړي له موږه د کار سرونه واخلي، لومړی یې په بېلابېلو رنګونو او تورونو رنګ، د ژوند او سیاسي فعالیت ساحه یې راکمه او بیا یې له فزیکي پلوه هم محوه کړي. دوی نه غواړي چې دلته څوک سر پورته کړي، د هر سرلوړي د سر وروستی سر دار ته رسي.

دا چې څرېږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه

یوازې په تېره یوه لسیزه کې په لر او بر افغانستان کې تر شلو زرو زیات د کار سرونه له کار ایستل شوي او تر داره رسېدلي دي. که دا غمیزه د دنیا پر بل هر قوم راغلې وای، نو د قوم او ملت په نامه به یې نوم او نښان نه و پاتې. خو افغان ملت او پښتون ولس داسې یو مقاوم ملت دی چې د ډېرو سختیو په مقابل کې هم خپل زغم او اوسېله له لاسه نه ورکوي.

لا ژوندي یو لا د کار سړي لرو

لا د ستورو په مدار سړي لرو

نو اوس نه یوازې زموږ د کار د سړیو د خوندیتابه اړتیا ده، بلکې د نویو سړیو او نوي پښت د روزنې او پالنې لپاره هم سخته اړتیا ده. موږ باید دې بهیر ته ډېره پاملرنه وکړو.

**د ډیورنډ کرښه:** تر (سلو زیات) کلونه وشول چې ډیورنډ مړ دی، خو مصنوعي اولادونه او خپلونه یې پاتې دي. د انګرېز تصنعي نسل دلته او هلته کله کله چغه پورته کوي چې افغانان دې د دوی د نیکه توره کرښه ومني. ډیورنډ خپل تر اصلي انګرېزه هم څو ګامه وړاندې ځي، ان د افغانستان په پارلمان کې د ډیورنډ د تورې کرښې د په رسمیت پېژندلو چغې وهي، یو شمېر (سیاسي خپل) په (ډیورنډ خپلو) ورګډېږي، هغوی هم زموږ د لوی هېواد پر سینه د ډیورنډ د وېش تنابونه راکاږي. موږ دې ډول تالیښتو ته د خپل ملي احساس له مخې وایو چې لاس مو تر لندنه خلاص، دا

ارمانونه به ګور ته یوسئ، دا ډول اشخاص چې د ډیورنډ په نامه نه شرمېږي، نو د دوی د ایمان کچه به څومره وي.؟
پر احساس سربېره د ژور تفکر له مخې یادونــه کــوو ، اوس ددې وخت نه دی چې موږ له انګرېزه، د هغه له برګتې او نورو برګتیانو سره په دې باب بحث وکړو او یا هم اوسني اوه سري حکومت تــه ددې صلاحیت ورکړو چې زموږ د ولس په استازۍ زموږ د هویــت له قاتل او د خاورې له وېشونکي سره د یوه لوري په توګه کېنــي. دا مسله باید تر هغې پورې پر همدې حالت پرېښودل شــي چــې زموږ له ولسه د جګړې لمن ټوله شي او موږ له خپل اصلي ســیال (انګرېز) سره د معادلې یوه برخه شو. تر هغه وړاندې د نا انــډولۍ په حالت کې په دې باب هر ډول حقوقي بحث په خپلــه د خپلــو حقوقو د ځپلو مانا ورکوي.

**اوسنی حکومت:** اوسنی حکومت په تېره بیا دولتمشــر یــې، چې په مجموعي ډول د ټولو افغانانو او په تېــره بیــا د پښــتنو د انتخاباتي حماسې په برکت له ناعملي تفکر سره سره، د دولــت د لومړۍ څوکۍ مقام ته ورسېد. نو دې مقام ته په رسېدو سره یــې خپل پلویان، مینوال او خپل ټول ملت له ځانه دومره لرې کړ چې له بل هېڅ واکمن سره د پرتلنې وړ نه دی. مفکر د تصنعي تفکر د غرور پر اس سور شو او لاندې پلي کسان ورته ټــول ســاده ګــان ښکاره شول. په دغسې یو حالت کې چې ملت له حکومته پــوره واټن لري، دا حکومت په تېــره بیــا مشــرتابه یــې ددې وړتیــا او

مشروعیت نه لري چې د ټول ملت په تېره بیا د پښتنو استازي وکړي. موږ یو ځل بیا دې نامتجانس حکومت په تېره بیا دولتمشر ته په ډاګه اعلانوو چې نه نور ته ښاغلی د ملت په درد لګېږې او نه ملت تاسره کومه لېوالتیا لري. تاریخ تېری درمل نه په کارېږي او د استعمال اضرار یې هم ډېر دي. پر قوم، ملت او قانون باندې تر دې زیاتې ملنډې وهل بس دي، هر څه یو حد لري. موږ له دولتمشره غواړو چې خپل سر زوري والیان او نور جنګسالاران مهار کړي، د خپل مرستیال مخه دې ونیسي چې د طالب، داعش او القاعدې په نامه نورې فایدې پورته نه کړي. د اکثریت له عام وژنې (جنوسایډ) څخه دې لاس واخلي، خپل رسمي مکلفیت، حد او حدود دې وپېژني، عجیبه خبره ده د دفاع او کورنیو چارو وزیر یې په کوټه او جلسه او مرستیال یې په جبهه کې. جنرال دوستم کې اوس هم خپل ځینې هغه پخواني خصلتونه پاتې دي.

**ټاکنیز کمېسیونونه:** هغه مهال چې ډاکتر اشرف غني احمدزی ولسمشرۍ ته نوماند و، نو زموږ د ملاتړ یو شرط دا و چې د بریالیتوب په حالت کې به پوځ له تنظیمي حالته باسي، انتخاباتي کمېسیونونه به ناپېیلي کوي، عدلي او قضایي ارګانونه به په بشپړ ډول خپلواکۍ ته پرېږدي او د اسلامیت او افغانیت داعیه به پرمخ وړي، ده دا ټول ومنل، خو کله چې واک ته ورسېد، ددې ټولو ژمنو خلاف عمل یې ترسره کړ، پوځ تر ډېره حده همغه تنظیمي بڼه لري، عدلي او قضایي ارګانونه خپلواک نه دي، د

انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون د جګړه مارو تنظیمونو او متعصبو افغان ضد کړیو له افرادو ډک شو، له قومي پلوه اشرف غني پښتنو ته تر هغې کچې په سپک نظر وکتل چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی، له څوارلسو تنو څخه دوه تنه یانې په سلو کې (۱۳) سلنه پښتانه د انتخاباتي اصلاحاتو په کمېسیون کې ځای لري، چنګېزخان هم د پښتنو حقیقت او واقعیت دومره تر پښو لاندې کړی نه و، پښتانه یې مخالفین وو، خو د سیال په سترګه یې ورته کتل. اوس چې له دې متعصب، کرکجن، ناعادلانه، تنظیمي او اکثریت ضد انتخاباتي کمېسیون څخه هره منفي نتیجه راوځي، دولتمشر او د هغه بې زړه ټیم په مستقیم ډول په دې ګناه او خطا کې شریک دی. زموږ ولس په هېڅ وجه دې ته حاضر نه دی چې ددې ښاغلو د نورو ګناهونو کفاره ورکړي. همغه سزا یې بس ده چې په ټاکنو کې یې له دې ښاغلي مفکر څخه پر سر او مال ملاتړ وکړ، دا ملت نورې جفا او سزا زغملو ته حاضر نه دی.

دښمن په زوره نه‌نوت په کور د پښتانه
خو دغه کار یې هم وکړ په زور د پښتانه

**اسلامیت او افغانیت:** د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د تسجیل په خاطر ددې هېواد رښتینو بچیانو له همغه پیله تر دې دمه خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، اسلام یې د اسلامیت د مخالفینو د وهم د ښامار له خولې راوویست، د هویت په تذکره

کې یې تسجیل کړ او د افغانیت لپاره یې خپلې مبــارزې تــه دوام ورکړ، ډاکتر غني هم د تېر ولسمشر په شان د افغانیت د تسجیل په خاطر ژمنې وکړې، خو تر دې دمه یې هــېڅ عملــي او قــانوني اقدام ونه کړ. اوس دولتمشر هم د دولت له فاسدو کشرانو څخــه دومره وېرېږي چې په خپله هویت پاڼه کې ځان ته افغان نه شــي لیکلای. د ضعیف او قومي ایمان ترمنځ د بریــد کرښــه همدلتــه معلومېږي، چې یو څوک د افغانستان پر لوړ مقــام ناســت او لــه افغانیت څخه ننګه او ملاتړ نه شي کولای. نو سړی به نور چــا تــه وژاړي، د ښاغلي غني یو شعار دا و چې هېڅ افغان له بــل افغــان څخه کمتر نه دی او هېڅ افغان له بل افغانه برتر نه دی. نــو اوس چې د افغان کلمه د هویت له تذکرې څخه حذفېږي، دی مجبــور دی چې ووایي: ((هېچ چیز از چیز دیګر کده کمتر نیست و هــیچ چیز از چیز دیګر کده برتر نیست.))

دولتمشر حق نه لري چې ځان ته افغان ولسمشر ووایــي، ځکــه هغه ولس چې ولسمشر یې نوم په هویت پاڼه کې نه شي لیکلــی، نو دا امتیاز هم باید ورڅخه واخیستل شي. موږ ښاغلي مفکر تــه په ډېر سرېتوب سره یادونه کوو چې دې ولس ته په ټیټه ســترګه مه ګوره، همدا ولس و چې ته یې دومره لوړ کړې چې اوس لاندې هېڅ شی په سترګو نه درځي. موږ هېچاته اجازه نه ورکــوو چــې ملي هویت مو هم لکه دولتــي څــوکۍ پــه معــاملو، ځانســاتنو، سرټیټیو او غوړه مالیو ووېشي او ملت متفرق کړي.

د ښاغلي دولتمشر ترڅنګ ددې سهامي شــرکت بــل ونــډه وال وزیر صاحب ښاغلي نورالحق علومي ته هــم وایــو چــې هویت

ستاسو د ښاغلو شخصي مال و متاع نه دی، چې موږ یې ستا په شان له بې دریځه اشخاصو څخه غواړو. یو وزیر چې د (ملت) او (مملکت) په توپیر او تعبیر نه پوهېږي، له هغه څخه د ملت د ملاتړ هیله څنګه وشي؟ دا چې دا ښاغلی وایي دلته پورته لیکل شوي (د افغانستان اسلامي جمهوریت) نور هېڅ شي ته ضرورت نه شته، ښاغلیه ستاسو ضرورتونه او د ملت ضرورتونه توپیر کوي، ستا ضرورت وزارت و چې په ډېرې بدرنګۍ او معاملو ورته ورسېدې، خو هویت د ملت ضرورت دی. که د تذکرې پر لومړي مخ افغان ولیکل شي، نو ستا پر کور به څه اور بل شي؟ پردیپالنه، ملت هېرونه هم یو حد لري، یو ځل پخوا هم یوې ډلې دا ډول تجربه وکړه، خو ملت ته په ډېر زیان تمامه شوه، تاسو چې د همغو تېرو عملونو کفاره ورکړئ او خپل غیور افغان ملت ته د احترام سر ټیټ کړئ، نو ایله به مو د تېرو تېروتنو پېټی یو څه کم شي، نه دا چې د ملت پر زخمونو نورې مالګې ودوړوئ، ستر جنرال، ډګر جنرال، تورن جنرال دا جنرال او هغه جنرال، لوړې رتبې، خو د کار درک نه لګي. زموږ د پوځ تنکي ځوانان، سرتېري او ځوان صاحبمنصبان هره ورځ ددې هېواد لپاره قرباني ورکوي، خو یو شمېر لوړپوړي چارواکي یې د اعاشې، اباطې، روغنیاتو او مهماتو پیسو ته سترګې پټې کړې وي، په ملیاردونو افغانۍ په یوه قرارداد کې غلا کېږي، لوړې رتبې او ټیټ کارونه، د یوه افغان له شان سره نه ښایي. طالبان نه رتبه لري، نه څوکۍ، نه یې هوجره معلومه ده، نه دېره او نه هم پوځي پوړۍ او تعلیم لري، خو د همدغو لوړپوړو چارواکو د بې کفایتۍ له امله هره ورځ یوه ولسوالۍ نیسي او زموږ

تنکي تنکي پوځیان په کې قرباني کېږي. تاسو ښاغلی لومړی، باغران، دانګام، موسی کلا، نازیان، اچین، ګوشته او نورې سل ولسوالۍ فتح کړئ، بیا تذکره ووېشه، نو د دې ګرمې حلوا له وېش څخه دې موخه څه ده؟ هدف ټولو ته څرګند دی، یوازې او یوازې د هویت ختمول. لعنت دې وي پر هغو چارواکو چې نه یوازې له خپلې خاورې او هویت څخه دفاع نه شي کولای، بلکې شرمېږي پرې هم. دوی چې پر هویت شرمېږي زموږ ټول هېوادوال ان کاڼي او بوټي پر دوی شرمېږي.

درنو هېوادوالو! ځینو خلکو سره دا پوښتنه او اندېښنه ده، که چېرې په تذکره کې د افغان کلمه ونه لیکل شي، نو موږ یې نه اخلو! نه ورونو خبره باید سپینه او واضح وشي. موږ د هویت په تذکره کې د اسلام او افغان دواړو کلمو لیکل غواړو او بیا تذکره اخلو. دا نو بیا د افغانیت او اسلامیت د دښمنانو کار دی چې دا تذکره اخلي که نه یې اخلي، نور نو زموږ د ولس د زغم، اوسېلې او پرله پسې ښه سړیتوب د صبر کاسه ډکه شوې ده.

ښاغلي دویم، درېیم او نورو مفکرینو ته یو ځل بیا یادونه کوو چې ژر تر ژره د هویت د تثبیت مسئله حل کړئ، که نه نو د ولس له داسې غبرګون سره به مخامخ شې چې بیا به ددې سست، پڅ، نا متجانس او متضاد حکومت مراندې داسې سره وشلېږي چې هېڅوک به یې د راټولولو جوګه نه وي.

موږ نه غواړو چې حکومت ړنګ شي، موږ غواړو چې هم حکومت پیاوړی شي او هم اصلاح شي، خو همدا ځینې چارواکي دي چې د رښتیني ملي حکومت، رښتیني پوځ د جوړېدو، غښتلتیا او

پیاوړتیا مخه یې نیولې ده. هغو ملتپالو افغانانو څخه هم په ټینګه غوښتنه کوو چې ملي احساس لري او د دولت پر لوړو څوکیو کار کوي، دوی څخه هم غواړو چې نور نو له خولې څخه د ډار مشنګ لرې کړي، د افغانیت او اسلامیت د داعیې لپــاره راودانګــي او دا غیرتي ولس له بې زړو او ډارنو چارواکو څخه وژغوري. دې کار کې مو د دین او دنیا دواړو ګټه نغښتې ده.

**ملي مناظره:** د انتخاباتي کمپاین پرمهال دواړو او په ټوله کــې ټولو نوماندانو بېلابېلې مناظرې وړاندې کړې. ښاغلي ډاکتر غني، ښاغلي ډاکتر عبدالله ته هره ورځ د یوې لویې منــاظرې وړانــدیز کاوه او هغــه بــه د جانانــه منــاظرې وړانــدیز. اوس ددې وخــت رارسېدلی دی چې ددې مشترک پنځوس ســلیز حکومــت دواړو مشرانو باندې غږ وکړو چې که د دوی په اوږو کې شګه نه وي، نو د ملي هویت پر سر دې د وضاحت، سلامت او ملامت د معلومولو لپاره یوې پراخې ملي او دیموکراتیکې مناظرې ته حاضر شي، چې حقیقت څرګند شي، که د ملتپالو هېوادپالو او اسلامپالو افغانــانو داعیه په حقه نه وه، نو هغوی به له خپلې داعیې څخه تېر شي او که دوی کوم دلیل او منطق نه درلود، نو بیا دې د ملت غوښــتنې ته غاړه کېږدي.

د هېواد د ملي او اسلامي هویت
د ځلا او بریا او له امو څخه تر اباسینه پورې
د لوی او غښتلي افغانستان د جوړېدو په هیله

# اسلامیت، افغانیت او ملي اجماع

دا لیکنه ما د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ د ملي اجماع تر نامه لاندې یوې پراخې غونډې ته لیکلې وه، چې د غونډې د برخوالو په استازۍ او همدارنګه د یادو ارزښتونو د ملاتړ لپاره د پراخ لاریون د یو تن فعال له خوا واورول شوه. د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۱۴)مه نېټه د پراخو مظاهرو لړۍ پیل شوه. په کابل کې تر لوی لاریون وروسته د همدې میاشتې پر (۲۶)مه نېټه د ملي اجماع غونډه جوړه شوه او په ولایتونو کې لا د مظاهرو لړۍ دوام پیدا کړ.

بسم الله الرحمن الرحیم

درنو او قدرمنو مشرانو! ځوانانو، د سیاسي، ټولنیزو، ملي او مدني خوځښتونو استازو، قومي مخورو، دیني عالمانو او ټولو ګډونوالو ته تر هر څه وړاندې السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وایم!

د اسلامیت او افغانیت په ننګه ولاړو ځوانانو، مخورو او ددې پرتمینې غونډې ټولو برخوالو! اجازه راکړئ تر هر څه وړاندې ستاسې په استازۍ ستاسو د ورونو او عزیزانو له هغو سوله ییزو مبارزو او اتلولیو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له تېرو دوو دوه نیمو کلونو او په تېره بیا په تېرو نږدې شلو ورځو کې یې د هېواد په تاریخ کې ثبت کړې. بیا غواړم له هغو خویندو، میندو او پلرونو څخه مننه وکړم چې د سرو مرمیو

باران، انفجار او انتحار ته يې ونه کتل، خپل ورونــه او اولادونــه يــې د سوله ییزې مبارزې او د حق پالنې ډګر ته راوایســتل او د اســلامیت او افغانیت په ننګه یې میدان ته راودانګل. له دوی ټولو څخه مننه، مننــه او بیا هم مننه.

له کابل څخه مننه، له کندهار څخه مننه، له پکتیا او ننګرهــار څخــه مننه، له کونړ او کندوز څخه مننه، له زابل او هلمند څخه مننه، له فراه او هرات څخه مننه، له بادغیس او نیمروز څخــه مننــه، لــه میــدان او لغمان څخه مننه، له خوست او بغلان څخه مننه، له بلخ او غزني څخه مننه، له بهر مېشتو افغانانو له هند مېشتو، ډنمــارک مېشــتو، لنــدن مېشتو او نورو بهر مېشتو افغانانو څخه مننه چې په یوه غږ يې د حــق ناره پورته کړه، نه ورسره ټوپک و، نه توپ، نه ټانک نه الوتکه، تش لاس او د تکبیر ناره. نه يې په ښار کې څوک په تکلیف کړل، نه يــې څــوک ټپیان کړل، نه يې څوک ووېرول، یوازې د خپــل مــدني حــق اواز يــې اوچت کړ. څه شول هغه ښاغلي چې څلوېښت کاله کېږي په کور دننــه او بهر يې پر دې عظیم ملت د وحشت، دهشت او بې کلتــورۍ تورونــه پورې کول، د چا په لاس کې ټوپک و؟ د چا په لاس کې چاقو و؟ د چــا په لاس کې ماشینګنه او چا له ځانه زغروال وسایل تاو کړي وو؟ ټــول تش لاسی ولس و، خو د ایمان او عقیدې په وسله سمبال و.

درنو هېوادوالو! د خواشینۍ او افسوس خبره خو داده چې د ملــت لــه دومره فریادونو، مظاهرو او غږونو سره سره بیــا هــم حکومــت د بــې کفایتۍ، بې تفاوتۍ او لټۍ پر داسې درانه خوب ویده دی، چــې د رد او یا هم د تائید ځواب نه لري. د خپل ملت او په تېره بیا د خپلو طبیعــي

پلویانو پر وړاندې دومره بې تفاوتي د نړۍ په سیاسي تاریخ کې ساری نه لري.

غیور افغان ولسه! په اوسني حکومت کې پردیپالې کړۍ نه یوازې هڅه کوي چې د افغانانو عقیده یي او ملي هویت له منځه یوسي، بلکې په چل، فریب، مهارت او شرارت سره غواړي د افغان ولس ډېره درنه برخه له سیاسي ډګره هم وباسي. د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه یې یو خپل خوښی، خپلسری، تنظیمي او ملت ضد ترکیب جوړ کړی، د اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو خلاف یې ناقانونه پرېکړه په ناقانونه ډول په توره شپه کې د توري پردې شاته د تورو نیتونو په قلم لاسلیکېږي او پر ولس تحمیلېږي.

درنو هېوادوالو! د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه د تنظیمي جنګسالارانو خپلخوښی ترکیب داسې یو سیاسي طاعون دی چې د ټول افغان ملت رګونه به ونیسي او که همدا اوس یې مخه ونه نیول شي، نو زموږ ستر ملت به له سیاسي انتحار سره مخامخ کړي. ملت لا د هویت پر تذکرو د واکمنې غمیزې له غمونو نه دی راوتلی چې دوی پرې د انتخاباتي اصلاحاتو په نامه د ټاکنیزو مخدراتو بل ناورین ورتحمیل کړ.

د پورته ناورینونو ترڅنګ امنیت ورځ تر بلې خرابېږي، تر سلو زیاتې ولسوالۍ د دولت له کنټروله وتي، د پاکستان د پنجاب پوځ په کونړ، ننګرهار، کندهار، پکتیا، پکتیکا، خوست او نورو سیمو کې په لسګونو کیلو متره له پخوانیو اشغالي سیمو څخه د هېواد داخل ته راننوتی، داعش بله منفي پدیده ده چې هره ورځ زموږ په لسګونو هېوادوال په

بې رحمۍ سره وژني، خو دولت یې تر اوســه پرضــد کومــه مشخصــه سیاسي، پوځي او عملي پالیسي نه لري. اقتصادي فقر او وزګارتیـا اوج ته رسېدلې. هره ورځ لږ تر لږه (لس زره تنه) ځوانان له هېواده بهر تــه کډوال کېږي. اقتصادي پروژې له سقوط سره مخامخ دي. هره اوونۍ د بیت المال له زېرمې څخه نږدې (۵۰) ملیونه ډالره د افغانیو د ثبات پــه پلمه د افغانستان بانک څخه ایستل کېږي، خو په هېواد کې پولي ثبات نه ټینګېږي، د ایران او پاکستان د کرنسۍ چلند په چټکۍ سره زمــوږ هېواد ته غځېږي. خو دولت نه فکري ثبات لري، نه سیاسي، نه مــالي، نه اخلاقي او نه هم کوم بل ډول. تــر ټولــو لا بــده خبــره داده چــې د حکومت سیاسي اخلاق هم دومره کمزوري دي چې نه یوازې پر خپلــو نیمګړتیاوو اعتراف نه کوي، بلکې د دروغو او نه عملي کېدونکو ژمنــو تنابونه لاپسې غځوي. حکومت د داخلي اختلافاتو او فساد پــر داســې نري رنځ اخته دی چې د ولس له ملي او شــعوري پــاڅون پرتــه یــې د رغېدو مجال نه شته. د یوه نظام مشر چې (۹۹) سلنه خپل سرسختي پلویان پر سل سلنې مخالفینو بدل کړي، تر دې نو د سیاسي مشــرتابه د بې کفایتۍ بله بېلګه په نړۍ کې نه ده لیدل شوې.

موږ له اوسني مشترک حکومت څخه د مثبتو کارونو ډېره هیله نه لرو، خو دا ورڅخه په ټینګه غواړو چې نوره خرابي دې نه رامنځته کوي. بې ځایه، بې وخته او مضر قوانین دې نه تصویبوي. پخــواني سیســتمونه دې نه ړنګوي، پخواني مامورین دې تر هغه پورې نه لرې کوي چــې تــر هغو ښه یې نه وي پیداکړي.

د هویت په تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت په مسله کې هم پخــوانی ولسمشر ملت ته پړ دی، هم ملي شورا او هم اوسنی دولتمشر. اوسني دولتمشر ته تر یوزر ځلو زیات د ولس پیغامونه وررسېدلي، خو ده پرې سر نه دی ګرولی، خو کله چې دوه جنګسالاران ورته پښې ودربوي، نو بیا هر څه ورته نقد په پوله ایښي دي، اوسني دولتمشر پــه خپــل لاس ستاسو استازو ته قول ورکړ چې د هویت د تذکرو معضله به حلوم، خو پر خپل قول یې هېڅکله عمل ونه کړ. اوس چې ولس لارو او واټونو تــه راووت بیا هم لکه د حکومت پر ستوني چــې خپســه ناســته وي، اخ و ټوخ یې نه پورته کېږي. داسې لکه مــړې تبــې چــې نیــولی وي. مــوږ ښاغلي دولتمشر ته وایو چې دا هماغه ولس دی چې ته یې له یو ځادر سره  د ولسمشرۍ مقام ته ورسولې، نه دي ګوند درلود، نه دې وســلې نه دې پیسې، نه دې غوره ټولنیز او لوړ سیاسي اخلاق، خو همدا ولس درپسې شو، په سر او مال یې ته دې مقام ته ورسولې، خو اوس پر ارګ د فرعونیت فضا خوره ده، د ولس فریاد، غږ او چغو ته څوک غوږ هم نه ږدي، داسې فکر هم نه کوي چې دلته هم کوم ولس شته که نه؟

دغه او دغو ښاغلو ته باید ووایو چې ایا په خپل ټول ژوند کې مو داسې منظمې، سوله ییزې او مدني مظاهرې لیدلي چــې ولــس دې د خپلــو حقه حقوقو لپاره فریاد پورته کړي او چاته دې په کــې د زرې قــدر تــه تاوان پېښ نه شي. په هغو ځایونو کې چې همدا ښاغلي په ټانکونو کې نه شي ګرځېدلی، ولس له ملي بیرغونو سره راووت او خپل اســلامیت او افغانیت یې یو ځل بیا ثابت کړ.

افغان ملت د ټوپک ډېره پخه تجربه لري، چارواکي دې خپل ولس نه مجبوروي چې د وسلې تجربه يوځل بيا تکرار کړي، زما ولس د غره په شان خوی لري، کاڼي لري، خو چې ځوک يې په عذاب نه کړي د کاڼي ګوزار پرې نه کوي.

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو ځوک نه پرې ولم
په عادتونو کې دا يو عادت د غره لرمه

يو ځل بيا اوسني حکومت مشرانو ته وايو چې د ولس ارادې ته غاړه کېږدي، په ځو کرايي خبريالانو، ليکوالو، ميرزايانو او درباري غوړه مالانو د ولس مخه نه شئ نيولای. له هغې ورځې ووېرېږئ چې د ولس لاس ستاسو تر ګرېوانه در رسېږي.

په پای کې يو ځل بيا يادونه کوو چې موږ په هېڅ وجه د اسلاميت او افغانيت له داعيې څخه نه شو تېرېدلای، نه يوازې د هويت په تذکره کې د اسلاميت او افغانيت تسجيل غواړو، بلکې د ټولو هغو په اصطلاح قوانينو لغوه کېدل غواړو چې زموږ د خلکو د حقه حقوقو د مخنيوي سبب ګرځي، له حکومته غواړو چې له دقت او سوچ پرته قوانين تصويب نه کړي، هسې نه چې لکه د تذکرو په شان په نورو قوانينو پسې هم ولس راپاڅېږي.

په درناوي
د اسلاميت او افغانيت په ملاتړ
د لاريونونو د انسجام کمېټې په استازې

# بیا هم اسلامیت،افغانیت او د هویت تذکره

**له اجرائیه رئیس (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره د کتنې جزئیات**

**دا لیکنه د (۱۳۹۴ل) کال د زمري میاشتې پر (۱۹)مه نېټه، له (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره د کتنې پر مهال شوې ده.**

له هغې ورځې چې د هویت د تذکرو پر سر ستونزې راولاړې شوي، له همغه وخته بیا تر دې دمه پورې موږ ټول جزئیات، که هغه مظاهرې وې، که له پارلمان سره جلسې او جنجالونه او یا هم له ستري محکمې، پخواني او اوسني ولسمشر سره جلا جلا کتنې او یا هم د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو افغانانو ترمنځ په دې اړه خپل منځي جلسې، نو ددې ټولو جزئیاتو څرنګوالی مو پر خپل وخت له خپل ولس سره شریک کړی دی. په دې ورځو کې د ډاکتر عبدالله عبدالله تر مشرۍ لاندې وزیرانو شورا پرېکړه وکړه چې برېښنايي تذکرې دې د اسد پر (۲۸)مه نېټه ووېشل شي. دې کار یو ځل بیا د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو کړیو ترمنځ اندېښنې راولاړې کړې. اندېښنې د تذکرو د وېش د نېټې په باب نه وې، بلکې په دې اړه وې چې ملي هویت (افغان) به په کې وي که نه؟ ټولو ته څرګنده ده چې وزیرانو شورا د ملي

شورا د همغې نیمګړې مصوبې د تحقق لپاره پرېکړه کړې چې په هغه کــې د ملت ستون یا (افغان هویت) حذف شوی و.
ددې اندېښنې د لرې کولو لپاره موږ ډېره هڅه وکړه چې له ولسمشر ډاکتــر اشرف غني سره وګورو، خو لکه څنګه چې هغه له پخوا څخه، ان په حساسو هېوادنیو مسلو کې هم د وخت د نشتوالي پر نري رنځ اخته دی، بیا هم مــوږ ته له هغه سره د هغه د څو درجنو کم کفایته مشاورینو له شتوالي سره سره په دې حساسه مسله کې د کتنې زمینه برابره نه شوه، نو مجبور شو د غنــي د پنځوس سلیز حکومت له بل مشر ښاغلي (ډاکتر عبــدالله عبــدالله) ســره وګورو. سره له دې چې له ډاکتر عبدالله عبدالله سره زموږ د پخواني ذهنــي واټن او تضاد له امله زموږ کتنه اسانه خبره نه وه، خو د افغانیت او اســلامیت د داعیې د اعادې لپاره موږ د هر ډول ذهني او رواني فشار زغملو ته تیار یــو، نو ځکه مو د الکترونیکي تذکرو د وېش او چاپ د دوو تنو مسولینو ښــاغلي (همایون محتاط) او ښاغلي (میرویس علیزي) په واســطه لــه ډاکتــر صــیب عبدالله عبدالله سره ددې اندېښنې د روښانتیا په باب لیدنه وکړه. دا کتنه د اسد پر (۱۹)مه نېټه، د دوشنبې پر ورځ د ماسپښین شل کم څلور بجــې پــه (سپېدار) ماڼۍ کې تر سره شوه. په کتنه کې په خپله ښاغلي ډاکتر عبــدالله عبدالله، ښاغلي همایون محتاط، ښاغلي میرویس علیــزي، ښــاغلي ډاکتــر فیض محمد ځلاند، ما (یون) او د اجرائیه ریاست یو منشي ښاغلي (فریــدون خوځون) ګډون درلود.
د غونډې په پیل کې ښاغلي عبدالله عبدالله زما (یون) د مور بي بي د مړینې له کبله ماته د دعا لاسونه پورته کړل. بیا ما ورته د غونډې برخوال که څه هم ده خپله ټول پېژندل، په ډېر لنډیز سره وروپېژندل.
ورپسې ما د هویت په تذکره کې له پیله راپېښې شوې ستونزې یوه پــه بلــه پسې بیان کړې. په ملي شورا کې په دې برخه کــې شــوې درغلــۍ، غــبن او نیمګړی تصویب او همدارنګه په دې بــاب د ولــس مظــاهرې او غبرګونونــه،

پخواني او اوسني ولسمشر سره کتنې او د هغوی تعهدونه مې ټول یو په بـل پسې تشریح کړل.
اوسني وخت کې مې ورته یو ځل بیا د اساسي قـانون د څلـورمې مـادې د پنځمې فقرې له مخې چې پر هـر وګـړي د افغـان کلمـه اطلاقېـږي، ددې ستونزې قانوني حل تشریح کړ، بیا مې ورته د افغانیت د ذکـر اړتیـا تشـریح کړه او دا مې هم ورته واضح کړه چې که دا ستونزه حل نه شي، نو حکومـت ته به غټې مشکلات پیدا شي، حکومت هم پـه نـازک حالـت کـې دی، کـه مظاهرې او ستونزې راولاړې شي، نو طبیعي خبـره ده چـې اوسـني نـازک حکومت ته غټ چېلنجونه راولاړولای شي. موږ هم نه غواړو چې حکومت ته پر اوسنیو ستونزو نورې ستونزې، چې حکومت یې بیا د کنترول وس هم ونه لري، راولاړې شي. اوس ستاسو څخه زموږ هیله ده، مخکـې تـر دې چـې د اسد پر اته ویشتمه نېټه د تذکرو وېش پیل شي، ښه ده چـې ولسمشـر تـه وواېې د ملت د ستون د زیاتونې یا د افغان کلمې د لیکنـې پـه ګـډون نـور ضروري مسایل د یوه تقنیني فرمان له لارې په تذکره کې ځـای او بیـا دې د تذکرې وېش پیل شي. موږ هم د تذکرې وېش غواړو او هم د ملـت د سـتون لیکل. خو د افغان کلمې تر لیکنې دمخه د تذکرو له هر ډول وېش سره ځکه مخالف یو، چې دلته زموږ ملي هویت تر پوښتنې لاندې راځي.
زما تر دې او نورو توضیحاتو وروسته ډاکټر صیب عبدالله خبرې پیـل کـړې، هغه وویل: ((اول زه خپل نظر درته وایم، زه په اصولو کې په تـذکره کـې لـه افغان کلمې سره ایډیالوژیک مشکل نه لرم، په دې شکل چې اوس ده راشي او که افغان په کې ولیکل شي، هم مخالفت یې نه کوم، اوس خبره داده چـې دا مسله داسې یو حد ته رسېدلې چې هر طرف ته په کې یو ډول ستونزه ده، نو که د یوې خوا غوښتنې په پام کې نیول کېږي دا هم یو مشـکل دی، زمـا خپل نظر خو دادی چې اوس تذکرې وویشل شي ښه به وي، زموږ یـو زیـات شمېر مشکلات د همدې تذکرو له امله دي، تذکره زموږ هویت دی، څـومره

چې ژر کېږي، باید توزیع یې پیل شي او که اوس ونه وېشل شي نو بیـا ټــول عمر دا مسله پاتې ده، نه نړیوال مرسته کوي او نه نور امکانات شــته، اوس د وزیرانو شورا پرېکړه کړې، باید دا پرېکړه عملي شي، نن زه خبــر شــوم چــې جمهور رییس په مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي چــې د تــذکرو اداره پــه دې برخه کې تخنیکي مشکل لري او امادګي نه لري.)) دا مهال د تذکرو د وېــش مشر (محتاط) صیب وویل: ((ما امادګی داریم و هیچ نوع مشــکل تخنیکــی نداریم)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((زه فکر کوم هېڅ ډول تخنیکي مشکل نه شته خو که بل مشکل وي جمهور رییس یې باید واضح کړي، خو زه د اسد پر (۲۸)مه دا واضح کوم چې تخنیکي مشکل نه شته.)) دا مهال ما بیا وویــل چې: ((موږ د تذکرو د وېش له بهیر سره مخالف نه یو، خو په دې شــرط چــې افغان کلمه په کې ولیکل شي او که دا کلمه په کې راغله نو موږ او په مجموع کې ټول ملت بیا هر ډول مرستې او همکارۍ ته تیار یو. له تاســو څخــه اوس غوښتنه کوو چې دا مشکل له ولسمشر سره حل و فصل کــړئ، مــوږ خپلــه اوس هغه ته لاسرسی نه لرو او وخت هم ډېر کم پاتې، هسې نه چې له ملــي هویت پرته تذکرې پیل شي بیا به غټ مشکل پیدا شي.))

دا مهال ډاکټر صیب ځلاند وویل: ((ډاکټر صیب له تاسو څخه مــو هیلــه ده چې تاسو په دې برخه کې جدي اقدامات وکړئ، له افغــان پرتــه تــذکره بــه ستاسو حکومت ته ډېرې سختې ستونزې راولاړې کــړي، ډېــری خلــک بــه سړکونو ته راووځي، په لسګونو زره خلک به مظاهرې وکړي او بیا بــه یــې دا حکومت د کنترول ظرفیت هم نه لري او کېدی شي د حکومت د زوال سبب شي...)) ډاکټر صیب عبدالله عبدالله وویل: ((تاسو چې جمهور ریــیس ســره کتلي وو هغه درته په دې برخه کې څه وویل؟)) ما وویــل: ((د تېــر ۱۳۹۳ ل کال د جدي په میاشت کې موږ سره ولسمشر ژمنه وکړه چې د ملي شــورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان له لارې دا مشکل حــل کــړم او افغان کلمه به په تذکره کې درج کړو، ډاکټر صیب اشرف غني دا هــم وویــل

چې زه به له ډاکټر صیب عبدالله عبدالله سره په دې برخه کې مشوره وکړم.)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((ما سره خو یې په دې باب څه نه دي ویلي، خو ستاسو نوم یې راته واخیست چې (یون) سره په دې باب غږېږم)) بیا ډاکټر صیب ځلاند وویل: ((جمهور رییس موږ ته تاسو د پلمې په توګه یادوي، ګنې زه خو یې منم خو دوی (تاسو) یې مخالفت کوئ او وایي چې د افغان کلمه دې په کې نه راځي.))
دې خبرې سره ډاکټر عبدالله ټینګ غبرګون وښود، ویې ویل: ((نه نه هېڅ پوښتنه نه پیدا کېږي، هېڅوک زما پر افغانیت باندې شک نه شي کولای، زه همدې وطن کې پیدا شوی یم، ما دې وطن کې ټول عمر تېر کړی، ما جهاد کړی، د جهاد د تقدس په خاطر مې جهاد کړی، څوک حق نه لري چې پر ما باندې دا تور پورې کړي، البته ځینې خلک شته چې بېلابېل نظرونه لري، زه نه وایم چې د چا نظر سم دی او د چا نه دی، خو نظرونه دلته بېلابېل دي.))
ما وویل: ((ډاکټر صیب! نظرونه به بېلابېل وي خو مهمه خبره دا ده چې قانون څه وايي، زه بیا وایم چې د اساسي قانون د څلورمې مادې پنځمه فقره حکم کوي چې د افغانستان پر هر وګړي د افغان کلمه اطلاقېږي او تذکره موږ هر وګړي ته ورکوو، نو بیا په دې کې سوال څه دی، چې موږ چاته ووایو افغان یې او که نه؟))
ډاکټر صیب عبدالله عبدالله وویل: ((پورته یې لیکلي دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، دې کې ټول افاده شول، اسلام هم راغی او افغانستان هم، بل تعبیر ترې نه شي کېدی، غیر له افغانه، خو که څوک بیا بېلابېل تعبیرونه ترې کوي، هغوی کولای شي، کېدی شي ځینې خلک ځانته هېڅ افغان ونه وايي، خو دا کېدی شي ډېر محدود کسان وي.))
ما وویل: ((ډاکټر صیب یو ځل بیا وایمه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت نوم دی، چې زموږ د دولت یو ډول څرګندوي، لکه یو وخت کې د افغانستان جمهوریت و، بیا د افغانستان دموکراتیک جمهوریت، بیا د

افغانســتان اســلامي دولــت، بیــا د افغانســتان اســلامي امــارت او اوس د افغانستان جمهوري دولت دی، دا نوم خو وخت پر وخت بدلېږي، خــو ملــت مو افغان دی او هغه نــه بــدلېږي، مــوږ بایــد د مملکــت (country) او ملــت (Nation) تر منځ فرق وکړو. (افغانستان) له (افغانه) جــوړ شــوی، کلــه چــې افغان نه منل کېږي نو افغانستان خو بیا اتومات نه منل کېږي او تاسو خو ښه پوهېږئ چې له پورته عنوان څخه د هویت په برخه کې نوره ناوړه ګټــه هــم پورته کېږي.)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((هو رښتیا ځینــې کســان بیــا وايي، موږ افغانستاني یو، دا نو بیا د هغوی تعبیر دی، چې دا ډېر کــم کســان دي او افغانستاني بیا د افغان مانا نه لري.)) ډاکټر ځلاند وویل: ((دا خو هغــه کسان دي چې افغان نه مني هغه ډېر کم دي او د ګوتو په شــمار دي، مــوږ د هغو په خاطر د افغان کلمې له لیکلو تېر شو چې هغوی یې نه مني؟ خو چــې اکثریت یې مني هغه په پام کې نه نیسو، نو راځئ چې ریفریندم وکــړو چــې څوک اکثریت کېږي؟)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((په یوې کلمې ریفریندم سخت کار دی، ملت ته په تاوان دی، ملت سره وېشل کېږي، موږ څخه به نور کارونه پاتې وي، خو اکثریت معلومونه د پارلمان له لارې هم نسبي اکثریت په یو نه یو ډول معلومېږي)) ډاکټر ځلاند وویــل: ((دا چرتــه د ملــت رښــتیني استازي دي؟)) ډاکټر عبدالله وویل: ((هر څنګه چې دي خو د ملت استازولي کوي.)) ما (یون) وویل: ((دې پارلمان خو یو ځل د افغانستان په سفارتونو کې د دوه تابعیته وو د رد موضوع هم په اکثریت سره تصویب کــړې وه، د اهلــه تشیعه وو د شخصیه احوالو قانون یې هم په اکثریت سره تصویب کړی و، نــو څنګه ولسمشر ښېرته مسترد کړل او ملي شورا پرې بیا لــه ســره غــور وکــړ. ولسي جرګه یوه ورځ یو وزیر ته د نباوری او بله ورځ همغه وزیر ته د باور رایه ورکوي، په شورا کې دا مسله په غبن سره تېره شوې، په پیل کې مــې ورتــه اشاره وکړه، هېڅوک په شورا کې پیدا نه شول چې وواېي زه افغان نه یم، بله خبره دا که شورا د اساسي قانون خلاف پرېکړه هم وکړي، نو مــوږ تــه بــه د منلو وړ وي؟ جمهور رییس به له هغه واک څخه څه وخت ګټه پورتــه کــوي چې شورا یو ناقانونه مسوده تصویب کړي او دی یې د یو تقنیني فرمــان لــه

مخې اصلاح او یا یې بېرته ورمسترده کړي؟)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((زه پوره باور لرم چې شورا کې به له یو دوه درېو تنو پرته هېڅوک هم ونه وايي چې زه افغان نه یم، ټول وايي چې موږ افغانان یو، خو اوس دا مسله همداسې راغلې ده.)) محتاط وویل ((فعلاً اکثریت شورا به این نظر است که کلمه افغان ضروری بود، اگر این موضوع دوباره به شورا محول شود، یقین است که شورا صد در صد موضوع افغانیت را تایید میکند، اکثریت شان همرای ما در تماس هستند و خواهان شروع توزیع تذکره الکترونیکی است.)) ډاکټر عبدالله عبدالله وویل: ((حل لارې ووایئ! که چېرې جمهور رییس فرمان ورکړي چې افغان کلمه دې په ډېټابیس کې راشي، مشکل به حل شي؟)) ما وویل: ((نه افغان کلمه باید د تذکرې پر لومړي مخ راشي، موږ ولې خپل هویت د پردې تر شا پټ کړو، تذکره خو ده د هویت لپاره!))
میرویس علیزي او محتاط وویل: ((مشکل یو څه حلېږي خو پوره نه.)) دې وخت کې ډاکټر صیب عبدالله وویل: (( که قوم او ملت دواړه د تذکرې پر اول مخ راشي څنګه به شي؟)) محتاط ورته وویل: ((د قوم د لیکلو په حالت کې اروپايي اتحادیه موږ ته فنډ نه راکوي او وايي چې دا د ملګرو ملتو د نړیوال کنوانسیون مخالف کار دی، دې حالت کې د یو چا ژوند ته ګواښونه او خطرونه پېښېدی شي.))
ما وویل: ((موږ درې حل لارې وړاندې کوو: لومړی دا چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي او د قانون حکم هم همدا دی، دویم که څوک پر قومیت ټینګار کوي، نو ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او حتمي دې شي او قوم دې اختیاري پرېښودل شي، که د چا زړه و ودې لیکي او که د چا زړه نه و، نه دې لیکي او درېیم حالت دادی چې دا ښه حالت هېڅکله نه دی او وروستی حالت دی چې ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او که چا ویل چې زه افغان نه یم، نو د ملت ستون دې ورته نه لیکل کېږي، نو بیا به وروسته وکتل شي چې له نورو قوانینو سره څه کوي؟ څوک چې له خپل ملته منکرېږي، د هغه نور حالت به څه وي؟)) دې وروستي حالت سره ډاکټر عبدالله عبدالله جدي مخالفت وښود او ویې ویل: ((دا کار ملت پر بېلابېلو برخو ویشي، د یوه تذکره

کې به ملت افغان وي د بل کې به نه وي.)) نو ما بیا وویل چې ښه نــو زمــوږ همغه لومړی وړاندیز دی، چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي، دې وخت کې یو ځل بیا د افغان کلیمې د لیکلو او نه لیکلو خبره تاوه شوه. ما بیــا وویــل کــه ولیکل شي تاوان یې څه دی؟ که ونه لیکل شي نو تاوان خو یې واضــح دی، چې ملت له خپل هویت څخه محرومېږي او هېڅکله ورته دا حالت د منلو وړ نه دی.

دې وخت کې علیزي وویل: ((موږ هېڅ تخنیکي مشکل نه لرو، هر وخت یــې پیل ته تیار یو)) محتاط وویل: ((موږ یې هم پیل ته تیــار یــو او هــم د ملــت ستون لیکلو ته، په دې دواړو برخو کې هېڅ مشــکل نــه شــته، تاســو بایــد جمهور رییس قانع کړئ چې دا مسله نوره اوږده نه کړي)) محتاط په پای کې زیاته کړه: ((ښه لاره همدا ده چې موږ د کورنیو چارو وزارت له لارې د ملت - افغان کلیمو د زیاتولو وړاندیز کړی، تاسې یې پر ولسمشر ومنئ چې هغه یې د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې موږ ته راولېږي، نور نو موږ نه تخنیکي مشکل لرو او نه هم کوم بل مشکل.))

په پای کې زموږ د څو تنو (محتاط، علیزي،ځلاند، یون) وړاندیز دا شو چــې د ملت ستون په زیاتولو او د افغان کلمې د لیکلو لپاره دې له ولسمشــر څخــه تقنیني فرمان واخیستل شي او ډاکټر صیب عبدالله عبدالله باید ددې فرمان په صدور او د جمهور رییس په قانع کولو کې اصلي هلې ځلې وکړي.

ډاکټر صیب عبدالله په پای کــې د نتیجــې پــه توګــه وویــل: ((مــا ستاســو وړاندیزونه واورېدل، اول او دویم وړاندیز مې هم یاداشــت کــړل، زه بــه یــې جمهور رییس سره مطرح کړم، خو وعده درسره نه کوم، چې هغه به حتمــي دا کار وکړي که ونه کړي، خــو زه بیــا وایــم چــې زه د افغــان کلمــې ســره ایډیالوژیک مخالفت نه لرم، که جمهور رییس یې راوړي او کــه رای نــه وړي مخالفت یې نه کوم، د تذکرې د وېش پر تــاریخ ټینګــار کــوم، خــو ستاســو وړاندیزونه ورته رسوم.)) ما او ځلاند بیا د پای د ټکي په توګه وویــل: ((کــه د افغان کلمه په کې رانه شي، موږ یې مخالفت کوو او بیا چې هر ډول ســتونزه پېښه شوه، مسؤلیت به یې د همغه چا پر غاړه وي چې دا مشکل یــې تــردې

دمه رارسولی دی، بیا مو د مدني او بېلابېلو کلتوري ټولنو او قومي شـــوراګانو هغه غوښتنلیک هم ډاکټر عبدالله ته ورکړ چې د جمهوري ریاست د مقام په نامه لیکل شوی و او دی يې باید ولسمشر ته ورکړي، دا لیـــک پـــه جـــلا ډول لیکل شوی او لوستونکی کولای شي چې تر دې متن وروسته يې ولولي.

د یادونې وړ ده چې ددې ناستې مینوټ مې ځکه ولیکه چې د یـــو تـــاریخي سند په توګه ولس ته پاتې شي. البته کېدی شي ځینې کلمې او خبرې مې له یاده وتلې وي، خو د ناستي غټ ټکي همدا وو چې تاسو ته مې یاد کړل.

### د افغانستان د اسلامي جمهوريت محترم مقام ته!

# په برېښنايي تذکرو کې د اسلاميت او افغانيت د تثبيت غوښتنه

له هغې ورځې چې د نفوسو د احوال د ثبت قانون او په تېره بيا د هويت يا تابعيت د تذکرو د چاپ او وېش په باب بحثونه پيل شوي، نو له همغې ورځې يو شمېر ناځرګندو عناصرو هڅه پيل کړې، چې له غبن، چل، فرېب او نورو نامشروعو لارو د هېواد اسلامي او ملي هويت مسخه کړي او دا کار د قانون تر پردې لاندې په ناقانونه ډول مخته بوځي. دوی په خپلو دې هڅو کې تر يوه حده بريالي شول، کله چې د هويت په تذکرو کې د (دين) او (ملت) د ستونونو د ليکلو خبره مطرح شوه او د ټولو هېوادوالو هيله وه چې د دين د ستون په مقابل کې هر مسلمان افغان ته (اسلام) او د (ملت) ستون په مقابل کې د هېواد هر وګړي ته د (افغان) کليمه وليکل شي او په دې ډول د افغانانو اسلامي او ملي هويت خوندي شي، خو دې ناځرګندو عناصرو د چل او غبن له لارې د هويت په تذکره کې ددې دواړو سترو ارزښتونو د ليکلو مخه ونيوله. سره له دې چې د ملي شورا اکثريت وکيلان ددې ارزښتونو غوښتونکي وو، خو يو شمېر عناصرو له داسې فرېب څخه کار واخيست چې عملاً يې ددې ارزښتونو مخه ونيوله. وروسته د ولس د بېلابېلو پرګنو له خوا مظاهرې وشوې او ملي شورا مجبوره شوه، د يوه ګډ کمېسيون له لارې د (دين) ستون بېرته تذکرې ته داخل کړي، خو پر (ملت) يې بيا هم خاورې واړولې، پخواني ولسمشر هم ژمنه وکړه چې دا نيمګړی قانون به تعديلوي او سمون به په کې راولي، خو هغه پر خپله ژمنه وفا ونه کړه.

اوسني ولسمشر (ډاکټر اشرف غني) هم د ۱۳۹۳ل کال د مرغومي په مياشت کې د بېلابېلو مدني، کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو د استازو په

غونډه کې له هغو سره ژمنه وکړه چې د همدې کال د (دلوې) په میاشت کې به د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال د یو تقنیني فرمان له لارې د (ملت) ستون هم د هویت په تذکره کې زیاتوي او د هېواد هر وګړي ته به د (افغـان) کلیمه لیکي.
تر هغه وروسته ولسمشر له بېلابېلو اړوندو ارګانونو او اجراییه رییس ښاغلي (ډاکټر عبدالله عبدالله) سره هم سلا مشوره وکړه او ټولو د (ملت) د ســتون له لیکلو سره موافقه وکړه، ولسمشر غني د یو تقنیني فرمان د متن د ترتیب غوښتنه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د ملي شورا د دوبنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې د تذکرې پر لومړي مخ د هېواد هر وګړي ته د (افغان) کلیمه لیکل کېږي، د فرمان متن هم ترتیب شو، خو تر اوســه پــورې ولسمشر دا فرمان لاسلیک نه کړ.
اوس په هېواد کې بېلابېلو ملي بنسټونو، مدني ټولنو، فرهنګــي بنســټونو، قومي شوراګانو، سیاسي خوځښتونو او په ټوله کې ټولو اسلامپالو او ملتپالو هېواد مینو افغانانو غوښتل، یوځل بیا پر ســترو مظــاهرو او لاریونونــو لاس پورې کړي او په خپله هویت پانه کې خپل اسلامي او ملي هویت (اســلامیت) او (افغانیت) تثبیت کړي، خو ددې ټولو بنسټونو د همغږۍ جرګې تر مظاهرو دمخه غوره وبلله چې له قانوني لارو چارو د خپلې داعیې د تثبیت غوښــتنه وکړي. دا بنسټونه د جمهوري ریاست له محترم مقام او په تېره بیا شخصاً له قدرمن جمهور رئیس څخه هیله لري چې د ملت دې داعیې تــه لــه قــانوني لارې هرکلي ووایي. څرنګه چې د هویت د تذکرو په باب د ملي شورا پرېکــړه د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقــرې مخالفــه ده، نــو لازمــه او ضروري ده چې دا پرېکړه د یادې مادې له محتوا سره ســمه اصــلاح شــي. د اساسي قانون د څلورمې مادې په پنځمه فقره کــې راغلــي دي: (( د افغــان کلمه د ملت پر هر وګړي اطلاق کېږي)). نو څرنګه چې تذکره هــم د هېــواد هر وګړي ته ورکول کېږي او د هر وګړي ملي هویت (افغان) دی، نو ځکه موږ غواړو د همدې فقرې پر اساس د هویت په تذکره کــې د (دیــن) ســتون تــر څنګ د (ملت) ستون زیات شي او په مقابل کې یې هر هېوادوال ته (افغــان)

کلمه وليکل شي. په دې ډول به هم د اساسي قانون محتوا او روحيه تطبيق شي، هم به ملي وحدت تامين شي او هم به ملي هويت او يووالي تــه پــېښ ګواښونه کمزوري او له منځه لاړ شي او د هېواد د دښمنانو هغه دسيسې بــه هم شنډې شي چې واحد افغان ملت پر بېلابېلو نومونو او ټوټو وېشي. موږ له تاسو څخه هيله لرو چې د هويت تذکرو تر سمون دمخه ددې تذکرو د وېــش په باب ټوله نيمګړې پروسه ودروئ. کله چې ياد سمون راغی تر هغه وروسته دې د تذکرې د وېش په اړونده اداره کې هم پوره سمون او پياوړتيا راشي، بيا به حکومت، ولس او د هېواد مدني بنسټونه په ګډه ددې بهيــر د بريــاليتوب لپاره هلې ځلې کوي. د اسلامي او ملي هويت لــه تثبيــت پرتــه د نيمګــړې تذکرې وېش د هېواد اسلامي او ملي ارزښتونو سره د مخالفت مانــا لــري او هېڅ افغان ته د منلو وړ نه دی، په داسې يو حالت کې که د مظاهرو په ګډون هر ډول مشکل پيدا شو، نو مسؤليت بــه يــې د ولسمشــر او نــورو دولتــي چارواکو پر غاړه وي. خو هېوادپال او اسلامپال افغانان به تر هغه پورې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي چې خپل اسلامي او ملی هويت يــې نــه وي تثبيــت کړی.د اسلامي او ملي داعيې د پوره کېدو په هيله.

په درناوي

د هېواد بېلابېلې مدني، فرهنګي ټولنې، قومي شوراګانې او سياسي خوځښتونه